



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو او پښتونولي د پښتنو

# د نجات لار

ليکوال:

عبدالحکيم نورزی

۱۳۹۰/۱۰/۰۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب ټول حقوق د لیکوال سره خوندي دي.

# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: پښتو او پښتونولي د پښتنو د نجات لار

لیکوال: عبدالحکیم نورزی

انلاین چاري: مختار احمد احسان - د لراوبر ډاټ کام برېښنايي کتابتون

www.Larawbar.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ننګيالي پښتون اصلي صفت دی دا

# غواړي اسلام، پښتون، پښتو او پښتونخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب لړلیک


دلیکوال عذر او خواست.

مهمه یادونه

## لمړی فصل

په پښتونخوا کښې د پښتنو د اوسیدو تاریخ ته ډیره لنډه اشاره- ۳۳

الف: د پښتنو اصل او نسب.

ب: په پښتنو کښې د کورنۍ اهمیت.

ج: د پښتون تعریف، پښتون چا ته ویل کیږی؟

د : د پښتون ملت په باره کښ د بلغار د باد نظر

## دوهم فصل

په پښتونخوا کښې د پښتنو تاریخ ته ډیره لنډه اشاره

لمړی برخه: په بلخ کښې د پښتنو لمړی پا چا هان.

۱:پیشدادیان.

۲:ساګزیان

۳:دتریتونا پاچاهی.

۴:کیانیان.

۵:داسپه کورنۍ پاچاهی.

۶:دتاریخ په اوږدو کښې د پښتو ژبې ځرک.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷: پښتانه او مدنيت.

۸:پښتانه او ويدی مدنيت

۹:پښتانه او اويستا.

۱۰:په اويستا کښی د ايرانيانو تقلب کاری.

۱۱: دفردوسی په شاهنامه کښی د ايرانيانو تقلب کاری.

۱۲:په قران مجيد کښی د ايرانيانو تقلب کاری.

دوهمه برخه:

د(۱۴۰۰ ق.م) څخه بيا د اسلام تر ظهور پوری دپښتنو تاريخ ته ډيره لنډه اشاره.-

دريمه برخه:

دپښتنو تاريخ ته د اسلام تر ظهور ورسته ډيره لنډه اشاره. -

## دريم فصل

په پښتونخوا کښی د پښتنو ددايمی پا ته کيدو علتونه.

۱:ددايمی خونی روابطو او نظامی تشکيلاتو لرل.

۲:دقانون تر سيوری لاندی ژوند کول.

۳: دملت سازی نوی غولونکی اصطلاح.

۴: په پښتنی ټولنه کښی دقومی جوړښتونوګتی اوتاوانونه.-

۵:دپښتنو د بی اتفاقۍ څخه را پيداشوی ستری غميزی

## څلرم فصل

پښتو او پښتونولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم فصل

دمغلواوايرانيانودا شغال پر ضد دپښتنو د(۵۴۴) کلنو

ډغرى او مقاومت.

۱: د مغلو خلاف د کرت کورنۍ مبارزى

۲:دمغلو پر ضد د هوتک بابا مبارزى.

۳:پښتانه اوسفاک بابر.

۴:دوحشى مغلو پر ضددروښانيانودقهرمانيو ډکى مبارزى

۵:دمغلو پر ضد د توخيانو د وياړه ډکى مبارزى.

۶: د مغلو پر ضد دابداليانو د وياړه ډکى مبارزى.

۷:دمغلوپرضد دخوشحال خان،ايمل خان اودرياخان ډغرى.

## شپږم فصل

پښتانه پا چا هان په هندوستان کښى.

۱: د شيخ حميد لودى سلطنت په ملتان کښى.

۲:دبختيار غلجى سلطنت په بهاراوشمالى بنګال کښى

۳: پر هندوستان دجلا الدين غلجى سلطنت

۴:پر هندوستان د علا ء الدين غلجى سلطنت.

۵:پرهندوستان د سلطان بهلول لودى سلطنت.

۶:پر هندوستان د شير شاه سورى سلطنت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷: د پښتونخوا سره د هند د پښتنو پا چا هانو رابطه.

## اووم فصل

معاصر افغانستان.

۱: هوتکیان

۲:سدوزیا ن.

۳:په پښتونخوا کښې پښتني دولتونو ته متوجه خطرونه.- ۳۹۸

الف:هخامنشان

ب:ساسانیان

ج:دپښتنو پر ضد د ایرانیانو او مغلو تو طیې.

۴:د احمد شاهی امپراطورۍ دزوال عوامل

الف: داخلی عوامل

ب:خارجی عوامل.

۵:په هیواد کښې د (۹۳ ) کلن سیاسی ثبات اغاز

۶: ډیورند لاین ،محکوم او ازاد سرحدونه

۶:په هیواد کښې دنوی بی ثباتۍ اغاز.

## اتم فصل

اشغال شوی افغانستان اودپردیو پلاس کښینول شوی حاکمان.

۱:دروسانو د خوا د افغانستان اشغال اودهغوی د پښتنو ضد پالیسی.

۲:د پښتنو د جهاد ګټی چا ته ورسیدی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم فصل

۱:دافغانستان په اړه د امریکا د پالیسۍ ستری غلطۍ.

۲:دامریکا د غلطیو څخه د ایران استفاده.

۳:دامریکا د غلطیو څخه د پاکستان استفاده

## لسم فصل

دامریکا د خوا د افغانستان اشغال.

۱:په منطقه کښی د پښتنو تاریخی رول

۲:د پښتنو او امریکا د جنګ په خاطر د شیطانی مثلث ایجاد.-

۳:د ملی خاین تعریف

۴:د شیطانی مثلث د ظلم په مقابل کښی د پښتنو صبر او تحمل.

۵:د پښتنو او امریکا د جنګ اغاز

۶:د پښتنو او امریکا جنګ به څومره وخت دوام وکړی؟

۷: د پښتنو او امریکا تر منځ د جنګ ګټه چا ته رسیږی؟

۸:د پښتنو او مریکا ترمنځ جنګ به څوک ګټی؟

۹: د پښتنو –امریکا او افغان–شوروی جنګونو مقایسه.

## یولسم فصل

په پښتونخوا کښی د پښتنو او سنی امنیتی، اقتصادی او سیاسی حالت.

۱:د پښتونخوا او سنی امنیتی حالت

۲:د پښتنو دا روانه غمیزه چا او څنګه اغاز کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳:پښتون نړۍ ته چا د طالب او القاعده په نوم معرفي کړې.

۴: د پښتنو اقتصادي حالت.

۵:د پښتون ملت نني سياسي حالت.

## دوولسم فصل

د شيطاني مثلث غړي د پښتنو د دايمي غلامۍ د پاره تلاش کوي.

۱: په پښتنو کښې د بې تفاوتۍ د فرهنګ ترويج

۲:د قومي شورا ګانو او فرهنګي ټولنو د جوړيدو د فرهنګ ترويج.

۳:د جاسوسۍ او بې ننګۍ د فرهنګ ترويج

## ديارلسم فصل

د پښتنو د نجات لار.

۱:پښتون ملت څه وخت په يو نجات بخښونکي ملي قوت بدليدا يشي؟

۲:د پښتنو د پاره د قبول وړ سياسي نظر کوم دی؟

۳:د پښتنو ملي سياسي سازمان بايد څه وکړي؟

۴:و سياسي قدرت ته د رسيدو قانوني لاري

۵:ايا د پښتنو د يو الي تلاش يو فاشيستي عمل دی؟

۶:د پښتنو رول د نظام د سياسي ثبات په اړه.

۷:د يو مشروع او با ثباته سياسي نظام او د افغان نجيب ملت د ملي وحدت د تامين په اړه د پښتنو رول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عذر او خواست:

دا کتاب ( پښتو او پښتونولي د پښتنو د نجات لار )ما په ډېر زحمت وليکلی.

زما لپاره د دې کتاب ليکل ډېر سخت کار وو ځکه چې ما په خپل ژوند کې يوه ساده مقاله هم ليکلې نه وه .

زه اديب ، ليکوال ، محقق ، تاريخپوه او يا تاريخ ليکونکی نه يم .

زه دا منم چې په دې کتاب کې به د ادبي ، املايي ، تحقيقي ،ارتباطی او د کتاب ليکنې د اصولو له پلوه ډېرې زياتې تېروتنې وي ، هيله لرم چې باعزته لوستونکي به ما وبخښي .

دا کتاب نه د پښتنو مکمل تاريخ او نه د پښتو او پښتونولی مکمل قانون دی،په حقيقت کښې د اکتاب يو لکچر ته ورته دی چې د پښتون ملت ماضی ،حال او مستقبل ته ډېره لنډه اشاره پکښې شوی ده.

زما د مظلوم پښتو ن ملت د مظلوميت ، غلامۍ ، خوارۍ او ذلالت ژوند چې په خپل تاريخي هېواد کې يې د خارجي هېوادونو د اجنټانو تر ظلم لاندې تيروي ، زه مجبور کړم چې د پښتون ملت د تاريخ او ماضي په باره کې يو څه معلومات پيدا کړم او ځان په دې خبر کړم چې ايا پښتون ملت د پخوا څخه هم داسې په غلامۍ او مريتوب کې ژوند تېراوه ؟

که يې اوس دا غلامي او بدبختي په نصيب شوې ده ؟

ايا پښتانه له ازله غلامان پيدا شوي دي ؟

او که نن د خپل يو زيات شمېر ذمه واره پښتنو مشرانو د بې تفاوتۍ او يا بې ننګۍ په سبب ددی ستر پښتون ملت څخه اوس غلام او مريي جوړ شوی دی ؟

زما د مظلوم پښتو ن ملت دې روان بې پايه مظلوميت ،ذلت،خوارۍ،غلامۍ،بی عزتۍ،لوږی ناروغۍ ،بې وسۍ،بې سوادۍ او داسی نورو په زرګونو خواريو او مصيبتونو زه مجبور کړم چې دذکر شوو مشکلاتو څخه د خپل پښتون ملت د خلا صون په باره کښی فکر وکړم.

لکه څنګه چی نبی علی السلام د الله(ج) په امر د صفا پر غونډۍ پر خپل قوم ږغ وکړی او هغوی ئی د الله(ج) د عذابونو څخه خبر کړل ، ما هم ديو مسلمان په صفت د خپل محبوب پيغمبر محمد رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



(ص) په پیروی دا فیصله وکړل چی خپل دا مظلوم پښتون ملت د هغو خطراتو څخه خبر کړم چی دوی ته متوجه دی.

مادا فیصله وکړل چی په علمي لحاظ په خپله دې ګونګۍ ژبه ، ړندو سترګو ، د سواد په لحاظ ناتوانه حالت پر خپل مظلوم پښتون ملت چې د تاریخي بربادۍ پر لور په پټو سترګو روان دی نارې او سورې ووهم ، که وکولای شم هغوی د نابودۍ د دې تاریخي کندې څخه راګرځوم .

زه د خپل زړه درد او ارمان چې په دې څو بې ارتباطه پاڼو کې مې لیکلی دی ، هغو رښتینو او ننګیالیو پښتنو ته د نجات د چیغې په ډول وړاندې کوم چې تراوسه د پښتنو د دښمنانو له خوا د بې ننګۍ او بی تفاوتۍ په وژونکي ویروس او میکروب مبتلا شوي نه وي .

زه دا خپلې نارې او چیغې پر هغو رښتینو پښتنو وهم چې لا تراوسه یې په وینو کې د پښتو او پښتونولۍ عالي ، اسلامي او انساني جوهر موجود وي .

زه دا کتاب هغو درنو پښتنو ته د درناوي په حیث ډالۍ کوم چې د ژوند هدف یې د پښتون ملت نجات او سوکالي وه او ده او په دې خاطر یې تیارې شپې روښې کړې دي .

مادا کتاب زما له نظره په داسې اسانه او روانه پښتو لیکلی دی چې زما په شان لږ باسواده شخص هم پرې پوهېدلای شي او کوښښ مې کړی دی چې هغه لغاتونه او جملې په کې استعمال کړم چې نن په عامو پښتنو کې رواج دي ، له دې سببه شاید د پښتو ژبې پیاوړي لیکوالان او ادیبان زیاتې نیوکې راباندې وکړي .

د " پښتو او پښتونولۍ " د قانون په باره کې د (1380 هـ . ش) کال راهیسې ما د لرې او برې پښتونخوا د جرګو او مرکو د سپین ږیرو او مشرانو سره خبرې کړې دي ، د هغوی څخه چې مې څه زده کړي او اورېدلي دي په دې کتاب کې مې ذکر کړي دي .

څه چې ما د پښتو او پښتونولۍ د قانون په باره کې په دې کتاب کې ذکر کړیدي ، دا شاید د پښتو او پښتونولۍ د قانون د سترسمندر څخه یوازې یو څاڅکی وي ، زه په دې هیله یم چې پښتانه عالمان او محققین به د پښتنو د فطرت یعنې " پښتو او پښتونولي " د قانون په باره کې ژورې څېړنې او تحقیقات وکړي او د خپلو څېړنو او تحقیقاتو نتیجه به په لیکلي ډول پښتنو ته وړاندې کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه اول خدای(ج) ته او بيا هر پښتون ته د يو سوالګر فقير په ډول دا سوال کوم چې زما له مظلوم پښتون ملت سره دې مرسته وکړي ، ترڅو ددې مظلوميت او غلامۍ له ژوند څخه خلاص شي .

ای پښتنو ! کله چې تاسو دا کتاب لولئ که زه ژوندی وم ، نو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د مظلوم پښتون ملت د دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، ملي ګټو ، ملي نواميسو ، ملی خپلواکۍ ، ملي حاکميت او ګراني پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتيا ، د دفاع په مقدسه سوله ايزه غزاکې د مال او سر په قيمت ملګرتيا ، ملاتړ او ننګ راسره وکړئ او که زه مړ وم دغه پورته ذکر شوې د ننګ لار تاسو تعقيب کړئ او ماته د لوی خدای(ج) له دربار څخه بخښنه وغواړئ .

ومن الله التوفيق

د ربښتينو اوننګياليو پښتنو د ملاتړ اودعا محتاج .

ستاسو ورور

عبدالحکيم(نورزی)

افغانستان - کابل

1390/10/7

مهمه يادونه:

۱: ما پدی کتاب کښی د لوستونکو د اسانه پوهيدو په خاطر د ايران پخوانی نومونه لکه پارس، پرشيا او داسی نور ندی ذکر کړی ، هميشه می دغه جغرافيی ته د ايران لفظ استعمال کړيدی ،حال دا چی ذکرشوی جغرافيی ته د ايران متنازع نوم پدی نږدی وختونو کښی ورکول شويدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲:ما پدی کتاب کښی دافغانستان پر ځای تقریباً همیشه د پښتونخوا نوم استعمال کړیدی،هیله ده چی ګران لوستونکی دپښتونخوا د نوم څخه دپښتوردا یالت داوسنی نوم مطلب وانخلی.

دپښتونخوا څخه زما مطلب د پښتور ایالت نه بلکه هغه تاریخی پښتونخوا ده چیری چی دقبلالمیلاد څخه بیا تر نن پوری پښتانه میشت وه اونن هم میشت دی.

یا په بل عبارت د پښتونخوا څخه زما مقصد د لوی احمد شاه بابا لوی افغانستان دی.

عبدالحکیم (نورزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اول فصل

## الف:د پښتنو اصل او نسب ته يو ه لنډه اشاره:

د پښتون ملت د اصل او نسب په باره کې ستر محقق علامه عبدالحی حبيبې داسې وايې:

پښتانه د تاريخې تحقيقاتو له پلوه هغه زاړه اريايان دي چې دا څو زره کاله پرله پسې په دغه خپله مځکه( پښتونخوا ) کې پراته دي، په پښتنو کې تراوسه هغه د اريايانو زاړه خواص اومزايا ليدل کيږي .

دنړۍ د نورو عالمانو او محقيقينو د څيړنو او تاريخی شواهدو څخه هم دا ثابتيږی چی پښتانه د سپين پوستو اريايانو د نسل څخه دی.

دا عالمان پدی باور دی چی اريايی قبايل د ډيرپخوا زمانو څخه د امو او اباسند تر منځ د پښتونخوا په هيواد کښی اوسيدل.

کله چی ددوی نفوس او مواشی زيات شول نوددوی د جملی څخه ځينو قبايلو د خپل ځان او خپل حيواناتو د غذا د پيداکولو په خاطر د پښتونخواد مځکی څخه مهاجرت وکړی.

مونږ کرانولوستونکوته د لاښه پوهيدو په خاطر ارين قبايل په لاندی درو برخوو کښی په ډير لنډ ډول معرفی کوو.

## ۱: بهارتی ارين قبايل:

هغه ارين قبايل چی د (۲۰۰۰ ق.م) په شا وخوا کښی د پښتونخوا څخه دهند پرلور وکوچيدل ددوی په منځ کښی تر ټولو غښتلی قبله د ، ،بهارت، ، قبيله وه چی پا چا يی ، ،سوداس، ،نوميده ،نو دی قبيلو ته هم په پای کښی بهارتی ارين وويل شول، او ددوی نوی مځکه ، ،بهاراتا، ، يعنی د بهارت خلګو وطن اويا ، ،بهارته ورشه، ، يعنی د بهارت د خلګو ورشووبلل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خلګو به د هند پر مځکه ځان ته ارین یعنی اصیل او نحیب ویل او د هند بومی خلګو ته به یی ،، داس،، یا ،، داسیو،، ویل او نفرت به یی ځنی کوی او خپله وینه به یی نه ورسره ګډول.

دی هندی اریایانو د ،،ایندرا،، په نوم د رب النوع پرستش کاوه.

دهندی اریایانو د ایندرا پیروان پر دوو مخالفو ډلو ویشل شوی وه چی د یوی ډلی قبایلو مشرتوب د بهارت قبیلی کوی او په بله ډله کښی نورپنځه ارین قبایل شامل وه چی د ،،پنکه جانا،، یا ،،یادوګروپ،، په نامه مشهور وه ،او یو د بل سره به په جنګونو لګیا وه.

دهندی اریایانو ژبه ،،سنسکریت،، وبلل شول او د دوی مشهور مذهبی کتاب د ،، ریګویدا،، په نوم یادیږی.

## ۲:یوروپین او ایرانی ارین:

داهغه قبایل وه چی د پښتونخوا څخه دایران او اروپا پر خوا وکوچیدل.

ددی قبایلو څخه یو شمیر په ایران کښی میشتی شوی او نوری یی د اروپا پرلوری ولاړی او تر ډیرو زمانو پوری په اروپا کښی د کوچیانو په ډول اوسیدی.

هغه قبایل چی په ایران کښی پاته شول دهغو په باره کښی به ددی کتاب په راتلونکو پاڼو کښی په لږتفصیل خبری وشی.

## ۳:باختری یا مرکزی ارین:

کله چی د پښتونخوا مځکه د ارین قبایلو د پاره تنګه شول نو ځنی قبایل د هند ،ایران او یورپ پر خوا وکوچیدل او مهاجرت ئی وکړی خو دارین قبایلو تر ټولو غښتلی قبیله یعنی پښتانه پرخپل پلرنی ټاټوبی یعنی پښتونخوا پاته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا يا باختر د مځکې څخه د نوروارين قبايلو هجرت د دې سبب شو چې د پښتونخوا مځکه تنها د ، ،پکهت، ، يعنې پښتنو قبيلې ته پاته شي.

دريګويد په دوهم ټوک کښې د پښتنو ، ،پکهت، ،ذکر په(۱۴۰۰ ق.م ) کښې د لسو ملکانو په مشهور جنګ کښې هم شويدی.

پکهت،بخد په هخامنشي دور کښې د يونان د مشهور تاريخ نګار هيروډوټس په ليکنو کښې د پکتويس او پکتوان په الفاظو شوی دی او ددوی مځکه يې د پکتيکا يا پکتيکی په نوم ياده کړيده.

نورو يوناني تاريخ ليکونوکو هم په خپل ليکونو کښې د پښتنو او پښتونخوا ذکر کړيدی،پښتانه يې د پکتيانو او پښتونخوا يې د پکتين په نوم ياده کړيده.

دا بخد ،پکهت،پکتويس او پکتوان الفاظ ټول د پښتون ملت نوم دی صرف د زمان او مکان سره يې لهجې فرق کړيدی.

نن هم په پښتنو کښې په عين زمان کښې خو بيلو ولاياتو کښې د پښتو د الفاظو لهجې بدلې دی.

دا د بخدی،پکتيکی،پختی،پښتی، ،پکتيکا ،پښتيخا ،پکتيا ،پختيخا الفاظ ټول د پښتونخوا معنی لری صرف د زمان سره يې لهجه بدله شوی ده.

## ب:په پښتنو کښې د کورنۍ اهميت.

په اجتماعي حالاتو کې دا يو منلې حقيقت دی چې کورنۍ د ټولنې منشا ده او د اجتماعي ژوندون زده کړه او وده هم ، لومړی په کورنۍ کې کيږي کورنۍ د ټولنې اساس او په حقيقت کې د يو کوچنۍ ټولنې نمونه ده .

په پښتنو کې هميشه کورنۍ خاص اهميت درلودلی ، تر کورنۍ وروسته (پښه ) ،(زي) اونور مراتب وو چې په پای کې نو ټوله په پښتون ګڼېده او دا ټولې کورنۍ او ټبرونه د پښتون ملت اجتماعي شعبې وې چې د اجتماع په علم کې (سلاليه ټولنه) ورته وايي . سلاليه ټولنې هميشه د خپلوي او تناسل په روابطو جوړيږي او د دوی وينه او پښت هم تقريبا يو وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سلا ليه ټولنو کې دوه ډوله روابط شته ، چې ځينې پر ميندو سره وېشل کېږي او ځينې پر پلرو .

پښتانه هغه قبايل دي چې پر پلرو سره وېشل شوي دي او(ابوت ) يعنې پلارګلوي د دوی د وېش ستنه ده ، د پښتنو(اسما الرجال) به تاسو ته ښه ښکاره شي چې هرټولنه بيل پلار لري او دا پلرونه په پای کې ټول د پښتون په لوی پلارګډېږي او په دوی کې د پلار د قبيلوي وېش مسلسل عنعنات شته .

"ويکتورګيګر " الماني شرق شناس د پخوانيو اريايانو په باره کې ليکي: ( پخوا اريايانو داسې قبايل لرل چې سره خپل به وو ) يعنې دا چې قبيله به د يوه سړي د اولاده څخه جوړه وه ، يا په بله وينا د يوه سړي اولاد ته به خدای پاک دومره برکت ورکړی و ،چې په زرګونو خلک به ځنې جوړشول او دې خلکو به خپل ځانونه د خپل لومړي نيکه په نوم يادول او نورو قومونو به هم دا خلک د دوی د نيکه په نوم يادول .

لکه: د احمد بابا اولاد به ځانته احمدزي ويل ، د نور بابا اولاد به ځانته نورزي ويل ، د سليمان بابا اولاد به ځانته سليمانخېل ويل او د بارک بابا اولاد به ځانته بارکزي ويل په نورو قومونو کې به هم په دې نومونو يادېدل او تراوسه هم دا پورته ذکرشوي قومونه په پښتنو کې په عين نوم يادېږي .

په پښتنوکې د کورنۍ د مشر په نوم (زي) يا(خيل) جوړېدلو دود تراوسه لا هم دوام لري چې ژوندی مثال يې زما خپله کورنۍ ده ، زما د پلار ، پلار چې زما نيکه دی اخترمحمد نومېده ، هغه(7) زامن درلودل ، دې اوه (7) ورونو هر يوه ته خدای (ج) د (3-16 ) پورې زامن ورکړل او د دوی زامنو ته بيا خدای(ج) نور زامن ورکړل چې اوس زموږ د کورنۍ يعنې د اخترمحمد لمسي ، کړوسي او کوسي نارينه غړي څو سوو نفرو ته رسېږي او دوی ځانو ته په نورزي کې (اختر زي) وايي ، تردې و ړاندې په هغه نورزوکې چې زه يې پېژنم د (اختر زي ) په نوم پښه نه وه ، دا يوه نوې پښه ده چې شخصا زما کورنۍ د نورزو په قوم کې ور اضافه کړل.

د دې خبرې معنا داده چې په پښتنوکې د (زي) ، (خېل) او (کهول) د جوړېدو پروسه تراوسه لا هم دوام لري .

د اويستا په زړه ژبه کې (ويس ) او د هند په ريګويدا کې هم دغه کلمه د کورنۍ او قبيلې په نوم استعمال شوې ده .

دوکتور " ګوستاولوبون "د زړو اريايانو د کورنۍ په بحث کې وايي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



( پخوا د دوی د ژوند او معاشرت اساس په کورنۍ ټینګ وو ، ټول خلک خپلو پلرو او نیکونو ته منسوب کېدل ، بلکې دوی د خپلې کورنۍ پرستش کاوه ، کوزده ، تولد او تناسل یې د دې جهته مذهبي مبارک دودونه بلل چې د دوی پښت پاتې شي او تېر یې ډېر شي ، زوی پر دوی ډېر ګران وو او زیږېدل یې هم خوښي وه او د زوی نه درلودل یې د کورنۍ ورانی او د پلرو د نامه ورکېدل ګڼل . )

د پورته تاریخي تشریحاتو څخه دا معلومېږي چې پخوا هم د پښتنو اجتماعي ژوند پرکورنۍ ولاړ وو او دا ټولنیز دود ترنن پورې هم په پښتنو کې ټینګ دی .

لنډه دا چې پښتنو خپل او سني خوی ، خواص ، سجایا ، اخلاق او داسې نور صفات د خپل اریایي نیکونو څخه په ارث وړي دي .

<u>د پورته دلایلو او حقایقو پر اساس ویلای شو چې پښتانه د "ارین" نژاد خلک دي .</u>

## <u>ج:د پښتون تعریف، پښتون چاته ویل کېږي؟</u>

د قران شریف د سورت بقره په (46) ایت شریف کې خدای(ج) د بني اسرایلو قوم ته داسې خطاب کوي : د ایت شریف ترجمه:

((ای د یعقوب اولاده ! زما هغه احسانات یادکړئ ، کوم چې ما پر تاسو کړیدي او دا چې ما تاسو ته پر ټول اهل جهان باندې فضیلت درکړی وو )

خدای(ج) ددې ایت شریف په واسطه اسرایلوته دا خپل احسانونه ور په یادوی چې د موسی علیه السلام په وخت او ترهغه وړاندې او وروسته یې د اسرایلو سره کړي وو . . . .

د خدای(ج) د هغو احساناتو پر اساس چې د خدای(ج) له خوا د اسرایلو د قوم سره شوي دي ، اسرایل نن هم د خدای(ج) په ټولو بندګانو کې خپل ځانونه د خدای منتخب قوم بولي .

اسرایل وایي چې موږ د خدای(ج) پرنورو بندګانو څکه فضیلت او برتري لرو چې خدای(ج) ټول پیغمبران په اسرایلو کې پیدا کړیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا رښتیا خبره ده چي الله پاک ټول انبیاعلیه السلام په اسرایلو کي پیدا کړیدي ، خو دې نافرمانه او ناشکره قوم له اکثره پیغمبرانو سره چلونه او ټګۍ کړیدي ،دخپلو پیغمبرانو نافرمانۍ یې کړې دي او د هغوی دازار او اذیت سبب شوي دي .

زه په ډېرویاړ او افتخار سره ټولي نړۍ ته دا په ډاګه وایم چي دنړۍ د ټولو ملتونو په منځ کي اسرایل نه ، بلکې "پښتون ملت" خدای(ج) ته ډېر ګران ملت دی.

پښتو ن ملت دنړۍ تر بل هرملت زیات د الله پاک د ستر رحم ، شفقت او مهربانۍ وړګرځیدلی دی او ددې ادعا د ثبوت لپاره زه لاندې دلایل لرم:

لومړی دلیل :

خدای(ج) په خپل نهایت ستر رحم ، شفقت ، مهربانۍ او مرستې د امو او اباسین ترمنځ پروت " پښتون ملت" سل فیصده د اسلام په مقدس دین مشرف کړي دي چي دا ستر افتخار د نړۍ د بل هېڅ ملت په برخه شوی نه دی ، ځکه چې د عربي ملت په منځ کې هم یهود او نصارا شته ، د ترکي ملت په منځ کې هم یهود او نصارا شته ، د مصري ، ایراني ، پا کستاني او داسې نورو ملتونو په منځ کې یهود ، نصارا او د نورو ادیانو پیروان شته ، حتی د پنجشېر د یوې وړې او تنګې درې د څو محدودو تاجکانو په منځ کې لا هم د عبدالرحمن په شان کافر موجود دی .

که د الله پاک مرسته او هدایت نه وای ، نو په پښتنو کې به هم یو خپل یهود ، بل خپل مسلمان او بل خپل به نصارا وای ، یو زی به هندو ، بل زی به یهود ، بل زی بت پرست ، بل زی بودایي یا ګاو پرست او بل زی به مسلمان وای .

دا د الله(ج) مرسته او مهرباني ده چې د امو او اباسین ترمنځ پروت تقریبا اتیا میلیونه پښتون ملت په منځ کي الحمدالله د عبدالرحمن پنجشېري په شان تنها یو کافر هم وجود نه لري او ټول پښتون ملت د خدای(ج) په مرسته او هدایت د اسلام په مقدس دین مشرف شوی مسلمان ملت دی .

د پورته دلایلو په اساس موږ ویلای شو چې:

" پښتون ملت" د خدای(ج) په مرسته مسلمان ملت دی ، ځکه چي الله پاک په خپل فضل او کرم سره "پښتون ملت" سل فیصده د اسلام په مقدس دین مشرف کړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موږ د پښتون په اړه خبرې کوو ، معنا يې داده چې موږ د مسلمان په باره کې خبرې کوو ، ځکه چې هر پښتون مسلمان دی .

د پورته دلايلو پر اساس موږ نړۍ ته په ډېر ويار سره دا سې ويلای شو چې:

**پښتون يعنی مسلمان، پښتون ملت يعنې مسلمان ملت.**

دوهم دليل :

که موږ د اسلام د پرمختګ تاريخ ته متوجه شو ، نو دا به راته معلومه شي چې د نړۍ اکثره ملتونه د مسلمانانو د تورې په زور د اسلام دين قبول کړيدی چې ژوندی مثال يې د مکې د قريشو د ابوسفيان ډله ، ايرانيان پا کستانيان او دا سې نور ملتونه دي چې د مسلمانانو د تورې په زور يې اسلام قبول کړی ، خو پښتون ملت د الله (ج) په فضل او مرحمت د اسلام مقدس دين په خپله خو ښه او رضا قبول کړی .

پښتنو د اسلام مقدس دين ځکه په خپله خو ښه او رضا قبول کړی چې د اسلام مقدس دين (99٪) د پښتنو د فطرت يعني "پښتو او پښتونولی" سره برابر وو .

کله چې پښتون ملت د خدای(ج) په مرسته ، مهربانۍ او هدايت په خپله خو ښه او رضا د اسلام په مقدس دين مشرف شو ، نو يې د اسلام د پرمختګ په خاطر د الله(ج) د رضا د حاصلولو لپاره مقدس جهاد ته ملا وتړله او د نړۍ تر بل هر ملت يې دالله(ج) د رضا لپاره زيات جهاد وکړ .

د هند په قاره کې چې نن هرخومره مسلمانان شته پدی کې د پښتون ملت د جهاد او تبليغ تاثير تر بل هرچا زيات ته برخه لری .

د پورته دلايلو پر اساس موږ نړۍ ته دا برملا اعلانولای شو چې :

پښتون ملت د خدای(ج) په مرسته او مهربانۍ "مجاهد ملت" دی .

دريیم دليل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای(ج) د پښتون ملت افرادو ته د ځینو قومونو د افرادو په تناسب د عدالت کولو توان ورکړی دی ، همدا علت دی چې د پښتون ملت مشران ، پاچاهان او امپراطوران د نړۍ د نورو قومونو د مشرانو ، شاهانو او امپراطورانو په انډ ول ، خورا عادل کسان دي .

نو پر دې اساس موږ ویلای شو چې " پښتون ملت " د خدای(ج) د رحم او شفقت وړ ملت دی چې د ځینو نورو قومونو په تناسب یې په پښتنو کې د عدالت عالي جوهر زیات ایښی دی .

پس موږ ټولې نړۍ ته دا په ډېر افتخار ویلای شو چې:

پښتون ملت د خدای(ج) په مرسته او مهربانۍ "عادل ملت" دی .

د پورته دلایلو په استناد موږ ویلای شو چې پښتون ملت د خدای(ج) د مرستې ، مهربانۍ او شفقت وړ ملت دی او په لنډ ډول پښتون داسې تعریفولای شو :

## پښتون ملت یعني مسلمان ملت.

## پښتون ملت یعني مجاهد ملت .

## پښتون ملت یعني عادل ملت .

څرنګه چې الله پاک په خپل فضل او کرم سره پښتون ملت سل فیصده د اسلام په مقدس دین مشرف کړی دی ، پښتون ملت ته یې د الله (ج) په لاره کې په خپل سر او مال د جهاد کولو توان ورکړی دی او په پښتنو کې یې د عدالت جوهر ایښی ، نو پر دې اساس موږ ویلای شو چې:

## پښتون ملت د الله(ج) د ډیر ګران ملت دی .

د پورته عیني او تاریخي حقایقو پر بنیاد موږ پښتون ته داسې خطاب کولای شو :

**ای پښتونه ! ته په نړۍ کې په ویاړ او سرلوړۍ سره ژوند کوه ځکه چې ته مسلمان ، مجاهد ، عادل او د الله (ج) د ډیر ګران ملت غړی یې .**

په بل عبارت :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونوالي يا پښتونتوب وياړ دی ، ځکه چې هر رښتيني پښتون مسلمان ، مجاهد ، عادل او د الله(ج) د ډير ګران ملت غړی دی .

د پښتون ملت د ټولنيز نفس،ملي غرور او روحياتو په باره کې علامه عبد الحی حبيبې داسې وايي:

لکه نور ملتونه چې ځانته خپل خصايص او ملي روحيات لري په همدې ډول پښتون ملت هم ځانته يو بيل ټولنيز نفس لري چې د غه پښتني نفس پښتون ملت د نورو ملتونو څخه بيلوي او د دوی د ملت اساس پر مخصوصو اصولو باندې ږدي .

د پښتون ملت د ژوند لارې ، اداب ، دودونه او د تفکر ډول او د ادب اسلوب او د خيالاتو او جذباتو رنګ بالکل له نورو ملتونو څخه بيل دی ، يو پښتون چې هر چېرې وي ، دده خپل خصايص او روحيات يعنی "پښتو او پښتونولي" دی له نورو خلکو څخه بيلوي .

د ټولنيزو چارو او د بشر د لوړتيا د چارو د فلسفې محقق او عالم ګستاولوبون داسې وايي:

(روزنه او نور اړونکي عوامل د انسان عقل او ادراک ته تغير ور کولای شي ، مګر د انسان روحيات نه شي وربدلولای او د هغه روحي خصايص نه شي ځنې بيلولای .

هغه وخت موږ يو ملت له خپله حاله او ښتی بولو چې دده

"ملي روح " هم پر بله خوا وګرځي او ملي روحيات ځنې ولاړ شي .)

له نېکه مرغه د پښتنو ملي روح يعني "پښتو او پښتونولي" لا تراوسه په پښتون ملت کې د سپين غره په شان محکمه او ټينګه ولاړه ده .

" پښتو او پښتونولي " پښتنو ته د خپل نوميالیو نيکونو څخه په ارث راغلې ده .

" پښتو او پښتونولي " د تعليم او تربيې په سبب پښتنو ته ورزده شوې نه ده ، بلکې " پښتو او پښتونولي " پښتنو د خپلو پلرونو او نيکونو څخه په ارث اخيستې ده .

موږ د ا نن هم په پښتنو کې د اسې صفات او عنعنات وينو چې زرګونه کلونه وړاندې په زړو آريايانو کې ليدل کېدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په ډول مورږ د جرمني عالم دوکتور ویکتورګیګر د خوا د زړواریایانودا تعریف د اوسنیو پښتنو سره مقایسه کوو .

وکتورګیګر وایي: (دوی ته دا ښکاره وه چې مورږ د یوه ملته یو ، نژادي او خوني روابطو دوی په خپلو نیکونو او پلرونو پورې نښلول ، دوی خپله ژبه ، دودونه او پښت ، مشترک سره باله ، نو یې خپل ځان (ارین) بللي چې معنا یې نجیب ، شریف او اصیل ده ، دوی هر ښه خوی او د خوښولو اخلاق د ځان مخصوص ارث ګاڼه . . . . )

دې عالم په پورته ذکر شویو الفاظو کې کټ مټ د پښتنو روحیات ، صفات او سجایا ذکر کړیدي .

اوس دا سوال پیدا کېږي چې مورږ چا ته "پښتون" ویلای شو ؟

ایا هرهغه څوک چې په پښتو ژبه خبرې کوي هغه پښتون بلل کېږي ؟

ایا هرهغه څوک چې په یوه پښتني کورنۍ کې د پښتني یا ناپښتني مور له نسه څخه پیدا شوی وي ، په پښتو ژبه خبرې کوي دا شخص پښتو ن بلل کېږي ؟

نه خیر ، یوازې په پښتو ژبه خبرې کول او په پښتنه کورنۍ کې د پیدا کېدو پر اساس څوک پښتون کېدای نه شي .

ډېر نا پښتانه اشخاص په پښتو خبرې کوي ، د پښتو او پښتونولۍ د قانون پر اساس دوی ته پښتانه نه ویل کېږي .

د پښتنو په وطن کې ډېر زیات ناپښتا نه خلک ژوند کوي او د پښتنو سره په یوه محیط کې د ګډ ژوند کولو پر اساس یې پښتو ژبه د دوی د مورنۍ ژبې په ډول زده کړې ده ، خو د پښتو او پښتونولۍ د قانون پر اساس دې خلکو ته پښتانه نه ویل کېږي .

د پښتو او پښتونولۍ قانون پښتون په لاندې څو جملو کې تعریفوي:

۱: پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې د پښتو او پښتونولۍ د قانون مراعات کوی .

۲: پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې د هغو صفاتو خاوند وي چې د پښتو او پښتونولۍ قانون د یو پښتون کس لپاره مشخص کړیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې د پښتو او پښتونولي د قانون د خورا لوړو صفاتو یعنی دیني او انساني جواهرو خاوند وي .

۴ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې پښتو او پښتونولي د هغه "ملي روح " وي .

۵ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې د هغه روحیات ، خواص ، نفسیات ، اخلاق ، جذبات ، افعال او اعمال د " پښتو او پښتونولي " له قانون سره برابر وي .

۶ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې ټینګه عقیده او نور ټول ښه خویونه ، ښه اخلاق ، ښه صفات ، ښه افعال او ښه اعمال د ده مخصوص صفت وي .

۷ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې "پښتو او پښتونولي" دده فطرت وي .

۸ : د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې په هرځای او هر وخت کې د پښتنو ، پښتو ژبې ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا ، د پښتنو د دیني ارزښتونو ، ملي ګټو او ملي نوامیسو څخه دفاع خپل پښتني فرض وبولي .

۹ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې د هغه د ورځني ژوند ټول کړه وړه او نظر او عمل د " پښتو او پښتونولي " له قانون سره برابر وي .

۱۰ : پښتون هغه چا ته ویل کېږي چې د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق د هغه نظر او عمل د پښتون ملت ، پښتو ژبې او د پښتونخوا هیواد په خدمت کې وي .

د پورته دلایلو پر اساس موږ ویلای شو :

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق یو کس ته هغه وخت پښتون ویل کېږي چې د خورا لوړو دیني ، پښتني او انساني جواهرو خاوند وي .

هرهغه کس چې د پورته ذکرشوو لوړو دیني ، پښتني او انساني جواهرو خاوند نه وي ، هغه کس پښتو ن نه بلل کېږي ، که څه هم هغه کس په پښتو خبرې کوي ، په پښتنه کورنۍ کې د پښتون پلار او د پښتنې موره پیدا شوی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر هغه پښتون چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په خورا لوړو ديني ، پښتني او انساني جوهر مجهز نه وي هغه شخص پښتو ن نه بلل کېږي ، ځکه چې هغه شخص پښتني ملي روحيات يعنی پښتو او پښتونولی نه لری او تش کالبود دی .

هغه کس چی پښتو او پښتونولي نه لری هغه شخص د پښتني فطرت څخه خالي دی او بې فطرته شخص پښتون کېداي نه شي .

د "پښتو او پښتونولي" د قانون مطابق يو رښتينی پښتون بايد حتما پښتني غرور ، پښتني ښاغلتوب ، پښتني مېړانه ، پښتني غيرت ، پښتني توره ، پښتني همت ، پښتني عهد ، پښتني وفا ، پښتني عزت ، پښتني خواخوږي ، پښتني عدل ، پښتني انصاف ، پښتني رښتينی جهاد ، پښتني شفقت ، پښتني ښېګڼه ، پښتني مهرباني ، پښتني وروري ، پښتني صله رحمي ، پښتني شرافت ، پښتني ايثار ، پښتني قرباني ، پښتني استغنا ، پښتني صبر ، پښتني قناعت ، پښتني زغم ، پښتني حوصله ، پښتني زيار ، پښتني هاند ، پښتني تکړه توب ، پښتني سپېڅلتوب ، پښتني ښه اخلاق ، پښتني پاکوالي ، پښتني فضيلت ، پښتني عقل ، پښتني پوهه ، پښتني علمدوستي ، پښتني معنويت ، پښتني تدبير ، پښتني روغه ، پښتني سوله دوستي ، پښتني ښه سړيتوب ، پښتني انسانيت ، پښتني توازع ، پښتني غنا ، پښتني اسلاميت او دين پروري ، پښتني مېلمه پالنه ، پښتني همسايه پالنه ، پښتني پنا ورکول ، پښتني ننواتي ، پښتني بخښنه ، پښتني سخا ، پښتني ډوډۍ ماري ، پښتني وطندوستي ، پښتني خپلواکي غوښتنه ، پښتني ښه عمل ، پښتني پاک زړه توب ، پښتني چغه ، پښتني سادګي ، پښتني زيړتوب ، پښتني ښه ويل ، پښتني لښکر ، پښتني خيرغوښتنه ، پښتني مظلوم دوستي ، پښتني ظالم د ښمني ، پښتني پت ، پښتني سيالي ، پښتني اصيلتوب ، پښتني نجات ، پښتني باداري ، پښتني لوی لمني ، پښتني بدرګه ، پښتني درونـدوالی ، پښتني بې تملقي ، پښتني ايمانداري ، پښتني عقيده ، پښتني باور ، پښتني ډاډ ، پښتني ثبات ، پښتني استقامت ، پښتني غښتلتوب ، پښتني رښتنولي ، پښتني سالم وجدان ، پښتني حيا ، پښتني مينه ، پښتني وفا ، پښتني کرکه ، پښتني عفت ، پښتني عصمت ، پښتني ناموس داري ، پښتني جرګه ، پښتني مساوات ، پښتني فيصله ، پښتني بدل ، پښتني غچ اخيستنه ، پښتني احسان منته، پښتنی نمک حلا لی ، پښتني لوړهمتي او داسې نور غوره پښتني صفات ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو رښتینی پښتون باید هرو مرو پورته ذکرشوي عالی صفات ولري ، او د ې صفاتو په درلودلو وویاړي ، هغه خپل ارثي او فطرتي صفات وبولي .

هر څوک چې پورته ذکر شوي عالي ترین دیني او انساني صفات ولري هغه ته "پښتون" ویل کېږي .

هر پښتو ژبی چې پورته عالي ترین اسلامي او انساني صفات و نه لري هغه پښتون نه دی او هغه ته باید پښتون و نه ویل شي ، هغه صرف په پښتو خبرې کوي او په پښتنه کورنۍ کې پیدا شوی دی .

د "پښتو او پښتونولي" د عالي ترینو دیني او انساني صفاتو لرلو پښتنو ته په منطقه او نړۍ کې دوستان او هم دښمنان پیدا کړیدي ، چې موږ په لاندې څو جملو کې د پښتنو په اړه د هغو دوستانو او دښمنانو تبصرو ته یوه لنډه اشاره کوو .

یو ایرانی پښتون ضد شخص چې ځانته عالم وایي د پښتنو یعنې افغانانو په باره کې داسې وایي:

هر فرد افغان (د افغان څخه د ده مطلب پښتون دی) اول خودش و بعد قوم افغان را برگزیده خدا (ج) میداند ، وهیچکس را در روی زمین برابر افغانی نمی پندارد ، که این فضیلت را نگارنده براي ملت ایران ارزو میکند ، وقتی یک فرد افغانی طایفه وقوم خود را برای نگارنده می شمرد ، بیاد سخن داریوش کبیر افتادم که با چه لهجه پر از مباهات نژاد خودش را مینویسد :

( . . . پارسي فرزند پارسي - ایراني فرزند ایراني .

د ایراني عالم دا خبره مطلق دروغ ده ځکه چې د داریوش په وخت کې د " ایران " لفظ د منطقې په ادبیاتو کې وجود نه درلود ) .

مګر د دې ایراني نقاد برخلاف یو بل خارجي محقق د پښتنو د ملي غرور او ښه صفاتو په باره کې داسې وایي:

(که د یو خورا بېوزلي ، لوڅ او بربنډ پښتون څخه پو ښتنه وکړي چې څوک یې ؟

دی به په ډېرغرور او مباهات سره درته ووایي چې زه (پښتون یم) ، دده د لهجې څخه به د پښتون ملت غرور او له سیما څخه به یې د پښتونولي علویت ښکاره کېږي او تا به په درانه غیرت ، خورا متانت او وقارسره داسې تر اثرلاندې کړي چې ته به وا یې چې دی باداراو زه غلام یم ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو پښتون بايد هر وخت او په هر ځای کې په ډېر وياړ سره ووايي چې زه "پښتون" يم او همېشه او هرځای په دې وویاړي چې "پښتون" دی .

خوشال بابا هم په خپل پښتون ملت نازېږي او داسې وايي:

د افغــــان (پښــــتون) پـــه ننـــګ مــــې وتړلــــه تــــوره
ننګيــــالی د زمــــانې خوشــــال ختـــک يـــم

يو بل پښتون شاعر داسې وايي:

د اســـلام نـــه پـــس دا فخـــر رالـــه بـــس دی
چـــې پښـــتون يـــم ځـــه زاخېـــل او ځـــه بـــارک .

مولوي عبدلحميد افغاني په تاريخ افغانيه کې داسې ليکي:

په پښتنو کې د شرافت معيار دادی چې سړی (پښتون) وي

او يو پښتون ته د غيرت راوستلو لپاره دا وينا بس ده چې ده ته وويل شي (ته پښتون يې او داسې ناوړه کار کوې ؟)

په پښتنو کې تر ټولو سخت قسم دادی چې يو پښتون ووايي:

(زه به پښتون نه يم که داسې وکړم ، يا داسې ونه کړم) .

سيد جمال الدين افغان په تتمه البيان کې د پښتنو په باره کې داسې وايي:

(هر پښتون که څه هم فقير وي دا خيال لري چې دی تر هرچا شريف دی ، ځکه چې پښتون دی) .

انګريز کرنيل ميلسون د افغانستان په باره کې تاريخ ليکلی دی او د خپل تاريخ د لومړي فصل په اخر کې د پښتنو په باره کې داسې وايي:

(پښتانه پر خپل هېواد مين او په خپل قوم يعني پښتونوالی مغروردي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د : د پښتون ملت په باره کې د بلغار د باد نظر :

سترمحقق علامه عبدالحی حبیبي د پښتون ملت د نسل ، روحیاتو ، نفسیاتو ، عقایدو ، صفاتو ، اخلاقو او نور هر اړخیزې مطالعې وروسته داسې وایي چې د زړو اریایانو د زماني راهیسې داسې عقیده موجوده وه او پښتانه مشران همېشه په دې عقیده وو :

کله چې د بلغارباد راوالوت ، نو د پښتون ملت د "دماغ" ، "لمنې" او "بازو" څخه ومښتی .

موږ دلته د بلغار د باد په باره کې د لرغونو اریایانو د عقیدې په باره کې یو څو جملې لیکو او بیا په دې باره کې یو څو جملې کاږو چې د دې خبرې معنی څه شی ده چې د بلغار باد د پښتون ملت د دماغ ، لمنې او بازو څخه ومښتی . . .

### د بلغارباد کوم باد ته ویل کېږی ؟ :

په لرغونو زمانو کې اریایان په دې عقیده وو چې د بلغار باد چې د هرشي څخه ومښلي ، نو په هغه شي کې تر نورمال حالت زیات ډېروالی راځي .

د مثال په ډول که د چا کښت د بلغار باد ووهي ، نو د هغه سړي د کښت حاصل تر نورمال حالت څو ځله زیات حاصل کوي او په ولس کې هم تر نن پورې دا اصطلاح موجوده ده چې که یو سړی د خپل جایداد څخه تر نورمال زیات حاصلات واخلي ، نوعام خلک وایي چې د پلاني کښت د بلغار باد وهلي وو ، نو ځکه یې دومره زیات حاصلات واخیستل .

د بلغار د باد اصطلاح تنها د کښت په باره کې نه استعمالیږي ، بلکې دا د ژوند د هر شي په باره کې لکه حیوانات ، باغونه ، اولادونه ، مېږونه ، کښتونه ، پوهه ، توره ، مېړانه ، دسترخوان ،...او داسې نورو مواردو کې استعمالیږي .

د دوی په باوردبلغار باد د عادي باد په شان نه دی چې کله راوالوزي ، نو د عام او خاص د کښتونو ، باغونو ، کورونو ، انسانانو او حیواناتو او نورو ټولو شیانو څخه مښلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بلغار باد عادي باد نه دی او نه د عام ولس سره تعلق لري ، د بلغار باد تنها د خاصو انسانانو د کښتونو ، باغونو ، مالونو ، مېړونو ، دماغ ، تورې او داسې نورو شیانو څخه منبلي .

د زړواریایانو عقیده پر دې وه ، د چا چې به مړونه ډېر وو ، نو دوی به ویل چې د پلانې کورنۍ د بلغار باد وهلې ده ځکه یې مړونه دومره زیات دي ، د پلانې کښت او رمه د بلغار باد وهلې ده ځکه یې حاصلات او رمې دومره ډېرې شوي .

د بلغار د باد اصطلاح تر نن پورې هم د لوی کندهار په لرې کلیو او بانډو کې د عام ولس په منځ کې په عین مفهوم (د زیاتوالي په معنا ) استعمالېږي کوم چې زړو اریایانو استعمالول .

په لوی کندهار کې نن هم په عام ولس کې دا اصطلاح ډېره عامه ده چې وایي:

د بلغار باد د نورزو د دسترخوان ، د علیزو د تورې ، د کاکړانو د دماغ او د الکوزو د پزې څخه منبتي دي .

رښتیا هم نورزي دسترخوان لري او سخي خلک دي ، علیزي تورزن او مېړني خلک دي ، په کا کړانو کې ښه عالمان شته او الکوزي ډېر ژر په قهر کېږي .

پخوانیو اریایانو په حقیقت کې د خدای(ج) هغه مهرباني او شفقت د بلغارد باد په نامه یادول چې الله پاک به د یو فرد ، کورنۍ ، قوم یا ملت پر مال ، اولاد ، کښت ، پوهه او نورو شیانو وکړل .

اوس بېرته خپل اصلي موضوع ته راګرځو چې د بلغار د باد او د پښتون د دماغ ، بازو او لمنې څخه د منبتلو معنا څه شی ده .

1 : د بلغار باد پښتون د دماغ څخه منبتی دی:

علامه عبدالحی حبیبي صاحب په دې باره کې چې د پښتنو د دماغ څخه د بلغار باد منبتی دی داسې وایي:

پښتون ملت ته خدای(ج) دومره پوهه ورکړې ده چې دوی د نړۍ د نورو ملتونو په شان په سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو ساحو کې د خپل ملت لپاره نظام جوړولای شي ، هغه په ښه ډول کنټرول او اداره کولای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاریخي شواهدو ، حقایقو او اسنادو پر اساس موږ ویلای شو چې پښتون ملت تر بل هر ملت وړاندې د نظام جوړولو او نظام چلولو پوهه ، علم ، تدبیر او مهارت زده کړیدی او نړۍ ته یې ښودلی دی .

د تاریخي شواهدو پر اساس پښتنو د پیشدادیانو د سلطنت په دوره کې چې د ګیومرتن د پاچاهۍ څخه شروع کېږي دلومړنی شاهي دولت جوړول ، دتاج او تخت دود رواجول ، ښاري مدنیت ایجادول ، ښارونه جوړول ، دمرض تشخص او درمل ورته جوړول ، زراعت رواجول او حیوانات اهلي کول او داسې نور د پښتنو د عالي دماغ او پوهې نتیجه ده .

پښتنو پورته ذکرشوي ازښتمند خدمات خپل ځان او نړۍ ته د زردشت دین تر منځته راتګ تقریبا درې زره کاله وړاندې د پښتون پاچا ګیومرتن د تاجپوشۍ وروسته چې د پښتونخوا د بلخ د البرز په غرونو کې وشوه رامنځته کړل .

تاریخ شاهد دی په هغه وخت کې چې موږ پورته ذکرشوي ارزښتونه لرل،زموږد شاوخوا هېوادونو خلک لا دوحشیانو په څیر ژوند کوی.

کله چې پښتنو په بلخ کې شاهي نظامونه ، ښاري مدنیت ، ټولنیزه ترقي ، د صنایعو ایجاد ، د اوسپنې او درملو کشف او استعمال منځته راوړی ، زموږګاونډیانو د وحشیانو په شان ژوند کوی.

کله چې پښتنو دټولنیز نظم او ترتیب لپاره یو داسې ایین (زردشت) منځته راوړی چې پر یوه باد اریي عقیده درلودل ، پدې وخت کې زموږ د شاوخوا هېوادونو اوسېدونکي د وحشیانو په شکل ژوند کاوه او اویستا ددوی د جملې څخه ځینی د(دیبانو ) یا (دیوانو ) په نوم یادکړیدی .

په نږدې تاریخ کې هم موږوینو چې د مغلو پرخرابو د هرات د "کرت" کورنۍ ځنګه مرفع او مترقي نظام جوړکړی ، علم ، معرفت ، زراعت ، تجارت او صنعت په دې دوره کې خومره پرمختګ وکړ ، ترڅو د مغلو د بل سپاق تیمور لنګ له خوا دا نظام هم له خاورو سره برابر شو .

د هندوستان په هېواد کې د پښتنو پاچاهانو سلطان بهلول لودي ، سلطان علاوالدین غلجي او شېرشاه سوري نظامی ،اجتماعی او اقتصادی کارنامې د هند د تاریخ ځلانده برخی دي .

د دوی په حاکمیت کې اقتصاد او تجارت ډېره ترقي وکړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټول هند کې لويې لارې او کاروان سرايونه جوړ شول او په ښه ډول د هغو امنيت وساتل شو .

په ټول هند کې يو با انظباطه نظام جوړ شو چې د سولې ضمانت يې وکړ ، زراعت ته وده ورکړل شوه ، د معمارۍ په باره کې د رهتاس د لويې قلعه جوړول د معمارۍ او نظامي استحکام بې مثاله ښه کار دی .

ددی پښتنو پاچاهانو په دوروکې علم او پوهې زياته وده وکړه ،د ملت سره په عدالت چلن کېده او رعيت به پښتون پاچا ته تر بل هر واکمن په اسانه ډول لاس رسي درلود .

د سولې او امنيت د تامين لپاره د شېرشاه سوري د کليوالي پيوستون نظام نهايت مفيد وو ، غلا ، غل او غدو د منځه تللي وو ، که د چا سره طلا هم وای او تنها په صحرا کې روان وای بيا هم د شېرشاه د عدالت او امنيت په خاطر د هغه څخه چا نه شوای غلا کولای .

د مالیې راټولولو او د دولت د خزانې د ډکولو لپاره يې بهترينې طريقې انتخاب کړې وې ، نظام د فساد څخه خلاص وو ، د پوستې نظام په هند کې د پښتنو شاهانو ابتکار وو .

که د هند د موسيقۍ او هنر د دنيا څخه د "عادل شاه سوري" او دمالوې د پښتون پاچا "باز بهادر" ابتکارات وايستل شي ، نو د هند د موسيقۍ او هنر دنيا به نيمګړې پاتې شي .

## 2: دبلغار باد د پښتون د بازو څخه ومنبتی:

علامه عبدالحی حبيبي صاحب په دې باره کې چې د بلغار باد د پښتون د بازو څخه ومنبتی دا سې وايي:

پښتون ملت ته خدای(ج) دومره مېرانه او د بازو زور ورکړی دی چې دوی د نړۍ د نورو ملتونو په شان د خپل هېواد ځمکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ، ملي خپلواکۍ ، ملي ګټو او ملي نواميسو څخه د تاريخ په اوږدو کې په خپله توره او بازو دفاع کړې ده .

د تاريخي شواهدو ، حقايقو او اسنادو پراساس موږ ويلای شو چې پښتون ملت د خپل هېواد د ځمکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ، ملي خپلواکۍ ملي ګټو او ملي نواميسو څخه په خپل لوړهمت ، تېره توره او قوي بازو د دفاع کولو توان لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3- د بلغار باد د پښتو ن د لمنې ښخه ومبنتی:

علامه عبدالحی حبيبي صاحب په دې باره کې چې د بلغار باد د پښتون د لمنې ښخه ومبنتی دا سې وايي:

پښتون ملت ته خدای(ج) ډېره لويه لمن ورکړې ده .

د دې خبرې معنا دا ده چې د پښتون ملت په قلمرو کې چې کوم اقليتونه ژوند کوي پښتانه له هغوی سره په ډېره مهربانۍ چلن کوي .

د پښتنو په حاکميت کې د قومي او ديني اقليتونو سر ، ناموس ، عزت او مال محفوظ دی او د پښتو او پښتونولي د قانون په چوکاټ کې د خپل ديني مناسقو د ادا کولو حق لري .

د تاريخي شواهدو ،حقايقو او اسنادو پر اساس موږ ويلای شو چې اکثريت پښتانه پاچاهان او امپراطوران د نړۍ له خورا عادلو واکمنانو په ډله کې حسابيږي .

که موږ د لوی احمد شاه بابا ، ميرويس نيکه ، سلطان بهلول لودي ، شېرشاه سوري ، سلطان غياث الدين غوري او نورو پښتنو شاهانو او امپراطورانو واکمنۍ ته نظر واچوو او هغه د نړۍ د نورو هېوادونو د شاهانو مخصوصا د ايراني او مغولي شاهانو د ظلمونو سره مقايسه کړو ، نو په ښکاره ويلای شو چې پښتانه پاچاهان او امپراطوران د نړۍ د عادل ترينو پاچانو او امپراطورانو له جملې ښخه شمارل کېږي .

دا چې د پښتنو د لمنې ښخه د بلغار باد مبنتی دی دلته د دې خبرې معنا دا ده چې پښتانه واکمنان د خپل پښتون رعيت او نورو اقليتونو سره په عدل ، انصاف ، بخښنې ، سخاوت او مهربانۍ چلن کړی دی او وبه يې کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## په پښتونخوا کې د پښتنو د اوسېدو تاريخ ته د ېره لنډه اشاره:

کله چې مورږ د پښتون له کلمې سره مخامخ کېږو او يا يو څوک وايي چې زه پښتون او يا پښتنه يم ، نو د پښتون د کلمې اورېدل يو متجسس انسان مجبوروي چې د پښتون د کلمې په هکله لږ ډېر تحقيق وکړي او په دې ځان پوه کړي چې:

پښتون څوک دی ؟

په نننۍ افغانستان او پاکستان کې چې هرڅوک د " پښتون" نوم واوري ، سمدلاسه په دې پوهېږي چې دا د ستري پښتونخوا د اصلي اوسېدونکو يعنې ستر پښتون ملت نوم دی ، د دې ملت هر نارينه شخص "پښتون" بلل کېږي او هرې ښځينه ته يې " پښتنه" ويل کېږي .

کله چې پوه شو چې (پښتون) د پښتون وياړلي ملت نوم دی ، نو په دې هم بايد ځان پوه کړو چې:

ايا پښتون ملت د دې هېواد اصلي اوسېدونکي دي او که د بل کوم هېواد څخه دلته را مهاجر شوي دي ؟ .

که د دې هېواد اصلي اوسېدونکي وي ، نو د کوم وخت راهيسې دلته ژوند کوي ؟

د تاريخ په اوږدو کې دا ملت په دې خپل هېواد يعنې پښتونخوا کې بادار اوسېدلي دی او که د پردو غلام اوسېدلی دی ؟

د دې ملت دجوړښت اساس پر کومو ارزښتونو ولاړ دی ؟

کوم ارزښتونه دي چې د دې ملت د پاينښت اوبري سبب شوی دی؟

د دې ملت اخلاق ، روحيات ، رسم ، رواج او عنعنات څه ډول دي ؟

دا ملت د کوم قانون پيروي کوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول نور په سلګونو سوالونه طرحه کېدای شي او دې ټولو سوالونو ته مناسب ځواب ورکول د عالمانو او محقيقينو ډېر زيات تحقيق او زحمت ته ضرورت لري .

زه چې نه عالم او نه محقق يم او يو ساده او کم سواده پښتون يم او د يو پښتون په حيث د پښتون ملت ، د پښتنو د تاريخ ، د پښتنو د ټاټوبي يعنې پښتونخوا ، د پښتنود مورنۍ ژبې (پښتو ) او د پښتنو د فطرت او ملي روح (پښتو او پښتونولي ) سره د زړه له کومي مينه لرم ، نو په دې اساس پورته يادو شويو مسايلو ته په ډېر لنډ ډول يوازې يوه اشاره کوم ، که په دې هکله زما په کارکې په علمي او تحقيقاتي ساحه کې هر ډول نيمګړتيا وي ، هيله ده چې ګران لوستونکي او عالمان به ما وبخښي ، ځکه چې زه يو عالم ، محقق او ليکوال نه يم .

پښتونخوا د پښتنو ابدي او ازلي ټاټوبی و او انشا الله د قيامت تر ورځې پورې به دا پاکه پښتونخوا د توريالیو او ننګياليو پښتنو مسکن او مدفن وي .

د نړۍ ستر محققين او موريخان ( استاد کهزاد ، استاد حبيبي ، کرستن سن ، دينکرد ، ډاکتر توراويانا ، اولف کيرو او داسې نور ) په دې باوردي چې پښتانه د هغه زمانو راهيسې په پښتونخوا کې اوسيږي چې د تاريخ په ياد نه دي او لا تر اوسه هم پښتانه د خپلو نيکو پر ځمکه يعنې پښتونخوا پراته دي .

ترن پورې چې عالمانو او څېړونکو د پښتنو د تاريخ په باره کې هر څه معلومات په لاس راوړي دي ، دا ثابتوي چې د پښتون ملت او د پښتنو د تاريخ ريښه او تړاو همېشه د پښتونخوا په جغرافيه پورې اړه لري .

يو ملت چې په کومه جغرافيه کې اوسېږي تاريخ يې هم په هغه جغرافيه کې جوړېږي او په نړۍ کې د هغه ملت او هغې جغرافيې په نوم ياد ېږي .

د مثال په ډول:

د فرانسويانو تاريخ ، د فرانسې تاريخ بلل کېږي او د فرانسې تاريخ د فرانسويانو تاريخ بلل کېږي .

د جرمنانو تاريخ د جرمني تاريخ بلل کېږي او د جرمني تاريخ د جرمنانو تاريخ بلل کېږي .

د هنديانو تاريخ د هند تاريخ بلل کېږي او د هند تاريخ د هنديانو تاريخ بلل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې ډول موږ ويلای شو چې د پښتونخوا تاريخ د پښتنو تاريخ دی او د پښتنو تاريخ د پښتونخوا تاريخ دی .

د پورته تاريخي شواهدو څخه دا ثابتېږي ، چې له تاريخ څخه وړاندې زمانو راهيسې بيا ترنن پورې پښتانه په پښتونخوا کې اوسېدل او د پښتنو تاريخ د پښتونخوا تاريخ دي.

د تاريخ په اوږدو کې داسې هم پېښ شوي دي ، چې پښتنو پاچاهانو د پښتونخوا د جغرافيې څخه د باندې پر ګاونډيو هېوادونو لکه هند ، ايران او د مرکزي آسيا پر ځينو هېوادونو هم پاچاهي کړې ده .

په پښتونخوا کې د پښتنو ليکلي تاريخ د پښتنو د لومړي پاچا ، ګيومرتن د زمانې څخه را پيل کېږي ، چې تقريبا د زردشت دين تر پيدا ينښت او د غرغښت تر پاچاهۍ څو زره کاله وړاندې يې د بلخ د البرز په غرونو کې تاجپوشي وکړه .

د دې لپاره چې ګران لوستونکي په اسانه او ښه ډول پرې وپوهېدلای شي ، د پښتنو تاريخ به پر لاندې څو برخو ووېشو او هری برخی ته به يې يوازې يو ډېره لنډه اشاره وکړو ځکه چې دا کتاب د تاريخ کتاب ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړۍ برخه

## په بلخ کې د پښتنو لومړي پاچاهان:

### 1: پیشدادیان:

پیشدادیان څوک دي ؟

مونږ دلته د پیشدادیانو دورې ته ډېره لنډه اشاره کوو.

سترمحققین او مورخین لکه استاد کهزاد ، استاد عبدالحی حبیبي ، کریتنسن ، اولف کیرو ، دینکرد او توراویانا او داسې نورعالمان ټول په یوه خوله په دې عقیده او باور دي چې پارتان= پارداتان د پیشدادیانو بل نوم یا ژباړه ده او پیشدادیان پښتانه دي .

پارتان د یو قوم نوم دی او پارت د یوې سیمې نوم دی ، چې د دغه قوم په نوم یادېږي .

دوی د باختر د سیمې او سېدونکي او د باختر د اریایي کتلې له ډلې بلل کېږي .

پارت او پارتان لکه د دوی او د دوی د خاورې له نامه څخه چې د دوی په نوم یې شهرت موندلی دی ، په ښه توګه ځرګندېږي چې د باختر د اریایي قبیلې یوه څانګه همدا پکت یا پښت او پخت دي .

پکتان یا پختان یعنې پختي چې د دوی نوم د بخدي په اویستایي کلمه کې چې د بلخ ډېر پخوانی نوم دی ، اغېزغورځولی دی ، هماغه نومیالی قوم دی چې د ویدي سرودونو د لرغوني کتاب ریګویدا څخه ترنن پورې یې په ټولو زړو اریایي سر چینوکې ئې نوم ، نښان ، تاریخي دریځ او د استوګنې سیمې ښودل شوي دي ،

چې تاریخ د " پښتون ملت" په نوم پېژندلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو دارياپي قبيلې هغه برخه چې د هندو کش په جنوب کې راکوز شول ، د سپين غر په دواړو خواوو يعنې د اريانا په جنوب شرق سيمو کې مېشت شول ، دا ولس د ريګويدا په سرودونو کې په بيلو بيلو ډګرونو کې د پښت يا پکت په نوم ياد شوي دي او د ځينو پاچاهانو نومونه يې هم په ريګويدا کې ذکرشوي دي .

د اريانا هغه جنوب شرق سيمه چې د(سپيتا ګونا ګيري) سپين غره پر شاوخوا پرته ده او (پښت = پخت = پکت = پښتانه) پښتانه په کې مېشت شول د پښتيا يا پکتيا په نوم يې شهرت وموند .

د تاريخ پلار هيرودوت هم پښتانه د پکتيوس او د دوی سيمه يې د پکتيکا او يا پکتيا په نوم ياده کړې ده چې اساس يې پښتيا يا پختيا دی او د دې سيمې پراختيا تر سند پورې رسېدل .

تاريخ پوه ډاکتر تورا ويانا وايي چې: پارداتان عينا د پيشداديانو ژباړه ده او پيشداديان پښتانه دي او دا پيشداديان د بلخ يا بخدي لومړی شاهي کورنۍ ده ، چې يما يې اخري او مشهور ترين پاچا دی .

ټول يې طرفه مورخين او محقيقين پيشداديان = پارداتان = پارتان = پښتانه بولي .

ډاکترتورا ويانا پيشداديان د پارداتانو ژباړه بولي .

وتلي مورخ او محقق ښاغلي کهزاد دا ثبوت وړاندې کوي ، چې پارتان د بلخ = بخدي سره تړاو لرونکي پښتانه دي ، چې د بلخ = بخدي = بختي په نامه کې يې هم اغيز ليدل کېږي .

د هيرودت په وينا ، دې قوم پر پختيا او پختيبنا (پکتيا او پکتيکا ) باندې هم خپل نومونه کېښودل چې د پښتنو = پشتنو = پختنود سيمواو وطنو معنا ورکوي .

استاد حبيبي وايي چې: پيشداديان = پارتان = پارداتان = پښتانه په اويستا کې د(پره ذاته) په نوم يادشوي دي ، د بلخ په دې شاهي کورنۍ کې ډېرستر او وتلي پاچاهان تېرشوي دي چې يو پاچا او لوی پهلوان يې هوشينګه د پره ذاته = پيشداد = پښتون په نوم ملقب وو .

د نړۍ ډېر مورخان او محققين په دې باور دي او ددوی په اثارو کې بلخ ، د هندوکش درې ، د سپين غره شاوخوا درې يعنې ټوله پښتونخوا د ويدې سرودونو او اويستايي يشتونو د منځته راتلو او هم د(زراتوشترا ) د ( اويستا ) د ليکلو ځايونه ښودل شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورتنيو حقايقو او تاريخي څېړنو څخه دا معلومه شوه ، چې د بلخ = بخدي لومړی شاهي کورنۍ يعنې پيشداديان پښتانه وو .

## د ګيومرتن پاچاهي:

د بلخ د شاهي کورنيو سلسله د پيشداديانو = پاردا تان = پارتانو = پښتنو څخه شروع کېږي .

د پيشداديانو سلطنت د زردشت ايين د پيدا ښت څخه تقريبا درې زره کاله وړاندې منځته راغلی دی .

د دې شاهي کورنۍ موسس او مشر ګيومرتن (ګيو مرت ، ګيومرد ، ګيومرث) نومېده .

تاريخ پوهان وايي چې ګيومرتن لومړی پاچا و چې د جاموا غوستل يې رواج کړل ، لومړی يې په خپله د ببرد پوست څخه جوړشوي کالي واغوستل او بيا دده د قوم خلکو دده پيروي وکړه او د حيواناتو د پوستونو څخه يې د ځانونو لپاره کالي جوړکړل او وايي غوستل .

تاريخ پوهان وايي چې په دی منطقه کې ګيومرتن او دده قوم لومړنی انسانان وه چې د لومړي ځل لپاره يې د حيواناتو د طريقې څخه خلاف د انسانانو په ډول خواړه برابر او د انسانانو په ډول ئی وخوړل .

ګيومرتن ، د بلخ د البرز په غرونو کې د خپل قوم لپاره د اوسېدو ثابت او مشخص ځای تعين کړی او د کوچيتوب ژوند ئی پای ته ورسوی .

د دې خبرې معنا داده ، چې په دې منطقه کې ګيومرتن لومړی مشر و چې د خپل قوم د کوچېتوب ژوند ته يې د زردشت دين تر پيدا ښت تقريبا درې زره کاله وړاندې د پای ټکی کېښود .

په بله وينا پښتون د دی منطقی لومړی ملت دی ، چې د زردشت دين تر پيدا ښت تقريبا درې زره کاله وړاندې يې د کوچې توب د ژوند څخه مېشته يا ځايي ژوند پيل کړ .

د تاريخي حقايقو پراساس ګيومرتن لومړنی انسان او د پښتنو ملي مشر و چې خپل ملت يې د کوچېتوب له ژوند څخه ځايي او مېشته ژوند ته رهنمايي کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګيومرتن لومړی سړی و ، چې د سوما ، له بوټي څخه يې شراب را وايستل .

فردوسي وايي :

د دې لپاره چې د قوم مشر يا پاچا د نورعادي رعيت څخه فرق وکړي او ولس يې په اسانۍ سره وپېژني او احترام يې وکړي ،د پښتنو مشر ګيومرتن لومړی ملی مشر و چې د قوم د مشر يا پاچا په صفت ئی د قوم له خوا تاج پرسر کېښود او پر تخت کېناستی او په نړۍ کې ئی دلمړی ځل د پاره د تخت او تاج دود ايجاد کړی .

د پورته ذکرشوي تاريخي حقيقت معنا داده چې:

۱: پښتون ملت د نړۍ لومړی ملت دی چې د کو چې توب څخه يې د مېشته يا ځايي ژوند پيل وکړ .

۲:پښتون ملت د نړۍ لمړی ملت دی چی د خپل ستر د پټولو په خاطر يی لباس ايجاد کړی،لباس يی واغوستی او خپل ستر يی په پټ کړی پدی ډول يی بشريت ته د لباس د اغوستلو طريقه ورزده کړه.

۳: پښتون ملت د نړۍ لمړی ملت دی چی د انسان په ډول يی دخوراک د خوړلو طريقه ايجاد کړل او د نړۍ نورو انسانانو ته يی د انسان په ډول د خوړلو طريقه ورزده کړل.

۴:پښتون ملت دبشريت لمړی ملت دی چی شاهی نظام يی ايجاد کړی ګيومرتن يی خپل پاچا کړی او ټو لی نړۍ ته يی د شاهي نظام جوړښت وروښوده .

۵:پښتون ملت دنړۍ لمړی ملت دی چی شاهي تاج يی ايجاد کړی او د خپل پا چا پر سر يی کښيښود او ټو ل بشريت ته يی د تاج معنی ،ارزښت او استعمال ور وښود.

۶: پښتون ملت د نړۍ لمړی ملت دی چی د خپل پا چا د پاره يی شاهی تخت ايجاد کړی او ټولی نړۍ ته يی د شاهی تخت ارزښت او استعمال وروښودی.

فردوسي طوسي وايي چې ګيومرتن او دده زوی سيامک د ديوانو سره په جګړه کې ووژل شول او د پښتونخوا د چارو واګي د ګيومرتن د لمسي او د سيامک د زوی "هوشنيګ" په لاس ورغلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اویستا د شراو تیاری تولو قوتونو ته دیوان یا دیبان ویل ،په همدی لیحاظ د مرکزي آسیا ځخه پر بلخ حمله کوونکو انسانانو ته چی د پښتنو تمدن او سوله ایز ژوند یی د منځه وړی ،په پښتونخوا کښی یی شراو فساد جوړوی دیوان ویل کیدل.

## د هوشنګ یا هوشینګه پاچاهي:

استاد حبیبي وایي چې په اویستا کې دا ذکر شوي دي چې په پښتونخوا کې یو لوی پهلوان وجود درلود چې نوم یې (هوشینګ) و او دا هوشینګ د ګیومرتن د اولاده ځخه و او دده لقب پره ذاته = پیشداد = پښتون و چې د بلخ د البرز په غره کې یې د (اناهیتا ) د رب النوع لپاره قربانۍ کولې ، د دیوانو سره جنګېده او پر اوو (7) هیوادونو یې پاچاهي کوله .

جرمني عالم دینکرد وایي چې د دهقانۍ رسم ، د ملکیت اصل د حکومت او پاچاهۍ کولو دود او د ولس ساتنه همدغه هوشینګ او دده کورنۍ (پیشدادیانو = پښتنو )ایجاد کړل .

سراولف کیرو او استاد احمدعلي کهزاد وایي چې پیشدادیان پښتانه وو او ددوی پاچا هوشنګ په خپل هیواد پارتا یا پښتونخوا کې سلطنتي نظام درلود او ده په خپل نظام کې عدل ، انصاف او نظم منځته راوړي وو ، ښارونه یې ودان کړل او د خپل ولس د سوکالۍ لپاره یې نوې لارې چارې ایجاد کړې .

فردوسي وایي چې هوشینګ له ډبرې ځخه او سپنه راوایستله .

نخســـــــتین یکـــــــی گـــــــوهر امــــــــد بـــــــه چنـــــــګ
دانــــــــــش زاهــــــــن جـــــــــدا کـــــــــرد ســـــــــنګ
چوبشـــــــــناخت اهنګـــــــــري پیشـــــــــــه کـــــــــرد
کجـــــــــــازوتبر وتیشـــــــــــــــه کـــــــــــــرد
ســـــــــــــرمایه کـــــــــــــرد اهـــــــــــن اب ګـــــــــــون
ان ســـــــــنګ خـــــــــارا کشـــــــــیدش بـــــــــرون

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو شينګ ځلو ښت کاله په عدل او انصاف پرخپل پښتون ملت پاچاهي وکړه .

## د تهمورث پاچاهي:

ترهو شينګ وروسته د پيشدادي کورنۍ بل غړي د(تهمورث) په نوم په بلخ کې پاچا شو او د برش کاله يې د خپل يو هوښيار وزير(شيدسپ) په مرسته په ډېرعدل او انصاف پرخپل ولس حکومت وکړ.

دتهمورث اويستائی نوم ،، تخمه او روپه،، دی او دا پاچا په اويستا کښی د ،،وسلوال،، په نوم هم ياد شوی دی.

تهمورث ته په اويستا کښی "ديوبند " هم وايي ځکه چې ده ديوان پر پښتونخوا باندی دحملوکولو څخه بند کړل ، په بله وينا تهمورث پر پښتونخوا د مرکزي آسيا اوننني ايران له خوا دتورانيانو او مازندران د اوسيدونکو وحشيانو حملې بندي کړې .

د تهمورث پاچا په وخت کې پښتنو ډېره ترقي وکړه ، د وړيو وريښل ، د کاليو سکښت او ګنډل ، د حيواناتو اهلي کول ، د آس ، قچرې ، خره ، اوښ ، غوايي او نورو څخه د ژوند په چارو کې استفاده کول هم د دې پاچا په وخت کې رايج شول ،حتی د ليک او لوست اساس کښيښودل شو...

د پورته تاريخي حقيقت څخه دا معلومېږي چې پښتون ملت او دولت د ټول بشريت د ترقۍ ، پرمختګ او د ورځني ژوند د هوسا تېرولو اوسوکالۍ لپاره خومره اسانتياوې برابرې کړې دي .

په بله وينا پښتون ملت د ټول بشريت د هوساينې او سوکالۍ لپاره د تمدن ، مدنيت ، ترقي ، پرمختګ ، ښاري فرهنګ ، زراعت ، ټولنيز ، اقتصادي او سياسي انکشاف اساس او بنياد ايښی دی .

دپورته حقايقو څخه دا معلوميږی چی پښتون ملت د ټول بشريت او د منطقې د ولسونو د تمدن او پيشرفت منبع وه .

په هغه زمانه کې چې پښتنو په پښتونخوا کې د بشريت لومړی دولت او تمدن ايجاد کړ ، نو دوی د ګاونډيو ملتونو په تناسب ډېر متمدن ښکارېدل او دوی به د پرديو قومونو افرادو ته چې ددوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تناسب به ډېر وحشي وو ، د حيواناتو په شان به لوڅ لپړ ګرځېدل "ديوان = ديبان" ويل ، همدارنګه پښتنو به هغو يرغلګرو قومونه ته هم ديوان يا ديبان ويل چې پر پښتونخوا به يې حملې کولې او ددوی مدنيت او دولت به يې له منځه وړه .

د فردوسي د شاهنامې په حواله د پيشداديانو د اخري او ډېر مشهور پاچا نوم "يما" و او يما پاچا نهه سوه کاله پاچاهي کړې ده .

دا خبره د علم سره سر نه خوري ، څرنګه چې فردوسي خپل معلومات د وخت د ختای نامک (خداينامو) ، د خدای نامک د سرودونو د حافظانو ، د وخت د سپين ږيرو او پوهو کسانو له خولې څخه اور ېدلي وو او هغوی ته بيا نسل پر نسل د خپلو مشرانو څخه ورنقل شوي وو او يا يې د پخوا زماني زړې شاهنامې او خدای نامې مطالعه کړې وې ، د ولس دا خبره چې يما نهه سوه کاله پاچاهي کړې وه ، دهغوی مطلب شخصاً د يما پاچاهي نه ، بلکې د پيشداديانو د پاچاهۍ سلسله وه چې تقريبا نهه سوه کاله يې دوام وکړ او يما د پيشداديانو د سلسلې اخري پاچا و .

## يما = (يم ، جم ، جمشيد ) :

د وخت په لحاظ يما د پيشداديانو لومړی پاچا نه ، بلکې اخري پاچا دی ، مګر د ښه شهرت او لوړو کارنامو په لحاظ يما د بلخ د پيشدادي پښتنو پاچاهانو د سلسلې لومړی درجه پاچا بلل کېږي .

ډاکتر احتشام د اويستا د (88-89) " يشتونو " په حواله د يما نوم (يم يا يه مه) ليکلی دی .

په (ويدا ) کې د پيشدادي ستر پښتون پاچا نوم (ياما ) ليکل شوی دی ، په (اويستا )کې د پيشدادي ستر پښتون پاچا نوم (ييما ) ليکل شوی دی .

د ايران فرهنګي غلو ددې لپاره چې د پښتنو ستر پاچا يما ايرانی وبولي ، نو لومړی يې د هغه نوم د ايران په پهلوي ژبه کې (يم ) وليکی ، وروسته يې په ايراني فارسي کې د يما نوم ، ،يم، ، څخه په (جم ) بدل کړ .

د انسانانو نومونه د دنيا په هره ژبه کې په اصلي ډول ليکل کېږي ، مثلا (احمد يا محمد ) د نړۍ په هره ژبه کې (احمد يا محمد ) دی ، د دنيا په هيڅ ژبه کې احمد په شبرجان نه بدلېږي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ایران فرهنګي غله د پښتنو پاچاهانو ، عالمانو ، پهلوانانو او داسې نورو ارزښتونو نومونه ځکه بدل نوشته کوي چې د غلا لار ورته برابره کړي .

د یما = ییما = یم = یاما = جم = جمشید ) معنا (ځلېدونکی ، ځلانده او سترلاربنود ) ده .

د نړۍ ټول سترمورخین او محققین چې پخوا یې نومونه واخیستل شول ، پر دې خبره په اتفاق دي چې:

یما د بلخ د پیشدادي پښتنو پاچاهانو د سلسلې اخري پاچا دی او د یما پاچاهي د ولسونو د سوکالۍ ، نېکمرغۍ او هراړخیز پرمختګ دوره وه .

د ویدي مدنیت په دورکې انساني ټولنه پر درې طبقو وېشل شوې وه او د دې طبقاتي وېش ذکر بیا په اویستا کې هم شوی دی چې عبارت وو له:

1: د روحانیونو او مذهبینو طبقه ( اثرون یا اثورو ) .

2: د جنګیالو یا نظامیانو طبقه ( رتشتر ) .

3: د بزګرانو یا دهقانانو طبقه (وستریو فشویان) .

یما هم د خپلې پاچاهۍ په دوران کې دغه پورته طبقاتي وېش جاري وساته .

یما د خپل سلطنت قلمرو د( ور ) په نامه او پلازمینه یعنی د بلخ ښار د ،،واره،، په نوم بللی .

یما د روحانیو لپاره ددوی د مسلک مطابق وظیفه ټاکلې وه یعنې د روحانینو لپاره یې په غرنیو سیمو کې د عبادت لپاره ځایونه ټاکلي وو ، ترڅو روحانیون د ولس څخه لرې د رڼا د پاچا (لمر) عبادت وکړي .

په همدې ډول د نظامیانو او دهقانانو لپاره هم ددوی د مسلک مطابق وظایف او د وظیفو د اجرا ځایونه تعین شوي وو .

د هغه وخت ولسونه په دې باور وو چې یما د دوی د خدای له خوا د ولسونو د پاچا او ساتونکي په حیث مقرر شوی و ، ترڅو د ولسونو د هوساینې ،سوکالۍ،نېکمرغۍ او ودانۍ لپاره زیار او زحمت وباسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسونو په باور ددوی خدای یما ته د پاچاهۍ د نښې په حیث یوه لکړه ، یو غمی ، یوه توره ، یو کټوری (جام) او یو زرین تیش ورکړي وو ، ترڅو د تیش څخه د ځمکې په کرلو کې کار واخلي .

د ولس په باور ددوی خدای یما ته وظیفه سپارلې وه ، چې د خلکو او څارویو د نسل په ډېرولو کې کو ښښ وکړي .

د ولسونو په باور ددوی خدای یما ته وظیفه سپارلې وه چې د بلخ (واره) یعنې د بلخ یا بخدی ښار اباد کړي او هغه بلخ بیا د خپل ځان او نورو ولسونو د اوسېدو ټاټوبی تعین کړي .

په اویستا کښې د بلخ یا بخدی واره (ښار) د لوړو بیرغونو ښکلی بخدی بلل شوی دی.

ستر پښتون پاچا یما لومړنی پاچا دی چې په لوړه کچه یې د تمدن او ښاریتوب اساس کېښود ، ټولنیز ژوند یې رامنځته کړ ، کرهڼه ، د څارویو روزنه ، د اوسپنې ویلې کول ، د کالیو اوبدل او د هغو سکښت او ګنډل ، د وسلو جوړول ، د جواهراتو جوړول او استعمال ، ختګري او بنایي ایجادول ، د درملو کشف او د هغو استعمالول یې رواج کړل .

د پښتنو لومړۍ پلازمېنه ښکلی بلخ چې د نړۍ لومړنی ښار و ، په نړۍ کې د علم او تمدن لومړنی مرکز هم بلل کېږي .

لکه وړاندې چې ذکر شول د پښتونخوا اوسېدونکو خپل پښتون پاچا یما د خدای(ج) له خوا د خپل ولس د خدمت لپاره مقرر بللی او د زړه له کومې احترام او درناوی یې ورته درلود ، د دې موضوع په ارتباط یو فرانسوي څېړونکی (مسیو بنونیست) وایي چې یما هغه اریایي شخصیت دی ، چې د اسلام تر منلو وړاندې د نورستان خلکو د ستر رب النوع په صفت د یما د بت عبادت کاوه .

د نورستان خلکو د یما بت د(ایمیرا ) په نوم یاداوه او دا بت یې تر ټولو ستر رب النوع بللی او په خپل مرکزي مزدک کې یې ایښودلی و ، دده په نوم یې قربانۍ کولې .

نورستانیان نن هم په خبرو کې د (ایمیرا ) په باره کښې خبرې کوی.

د اویستا په (9) یسنا کې ددریمې فقرې څخه تر پنځمې فقرې پورې راغلي دي چې:

(د یما د پاچاهۍ پر مهال تودوالی ، سوړوالی ، زوړوالی ، مړینه او رخه په دنیا کې نه وه ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اویستاد(19 ) یشت په (13-38 ) فقرو کې راغلي دي چې:

(د یما په پاچاهۍ کې د نړۍ ژوندون په خوښۍ او خوشالۍ تیر یده او د رنځ او ناورین نښې په کې نه وې).

فردوسي وايي چې يما د ناروغيو د علاج لپاره د داسې درملو پیدا کېدل ممکن کړل چې د مريضانو د مرض علاج به پرې کېده ، يما له يو ځای څخه بل ځای ته د سيندونو له لارې په کښتيو کې سفرونه کول . . .

فردوسي وايي چې يما په خپل عقل په ښايسته بلخ کې لوړې ماڼۍ جوړې کړې او په هغو ماڼيو کې يې دځان مينځلو لپار تشنابونه جوړ کړل ، د جنګ وسلې يې جوړې کړې او د فوځيانو په واسطه يې هغو وسلو ته نومونه هم پيدا کړل .

د پورته تاريخي سندونو په رڼا کې موږ دې حقيقت ته رسيږو ، چې ستر پښتون پاچا يما له عقلي او فکري پلوه يو خورا رسېدلی انسان ، د لوړ فکراو ژورخيال خاوند پاچا و .

يما د بشريت په تاريخ کښې لمړی پا چا وو چې دلمړی ځل د پاره يې د ملي جشن فکر ايجاد کړی او په پښتونخوا کښې يې د پسرلی لمړی ورځ يعنې د حمل لمړی تاريخ د نوروزد جشن په نامه ونومولی چې دا اويستا يې نوروزی جشن ، ،دښو ګلو خاوند ، ،جشن بلل کيږی.

اودهغه وخت راهيسې بيا تر نن پورې د نوروزملی جشن په پښتونخوا کښې نمانځل کيږی، د پښتنو ددی تاريخی جشن څخه په تقليد نن ورځ د نړۍ ټول هيوادونه د ازادۍ جشنونه او يا مذهبی اخترونه نمانځی.

د پښتنو د پيشدادي پاچاهانو ټوله دوره مخصوصاً د پښتنو د ستر پاچا يما سلطنت د بشريت د تکامل او تمدن ډېره ستره او ځلانده دوره ده او په دې دوره کې پښتونخوا د ټول بشريت لپاره د تکامل ، ترقۍ او تمدن منبع وه .

## 2 : ساګزيان:(د ساګزو دورې ته يو ډېره لنډه اشاره )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساګزیان څوک وه ؟

محقق او څېړونکي سراولف کیرو وايي ساکان د پیشدادي پښتنو تربوران او په یوه پښتون ملت پوري تړلي خلک دي .

د ساګ = سهاک نوم د پښتنو په سترو کتابونو (ویدا ) او (اویستا ) کې راغلي دي .

تاریخ پوهان وايي چې د سهاک یا ساګ اصلي نوم (بیوراسپ)او د پلارنوم یې (اروند اسپ) دی ، چې سلسله یې د پښتنو لمړي پاچا ګیو مرتن یا ګیومرث ته رسېږي او مور یې د پیشدادیانو د اخري پاچا یما خور(اوداک ) وه .

علامه سید جمال الدین افغان د تاریخي اسنادو په حواله ساګ = سهاک د پښتنو نیکه بولي .

ځینو محققانو او مورخانو د تاریخی سندونو له مخی ضحاک=سهاک=ساګ د غورد سوری پښتنو نیکه بللی دی.

قاضي منهاج سراج جوزجاني د غور د سوري پښتنو رېښه ساګ ته رسوي .

تاریخ پوه او څېړونکی علي قلي میرزا ، وايي چې ساګ د(هري) په نوم یوه لور درلوده او د هرات د ښار تهداب دي (هري) ایښی دی .

تاریخ پوهان وايي چې په ریګویدا او اویستا کې د پارس یعني اوسني ایران د هېڅ واکمن نوم نه دی ذکر شوی ، مګر د پښتونخوا د پښتنو پاچاهانو نومونه ذکرشوي دي چې په دې جمله کې د یما او ساګ نومونه هم شته .

د تاریخ پوه ډاکترتوراویانا ، اونوروتاریخ پوهانو او څېړونکو په اند پښتنو ساکانو یا ساګزو زرګونه کاله تر اسلام وړاندې د خپل حکومتونو یواوږده لړۍ درلودل او اوسنی پارس هم د پښتنو د واکمنۍ یوه برخه وه .

انګرېز څېړونکی او تاریخ پوه اولف کیرو ، وايي چې ضحاک د ساګ عربې شوی نوم دی ، د ساګزو او پیشدادیانو دواړو رېښې ګیومرتن یا ګیو مرث ته رسېږي او دواړه پښتانه دي ، څرنګه چې ساګ پښتون و او دې پښتون پاچا هم د نورو پښتنو پاچاهانو په شان پر پارس حکومت کړی وو ، په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه ایرانیانو د هغه ځخه نفرت درلود او د همدې نفرت پر اساس یې د ساګ نوم په جعل شوو اسنادو کې اژداک یا ښامار لیکلی دی .

استاد حبیبي د ساکانو یا ساګزو په باره کې داسې وا یي :

هغه ولایت چې د هامون سیند په کې بهیږي د سیستان په نامه یادېده ، چې په اصل کې ساکستان او په عربي کې سجستان بلل کېږي .

د ساکستان او سېډونکي ساکزي = اسحق زي = ساګزي = سجزي په نامه یادېدل ، نن هم دا پښتو ویونکي افغانه قبیله (ساګزي) د هلمند سیند پرغاړه ، سرپل او ټوله پښتونخوا کې تیت مېشت دي چې ځان له ابدالي دراني قبیلې ځخه بولي .

د تېرو ټولو سندونو او حقایقو ځخه دا معلومه شول چې ساکان = ساکزي = ساګزي = اسحق زي د پښتنو د ساګزو قبیله ده چې نن هم په پښتونخوا کې اوسېږي او د درانو پښتنو د پنج پای د ځانګې یوه مهمه برخه ده او په ټوله پښتونخوا کې تیت او پرک پراته دي .

د پورته حقایقو پر اساس ویلای شو چې :

<u>ساګزي د پیشدادي پښتنو تربوران دي او د پښتون ملت یوه برخه او سوچه پښتانه دي .</u>

په پیشدادیانو او ساګزو پورې تړلي ټول پاچاهان مخصوصا ډېر مشهور پاچاهان لکه د پیشدادیانو ستر پاچا "یما" او د ساکانو ستر پاچا ساک (ضحاک = سهاک = ساک) دواړه پښتانه پاچاهان وو .

"ساک" د "یما" د خور "اوداک–یا-ودک "زوی او یما د ساک = ضحاک ماما دی .

کله چې د پیشدادیانو پایځوړ یعنې کیانیانو د ساګزو ځخه د بلخ پاچاهي دوباره ونیوله ، ساګزیان د خپلې پاچاهۍ د سیمې یعنې بلخ ځخه وایستل شول او تر اوږدو لوړو ژورو وروسته تر میلاد یوه پېړۍ مخکې ګندهارا = پېښور ته ورسېدل او هلته یې بیا حکومت جوړ کړ او تر پینځمې پېړۍ پورې یې حکومت وکړ .

د ساګزو ددوهمې دورې پاچاهۍ موندل شوې سکې د دوی د ځلورو مشهورو پاچاهانو نومونه را ښیي چې عبارت دي له:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مافيس ، لومړی ازيس يا ازير ، ازيليس او دويم ازير) .

اولف کيرو، وايي: د ساکزيو پښتنو طوفان د شرقي او غربي غرو او سيمو څخه په هغه درو ورننوت چې هرات ته ورځي ، د دې لارې ساکزيو پښتنو د هخامنشيانو د امپراطورۍ د(درنجانيا او ارا کوزيا ) ايالتونه ونيول او د (درنجانيا ) ايالت نوم يې په(سا کستان= ساکزيستان) واړاوه ، د ساکزيو پښتنو د حاکميت ساحه ترغزني پورې رسېدل چې دا مطلب د هغو سيکو څخه ثابتېږي چې په لاس راغلي .

ساکزيو پښتنو د ګومل او پيوار له لارې ګندهارا = پېښور هم ونيو او ساکزي پاچا مافيس ټيکسلا = ملتان خپله پلازمېنه وټاکله .

## ساګ=سهاک =ضهاک:

ترتاريخ وړاندې مشهورو پښتنو پاچاهانو له جملې څخه يو "ساک " دی چې عربان ورته ضهاک وايي او ايرانيان د نفرت له رويه ورته اژدهاک وايي ځکه چې د پارس پر خاوره ئې يرغلونه کړيوه.

د ساګ=ضحاک =سهاک نوم په ريګويدا کښې هم ذکر شوی دی.

د ولس د رواياتو پراساس "ساک " زرکاله په پښتونخوا کې پاچاهي کړې ده .

په قوي احتمال دا هم د يما د سلطنت په شان اټکل دی ، په حقيقيت کې د ساکزو سلسلې شايد زر کال پاچاهي کړې وي او د ساکزو تر ټولو مهم پاچا همدا "ساک " و ، نو په دې اساس ولسي روايات وايي چې "ساک " زرکاله پاچاهي کړې ده ، لکه د پيشداديانو د ستر پاچا يما په باره کې چې وايي هغه (900) کاله پاچاهي کړې ده .

د ساک مور د پيشدادي ستر پښتون پاچا يما خور وه او نوم يې (اوداک = ودک ) وه .

د ساک اصلي نوم "بيوراسپ" او د پلار نوم يې "اروند اسپ" او د يما په شان شجره يې د پښتنو لومړي پاچا ګيومرتن ته رسېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته ذکر شول چې ستر پښتون پاچا يما هم د ګيومرتن له اولاد څخه و ، نو په دې اساس ويلای شو چې يما او ساک دواړه خو پښته وړاندې ديوه نيکه لمسيان دي او په يوه پښتنه کورنۍ پورې اړه لري .

سيد جمال الدين افغان وايي چې پښتانه د هغه پاچا اولاد دي چې ضحاک = سهاک = ساک نومېږي .

سيد جمال الدين نور هم اضافه کوي:

د ځينو مورخينو په حواله پښتانه د ساک اولاد دي .

ځينې نور مورخان او څېړونکي بيا د غور د سوري پښتنو ريښه ساګ ته رسوي .

يو ايرانی محقق ډاکترغلام رضاورهرام په خپل کتاب (حکومت های محلی درشرق ايران) کې داسې ليکي:

په تاريخ کې د يوغوري ضحاک = ساک خبرې شوې دي ، دده د نيکو او خپلوانو له جملې څخه يوتن د سور په نامه په غورکې پاچا شوی دی .

"سوري ماهويه" د ايرن د پاچا(درېيم يزدګرد ) قاتل هم د دې سوري پاچا له کورنۍ څخه يوتن دی .

يقين ته په نږدې ګومان هغه ضحاک په اصل کې "شاهک" يا سهاک = ساک وو ، وروسته بيا د ضحاک په نوم ياد شوی دی ، همدا اوس هم په افغانستان کې يوه قبيله د "سهاکزي" او يا "شاهک زاد " په نوم شته .

قاضي منهج سراج هم د تاريخي شواهدو په حواله د غور د پاچاهانو نسب ضحاک = ساک ته رسوي .

فردوسي بيا د کابل پاچا مهراب شاه هم دضحاک = ساک د نسل څخه بولي .

داويستا د متن څخه دا ښکاري چې ساک پر ښکلي او متمدن بلخ هغه وخت حمله وکړه چې ايزدي فر(د سلطنت پرتم ځلا ) د بريالتوب د مارغه په څېر د پيشداديانو د ستر پاچا يما څخه جلا شوی و ، نو ساک پر يما باندې بری وموند او دده هېواد يې ونيو.

د اويستا د رام يشت په (19 ) فقره کې ذکرشويدي چې :

"ضحاک = ساک د "کوي رينتا " په نامه يوه هسکه ماڼۍ ، شاهي پلاز او زرينه چترۍ درلودل " .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاريخ بلعمي د ضحاک = ساک په باره کې داسې وايي:

" دنوح عليه السلام ترطوفان زرکاله وروسته د سام بن نوح په اولاد کې يو پاچا پيدا شو چې نوم يې ضحاک = ساک و او ټوله نړۍ يې لاندې کړه .

د بشريت د تاريخ په اوږدو کې پاچاهانو يو له بل سره په دې پلمه جنګونه کړي چې يو د بل پاچاهي ونيسي او دا لړۍ تر نن پورې هم روانه ده .

د ساک او د هغه د ماما يما ترمنځ هم د پاچاهۍ د نيولو پر سر جنګ وشو ، په جنګ کې يما ماتې وخوړه او ساک د يما پر ټول سلطنت حاکم شو .

استاد کهزاد د ساک د پاچاهۍ داخلي او خارجي ولايتونه او يا هېواد ونه داسې ذکرکړيدي:

لومړی: کورني هېوادونه يا ولايتونه:

1: ارزه

2: شبه

3: فردوسي

4: فردوفش

5: رادو برست

6: دورجرست

7: خيزس بامي

چې په دې کې کابل ، زابل ، غور ، تخارستان ، باختر ، ګندهارا او بلخ بامي هم ورګډ شوي دي .

د اويستا په " ونديداد " کې د پښتونخوا شپاړس قطعې ځمکه ذکر شوې ده چې د هندوکش په شاوخوا کې پرتې وې او دغه سيمه اويستايي خاوره بلل شوې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اویستا "دمهر" په یشت کې د "خیزس بامي" (دداخلي ولایاتو اووم ولایت) نوم د اریانا د خپلواکو ولسونو د ځلانده ټاټوبې په نوم ذکر شوی دی ، د دې منځني هېواد یعنې "خیزس بامي" پلازمېنه د ښکلي "بلخ بامي" په نوم یاد شوی دی .

دوهم: باندني هېوادونه:

پارس ، توران ، چین، ما چین ، سند ، هنداو روم .

(دلته د روم څخه مطلب ترکیه ده نه د ایټالیا روم)

د پورته ټولو تاریخي حقایقو څخه دا برملا شول چې ستر پښتون پاچا "ساک" د پښتنو په ساګزي قوم پورې اړه درلوده او د پښتون ملت پښتون پاچاوو ، چې دده کورنۍ تقریبا زر کاله په پښتونخوا او دهغې پر شاوخوا هېوادونو پاچاهي کړې ده .

## 3:د تریتونا یا تریتون پاچاهي:(ایرانیانئی فریدون بولی)

(دتریتونا دکورنۍ پاچاهۍ ته ډیره لنډه اشاره)

په تیرو پاڼو کښې ذکر شول چې د ساګزو د کورنۍ سلطنت تقریباً زر کاله دوام وکړی.

دمعاصر تاریخ او یا حتی داوسنیو شرایطو په شان کله چې یو کورنۍ یا حزب د بلې کورنۍ یا حزب د خوا د حاکمیت څخه لیری شی ،نو د حاکمیت څخه لیری شوی کورنۍ یا حزب همیشه پدی تلاش کښې وی چې دوباره دحاکمی کورنۍ یا حزب څخه سیاسی قدرت پلاس راوړی.

دساګزو د کورنۍ د حاکمیت په اخرو وختونو کښې کاوک (کاوه) اهنګرخپل د اهنګری بنۍ یا خرمن د نیزی پر سر دبیرغ په ډول وتړل اود ساګزو د حاکمیت پر خلاف یی ولسونه راو پارول.

دکاوه اهنګر دا د بنۍ یا څرمنی بیرغ د ،،کاویان،، د بیرغ په نوم مشهور شو او تر ډیرو زمانو پوری دا د ،،کاویان،، بیرغ داریایی ولسونو د بری سمبول بلل کیدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پیشدادیانو د کورنۍ یو مبارزکس چې تریتونا یا تراتینه ولد پورګاوددی مشهور اهنګر کاوه ملاتړ ترلاسه کړی او ددی مشهوراهنګر په ملاتړ یې ولسونه د ساګزو د حاکمیت پرضد راو پارول او د کاوه اهنګر او ولسی پاڅونو په زور یې د ساګزو تقریباً زر کلن حاکمیت ته د پای ټکی کیښود ، او د پښتونخوا پاچاهي یو ځل بیا د ساګزو د پښتنی کورنۍ څخه د پیشدادی پښتنو کورنۍ ته پلاس ورغلل.

تریتونا د ساګزو پر کورنی د ده د بری په خاطر د مهرګان په نوم جشن جوړ کړی چې هر کال به دا د بری دورځی جشن تجلیل کیدی،او همدارنګه تریتونا پر ساګزو باندی د بری په خوشحالۍ کښې دا وبو د رب النوع اناهیتا د پاره سل اسونه ،یوزر غوایي او لس زره پسونه قربانی کړل.

دتریتونا کورنۍ تقریباً پنځه سوه کاله پاچاهي وکړل.

## 4: کیانیان: (دکیانیانو دوري ته يو ډېره لنډه اشاره )

کیانیان څوک وو ؟

د کي- کاوه یا کیان په باره کې مورخان په دې باور دي چې دا کورنۍ د پیشدادیانو پاتې شوني ده .

مورخین او محققین په دې باور دي چې کیانیان په حقیقت کې هغه پخواني پیشدادیان دي چې د " کاوه " په نامه یې په بلخ کې د پاچاهۍ بله لړۍ پیل کړه .

د پښتنو د دې شاهي کورنۍ د مشرنوم "کاوه کواتا یا کاوه کواته" و ، نوځکه دا کورنۍ د "کي = کاوه = کیاني په نامه مشهوره شوه .

مورخ توراویانا وایي:

په بلخ = بخدي = باخترکې له پیشدادیانو څخه وروسته اویستا د اریانا د یوې بلې ډلې پاچاهانو یادونه کوي چې نوم یې د "کاوه" په کلمې پیلېږي او مورږ هغه د "کیاني یا کواني" په نوم یادوو ، ټول له یوې کورنۍ سره ارتباط لري.

"کاوه کواتا " د بلخ د کیانی شاهي کورنۍ او سلطنت موسس دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه کواتا هم د خپل ليري نيکه ګيومرتن په شان د بلخ شمال ته د البرز په غره کې د پاچاهۍ تاج پر سر کېښود .

د البرزغرونه هغه ځای دی چې د پښتنو لومړی پاچا ګيومرتن هم هلته مېشت شوی او هلته يې د پښتنو د لومړی پاچاهۍ اساس ايښی و .

د پورته خبرو معنا دا شوه چې د پښتنو د پيشدادي شاهي کورنۍ او کياني شاهي کورنۍ دواړه يو له بل سره نږدې او په وينه شريکې پښتنې کورنۍ دي .

کي = کاوه = کيان د پوه ، لاربنود ،هوښيار ،پاچا او امير په معنا ده .

استاد حبيبي وايي:

"اويستا " غرغښت ته په دې خاطر د " کاوه " لقب ورکړی و چې غرغښت لومړی سړی و چې د زردښت ايين يې قبول کړی او د زراتوتشرا او د زردشت داپين د عمده مرستندويانو څخه وو .

د " کاوه " معنا پوه ، لاربنود ،پاچا ،امير او ستر رهنما ده .

استاد حبيبي د اويستا د ژورو خبرو په واسطه ثابتوي چې د کيانانو اصلي ټاټوبی د هلمند سيمه ده .

د اويستا د بندهش د يويشتم څپرکي په اوومه فقره کې ذکر شوي دي چې کيانسيه (هامون) د کياني کورنۍ ټاټوبی دی .

د اويستا د آبان يشت په (۱۰۵۸)فقره کې راغلي دي:

لوړ همته کي ګشتا سپ د(فرزدانو ) د اوبو مخامخ ته د ناهيد لپاره نظر و منلو او هيله يې ښکاره کړه چې پر ارجاسپ او نورو تورا نانو باندې برې حاصل کړي .

دبندهش د(۱۲)څپرکي په پنځمه فقره کې ويل شوي دي چې د (فرزدان)سيندګي ، جهيل يا درياچه په سيستان کې دي او په (زامياد يشت)کې سيستان د کيانيانو ټاټوبی شمېرل شوی دی .

د زاميادیشت د(۹ ) کردي په (۲۲) فقره کې ذکر شوي دي چې فر يعنې تاج او تخت په هغه چاپورې اړه لري چې خپل سلطنت په هغه ځای کې جوړ کړی چې د هلمند سيند د هامون درياچه يا جهيل جوړوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هلمند سیند او د هامون جهیل د پښتونخوا په سیستان کې پراته دي کوم چې د کیانیانو اصلي ټاټوبی دی .

د پورته تاریخي حقایقو څخه دا ثا بتیږي چې کیاني کورنۍ د پښتنو د پیشدادي کورنۍ پایڅوړ او په ختّه پښتانه دي .

د دوی په حاکمیت کې پښتو ژبه د هغه وخت د لحجې مطابق مروجه وه او د پښتونخوا سیستان یعنې د هلمند د سیند او د هامون د جهیل شاوخوا د دوی د اوسېدو اصلي مرکز و .

## د کاوه کواتا پاچاهي:

کاوه کواتا پخپله خپل ځان د تریتونا دنسل څخه بولی ،خودی د تریتونا یا پیشدادیانو د سلسلی په دوام خپل پاچاهۍ ته دوام نه ورکوی بلکی په خپل نوم دیو بلی شاهی کورنی تهداب ږدی.

د کاوه خاندان سلطنت داسی شکل لری لکه د بارکزو د منځ څخه چی محمد زویا د پوپلزو د منځ څخه چی سدوزو سلطنتونه جوړ کړی دی، خو په حقیقت کښی محمد زی بارکزی او سدوزی پوپلزی دی.

کاوه کواتا (ایرانیان ئی کیقباد بولی) د کیانیانو د شاهي کورنۍ موسس او بنسټ ایښودونکی و .

کاوه کواتا د بلخ د البرز په غرونو کې د پښتنو د پاچاهۍ تاج پر سر کېښود چیرې چې لومړی پښتون پاچا "ګیومرتن" د تاجپوشۍ دود ایجاد کړی وو .

د کاوه کواتا پاچاهي د عدالت،وروروليۍ اوبرابرۍ پرستنو ولاړه وه .

د کاوه کواتا په نظر د پښتونخوا ټول وګړي د برابرو حقوقو خاوندان وو او هیڅ پر بل برتري نه درلوده،کاوه کواتا په پښتونخوا کښی د عدالت او انصاف پر ستنو ولاړ نظام جوړ کړی او خپل ملت یې د سوکالۍ او خوشحالۍ پر لور رهبری کاوه.

دولس څخه د کاوه کواتا هیله داوه چی په ژوند کی د صداقت،رښتیا ،نیکۍ او ښیګڼی لمن ټینګه کړی،ځکه چی پاچا په خپله داویل چی زه پدی باور پایم او له خدایه ډېر بیریږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې کاوه کواتا د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په پښتونخوا کې په عدالت او انصاف حکومت کوي .

## دکاوه یوسا - یا - کوي اوسن پاچاهي.

کاوه یو سا(ایرانیان ئی کیکاوس بولی) د کاوه کواتا ، زوی دی او تر پلار ورسته د پښتنو پاچا شو.

کاوه یوسا دکیاني کورنۍ تر ټولو ستر پاچا بلل کېږي .

د یوسا ، معنا هیله ، غوښتل ، تقاضا اوخوښی درلودل دي .

کاوه یوسا ، د خپلو نیکونو او ټولو پښتنو په شان د غرونو سره مینه درلوده او خپل تاجپوشي یې د "زریفیه" په غره کې وکړل .

کاوه یوسا ، د زریفیه په غره کې د اوبو د رب النوع "اناهیتا" لپاره قربانۍ کولې ترڅو دی د نړۍ پر نورو پاچاهانو لوړ او ستر کړي .

کاوه یوسادزریفیه غره پرسراووه (۷) لوړې ماڼۍ جوړې کړې وې.

استاد حبیبي وایي:

تر کاوه کواتا وروسته دده زوی کاوه اوسن = کاوه یوسا دبخدي = بلخ پر پلاز کېناست ، داوسن معنا هیله یا خوښي ده .

کاوه یوسا د غیری اریایي پردیو عناصرو سره ، چې د حماسي روایاتو پراساس د اوسني ایران د شمال د مازندران په ځنګلونو کې اوسېدل ، جنګونه وکړل او پرهغوی یې بري ترلاسه کړي.

په اویستا کې دغه ځنګلي خلکو ته دیبان یا دیوان ویل شوي دي.

(پښتانه د افغانستان په افسانوی او داستانی تاریخ کی-۳۵۹ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاریخ پوهانو له نظره کاوه یو ساځکه پر مازندران یرغل وکړی چی د هغی سیمی خلک ورته پردی ښکاریدل، دوی په ځنګلونو کښی اوسیدل ځکه چی د مازندران زیاته برخه په ځنګلونو پو ښل شوی ده،دځنګلونو اوسیدونکو اوږده ویښتیان،اوږدی ږیری او ببرسرونه درلودل اواریایی تباره نه پیژندل کیدل،شاید ددی کبله وو چی اویستا ددیبانو یا دیوانو په نوم یاد کړل.

اویستا وايي چې غښتلي کاوه یوسا یا کاوه اوسن د زریفیه دغره پرسر داوبو رب النوع اناهیتا لپاره سل آسونه ،زرغوايي اولس زره پسونه د دې لپاره خیرات کړل چې د پاچاهانو ستر پاچا شي ،دپوهانو د څیړنو له مخی دا د زریفیه غرهم په بلخ کښی پروت دی.

## دکاوه هوسروایا ـ هئوسره وه پاچاهي.

ددی پښتون پاچا نوم په اویستا کښی ، ،کاوه هوسروایا ، ،دی

خو ایرانیان یی (کی خسروبولی)

کاوه هوسروایا دسیا ورشا نا زوی او دکاوه یوسا لمسی دی.

ځرنګه چی دکاوه هوسروایا پلار سیاورشانا د توران د پا چا افراسیاب د خوا وژل شوی وو نو پدی سبب دخپل نیکه کاوه یو سا تر مړینی ورسته کاوه هوسروایا د بلخ په ښار کښی خپل تاجپوشی وکړل.

کاوه هوسروایا د کیاني کورنۍ اخیري پاچا وو ،خودښو اوسترو کارو په لیحاظ ددی کورنۍ تر ټولو ستر او غښتلی پاچا وو.

استاد حبیبې د "کاوهوسروایا "دکیاني کورنۍ داخیري پاچا په باره کې داسې وایي:

کله چې کیاني فرتم (کیاني فر) په کاوه هوسر وایا پورې اړه پیدا کړه ، نو د هغه په مرسته یې لوی کارونه وکړل ، زور ، قوت ، مینه ، ښکلا ، برم او پرتم ده په برخه و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسروايا د کياني شاهنشاهۍ هېوادونه بيرته سره ونښلول چې له همدې امله په اويستا کې دي د(خشتري هن کريمو ) يعني د هېوادونو د نښلونکي او د شاهنشاهۍ د رامنځته کېدونکي په نوم ياد شوي دي .

کاوه هو سروايا په خپل هېواد کې د سلطنت د کولو داسې يو سيستم رامنځته کړی چې پرعدل او انصاف ولاړ وو او د هر مظلوم شکايت اورېدل کېده .

هغه يو مهربانه او د صله رحمۍ لرونکی پاچا بلل شوی دی .

کاوه هو سروايا به هميشه د خپل خدای په دربارکې دا دعا کوله چې:

" ای خدايه که ښه مې کړي او که نابه ، له خپل جنت نه مې بې برخې نه کړې . "

د پورته دلايلو څخه دا روښانه معلومېږي چې د کاوه هوسروايا واکمني د پښتواو پښتونولۍ د قانون مطابق چلېده .

بالاخره دکياني کورنۍ اخيري پاچا "کاوه هو سروايا " د خپل عمر په اخيري وختونو کې د ځينو عواملو پراساس په خپله خوښه په پوره سوله ييزډول خپله پاچاهي يو بل پښتون"اوروت آسپه = اتريت = بيت نيکه " ته وسپارله او په خپله د خپل خدای په عبادت مصروف شو .

هوسروايا و " اوروت آسپه = اتريت = بيت نيکه " ته د خپل ستري امپراطورۍ د تاج اوتخت د سپارلو پر وخت دا لاندې نصيحتونه هم وکړل .

د ظلم او ناروا څخه هميشه ځان وساته .

د چارو په سرته رسولو کې هميشه د عدل او انصاف څخه کار واخله .

هر کار په پوهه سره سرته رسوه .

ولس ته ازار مه رسوه .

په خبرو کې د بدو الفاظو څخه ځان ژغوره .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5: دآسپه کورنۍ پا چاهي:

(دآسپه کورنۍ پاچاهۍ ته ډېره لنډه اشاره)

آسپه کورنۍ څوک وه ؟

سترجرمني محقق "دينکرد " وايي چې آسپه کهول هم د بلخ دتېرو شاهي کورنيو لکه پيشداديان ، ساکان اوکيانيانو سره تړلي پښتني کورنۍ وه ، همدا علت شو چې کاوه هوسروايا خپل د ستري امپراطورۍ تاج په خپله خوښه او رضا په خپل لاس د اوروت آسپه (داويستا اتريت) پر سرکېښود او هغه ته يې مبارکي وويله ، د فردوسي په شاهنامه کې د دې موضوع په باره کې داسې بيت راغلی دی .

ايـــــــن تـــــــاج نـــــــوبر تـــــــو فرخنـــــــده بـــــــاد
جهـــــــان سربســـــــرپيش روي توبنـــــــده بـــــــاد .

کله چې کاوه هوسروايا خپل سلطنت و "اوروت آسپه = اتريت = بيټ نيکه" ته په خپله خوښه او رضا وسپاره ، نواوروت آسپه يعني بيټ نيکه د پښتنوپاچاشواو د پښتونخوا په تاريخي ښکلې پلازمېنه بلخ کې پر پلاز کېناست .

دبلخی اوروت اسپه = لهراسپ =بيټ نيکه دواکمنۍ مهال ته په کتلو دغه حقيقت په ښه ډول څرګنديږي چی نوموړی په پوره صداقت سره د کاوه هوسروايا ښخه اوريدلی نصيحتونه په عملی ډګر کښې پلی کړی ول،او مذهب ته يی په پام اړولو سره هڅه وکړل چی شيطانی انديښنی يی په فکر او ذهن باندی غلبه پيدا نکړی،له همدی امله يی په بلخ کښې يوه لويه او ښکلی اتشکده (اورتون) دخلګو د مذهبی دودونو د نمانځلود پاره جوړه کړل.

بيټ نيکه به تل خلګو ته په ويناوو کښې په تکرارسره ويل چی:

- ای خلګو له خدای (ج) څخه وويريږی.

- هيڅ کله د خدای (ج)له درباره مه نا هيلی کيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- خدای (ج) سندونه، غرونه مځکه، او له هغو نه را تاو هسک اسمان را پیدا کړیدی.

- مونږ باید د تمی دزیاتیدو څخه ځان وساتو.

- مونږ باید خپلو ناپوهیو او کمزوریو ته پام واړوو.

- مونږ باید په خپلو کښی جوړه او روغه سره ولرو.

- په عدالت یا نیاو باندی خوشحاله اوسیږ...او کینه په زړه کښی مه ساتیږ.

بیټ نیکه به تل خپل ولس ته ویل چی:

## عدل او نیاو به دده لاره وی او په هغه به عمل کوی.

شیخ بیټ یا بیټ نیکه ډېر مهربان ، نېک فطرته او د ښو اخلاقو او محسناتو خاوند او ډېر عادل پاچا و .

بیټ نیکه په ډېر عدل او انصاف په پښتونخوا کې خپلې پاچاهی ته دوام ورکړي ترڅو د هېواد د شمال څخه پر پښتونخوا د تورانیانو د حملې په نتیجه کې د خپل هېواد په دفاع کې مړشو او دده ترمرګ وروسته دده زوی غرغښت د پښتنو پاچا شو او د پښتونخوا په ښکلې پلازمېنه بلخ = بخدي کې پر پلازکېناست .

## غرغښت = غرشاه سپ = ګرشاسپ:

مورخ استاد کهزاد وایي "د غرغښت د پلارنوم د اویستا (اتریت = اتریط = بیټ نیکه) دی ، ښاغلی کهزاد په دې باوردی چې د اویستا "اتریت" دبلخ د "تریتا" د قبیلې د ساما د ځانګې د "سم یا شم" د اولادې څخه دی .

دغه د اویستا اتریت په حقیقت کې د پښتنو د نیکونو له جملې څخه بیټ = بیټی = شیخ بیټی = بیټ نیکه دی .

د پښتنو دوه نور نیکونه د اویستا "سرند = سربن" او "غرغښت" دي .

غرغښت یا ګرشاسپ د اویستا په پشتونو کښی د تل پاته سړی په نوم یاد شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعامو وګړو په منځ کښې تراوسه لا داسې کیسې او افسانې شته چې غرغښت داسې قوي پاچا او پهلوان وو چې د عوامو په نظر مرګ یې نه درلود او تراوسه لا د پښتونخوا په دریو سیمو یعنې د کابل د ده سبز ،بامیان او یا ریګ روان په یوه غار کښې بیده دی.

د غرغښت د واکمنۍ لویه کارنامه د پښتونخوا د شمال خځه د تورانیانو د حملو مخنیوی او د پښتونخوا متحد او خپلواک ساتل و .

د غرغښت بله ستره کارنامه دا وه چې دده د سلطنت په دوران کې "زراتوشترا " د زردښت" د ایین موسس نړۍ ته راغلی او د "زردښت" ایین یې منځته راوړي .

د زردشت ترایین وړاندې پښتنو او ددې منطقې نورو اقوامو پر یو واحد معبد عقیده نه درلوده او د طبیعت پر زیاتو عناصرو لکه اوبه ، باد ، اور ، لمر او داسې نورو یې عقیده درلوده او د هغو پرستش او عبادت به یې کاوه .

خوکله چې د زراتو شترا له خوا د زردشت ایین منځته راغی ، دې ایین پښتانه او ټول بشر د یو واحد خالق عبادت ته چې د

"اهورا مزدا " په نوم یې یاداوه را وبلل .

که څه هم د زردشت ایین یو الهي دین نه وو او نه هم د دې ایین بنیاد ګزار "زراتوشترا " دخدای(ج) پیغمبر و ، خو بیا یې هم تر پخوانیو خرافات پرستیو ډیره ښه لاره ولس ته معرفي کړه ، چې پر خپل ځای به د زردشت دا یین ځینو لارښونو ته یو لنډه کتنه وکړو :

ځرنګه چې د یهودي دین کتاب "تورات" د کاتولیک دین کتاب "انجیل" او د سیکانو د دین کتاب د "ګرنت" په نوم یادیږي ، په همدې ډول هغه کتاب چې د زردشت ایین په کې لیکل شوی وو ، د " اویستا " په نوم یادیده .

ستر پښتون پاچا غرغښت هم پر "اویستا " یا د زردشت پر ایین ایمان راوړي او هغه کتاب یې د خپل دین په حیث قبول کړی او له دې سببه د اویستا ایین ښه پر مختګ وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرغښت د زردشت پر ايين عقيده درلوده او د زراتوشترا لوی حامي او مرستيال وو ، د همدي ملاتړ له امله د زردشت ايين ډېر پرمختګ وکړ او د دې ملاتړ له امله د غرغښت نوم څو ځله په اويستا کې ذکرشوی دی .

اويستا غرغښت ته د "کاو ، سترمشر ، سترلارښود ، پوه ، هوښيار ، رهنما او نورښه " القاب ورکړيدي .

سترمحقق او مورخ استاد کهزاد د پښتنو د دروسترو نيکونو په باره کې داسې وايي:

په اويستا کښې د "اتريت " په نوم ذکر شوی شخص د پښتنو بيټ نيکه دي ،يا په بل عبارت بيټ نيکه په اويستا کښې د ، ،اتريت، ، په نوم ذکر شوی دی.

د بيټ نيکه زوی غرغښت د پښتنو بل نيکه دی .

په اويستا کښې د(سرند ) په نوم ذکر شوی شخص د پښتنو بل نيکه (سربن) دی ،يا په بل عبارت دپښتنو نيکه سربن په اويستا کښې د ، ،سرند ، ، په نوم ذکر شوی دی.

داويستاغرغښت داويستاد " داتريت زوی دی ،اتريت د ساما د تريتا د قبيلې دساما د کهول څخه دی ، ساما د سم ياشم دکهول څخه دی ، سم تر دريم پښت وروسته دتورک دکهول څخه دی او تورک دشيد سب دکهول څخه دی او شيد سب د تور دکهول څخه دی او تور ديما دکهول څخه دی په پورته ډول غرغښت دنسل په سلسله يما ته رسيږي .

د اويستا په "ارام يشت " کې د غرغښت په باره کې ويل شوي دي چې غرغښت د اتريت زوی دی ، اتريت د ساما زوی دی ، ساما د سم ياشم زوی دی .

دا " يشت "نور زياتوي چې اتريت (بيټ نيکه) دوه زامن درلودل چې د يوه نوم " اورواخشه " او د بل نوم غرغښت وو.

اورواخشه ښه اديب او قانون پوه و اوغرغښت وتلی پهلوان او د جګړې د ډګراتل و ، غرغښت او دده پلارشيخ بيټ = بيت نيکه دواړه د هنديانو ، چنايانو او توررانيانو سره جنګېدل اوهغوی يې د ځان تابع کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو او محققینو غرغښت نه یوازې یو لوی پاچا بللی دی ، بلکې هغه د رستم ولد زال څخه هم ستر پهلوان بلل شوی دی ، چې په خپل ټول عمر کې یو ځل یې هم ماته خوړلې نه ده او پر ټوله پښتونخوا یې چې د خپل نیک او فاضل پلار بیټ نیکه څخه په میراث ورته پاتې شوي وو په عدل او انصاف حکومت کړی .

د غرغښت د سلطنت پلازمېنه د بلخ = بخدي ښکلی ښار و او پر ټوله پښتونخوا یې واک چلاوه .

یو خارجي محقق مستېر د غرغښت د واکمنۍ د قلمرو په باره کې داسې وایي:

" غرغښت د کابل د مشهورو پهلوانانو له جملې څخه و ، دده ستري او هیجان پاروونکې کارنامې په کابل ، ارغنداب ، زابل ، ګندهارا ، ننګرهار ، قندهار ، لوګر ، ګردیز ، غزني ، سیستان ، زرنج ، زمینداور ، کاکړیستان ، پښین ، تخارستان او بلخ = بخدي په سیمو کې یادېدلې .

غرغښت د خپل سلطنت په دوران کې د " زرنج " ښار چې اوس د نیمروز ولایت مرکز دی جوړ کړی دی .

غرغښت د زرنج د ښار د جوړولو لپاره د برش زره جنګې بندیانو او د روم او هند د اینجینرانو څخه کار واخیست .

فردوسي طوسي د غرغښت ژوند د اخیري لحظو او د غرغښت د وصیت په باره کې چې سام او نریمان ته یې کوي د زرنج د ښار ذکر په دې ډول یادوی .

ز ه پیـــــــــــري و مـــــــــــرګ را بـــــــــاره نیســـــــــت
بــــــــه نـــــــزد کس ایـــــــن هـــــــردو را چـــــــاره نیســـــــت .
یکــــــــي شــــــــهرنو ســــــــاختم چــــــــون " زرنــــــــج "
بســــــي ګــــــنج ګــــــرد اوریــــــدم بــــــه رنــــــج .
بــــــه تومانــــــدمش چــــــون مــــــن ابــــــاد دار
بفرزنــــــد مــــــان هــــــم چنیــــــن یــــــاد ګــــــار .
پــــــس ازمــــــن چنــــــان کــــــن کــــــه پــــــیش خــــــداي
بنــــــازد روانــــــم بــــــدي ګــــــر ســــــراي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرغښت د ناروغۍ په لسمه ورځ ، د څه خوړلو هیله ښکاره کړه او پر خپل ځای کېناست ، خوتر لږ خوړلو وروسته یې سا بنده شوه ، سام او نریمان دواړه یې راوغوښتل او غرغښت ورته وویل:

د ژوند شپې مې اخر ته رسېدلې دي او د عمرلمر مې له دېواله پناه شوی دی .

غرغښت په وصیت کې سام او نریمان ته ډېر څه وویل . . .

غرغښت د ژوندانه په اخیرو شېبو کې سترګې پورته د آسمان خواته واړولې او د خدای(ج) په دربارکې یې داسې دعا وکړه .

ای خدایه ! چې بل شریک دی نشته ، د ټولو موجوداتو او کایناتو خالق ته یې ، ځمکه او اسمان تا پیدا کړیدي ، ټول پاچاهان ستا په امر ژوندي دي او ته د ټولو پاچاهانو ستر پاچا یې ، ځمکه او آسمان ستا دي او ته وربانديې پاچاهي کوې ، ټول پاچاهان ستا بنده ګان دي ، دا وروستۍ خبرې وې چې د غرغښت له خولې څخه راووتلې او د دې سره یې ځان حق ته وسپاره .

د پورته تاریخي شواهدو څخه دا ثابته شوه چې ستر پښتون پاچا غرغښت د آسپه کورنۍ یو ستر پاچا وو او پرټوله پښتونخوا او د هغې پر شاوخوا هېوادونو یې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په عدل او انصاف حکومت کوي .

هغه د واحد خدای پیرو او پر یو خدای یې عقیده درلوده .

## سربن = سرند :

سربن څوک وو ؟

اسدي طوسي په ګشتاسپ نامه کې سربن د زابل د پاچا ګورنګ شا پاچا لمسی بللی او په اویستا کې یې نوم "سرند "دی او یا د سرند په نوم یاد شوی دی .

استاد کهزاد په دې باور دی چې سربن د پښتنو د دریو نیکونو(بیټني یا بیټ نیکه ، غرغښت او سربن) له جملې څخه یو تن دی .

دا درې واړه پاچاهان په پای کې د پیشدادیانو د پښتني شاهي کورنۍ سره تړاو لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربن هم د پښتنو د هغو مشهورو پاچاهانو څخه دی ، چې نوم يې په اويستا کې ذکر شوی دی .

په غرغښت نامه کې چې اسدي طوسي ليکلې ده سربن يو داسې قوي شهزاده ، قوي پهلوان او جنګيالی معرفي شوی دی چې غشي يې ترفولادو هم تېرېدل .

د سربن د دولت بيرغ سپين رنګ درلود او په منځ کې يې لمر او سپوږمۍ ځای پرځای شوي وو .

## 6:د تاريخ په اوږدو کښې د پښتو ژبې څرک.

ددی د پاره چی د پښتون ملت د ژبی په باره کښی مونږ معلومات تر لاسه کړو ،نو دا ضروری خبره ده چی د پښتون ملت د نژاد ، داستوګنی ځای او ژبی ته په څو جملو کښی يو ډيره لنډه اشاره وکړو.

دنړی د عالمانو او محقيقينو د څيړنو او تاريخی شواهدو څخه دا ثابتيږی چی پښتانه د سپين پوستو اريايانو د نسل څخه دی.

دا عالمان پدی باور دی چی اريايی قبايل د ډيرپخوا زمانو څخه د امو او اباسند ترمنځ د پښتونخوا په هيواد کښی اوسيدل.

کله چی ددوی نفوس او مواشی زيات شول نو ددوی د جملی څخه ځينو قبايلو د خپل ځان او خپل حيواناتو د غذا د پيدا کولو په خاطر د پښتونخوا د مځکی څخه مهاجرت وکړی.

کله چی د پښتونخوا يا باختر د مځکی څخه نورارين قبايل هند ايران او اروپا ته وکو چيدل نو د پښتونخوا مځکه تنها د ،،پکهت،، يعنی پښتنو قبيلی ته پاته شول.

دا ښکاره خبره ده کله چی ټول ارين قبايل يو ځای په پښتونخوا کښی اوسيدل نو ټولو به په يوه ژبه خبری کولی،خو کله چی ددی قبايلو څخه يو شمير يی د هند ،او سنی ايران او اروپا پر لور وکوچيدل،دوی د ځان سره د پښتونخوا څخه اريايی زړه ژبه او اريايی خواص او عادات هم نقل کړل.

دزمانی په تيريدو سره اودلوکل وګړو سره دراشه درشه په نتيجه کښی ددی مهاجر ارياياتو په ژبه،خوی ،خواص،عاداتو او داسی نور شيانو کښی بنيادی فرق راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودزړو اريايانو مشترکه اريايي ژبه ،سو چه اريايي خواص او عادات تنها په پښتونخوا کښې پاته پښتنو ته په ميراث ورسيدل.

دژبپوهنی د علم په اساس هيڅ ژبه د ابد دپاره په يو شکل نه پاته کيږی ،هره ژبه د زمانی په تيريدو سره د وخت د ضروت سره مطابق تغيرکوی،نودا هم يو طبعی خبره ده چی پښتو ژبی به هم د زمانی د ضروريا تو مطابق تغير کړيوی او سوچه مشترکه زړه اريايي ژبه به نوی پاته شوی.

مونږ دلته په ډير لنډ ډول د تاريخ په پاڼو کښی د پښتو ژبی څرک لټوو.

## ۱: د کيانی کورنۍ سلطنت او پښتو ژبه

د کياني شاهي کورنۍ د اقتدار په وخت کې پښتو ژبه د هغه وخت د لهجې سره سمه مروجه او ژوندۍ ژبه وه ، چې ژوندی مثال يې د هغه وخت د وزيرانو په نومونو کې د پښتو ژبې د لغاتو شتوالی دی .

استاد حبيبې وايي چې د بلخ د کياني پښتني شاهي کورنۍ موسس کاوه کواته ترمرګ وروسته د هغه زوی (کاوه اوسن يا کاوه يوسا )

په ايراني ژبه ،،کيکاوس،، پاچا شو .

کاوه اوسن يو پوه وزير درلود چې نوم يې "اوشنر"وو ، او دا وزير په اويستا کې د "پوره جيره" په صفت ياد شوی دی .

د اويستا "پوره جيره"د نن ورځې په مروجه پښتو کې د "پوره ځير = دقيق" په شکل او ښتی دی .

د کياني پاچاهانو په وخت کې د پوره جيره،کاوه اونورې دې ته ورته پښتو کلمو شتون د دې خبرې پوره ثبوت دی چې پښتو ژبه دهغه وخت په لهجه د کياني پاچاهانو په وخت کې يو مروجه ژبه وه .

بل ثبوت دادی چې د کياني پاچاهانو د نامه په پيل کې د "کاوه =کي= کوي =کاوي" لفظ استعماليده چې د پوه ، مشر ، لاربنود او سترمعنا لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د "کاوه" لغات تر دې نږدې وختونو پورې هم په پښتو ژبه کې استعمالېده چې ژوندی مثال یې هغه شعر دی چې په (400هه) کې په ملتان کښې د پښتنو د لودی شاهی کورنۍ یو غړی شیخ رضي خپل وراره نصر ته لیږلی ووچې وایي:

نصـــــــــره نـــــــــه مـــــــــو یــــــــــې د کهالـــــــــــــه
لـــــــــــودي نـــــــــه یـــــــــــه پـــــــــــې کـــــــــاوه .

استاد حبیبې وایي چې د "کاوه او پوره جیره" او داسې نورې پښتو کلمې او لغاتونه د هغو وختونو سره تعلق لري چې پښتنو سترتمدن درلوده او پارسي ژبه لا پیدا شوې نه وه .

## ۲: پښتو ژبه د داریوش په زمانه کښې.

دتاریخی شواهدو په اساس پښتو ژبه د لرغونواریایی ژبو د کورنۍ څخه یو ژبه ده.

دعلمی او تاریخی شواهدو په اساس دا منل شوی ده چې پښتو ژبه که دهندی اریایانو د ژبی ،،سنسکرت،، او ،،زند،، ژبی مورنده نو خورخو یی ضرور ده.

پښتو ژبه د ،،ویدا،، او ،،اویستا،، د ژبو په شان پخوانی ژبه ده .

خوڅرنګه چی پښتونخواد خپل جیو پولتیکی او جیو ستراتیژیکی پلوه د تاریخ په اوږدو کښی دنړۍ د فاتحانو د تګ راتګ لاره وه او نن هم ده، نو ددی سببه په پښتونخوا کښی د خارجی یرغلګرو دخوا هرډول تاریخی شواهدو ،تاریخی اثارو ،سیاسی،فرهنګی ،اقتصادی ،ټولنیزو اساساتو او داسی نوراثاروته نه جبران کیدونکی تاوانونه رسیدلی دی.

په ډیر افسوس سره باید ووایو چی دزمانی دزوراورو د ظلم د سببه د ،،ویدی،، او ،،اویستا،، تر زمانو د وړاندی وخت دلرغونی پښتوژبی ،اود اویستا او ویدی د زمانی او تر دی ورسته زمانو دپښتو دلهجی او لیک په باره کښی معلومات تقریباً ټول د منځه تللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چیری تر او سه د زردشت د خوا لیکل شوی اویستا موجود وای او هغه دریم داریوش تښتولی نوای،او بیا دا کتاب یونانیانو سوځولی نوای، او داور دلمبو ځخه پاته اویستا بیا ایرانیانو بدل کړی نوای او دزردشت په اویستایی ژبه تر او سه موجود وای نو مونږ به نن دلرغونی پښتو ژبی دلهجی،لیک او لرغونتوب په باره کښی پوره معلومات درلودای،او په قوی احتمال به پښتو ژبه د نړی د لرغونوژبو د جملی ځخه یولرغونی ژبه وای او دډیرو اریایی ژبو موربه بلل کیدای.

مونږ دمخه ذکر کړل چی دمیلاد نه څو سوه کاله وړاند دیو نان تاریخ لیکونکوهیروډوټس او بطلیموس د هخامنشی دوری په وخت کښی دپښتنو ذکرکړیدی،دنیکه مرغه د هخامنشانو ددوری دلمړی ، ،دارا = داریوش، ، د ، ، بهستون، ، په کتبه کښی دپښتو ژبی دری مصرعی پیدا شویدی چی دپښتنو د ، ،کوا ته، ، شاهی کورنۍ په دوران کښی دپښتنو ژبی د موجودیت په شان دپښتو ژبی پرلرغونتوب شاهدی ورکوی ،دلرغونی پښتو ژبی دا دری مصرعی مونږ ګرانو لوستونکوته په لاندی ډول وړاندی کوو.

علامه استاد عبدالحیی حبیبی وایی:

د ا د ، ،بهستون، ، ډبر لیک پر(۲۴۰) کرښو مشتمل دی او په هره کرښه کښی یی (۴۵) توری دی ،او هر توری یی د درو نه تر پنځو پوری میخی علامات لری.

دحبیبی صاحب د تحقیق مطابق د ، ،بهستون، ، د ډبرلیک دلرغونی پښتو دا دری لرغونی مصرعی پدی ډول دی:

هم آکه ری ا نی = نی اړیکه هم(ومه) = نه اړیکه وم (ومه).

هم آ نه جه درونی = نی دروجنه هم(ومه)= نه دروجن وم (ومه).

هم آنه که زورره نی=نی ځورکړه هم =نه ځورکړونی وم (ومه).

(دلرغونی پښتو لغاتونه د چپی خوا وراستی خواته لوستل کیږی)

دلرغونی پښتو په پورته مصرعو کښی چی کوم لفظونه ذکر شوی دی لکه (اړیکه ،دروجن او ځوورکړونی) په اوسنی پښتو کښ هم په لږ تغیر د لهجی استعمالیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلاً :

| شماره | لرغوني پښتو | ننني پښتو |
|---|---|---|
| ۱ | نه اړیکه وم | اړی یعنی چل فریب او ټګی نه کوم |
| ۲ | نه دروجن وم | دروغ نه وایم ، دروغجن نه یم |
| ۳ | نه ځورکړونی وم | ظلم نه کوم یعنی ظالم نه یم |

څرنګه چې داریوش هم د هغه مهاجرو اریایي قبیلو د پارسا ګاد د قبیلې د هخامنش د څانګې یوی غړی وو کومی چې سونو کلونه وړاند د پښتونخوا څخه د پارس پرلورهجرت کړیوو نو ددی سببه یې لاترهغه دمه زړه اریایي ژبه یعنی لرغونی پښتو هم دنوروژبو سره یوځای په هیواد کښې د لیک او لوست ژبه وه .

دپورته تاریخی ثبوت څخه داسی ښکاری چې د لرغونو اریایانو دژبو دجملې څخه لرغونی پښتو ژبه د هغه وخت مروجه ژبه وه د کومی نمونه چې دداریوش د بهستون په ډبر لیک کښې ذکر شوی ده،یا په بل عبارت لرغونی پښتو ژبه د لرغونو اریایانو دژبو دجملې څخه یوه مهمه ژبه وه .

کوم وخت چې لرغونی اریایان ترهجرت وړاندی په پښتونخوا کښې یو ځای سره اوسیدل یو شمیر یې په لرغونی پښتو خبری کولی او تر هجرت ورسته یې هم دا لرغونی پښتو د ځان سره خپل نوی مځکی ته نقل کړل چې ژوند ی مثال یې مونږ تر اریایي هجرتونو څوسوه کاله ورسته دداریوش د ، ،بهستون، ، په ډبر لیک کښې دلرغونی پښتو د دری مصرعو موجودیت دی.

څرنګه چې د پښتنو قبیله د لرغونو اریایانو یوه ډیره مهمه او قوی قبیله وه،هیچا او هیڅ ډول شرایطو د خپل پلارنی ټاټوبی یعنی پښتونخوا څخه په هجرت مجبوره نه کړایشول نو دا طبعی خبره ده چې ددی قوی اریایي قبلې ژبه هم داریایی ژبو د کورنۍ یوه قوی ژبه بلل کیدل.

داوسنی ایران خاوری ته د مهاجرشوو اریایانو ژبه د زمانی په تیریدوسره دلرغونی اریایي ژبی یا لرغونی پښتو څخه بدله شول، زړه فارسی ، پهلوی اوبیا اوسنی فارسی ځنی جوړه شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهند خاوری ته د مهاجرشوو اریایانو ژبه هم د لرغونی اریایی یا لرغونی پښتو څخه په سنسکرت ژبه بدله شول اوددوی د سرودونو کتاب ،،ریګوید ،، هم پدی ،،سنسکرت،، ژبه ولیکل شو.

په پښتونخوا کښی دپاته پښتنو دهغه وخت مذهبی او فرهنګی مشر ،،زرا توشترا،، بیا د پښتون ملت دتیرو تقریباً دری زرو کالو تاریخ د پښتنو د لمړی پا چا ګیومرتن څخه بیا تر غرغښت پوری د پښتنی ،،ریشانو،، یعنی سپین ږیرو عالمانو،خدای نامو،شاهنامو،دسرودونو د حافظانو څخه راجمع کړی او د ،،اویستا،،په نوم په یو کتاب کښی یی په خپل لرغونی پښتو یعنی داویستا په ژبه ولیکی.

دپورته تاریخی حقایقو څخه دا معلومیږی چی پښتانه دلرغونو اریایانو دزمانی راهیسی په پښتونخوا کښی میشته دی، اودپښتنو ژبه د لرغونو اریایانو د ژبو دکورنۍ څخه لرغونی پښتو ژبه ده.

اوسنی پښتو دلرغونی پښتو څخه منځته راغلی ده او دزمانی دضرورتونو او حالاتو مطابق تغیرات پکښی راغی.

## 7: پښتانه او مدنيت:

موږ دلته د سترپښتون ملت هغه کارنامو ته په ډېر لنډ ډول اشاره کوو چې پښتنو په پښتونخوا کې رامنځ ته کړي دي او بیا ټول بشریت ځني کاپي او د ځان لپاره یې ګټه ځني اخیستې ده .

1 : د پښتونخوا تاريخي پلازمېنه بلخ = بخدي او د هغه شاوخوا یعنې ټوله پښتونخوا د نړۍ د درېو لرغونو مدنیتونو(بابیلون ، ویدا او اویستا ) له جملې څخه د دوو مدنیتونو یعنې "ویدا " او " اویستا " زانګو بلل شوې ده .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل وینا ،دنړۍ د درېولرغونو مدنیتونو له جملې څخه د"ویدا"زیاته برخه او ټول" اویستا " پښتنو په پښتونخوا کې منځته راوستلې ده .

2: اویستا دبشریت دلمړی پاچا ګیومرتن او د پښتنو د تاریخ د وتلو پاچاهانو لکه هوشنګ،تهمورث، یما ، ساګ ،تریتونا ، کاوه کواتا ،کاوه اوسن، کاوه هوسروایا ،غرغښت ،سربن او داسی نور نومونه اخیستی او هغوی یې دغښتلو اوعادلو پاچا هانو په صفت ستایلی دی.

پښتنو پاچاهانو په پښتونخوا کې په داسې حالت کې سلطنتي نظامونو او تمدن رامنځ ته کړی چې زموږ ګاونډیان لا د وحشیانو په څېر سره لغړ ګرځېدل چې اویستا ورته د "دیوانو " یا "دیبانو " نوم ورکړی وو .

په دې اساس موږ ویلای شو چې پښتانه د ټول بشریت نه لومړی د دولت او شاهي نظامونو رامنځ ته کوونکي دي ، چې وروسته بیا ټول بشریت د پښتنو له خوا پیدا شوي نظامونه ځانته کاپي کړل .

3: د نړۍ لومړني ښار ښکلې بخدي= ښکلی بلخ هم په پښتونخوا کې د پښتنو له خوا اباد او ددوی د پاچاهۍ پلازمېنه وه .

د نړۍ ټولو محققینو او موریخینو د پښتنو ښکلې پلازمېنې یعنې بلخ =بخدي ته د ښارونو د مور لقب ورکړی دی .

د پورته حقایقو څخه ښکاري چې د ښاري تمدن اول اساس هم پښتنو په پښتونخوا کې ایښی دی .

4: د بشریت په تاریخ کې دکرنې د رواجولو ، د حیواناتو د اهلي کولو او د حیواناتو څخه په زراعت او حمل او نقل کې استفاده هم په لومړي ځل پښتنو ایجاد کړې ده .

5: د اوسپنې ویلې کول او له هغې څخه وسلې جوړول ، هغووسلو ته نوم ورکول هم پښتنو پاچاهانو هوشینګ او تهمورث ایجاد کړل .

6: د زېوراتو او جواهراتو جوړول او استعمال هم په لومړي ځل د ستر پښتون پاچا یما په وخت کې ایجاد شول .

7: د بشریت په تاریخ کې پښتنو د لومړي ځل لپاره د یما پاچا په وخت کې دارو درمل جوړکړل او د ناروغانو علاج یې پرې وکړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې معنا داده چې د بشریت د ښېګڼې لپاره د طب ، طبابت او دوا درمل ایجاد هم پښتنو منځته راوړی دی .

که د پښتون ملت تاریخ په دقیق ډول وڅېړل شي شاید دا معلومه شي چې پښتون ملت د بشریت د ترقۍ ، تکامل ، تمدن او سوکالۍ لپاره د نړۍ د نورو ملتونو په شان ستر کارونه کړیدي او د بشري ټولنې د یوغړي ملت په حیث یې خپل مسئولیت ادا کړی دی .

هېڅوک باید ددې حقیقت څخه سترګې پټې نه کړي چې د بشریت د درېو مدنیتونو( بابیلون ، ویدا او اویستا ) له جملې څخه نیمه برخه یانې نیم ویدي مدنیت او درست اویستایي مدنیت په پښتونخوا کې د پښتنو له خوا منځته راغلی دی .

که څوک د بشریت په تمدن او تاریخ کې د پښتنو برخه له منځه یوسي ، نو د ټول بشریت تاریخ نیمګړی کېږي ، پس موږ دا په ډاګه ویلای شو چې پښتون ملت یو متمدن ملت دی ، د ټول بشریت نیم تمدن پښتنو منځته راوړی دی ، د پښتنو د تمدن او تاریخ څخه بغیر د ټول بشریت تاریخ او تمدن نیمګړی دی ، چې دې موضوع ته په لاندې کرښو کې یوه ډېره لنډه اشاره کوو .

## 8: پښتانه او "ویدا" یا "ویدي" مدنیت:

ویدي مدنیت د بلخ په شاوخوا کې د لرغونو اریایانو له خوا چې پښتانه هم د هغوی یوه برخه وه منځته راغلي .

ډیرو مئورخانو او څیړونکو په ریګویدا او اویستا کښی ذکرشوی ،، پکهت = پښت =پښتون ،، قبیله په ټولو اریایی قبیلو کښی غښتلی او د زیات ځواک لرونکی قبیله بللی ده.

فردوسی او اسد طوسی دخپل شاهنامو په لیکلو کښی د تر اسلام د وړاندی زمانو یعنی داریایی زمانو د خدای نامو څخه ګټه اخستی ده.

په بلخ کښی د پښتنو پا چانو او پهلوانانو قوت او په خپل ولسونو کښی ددوی محبوبیت او شهرت ددی سبب وو چی ددوی په نوم ،،ختای نامک = خدای نامی،، ولیکل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه عبدالحیی حبیبی دهغی زمانی د ځینو خدای نامو نومونه پدی ډول یادوی ، فرامرزنامه ،برزونامه، شهریارنامه،گشنسپ نامه ،جهانگیر نامه،سام نامه او داسی نور...

په هغه زمانه کې انسانانو ليک لوست نه شو کولای ، نو اريايانو د خپل ژوند سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزې ، تاريخي او جغرافيايي پېښې په سرودونو کې ويلې ، دا سرودونه بيا حافظانو په يادول او د يو نسل څخه بل نسل ته د حافظانو په واسطه نقلېدل ، د وخت په تېرېدو لا نور غني کېدل خو له منځه نه تلل .

هغه چا چې به دا سرودونه په يادول او يا به يې خاص لوی واقعات په يادول او د يو نسل څخه به يې بل نسل ته نقلول ، دې خلکو ته به يې (ريشان) يعني هو ښيار سپين ږيري ويل .

دا سرودونه به د پښتنو د لنډيو په شان خلکو په ياد زده کول او ديو نسل څخه به بل نسل ته پاتې کېدل .

څرنګه چې پښتانه هم د اريايي قبيلو يو قوي قبيله وه او د هغوی سره يو ځای اوسېدل ، نو طبيعي ده چې ددوی د جملې څخه به هم ځينو پښتنو ويدي سرودونه په ياد کړي وي او دوی به هم د ويدي سرودونو "ريشان" درلودل .

کله چې يو شمېر اريايانو د بلخ له خوا څخه د هند پر خوا سفر وکړ ، نو له ځان سره يې ويدي سرودونه هم د هند خاورې ته نقل کړل او ددوی په نوي ټاټوبي کې يې لانوره هم وده وکړه .

کله چې ليک او لوست ايجاد شو ، نو په هند کې اوسېدونکو لرغونو اريايانو خپل په ياد شوي سرودونه په څلور کتابونو کې وليکل او دا څلور کتابه نن د نړۍ د تاريخ ډېره زړه سر چينه بلل کېږي او تاريخ پوهان يې د ويدي مدنيت په نامه يادوی .

دويدی مدنيت څلور ويده عبارت دي له :

## 1: ريګويد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: سام وید .

## 3: اتهروا وید .

## 4: یجور وید .

په دې ویدونو کې "ریګوید "ډېر زوړ او پخوانی وید دی ، په دې وید کې د پښتنو د قبیلو ، پاچاهانو ، د پښتونخوا د سیندونو او غرونو نومونه یاد شوي دي .

د دې خبرې معنا داده چې دا سرودونه په پښتونخوا کې ویل شوي دي .

په (1400 ق . م )کې د پنجاب د سیند پرغاړه د لسو اریایي قبیلو جنګ ، د هغه وخت د پښتنو د پاچا " توروینه "او د پښتنو قومونو او سیمو نومونه په ریګوید کې ذکر شوي دي .

د ویدي مدنیت په وخت کې ولس د پرستش یوه واحده منبع نه درلوده او د طبعیت پر بیلو بیلوعناصرو (باد ، لمر ، ستوري ، سپوږمۍ ،اور او داسې نورو ) یې عقیده درلوده او د هغوی پرستش یې کاوه .

د پورته لنډو معلوماتو پر اساس موږ ویلای شو چې د ویدي مدنیت په ایجاد کې د نورو اریایي قبیلو سره یو ځای پښتون ملت هم خپله لویه برخه درلوده .

## 9: پښتانه او "اویستا " :

اویستا د لرغونو پښتنو هغه مقدس کتاب دی چې د "زرا توشترا " د خوا د زردشت ایین احکام په کې لیکل شوي وو .

د اویستا ترلیکلو وړاندې پښتنو او د سیمې نورو ولسونو د ویدي مدنیت په څېر د طبیعت پر بیلو بیلو عناصرو لکه لمر ، سپوږمۍ ، باد ، اور ، پیریانو ، دیوانو ، حیواناتو او داسې نورو شیانو عقیده درلوده او د دې شیانو پرستش یې کاوه او هغوی یې خپل معبودونه بلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاريخي شواهدو پر اساس "زراتوشترا" تر ميلاد تقريبا اووه سوه (700) کاله وړاندې د غرغښت د سلطنت پر مهال د بلخ پښتني شاهي کورنۍ ته نږدې په يو ارستوکراته کورنۍ کې پيدا شو .

د پلارنوم يې "پوروشاسپه" يعني د زاړه آس خاوند او د مور نوم يې "دوغدو" وه .

په شل کلنۍ کې يې د فکر کولو په سبب ځان د خلکو ليرې او منزوی کړ .

په دېرش کلنۍ کې يې د زردشت ايين تبليغ شروع کړ .

د اوه اويا (77) کالو په عمر د بلخ په اتشکده کې د توراني يرغلګر "براترکرش" له خوا ووژل شو .



(c) ketabton.com: The Digital Library



د اویستایي تمدن پلار متفکر پښتون زردشت

کله چې غرغښت د خپل سلطنت پر وخت د زردشت ایین ومانه او د زراتوشترا سره ملګری شو ، نو " زراتوشترا " د غرغښت پاچا په ملاتړ او حمایت د زردشت ایین کتاب " اویستا " په اویستایي ژبه ولیکه .

اویستا ډېرې برخې درلودې چې پر تاریخي ، اقتصادي ، عقیدوی او داسې نورو برخو مشتملې وې ، موږ یې دلته یوازې تاریخي او عقیدوی برخو ته لنډه اشاره کوو :

## 1: د اویستا تاریخي برخه :

د مخه ذکر وشو چې تر لیک او لوست وړاندې اریایي قبیلو خپل ټول سیاسي ، اقتصادي ، ټولنېز ، تاریخي او جغرافیایي واقعات د سرودونو په شکل حفظول او دا معلومات د سرودونو په شکل د یو نسل څخه بل نسل ته د نورو واقعاتو په اضافه توب په میراثي ډول نقلېدل .

کله چې زراتوشترا پیدا شو ، نو ویې غوښتل چې د پښتون ملت په سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیز ، عقیدوی ، تاریخي او جغرافیایي ساحو کې پرمختګ ، ترقي او اصلاحات راولي .

د زراتوشترا ددې کارونو په جمله کې یو هم د سرودونو د حالت څخه د پښتنو د تاریخ په منظم ډول لیکل وو .

زراتوشترا د پښتنو تېر شوي تاریخي واقعات د پښتون ولس د

"ریشانو = پوهو سپین ږیرو " څخه راجمع کړل او د پښتون ملت تقریبا د درېو زرو کالو وړاندې تاریخ یې د ګیو مرتن څخه بیا تر غرغښت پورې په اویستا کې ولیکه .

څرنګه چې د ګیو مرتن څخه تر غرغښت پورې په زرونو کاله تېرشوي وو ، خو زراتوشترا د پښتني " ریشانو " یعني پښتنو هوښیارو سپین ږیرو او د سرودونو د حافظانو څخه دا ټول معلومات راجمع کړل او د لومړي ځل لپاره یې د پښتنو تاریخ په اویستا کې د اویستا په ژبه ولیکه .

اویستا ته د پښتنو لومړی لیکلی تاریخ هم ویلای شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د لرغوني تاريخ په باره کې ويدا او اويستا تر ټولو ستری ، معتبره او د اعتبار وړ زړه سر چينی او ماخذ ونه بلل کېږي ، د اويستا له معلوماتو پرته د پښتنو تاريخ نيمګړی دی .

2: د اويستا عقيدوی برخه:

د پښتنو د ستر پاچا غرغښت د سلطنت دوره د پښتون ملت د تاريخ لپاره يو ډېره ځلانده او د برياوو ډکه دوره بلل کېږي .

دغرغښت د سلطنت يوه ډېره مهمه لاسته راوړنه دده د سلطنت په دوران کې د "زراتوشترا " نړۍ ته راتلل دي چې د "زرد ښت" ايين کتاب "اويستا " يې منځته راوړ .

د زردشت ترايين وړاندې پښتنو پر يو واحد معبد عقيده نه درلوده او د نورو لرغونو اريايانو په شان يې د طبيعت پر زياتو عناصرو لکه اوبه ، باد ، اور ، لمر ، پيريانو ، ديبانو او داسې نورو شيانو عقيده درلوده او د هغو پرستش او عبادت به يې کاوه .

خو کله چې پښتون "زراتوشترا " د زردشت ايين منځته راوړ ، نو د زياتو معابدو پرضد يې مبارزه شروع کړه او ولس يې د "واحد خدای" عبادت ته راوبلی .

که څه هم د زردشت ايين الهي دين نه وو او زردشت هم د خدای(ج) پيغمبر نه و ، بيا هم د زردشت ايين د اريا يانو د عقايدو پرخلاف پښتانه او ټول بشر د يو واحد خالق پرستش ته چې د " اهورا مزدا " په نوم يادېده ، را وبلل .

مورېدلته د زردشت ايين ځينې نصيحتونه چې ولس ته يې کړي دي د لوستونکو حضور ته وړاندې کوو .

زردشت د يو خدای " اهورا مزدا = يو بادار " په يوالي او بې ساري عظمت قايل وو او د پخوانيو خدايانو څخه چې اريايانو ورته عقيده درلوده مخ واړاوه .

زردشت ويل چې د يو خدای وروسته د نړۍ د پيل څخه دوه روحه شته چې يو پر ښه لار او بل پر بده لار ځي او ټول ژوند يو باطيني جګړه ده چې د شر د قوتونو پرضد ادامه لري او په دې جګړه کې رڼا د تياره پرضد او عقل د اهريمن پرضد يو له بل سره په مقابله کې دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زردشت ایین په دې باور وو چې د اخیرت یا محشر ورځ شته .

د زردشت ایین په دې باور وو چې د اخرت په ورځ د ښو او بدو اعمالو محاسبه شته .

د زردشت ایین په دې باور وو چې رښتیا پر دروا غو بریالي کېږي .

د زردشت ایین په دې باور وو چې جنت او دوزخ وجود لري .

د زردشت ایین په دې باور وو چې په اخیرت کې د "صراط پل" وجود لري .

د زردشت ایین په دې باور وو چې "ملا یکې" شتون لري .

د زردشت ایین خپل پیروانو ته دا سپار ښتنه کوله او دا یې دایمي شعار وو چې:

په خپل ژوند کې همېشه ښه مشوره منئ (هومته = ښه منل) .

په خپل ژوند کې همېشه ښې خبرې کوئ (هوخته = ښه ویل) .

په خپل ژوند کې همېشه ښه اعمال ترسره کوئ(هوورشته = ښه کول) .

د زردشت پیروانو ښه منل ، ښه ویل او ښه کول د خپل ژوند بنسټ ګرځاوه او خپله انګېرنه خپله ژبه او خپل عمل یې د معنوي او مادي ککړتیا څخه خوندي ساته .

د بدني او روحي پاکوالي ، د رښتیا ، سموالي ، مېړاني ، سخاوت او ټولو ښو اخلاقو مننه یې کوله .

د زردشت په ایین کې درواغ او تور منع وو .

د زردشت ایین د سوما د بوټي څخه جوړ شوي نشه اور شراب چې په پخوانیو اریایانو کې رواج وو بند کړل او د حیواناتو د بې ځایه او زیاتو قربانیو مخه یې ونیوله ، په دې باره کې د زردشت ایین داسې وایي:

د سوما کثیف نشه کوونکي شراب څنګه د نېکۍ سره مرسته کولای شي ، د بزګر سړي غویې تر دې چې قرباني شي ښه او ګټوره داده چې د خپل خاوند په لاس کې وي .

د زردشت ایین ځوانان او پېغلې یا ناویانو او زومانو ته د پاکۍ او سپېڅلتیا ژوند ته د رابللو په باره کې په (53) یسنا کې داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ای مېړه کوونکو نجونو او ای زومانو دادی دربښیم او خبروم مو ، نصیحت مې په زړه ومنئ:

د سپېڅلتوب او پاکۍ په ژوندانه پسې د غیرت ملا وتړئ او ورپسې زیار وباسئ ، تاسې هر یو په ښه کار کې یو تر بل دمخه شئ او په همدې ډول خپل ژوند خوښ تېر کړئ . "

څرنګه چې دغرغښت د سلطنت په زمانه کې کاغذ نه و ، نوغرغښت امر وکړ چې "اویستا " د غوایانو پر پوستونو ولیکل شي .

زردشت او دده پیروانو د اویستا کتاب د غوایانو پر دوولس سوه (1200 ) پوستونو ولیکه او د پاچا په امر د بلخ په "ورهران " (واره ) کې د دیني کتاب په حیث د عام او خاص لپاره کېښودل شو .

اویستا په (21 ) کتابو کې لیکل شوی وو . ټول (815 ) فصله او (3457000 ) لغاتونه وو .

کله چې ایراني یرغلګر درېیم داریوش پر پښتونخوا یرغل وکړ او د پښتونخوا پلازمېنه بلخ یې اشغال کړ ، د پښتنو سر او مال یې لوټ کړ ، نو د دې لوټ او تالان په نتیجه کې یې د پښتنو د هغه وخت مقدس کتاب "اویستا " چې داروېش عقیده هم نه پرې درلوده هم د ځان سره دلوټ په مال کې یوووړ او په خپل قصر " پریس پولیس" یا " تخت جمشید " کې یې کېښود .

د ظالم او جاهل داریوش دی یرغل د پښتنو او پښتونخوا د زرونو کلونو تمدن له خاورو سره برابر کړ ، پښتانه یې د غم پر ټغر کښېنول .

خو کله چې د (330ق . م) په شاوخوا کې یوناني سکندر پر ایران حمله وکړه ، د یونا نیانو او ایرانیانو تر منځ د ،،اسوس،، پر مقام جنګ وشو ،دریم داریوش شرمناکه ماته وخوړل ،هر څه یې پر میدان پرېښودل او د پښتونخوا لوری ته راو تښتیدی.

مقدونی سکندر د ایران د پرس پو لیس قصر ته راغلی او پر داریوش باندی د خپل بری په مناسبت یې د ساز،رقص او شراب خوړلو محفل جوړ کړی.

ددی محفل په جریان کښی کښی د ،،تائیس،، په نوم یو ی رقاصی د سکند رڅخه وغوښتل چی ماته اجازه راکړه چی په خپل لاس د ظالم او لوټمار درېیم داریوش شاهي قصر "پریس پولیس" ته اور واچوم څکه چی دا دهغه ظالم پاچا قصردی کوم چی د یونان د ،،اکروپولیس،، ښار ته اور اچولی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنکدر هم د هغې رقاصې خواست قبول کړی او د نشې په حال کښې یې هغه رقاصه په غیږ کښې پورته کړه او د ایران د پریس پولیس قصرته یې اور واچوی، په دې اور کې د پښتنو څخه لوټ شوي د پښتنو مقدس کتاب "اویستا " هم وسوځول شو .

وروسته بیا د ایران د لومړي "ارد شیر" په وخت کې چې ایرانیانو پر اویستا عقیده پیدا کړې وه ، د پاچا په امر د پوهو خلکو د خولو او روایاتو څخه یې اویستا بیا راجمع کړي چې د اصلي اویستا څلورمه برخه جوړوي .

خو کله چې د لومړي اردشیر ترمرګ وروسته دده زوی لومړی شاهپور پر تخت کېناست ، نو د یونان د مروجو علومو د کتابونو څخه یې یو زیات شمېر مسایل د اویستا په نوم په پاتې شوي اویستا کې ځای کړل ، چې د اویستا اصلي څېره یې وربدله کړه او د ایران او ایرانیانو په ګټه ایراني تقلبې اویستا یې ځني جوړکړ .

اصلي اویستا څلور برخې درلودې چې عبارت وي له:

1: یسنا (پرسته او جشن) چې دیني سرودونه دي او (72) فصلونه ئې لرل .

2: ویسپرید(سروران) ددعا او اورادو ټولګه چې د (23-27) فصلونه ئې لرل .

3: وندیداد( د شیطانانو دفع کوونکي) چې د اوداسه ، استغفار ، توبې او نورې دیني ښوونې لرل او (22) فوګرده یا بابه وو .

4: یشت(لمونځ او ستاینه)د خدای او ملایکو ستاینه وه او (21) فصلونه لرل .

کله چې د پښتنو ستر پاچا غرغښت "اویستا " یا د زردشت ایین قبول کړ ، نو له دې سببه په پښتونخوا کې د زردشت ایین په ډېر سرعت سره په پښتنو کې خپور شو .

د پښتنو پاچا غرغښت پر زردشت ایین عقیده درلوده او د زراتوشترا لوی حامي او مرستیال و .

د هغه ملاتړ له امله چې غرغښت د زردشت ایین او زراتشترا سره درلود د زردشت دین ډېر پرمختګ وکړ او د دې ملاتړ له امله د غرغښت نوم څو ځله په اویستا کې ذکر شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اویستا غرغښت ته د " کاوه ، سترمشر ، سترلار ښود ، پوه ، هوښيار ، رهنما او نورښه " القاب ور کړيدي .

خو کله چې د زردشت ايين د ايران خاوري او خلکو ته ورسېد ، نو د ايران سياسي او مذهبي مشرتابه د خپل شخصي خواهش او ګټو مطابق په زردشت ايين کې تغيرات راوستل ، لومړی يې د زردشت ايين د خپل شخصي خواهشاتو او ګټو مطابق عيار کړ او بيا يې ټولنې ته د هبواد د رسمي دين په حيث وړاندې کړ .

## 10 : په اویستا کې د ایرانیانو تقلب کاري:

د ايران دوخت سياسي او مذهبي مشرتابه د تاريخ په اوږدو کې د ځان په ګټه هر ډول تقلب ، جعل او تذوير ته ادامه ورکړې ده او هغه يې روا بللې دی ، چې مورږ يې دلته څو مثاله راوړو .

د اعتبار وړ محققين او مورخان په دې باور او عقيده دي چې اوسنی اويستا د ايران د ساساني پاچا لومړي اردشير په امر وليکل شو .

د ايران د پاچا په امر د اويستا زړو پوهانو اوحافظانو څخه د اويستا هغه څه راټول شول چې لاتراوسه ددوی په ياد وو .

د عالمانو په نظر دا نوی "اویستا "چې د زردشتي دين د سپين ږيرو روحاني او مذهبي علما او پوهانو څخه راټول شو ، د غرغښت او زراتوشترا د هغه اصلي اويستا چې د بلخ د "ورهران " په واره کې ايښودل شوی و ، يو پرځلورو برخه جوړوي .

دا خبره د ذکر وړ ده چې داريوش پر اويستا عقيده نه درلوده ، خو اويستا يې د پښتنو او پښتونخوا څخه د ې لپاره لوټ کړ ، تر څو د پښتنو له خوا دا نوی ايجاد شوی ايين چې عقيدوی ، اقتصادي او د ښاري مدنيت د معرفۍ ، اصلاح او ترقۍ برخې يې درلودې له منځه ولاړشي او په منطقه کې نفوذ ونکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود داریوش د ظلم ، وحشت او جهالت باوجود څه وخت وروسته د اویستا عقیدوی نفوذ په منطقه حتا په خپله په ایران کې هم خپور شو او ایرانیانو د زردشت ایین د خپل دین په حیث قبول کړ .

کله چې په ایران کې ساسانیان قدرت ته ورسېدل ، نو په دې وخت کې د ایراني ولس زیاته برخه زردشتیان و ، نو په دې اساس ساسانیانو د زردشت دین د ایران د رسمي دین په حیث قبول کړ .

د لومړي اردشیر د پاچاهۍ په وخت کې د ایراني ولس زیاتې برخې د زردشت ایین د خپل دین په حیث منلی وو او هغوی په دې عقیده او باور وو چې اویستا د غرغښت د سلطنت په وخت کې پر

" زراتوشترا " نازل شوی دی .

د اردشیر تر مرګ وروسته د هغه زوی لومړی شاهپور د ایران واکمن شو ، نو د هغه په امر او د هغه د غوړه مالو درباریانو په مشوره ددوی د هیواد په منل شوي دین (زردشت) کې د تقلب کارۍ کار شروع شو .

پاچا شاهپور او دهغه غوړه مالو درباریانو دهندي ، یوناني او نورو ژبو هغه کتابونه چې د نجوم ، طب او حکمت په باره کې لیکل شوي وو د اویستا په دیني کتاب کې ور ځای کړل او یو جعلي او نقلي اویستا یې ځنې جوړ کړ او دا تقلبي اویستا د پاچا په امر د شیراز د

" اذرګنشسپ " په معبد کې کېښودل شو .

د ایران سیاسي او مذهبي مشرانو همېشه د خپلو شخصي ګټو او خواهشاتو مطابق په دنیاوي او حتا دیني احکامو کې جعل ، تذویر دروغ اوبل هرډول تغیرات راوستلي دي .

د مثال په ډول:

کریستن سن د داستاني روایاتو پر اساس لیکلي دي چې د ساساني دورې یو لوړ پوړی چارواکی ( ارواي ویراز ) د خپل اووه (7) خویندو سره په یوه وخت واده وکړ او هغوی یې ټولې خپل ماندینې کړې .

د ایران بل پاچا کمبوجیه د خپلو دوو خویندو سره واده وکړ چې د یوې نوم "اتسا یا اتوسا " و .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران هخامنشي پاچا داریوش خپله ښکلې خور "پرساتیس" ځانته واده کړه او د ځان ښځه یې کړه .

ساساني پاچا دویم اردشیر د خپل دوو خویندو "اتسا" او مستریس" سره واده کړې و .

ایراني پاچا دریم داریوش خپله لور "استاتشرا" خپله ماندینه کړه... (پښتانه د افغانستان په افسانوی او داستانی تاریخ کښی -۱۷۰مخ).

د پورته دلایلو ، عیني او تاریخي حقایقو څخه دا معلومه شوه چې د پارساګا د قبیلې مشران یعنې د ننني ایرانیانو پخوانیو مذهبي او دولتي مشرانو د ځان په ګټه په خپل منل شوي دین کې لا هم د خپلې خوښې مطابق دروغ، تقلب، جعل او تذویر د دین په نوم وراضافه کړي وو .

د یو ملت سیاسي او مذهبي مشران چې د خپل شخصي ګټو په خاطر د خپل هېواد په تاریخ ، مذهبي او دیني کتابونو کې درواغ ، تقلب ، جعل او تذویر روا ګڼي او ددیني احکامو په حیث یې په دیني کتابونو کې وراضافه کوي ، نو دا جعلکار او درواغجن مشرتوب به د نورو ګاونډیو هېوادونو او ملتونو مخصوصاً د خوب وړي ویده پښتون ملت د تاریخ ، علم ، فرهنګ ، کلتور او نورو مادي او معنوي شتمنیو په غلا ، چور او چپاول څه وشرمېږي او څه صرفه به پرې وکړي ؟ .

## 11: دفردوسی په شاهنامه کښی د ایرانیانو تقلب:

دا خبره د ذکر وړ ده چې فردوسي د خپلې شاهنامې تر لیکلو وړاندې پخواني خدای نامې ، شاهنامې او ډېر زاړه اثار مطالعه کړي وو او هم یې د پوهو سپین ږیرو (ریشانو) څخه پوښتنې کړې وې او وروسته یې بیا دا معلومات په خپله شاهنامه کې د شعر په ژبه راوړل .

فردوسي خپله شاهنامه د سلطان محمود غزنوي په وخت کې ولیکله او هغه یې د پښتونخوا امپراطور سلطان محمود غزنوي حضور ته د انعام د ګټلو لپاره وړاندې کړه ، خو پاچا هغه ته مناسب انعام ورنکړ او فردوسي خپله شاهنامه بیرته د ځان سره یوړه .

دا خبره هم مهمه ده چې لوستونکي پرې پوه شي ، د سلطان محمود په وخت کې د پارس یا ایران په نوم هېواد وجود نه درلود او دا سیمه تر عراق پورې د پښتونخوا د امپراطورۍ برخه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم وخت چې ایران د یو مستقل هېواد په نوم منځته راغی چون خپل تاریخي ویاړونه یې نه درلودل او په پښتونخوا کې د پښتنو دولتونه ضعیفه شوي وو ، نو د خپل همېشني عادت مطابق چې د هر ملت د مادي او معنوي ارزښتونو غلا کول دي ، د پښتنو د تاریخي ارزښتونو په غلا کولو یې پیل وکړو او د پښتنو تر تاریخ وړاندې پاچاهان او پهلوانان یې د ایران وبلل او د فردوسي د شاهنامې په بیتونو کې یې د "ایران" لفظ ورزیات کړ .

د احساس کمترۍ له سببه د ایران د سیاسي او فرهنګي مشرتابه د ښکاره معنوي غلاو پته د لاندې جملو څخه معلومېږي .

د ایران یو محقق (ډاکتر سید شهرام ایرانبومي) وایي چې شپېته کاله پخوا د "پارس" نوم په "ایران" بدل شو .

دا محقق وایي: د موجوده اسنادو پراساس د (1934 ع) کال د سپتامبر په میاشت کې د ایران د خارجه چارو وزارت په بهرنیو هېوادونو کې خپلو ټولو سفارتونو ته یو متحدالمال لیک ولېږه او په هغه کې مامورینو ته لارښونه شوې وه چې د (1335 ع) د مارچ د (22) نېټې څخه وروسته دې په ټولو اسنادو کې د پارس ، پرس او پریشیا پر ځای د (ایران) کلمه ذکر شي .

په دې صورت کې دغه پوښتنه مخې ته راځي چې څنګه د فردوسي په شان یو لوی او اګاه شخصیت کولای شول چې زر کاله مخکې د

"ایران" لفظ دیو هیواد دنوم په حیث چې لا تراوسه په نړۍ کې د "ایران" په نوم هېواد موجود نه وو ، په خپله شاهنامه کې ذکر کړ .

ایا فردوسي داسې کولی شول چې په خپله شاهنامه کې د (ایران) نوم چې د منطقې په ادبیاتو کې هېڅ موجود نه وو په خپله شاهنامه کې دیو خپلواک هیواد په نوم ذکر کړي ؟

نه ، فردوسي داسې لویه غلطي نه ده کړې ، فردوسي د ایران نوم پر خوله هم نه دی راوړی ، په حقیقت کښې موجوده شاهنامه چې د ایران نوم په کې ذکر شوی دی د فردوسي اصلي شاهنامه نه ده ، بلکې دا د ایران د سیاسي او فرهنګي مشرتابه د هغو غلاو یو نمونه ده چې د تاریخ په اوږدو کې یې د نورو ملتونو مخصوصاً د پښتنو په شان د غفلت په خوب ویده ملتونو څخه د هغوی د فرهنګي ارزښتونو څخه غلا کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران سیاسي او فرهنګي مشرتابه لمړی دا کوښښ وکړی چې د پښتونخوا او پښتنو تر تاریخ وړاندې سیاسي مشرانو، پاچاهانو او پهلوانانو اصلي نمونه بدل کړي او ورسته بیا د پښتون ملت د تاریخ دا ستر پاچاهان، ستر شخصیتونه او جنګی پهلوانان د ایران وبولي .

دمثال په ډول:

د پښتنو د ستر پاچا یما نوم یې په جم یا جمشید بدل کړی دی .

د پښتنو د ستر پاچا ساګ نوم یې په دې جرم چې د ایران خاوره یې نیولې وه داژدهاک یعني ښامار په نوم بدل کړی دی .

دپښتنو د ستر پاچا تریتونه نوم یی په فریدون بدل کړی دی.

د پښتنود ستر پاچا کاوه کواتا نوم یې په کیقباد بدل کړی دی .

د پښتنو د ستر پاچا کاوه اوسن نوم یې په کیکاوس بدل کړی دی .

دپښتنو د ستر شهزاده سیاورشن نوم یې په سیاوش بدل کړی دی .

دپښتنود ستر پاچا کاوه هوسروایا نوم یې په کیخسرو بدل کړی دی .

دپښتنو د ستر پاچا غرغښت نوم یې په ګرشآسپ بدل کړی دی او داسې نور، اودا ټول پښتانه پاچاهان ئی ایرانی بللی دی.

د مغلو او انګریزانو میراث خور پاکستان همدا نن عین کارکوي خپل اتومي راکټونه د غزنوي، غوري او ابدالي په نوم نوموي، که پښتانه همدغه شان د مرګ په خوب ویده اود بې تفاوتۍ او بې اتفاقۍ په مرضو مبتلا وي، سبا به دا د پښتونخوا خاوره هم د پاکستان خاوره بولي، غزنویان، غوریان او ابدالیان به د پاکستان پاچاهان او امپراطوران او پنجابیان بولي .

## 12: په قران مجید کښې د ایرانیانو تقلب:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دي ورستيو وختونوکې د ايران مذهبي مشرتابه په يو داسې تاريخي اونه بخښونکي جعل او تذوير لاس پورې کړی دی چې ټوله اسلامي نړۍ او غيری اسلامي نړۍ ورته حيرانه ده .

د ايران د ځينو متعصبيو مذهبی مشرانو دا ستره بې شرمي د بشريت په تاريخ کې د جعل کارۍ ، درواغو او تذوير يو بې مثاله شاهکار دی چې په يويشتمه پېړۍ او د انټرنيټ په زمانه کې يې انجاموي .

پر (20 اوت د 2011 ) د ايران په (ګامرون) وېب سايټ کې يو سل فيصده دروغ بيان خپور شو ، مورږ د ګرانو لوستونکو لپاره هغه بيان ټکي په ټکي په لاندې ډول ليکو :

(کشف يک قران خطي با 115 سوره در بيابان ها قم .

نوشته شده در اوت 20 ، 2011 به وسيله شايګان آسفنديارې .

خبرګزاري فارس: د رپی حفاری ګروهی از باستان شناسان در اطراف شهر قم ، يک جلد قران کريم که قدامت ان به هزار و چهار صد سال پيش باز ميګردد ، کشف شد .

پيش از اين نسخه هاي خطي و قديمي فراواني از قران کريم در جريان حفاري ها بدست امده بود اما انچه اين قران را از سا ير نسخه ها متمايز ميکند ، 115 سوره بودن ان است ، امري که بحث هاي فراواني را به دنبال داشت .

به ګزارش خبر ګزاري فارس ، اين نسخه خطي پس از کشف بلا فاصله به حوزه علميه قم منتقل شده تا علما و مراجع عظام درباره صحت و سقم سوره صد و پانزدهم تحقيق وبرسي کنند .

ايت الله مقتدايي مدير حوزه علميه قم درين ارتباط به خبر نګار فارس ګفت:

" ما تا قبل از کشف اين نسخه نيز مي دانستم که قران کريم در حقيقت 115 سوره داشته است اما به دو لحاظ هيچ وقت انرا بيان نمي کرديم .

اول اين که نمي خواستم رشته پيوند مان با برادران اهل سنت از اينکه هست نازکتر شود ،ودوم اينکه مدرک مستدلي نيز در اختيار نداشتم .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما در روايات اهل تشيع داريم كه پيامبر اكرم پيش از رحلت شان يک جلد قران كريم را بدست سلمان فارسي ميدهد واز او ميخواهد كه قران را به ايران برده ودر جاي بيرون از شهر قم دفن كند .

حضرت رسول نسخه ديگري از كتاب را به هنگام حج الوداع همرا با خود ميبرد ، اما ابو بكر به بهانه تلاوت قران كتاب را از پيامبر قرض مي گيرد وديگر هرگز انرا پس نمي دهد .

پس از فوت پيامبر ابو بكر سوره صد وپانزدهم را پاره كرده و مي گويد كه قران فقط صد وچهارده سوره دارد ،موضوعي كه تا به امروز مورد پذيرش غالب مسلمين بوده است ، اما مسئله اي كه خارج از درک مغز كوچک ابو بكر بوده اين است كه رسول اكرم علم غيب داشتند وبراي همين هم نسخه ديگري را در دل خاک شهر قم به امانت گذاشتند زيرا مي دانستند كه روزي به دست اهلش خواهد رسيد "

ايت الله مقتدايي د مورد علت اين رفتار ابو بكر مي گويد :

" سوره صد و پانزدهم به صراحت تكليف جامعه مسلمين را پس از رحلت پيامبر مشخص مي كند . درين سوره نام هر دوازده امام شيعيان به صراحت ذكر شده وخداوند فرموده اند انان جانشينان بر حق پيامبرند ، همچنين در ايت پاياني اين سوره نام جانشينان امام زمان در زمان غيبت امده است .

به عنوان مثال ، مقام معظم رهبري تحت عنوان السيد علي الخا منه اي در ايت شصت وچهار به عنوان رهبر مسلمين جهان در عصر حاضر معرفي شده است ودوبار هم تاكيد شده كه هيچ مسلماني بدون تبعيت كامل از فرمايشات ايشان وارد بهشت نخواهد شد " )

د ايران دځينو سياسي او مذهبي متعصيبو مشرانو دا جعل كاري دهغو جعل كاريو سلسله ده چې ددوی اخلافو ددوی په ديني كتاب " اويستا " كې كړې وې او يا يې د فردوسي په شاهنامه كې كړې وې .

تاسو وګورئ د ايران ځينو مذهبي او سياسي مشرانو په څومره بې شرمۍ او بې حيايۍ د خپلو شخصي ګټو په خاطر د خدای(ج) په مقدس كتاب قران كريم كې جعل كاري وكړه ، په هغه كې يې په جعل سره يو سل او پنځلسم سورت جوړ كړ اود دې جعلي سورت په

" څلورشپېتم " ايت كې يې د ايران د شيعيانو اوسني مشر سيد علي خامني د نړۍ د مسلمينو اوسنی مشر بللی دی او دده د اطاعت څخه بغير څوک جنت ته نه شي تللای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددی خبری معنی داده هر څوک چی د ایرانیانو د مذهبی مشر ایت الله سید علی خامنیی هر فرمایش نه منی هغ کافر دی او جنت ته نشی تللای...

د پورته ذکر شوي **جعل** کاريو څخه معلومېږي چې د تاريخ په اوږدو کې ايرانيانو په هرشي کې **جعل** کاري کړې ده .

د ايران ديني او سياسي مشرانو د خپلو شخصي ګټو په خاطر ددوی په ديني کتاب اويستا ، د فردوسي په شاهنامه او د خدای(ج) په مقدس کتاب قران کريم کې تغيرات راوستلي دي .

د ايران د مذهبې او سياسي مشرانو د پورته ذکر شويو **جعل** کاريو څخه بايد هر پښتون پند واخلي ،اوهر وخت چې د هری دولتی او غیری دولتی ایرانی اداری او اشخاصو سره هره معامله کوي پښتون بايد دومره محتاط وي ، لکه يو مسلمان چې د شيطان سره معامله کوي .

دنړۍ دټولو مسلمانانو مخصوصاً دپښتنو د علماوو دا ديني فريضه او وظيفه ده چې د ايران دمتعصيبو شعيه مذهبې مشرانو د **جعل** کاريو په باره کښی دنړۍ مسلمانان او پښتانه خبر کړی.

که چیری د ایران مذهبی او سیاسی مشران د پورته **جعل** کاری سره موافق نوای اودا **جعل** کاری ئی دافرادو کار بللای،نو بیا دا په کار وه چی د ایرن مذهبی او سیاسی مشرتابه ددی بی شرمانه **جعل** کارۍ دمرتکبینو سره د سلمان رشدی په شان برخورد کړیوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## د(۱۴۰۰)قبل الميلاد څخه بيا د اسلام تر ظهور پورې د پښتنو تاريخ ته ډېره لنډه اشاره:

موږ دلته دقبل الميلاد څخه بيا د اسلام تر ظهور پورې د پښتنو تاريخ ته ډيره لنډه اشاره کوو .

1: دپښتونخوادسيمو،دريابونو ،غرونو او ښارذکراوهمدارنګه د پښتونخوا په پاکه خاوره کښې کې دپښتون ملت د اوسېدولرغونتوب د لرغوني ويدي تمدن د کتاب څخه معلومېږي.

دريګويد په سرودونو کښې د پښتونخوا د ډيرو سندونو ذکر شويدی مثلا:

۱:په ريګويد کښې د سند درياب د ،،سنده هو،، په نوم ياد شوی دی.

۲:په ريګويد کښې دکابل درياب د ،،کوبها ،، په نوم ياد شوی دی.

۳: په ريګويد کښې دګومل درياب د ،،ګوماني،،په نوم ياد شوی دی.

۴:په ريګويد کی د کورمی درياب د ،،کرومو،،په نوم ياد شوی دی.

۵: په ريګويد کی دسوات درياب د ،،سويتی،، په نوم ياد شوی دی

۶: په ريګويد کښې دکونړ درياب د ،،ورکه،،په نوم ياد شوی دی.

په ريګويد کښې د پښتونخوا د ځينو سيمو نمونه هم پدی ډول ذکرشويدی:

۱:په ريګويد کی دکابل مجرا د ،،ګندهاره،،په نوم ذکرشوی ده.

۲:په ريګويد کی ارغنداو يا اراکوزيا ،،د هره ويتی=سره سوتی په نوم ذکرشويده چی ددی نوم ريښه تراوسه لا ددهراوت او دهراوتی په شکل کښې پاته دی.



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳: پـه اتهـروا ویـد کښـې بلخ د ،،بلهیکـه،، او د مهابهـارت پـه کتـاب کښـې د ،،بهلیکه،،پـه نـوم یـاد شویدی چی ریښه یې د بهلی او بخدی څخه اخستل شوی ده.

۴:په اتهروا وید کښې د ګندهارا اوسیدونکی د ،،ګنداریس،، په نوم یاد شوی دی.

د ریګوید پـه دې سرودونو کې د علیشـنګ ،علینګار ، د بولان د درې د خلکو او د پښـتنو د نـورو قومونو د مېړانې ذکر شوی دی .

په ریګوید کښې دلسو اریایی قبیلو دمشهوری تاریخی جګړی ذکر شوی دی کومه چی د(1400 ق. م ) په شا وخوا کې د پنجاب د سند پرغاړه واقع شوې وه .

د ریګوید پـه دوهم ټوک کې د پکتـه (پښـتنو ) قومونو د نومیـالیو ، توریـالیو او پاچاهانو څو واره یادونه شوې ده .

په دې سرودونو کې د پښتنو پاچا د تورونه (تور وهونکي یا تورکښ) په نوم یاد شوی دی .

دریګوید پـه دوهم ټـوک کښـې دارغنـداب ، دهـراوت (هـره ویتـي) ،علیشـنګ او الینګار (الینـا )، دبولان دره (بهالانه) په وادیو کې دپښتنو د پني ، ډاسه ، پراوته او بریسه قومونو ذکر راغلی دی چې بریسه (بړيڅ) ، پني ، ډاسو (سلیمانخیل )او پروتي (الکوزي) قومونه اوس هم پـه لـوی کنـدهار کې پراته دي .

2 : د اشور د سلسلې د شاهانو له جملې څخه نینوس ، سـمیلرامس هـم د خپلې واکمنـۍ د عظمت او اقتدار په وخت کې د "بیوته" په مشرۍ د پښتنو پر هېواد یرغلونه کړیدي ، خو پښـتون مېړني ملت ددوی یرغلونه پر شا تمبولي دي او هغوی ته یې ماتې ورکړې ده .

د دې خبرې ثبوت د اشوري دورې د مېخي خط د هغه زړې نسخې د پیدا کېدو او د هغې د ترجمې څخه معلومېږي .

د اشوري دورې د دې مېخي خط دا زړه نسخه د "تګلات فلازار " له قوله وايي چې تر مـیلاد یـوولس سوه **1100** کاله وړاندې د دوه څلوېښتو قبیلو په منځ کې د ارا کوتو (قندهار ) ، هراهوتي (ارغنـداب )

(c) ketabton.com: The Digital Library



اونيس (نيش) د خلکو ذکر کوي او وايي چې دې قبيلو د اشوريانو واکمن "بيوته "تـه ماتـه ورکړه او ځانونه يې ازاد کړل .

3 : "هيروډوټس" د يونان پخواني تاريخ نويس چې په (480-425 ق . م) يې ژوند کاوه پښتـانه يې د پاکتيوس او د پښتنو د اپريدو قبيله يې د (اپاروتي) په نوم ياد کړيدي او دی وا يي چې:

هغه ولس چې د هند په شمال کې د (پا کتي ايکي) په هېواد کې (د پښتنو پـه هېـواد کـې) پراتـه دي د استوګنې ډول يې د بلخيانو

(باکتريانو) دی ، دوی خورا جنګيالي او توريالي خلک دي دا خلک په (486-465 ق . م) کې د فاتح " خشيارا شا " (هخامنشي ) سره ملګري وو پوستينان يې اغوستي وو او لـوی لـوی د غشـو ليندۍ او وطني چړې ورسره وې .

4 : د "هلبرانت" په نوم يو تاريخ نويس "هلبرانټ "د ريګويد په حواله وايي چې:

په اراکوسيا (قندهار) کې يوه قبيله ده چې (واسـو ديـوا ) يـې پاچا و او دده زوی (سـوداس) نومېده ،دې قبيلې د سند تر روده برۍ ومونده او جنګي کارنامې يې د افسانو او نقلو په شان مشهورې وې .

5 : کله چې د يونان لوی فاتح سکندر مقدوني (327-329 ق . م) د ايران دهخامنشي کـورنۍ پـر اخيـري حکمران دريم داريوش (کدمان) حمله وکـړه ، پـه دې جنګ کې داريوش ماتـه وخوړه ، د پښـتونخوا سيمو ته راوتښتېده او پښتنو هغه د هغو جنايـاتو پـه جرم مـړ کـړ ، کـوم چې ده او دده کـورنۍ د خپـل حاکميت په دوران کې د پښتنو سره کړي و .

د داريوش تر ماتې وروسته يوناني سکندر پر پښتونخوا حمله وکړه ، پـه قنـدهار او د پښـتونخوا پـه ټولو نورو سيمو کې د سکندر سره سـخت مقاومت وشـو ترڅو چې د صـوات پـه وادي کې سـکندر د پښتنو له خوا زخمي شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سکندر مقدوني سره د پښتنو د مقاومت په هکله د یونان په تاریخ کې هم د فارامیزاد د افسانوي جنګیالو ذکر شوی دی .

سکندر د دریو کلونو سختو جګړو په جریان کې ونشو کړای چې د پښتنو هېواد اشغال کړي ، ترڅو په پای کې مجبور شو چې د پښتنو سره د دوستۍ او خپښۍ لاره خپله کړي او وروسته یې بیا د پښتنو په ملاتړ هند ونیو .

د یونان د مشهور تاریخ نویس "ډیورډور" په قول سکندر د هند تر فتحې د راستنېدو په وخت کې بیا هم د پښتنو څخه وېره درلوده او د پښتنو له وېرې بیا د پښتنو پر وطن رانغی او د پښتنو له ډاره د عربو د بحیرې له لارې پر ډېره اوږده لار ایران ته د تللو تکل شروع کړ چې د بلوچستان په ریګونو کې یې یو زیات شمېر سربازان له لاسه ورکړل او په (324 ق . م) کې د ایران "فهرج" ته ورسېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

## د پښتنو تاریخ ته د اسلام تر ظهور وروسته ډېره لنډه اشاره:

1 : پښتنو د اسلام دین د منطقي د نورو ملتونو په شان د عربو د توري په زور نه دی قبول کړی .

د اسلام د ظهور په وخت کې پښتنو په غور کې د شنسب تر مشرۍ لاندې سلطنت درلود .

شنسب د پښتنو له یوې جرګې سره د(35هه ق) او (40 هه ق) کلنو په منځ کې د امیر المومنین حضرت علي دربار ته ولاړ او د هغه په حضور کې یې ایمان راوړ .

هیواد ته د شنسب تر راستنېدو وروسته هغه د پښتنو د قومي او مذهبي مشرانو لویه جرګه راوغوښته او د اسلام د دېن په باره کې یې مشورې ورسره وکړې ، پښتنو د خپلو جرګو او مرکو په نتیجه کې د اسلام د مقدس دین په باره کې ژور معلومات په لاس راوړل او د اسلام د دېن ارزښتونه یې د پښتنو د فطرت یعنې

" پښتو او پښتونولۍ " د قانون سره مقایسه کړل .

د پښتو او پښتونولۍ د لرغوني قانون او د اسلام د مقدس دین د مقایسې څخه پښتنو ته معلومه شوه چې د اسلام مقدس دین تقریبا سل فیصده د دوی د فطرتي قانون یعنې " پښتو او پښتونولۍ " سره برابر دي ، همدا علت دی چې پښتنو د اسلام مقدس دین په خپله خوښه او رضا قبول کړی ، خو کله چې پښتنو د اسلام مبارک دین قبول کړ ، نو بیا یې تر عربو هم زیات جهاد وکړ او تر عربو یې زیات ولسونه د توري او تبلیغ په زور مسلمانان کړل .

2: د هند په لویه وچه کې د پښتنو غازیانو په توره او تبلیغ د اسلام مقدس دین خپور شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (375 هه ق) کې "شیخ حمید لودي" د هند د لویې و چې د ملتان په برخه کې د پښتني دولت بنیاد کېښود او دا دولت د پښتنو د قانون یعني پښتو او پښتونولۍ پر اساس اداره کېده .

که څه هم پښتنو د تاریخ په اوږدو کې همېشه په خپل پلرني ټاټوبي یعني د امو او اباسیند ترمنځ پرته سیمه یعني پښتونخوا کې مستقل دولتونه درلودل ، خو په ملتان کې د لودیانو د پښتني دولت زیات ارزښت په دې کې دی چې دا په اسلامی دور کې لومړی ځل دی چې پښتنو د پښتونخوا څخه دباندې د هند په لویه وچه کې پښتني مستقل دولت ایجاد کړي .

3 : د غزنویانو امپراطوري:

کله چې امیر ناصر سبکتګین په (367 ) کې د غزني حاکم شو ، نو دې سړي د لوی قندهار د زابل د خلکو سره دوستي وکړه او د مورخینو په قول په زرګونو پښتنو د امیر ناصر په فوځ کې خدمت کوي . د امیر ناصر تر مړینې وروسته د هغه زوی محمود زابلي د غزني پاچا شو ، ټولو پښتنو مخصوصا قندهاري پښتنو د خپل خوریي سره ډېرې مرستې و کړې او د هغه سلطنت یې ډېر پراخه کړ . پښتنو د محمود لپاره د هند ، ایران ، عراق او مرکزي اسیا ملکونه فتحه کړل .

د هندوستان "مهتره" یې اشغال او د "لارد کرشنا" مندر چې د هندوانو تر ټولو مقدس مندر دی ونیو ، پښتنو د دې مندر څخه د

"سو منات "مشهور بت مات کړ او د دې بت د نس څخه یې لعل او جواهر راوایستل .

هندوان د دې مندر د حفاظت لپاره په ډېر جرئت او مېړانې جنګېدل او هرډول قربانۍ ته حاضر وو چې د خپل دین د مقدس ترین مندر او د " سومنات" د بت څخه دفاع و کړي .

د دې سخت جنګ په جریان کې د محمود غزنوي د فوځ ترک توکمه عسکر او افسران د جنګ له میدان څخه وتښتېدل او پاچا یې تنها پرېښود ، خو پښتنو محمود تنها پرې نښود او په ډېره مېړانه یې دا جنګ وګاټه ، دلارد کرشنا مندر یې ونیو او د سومنات مشهور بت یې مات کړ .

د دې جنګ په باره کې یو پښتون جنګیالی داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترکـــــــو نــــــامردو داســــــې ودانګـــــــل لـــــــه نـــــــام او ننګـــــــه
زه یــــــو پښـــــــتون ووم چـــــــې ولاړ ومه د ســــــلطان تــــــر څنګـــــــه
تـــــــوره پـــــــه لاس پـــــــر ســـــــره اور د عرصـــــــات وخـــــــتم
د بت شکن سره پر دژ د سومنات وختم .

(پښـــــــتانه د تـــــــاریخ پـــــــه رڼـــــــا کښـــــــې -۲۸۲ مـــــــخ)

د محمود غزنوي د عصر یو تاریخ نویس چې " یمیني " نومېږي د هندوستان د جنګونو په جریان کې د پښتنو جنګیالو په باره کې داسې وايي:

**پښتانه د عجل په څېر یا د وږي زمري په ډول پر غلیم ورتلل ، پر کوتلو ختل ، لکه بر ښنا په ځنګلونو ننوتل ، لکه هوسۍ پر غرونو لو ړېدل ، لکه سیل په غرونو کې شیوه کېدل .**

سلطان محمود غزنوي د پښتنو په مرسته د پښتونخوا څخه یوه ستره امپرطوري جوړه کړې وه چې مرکز یې د غزني ښکلی ښار و ، چې په هغه وخت کې د نړۍ د ښارونو ناوې بلل کېده .




(c) ketabton.com: The Digital Library



# امپراطور سلطان محمود زابلي یا غزنوي

په لاندې ډول د سلطان محمود زابلي یا غزنوي د امپراطورۍ سرحدات ملا حظه کولای شئ .




<u>4: د غوري پښتنو امپراطوري .</u>

تر غزنوي امپراطورۍ وروسته د غوري پښتنو د سلسلې څخه سلطان غياث الدين غوري په منطقه کې ستره امپراطوري جوړه کړه چې هند او د منطقې د هېوادونو زياتې برخې يې په خپل قلمرو کې درلودې .

د غوري پښتنو ستر شاهنشاه سلطان غياث الدين غوري د پښتونخوا څخه يوه ستره امپراطوري جوړه کړه ، چې مرکز يې په پښتونخوا کې د فيروز کوه ښار وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library






سلطان غیاث الدین غوری شهنشاه افغان (۵۵۸ هـ ـ ق)

*Sultan Ghiassuddine le Ghouride*
*Empereur Afghan (1192)*

په لاندې ډول د تهران څخه تر بنګال پورې ګران لوستونکي د غوري امپراطورۍ سرحدات ملا حظه کولایشي .



(c) ketabton.com: The Digital Library



5: په هندوستان کې د غلجي پښتنو امپراطوري:

د غـور تـر امپراطـورۍ وروسـته غلجيـانو د جـلال الـدين فيروزشـاه او تـر ده وروسـته دده وراره علاوالدين غلجي په هندوستان کې ستره امپراطوري جوړه کړه چې هند او د منطقې دهېوادونو زياتې برخې يې په خپل قلمرو کې درلودې .



سلطان علاءالدین خلجی محمد شاه اول (۶۹۵ هـ.ق)
Sultan Aala-Ouddine Khildji (1295)

6: په هندوستان کې د لودي پښتنو امپراطوري:

په هند کې د غلجيانو تر امپراطورۍ وروسته لوديانو د سلطان بهلول لودي په مشرۍ په هندوستان کې ستره امپراطوري جوړه کړه چې هند او د منطقې د هېوادونو زياتې برخې يې په خپل قلمرو کې درلودې .

7: په هندوستان کې د سوري پښتنو امپراطوري:

سوريانو د نامتو شېرشا سوري تر رهبرۍ لاندې په هند کې ستره امپراطوري جوړه کړه چې هند او د منطقې د هېوادونو زياتې برخې يې په خپل قلمرو کې درلودې .

پښتنو د تاريخ په اوږدو کې په پښتونخوا او هندوستان کې سترې امپراطورۍ ايجاد کړې چې د هند او منطقې په تاريخ کې د ترقۍ او پرمختګ تر ټولو ښه مثالونه دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شیرشاه سوری شهنشاه افغان (۹۴۶ هـ ق)

Cher Chah Souri Empereur Afghan (1539)

8 : پـه پښتـو نخـوا کـې دهـوتکي سلطنت ایجاد :

په پښتونخوا کې د مغلو د وحشت او دهشت پر ضد د پښتنو د (544 ) کلن جهاد او مقاومت په نتیجه کې قندهاری پښتنو په قندهار کې د میرویس نیکه تر مدبرانه لارښوني لاندې د پښتنو د نوي خپلوا ک دولت خښته کېښوده او د میرویس نیکه زوی د اصفهان فاتح اعلیحضرت شاه محمود هوتک د ایران د صفوي سلسلې د شیعیه مذهب د تعصب پر اساس ولاړه فاسده امپراطوري دړې وړې کړه او په نتیجه کې د پښتنو ستر د ښمن صفوي شاه حسین مجبور شو خپل تاج په خپل لاس د ایران د فاتح اعلیحضرت شاه محمود هوتک پر سر کېږدي .

9: د هوتکي دولت تر زوال لږ وروسته پښتنو د لوی احمد بابا تر مشرۍ لاندې په دې منطقه کې د خپل غزنوي او غوري امپراطوریو په شان ډېره ستره امپراطوري جوړه کړه چې بقایا یې نننی افغانستان دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته لنډې تاريخي تبصرې څخه دا جوتېږي چې پښتون ملت د تاريخ په اوږدو کې د دې منطقې يو عظيم او هميشه بادار ملت و او په دې منطقه کې د نورو مېلتونو په تناسب يې ډېرې امپراطورۍ جوړې کړې دي او د منطقې د نورو سترو قومونو په تناسب زيات وخت خپلواک او سېدلي دي .

د تاريخ په اوږدو کې پښتون ملت د نورو منطقوي ملتونو او قومونو په تناسب د دې منطقې په سوله ، ثبات ،سياسي ، اقتصادي او ټولنيز پرمختګ کې تر بل هرملت او قوم زيات ارزښت او اهميت درلوده .

د دې منطقې تاريخ ، تمدن او فرهنګ د پښتنو د تاريخ ، تمدن او فرهنګ څخه بغير نا مکمله دی .

که د اويستا د ګيو مرتن سلطنت په پښتونخوا کې د پښتنو د سلطنت د ليکلي تاريخ مبدا وټاکو چې د زردشت دين تر پيدا اېښت تقريبا درې زره کاله وړاندې و او هم په ريګويد کې ذکر شوي د پنجاب د سيند د غاړې د لسو اريايي قبيلو مشهوره جګړه (1400 م . ز ) هم ور سره ذ کر کړو ، بيا د اسلام د ظهور څخه تر نن پورې راشو ، نو په زغرده ويلای شو چې په پښتونخوا کې د پښتنو د موجوديت ،حاکميت او سلطنت کولو ليکلی تاريخ تقريبا لس زره کاله ته رسېږي.

که په پښتونخوا کې د پښتنو د اوسېدو ناليکلي تاريخ هم د ليکلي تاريخ سره يوځای شي ، نو موږ ويلای شو چې پښتون ملت د امو او اباسيند په منځ يعنې د پښتونخوا په پاکه او سپېڅلې خاوره کې تر لسو زرو کلونو زيات تقريبا هميشه د يو خپلواک او سيال ملت په حيث ژوند کړی دی .

که په غور سره ځوک د پښتنو ټولنه مطالعه کړي ، نو تر نن پورې هم په پښتون ملت کې د لرغونو اريايانو خواص ليدل کېږي .

پښتون ملت د خپل اقتصادي ، سياسي او ټولنيز ژوند د ترتيب او تنظيم لپاره خپل خاص قوانين ، خواص ، اخلاق ، رسوم ، رواج او عنعنات لري چې د هغو پر اساس او احترام خپل ورځني ژوند ته دوام ورکوي .

ستر پښتون ملت د خپل لرغونو تاريخي قوانينو پيروي او احترام دومره قوي او غښتلی کړيدی چې دې ستر ملت د پرديو د تاريخي يرغلونو د طوفانونو په مقابل کې د زرګونو کلونو راهيسې په خپل تاريخي ټاټوبي پښتونخوا کې ځان تر نن پورې ژوندی ساتلی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریيم فصل

## په پښتونخوا کې د پښتنو د دایمي پاتې کېدو علتونه:

دا چې پښتنو څنګه په زرګونو کلونه په خپل ابدي پلرني ټاټوبي د امو او اباسين په منځکې پرته سیمه یعني پښتونخوا کې خپل ژوند ته دوام ورکړی او د تاریخ د ټولو یرغلیزو طوفانونو او سختیو مقابله یې په مېړانه او شجاعت کړې ده او تر نن پورې په دې منطقه کې خپل ژوند ته دوام ورکوي د دې واقعیت څېړنه شاید زیات وخت وغواړي او ډېرو علمي تحقیقاتو ته ضرورت پیدا شي ، خو زه یې د زیاتو سببونو له جملې څخه صرف لاندې څو سببونه ډېره لنډه اشاره کوم:

## لمړی: د دایمي خوني روابطو او تشکیلاتو لرل:

کله چې خدای(ج) د ځمکې پر مخ انسانان پیدا کړل ورسره یو ځای د انسانانو ترمنځ د بیلو بیلو عواملو په سبب د جنګ او جګړې دود هم منځته راغی .

د تاریخ په اوږدو کې د انسانانو ځینو کورنیو د نورو کورنیو پر ضد ، ځینو قبیلو د نورو قبیلو پرضد ، ځینو پاچاهانو ، امپراطورانو او دولتونو یو د بل پرضد حملې کولی ، یو بل یې وژل ، یو بل یې غلامان کول او دیو او بل هر څه یې پایمال کول او د منځه وړل . . .

د خدای پاک پر ځمکه همېشه د زور قانون چلېدلی دی او نن هم په یو شکل د زورقانون چلېږي د کمزورو ولسونو د هر څه واک د غښتلو ولسونو پلاس کې دي .

په پخوا زمانو کې به بیله هېڅ ډول بهانې او پلمې زورور قوم پر کمزوري قوم حمله کوله او د هغه هر څه به یې په خپله قبضه کې اخیستل او د هغه قوم زیات نفر به یې وژل او پاتې به یې خپل غلامان کول .

د تاریخ د لومړنیو وختو څخه رانیولې بیا تر نن پورې زورورو پر کمزورو د حملو لپاره د ځانه بهانې او پلمې جوړولې ، کله به یې د خپل دین د پراخوالي او خپرېدو په نوم پر نورو قومونو حملې کولې ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله به يې د تجارت د پرمختيا او ترقۍ په نوم پر نورو قومونو حملې کولې او د هغو هرڅه به يې لوټ کړل ، کله به يې بيا د خپل ايډيالوژۍ اويا د سياسي نظام د خپرولو په نوم کمزوري قومونه تر پښو لاندې کړل د هغو هر څه به يې لوټ کړل او هغوی به يې خپل غلامان کړل ، چې دا ناوړه دود ترنن پورې هم روان دی .

همدا علت شو چې د انسانانو د تاريخ د هغه لومړي شروع څخه هر فرد ، هرې کورنۍ ، هر قوم او هر سلطنت تر خپل توان او طاقت پورې کوښښ کاوه چې د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، جغرافيايي قلمرو او ګټو څخه دفاع وکړي .

هر ملت چې ډېر او منظم نظامي توان او طاقت درلود هغه هم خپل ځان د پرديو د حملو څخه ساتلای شو او هم يې که غوښتي واي د وخت د معمول سره سم نور قومونه لوټولای شول .

موږ دلته د پښتون ملت جوړښت او سرچينې ته يوه ډېره لنډه اشاره کوو او په دې باره کې د نامتو محقق او تاريخ پوه علامه عبدلحي حبيبي صاحب څو ډېرې لنډې جملې را اخلو :

د پښتنو د اصل او نسب په باره کې ستر محقق علامه عبدالحي حبيبي داسې وايي :

پښتانه خو د تاريخي تحقيقاتو له پلوه هغه زاړه اريايان دي چې دا څو زره کاله پرله پسې په دغه خپله مځکه (پښتو نخوا ) کې پراته دي ، په پښتنو کې تر اوسه هغه د اريايانو زاړه خواص او مزايا ليدل کېږي .

په اجتماعي حالاتو کې دا يو منلې حقيقت دی چې کورنۍ د ټولنې منشا ده او د اجتماعي ژوندون زده کړه او وده هم لومړی په کورنۍ کې کېږي . . .

کورنۍ د ټولنې يو کوچنۍ نمونه ده او په پښتنو کې هميشه کورنۍ خاص اهميت درلود ، تر کورنۍ وروسته (پښه ) ، (زي ) او نورمراتب وه چې په پاي کې نو ټوله په پښتون ګډېده او دا ټولې کورنۍ او ټبرونه د پښتون ملت اجتماعي شعبې وې چې د اجتماع په علم کې (سلا ليه ټولنه) ورته وايي او داسې ټولنې د خپلوۍ او تناسل په رابطه جوړيږي او د دوی وينه او پښت هم تقريبا يو وي .

په سلا ليه ټولنو کې دوه ډوله روابط شته چې ځنې پر ميندو سره و يشل کېږي او ځيني پر پلرونو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه هغه قبایل دي چې پر پلرونو سره وېشل شوي دي او (ابوت) یعنې پلارګلوي ددوی د وېش ستنه ده ، د پښتنو (اسما الرجال) به تاسو ته ښه ښکاره شي چې هره ټولنه بېل پلار لري او دا پلرونه په پای کې ټول د پښتون په لوی پلارګډېږي او په دوی کې د پلار د قبیلوي وېش مسلسل عنعنات شته .

ویکتورګیګر الماني شرق شناس د پخوانیو اریایانو په باره کې لیکي چې(پخوا اریایانو هم داسې قبایل لرل چې سره خپل به وه )

د اویستا په زړه ژبه کې(ویس) او د هند په ریګوید کې هم دغه کلمه د کورنۍ او قبیلې په نوم استعمال شوې ده .

دوکتور ګوستاولوبون د زړو اریایانو د کورنۍ په بحث کې وایي:

(پخوا ددوی د ژوندون او معاشرت اساس په کورنۍ ټینګ وو ، ټول خلق خپلو پلرو او نیکونو ته منسوب کېدل ، بلکې دوی د خپلې کورنۍ پرستش کاوه ) .

دپښتو ژبی د ،،کهول یا کورنۍ،، کلمه پخوانیو اریایانو د ،،کولا،،په نوم یادول،همدا کولا ددوی د ژوند بنسټ وو.

په پښتنو کښی همدا نن هم کهول یا کورنۍ ددوی د ټولنیز ژوند بنسټ جوړوی.

دپخوانیو اریایانو څو کولا(کهوله یا کورنۍ)چی به سره یو ځای شوی نوهغوی به ورته ،،ګرامه،، یا ،،ویسه،، ویل او د پتی په نامه یو مشر به یی درلودی ،په پښتنوکښی همدا نن هم چی څو کهوله سره یو ځای شی نو یوه ،، زی،، جوړوی...

زړواریایانو به د پاچا داوسیدو ټاټوبی ته ،،پور،، وایه،همدانن هم پښتانه اکثره وخت د پاچا په واسطه جوړشوی ځای ته د ،،پور ،، کلمه استعمالوی دمثال په ډول امیر شیرعلی خان په کابل کښی د بالا حصار څخه دباندی یو نوی ښارګوټی جوړ کړی او هغه ته یی د ،،شیر پور،، نوم ورکړی او ترنن پوری هم هغه سیمه د

،، شیر پور،، په نامه یادیږی،چی د شیر پور معنی د شیر یا شیرعلی خان ښارګوټی یا داوسیدو د ځای معنی لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دا نن هم په پښتنو کې داسې صفات او عنعنات وینو چې زرګونه کلونه وړاندې په زړو اریایانو کې لیدل کېدل .

د مثال په ډول موږ د جرمني عالم دوکتور ګیګر د خوا د زړو اریایانو دا تعریف د اوسنیو پښتنو سره مقایسه کوو .

ګیګر وایي: (دوی ته دا ښکاره وه چې موږ د یوه ملته یو ، نژادي او پښتې روابطو دوی په خپلو نیکونو او پلرونو پورې نښلول ، دوی خپله ژبه ، دودونه او پښت مشترک سره باله . . . )

دې عالم په پوره ته ذکر شویو الفاظو کې کټ مټ د پښتنو روحیات ، صفات او سجایا ذکر کړیدي .

د پوره تاریخي اسنادو او دلیلونو څخه دا معلومیږي چې پښتانه د هغو زړو اریایانو نسل دي چې زرګونه کلونه وړاندې د پښتونخوا پر مځکه یعنې د امو او اباسین په منځکې اوسیدل .

اوسني پښتانه د زرګونو کلونو راهیسې یعنې د خپلو اریایي نیکونو د وخته راهیسې بیا ترنن پورې په پښتونخوا کې اوسیږي .

علامه حبیبي صاحب چې وایي د پښتنو بیلې بیلې پښې په یوه (زي) او څو(زي) په یو قوم او څو قومونو بیا د قومونو په( پښه) او د قومونو د څو پښو څخه بیا ستر پښتون ملت جوړ شویدي .

د پښتنو ټولې پښې ،زي او د قومونو پښې د وینې د نږدیوالي پر اساس سره ګډ یږي .

د پښتون ستر ملت د ټولنیزو شعبو مخروط په قاعده کې پر سل ګونو شعبو وېشل شوي دي ، څو څومره چې د قاعدې څخه د راس و خواته ځي شعبې د وینې د نږدیوالي پر اساس سره نږدې کېږي ، تر څو په پای کې د یوه پښتون پلار د اولاد په نوم یو پښتون ویاړلي ملت ځني جوړیږي .

ټول پښتانه د یو پښتون پلار اولاد دي او د دې پیاوړي پلار اولاد نن د خدای پاک په فضل یو ستر پښتون ملت جوړ کړیدي .



پښتون عادل او فرهیزګاره پاچا بیټ نیکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د ډېرېدو لپاره د پښتنو سپېڅلو نيکونو همېشه د لوي خداي (ج) په دربار کې ډېرې دعاوې او زارۍ کړې دي ، چې د نمونې په ډول موږ دلته د پښتنو د يو ستر پاچا او مشر بيټ نيکه د مناجاتو ذکر کوو چې د لوي خدای(ج) له دربار څخه يې د پښتنو د ډېروالي خواستونه کول ، څکه چې بيټ نيکه پوهيده چې هر څومره چې د پښتنو نفوس ډېر شي په هغه اندازه پښتانه ددوی د د ښمنانو د حملو څخه ساتل کيداي شي .

## د بيټ نيکه مناجات

لويـــه خدايـــه لويـــه خدايـــه * ســـتا پـــه مينـــه پـــه هـــر ځايـــه
غـــــر ولاړ دي درنـــــاوي كـــــې * ټولـــــه ژوي پـــــه زاري كـــــې
د لتـــه دي د غـــرو لمنـــي * زمـــوږ كيـــږدی دي پـــه كـــې پلنـــې
دا وګـــړي ډېـــر كـــې خدايـــه * لويـــه خدايـــه لويـــه خدايـــه
دلته لږ زموږ اوربل دي * وو ړ كوركي دي وو ړ بورجل دي

مينـــه ســـتا كـــې مـــوږ ميشـــته يـــو * بـــل د چـــا پـــه ملـــه تلـــه نـــه يـــو
هســـــک او مځكـــــه نغښـــــته ســـــتا ده * د مـــــړو وده لـــــه تـــــاده
دا پالنـــه ســـتاده خدايـــه * لويـــه خدايـــه لويـــه خدايـــه

بيټ نيكه هم دا خاصيت د خپل زړو اريايي نيكونو څخه په ارث وړي وو ، څکه چې د زړو اريا يانو په باره كې جرمني شرق پېژندونكي دوكتور ګيګر وايي:

( پخوا ددوی د ژوندون او معاشرت اساس په كورنۍ ټينګ وو ، ټول خلک خپل پلرونو او نيكونو ته منسوب كېدل ، بلكې دوی د خپل كورنۍ پرستش كاوه ، كوژده ، تولد او تناسل يې د دې سببه مذهبي مبارک دودونه ګڼل چې ددوې پښت پاتې شي او تېر يې ډېر شي ،زوی پردوی ډېر ګران او زيږيدل يې هم خوښي وه او د زوی نه درلودل يې د كورنۍ وراني او د پلرو د نامه وركېدل ګڼل . )

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه پورته خوي همدا نن هم په پښتنو کې شته .

د پښتون ملت د اجتماعي شعبو يعنې پښو ،زي ، خيل ، قوم او داسې نورو وېش د وينې د شراکت پر اساس شوي دي ، يعنې د يوه سړي د اولاد څخه د زامنو په نامه زي جوړ شوي دي ، د لمسيانو په نامه يې پښې جوړې شوې دي او په دې ډول د مخروط تر قاعدې پورې تللای شي .

د پښتنو د قومي جوړښت په مخروط کې چې هر څومره د قاعدې خواته کښته کيږئ په هغه اندازه يې څانګې ډېريږي او په هره اندازه چې د مخروط د راس خوا ته لوړ راځې په هغه اندازه يې څانګې کميږي او د وحدت خواته نږدې کېږي .

تر ټولو مهمه خبره داده چې د پښتنو قومونو وېش د پلار ګلوی پر اساس د وينې د شراکت اونږديوالي پر اساس شوي دي او دا وېش چې هر څومره په قاعده کې سره ليرې وي ، خو په راس کې بيا ټول د يوه پلار اولاد او يوه وينه ده ، نو په دې اساس د پښتنو وحدت او اتحاد د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د دنيا تر بله هر قوم ډېر اسانه کار دي .

## دوهم: د قانون تر سيوري لاندې ژوند کول:

که موږ نننۍ عصري نړۍ ته نظر واچوو دا را ته معلوميږي ، په هر هغه هېواد کې چې قانون حاکميت لري ، د قانون په تطبيق سره د ټولنې د وګړو ترمنځ ټولنيز عدالت تامين دي ، په هغه ټولنه کې دوامداره سوله برکراره ده ، دوامداره سوله د اقتصادي ودې سبب کېږي ، د ټولنې د وګړو ترمنځ ملي يوالي تامين دي او داسې نورې ټوليزې ښېګڼې مهيا دي .

دوامداره سوله ، د ټوليز عدالت تامين ، د ټولنې د خلکو ښه اقتصادي حالت او د ملي وحدت تامين د يوې ټولنې وګړي دومره غښتلي کوي چې د هر ډول داخلي پرابلم او خارجي تجاوز په مقابل کې مقاومت کولای شي .

دا چې پښتنو څنګه وکولای شول چې د تاريخ په اوږدو کې د يرغلونو د طوفانونو په مقابل کې مقاومت وکړي کوم چې ددوی پر خلکو او وطن تير شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ په اوږدو کې پښتانه د نړۍ د تر ټولو خونخوار یرغلګرو لکه نینوس ، کوروش ، داریوش ، سکندر ، چنګیز او دده خونخواره اولاده ، انګریزاو روس تر وحشي ترینو یرغلونو لاندې راغلي دي خو بیا هم میړني پښتون ملت د مځکي د مخ څخه پناه نه شو او ددې یرغلګرو په مقابل کې ئې سخت ترین مقاومتونه کړیدي او د هغو ټولو پېزي یې د پښتونخوا په پاکه خاوره پورې موښلي او پښتونخوا ئې د یرغلګرو په هدیره بدله کړیده .

زه په دې عقیده یم چې د یرغلونو د طوفانونو په مقابل کې د پښتنو د بقا او دوام یو اساسي علت ، سبب او دلیل دادي چې پښتنو د تاریخ په اوږدو کې د خپل سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او ټولنیز ژوند د ترتیب ، تنظیم او خپل منځی منازعاتو د حل او فصل لپاره قوانین طرحه کړي وو او د دې قوانینو پر اساس یې د خپل ژوند چارې پرمخ بیولي .

په بله وینا پښتنو د تاریخ په اوږدو کې یو قانوني نظام درلود او د قانون په چوکاټ کې یې خپل سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او ټولنیز ژوند عیار کړي وو ، دغه د قانون تر حاکمیت لاندې ژوند کولو پښتانه همیشه متحد ، یو موټې او قوي کړي وه ،د پښتنو اتحاد او یوالي پښتانه دومره قوي کړي وه چې د تاریخ د ټولو یرغلیزو طوفانو سره یې په بې مثاله ډول په میړانه او متانت مبارزه او مقاومت وکړي .

پښتانه د خپل اتفاق او اتحاد په برکت د مرګ او ژوند د مبارزو په میدان کې همیشه بریالي راوتلي دي او تر معاصر تاریخ پورې یې د یو قوي ملت په صفت په دې منطقه کې خپل ژوند ته دوام ورکړیدي .

دهغو ټولو قوانینو مجموعي ته د کومو پر بنیاد چې پښتنو خپل ورځني سیاسي ، اقتصادي ، نظامي او ټولنیز ژوند ترتیب او تنظیم کړیوو (پښتو او پښتونولي ) ویل کېدل ، یا په بله وینا د پښتنو د هغو منل شوو او د قبول وړ قوانینو مجموعه د (پښتو او پښتونولي ) په نوم یادیده او تر نن پورې هم د ( پښتو او پښتونولي ) په نوم یادیږي .

دا قانون (پښتو او پښتونولي ) د زرګونو کلونو راهیسې د پښتنو په منځکې د قبول وړ قانون وو ، او نن هم د پښتنو په منځ کې اکثره لوی او واړه مسایل د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس حل او فصل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني داسې پېچلي مسايل چې د دولت عدلي مقامات يې د حل او فصل څخه عاجز پاتي کېږي د پښتنو په منځ کې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس ډېر په اسانه حل او فصل کېږي .

د پښتو او پښتونولي قانون ليکلي بڼه نه لري ، خو په ټولو پښتنو کې په تقريباً يو شان قابل تطبيق دي .

هره فيصله چې د پښتو او پښتونولي پر اساس د پښتنو د جرګې له خوا وشوه هر پښتون دا فيصله که څه هم ډېره ستخته وي په ورين تندي مني او عمل پرې کوي .

د پښتنو دا لرغوني قانون يعني پښتو او پښتونولي چې ترنن پورې په پښتنو کې د قبول وړ قانون دي ، د پښتنو د پخوانيو نسلونو څخه نني پښتنو ته په وينه کې په ميراث را نقل شوي دي .

که څه هم پښتو او پښتونولي ليکلي بڼه نه لري ، خو بيا هم پښتو او پښتونولي د هر پښتون په وينه ، مغز ، فکر ، حواسو ، احساساتو ، خوى ، خاصيت ، عاطفي ، معنوياتو ، روحياتو ، اخلاقو او اعمالو کې وجود لري ، هر پښتون چې په رښتني معنا پښتون وي د پښتو او پښتونولۍ د قانون په اطاعت ځان مجبور او مکلف ګڼي او د پښتو او پښتونولي احکامو ته د تقدس په سترګه ګوري .

لکه څنګه چې هر ملت ځانته خپل خاص خويونه او خواص لري ، په همدي شکل پښتانه هم د خپل سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز ، نظامي ، اخلاقي او روحي ژوند لپاره ځانته خپل خاص خويونه ، خواص ، نفسيات ، روحيات ، دودونه ، عقايد ، د ژوند کولو لارې ، خيالات ، تفکر ، اداب ، عنعنات ، رواجونه ، جذبات او داسې نور ارزښتونه لري .

پورته ذکر شوي ارزښتونه پښتنو په داسې يو ټولنيزچوکاټ کې فورمول بندي کړيدي چې د ټولو پښتنو لپاره د قبول وړ دي او دغه ارزښتونو ته (پښتو او پښتونولي) ويل کېږي .

پورته ذکر شوي ارزښتونه په ښکاره ډول يو پښتون د غيرى پښتون څخه بېلوي .

په بله وينا "پښتو او پښتونولي" يو پښتون کس د غيرې پښتون څخه بېلوي .

په لنډ ډول ويلاى شو چې : پښتو او پښتونولي د پښتنو فطرت دى .

لکه څنګه چې يو زمرى او يا يو باز د خپل پلرونو څخه د ښکار او ژوند کولو طريقه په ارث وړي ، باز پورته الوتل کوي او پر مرغانو سلطنت کول يې د فطرت برخه ګرځېدلي ده او همدا شان زمري په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګله کې پر نورو حیواناتو په عدالت پاچاهي کول د خپل پلرونو څخه په ارث وړي او د دوی د فطرت برخه ګرځېدلې ده ،

په همدې ډول پښتنو هم د پښتو او پښتونولي په باعزته چوکاټ کې ژوند کول د خپل مېړنیو نیکونو څخه په ارث وړي دي .

هرهغه پښتون چې د پښتو او پښتونولي په نهایت ښکلي ، انساني ،عقیدوی او اسلامي ګاڼه سمبال نه وي ، هغه پښتون د انسانانو تر ټولو ټیټ او ناولی فرد شمېرل کېږي ، ځکه چې دا فرد د خپل پښتني فطرت څخه خلاص دی او یو بې فطرته موجود دی .

د مثال په ډول که یو زمری د خپل فطرت خلاف د ښکار کولو څخه ډډه وکړي، ډېر ژر به دی پر ځنګل او د هغه پر حیواناتو خپله پاچاهي له لاسه ورکړي ، د ښکار نه کولو په سبب به دومره ضعیف شي چې دده مادون حیوانات لکه شغالان ، ګیدړان او شرمښان به دا کمزوری زمری مړ او له منځه یوسي ، د بل ځنګل زمریان به پر دې ځنګل یرغل راوړي ځکه چې شغالان او ګیدړان خو د خپل ځنګل څخه د نورو زمریانو په مقابل کې دفاع نه شي کولای ، په دې ډول به د ځنګل د ټولو او سېدونکو ژوند د بې نظمۍ په جدي خطر کې ولوېږي .

د پورته ساده مثال څخه دا معلومه شوه چې که یو زمری د خپل فطرت خلاف عمل وکړي خپله ده ته او دده د ناکامۍ له رویه د ځنګل ټولو حیواناتو ته څومره لوی او نه جبران کېدونکی تاوان رسېږي ، په همدې ډول که پښتون خپل فطرت (پښتو او پښتونولي ) پرېږدي دوی به هم د کمزوري زمري په شان د دوی د مادونانو له خوا له منځه ځي او هېواد به یې د نورو ملتونو له خوا اشغالېږي او د پښتنو او د دوی د قدرت تر سیوري لاندې نورو وړو قومونو دایمي بربادي به منځته راځي .

د پښتو او پښتونولي د قانون د تطبیق لپاره د حکومتي قوانینو په شان پولیس ، قاضیان او څارنوالان نه دي مقرر شوي ، خو بیا هم پښتنانه د پښتو او پښتونولي د قانون ټولې فیصلې که څه هم ډېرې سختې وي ، د جرګې په خوله په ورین تندي مني او عمل پرې کوي .

د معاصر افغانستان په تاریخ کې هر پاچا د هېواد د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزو چارو د تنظیم لپاره ځانګړي قوانین تدوین کړیدي ، ملي سرود ، ملي نښان ، ملي بیرغ او د سیاسي نظام نوم او شکل یې معرفي کړیدي ،خو کله چې د هغه واکمن واکمني پای ته رسېدلې ده ، نو دده له خوا طرحه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي قوانين ، ملي سرود ، ملي نښان ، ملي بيرغ ، د سياسي نظام نوم او شکل هم ورسره يو ځای له منځه تللي دي چې ډير ساده ژوندي مثالونه يې د امير حبيب الله خان څخه بيا تر ملا محمد عمر پورې د ديارلس پاچاهانو له خوا د وړاندي شويو قوانينو ، بيرغونو ،ملي نښانونو ، ملي سرودونو ، طرحه شوي قوانينو او داسې نور له منځه تلل دي .

خو پښتو او پښتونولي داسې منل شوی لرغونی قانون دی چې د زرګونو کلونو راهيسې د پښتنو په منځ کې جاري او د قبول وړدي او هېڅ زورور تر نن پورې دا توان نه دی پيدا کړيی چې د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنو د ويني ، مغز ، عاتفي ، خصايصو ، روحياتو ، اخلاقياتو ، جذباتو ، احساساتو څخه وباسي ، تر نن پورې هيڅ بل داسې قانون هم منځته نه دی راغلی چې د پښتنو په منځ کې د پښتو او پښتونولي د قانون ځای ونيسي .

په لنډ ډول داسی ويلای شو چې:

پښتو او پښتونولي د پښتنو فطرت ابدی او ازلي قانون دی .

پښتو او پښتونولي هغه لرغوني بې بها او با ارزښت ترينه پښتني ارزښت دی چې د پښتنو نا ليکلی او ليکلی تاريخ ورسره تړلی دی .

پښتو او پښتونولي موږ ته دا راښيي چې پښتنو تر ليکلي تاريخ وړاندې د خپل سياسي اقتصادي او ټولنيز ژوند چارې څنګه سمبالولی او تر ليکلي تاريخ وروسته بيا تر نن پورې خپل سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند څنګه پر مخ وړي .

پښتو او پښتونولي د پښتون قام تاريخي پېژندګلوي او ملي روح دی .

پښتو او پښتونولي پښتانه او د هغو تاريخ او کارنامې په خپله پښتنو او د نړۍ نورو قومونو ته ورمعرفي کوي .

پښتو او پښتونولي د پښتون قام د يوالي سريښ او د پښتنو د يوالي او پر يوه واحد سياسي ،اقتصادي او ټولنيز مرکز د را ټوليدو يوازيني او عمده ترين عنصر او د جاذبې قوه ده .

که د پښتنو سره پښتو او پښتونولي نه وي ، نو پښتون قام د نړۍ د نورو قومونو په بې پايانه سمندر کې منحل کېږي او د تل لپاره فنا کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نړۍ د نورو ملتونو او قومونو په منځ کې پښتون تنها د پښتو او پښتونولي د عالي خواصو په درلودلو پېژندل کېږي .

پښتو او پښتونولي د هغه عالي او ښو خواصو ، صفاتو ، افعالو او اعمالو مجموعه ده چې یو پښتون د نورو انسانانو څخه بېلوي .

پښتو او پښتونولي د پښتون ستر ملت ملي روح دی که پښتو او پښتونولي د پښتنو د ټولنې څخه ولاړه شي داسې معنا لري لکه روح چې د بدن څخه ووځي ، یو انساني بدن چې هر څومره ښکلی او زړه وړونکی وي ، خو چې کله یې روح د بدن څخه والوزي ، نو بیا یې څوک ښکلا ته نه ګوري او نه یې څوک خواته ورنږدې کېږي ، بلکې هر څوک ځنې لیرې کېږي .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت د نیکونو او پلرونو هغه بې بها او با ارزښت ترین امانت او ارثي میراث دی چې ساتنه ، پالنه او راتلونکي نسل ته د هغه (پښتو او پښتونولي ) سالم سپارل د هر پښتون وګړي پښتني فرض بلل کېږي .

هر پښتون وګړی دا پښتني دنده لري چې په ورځني ژوند کې د پښتو او پښتونولي مطابق ځان عیار کړي ، پښتو او پښتونولي د خپل ورځني ژوند د ترتیب او تنظیم د قانون په حیث ومني او خپل نظر ، عمل ، کردار ، خوی ، خصلت ، روحیات ، جذبات او اخلاق د پښتو او پښتونولي سره برابر کړي او د یو پښتون په صفت پر پښتو او پښتونولي عمل وکړي ، پښتو او پښتونولي د خپل ورځني ژوند لاره وګرځوي او پښتو او پښتونولي د خپلو نیکونو او پلرونو د یو ګران ترین پښتني امانت او ارثي میراث په حیث خپلو بچو ته سالمه او امانته ورسوي .

د تاریخ په اوږدو کې کله چې پښتنو د پښتو او پښتونولي (پښتني فطرت) د قانون مطابق خپل نظر او عمل برابر کړی دی او ځانونه یې په رښتني معنا په نظر او عمل کې پښتانه جوړ کړیدي ، نو ستر نظامونه یې تاسیس کړیدي ، د دنیا سیالان شوي او په عزت یې ژوند تېر کړی دی .

نن هم پښتنو ته د ورپیښو مشکلاتو د حل یوازینۍ لاره داده چې هر پښتون یا د پښتون ملت اکثریت دا لاندې ټکي د خپل نظري او عملي کړنلارې په حیث قبول کړي ، په هر ځای او هر وخت کې په ښکاره دا ووایي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: هر پښتون باید په ډېر ویاړ سره په هر وخت او هر ځای کې وو ایي چې زه پښتون یم او په پښتونتوب یا پښتونولۍ افتخار کوم .

ب: هرپښتون باید په ډېر ویاړ سره په هر وخت او هر ځای کې وو ایي چې پښتو زما خوږه مورنۍ ژبه ده او په پښتو خبري کوم .

ج: هر پښتون باید په ډېر ویا ړ سره په هر وخت او هر ځای کې وو ایي چې پښتو او پښتونولي زما قانون دی او خپل ورځنۍ ژوند د پښتو او پښتونولي د قانون سره برابرکړي .

د : هرپښتون باید په ډېر ویاړ سره په هر وخت او هر ځای کې دا وو ایي چې سپېڅلې پښتونخوا زما وطن او زما د پلار نیکه مدفن دی .

ر: هر پښتون باید په ډېر ویاړ سره په هر وخت او هر ځای کې دا وو ایي چې زه د الله پاک د ګران ملت (پښتون ملت) غړی یم ځکه چې د الله په فضل سره مسلمان ،مجاهد او عادل یم .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې نن مظلوم پښتون ملت ته په وریپښو غمونو ، دردونو او مشکلاتو کې ځان شریک وبولي او د هغوی د رفع کولو په لاره کې د امکان تر حده مالي او ځاني قرباني ورکړي .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " دین" څخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " سر " څخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " ناموس " څخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " عزت " څخه د خپل مال او سر په قربانۍ دفاع وکړي .

دا د هر ریښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " مال " څخه د خپل مال او سرپه قربانۍ د فاع وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د هر رښتيني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د "خپلواکۍ" څخه د خپل مال او سر په قربانۍ دفاع وکړي .

دا د هر رښتيني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " ملي حاکميت" څخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر رښتيني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې د خپل مظلوم پښتون ملت د " ملي نواميسو" څخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر رښتيني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د "ملي ګټو" څخه د خپل مال او سر په قربانۍ دفاع وکړي .

دا د هر رښتيني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د مور ، ناموس ، عزت ، هېواد ، ابدي وطن ، د پلار نيکه مدفن يعني د پښتونخوا د مقدسې او سپيڅلې خاورې د مځکنۍ بشپړتيا څخه د خپل مال او سر په قربانۍ دفاع وکړي ، د کومې پاکې خاورې د شنو باغونو ، ډګرونو او لوړو غرونو په ياد چې لوی احمد شاه بابا د ډهلي تخت هېراوه .

لوي احمد شاه بابا د سپيڅلې پښتونخوا د محبت په باره کې داسې وايي:

ستا دعشق د وينو ډک شول ځيګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه
تاته راشمه زړګي زما فارغ شي
بيله تا مي انديښني د زړه مارونه
د ډهلي تخت هيرومه چې راياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غروسرونه
که هرڅو مې د دنيا ملکونه ډېر شي
زما به هير نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د رقيب دژوند متاع به تارپه تار کړي
چې په توروپښتانه کړي ګوزارونه
د فريد او د حميد دور به بيا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــــــې زه و کانـــــــــدم پـــــــــر هـــــــــر لـــــــــوري تاختونـــــــــه
کـــــه تمامـــــه دنیـــــا یـــــو خـــــوا تـــــه بـــــل خـــــوا یـــــي
زمـــــا خـــــوښ دي ســـــتا خـــــالي تـــــش ډګرونـــــه
احمدشـــــاه بـــــه دغـــــه ســـــتا قـــــدر هیـــــر نـــــه کـــــا
کـــــــــه ونیســـــــــي د تمـــــــــام جهـــــــــان ملکونـــــــــه

دا د هر رښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې د خپل مظلوم پښتون ملت د مورنۍ ژبې پښتو ثخه چې د پښتنو ملی پېژندګلوي ده د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر رښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي ، چې د خپل مظلوم پښتون ملت د فطرت او د پښتون ملت دا بدي او ازلي قانون یعنې

" پښتو او پښتونولي " د قانون ثخه د خپل مال او سر په قربانۍ د فاع وکړي .

دا د هر رښتیني پښتون پښتني فرض ګڼل کېږي چې خپل ورځنۍ ژوند د اسلام د مقدس دین او د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق برابر کړي .

د تاریخ په اوږدو کې کله چې پښتنو خپلې ورځنۍ چارې د پښتو او پښتونولۍ د قانون مطابق برابرې او تنظیم کړیدي ، نو په منطقه کې یې سترې امپراطورۍ جوړې کړیدي ، د منطقې باداران شوي دي او د نړۍ د سیالو ملتونو سره سیالان شوي دي .

خو کله چې پښتنو " پښتو او پښتونولي " ته شا ورګرځولې ده او بې پښتو شوي دي ، یا په بله وینا کله چې پښتنو خپل فطرت یعنې پښتو او پښتونولي پرې ایښې ده او " بې فطرته " شوي دي ، نو د پردیو ملتونو غلامان شوي دي او په خپل کور او هېواد کې یې د ذلت ، غلامۍ او مریتوب ژوند په نصیب شوی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دریم: د ملت سازۍ نوی غولونکی اصطلاح:

نن د نړۍ په بعضی سیاسی محافلو کې یوه نوې اصطلاح د

(ملت سازۍ) په نوم منځته راغلې ده ، دا اصطلاح شاید د سترو نظامی او اقتصادی قوتونو د هغو چا لاکو تیوریسنانو د خوا مطرح شوی وی ، کوم چې تر اوسه لا د انګریزانو د زاړه استعماری شعار ( بې اتفاقه یی کړه او حکومت پر وکړه ) پیروان دی.

ددی غولونکی اصطلاح پیروان غواړی چی واحد ملتونه د ناسیو نالیزم د معقولی او ملی لاری څخه منحرف کړی او د ملت سازی په نوم یی د بیلو بیلو نظریو د پیروانو په نوم تجزیه او متفرق کړی.

د مثال په ډول په تیره نیمه پیړۍ کښې د واحد پښتون ملت روشنفکران او نور د حساب وړ مشران څوک د نورمحمد تره کی د کمونیزم، څوک د ببرک کارمل د کمونیزم، څوک د طاهر بدحشی د کمونیزم، څوک د چینایی ډوله کمونیزم، څوک د ګلبدین حکمتیار د اخوانیزم، څوک د برهان الدین ربانی د اخوانیزم ، څوک د عبد الرب رسول سیاف د وهابیزم، څوک د محمد یونس خالص د اخوانیزم، څوک د مولوی محمد نبی د اسلامیزم، څوک د سلفیانو د سلفیزم، څوک د طالبانو د اسلامیزم او د اسی نورو نظریو پیروان شول ، په ذکرشوو متخاصمو او دښمنو ډلو کښې سره وویشل شول ، یو د بل دښمنان شول ، یو او بل یی سره ووژل...

نتیجه دا شول چی خپلواک واحد پښتون ملت ټوټه ټوټه شو او نن ورځ په خپل هیواد کښی د اقلیتونو غلام دی.

د ملت سازی د دی غولونکی اصطلاح څخه په استفاده ځنی وختونه استعمارګران د بیلو بیلو وینو لرونکو غیري واحد قومونه پر ځینی موقتي معنوي او مالي شعارونو د وسلی په زور په یوه جغرافیه کښی سره راټول کړی او د پاکستان په شان یی نړۍ ته د یو ملت په حیث معرفی کړي.

په ځینو هیوادونو کښی په اقلیتونو پوری تړلی سیاست مداران چی ځنی یی شاید په خارجی استخباراتو پوری هم تړلی وی ډیره استفاده کوی.

په اقلیتونو پوری تړلی سیاست مداران پوهیږی چی د وی د یو ملی نا سیونالست سیاست په پیروی د ټولنی پر اکثریت حکومت نشی کولای، ځکه چی په ملی ناسیو نالسیتی سیاسی پروسه کښی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنی اکثریت همیشه هغه سیاست مداران په ځان پسی راکاږی چی د ټولنی په اکثریت پوری تړاو لری.

د ملت سازی اصطلاح په هغو ټولنو کې د استعمال وړ ده چې ټولنه یې د مختلفو قومونو څخه جوړه وي د مثال په ډول :

په ایراني ټولنه کې عرب ، ترک ، کورد ، ازري ، بلوچ ، پارس او داسې نورقومونه وجود لري چې هیڅ ډول د ویني شراکت نه سره لري هلته سیاستمداران مجبور دي چې د ملت جوړوني په نوم او دوسلی په زوردا بیل بیل قومونه پر یو مشترک مرکز سره راټول کړي .

پر یو سیاسي مرکز د انسانانو را ټولول دومره اسانه کار نه دي لکه یو شپون چې خپله رمه پر یو میدان سره را ټوله کړي ، بلکې د شپون د رمي پرخلاف پر یو مشترک مرکز په بیلو بیلو نژادی ډلو پورې تړلیو انسانانو چې هغه د ویني شراکت سره نه لري را ټولول ډېرمشکل کار دي ، د دې کار کولو لپاره تیوریسنان مجبور دي چې د دې مختلفو ډلو انسانانو د یو موټي ساتلو په خاطر سیاسي ، اقتصادی او یا مذهبې نظریات مطرح کړي او خپل طرحه د سیاست مدارانو په واک کښی ورکړي.

سیاست مداران بیا ددوی په جغرافیه کښی میشت ټول قومونه د وسلی او دولتی زور په واسطه ددوی د تیوریسنانو دخوا پر طرحه شوې سیاسي ، اقتصادي او مذهبې نظریه سره راټولوی او د دې طرحه شوې نظر یې څخه د دې مختلفو ډلو انسانانو د یوالي د سرینبو په حیث کاراخلي .

په بله وینا د دې نوې طرحه شوې سیاسي نظر یې څخه سیاستمداران د جاذبې د هغي قوي په حیث استفاده کوي چې د مختلفو نژادولرونکي انسانان پر یوه مشترک مرکز سره راټول کړي .

دمثال په ډول:

د امریکا متحده ایالاتو خپل ولس د دموکراسۍ او اقتصادي ګټو پر ارزښت سره راټول کړیدي.

پاکستان او ایران پخپل جغرافیو کښی بیل بیل قومونه د نظامی قوت او اسلام په نوم سره راټول کړیدي.

پخواني شوروي اتحاد او پخواني یوګوسلاویا مختلف قومونه د کمونیزم اونظامی زور په واسطه سره ټول کړي وه ...

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ملتونه چې د بېلو وېنو لرونکو اقوامو څخه د سیاسي ،مذهبي ،ایډیالوژیکي ،اقتصادي ،نظامي قوت او نورو اړښتنو پر اساس جوړېږي د بر دوام نه کوي ، او دی ملتونو ته د وینې پر اساس منځته راغلی طبعی ملتونه نه ویل کیږی .

په داسې ملتونو کې اکثره وخت یو قوم پرټول ملت حکومت کوي او نور قومونه د قوي قوم تر ستم ،استثمار او استعمار لاندې وي ، د مثال په ډول :

د شوروي اتحاد د امپراطورۍ په وخت کې د بالتیک هېوادونه ، تاجکستان ،ازبکستان ،ترکمنستان ،ازربایجان ، ارمنیستان ، قرغستان ،قزاقستان او داسې نور تنها د روسي قوم تر استثمار او استعمار لاندې وه .

په پخوانۍ یوګوسلاویا کې بوسنیایي ،کروشیایې او نور قومونه د سربیانو تر استعمار او استثمارلاندې وه .

په پاکستان کې پښتانه ، بلوڅ ،کشمیریان ،سراکیان ،سندیان او داسې نور د پنجابیانو تر استعمار او استثمار لاندې دي .

په ایران کې بلوڅان ،کردان ،عربان ، خوزیستانیان ،ازریان ،ترکان او داسې نور د پارسانو تر استعمار او استثمارلاندې دي .

خو د پښتون ملت په باره کې د ملت سازۍ نوې اصطلاح یا د ملت د یوالي د پاره د مذهبي ، اقتصادي ، او ایدیالوژیکي نظریو طرحې ته هیڅ ضرورت نشته ځکه چې:

پښتون ملت د مشترکي ویني پر اساس ولاړ واحد ملت دي .

د پښتون ملت جوړښت د ګډ ې پښتني ویني پر اساس منځته راغلی دی یعنې د ټولو پښتنو په رګونو کې تنها پاکه او د غیرته ډکه پښتني وینه جریان لري .

پښتون ملت د یوه پښتون پلار اولاد او یوه ستر پښتنی کورنۍ ده .

د پښتون ملت یووالي د پښتو او پښتونولي د قانون د هغه حکم تامین دي چې د پښتون ملت د یوالي په باره کې یې کړیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي قانون هغه قوي معنوي سرېښ دي چې پښتون ملت يې د تاريخ په اوږدو کې يو موټي او متحد ساتلي وو او د تل لپاره به يې يو موټي او متحد وساتي .

په پښتنو کې د ملت جوړوني اصطلاح ته بلکل ضرورت نشته دا د يوې پښتني ويني ځخه جوړ شوې يوه ستره کورنۍ يا ستر ملت دي .

د پښتون ملت هر دوه تر ټولو سره ليرې غړي چې د نصب په لحاظ و څېړل شي ، نو په شلم يا د دې ځخه په نږي اويا ليري پښت کې به دواړه د يوه پلار زامن او سره ورونه وي .

نو په دي اساس موږ ويلای شو چې پښتون ملت د يوې پښتني ويني ځخه جوړ شوي ملت دي او ديوه نيکه بچبان دي .

د دې ستر ملت بله ستره خوشبختي ددوی مشترک فطرت يعنې پښتو او پښتونولي ده ، پښتو او پښتونولي د پښتنو لپاره هغه مقدس مشترک فطرت دي چې هيڅ پښتون چې د هغه په رګونو کې د پښتون پلار ويني په جريان کې وي ددې مقدس فطرت څخه انکارنه شي کولای .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت بې زواله فطرت ، د پښتني ټولنې روح او د پښتون ملت د يوالي سرېښ ،او د جاذبې هغه قوی قوه ده چې پښتون ملت د تل د پاره متحد او يو متی ساتی .

نن سبا په افغانستان کښې داقليتونو د کارمل اورباني په شان د چالاکو افرادو اويا ددوی د پيروانو دخوا او يا په پرديو پوری تړلو افرادو او اشخاصو د خوا د ملت سازی ډنډوری وهل کيږی، څوک وايی:

ما تا هنوز ملت نه شدم...

تا که يک ملت نشويم مشکلات جامعه ما ازبين نه ميرود...

بياين که به طرف ملت سازی برويم...

درقرن بيست ويک ديگر ما بايد از حلقه کوچک قوم وقبيله برايم وبه سوی ساختن يک ملت حرکت کنم...

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمیر نا پوهه پښتانه په غیري شعوری ډول ،او ځینی نور بی پښتو ، ملت پلرونکی او د پردیو غلام پښتانه بیا په شعوری ډول دیو پلان مطابق دپورته ذکر شوو افرادو بی خونده سندره ورسره تکراروی او ددوی بی ربطه ډول ته نخیږی...

انګریزانو څو مختلیف قومونه لکه پښتانه، بلوڅ، سراکی، سندی، هندی مهاجر، کشمیریان او پنجابیان د فوځ په زور په یوه جغرافیه کښی سره راټول کړل او دی دفوځ په زور سره راغونډ شوو خلکو ته یی پاکستانی ملت او دهند او افغانستان څخه په زور را بیلی شوی جغرافیی ته یی دپاکستان نوم ورکړی.

نړیوال هم نن د اجغرافیه دپاکستان او پدی جغرافیه کښی د وسلی په زور را غونډشوی خلک د پاکستانی ملت په نوم پیژني...

پاکستان دا سی هیواد او پاکستانی داسی ملت دی چی د بشریت په لیکل شوی تاریخ کښی هیڅکله د پاکستان په نوم هیواد او د

پا کستانی په نوم ملت وجود نه درلودی.

په ننی نړی کښی دپاکستان په شان نورهم ډیر مثالونه شته چی نړیوال یی اوسیدونکو ته ملت او جغرافیی ته یی هیواد وایی.

دبشریت تاریخ شاهدی ورکوی چی پښتانه دزرګونو کلنو راهیسی دیو خپلواک اومتمدن ملت په حیث د پښتونخوا په پاکه خاوره کښی اوسیدلی دی، پدی منطقه کښی یی ستری امپراطوری جوړی کړیدی او د بشریت په ترقي او پرمختګ کښی یی دتوجه وړ برخه اخیستی ده.

## خوزمونږدښمنان تراوسه لا هم پښتانه ملت نه بولی.

دپښتنو دښمنانو په نظر پښتون هغه وخت ملت دی چی په خپل تاریخی هیواد کښی یی د غیری پښتون اطاعت وکړی ، دغیری پښتون رهبری یی ومنل او غیری پښتون یی پر ځان او خپل هیواد حاکم کړی.

زمونږ په هیواد کښی دملت ددرجی ورکولو وياړ او صلاحیت د اقلیتونو دجملی څخه په پردیو پوری تړلی افراد دځان حق بولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر رښتني پښتون باید ددی شوموا وخاینانه تبلیغاتو پرضد د پښتونولی په روحیه ټینګه مبارزه وکړی او ټولی نړی ته دا په ډاګه وواییی چی:

## پښتون یو تاریخی ملت دی.

## پښتون یو ستر ملت دی.

## پښتون یو ویاړلی ملت.

## پښتون یو متمدن ملت.

## پښتون یو پیاوړی ملت.

د پښتنو د سجري په باره کې چې ځینو قومي مشرانو او عالمانو کومي څیړني کړیدي هغه صرف د اسپه کورنۍ د وخت څخه راشروع شویدي.

ځینو سجره لیکونکو خو لا د پښتنو سجره د اسلام د دوری څخه راشروع کړیده او دا حواله ورکوی چی بیټ نیکه پخپل مناجات کښی د خدای(ج) نوم یاد کړیدی چی د خدای(ج) د نوم د ذکر معنی داده چی بیټ نیکه په اسلامی دوره کښی ژوند کوی ځکه یی نو د خدای(ج) نوم پخپل مناجات کښی ذکر کړی دی.

په اویستا کښی ذکر دی چی بیټ نیکه ډیر نیک خدای پرست او فرهیزګار سړی وو او داسی نور...

**تاریخ شاهد دي چي پښتنو د ګیو میرتن څخه بیا د اسپه کورنۍ تر سلطنت پوری په زرونو کاله په پښتونخوا کي سلطنتونه کړیدي.**

**د تاریخی شواهدو پر اساس اسپه کورنی د میلاد څخه تقریبا اووه سوه کاله وړاندی په پښتونخوا کښی سلطنت ته ورسیدل.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



که اويستا ايرانيانو لوټ کړي نه واي ،او بيا يونانيانو دا لوټ شوي اويستا دايران پـه(پـريس پوليس) کې سوځلي نه واي ،او تر نن پورې مکمل اويستا د پښتنو پـه اختيـار کـې پـروت واي نـو د پښتنو نسبتاً مکمله سجره به د ګيومرتن او يا دهغه د ليري نيکه ګانو د زماني څخه رانيولي بيا تر نن پورې په ښه ډول ذکرشوي واي .

څرنګه چې په دې کتاب کې وويل شول چې د پارس جاهلو او وحشـي يرغلګرانـو د بلخ د(ورهران) د (واري) څخه د اويستا کتاب لوټ او د ځان سره يې ايران ته يووړي او د( پريس پوليس)پـه مـاڼۍ کـې يې کېښودي .

د دريم داروش (کدمان) تر شرماوري ماتي وروسته مقدوني سکندر د يوي رقاصي پلاس چې (تائيس ) نوميده د (پـريس پـوليس) مـاڼۍ تـه اور واچـوي او پـه دې اور کـې د اويسـتا د کتـاب زياتـه برخـه وسوځيدل پـه کـوم کـې چې د پښـتنو تقريباً د دريو زروکـالو تـاريخ ذکرشـوي وو ،د پښـتنو اقتصـادي سيستم په کې تشريح شوي وو او د پښتنو عقيدوی لار په کې تشريح شوي وي .

د اويسـتا پـه هغـه ځلرمـه برخـه کې چې د اور د سـوځيدو څخـه سـالم پـاتې شـوي دي د پښـتنو د دري مشهورو نيکه ګانو نومونه ذکرشويدي چې عبارت دي له:

## ۱ : بيټ نيکه.

تاريخ وايي چې د کياني يا کاوه خاندان اخري پـا چا کـاوه هوسروايا د خپـل ژونـد پـه اخيـرو وختـونو کښې پخپله خوښه د خپل پاچاهي تاج د بيټ نيکه پر سر کېښودی او بيټ نيکه په بلخ کښـې د پښـتنو پا چا شو.

بيټ نيکه په اويستا کې د اطريت = اتريت په نوم ياد شوي دي .

د اويستا اتريت يا اطريط د ساما د کهول څخه دي ،ساما د سم يا شم د کهـول څخـه دي ، دا سـم بيـا تـر دريم پښت وروسته تور ته رسيږي ،تور بيا تورک ته رسيږي ،تورک بيا يما ته رسيږي .

## ۲ : غرغښت.



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرغښت د بیټ نیکه زوی دی او د پلار ترمرګ ورسته د پښتنو پاچا شو او د پښتونخوا په تاریخي پلازمینه بلخ کښی د سلطنت پر تخت کښیناستی .


غرغښت په اویستا کښی د ګرشا سپ په نوم یاد شوي دي .

## ۳ : سربن.


سربن په اویستا کي د سرند په نوم یادشوي دي ،کوم چې د زابلستان د پاچا ګورنګ شا لمسي دي .

مورږ دلته په ډېر لنډ ډول د پښتنو د هغي سجري په باره کي ډېر لنډ معلومات لوستونکو ته وړاندي کوو ،کوم چې د اسپه کورنۍ د واکمنۍ څخه راشروع کېږي ،او د محققانو تر څېړني وروسته نن سبا په پښتنو کي رواج لري .

ستر پښتون ملت په لنډ ډول پر لاندي څلورو غټو څانګو وېشل شوي دي .





د سربڼ دوه زامن وو چې د یوه نوم ( شرخبون ) او د بل نو (خرښبون) وو .




د شرخبون پنځه زامن وو چې نومونه یې شیراني ، بړیڅ ، اورمړ ، ترین او میانه وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library







د ترين درې زامن وو چې نومونه يې(سپين ترين) ،(تور ترين) او

( اودال يا دوراني) وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library







د خیرک درې زامن وو چې نومونه یې (پوپل) ،(بارک) او (الکو)وو ، ددوی اولاد ته پوپلزي ، بارکزي او الکوزي ویل کېږي .




د پنجپاي پنځه زامن وو چې ددوی د اولاده شخه نورزي ،علیزي ، اسحقزي ،خوګیاني او ماکو قومونه پیدا شوي دي .



(c) ketabton.com: The Digital Library



دغرغښت درې زامن وو چې نومونه يې (داني ) ،(بابي) او(مندو ) وه .




د(داني) څلورزامن وو چې نومونه يې کاکړي ، ناغر ، پني او داوي وه .




او د پښتنو داسې نور قومونه لکه(ګډون) ، موسي خېل ، ساپي او مشواني هم د کاکړي او پيني له اولادې څخه دي .

دکرلاڼ د اولاد څخه الله پاک د پښتنو اتلس ستر قومونه پيدا کړل چې عبارت دي له:

ککي ، دلازاک ، منګل ، توري ، هني ، وردګ ،اورکزي ، اپريدي .

ختک ، شيتک ، بولاق ، ځدران ، وزير ، مسعود ، دوړ ،ستريانې ،بنګش ، بنوڅي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کرلان | | |
|---|---|---|
| ککي | دلازاک ،منګل | |
| توری | هني | وردګ |
| اورګزی | اپریدی | ختک |
| شیتک | بولاق | جدران |
| وزیر | مسود | دور |
| ستریانی | بنګش | بنوچی |

د بیټني د اولاد څخه الله پاک د پښتنو غلجي قومونه پیدا کړل چې عبارت دي له: سهاک ، تره کي ، سلیمانخېل ، توخي ، هوتک ، اکاخېل ، ناصر ، خروټي ، تارڼ ، لودي ، نیازي ، سور او سرواني .

غلجي ټبرونه ،سهاک ، تره کي ، سلیمانخیل ، توخي ، هوتک ، اکاخېل ، ناصر ، خروټي ، بختیاري ،احمدزي ، تري ، دوتاني ، تارڼ ، لودي ، نیازي ، سوري ، سرواني .

| بیټني | | |
|---|---|---|
| سهاک | تره کي | |
| سلیمانخیل | ناصر | خروتی |
| بختیاری | احمدزی | تری |
| دوتانی | تارن | لودی |
| نیازی | سور | سروانی |
| توخی | هوتک | اکاخیل |

پښتون ستر ملت په طبعي ډول د نن ورځي د عصري نظامي تشکیلاتو په څیر پر بیلو بیلو قبایلو وېشل شوي وو .

په بله وینا په نظامي او انتظامي چارو کې د سمي رهبرۍ ، تنظیم ، سوق او اداري په خاطر پښتون ملت په طبعي ډول پر بیلو بیلو قبیلو او قبیلې یې بیا پر بیلو بیلو کهولو او کهولونه یې بیا پر بیلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلو کورنیو وېشل شوي وه ، چې دا قومي جوړښتونه په حقیقت کې د نظامي او انتظامي تشکیلاتو حیثیت لري .

## څلرم: په پښتني ټولنه کښې د قومې جوړښتونو کټې او تاوانونه

د پښتني ټولنې په سیاسي ،اقتصادی ،ټولنیز ،نظامی او انتظامی چارو کې د قومي جوړښتونو ارزښت ته موږ په لاندې ډول ډېره لنډه اشاره کوو .

### الف: د جنګ په وخت کښې:

د پښتنو طبعي قومي تشکیلاتي جوړښتونه په نظامي چارو کې د پښتنو د دولتي مشرانو لپاره دا ګټه درلوده چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتون ملت هر قوم ، پښه او زي ځان مجبور او مکلف بللي چې د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ،عزت ، مال ، پښتونخوا ، ملي ګټو او ملي نوامیسو د دفاع په خاطر د جنګ په وخت کې د هر قوم څخه د هغه د شمېر په تناسب د پخوا څخه تعین شوي شمېر مسلح سپاره او پیاده سربازان ، په جنګ کې د دې سربازانو د ضرورت وړ لوژیستکي ضرورتونه په ډېر ورین تندي و مرکزي دولت ته ورکړي .

د نن ورځې د عصري نظامي تشکیلاتو څخه افراد تښتېدلای شي ، یوه لوا یا نور نظامي جز او تامونه د یوې فرقې یا قل اوردو څخه بلې فرقې یا قل اوردو ته تبدیلېدلای شي او په هغه کې منحل کېدلای شي ، د دولت د ریس په یوه فرمان ټوله قل اوردو حتی د یوه هېواد ټول نظامي تشکیلات منحل کېدلای هم شي چې ژوندی مثال یې د مجاهدینو تر بري وروسته د مجاهدینو له خوا د نجیب الله د حکومت د نظامي تشکیلاتو انحلال دی . . .

خو د پښتنو په طبعي دایمي قومي تشکیلاتو کې تنظیم شوي افراد ، کورنۍ او قومونه د خپل قوم ، قبیلې او کهول څخه په هېڅ ډول سختو شرایطو کې نه تښتېدلای شي او نه د پښتنو د قومي تشکیلاتي جوړښت څخه بل لور ته تللای شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتنو دا طبعی قومي نظامی تشکیلات ابدی او دایمی تشکیلات دی اودا تشکیلات د کوم حاکم ، پاچا او فاتح په امرنشی منحل کېدلای .

د پښتنو قومي تشکیلات (قومونه ، پښې اوکهولونه) چې د وينې د نږدېوالي پراساس په طبعي ډول منځته راغلي دي د پښتون ملت ازلي ، دايمي اوغير قابل تغير نظامي او انتظامي تشکيلات دي .

د زرګونو کلونو راهيسې د پښتون ملت هرغړی د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتنو د نظامي تشکيلاتو دغړي په صفت هره لحظه د خپل قوم د مشرانو هر امر ته د پښتون ملت د سرباز په حيث د پښتون ملت د ننګ او ناموس د دفاع په خاطر جنګ ته حاضر او اماده ولاړ دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتون ملت هر فرد نر ، ښځه ، زلمی ، زوړ او ماشوم د قوم عسکردی او هره لحظه بايدوسله په لاس د پښتون ملت ددين ،سر ،ناموس ، عزت ، مال ، هيواد ، خپلواکی ،ملي حاکميت ،ملي ګټو او ملي نوامسو ددفاع په خاطردمشرانو له خوا د جنګ قوماندې ته حاضر او اماده ولاړوی .

## ب:د سولې په وخت کښې:

د سولې په وخت کې د پښتنو دطبعي قومي تشکيلاتی جوړښتونو ګټه دا وه چې مرکزي دولت د هر قوم مشرانو ته دا وظيفه سپارله چې د دولت سره همکاري وکړي ، په خپل قوم کې د سولې د تامين ، د حقوقي او جنايي مسئلو د حل ، د مرکزي دولت د ماليا تو د راټولولو او په ټوليز لحاظ په خپل قوم کې د امن او امان د تامين لپاره کار وکړي .

دا د پښتنو د طبعي قومي نظامي او انتظامي تشکيلاتو برکت دی چې د تاريخ په اوږدو کې پښتنو د تاريخ د سترو يرغلګرو او چپاولګرو لکه داريوش ، سکندر ، عرب ، چنګيز ، تيمور ، بابر ، انګريز او د روس د سرو لښکرو سره ډغرې وهلې دي او د پښتونخوا پاکه خاوره يې د هغو په هديره بدله کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون په پیروي پښتنو د خپل طبعي قومي نظامي او انتظامي تشکیلاتو په برکت پښتنو د تاریخ سترو امپراطوریو ته په دې مقدسه خاوره کې ماتې ورکړې ده او تر معاصر تاریخ پورې یې د تاریخ د سترو طوفانونو او تهاجمونو په مقابل کې ځان ژوندی ساتلی دی .

همدا علت دی چې نن نړیوال تاریخ پوهان د پښتنو هېواد یعنې پښتونخوا ته د امپراطوریو قبرستان یا هدیره وایي .

هر څوک چې په هر نامه د پښتنو د طبیعي قومي جوړښتونو مخالفت کوي په حقیقت کې هغه شخص یا ډله غواړي چې پښتون ملت تیت ،پاشان ،ضعیفه او لاروړکی کړي ، که دا شخص یا ډله په شعوري ډول د پښتنو د دایمي طبیعي قومي تشکیلاتو ضد وي او دهغو پر خلاف کار کوي ، نو دا شخص یا ډله د پښتنو دښمنان او ملي خاینین بلل کېږي .

هغه څوک چې پورته ذکر شوی کار په غیری شعوری ډول انجاموی داکسان د پښتنو او د هغوی د فطرتی قانون یعنی پښتو او پښتونولی په باره کې محدود معلومات دی .

## ج:د پښتون ملت د یووالي وسیله:

اوسني پښتانه مشران باید د پخوانیو پښتنو مشرانو په شان د پښتون ملت د طبیعي دایمي قومي جوړښتونو څخه د ستر پښتون ملت د راټولېدو او یو موټي کېدو په لاره کې استفاده وکړي .

مثلاً که موږ د پښتنو یو ستر قوم (یوسفزي ، احمدزي ، نورزي . . . ) چې د میلونو په شاوخوا کې غړي لري په نظر کې ونیسو ، د دې قوم منلي مشران شاید تر سل نفرو زیات نه وي ، دا سل نفره چې د پښتون ملت په ګټه هره فیصله وکړي ، نو ددوی د قوم ټول وګړي چې په میلونو نفر کېږي هغه فیصله مني او د خپل قوم د مشرانو پر لار ځي . . .

د یو قوم د میلونو غړو په نسبت د سل نفرو قومي مشرانو راضي کول ، پوهول ، قناعت ورکول او پر یو مرکز راټولول د ملیونو انسانانو د پوهولو په تناسب ډېر اسانه کار دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې د پښتنو سياسي مشران وغواړي چې پښتانه پر يو واحد مرکز سره راټول او يو موټی کړي ، نو بايد د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو قومي مشران د قومي انتشار پر خلاف د ستر پښتون ملت د يوالي د مقدس هدف پر لور رهبري کړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو د هر رښتيني پښتون مشر دا پښتني دنده او مسئوليت دی چې اول خپل قوم متحد کړي او بيا دا متحده قبيله يا قوم د ټول پښتون ملت د يوالي لوري ته تشويق او رهبري کړي او په دې لار کې يو تر بل ګړندي شي .

د پښتني قبيلو او قومونو د قومي مشرانو د يوالي په واسطه د پښتون ملت د يوالي پروسه تر ټولو لنډه ، ګټوره ، يقيني ، رښتينې او د عمل وړ لاره ده .

د پورته ذکر شويو او داسې نورو زياتو دلايلو پر اساس ويلای شو چې د پښتون ملت قومي جوړښتونه د پښتون ملت په تاوان نه ، بلکې د پښتون ملت د يوالي لپاره ډېر ګټور عنصر بلل کيږي .

## د: د پښتون ملت د بې اتفاقۍ وسيله:

کله چې د پښتنو د ښمنانو د پښتون ملت د غلامۍ نيت کړی دی ، نو تر هر څه د مخه يې د پښتنو د بې اتفاقۍ لپاره ملا تړلې ده .

خپل نامقدس هدف ته د رسيدو په خاطر د پښتنو دښمنانو د پښتني قومونو په منځ کې د بې اتفاقيو اور ته لمن وهلې ده .

پښتانه قومونه يې د اتفاق پرځای انتشار ته تشويق کړی دی ، په خپل شيطاني چلونو يې پښتون ملت پر قومونو تجزيه کړي دي .

د انګليسانو مشهور متل دی چې " بيل کړه ، ايل کړه " يې عملا پر پښتنو تطبيق کړی دی .

هر کله چې د پښتنو دښمنانو پښتانه پر اقوامو تجزيه کړي دي ، نو په ډېر اسانه ډول يې خپل غلامان کړي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر کله چې د پښتنو قومي مشرانو پښتو او پښتونولي ته شا کړې ده ، نو د پښتنو دښمنان پر دې قادر شوي دي چې د ځينو ټيټ صفته پښتنو مشرانو په واسطه پښتون ستر ملت پر قومونو تجزيه او خپل غلام کړي .

د پورته دلايلو څخه دا نتيجه اخيستل کېږي چې د پښتنو طبعي دايمي قومي تشکيلات په حقيقت کې د پښتني ټولنې دايمي طبعي نظامي او انتظامي تشکيلات دي او د پښتنو په سياسي ،اقتصادي ،ټولنيز ،نظامي او انتظامي ژوند کې ډيرې ګټې لرې چې موږ دلته صرف څوګټو ته لنډه اشاره کوو .

1: پښتانه خوا خوږي مشران د پښتنود دايمي طبعي تشکيلاتو په واسطه په ډېر اسانه ډول د پښتون ملت ملي يوالى تامينولاى شي . 2: پښتانه خوا خوږي مشران د پښتنود دې دايمي طبعي تشکيلاتو په واسطه په پښتني ټولنه کې تل پاتې سوله او امنيت تامينولايشي .

3: پښتانه خوا خوږي مشران د پښتنود دې دايمي طبعي تشکيلاتو په واسطه يو داسې مشروع او با ثباته پښتنى دولت ايجادولايشي چې خپل ملي او نړيوالى زمواري په ښه ډول انجام کړايشي او داسې نور...

## پنځم:د پښتنو د بې اتفاقۍ څخه راپيدا شوې ستړې غميزې:

هر کله چې د پښتنو دښمنانو د پښتنو دغلامولو اراده کړې ده ، نو اول کار يې دا کړې دی چې په پښتنو کې داسې غولونکي نظريې خپرې کړي چې د هغو د خپرېدو په واسطه په پښتنو کې د هغو فطرت يعنې پښتو او پښتونولي کمزورې کړي ، د پښتني ټولنې داخلي جوړښت يعنې د پښتنو دايمي طبعي قومي تشکيلاتو پر ځاى د پښتنو خيال نورو شيانو ته واړوي او يا په ډول ډول بهانو او نومونو د پښتنو په منځ کې دپښتو او پښتونولی قانون اوقومي تشکيلات بې ارزښته کړي او پر ځاى يې د پردو په ګټه ارزښتونه لکه پيري ، مريدي ، اخوانيزم ، کمونيزم ، وهابيزم ، ملت سازي ، اسلامي خلافت ، دموکراسي ، نفاذ شرعيت ، اسلام سرحد نه لري او داسې نور معرفي کړيدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ دلته څو داسې واقعاتو ته ډېره لنډه اشاره کوو چې پښتنو د پښتو او پښتونولی د قانون خلاف د نورو نظريو ملاتړ کړيدی او ددی سببه د الله پاک په سترو عذابونو ګرفتار شودی ،او ډېر ستر تاريخي تاوانونه ورسيدلی دي .

## 1: د بابر مغول څخه د (مسلمان پاچا ) په نوم د پښتنو ملاتړ :

تاسو په دې کتاب کې لولي چې د ظالمو او خونخوارو مغولو چنګېز ، الاکو او ګوډ تيمور اولاد ظالم او خونخوار بابر پر پښتنو څومره ظلمونه وکړل .

د پښتنو پر هر قوم يې حملې وکړې ، د هغوی سر ، ناموس ، عزت او مال يې لوټ کړي ، د قوم د سرو سرونه يې پرې کړل او د ځان د خوشالولو په خاطر يې د پښتنو د پرې شويو سرونو څخه منارونه جوړ کړل . . .

د دې ټولو ظلمونو باوجود بابر مغول د ځينو قوم فروشو ملايانو ، روحانينو ، خانانو او ملکانو په واسطه د پښتنو څخه لښکر جوړ کړ او پر هندوستان يې حمله وکړه چېرې چې د سلطان بهلول لودي لمسي سلطان ابراهيم لودي پاچاهي کوله .

پښتنو د خپل سر ، ناموس ، عزت او مال د دښمن بابر مغل په طرفدارۍ توري راواخيستې او په هند کې يې د پښتنو سلطنت ړنګ کړي .

د سلطان ابراهيم لودي د هند پښتني سلطنت پښتنو له منځه يوړ ، سلطان ابراهيم لودي په جنګ کې په مېړانه شهيد شو ، دلاور خان لودي او خواجه کلان مغول په مړيني د پښتون سلطان ابراهيم لودي څخه سر پرې کړ او د پښتنو ازلي دښمن خونخوار بابر ته يې وړاندې کړ .

پښتنو په خپل دې نامعقول او د پښتو او پښتونولي څخه خلاف عمل د پښتون ملت د سر ، ناموس ، عزت او مال ازلي دښمن بابر ته د پښتونخوا او هندوستان پاچاهي وګټله .

خوشحال بابا د دې واقعې په باره کې داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیــــا لـــــه پـــــاس د ډهلــــي پاچـــا بـــــابر شـــــه
چـــــې یـــــې کـــــار د پښــــتانه پـــــه برکـــــت وو

پښتنو خپل په دې غلط عمل چې د پښتو او پښتونولي د قانون ښکاره خلاف ورزي وه د( 231 ) کالو لپاره نورهم خپل ځانونه په خپل لاس د مغولو غلامان کړل .

د پښتنو لپاره د خونخوارو مغلو حاکمیت د خدای(ج) سترغضب او قهر وو .

د هند مغلو او د ایران شعیه پاچاهانو د پښتونخوا خاوره په خپل منځو کې سره وو یشل او د پښتنو دې دواړو ازلي دښمنانو یعنې د ایران متعصبه شیعه ګانو او د هند وحشي او خونخوارو مغولانو د(231) کالو په جریان کې هره ورځ د پښتنو د سر ، ناموس ،عزت او مال په لوټول مصروف وه ، د دې خبرې د اثبات لپاره د منعم خان مغول په لاس د پښتنو هغه قتل عام یادوو چې د " توکاري " په کلي کې یې په یوه ورځ دومره پښتانه بندیان ووژل چې د سرونو څخه یې اتیا (80) مناره جوړ کړل .

د پښتنو څو ټيټ صفته روحاني ، دیني ،مذهبي او قومي مشرانو د پښتنو د قاتل بابرمغول څخه د خپل شخصي ژوند د بهترۍ لپاره یو څو پیسې او یا څه نورامتیازات واخیستل او په بدل کې یې پښتون ملت تشویق کړ چې د پښتون ملت د ازلي دښمن بابر مغل ملا تړ وکړي ، د مغول د باداری او د پښتون د غلامۍ لپاره توري وچلوي .

د ایران متعصبه شیعه ګانو او د ډهلي خونخوارو مغولو پښتونخوا او پښتانه په دې غرض سره وو یشل چې که ټول پښتانه د هند سره یوځای شي ، دا تر ډیره حده ممکنه ده چې پښتانه د هند د مغولو څخه بیا د شېرشاه سوري په شان د هند سلطنت ونیسي .

او که ټوله پښتونخوا د ایران سره یو ځای شي بې له شکه به پښتانه د ایران دولت ونیسي ، نو په دې اساس هندي مغولو او د ایران شعیه ګانو د یو منظمې امنیتي ستراتیژۍ پر اساس پښتانه او پښتونخوا د هند د مغولي او د ایران شعیه دولت ترمنځ سره وو یشل .

خو کله چې خدای(ج) د پښتنو هغه ګناه ورمعاف کړه چې د بابر مغول سره په ملګرتیا کې یې د خپل ځان د غلامۍ په باره کې کړې وه ، نو د پښتنو په منځ کې یې دوه داسې نومیالي پښتانه ځوانان پیدا کړل چې یو یې د ستر پښتون حاجی میرویس خان نیکه زوی اعلیحضرت شاه محمود هوتک

(c) ketabton.com: The Digital Library



دایران او اصفهان فاتح وو چې د ایران شعیه ظالم پاچا صفوي شاه حسین یې مات کړ او هغه په خپل لاس د ایران د سلطنت تاج د اعلیحضرت شاه محمود هوتک پر سر کېښود او د ایران د سلطنت مبارکي یې پښتون پاچا اعلیحضرت شاه محمود هوتک ته وویله:

دوهم پښتون ځوان اعلیحضرت احمد شاه دراني وو چې د پښتنو د سوونو کلنو مظلومیت ته یې خاتمه ورکړل او په (1757 ع) کې د هند د پاچا احمد شاه مغول پلازمېنه د ډهلي ښار ونیو .

د پښتنو دې دوو تاریخي قهرمانانو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پښتانه د قومي او عزیزولۍ په نوم پر یو واحد مرکز سره راټول کړل ، خدای(ج) هم د دې پښتنو پاچاهانو سره مرسته وکړه او د پښتون ملت د سوونو کلنو د مظلومیت د اوسپلیو او اوښکو څخه یې داسې طوفانونه جوړ کړل چې د اصفهان او ډهلي د ظلم ، وحشت ، بربریت ، کبر ، غرور او جهالت مانۍ یې له منځه یوړې .

مغولو پرپښتنو باندې د خپل اقتدار د دوام په خاطر د پښتنو د ځینو سست عنصرو ، بې همتو ، قوم فروشو اوغدارو دیني ، روحاني او قومي مشرانو څخه استفاده کول چې پښتانه د مغولو اطاعت ته تشویق او ترغیب کړي .

دې اسلام فروشو ، وطن فروشو ، قوم فروشو ، ځان فروشو ،غدارو او ملي خاینانو به د قوم د مشرانو په نوم ډول ډول دلایل تراشل چې اسلام سرحد نه لري ، مغول پاچاهان مسلمانان دي ، ددوی اطاعت واجب دی او په داسې نورو بهانو به یې پښتانه د مغولو اطاعت ته رابلل .

کله چې به د پښتنو ملي مشرانو د مغولو د غلامۍ پر ضد ملي مبارزې شروع کړې ، نو دې د پردیو رانیول شویو غلامانو به تر مغولو زیات د دې ملي پښتنو پر ضد پروپاګندې کولې تر څو د پښتنو د ښمنانو تنخوا ځانته حلاله کړي .

د مثال په ډول د ګوډ تیمور او سفاک بابر د کورنۍ یو رشته دار

" سیدعلي ترمذي مشهور په پیربابا " همایون مغل د پښتونخوا د بونیر د "پاچا کلي " ته راولیږي او د مغلو د استخباراتي سازمانو له خوا یې حمایت او ملاتړ کېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغلو د استخباراتو دا روزل شوی "پیربابا " او دده ترک نژاده شاګرد "اخوند درویزه" دا وظیفه درلوده چې د پښتنو په منځ کې د پښتنو د ازادۍ د لارې مبارزین بدنام او تجرید کړي ، په پښتنو کې د هغوی د ازادۍ غوښتلو روحیه ضعیفه کړي ، پښتانه د مغلو اطاعت ته تشویق کړي . . .

د مغلو دی دوو استخباراتي پیرانو د پښتنو د ازادۍ غوښتونکي جنبش د مشر "بایزید مشهور په پیرروښان " او روښاني تحریک پر ضد په پښتنو کې تبلیغ کوي او پیر روښان ته یې "پیر تاریک " ویلي ، په پای کې د ا د مغولو د استخباراتو اجنټ "پیر بابا " او دده ترک نژاده شاګرد "اخوند درویزه" او د مغولو ددولت جنګي ماشین پر دې بریالي شول چې د پښتنو د مغلو ضد روښاني تحریک مات کړي ، پښتانه او پښتونخوا د څه نور وخت لپاره د مغلو تر ظالمانه حاکمیت لاندې پاتې شي .

## <u>د پښتنو له خوا د بابر مغول د ملاتړ نتیجه:</u>

پښتنو په پټو سترګو او ناسنجیده ډول د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د ځینو قوم فروشو ، قوم ته غدارو روحاني ،دیني او قومي مشرانو په واسطه د (اسلام په نوم) د پښتنو د ازلي دښمن او قاتل بابر مغول ملاتړ وکړي او خپل دي ازلي دښمن ته یې هندوستان ونیوی .

<u>نتیجه دا شوه چې پښتنو په خپل دي بې فکره ،غلط او ناسنجیده عمل په خپل لاس او خپله توره خپل ځان د(231) کالو لپاره نور هم د مغولو غلام کړي .</u>

مغلو هم د پښتنو د دې سترې تاریخي غلطۍ څخه استفاده وکړه او د(231)کالو لپاره یې نورهم د پښتنو سر ، ناموس ، عزت او مال لوټ کړي ، د پښتنو د سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل او پښتنو ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړي .

پښتنو په خپل دې غلط عمل سره د پښتون ملت ددین، سر ، ناموس ، عزت ، مال ،خپلواکۍ،ملی حاکمیت ،دهیواد دمځکنۍ پشپړتیا ،ملی ګټو او ملی نوامیسو واک دپښتون ملت ازلی دښمن ته په خپله په لاس ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې (231) کاله کې چې د مغلو د خوا پر پښتنو څومره ظلم شوی دی د پښتنو مشران به د محشر په ورځ خدای(ج) ته د دې ستري ګناه او ستر جرم په باره کې ځواب ورکوي .

پښتنو د اسلام په نوم د بابر مغول په ملاتړ د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف ورزی وکړل ، په نتیجه کې یې دنیا خرابه او په عذاب شوه ځکه چې د ظالم مغل ترغلامۍ لاندې تېره شوه ، اخرت به یې هم په عذاب وی ځکه چې هلته بیا خدای(ج) د مغل د ملاتړ په جرم سزا ورکوي .

پس دا ویلای شو ، هر پښتون چې د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف وزري وکړي ، نو دنیا او اخرت به یې دواړه په عذاب تیریږي .

## 2: د سقاوڅخه د(خادم دین رسو الله ) په نوم د پښتنو ملاتړ:

کله چې پښتنو ته خدای(ج) دريځله پر انګریزانو بري ورکړ او په نړۍ کې لومړنی هېواد وو چې د برطانوي استعمار څخه یې خپل استقلال واخیست ، پښتنو د ډېر لږ وخت لپار د خدای(ج) د دې لوی نعمت یعنې استقلال د حاصیلولو شکر پر ځای کړي .

څه موده وروسته یې د انګریزانو ظلمونه هېر کړل او په ډېره سادګۍ یې د خپل پخواني دښمن انګریز پر جاسوسانو د پیر ، ولي ، ملا او خان په نوم باور وکړ او د غازي امان الله خان او ځوان افغان دولت پر ضد را پورته شول .

د جنوبي پښتنو څخه یو شمېر قومونه د ګوډ ملا عبدالله کردیزي او ملا عبدالرشید په نوم ملایانو په ملا تړ د اسلام په نوم د خپل هېواد او ملي ګټو پر ضد وجنګیدل .

د مشرقي یو شمېر قومونه لکه شینواري او خوګیاني د محمد عالم خان شینواري په مشرتوب د اماني دولت پر ضد را پورته شول او د انګلیس د جاسوس د سقاو د زوی غله حبیب الله سره ملګري شول .

د کابل او شاو خوا یو شمېر خلکو او عسکرو د شور بازار د پیر شیراقا په قول د جنګ جبهه پر ېښوده او د سقاو زوی حبیب الله ته یې د کابل د نیولو موقع مساعده کړه .

سلیمانخیل د شور بازار د پیر په خوله د امان الله خان په مقابل کې د سقاو د زوی ملاتړ وکړ .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو شمېر بې غیرته پښتنو د قندهار د ښار دروازې سقاوي لښکرو ته خلاصې کړې او د سقاوي غلو سره یې مرسته وکړه چې د قندهار ښار ونیسي .

د پښتنو د هغه اعمالو په نتیجه کې چې د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف وه پښتنو د خپل ملي ناموس واک دانګلیس د جاسوس د سقاو زوی غله حبیب الله ته حواله کړ .

د پښتنو د ناشکرۍ په سبب د خدای(ج) عذاب د سقاو زوی حبیب الله او د هغه دملګرو په شکل کې پر پښتنو نازل شو او د دې عذاب په دوران کې د لکونو پښتنو او نورو افغانانو سر ، ناموس ، عزت او مال تالا شو .

انګریزانو افغانانو ته د خپل جاسوسانو په واسطه د هغو درې نظامي ماتو سزا ورکړه چې پښتنو په تېرو درې جنګونو کې ورکړې وې .

د سقاو زوی غله حبیب الله د(خادم دین رسول الله) په نوم د پښتون ملت ملي ناموس ، ملي ګټې او د لکونو پښتنو او نورو افغانانو سر ،ناموس ، عزت او مال لوټ کړل .

## د پښتنو له خوا د سقاو د زوی د ملاتړ نتیجه:

پښتنو په غیري منظم ، بې تحلیله ، په پټو سترګو او ناسنجیده ډول د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د ځینو قوم فروشو او قوم ته غدارو روحاني ، دیني او قومي مشرانو په واسطه د(خادم دین رسول الله په نوم) د پښتنو د ازلي دښمن ، د انګلیس غلام دسقاو د زوی غله حبیب الله ملاتړ وکړ ، غازي امان الله خان یې له هېواده وشاړه .

پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف په خپل لاس د افغان نجیب ملت شخصي او ملي ناموس واک د انګلیسانو جاسوس ، پردي غله د سقاو زوی حبیب الله ته تسلیم کړي .

پښتنو په خپل لاس د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف عمل خپل ځان د سقاویانو غلام کړ ، سقاویانو هم د پښتنو د دې سترې تاریخي غلطۍ څخه استفاده وکړه او د پښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال یې په ډېره بې رحمۍ لوټ کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په خپل دې غلط عمل د پښتنو د شخصي او پښتون ملت د ملي ناموس واک د پښتون ملت د سر ، دين ، ناموس ، عزت او مال دښمن ته په خپله پلاس ورکړي .

د سقاو د زوی حبيب الله په وخت کې چې د سقاويانو د خوا پر پښتنو څومره ظلم شوي دي د پښتنو مشران به د محشر په ورځ خدای(ج) ته د دې ستري ګناه او ستر جرم په باره کې جواب ورکوي .

پښتنو د(خادم دين رسول الله)په نوم د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د سقاو د زوی ملاتړ وکړي ، دا دنيا يې خرابه او په عذاب شوه ځکه چې د ظالمو سقاويانو ترغلامۍ لاندې تېره شوه ،اخرت به يې هم په عذاب وی ځکه چې هلته بيا خدای(ج) د سقاو د زوی د ملاتړ په جرم سزا ورکوي .

پس دا ويلای شو هر پښتون چې د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف وزري وکړي نو دنيا او اخرت به يې دواړه په عذاب تېرېږي .

## 3:د ببرک کارمل څخه د کمونيزم په نوم د پښتنو ملاتړ:

ببرک کارمل د شوروي دې معلوم الحال جاسوس بيا د کمونيزم په نوم يو شمېر روشنفکره پښتانه په ځان پسي کړل .

د کارمل د کمونيزم د ايډيالوژۍ له نظره پښتو او پښتونولي شرم او پسمانده ګۍ بلل کېده ، د قوم او ملت يادونه ګناه بلل کيده ، تاريخي وياړونه او ارزښتونه عار او شرم بلل کېدل . . .

د کارمل د کمونيزم پر اساس وقوم ، قبيلي ، سمت ، ژبي ، مذهب ، دين او ناسيوناليزم ته ميلان لويه ګناه ، لويه انساني پسماندګي اولوی شرم بلل کېده .

د کارمل د کمونيزم پر اساس ښه کمونيست هغه څوک وو چې ددوی په اصطلاح د پورته پسماندګيو او بې فرهنګه ميلانو څخه مبرا ، او يو رښتينی انترناسيوناليست وای .

خو کله چې د(1358-10-6 هـ) شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړ او خپل مشهور جاسوس ببرک کارمل يې د افغانستان د واک پر ګدۍ کښېنوی ، نو دا انقلابي ، مارکسيست ، لېننست ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمونیست او انترناسیونالیست ببرک کارمل په یوه شپه کې یو تنګ نظره او متعصب تاجک شو او د پښتنو په ازلي دښمن بدل شو .

د کارمل غیری پښتانه ملګري لکه سلطان علي کشتمند ، نجم الدین کاویاني ، فرید مزدک ، اناهیتا ، دستګیر پنجشیري ، رشید دوستم او داسې نور نږدې ملګري د کارمل په شان تاجکان ،ازبکان او هزاره ګان شول او هریوه د خپل قوم او ژبې د خلکو لپار کار او فعالیت شروع کړي.

د کارمل دې غیرې پښتني ملګروټولو په یوه سلا د پښتنو د سر ، ناموس ، عزت ، مال ، فرهنګ او تاریخ لوټولو ته د پښتنو د ازلي دښمنانو په حیث ملا تړلې وه .

خو د پښتنو په ازلي دښمن کارمل او روس پسې تللي پښتنو لکه ډاکترنجیب الله ، سلیمان لایق ، سید محمد ګلابزوی ، اسلم وطنجار ، صالح محمد زیري ، عبد الرشید ارین ، میرصاحب کاروال ، نیازمحمد مومند ، رازمحمد پکتین ، قیوم نورزی ، بارق شفیعي ، جنرال ګل اقا ، نوراحمد نور ، مجید سربلند او داسې نورو په رڼو سترګو ورته کتل چې کارمل او د هغه خاینې ډلې د پښتنو سر ،ناموس ،عزت او مال صرف په دې خاطر لوټوي چې پښتانه وه .

د کارمل پورته ذکرشوي پښتنو پیروانو د کارمل د سیاسي قدرت په وخت کې په بې وسیۍ سره ورته کتل چې تاجک کارمل ، هزاره کشتمند او ازبک رشید دوستم د پښتنو سر ، ناموس ، عزت او مال یوازې په دې ګناه لوټول چې پښتانه وو ، د پښتنو کلي او بانډې یې په طیارو او سکاد راکټو ویشتل او داسې نور . . .

کارمل او دده غیرې پښتنو ملګرو خپل قومونو ته د " ملیت های محکوم " په نوم ډول ډول امتیازونه ورکول، په حقیقت کښې هغوی حاکم قومونه وه او پښتانه محکوم ملت وو.

## له ببرک کارمل څخه د پښتنو د ملاتړ نتیجه:

ځینو باسواده او نیم سوادو پښتنو په پټو سترګو او ناسنجیده ډول د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د ځینو قوم فروشو او قوم ته غدارو روشنفکرانو په واسطه د(کمونیزم او سوسیالیزم په نوم) د پښتنو دازلي دښمن ببرک کارمل ملاتړ وکړي او د پښتنو د دې ازلي دښمن رهبري یې ومنله .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتيجه دا شوه چې پښتنو روڼ اندو په خپل دې بې فکره ،غلط او ناسنجيده عمل په خپل لاس د پښتنو دښمن کارمل او دده ملګري پر پښتنو او افغانستان حاکمان کړل .

کارمل او د هغه ملګرو هم د پښتنو د دې ستري تاريخي غلطۍ څخه استفاده وکړه د پښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال يې د بابر مغول په شان په ډېره بې رحمۍ لوټ کړل ، د پښتنو کلي او بانډې يې په روسي طيارو او سکاد راکټونو د پښتنو په هديرو بدلې کړې .

پښتنو چپي روشنفکرانو په خپل دې غلط عمل د پښتنو د شخصي او پښتون ملت د ملي ناموس واک د پښتون ملت د سر ، دين ، ناموس ، عزت او مال دښمن ته په خپله په لاس ورکړې .

د کارمل په دوره کې چې د شورويانو او کارمليانو له خوا پر پښتنو څومره ظلم شوی دی د کارمل پښتانه ملګری به د محشر په ورځ خدای(ج) ته د دې ستري ګناه او سترجرم په باره کې جواب ورکوي .

کله چې ځينو پښتنو د پښتو او پښتونولي خلاف د کارمل ملاتړ وکړي ، نو دنيا يې خرابه او په عذاب شوه ځکه چې د ظالم کارمل تر غلامۍ لاندې تېره شوه ، اخرت يې هم په عذاب شو ځکه چې هلته بيا خدای(ج) د کارمل د ملاتړ په جرم سزا ورکوي .

<u>وګورى کله چې پښتنو چې د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف وزري کړيده ، نو دنيا او اخرت به يې دواړه په عذاب تېرېږي .</u>

<u>4: دجهاد په نوم د رباني او احمد شاه مسعود څخه د پښتنو ملاتړ:</u>

کله چې شوروي اتحاد پر افغانستان يرغل وکړ ، نو ټول افغان نجيب ملت د شورويانو پر ضد ملي قيام پيل کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



غربي او اسلامي نړۍ د افغان مجاهدينو په نوم بې حسابه مالي او نظامي مرستې پاکستان ته راولېږلې او د پاکستان اي .ايس .اي خپل اجنټو افغاني سازمانونو ته و( اي ايس اي) ته ددوی دوفادارۍ او کارکرد ګی پر اساس دا نړيوالې مرستې وروېشلې .

افغانان د اي .ايس . اي له خوا جوړ شوو د مجاهدينو په اوو (7) سازمانونو کې د دې لپاره تنظيم شول چې د دې کانالونو له لارې مالي او نظامي مرستې ترلاسه کړي او په خپل هېواد کې د شوروي اشغال ګرانو پر ضد وجنګېږي .

يو زيات شمېر پښتانه د تاجک تباره برهان الدين رباني په جميعت اسلامي سازمان کې هم تنظيم شول ، يوه اندازه مالي او نظامي مرستې يې په لاس راوړې او د هېواد د ازادۍ په جنګ کې يې استفاده ځنې وکړه .

پښتانه صرف د اسلام او افغانستان ددفاع په خاطر په جميعت اسلامي کې تنظيم شول ، خو کله چې شوروي ماتې وخوړه ، جهادي سازمانو کابل او ټول افغانستان تر خپل تسلط لاندې راوست ، نو اخواني مسلمان برهان الدين رباني د هېواد جمهور رييس ، اخواني مسلمان احمد شاه مسعود وزير دفاع ، اخواني مسلمان تورن اسمعيل امير هرات . . . او جميعت اسلامي د دولت عمده برخه په خپل لاس کې ونيوله .

له بده مرغه رباني ، مسعود او اسمعيل خان د کارمل او ملګرو په شان په يوه شپه کې د ننه د انترناسيوناليستو مسلمانانو څخه په تنګ نظره افراطي تاجکانو بدل شول .

رباني او دده تنګ نظره تاجکو ملګرو د خپلو پښتنو ورونو د سر ، عزت ، مال او تاريخ په لوټولو پيل وکړ .

دا چې د رباني جميعت اسلامي او د احمد شاه مسعود شورای نظار د اسلام او جهاد په نوم د کابل د خلکو پر سر ، ناموس ، عزت او مال څه راوستل دا به د کابل د بې دفاع ښاريانو سوي او داغ شوي زړونه او د کابل د تاريخي ښکلي ښار کنډوالې درته بيان کړي .

د کابل ښار او د کابل د بې دفاع ښاريانو او حتی د ټول هېواد د ولسونو په هغه بربادۍ کې چې د نجيب الله ددولت تر ړنګېدو وروسته رامنځته شول د رباني جميعت اسلامي ، د مسعود شورای نظار

(c) ketabton.com: The Digital Library



، د ګلبدين حکمتيار حزب اسلامي ، د عبدالرب رسول سياف اتحاد اسلامي ، د رشيد دوستم ازبکي مليشې او د هزاره ګانو حزب وحدت ټول شامل دي .

د کابل ښاريانو په منځ کې زيات خلک داسې خبرې کوي چې يو ځل

احمد شاه مسعود خپل پنجشيري ملګرو ته وويل چې زه داسې کابل غواړم چې د چا د کور دروازه وروټکول شي ، نو د کور دننه څخه بايد داسې اواز رانشي چې ووايي " څوک يې " .

په ولس کې داخبره هم کيږي کله چې شمالي ټلوالې د نجيب الله د نظام تر ماتې ورسته دهيواد سياسي قدرت په لاس کې واخستې نو د هيواد په شمالي ولايتونو کې به ئې پښتنو ته ويل چې تاسو د يو پټو او يوه جوړه څپليو سره شمال ته راغلي واست اوس نود پښتنو د واکمنۍ وخت تير شو ، بيرته د ځادر او څپليو سره د هيواد د شمال څخه ولاړشی او خپل ټوله شتمنی د شمال غيری پښتنو او سيدونکو ته پريږدی .

شمالي ټلوالي خپل داظالمانه ،غيری اسلامی ،غيری انساني او غيری افغاني نظرتر يو حده تطبيق هم کړی ،دوی د خپل نظر مطابق دهيواد د شمال څخه عملاهم په لکونو پښتانه په ډيرظلم اوزود خپل کورونواو جايدادونوڅخه راوشړل چی تر نن پوری د قندهاردژړی ،دهرات د مسلخ او شيدائی په کمپونو کې دداخلی مهاجرو په ډول ژوند کوی .

د پورته خبرو معنا داده چې د شمالي ټلوالی دمشرانو برهان الدين رباني ، احمد شا مسعود ،دوستم ،محقق ،خليلی اوداسی نورو د ژوند ارمان دا وو چې د کابل دښاراودهيوادد شمال څخه پښتانه دوسلی په زوروباسی اوهغوی هرڅه په زورځنی واخلی .

د رباني ،مسعود او ددوی د نورو ملګرو دې عمل ته په نننۍ اصطلاحاتو کې (ايتنيک کلينزينګ يا نسل ورکول يا د نسل له منځه وړل ) ويل کيږي .

په يويشتمه پيړۍ کې د پخواني يو ګوسلاويا سربي فاشستانو د خپل وطندارانو سر ، ناموس ،عزت او مال صرف په دې جرم لوټ کړل چې هغوی مسلمانان وو .

رباني ، مسعود ، محقق ، دوستم او ددوی پيروانو په کابل او شمال کې د پښتنو د سر ، ناموس ، عزت او مال لوټول په دې خاطر روا بلل چې دوی پښتانه وو .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رباني ، مسعود ، محقق ، دوستم او ددوی د ملګرو له خوا د هېواد په شمال او کابل کې په لکونو پښتنو پرسر ، ناموس ، عزت او مال تېری وشو او هغوی مجبور شول چې د خپل پلار او نیکه د ټاټوبې څخه فرار وکړي او نن هم د قندهار د ژړۍ ، د هرات د شیدایي او مسلخ په کمپونو او د هېواد په نورو برخو او حتی له هېواده د باندې مهاجر شوي دي .

خو د دې مظلومو پښتنو د مظلومیت په باره کې نه افغان مصلحتي دولت ، نه په هېواد کې د پښتنو روحاني ، دیني ، قومي ، سیاسي او روشنفکري مشرانو څه عکس العمل ونښوده .

د هېواد د پښتنو سره مخصوصا د هېواد د شمال د مظلومو پښتنو سره چې کوم لوی ظلم او وحشت وشو ، د دې ستر وحشت ، بربریت او ظلم په مقابل کې د پښتنو مشرانو او کشرانو دا بې تفاوتي او چپه خوله پاتې کېدل د ټولو پښتنو لپاره یو د شرم او ننګه ډکه خبره ده .

د رباني ، مسعود ، محقق او دوستم په نظر د پښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال باید لوټ شي تر څو هغوی مجبور شي چې د هېواد د شمال او کابل څخه ووځي ، چېرې چې دوی د لس زره کالو راهیسې اوسېدل .

د پښتنو په باره کې د رباني ، مسعود ، محقق او دوستم اعمال د بابر مغول ، د سقاو زوی حبیب الله او ببرک کارمل اعمالو ته ورته بلل کېږي .

رباني او مسعود خپل دا خیرن ارمان چې د هېواد شمال او کابل به له پښتنو څخه خالي کوي د ځان سره ګورته یووړي ، خو ددوی پیروان او پاتې شاګردان نن هم په ډېر سرعت او مهارت دخپلو رهبرانو د ارمان د پوره کولو لپاره د هېواد دتجزیې پلان تر لاس لاندې نیولی دی .

## د رباني او مسعود د ملاتړ نتیجه:

پښتنو په نامنظم ، بې تحلیله ، په پټو سترګو او ناسنجیده ډول د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د (جهاد په نوم) د رباني اومسعود ملاتړ وکړ او د افغانستان پاچاهي یې ورته ونیوله .

نتیجه دا شوه چې پښتنو په خپل دې بې فکره ، غلط او ناسنجیده عمل په خپل لاس او خپله توره خپل ځان د رباني او مسعود غلامان کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رباني او مسعود هم د پښتنو د دې ستري تاريخي غلطۍ څخه استفاده وکړه ، محقق او دوستم يې هم له ځان سره يو ځای کړل ، د کابل او د هېواد د شمال څخه يې د پښتنو په ايستلو پيل وکړ او په دې لاره کې يې د پښتنو سر ، عزت او مال لوټ کړ او پښتنو ته يې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې .

پښتنو په خپل دې غلط عمل د پښتنو د شخصي او پښتون ملت د ملي ناموس واک د پښتون ملت مخالفينو ته په خپله په لاس ورکړ .

د رباني په دوره کې چې د مسعود ، محقق ، دوستم ، تورن اسمعيل او ددوی د ملګرو له خوا پر مظلومو پښتنو څومره ظلم شوی دی ،ددی ظلم په خاطر به هغه پښتانه چې ددوی ملګرتيا ئی کړيده هغوی به هم د محشر په ورځ خدای(ج) ته د دې ستري ګناه او ستر جرم په باره کې جواب ورکوي .

پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د جهاد په نوم د رباني ، مسعود او ددوی د ملګرو ملاتړ وکړ ، دنيا يې خرابه او په عذاب شوه ځکه چې د ظالمی شمالی ټلوالی ترغلامۍ لاندې تېره شوه ، اخرت يې هم په عذاب شو ځکه چې هلته بيا خدای(ج) ته ځواب ورکوی .

## 5:له طالبانو څخه د شريعت د دفاع په نوم د پښتنو ملاتړ:

کله چې د ايران ، روس او پاکستان د استخباراتو د پلوی ډلو جګړه کومی قطعی نتجی ته په افغانستان کې ونه رسيدل اويو په ټپه ولاړ حالت يې ځانته غوره کړی،نو په دې حساس وخت کې د پاکستان استخباراتو يو نوی ابتکار په کار واچاوه او د افغانانو د منځ څخه مخصوصاً د پښتنو د ټولنې څخه يې يو مظلوم ، غريب او بې واکه قشر چې طالبان نومېدل او د تاريخ په اوږدو کې يو بې وسه او ناتوانه قشر وو راپاڅول .

مالي ، نظامي او لوژيستکي مرستې يې ورکړې او د شرعي نظام د قايمولو شعار يې پلاس ورکړ .

د "نفاذ شريعت" شعار د کلونو راهيسې د پاکستان استخباراتو په پاکستاني ټولنه کې د خپل ملا ډوله اجنټانو په واسطه امتحان کړی وو چې پر ولس مخصوصا پر بې سواده پښتنو ډېر ښه لګېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان استخباراتو د افغاني طالبانو په لاس هم په پاکستان کې تجربه شوی د "نفاذ شريعت" شعار ورکړ .

افغان ولس مخصوصا پښتانه چې د جمعيت اسلامي ، شورای نظار ، حزب وحدت ، حزب اسلامي او جنبش ملي د ظلم او وحشت او د پښتنو جنګسالارانو له خوا پوزې ته رسيدلي وو يو دم د طالبانو د تحريک سره يو ځای شول ، مسلح شول او د رباني جميعت اسلامي ، د مسعود شورای نظار ، دوستم جنبش ملي او د محقق او خليلي حزب وحدت او د حکمتيار حزب اسلامی يې تر بد خشان پورې و ځغلول .

د پاکستان اي ايس اي د طالبانو د تحريک تر پوښښ لاندې د افغانستان خاوره د نړۍ د تروريستانو مرکز جوړکړ ، د ټول جهان بنياد پرست تروريستان يې که عرب وو او که عجم د پښتنو په خاوره کې ځای پر ځای کړل .

پاکستان د طالبانو د تحريک تر نامه لاندې د پښتنو د پښتني او افغاني غرور د ماتولو لپاره منظم پلان جوړکړ ، خلک يې وهل او ټکول ، مېړه به يې د ماندينې ترمخ او ماندينه به يې د مېړه ترمخ وهل او بې عزته کول .

د پاکستان ای ايس ای د خپل کرغيړن پلان مطابق د طالبانو د تحريک په واسطه د پښتنو د علم او تعليم مخه ددې لپاره ونيول چې پښتانه بی سواده او بی تعليمه پاته شی ترڅو د پنجابيانو په شيطانی چلونو پوهه نه شی او ددی بی سواداو ناخبرو پښتنو هيواد ګران افغانستان په لمړی قدم کښې د پاکستان ستراتيژيک عمق او په دوهم قدم کښی ګران افغانستان د پاکستان پنځمه صوبه جوړه کړی.

د پنجابيانو بل هدف داوو چی دبې سواده پښتنو څخه د اسلام او جهاد په نوم د پاکستان د کرغېړنو اهدافو لپاره بې تنخواعسکرجوړ کړی .

که د طالبانو تحريک څه وخت لا نور هم پاتې شوی وای ټول هغه د ملي فکر لرونکي طالبان به د اي ايس اي د اوپراتيفي لوبو په نتيجه کې د منځه تللي وای او د طالبانو تحريک به سل فيصده د اي ايس اي يوه شعبه جوړه شوې وای او افغانستان به د تل لپاره د پا کستان يو صوبه شوی وای .

## د پښتنو له خوا د طالبانو ملاتړ نتيجه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په په خپله خوښه ، د رباني ، مسعود ، محقق ، دوستم او ددوی د ملګرو د ظلمونو څخه د نجات په خاطر ، خو بې تحلیله ، په پټو سترګو او ناسنجیده ډول د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف د (شریعت د نافذېدو په نوم) د اي ایس اي تر حمایت لاندی د طالبانو د تحریک ملاتړ وکړ .

نږدی وو چي پښتنو په خپل دې بې فکره ، غلط او ناسنجیده عمل په خپل لاس او خپله توره خپل ځان دتل د پاره د بابر مغول او انګلیس د میراث خور پنجاب غلام کړی وای.

نږدی وو چی پښتنو د طالبانو د تحریک په ملاتړ د افغانستان او ټولې پښتونخوا واکمني د پښتنو ازلي دښمن یعني پنجاب ته تسلیم کړیوای .

پښتنو په خپل دې غلط عمل سره نږدی وو چی د پښتنو د شخصي او پښتون ملت د ملي ناموس واک د پښتون ملت د سر،ناموس ،عزت او مال دښمنانو یعني پنجابیانو ته په خپله پلاس ورکړیوای .

د ملا عمر په دوره کې چې دطالبان له خوا د پنجابیانو په مشوره او قومانده پر پښتنو او غیرې پښتنو څومره ظلمونه شوي دي ، د طالبانو د تحریک مشران او د پښتنو هغه مشران چې بې قید او شرطه یې د طالبانو د تحریک ملاتړ کړی وو ، د محشر په ورځ خدای(ج) ته د دې ظلمونو په باره کې جواب ورکوي .

پښتنو د طالبانو په بې قید او شرطه ملاتړ د پښتو او پښتونولي خلاف کار وکړي ، په همدې سبب یې دنیایي ژوند خراب او په عذاب شو ځکه چې د پنجاب تر غلامۍ لاندې تېر شو ، اخرت به یې هم په عذاب وي ځکه چې هلته بیا خدای(ج) د پنجاب دغلامۍ په جرم سزا ورکوي .

په لنډ ډول داسي ویلای شو هر پښتون چې د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف وزري وکړي ، نو دنیا او اخرت به یې دواړه په عذاب تېرېږي .

## 6: د پښتنو له خوا د دموکراسۍ په نوم د حامد کرزي ملاتړ:

د (11) سپتامبر وروسته چې امریکا په افغانستان کې د طالبانو رژیم له منځه یوړ او پر ځای یې د حامد کرزي په مشرتوب یو ایتلافي دولت منځته راوړ چې ټول واک د رباني د جمیعت اسلامي ، شورای نظار ، د هزاره ګانو حزب وحدت او د رشید دوستم د جنبش ملي په لاس کې وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې ايتلاف غړو د پخوا په شان د دولت د قدرت څخه په استفاده د پښتنو پرخلاف خپل غيرې اسلامي او غيرې انساني اعمالو ته ادامه ورکړه او هر پښتون يې د طالب او القاعده په نوم بندي کړي ، مال او عزت يې ورلوټلي او يا يې امريکايانو ته پلاس ور کول چې د بګرام او ګوانتنامو محبسونو ته يې بوځي .

د جمهوري رياست داولى او دوهمى دورى انتخاباتو په جريان کې پښتنو بې له هيڅ قيد اوشرط نه حامد کرزي ته په دې خاطر رايى ورکړي چې هغه پښتون دی.

پښتنو پدی هيله حامد کرزی ته رای ورکړی چی که هغه وکولای شي چې دوی د شمالی ټلوالی او منطقوی پښتنو جنګسالارانو د ظلمونو څخه خلاص کړی.

خو د پښتنو دا هيله د حامد کرزي په لس کلنه دوره کې نه تنها تر سره نه شوه بلکه پدی لس کلنه دوره کښی پښتانه د هيواد د سياسی، اقتصادی ،ټولنيزواو د نظام د اکثرو موئثرو ساحاتو څخه وايستل شول او د نظام زياترينه برخه شمالی ټلوالی ته ورکول شول.

## د پښتنو له خوا د حامد کرزي د ملاتړ نتيجه:

پښتنو د حامد کرزي په ملاتړ د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف ورزي وکړه ، هغه ته يې صرف په دې نامه بې قيد او شرطه رايه ورکړه چې هغه پښتون دی .

پښتنو د کرزي ټيم ته نه کتل چې د پښتنو د سرسختو مخالفينو څخه جوړشوی وو ، کرزي د داسې ټيم سره د هيواد واکمنۍ ته ځان کانديد کړ چې پخوا هم د پښتنو د سر او مال په لوټلو نه مړيدل او د کرزي په ملګرتيا کې هم د پښتنو نه پخلا کيدونکي مخالفين پاتې شول .

ښه به دا وای چې پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د هيواد د اصلي خاوندانو په حيث د خپل سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو حقوقو د دفاع لپاره يو منظم سياسي جوړښت منځته راوستلی وای .

پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د زماني د تقاضا سره سم بايد د پښتنو ګټې تعريف کړې وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو بايد د خپل سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو حقوقو غوښتنه د خپل پښتني سياسي جوړښت له لارې د حامد کرزي سره شريکه کړې وای او په دې شرط يې هغه ته د پښتنو رايه ورکړې وای چې د هېواد په سياسي ،اقتصادي او ټوليزو ساحو کې د پښتنو حقه حقوق تامين شوي وای .

پښتنو بايد د حامد کرزي څخه پوښتنه کړې وای چې:

هغه د پښتنو د دېرش کلنو زخمونو د دوا لپاره کوم ملهم د ځان سره راوړي دي ؟

پښتنو بايد د حامد کرزي څخه غوښتلي وای چې هغه پښتنو ته چې د دې هېواد اصلي خاوندان دي څه امتيازات ورکوي ؟او داسې نور ؟

خو له بده مرغه پښتنو داسې ونه کړل ، هر پښتون په غيرې منظم ډول د هر ډول قيد او شرط پرته حامد کرزي ته په دې خاطر رايه ورکړ چې هغه پښتون دی .

پښتنو په خپل دې ناسنجيده او غيرې منظم عمل په حقيقت کې په خپلو رايو د حامد کرزي تر چپنه لاندې خپل نه پخلا کېدونکي مخالفين د تېرو لسو کلونو راهيسې پرخپل ځان حاکمان کړي دي او په خپله په خپل هېواد کې د هر څه څخه محروم د اقليتونو د غلامانو په حيث په سخت عذاب کې ژوند کوي .

د حامد کرزي د دولت له خوا چې کنترول يې د اقليتونو په لاس کې دی پښتانه ورځ تر بلې د هېواد د سياسي ، اقتصادي او ټوليزو ساحو څخه ايستل کېږي .

په ننني نړۍ کښې افغانستان يوازنی هيواد دی چيرې چې مطلق اکثريت پښتون ملت د اقليتونو تر حاکميت لاندې ژوند کوي.

دا سخت حالت پښتنو په خپله پر خپل ځان راوستلی دی چې نن پښتانه په خپل هېواد کې د غلامانو په ډول ژوند کوي او ورځې اوشپې د کرزي څخه په شکايتونو تېروي . . .

## نتيجه او فيصله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته عيني او تاريخي ترخو واقعيتونو څخه دا معلومه شوه چې هر کله پښتنو د پښتو او پښتونولي خلاف د غيري پښتنو رهبري منلې ده نو په سترو عذابو ککړ شوي دي ، د پښتنو دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، د پښتون ملت ملي نواميس او ملي ګټې د هغه غيري پښتون له لاسه پايمال شوي دي چې د دوی په توره او ملاتړ د قدرت پر ګدۍ کېناستلي دي .

پښتون ملت الحمد الله د نړۍ يوازينی ملت دی چې سل فيصده مسلمان دي ، مسلمانانو ته زموږ ګران پيغمبر داسې فرمايي:

لا يلدغ المومن من جحر واحد مرتين .

ژباړه : ((مسلمان له يوه غاره څخه دوه واره نه چيچل کېږي . ))
خدای(ج) دې پر موږ پښتنو ورحمېږي ،موږ خو په دې لنډه تاريخ کې شپږ(6) واره د يو غار څخه پرديو خزندوو چيچلو .

<u>اوس موږ پښتنو ته په کار دي چې د خپل پيغمبر عليه السلام امر ومنو او نور په پښتونخوا کې د غيري پښتنو مشري ونه منو ، ځکه چې د غيري پښتنو مشرتوب هر ځل د پښتنو دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال او د پښتون ملت ، ملي نواميس او ملي ګټې په خطر کې اچولي دي .</u>

د پورته تاريخي او عيني ترخو واقعيتونو څخه په زده کړي ، زموږ د محبوب پيغمبر د امر په اطاعت او د پښتو او پښتونولي د قانون د حکم مطابق پښتانه بايد لاندې کړنې انجام کړي:

**هر پښتون** (په هر مقام کښې چې وي که پاچاوی، که جمهور ريس، که سياسی،مذهبی او قومی رهبروی، که پير وي که مريد ، که ملا وي که طالب ، که روشنفکره وي که د قوم مشر او ملک په هر تولنيز مقام کې چې قرار لري) **په هره بهانه** (د اسلام ،اسلامي ورورولی ،اسلامي عدالت ،اسلامی خلافت او داسی نورو څخه دفاع ، اسلام سرحد نه لري ، د اسلامي نظام قايمول ، د اسلامي شريعت نفاذ ، اسلامي جهاد ، اخوانيزم ، وهابيزم ، کمونيزم ، کپيټاليزم ، دموکراسي ، ملت سازي او داسې نورو بهانو ) **چې وغواړي پښتانه** تشويق کړي چې پورته ذکرشوو اهدافو ته د رسيدو په خاطر په پښتونخوا کې د غيري پښتون رهبري ومني ،په پښتونخوا کې د غيري پښتنو سياسي مشرتوب او واکمني ومني ،په پښتونخوا کې د غيري پښتنو اطاعت و کړي ،پښتانه بايد هغه شخص ته د پښتون په سترګه ونه ګوري .

پښتانه بايد داسې شخص ته ، د پښتون ملت ازلي دښمن ، د پښتون ملت د دين ، سر ، ناموس،عزت او مال د پلورونکي په نظر وګوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر رښتيني پښتون بايد داسې قوم پلورونکو او پښتون ملت ته غدارو مشرانو او کشرانو ته اول نصيحت وکړي او هغوی وهڅوي چې د پښتنو د دښمني ډلې څخه را بيل شي ، که دا پښتونما او پر پرديو خرڅ شوي مشران او کشران نه اصلاح کېدل ، نو پښتانه دي د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هغوی ورتې غم ،ښادي ، مړي او ژوندي دي ورسره قطع کړي .

رښتيني پښتانه به په خپل دې پښتني عمل خپل مظلوم پښتون ملت د يو بل ناورين څخه خلاص کړي او د پښتون ملت د دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، ملي ګټو او ملي نواميسو ساتنه به وکړي .

پښتانه چې په پښتونخوا کښې په خپل سياسی، اقتصادی، ټولنيزو ، فرهنګی اوداسی نور چارو کښې هر ډول مثبت تغيرات غواړی ودی اهدافو ته د رسيدو د پاره دټولوجوړو شوو ډلو او ټو لنورهبری بايد هرومرو پښتانه مشران وکړی.

ددی دپاره چې پورته ذکر شوی ترخه تاريخی واقعات بيا تکرار نشی نو په پښتونخوا کښی د پښتنو دهرډول سياسی،اقتصادی،فرهنګی اوداسی نوروټولنيزو حرکتونو رهبر او مشربايد پښتون وی،ځکه چې پښتانه متل کوی:

(خپل به دی مړ کړی خو لمر ته دی نه غورځوی)

مورږ هغه وخت د پښتون ملت دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، ملي ګټې او ملي نواميس د پښتنو د دښمنانو له لاسه ساتلای شو چې په پښتونخوا کښی د پښتنو د سياسی،اقتصادی او ټو لنيزو چارورهبری د پښتنومشرانو پلاس کښی وی.

پښتانه مشران بايد د پښتون ملت هرقوم د پښتون ستر ملت يوه مهمه برخه وګڼی اود پښتون ملت ملی يوالي د پښتنو د قومي دايمي تشکيلاتو پراساس منځته راولی.

نن ځيني داسې خرڅ شوي پښتانه او غيرې پښتانه کسان شته چې د پښتنو د قومي تشکيلاتو د منځه وړل غواړي ، د پرديو مزدوران پښتانه په شعوري ډول او نور ساده پښتانه بيا په غيري شعوري ډول وايي چې د پښتنو قومي جوړښتونه د پښتنو د بې اتفاقۍ سبب کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چې د پښتنو طبعي دايمي قومي جوړښت د منځه وړل غواړي ، هغوی په حقيقت کې د پښتني ټولنې داخلي جوړښت ، تنظيم او پښتني پېژندګلوي د منځه وړي ، تر څو د پښتنو دښمنان پښتانه د اخوانيزم ،اسلاميزم ،اسلام سرحد نه لري ، دموکراسۍ ،کمونيزم ، ملت سازي ، ملي وحدت ، پيری ، ملايۍ او طالبۍ په نوم د پښتو او پښتونولي ځخه راوګرځوي او په ناخبره ډول يې د بابرمغل،پير بابا ،

،دسقاوزوی حبيب الله ،ببرک کارمل ، رباني ،مسعود او داسې نورو په شان په ځان پسې کړي ، د پښتنو په زور دولتي قدرت په لاس کې واخلي ، وروسته بيا دا د پښتنو په توره ګټل شوی دولتی قدرت ځخه د بابر مغول ، دسقاوزوی،ببرک کارمل ، رباني احمد شاه مسعود او داسې نورو په شان د پښتنو د سر ، ناموس ، عزت ، مال ، هېواد ، تاريخ او ټولو پښتني ارزښتونو برخلاف استفاده وکړی او ددولتی قدرت په زورد پښتنو هرڅه لوټ کړي .

د پورته تجربو ځخه بايد پښتانه زده کړه وکړي ، هيڅ کله بيا په هېڅ غيري پښتون کس پسې د هيڅ ايزم ، ملت سازۍ ، ملي وحدت ، پيري يا مريدۍ په نوم ولاړنه شي .

کوم پښتون چې ځان رښتيني پښتون بولي ، نو د هغه پښتني کهول ، پښتني پښه ، پښتني زي ،پښتون قوم بايد معلوم وي تر څو د هغه

" پښتونوالي يا پښتون توب " ثابت شي .

يو رښتيني پښتون بايد هيڅکله د غيري پښتون سياسی مشرتوب او رهبري پرخپل ځان ، پښتون ملت او خپل هېواد يعنې پښتونخوا ونه مني .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر هغه ځوک چې په پښتونخوا کې پر پښتنو د غيرې پښتنو حاکميت او رهبري غواړی ، پښتانه بايد لومړی هغه ته نصيحت وکړي چې هغه د پښتنو د دښمنانو له ډلې ځخه را بېل شي او د خپل ملت سره يو ځای شي ، که د پښتنو د نصيحت باوجود هم هغه شخص د پښتنو د دښمنانو په ډله کې ولاړ وو ،هغه شخص پښتون نه دی او پښتانه بايد دا د پرديو مزدور شخص د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتون ملت ته د ملي خاين ، غدار او قوم پلورونکي په حيث وروپېژني .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه باید دا غدار پښتون د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتون ملت د دښمن په حیث ورتي ، غم او ښادي ورسره قطع کړي او د خپل منځه یې وباسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

## پښتو او پښتونولي

په نړۍ کې لږ داسې قومونه او ملتونه شته چې د هغوی فطرت د هغوی د ورځني سیاسي ،اقتصادي او ټولنیز ژوند د ترتیب او تنظیم " قانون" وي .

په بله وینا په نړۍ کې داسې ډېرلږملتونه او قومونه شته چې هغوی د خپل ورځني ژوند سیاسي ،اقتصادي او ټولنیزو چارو د حل ، فصل او تنظیم لپاره د خپل فطرت څخه د قانون په حیث استفاده کوي او د هغه مطابق د خپل ورځني ژوند ټولې فیصلې کوي .

پښتانه هم د نورو انسانانو په شان په ورځني ژوند کې ځنې ارزښتونه،ځنې کړنې او فعلونه خوښوي او هغوی ته په ارزښت قایل دي ، او د ځینې نورو ارزښتونو ،کړنو او افعالو څخه بیا نفرت کوي .

پښتنو هم د نورو انسانانو په شان د لرغونو زمانوراهیسې بیا تر نن پورې هغه څه خوښول او قبلول چې ددوی د فطرت خوښ وه ،او هغه څه یې ردول چې ددوی د فطرت ناخوښه وه .

پښتون ملت د خپل فطرت دغوښتنو ، خواهیشاتو ،دده د خوښې د کړنو ،افعالواومادی او معنوی ارزښتنو ،دده د ناخوښې دکړنواو افعالوڅخه داسې اصول ، قواعد ، نرخونه او نورمونه جوړکړل چې د هغو په واسطه د پښتنې ټولنی افراد خپل شخصي ورځني ژوند ترتیب او تنظیموی اوهم پښتون ملت دهغو په واسطه دخپل ملي ژوند سیاسي ، اقتصادي اوټولنیز مسایل په حل او فصل کوي .

دنړۍ دزیاتو ملتو او قومونو برخلاف پښتون یو داسې نادره ملت دي چې دده " فطرت" دده دورځني ژوندد ترتیب اوتنظیم" قانون" دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتون ملت د هغو ټولو قبول شوو اصولو ، قواعدو ، نرخونو او نورمونو مجموعي ته چې د پښتون ملت د فطرت څخه يې نشت کړيدي او د لرغونو زمانو راهيسې بيا تر نن پورې پښتون ملت خپل ټول سياسي ،اقتصادي او ټولنيز مسايل په حل او فصل کوي

(پښتو او پښتونولي)وايي .

په يوه جمله کې داسې ويلای شو چې:

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت فطرت او ملي روح ده .

پښتو او پښتونولي هغه قانون دي چې د هغه ټولو احکامو د پښتنو د فطرت څخه نشئت کړيدي او هر رښتني پښتون د هغو ټولو احکامو په اطاعت ځان مجبور او مکلف ګڼي .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت فطرتي قانون دي .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت روح ده .

هرپښتون چې د پښتو او پښتونولي قانون ته شا وروګرځوي ، دا معنا لري چې دې کس خپل روح او فطرت ته شا وروګرځول ، يو بې روحه کس مړ کس بلل کېږي ،دمړو او بې فطرته افرادو څخه ملت نه جوړېږي .

"پښتو او پښتونولي" د هغه لوړترينو ، ښه ترينو ، قيمت ترينو او باارزښت ترينو ديني او انساني ارزښتونو ، صفاتو ، خواصو ، خويونو ، افکارو ، اخلاقو ،عقايدو ،اعمالو او افعالو مجموعه ده چې په هر وخت او هر ځای کې د هغو دايمي څلا يو پښتون د غيرې پښتون څخه بېلوي .

پښتو او پښتونولي هغه لوړترين ديني ،پښتني او انساني جوهر ، عالي ترين فکر ،فرهيزګاري ،تقوا ،او د ټولو هغو ښو صفاتو ، اخلاقو ، خواصو او نفسياتو مجموعه ده چې په هر وخت او هر ځای کې يو پښتون په اتومات ډول د هغه اعمالو څخه راګرځوي چې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يې يو پښتون بايد انجام نه کړي .

پښتو او پښتونولي هغه لوړترين ديني ،پښتني او انساني جوهر ، عالي ترين فکر ،غيرت ، مېړانه ،نارينتوب او د ټولو هغو ښو صفاتو ، اخلاقو ، خواصو او نفسياتو مجموعه ده چې په هر وخت او هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای کې يو پښتون په اتومات ډول د هغه ښو اعمالو انجام ته هڅوي چې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يې يو پښتون بايد انجام کړي .

هغه قانون چې د لرغونو زمانو راهيسې بيا تر ننه پورې پښتانه خپل سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزې ، حقوقي او جنايي لويې او وړې ستونزې پرې حلوي ،هغه قانون چې د لرغوني زمانو راهيسې بيا تر نن پورې په پښتنو کې د تطبيق او احترام وړقانون دي ، د هغه قانون نوم په پښتنو کې " پښتو او پښتونولي " دي .

پښتو او پښتونولي دومره ستر ، پراخه او هر اړخيز قانون دي چې د پښتون ملت د ژوند ټولي برخي يعنې سياسي ، اقتصادي ، ټولنيزي ، فرهنګي ،حقوقي ، جنايي ، عقيدوی ، نظامي او د ورځني ژوند هر اړخ په کې ترتيب او تنظيم شوي دي .

موږ په لاندې ډول څو ساده ، خو با معنا مثالونو ته يولنډه اشاره کوو :

## الف: د ميلمه د خپليو سمول:

د پښتو او پښتونولي قانون د پښتون ملت د ژوند تر ټولو اسانه او ساده مسئلې ته هم توجه کړې ده ،هغه داده چې کله يو مېلمه د يو پښتون کور ته ورشي ، نو تر ملاقات او خبرو وروسته چې کله مېلمه د هوجرې څخه وځي ، نو د کوټې په وره کې يې خپلې پښو ته سمې راسته پرتې وي ، د پښتنو بچيان او ځوانان د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق ځانونه مجبور بولي چې د دوی هوجرې ته د راغلي مېلمه د درناوي په خاطر د تګ په وخت کې د هغه د پښو خپلې د هغه پښو ته راسته کېږدي ، د درناوي دا عمل يوازې د پښتنو په ټولنه کې رواج دی او دا ښه عمل د " پښتو او پښتونولي " قانون پښتنو ته ورښودلي دي .

## ب: د مسافر ميلمه احترام:

که يو مسافر د يو مسکين پښتون کور حتا د هد يرې د يو ملنګ کوټې ته د مېلمه په حيث ورشي ، نو دا خوار او غريب فقير په ډېر ورين تندي دې مسافر ته خپل د فقيرۍ په جونګړه کې ځای ورکوي ،خپل د فقيرۍ د توان مطابق د دې مېلمه عزت کوي ، په کلي کې فقر ورته راټولوي او په ډېر سخاوتمندانه ډول يې د دې مسافر مېلمه پر وړاندې ږدي . . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ښه عمل يعنې مېلمه پالنه د پښتو او پښتونولي د قانون يو مهم اصل دی او دا زرين انساني او اسلامي اصل هم د "پښتو او پښتونولي" قانون پښتنو ته ورښودلی دی .

## ج: دژوند په چارو کې تعادل:

څرنګه چې الله پاک خپلو بندګانو ته امر کوي چې د ژوند په ټولو چارو کې د تعادل څخه کار اخلئ ، د خدای(ج) د دې امر سره سم او د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پښتون يوازينی ملت دی ، چې بدي يې په حساب ده او غچ يې هم په انصاف او حساب دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون د پيروي له برکته پښتانه دژوند په ټولو چارو کې معتدل اوبا انصافه خلک دی .

د دې لپاره چې په ورځنيو چارو کې د پښتنو د تعادل او انصاف ښه معلومات راته وشي موږ د پښتنو متعدل اعمال د غيرې پښتنو د غيرې متعدلو اعمالو سره مقايسه کوو .

موږ دلته د وحشي مغولو جنايت کارانه اعمال د پښتنو سره نه مقايسه کوو ،کومو چې پر اسيا باندې د خپل تاړاک او حاکميت په وخت کې دا خپله پيشه ګرځولې وه چې:

د انسانانو څخه به ئې سرونه پرې کړل او د انسانانو د پرې شويو سرونو څخه به ئې منارونه جوړ کړل اوبيا به ئې ددی خوښۍ د لاښه تجليل په خاطر د شراب خوری ،رقص ،ساز او سرود محفل جوړ کړی .

ښارونه به ئې وران او وسوځول او د هر ډول تمدن او ترقۍ نښې به ئې د منځه يوړې او داسې نور . .

.

موږ دلته دخپل يو ګاونډي هېواد ايران تاريخ ته په څو لنډو جملو کې يو ډېره لنډه اشاره کوو چې همېشه يې خپل ځان په دروغو د تمدن او انسانيت مدافع بللی دی او حتا نن يې هم بولي .

د ايران يو پاچا اقامحمد قاجار خپل اويا زره (70000 ) هېوادوال ړانده کړل .

اکاډميسن عظم سيستانی د ايرانی عالم ډاکتر شجاع الدين شيفا د ، ،تولد ديګر ، ،کتاب د (۴۳۲ مخ) په حواله ليکی چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران بل پاچا زنده خوران شاه اسمیعل "قورچي " د سني شکیب خان مړی په خپل دربار کې ددرباریانو ترمخ په خوله ټوټې ټوټی کړ او هغه یې وخوړه او د سر کاسه یې د سرو زرو په چوکاټ کې د یو جام په څېر ونیوله او شاه اسمیعل به د انسان د سر په دې کاسه کې شراب څښل .

د دې پاچا لمسی دوهم شاه اسمعل خپل شپږ وروڼه چې یوه یې لا شیدې رودلې ووژل ، همدې پاچا په یوه ورځ د پنځه سوه صوفیانو سرونه پرې کړل .

د ایران بل پاچا لومړی شاه عباس خپل پلار د مرګ تر ساعته په زندان کې وساته ، د خپل مشر زوی سر یې غوڅ کړ او د دوهم زوی سترګې یې ړندې کړې .

د دې شاه عباس ځای ناستی صفي شاه خپله مور ، مېرمن ، شیدې رودونکی زوی او ړوند اکا ووژل او د خپلې کورنۍ په لسګونو نور غړي یې ړانده کړل . . .

د یو ملت د پاچاهانو او د شاهي کورنیو غړي چې داسې افراطي اعمال ترسره کوي ، نو د داسې ملت د عام ولس د افراط کچه به کومې مرحلې ته رسېدلې وي .

مورږ په شلمه او یویشتمه پېړۍ کې هم ډېر داسې ملتونه او قومونه ولیدل چې په نړۍ کې د مهذبو او متمدینو ملتونو په نوم پېژندل کېدل ، خوکله چې یې حکومتونه او د قانون نافذونکي اداري ضعیفه شوې ، نو د دې مهذبو قومونو او ملتونو افرادو او ډلو داسې بشري ضد جنایات وکړل چې بشریت وربانديې شرمېږي ، چې ژوندي مثالونه یې د هند او پاکستان د وېش فسادونه دي چې یو متمدن انسان یې نه په خوله یادولی شي او نه یې په قلم لیکلای شي ، چې یو مثال ئی په امرتسر او لاهور کې یود بل په سلهاوو ښځې لوڅې د ښاریانو پر وړاندې په پرېډ تېرې کړې او داسې نور د نه ویلو جنایات یې انجام کړل .

د پاکستان فوځ چې کوم جنایات په شرقي پاکستان کې وکړل د هند او پاکستان د وېش فسادونو ته ورته بلل کېدل .

د شوروي اتحاد تر ماتې وروسته په روسیه کې د جنایتونو سلسلې ، د پخواني یوګوسلاویا تر ماتې وروسته د سربیانو جنایتونه د مسلمانانو ، کرواتاتو او نورو قومونو پر وړاندې او داسې نور . . .

د پورته مثالونو څخه داسې معلومېږي چې د دې قومونو افراد او ډلې تر هغه وخت پورې د تهذیب ،تمدن او اعمالو کې د تعادل ښه مظاهره کوي ترڅو چې په هېواد کې یو قوي او منظم نظام بر قراره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي او د نظامي قوت په زور نافذ قوانين پر ملت تطبيقوي ،خو کله چې د قانون نافذونکي ادارې په يو سبب د قانون د تطبيق په چارو کې کمزورې شي ،نو په دې وخت اکثره هغه پروني مهذب ، متمدن ، متعادل او د قانون تابع خلک يو دم په وحشيانو اودرنده ګانو تبديل شي ، يو د بل د سر ، ناموس ،عزت او مال په لوټولو پيل وکړي .

خو پښتون ملت داسې نه دي ، لکه نور ملتونه ، پښتانه که يو منظم دولتي نظام ولري او که يې ونه لري ، بيا هم پښتانه هميشه په هر ځای او هر وخت کې د خپل فطرت يعنې پښتو او پښتونولي د قانون ځان تابع بولي .

د " پښتو او پښتونولي " د قانون مطابق په پښتنو کې بدي او بدل په حساب او انصاف دي ، که په يوه پيښه کې د يو چا ځخه قتل وشي ، نو قاتل پر دغه يو قتل بسنه کوي او د مقتول په نوره کورنۍ غرض نه کوي حال دا چې په دې ښه پوهېږي چې د قاتل وارثان به حتما دده او يا دده د کورنۍ ځخه د مقتول بدل اخلي .

کله چې د مقتول وارثان د قاتل ځخه بدل اخلي ، نو صرف يو سړی ځنې وژني او د مړي بې عزتي هم نکوي ، ځکه چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د مړي بې عزتي د يو " مړي پور " لري .

د پښتنو فطرت يعنې " پښتو او پښتونولي " په نړۍ کې يوازيني قابل عمل قانون دي چې په هغه کې د مقتول يا مړي عزت او حقوق هم خوندي دي .

## د: ډېرو پېچلو مسئلو حل:

د " پښتو او پښتونولي " قانون د ډېرو زياتو مشکلو او پيچلو مسئلو حل هم په ډېر ساده ډول را ايستلي دي چې موږ يې دلته يو مثال ذکر کوو .

که احمد په ناحقه محمود د شاهدانو پر وړاندې په قتل ورسوي ، د نړۍ هېڅ قاضي ،څارنوال ،وکيل مدافع او د هيڅ دين عالم او فتوا به دا قاتل ته برئت ورنکړای شي او بخښنه به ورته ونشي کړای ، د دې دوو کورنيو ترمنځ به دښمني او نفرت ختم نشي کړای .

د دښمنو کورنيو پرنفرت او دښمنۍ علاوه د دې قاتل د خلاصون مسئله هم يوه ډېره پيچلې او سخته مسئله جوړېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د "پښتو او پښتونولي "قانون د نړۍ دا تر ټولو سخت مسایل په ډېر ښه ډول ،اسانه طریقه او ښه تدبیر سره حل کړي دي .

د مثال په ډول:

قاتل د څو مشرانو ، ملایانو او روحانیونو سره د مقتول د ورثې کور ته د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په "ننواتي "ورځي ، د مقتول ورثه هم د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د قاتل "ننواتي " مني او قاتل بخښي .

په دې ډول د دې دوو دښمنو کورنیو ترمنځ بدي او دښمني د تل لپاره له منځه ځي او په زیاتو مواردو کې د دې دوو کورنیو ترمنځ دوستي ایجادېږي .

د "پښتو او پښتونولي "د قانون مطابق "ننواتي " کول او "ننواتي "منل دواړه د پښتو او پښتونولي د قانون اصول دي چې هر رښتیني پښتون یې باید اطاعت وکړي ، د "ننواتي " اصل وروسته په تفصیل سره تشریح کېږي .

د پورته څو ساده مثالونو څخه مونږ دې نتیجې ته رسېږو چې "پښتو او پښتونولي " دومره ستر او هراړخیز قانون دی چې پښتون ملت ته یې د متقابل احترام ډېر ساده شکل یعنې د مېلمه د خپلیو سمول هم ورزده کړي دي او د دې سره سره یې ددومره سترو او مغلقو مسئلو حل هم پښتنو ته ورښودلی دی چې د نړۍ هېڅ قاضي او څارنوال یې نه شي حلولای ،خو د "پښتو او پښتونولي "د قانون د "ننواتي " زرین اصل یې دومره په ساده او معقول ډول حلوي چې دښمني لا هم په دوستي بدلوي .

لنډه دا چې د "پښتو او پښتونولي " په قانون کې پښتنو ته په ورځني ژوند کې د وړپېښو ټولو مسئلو د حل معقوله لاره په ډېر ښه ډول ورښودل شوې ده .

امریکایان ،فرانسویان ،هندیان ، روسان او د نړۍ نورملتونه د هغه قانون اطاعت کوي چې ددوی د پارلمانونو او یا نورو موسیساتو له خوا ددوی دورځنیو مسایلو دحل اوفصل لپاره ورته جوړشوي دي .

د وخت د تقاضا او د واکمنانو د خواهش مطابق په دې قوانینو کې تغیرات راوړل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني وخت دا قوانين د ديکتاتورو حاکمانو د فرامينو په واسطه لغوه کېږي او د تل لپاره د منځه ځي . . .

دا قوانين په اکثره مواردو کې د دې ولسونو د فطرتي خواصو نماينده ګي نشي کولای ، مثلاً د امريکا په متحده ايالاتو کې يو تور پوستي ، يو چينايي ، يو ايټالوي او يو عرب او يو مکسيکن ډېر لږ مشترک خواص سره لري ، د دوی عمده مشترکات دا دي چې ټول وايي:

زه امريکايي يم ، دوی مشترک بيرغ او ځيني نور مشترک شيان سره لري... خو په زياتو مواردو کې د دوی فطرتي خواص يو د بل سره ډېر فرق لري .

که چېرې د جنګ او يا بل سبب په اساس په پورته ذکر شويو هېوادونو کې د قانون نافذونکي ادارې د کاره ولوېږي ، نو ذکر شوي متمدنې ټولنې يو دم د انارشۍ او نهايت بدې ټولنيزې ګډوډۍ سره مخامخ کېږي او د ټولنې د وګړو سر ، ناموس ، عزت ، مال ، فرهنګي ،مذهبي او هرډول نور ارزښتونه د جدي خطر سره مخامخ کېږي ځکه چې د دې هېوادونو وګړي د پښتنو په شان د فطرتي قانون(پښتو او پښتونولي ) پيروي او اطاعت نه کوي چې د بحرانونو د پېښېدو په وخت کې ټولنې ته د انارشۍ ،افراط او تفريط څخه نجات ورکړي .

تاسو فرض کړئ چې په امريکا ،انګليستان ، فرانسه ، المان ، روسيه ،چين،او داسې نورو متمدنو هېوادونو کې يوه ورځ ، يوه هفته يا يوه مياشت د قانون نافذونکي ادارې فلج شي ، نو په دې هېوادونو کې به د جرايمو او جناياتو درجه کومې درجې ته ورسېږي ؟

د څومره انسانانو سر ، ناموس ، عزت او مال به لوټ شي ؟

ايا دا جنايتکاران يو دم د نورو هېوادونو څخه دې هېوادو ته راځي او که د اسمان څخه دې ټولنو ته رالوېږي چې دا جرمونه انجام کړي ؟

د دې سوال ځواب منفي دی ، دې ټولنو ته مجرمان له بل ځای څخه نه راځي ، بلکې ددغو ټولنو د پروني متمدنو او مهذبو خلکو له جملې څخه يو شمېر د قانون د نافذونکو ادارو د نه موجوديت او يا کمزورۍ په صورت کې يو دم په مجرمانو او جنايتکارانو بدلېږي او د خپلو هېوادونو د وګړو سر ،ناموس،عزت او مال لوټوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه د زرګونو کلونو راهیسي په پښتونخوا کې پراته دي او د نړۍ هر فاتح چې هند ته د تللو اراده درلوده او یا د هند څخه د مرکزي اسیا او نورو هېوادونو د فتحې لپاره تلل ، نو حتما د پښتنو پر خاوره پښتونخوا تیرېدل او د دې لښکرو او پښتنو ترمنځ حتما جنګونه کېدل او د دې جنګونو په جریان کې زیات امپراطوران په پښتونخوا کې له ماتې او شدید مقاومت سره مخامخ شوي دي ، خو پښتنو هم په دې نابرابره جګړو کې نهایت زیات ځاني او مالي تلفات لیدلي دي چې دې پروسې د زرګونو کلونو راهیسي دوام درلود .

د پردیو ملتونو نظامي یرغلونه اکثره وخت د دې باعث شوي دي چې په پښتونخوا کې یو منظم او قوي دولت وجود ونه لري او د قانون نافذونکي اداري کمزورې او یا له منځه ولاړې شي .

یوازنی مهم عنصر او ستر ملي ارزښت چې پښتنو ته یې د دې توان او طاقت ورکړی دی چې د نړیوالو یرغلګرو تر پښو لاندې ورک او فنا نه شي ، او یا تر یرغلونو وروسته چې د قانون نافذونکي اداري د منځه تللې وي پښتني ټولنه د انارشي او ګډوډۍ څخه راګرځوي هغه د " پښتو او پښتونولي " لرغونی قانون دی چې پښتني ټولني ته یې د افراط ، تفریط او انارشۍ څخه نجات ورکړیدی او پښتني ټولنه یې همیشه منظمه ، یو موټې ، قوي ، پایداره او ژوندۍ ساتلې ده .

د پورته دلایلو پر اساس موږ ویلای شو چې:

" پښتو او پښتونولي " د ویاړلي پښتون ملت د بقا ابدي ضامن ده .

پښتو او پښتونولي " د ستر او ویاړلي پښتون ملت ملي روح دی .

" پښتو او پښتونولي " دستراو ویاړلي پښتون ملت فطرت دی .

" پښتو او پښتونولي " د ستر او ویاړلي پښتون ملت بې زواله او د قبول وړ قانون دی .

" پښتو او پښتونولي " د ستر او ویاړلي پښتون ملت د یوالي او وحدت یوازنی سرېښ دی .

د " پښتو او پښتونولي " د ویاړلي پښتون ملت " تاریخي پېژندګلوي " ده .

د " پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت " اسلامي او انساني پېژندګلوي " ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د " پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د "نړۍ سره د سیالۍ "یوازني ضامن دي .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د "خپلواکۍ "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د "سوکالۍ "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د

"ترقۍ او پر مختګ "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د

"میانه روۍ "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ستراو ویاړلي پښتون ملت د

" افراط او تفریط د مخنیوي "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي "پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د

"د باداری "یوازنی ضامن دی .

د "پښتو او پښتونولي "پیروي د ستر او ویاړلي پښتون ملت د "ملي حاکمیت د ساتلو "یوازنی ضامن دي .

د "پښتو او پښتونولي " پیروي د ګراني پښتونخوا د

" مځکنۍ بشپړتیا د ساتلو "یوازنی ضامن دی .

پښتو او پښتونولي د یو طرفه د پښتنو فطرت دي او په عین حال د پښتنو د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز ژوند د ترتیب او تنظیم اصلي قانون هم دی .

په بله وینا پښتو او پښتونولي د پښتون ملت د فطرت په حیث د پښتنو د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز ژوند بنسټیز اصول جوړوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي تقريبا د پښتنو د سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند هره برخه په بر کې نيسي او د هغو د ترتيب او تنظيم لپاره پښتنو ته سپارښتنې ، او هدايات لري .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس که پښتانه خپل بقا او رفا غواړي ، نو دوی مجبور دي چې خپل سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق عيار کړي .

د تاريخ په اوږدو کې چې کله پښتنو په خپل سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند کې د پښتو او پښتونولي د زرينو اصولو پيروي کړې ده ، نو د نړۍ د نورو ملتونو سره سيالان شوي دي او کله چې پښتنو

" پښتو او پښتونولي " ته شا ورګرځولې ده او د پرديو نظريو پيروي يې کړې ده او کوښښ يې کړی دی چې خپل ورځني ژوند د پرديو نظريو مطابق عيار کړي ، نو په شرم شرميدلي او د پرديو غلامان شوي دي ، ژوندي مثالونه يې په تيرو ديرشو کلو کې د پرديو وارداتي ايډيالوژيو لکه کمونيزم ،اخوانيزم او وهابيزم پيروي وه چې ټوله پښتونخوا او پښتون ملت يې د غم پر تغر کېناوه او هېواد يې د شوروي ، پاکستان ، ايران او امريکا غلام کړي .

موږ دلته لوستونکو ته د پښتو او پښتونولي دقانون څو زرينو اصولو ته په ډېر لنډ ډول اشاره کوو .

## 1: د ديپلوماسۍ په اړه:

د ريګويد په دوهم ټوک کې کوم سرودونه چې په(1400 ق . م) کې د پنجاب د رود پر غاړه د لس اريايي قبيلو د مشهور جنګ په ارتباط د پښتنو قبايلو د مشرانو او نوميالو په باره کې ويل شوي دي دا په ډاګه ښکاره کوي چې پښتنو د يو ملت په صفت د نورو اريايي قبايلو سره ديپلوماتيک ، سياسي او دفاعي تړونونه او سياسي روابط درلودل ،او د همدې روابطو او تړونونو پر اساس يې د پنجاب د سيند پر غاړه د لس اريايي قبيلو په مشهور جنګ کې برخه اخيستې وه .

همدارنګه د دې جګړې څخه دا هم معلوميږي چې دا جنګي او دفاعي اتحاد حتما د ديپلو ماتيکو مذاکراتو په نتيجه کې لاس ته راغلي وو او د دې ديپلو ماتيکو مذاکراتو پر اساس پښتنو د يو ملت په صفت د نورو اريايي قبايلو سره سياسي او دفاعي تړونونه درلودل او د همدې تړونونو پر اساس پښتنو په دې جنګ کې برخه اخيستې وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته تاريخي شواهدو څخه دا معلومېږي چې پښتنو د يو ملت په حيث د نورو اريايي قبايلو سره سياسي او دفاعي تړونونه درلودل او د دې تړونو پر اساس دوی يو د بل څخه مرسته غوښتل او يو د بل مرستي ته ورتلل چې دا د هغه وخت عالي ديپلوماسي وه .

د پورته تاريخي حقيقت څخه دا معلومېږي چې پښتو او پښتونولي په هغه زمانه کې هم پښتنو ته سپارښتنه کول چې د خپل ملت د ملي منافعو د دفاع په خاطر د نورو اريايي قبايلو سره ديپلوماتيک روابط وساتي .

د دې خبرې معنا داده چې د پښتو او پښتونولي قانون د يو مثبتي او فعالي ديپلوماسۍ طرفداري کوي او پښتانه سياستمداران هڅوي چې خپل هېواد او دولت د ملي منافعو د ساتلو د اصل پر اساس په ديپلوماتيکه انزوا کې وانه چوي .

په بله وينا پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د يو معقولي ديپلوماسۍ په مرسته د پښتون ملت ،د دين ، سر ، ناموس ،عزت ،مال ، ملي حاکميت ، ملي خپلواکۍ ، مځکني بشپړتيا ، ملي ګټو او ملي نواميسو ساتنه وکړي .

نو په دې اساس موږ ويلای شو چې پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې د خپل ملي ګټو د ساتني په خاطر د ګاونډيو او نړيوالو سره د معقولې ديپلوماسۍ څخه کار واخلي او هيڅ وخت خپل هېواد په ديپلوماتيکه ساحه کې تجريد نه کړي .

د پورته دلايلو پر اساس موږ ويلای شو چې د تاريخ په اوږدو کې د پښتو او پښتونولي قانون د پښتون ملت سياسي ،اقتصادي ، ټولنيز او دفاعي روابط له نورو هېوادونو او قبايلو سره قانون بندي کړي وو او پښتنو د هغو قوانينو پر اساس د نورو قومونو سره خپل سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز او دفاعي روابطو ته دوام ورکاوه .

نن هم پښتو او پښتونولي پښتانه سياسي او دولتي مشران هڅوي چې د پښتونخوا دولت بايد د خپل ګاونډيو هېوادونو ، د منطقې د هېوادونو ، د اسلامي نړۍ ،غربي نړۍ ، امريکا ، کاناډا ،جاپان ،هند ، چين ،روسيي او دنړۍ د نورو هېوادونو او نړيوالو موسسو سره د ملي ګټو ، ملي استقلال ، ملي حاکميت ، او مځکنۍ بشپړتيا ته د متقابل احترام پر اساس دوستانه اړيکو ته دوام ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: د ناموس د ساتني په اړه:

پښتو او پښتونولي هر پښتون ته دا سپیڅلي دنده سپاري چې خپل د شخصي او ملي ناموس د ساتلو په لاره کې د سر او مال د قربانۍ څخه ډډه ونکړي .

د پښتو او پښتونولي دقانون پراساس هر پښتون چې د خپل شخصي او ملي ناموس د ساتني په لاره کې د سراو مال سپما وکړل ،هغه کس پښتون نه دی او یو بې ننګه او بې غیرته شخص بلل کیږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون مجبور او مکلف دي چې د بل پښتون ناموس به هم د خپل ناموس په شان ساتي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتنی پښتون مجبور او مکلف دی چې د همسایه او حتا د خپل دښمن ناموس به هم د خپل ناموس په ډول ساتي .

حمید مومند په دې هکله داسې وايي:

چــــې د بــــــل ننـــــګ او نـــــاموس ســــــاتلای نــــــه شــــــي
وبـــــه نــــــه ســــــاتي څـــــوک خپـــــل ننـــــګ او نـــــاموس

پښتانه خپله مېرمن ، لور ، خور ،مور او د کورنۍ نورې ښځې خپل ناموس ګڼي او د هغو د عزت څخه د خپل مال او سر په قیمت دفاع کوي او په عین ډول پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې د بل چا د ناموس عزت هم وکړي او د هغه څخه هم د خپل ناموس په شان دفاع وکړي .

پښتو او پښتونولي نه په سوله او نه په جنګ کې پښتنو ته دا اجازه ورکوي چې د بې ناموسۍ عمل وکړي .

پښتانه په خپل منځي جګړو کې یو بل سره وژني خو د خپل وژل شوي دښمن ناموس ته بې ناموسي نشي وراړولای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه د خپل هېواد یعني ملي ناموس څخه د دفاع په جنګ کې په ډېره میړانه متجاوزین وژني او یا یې په جنګ کې اسیران کوي ، خو د دښمن جنګي اسیران نه وژني او نه بد سلوک ورسره کوي ، بلکې د دې جنګي اسیرانو سره د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق ډېر په احترام برخورد کوي .

که د متجاوزینو زنانه او ماشومان د پښتنو له خوا په جنګ کې د جنګي اسیرانو په ډول ونیول شي ، نو پښتانه د دې اسیرانو سره د میلمنو په څېر برخورد کوي چې د دې خبرې د ثبوت لپاره موږ دلته څو لنډ تاریخي مثالونه د لوستونکو د معلوماتو لپاره ذکر کوو .

**1: د پښتنو او انګریزانو په لمړی جنګ کښې.**

د افغان او انګلیس په لومړي جنګ کې پښتنو غازیانو د انګلیسي متجاویزینو ښځې او ماشومان په جنګ کې اسیران ونیول خو د هغوی سره یې په ډېر احترام د مېلمنو په شان برخورد و کړ او په پوره ناموس دارۍ یې بېرته انګلیسي دولت ته تسلیم کړل ، د دې خبرې تصدیق انګلیسي لیډي سیل چې د پښتنو سره اسیره وه په هغه کتاب کښې چې د دی د خوا لیکل شوی دی پخپله کړی دی .

**2: د شیر شا سوری د پاچاهۍ په وخت کښې.**

کله چې ستر پښتون شېرشاه سوري پر هندوستان حکومت کوي د دې ستر پاچا زوی په ناپوهۍ کې د یوه هندو مېرمنې ته په داسې حال کې کتلي و چې هغه لمبیدله ، هندو د دې امله پښتون پاچا ته عرض وکړې د هندو د عرض په مقابل کې پښتون عادل پاچا امر وکړي چې <u>دده د زوی مېرمن دې هغسې لوڅه ولاړه بې چې هندو په هغه ډول ورته وګوري په کوم ډول چې شهزاده د هندو مېرمنې ته کتلي و</u> .

**3: د شیر شاه سوری او همایون مغل په جنګ کښې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قنوج په جنګ کې شير شاه سوري همايون مغل ته داسې سخته ماته ورکړه چې همايون پر يو شا توري آس د جنګ له ميدان څخه وتښتيده خپلې ښځې ،ماشومان ، د شاهي حرم ټول اعضا او خزانې يې تر شا پرېښودې .

شيرشاه سوري د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو د قاتل ظالم مغل همايون او بابر د کورنۍ ټول شاهي حرم د خپل يو وفادار دوست خواص خان په لاس د "رهتاس" کلا ته په پوره احترام او ناموس دارۍ ولېږل ، هلته يې د مغلو د شاهي کورنۍ د ټولو غړو د رتبو مطابق د هغوی قدر او احترام وکړي او بيا يې وروسته د مغلو د شاهي کورنۍ ټول غړي په پوره احترام په تښتيدلي همايون مغل پسي لاهور ته وليږل .

شيرشاه سوري خپل په دې پښتني عمل د پښتو او پښتونولي د قانون د ناموس دارۍ د اصل مطابق د دښمن ناموس هم په پوره درناوي وساتي .

**4: د خيبر پر مقام د پښتنو او مغلو په جنګ کښې.**

په (1672 ع ) کال کې د پښتنو او مغلو ترمنځ د خيبر پر مقام جګړه وشوه چې ذکر يې پر خپل ځای راځي ، خو د دې جنګ په جريان کې پښتنو د مغلو د کابل او پيښور د صوبې د والي محمد امين(40000 ) څلويښت زره مغولي فوځ د خيبر په دره کې مات کړي والي محمد امين په تش لاس پر پښو په تيښته پيښور ته ولاړ .

په دې جګړه کې مغلو شرمناکه ماته وخوړه څلويښت زره فوځ يې د ازادۍ غوښتونکو پښتنو له لاسه تباشو ، د والي محمد امين لور ، ماندينه ، خور او مور او د نورو مغلو افسرانو ښځې او کوچنيان د پښتنو په لاس کې بنديان شول .

پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون د ناموس دارۍ د اصل مطابق د مغلو ښځې او ماشومان بېرته مغلو ته وسپارل ، خو د والي محمد امين مانديني دوباره خپل مېړه ته د تللو څخه په دې سبب انکار وکړ چې د دې مېړه د څلوېښت زره فوځ سره څنګه د شرمه ډکه ماته خوړلې وه ، هغه ښځه تر مرګه د پښتنو په وطن کې پاتې شوه او خپل پاتې ژوند يې خدای(ج) عبادت ته وقف کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خيبر د ښتې په ويار خوشحال خان بابا يو اوږد شعر ويلى چې موږ يې دلته صرف يو څو بيتونه راوړو .

نــــه پــــه دېـــرو نـــه پـــه لـــږ د خـــداى پــه كــړوده
لـــږ لښـــكر پـــر ډېـــر لښـــكر مـــومي ظفـــر

څـــه شـــينواري څـــه مهمنـــد څـــه افريـــدي وو
چــې يـــې مـــات كـــړ د صـــوبې واړه لښـــكر

دا طوفـــان چـــې پـــر مغلـــو بانـــدي ســـاز شـــو
پـــه كشـــتن پـــه اولجـــو هـــيڅ مكـــړه نظـــر

كـــه اســـان وو كـــه فـــيلان كـــه اســـبابونه
پـــه انبـــار انبـــار ســـپين زر وو كـــه ســـره زر

هغـــه ښـــې پـــري پيكـــري د پـــالكيو
همګـــې پـــري پـــوري لعـــل در او ګـــوهر

بنـــديواني شـــوي پـــه لاس د پښـــتنو كـــې
دا بـــه څـــوك كـــا د مغـــل د زړه بهـــر

دا متـــل د زمـــاني دى څـــه اوس نـــه دى
چـــې نـــامرد خـــر پـــر پـــالان وهـــي نـــه خـــر

لنډه دا چې پښتو او پښتونولي پښتنو ته د خپل او د پردي د ناموس د ساتلو امر كوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا مځكنۍ بشپړتيا ، ملي حاكميت ، ملي استقلال ، د پښتنو دين ، سر ، ناموس ،عزت ، مال ، ملي ګټې او داسې نور ديني ،پښتني او ملي ارزښتونه د پښتنو ملي نواميس بلل كېږي ، د دې ملي نواميسو څخه د سر او مال په قيمت دفاع د هر رښتيني پښتون ديني او پښتني فرض بلل كېږي .

هر پښتون چې د پورته ذكر شويو ارزښتونو ددفاع په لار كې خپل سر او مال وسپموي ، د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هغه كس پښتون نه بلل كېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3: دغیرت په اړه :

غیرت هغه مقدس حس دي چې په انسانانو کې د خپل دین ، مذهب ، ژوند ، ناموس ، عزت ، مال ، ملت ،قوم ، ژبې ، خپلوا کۍ ، ملي حاکمیت ، مځکني بشپړتیا ، ملي ګټو ، ملي نواميسو او داسې نورو دیني او ملي ارزښتونو او بنیادی حقوقو د ساتلو او دفاع په خاطر را پاریږي .

په انسان کښی هغه حس چې دوی د خپل دین ، مذهب ، ژوند ، ناموس ، عزت ، مال ، ملت ،قوم ، ژبې ، خپلوا کۍ ، ملي حاکمیت ، مځکني بشپړتیا ، ملي ګټو ، ملي نواميسو او داسې نورو دیني او ملي ارزښتونو او بنیادی حقوقو د ساتلو او دفاع په خاطر را پاروی

" غیرت " بلل کیږي .

د غیرت مقدس حس د انسانانو په خټه کې په متفاوت او بېل بېل تناسب اخښل شوی دي ، ځینې خلک ډېر غیرتي وي او ځینې لږ غیرتي وي ،ځنی انسانان بیا هیڅ غیرت نه لری ځکه چی ددوی د غیرت حس دوی د پورته ذکر شوو بنیادی حقوقو او ارزښتنو ددفاع دپاره نښی راپارولای.

د ځینو خلکو د غیرت حس د خو محدودو ارزښتونو ددفاع په خاطر راپاریږي ، مګر د ځینو نورو خلکو لپاره بیا داسې ډېر ارزښتونه شته چې ددوی د غیرت حس د هغوی څخه دفاع خپل فرض ګڼي .

د نړۍ دهرملت شتون او نه شتون په دې پورې اړه لري چې د هغه ملت د وګړو د غیرت مقدس حس څومره قوي او غښتلی دی .

په کوم ملت کې چې د غیرت حس قوي وي هغه ملت د خپل ملي ارزښتونو څخه په مېړانه دفاع کوي او خپل ملي ژوند ته تر ډېره وخته په عزت ، حرمت او استقلال سره دوام ورکولای شي ، په کوم ملت کې چې د غیرت مقدس حس کمزوری وي هغه ملت خپل مستقل ملي ژوند ته ډېر دوام نشي ورکولای او ډېر ژر د پردیو ملتونو تر اثر او غلامۍ لاندې راوستل کیږي او دا ملت اهسته اهسته خپل خاص بېلونکي خصلتونه له لاسه ورکوي او په حاکم ملت کې منحل او پنا کیږي .

د پښتون ملت په خټه کې هم د نورو ملتونو په شان د غیرت مقدس حس اخښل شوی دی .


LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غیرت مقدس حس د پښتنو د فطرت (پښتو او پښتونولي ) یو ډېر مهم او زرین اصل دی .

د "پښتو او پښتونولي " د لرغونی قانون پر اساس د هر رښتني پښتون د غیرت مقدس حس باید د خپل دین ، سر ، ناموس ،عزت ،ملت ، ژبې ،قوم ، مال ، ملي حاکمیت ، ملي خپلواکۍ ، د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا ، ملي ګټو ، ملي نوامیسو ، د پښتو او پښتونولي د قانون ، حق ، رښتیا ، عدالت ، د مظلوم څخه ددفاع او داسي نورو دیني او ملي ارزښتونو د دفاع په خاطر راوپاریږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر پښتون کس چې د خپل دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، پښتون ملت ، ملي حاکمیت ، ملي خپلواکۍ ، ملي ګټو ، ملي نوامیسو ، د پښتونخوا د ارضي تمامیت ، پښتو ژبې ، خپل کورنۍ ، ناموس ، حق ، رښتیا ،عدالت ، دمظلوم ، شرف ، عزت او د پښتنو د داسې نورو دیني ، ملي او پښتني ارزښتونو څخه د دفاع په خاطر غیرت نه کوي هغه کس ته د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس بې غیرته کس ویل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس بې غیرته او بې ننګه شخص پښتون نه بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر پښتون کس چې په خپل هېواد کې د پښتون ستر ملت لپاره د غلامۍ ، محکومیت ، ذلت ، ذلالت ، نامردۍ ، چاپلوسۍ ، غورمالۍ ، محرومیت او بې پتۍ ژوند ویني او د دې ناخوالو په مقابل کې یې پښتني غیرت نه را پاریږي او په پښتني میړانه او سر ښندنه د مبارزې میدان ته نه را دانګي او په یوه او بله بهانه ځان پټوي او تیرباسي،هغه کس پښتون نه دی او د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس بې ننګه او بې غیرته کس بلل کېږي .

پښتون ستر ملت د پښتونخوا په پاکه خاورکې د زرګونو کلونو راهیسې د خپل پښتني غیرت د مقدس حس په زور تر نن پورې د تاریخ د یرغل ګرو په مقابل کې ژوندي او بریالي پاتي شوي دي .

د پښتون ملت د "پښتني غیرت" مقدس حس د پښتون ملت ددین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، ملي ګټو ، ملي نوامیسو ، پښتو ژبې ، د پښتو او پښتونولي د قانون او داسې نورو دینی،ملي او پښتنی ارزښتونو او حقوقو د دفاع بې زواله او ابدي قوت بلل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 4: د بسپنې پړاو:

که د ځينو دعوا ملوا و سببونو پر اساس يو پښتون په اقتصادي لحاظ غريب شي ، نو په دي حالاتو کې د " پښتو او پښتونولي " د قانون پر اساس د دې سړي کورنۍ ، ليرې او نږدې قريبان او عزيزان پښتني دنده لري چې د دې غريب شوي پښتون سره د خپل توان په اندازه حتما اقتصادي مرسته وکړي چې دې عمل ته په پښتو او پښتونولي کې ،،بسپنه،، وايي .

بسپنه د پښتو او پښتو نولي يو اساسي اصل دي او د همدې پښتني اصل پر بنياد په پښتني ټولنه کې پښتانه په اقتصادي لحاظ يو له بل سره مرستي کوي او په اقتصادي لحاظ لويدلي کورنۍ اقتصادي ماتي ته نه پريږدي ځکه چې دا ډول سخت اقتصادي مشکلات اکثره وخت په ټولنه کې زيات اخلاقي او ټولنيز فسادونه منځ ته راوړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون د بسپنې زرين اصل پښتني کورنۍ د زيات اقتصادي فشار څخه ساتلي دي ، کوم چې په انساني ټولنو کې د زياتو ټولنيزو فسادو سبب کيږي .

د پښتو او پښتونولي د بسپنې زرين اصل د پښتنو کورنيو او افرادو ترمنځ مينه او محبت هم ډېروي .

د پښتو او پښتونولي د "بسپنې " اصل په پښتنو کې باور او ډاډ پيدا کوي ، د اقتصادي سختۍ په وخت کې يو پښتون د تنهايۍ او نا اميدۍ احساس نه کوي ،ځکه چې دده کورنۍ او ټولنه دده مرستي ته ورځي او دوی د مشکلاتو څخه خلاصوي ، چې دا ټولنيز باور او ډاډ پښتني ټولنې ته په روحي لحاظ ټولنيز باور ،ارام او ثبات راوړي .

د پښتو او پښتونولي د "بسپنې " زرين اصل د پښتني ټولنې افراد او کورنۍ د اقتصادي ماتي څخه ژغوري ، د کورنيو او افرادو باور او اعتماد پر خپل نږدي او ليرې کورنۍ ډېروي ، د هغو ترمنځ مينه او محبت ډېروي او په پښتني ټولنه کې د اقتصادي بحران په وجه د اخلاقي فساد او جرايمو د پراختيا مخه نيسي .

پښتنو د بسپنې اصل په يوه متل کې داسې بيان کړيي دي .

،، د ډېرې لرګي د يوه غوزې يا د ډېرو همسا د يوه ګيډي . ،،

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5: د پناه ورکولو په اړه :

د "پښتو او پښتونولي" قانون هر پښتون ته حکم کوي ، هر څوک چې د پښتنو د پنا د قانون مطابق ددوی څخه پناه وغواړي هغه ته به پناه ورکوي ، که څه هم د پناه غوښتونکي څخه ظلم شوي وي ، خو د پناه غوښتلو په وخت کې د ناتوانۍ او مظلومیت له سببه د بل پښتون څخه پناه غواړي .

د پښتنو څخه د پنا غوښتلو څو ډولونه دي چې زه دلته صرف دريو ډولونو ته لنډه اشاره کوم .

الف : د پنا غوښتلو په خاطر د چا کورته ښځه يا ښځې ورلیږل:

کله چې يو څوک د يو پښتون څخه د پنا غوښتلو هیله لري ، نو خپل د کور يوه ښځه(مېرمن ، لور ، خور ، مور ، وريندار ه . . . ) د هغه کلي د ښځو د اوبو وړلو ګودر ته ورلیږي .

په پښتنو کې دا عام معمول دي چې د کلي ښځې ځاښت او غتې مازيګر د کلي د کاريز چینې او يا د رود غاړې ته د اوبو د راوړلو لپاره ځي چې عمده هدف يې د کلي د ښځو يو له بل سره لیدل ، خبرې کول او اوبه راوړل وي .

پرکوم ځای چې د کلي ښځې سهار او مازيګرسره را ټولیږي يو له بل سره مجلس اوخبرې کوي او د کور لپاره اوبه هم راوړي په پښتنو کې دي ځای ته ( ګودر ) وايي .

ګودرد پښتنو په فولکلوريکو ادبیاتو کې ښه ښايسته مقام لري او اکثره وخت دګودرلار د مینانو د لیدواود پیغامونو د تبادلي ځای هم وي لکه چې وايي:

پرګودرسورسالو ښکاره شو * ما ويل په تورو اوبو ورولګیدنه .

ما د ګودرپرغاړه ښخ کړی * چې مي همزولي مات منګي پرقبرږدينه .

پرګودرجوړه هنګامه شوه* د پیغلو جنګ دي په منګو ویشتل کوينه .

که دی زما ديدن په کاروی * دګودر غاړه اجاره واخله مینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د پنا غوښتونکي کس د کور ښځه ګودر ته راشي ، نو پر ګودر د ناستو ښځو څخه د مورد نظر سړي د مېرمنې پوښتنه کوي کله چې يې دا ښځه وپېژندله ، نو ور وړاندي کېږي او د هغې ښځې پلو ته غوټه ورکوي او ټولي حاضرې ښځې دا حالت ګوري .

د کومي ښځې پلو ته چې غوټه ورکول شوه هغه ښځه چې کور ته ولاړه شي نو خپل د کور اصلي مشرته (خاوند ،ورور ،پلار ،زوی ) ته وايي چې نن پر ګودر يوې ښځې زما پلو غوټه کړيي .

نارينه د دې خبرې په اورېدو سمدستي پوهيږي چې دا د کومي محتاجې کورنۍ ښځه ده او دا کورنۍ زما څخه پنا غواړي .

دا کس دستي مسجد او هجرې ته راوزي او دا خبره د خپل کور او کهول سره شريکوي او په شاو خوا کې پنا غوښتونکي خلک پيدا کوي او په ډېر عزت يې خپل کلي ته راولي او په خپل کلي کې پنا ورکوي ، دا پنا تر هغه وخته دوام کوي تر څو د دې پنا غوښتونکي مشکل د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق حل شوي نوي .

که د پنا په وخت کې د پنا غوښتونکي دښمن کوښښ وکړي چې پر پنا غوښتونکي حمله وکړي ، نو پنا ورکونکي پښتون به د خپل سر او مال په قيمت د خپل پناهنده يعني همسايه څخه دفاع کوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پنا هنده د پنا ورکونکي همسايه دي ،پښتو او پښتونولي هر پښتون ته حکم کوي چې د خپل همسايه څخه دفاع د هر پښتون پښتني فرض دي .

ب : د يو پښتون د کور مخ ته پسه يا غويي حلا لول:

که څوک غواړي چې د يو پښتون همسايه شي نو د هغه د بې خبرۍ په حالت کې د هغه د کور يا مسجد مخ ته پسه يا غويي حلالوي ، نو په دي صورت کې د کور خاوند د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس مجبور دي چې پناغوښتونکي ته به پنا ورکوي .

ج : د يو قوم پر هديره د پسه يا غوايي حلالول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک د يوه قوم څخه پنا غواړي ،په دې صورت کې به پنا غوښتونکي د دې قوم پريو مشترکه اومشهوره هديره پسه ياغويي حلالوي چې د دې عمل په کولو سره نوموړي شخص د ټول قوم پناهنده يا همسايه بلل کيږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دا سړي د ټول قوم همسايه شو او ټول قوم به تر هغه وخته خپل د دې همسايه څخه دفاع کوي تر څو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق يې د دې سړي او دده د دښمنانو تر منځ مشکل ورحل کړي نه وي .

## 6: مېلمه پالنه او د مېلمه څخه ددفاع په اړه:

علامه عبدالحي حبيبې وايي چې د پښتنو ټولنيز او طبعي محيط په دوی کې ځني ملي دودونه پيدا کړل .

پښتانه د متقابل احترام ډېر پلوي کوي ، کله چې به د يوې قبيلې يو سړي د سفر په مقصد بلې قبيلې ته ولاړ هلته به د ښاري ژوند په څير د خوراک ،څښاک او اوسيدو لپاره کافي امکانات نه وو ، نو د کوربه قبيلي خلک به مجبور و چې دې مسافروته د خوراک ،څښاک او اوسيدو ځای برابر کړي . .
.

دې متقابل عمل په پښتنو کې د مېلمه پالني روحيه ايجاد کړه او د پښتنو په هر کلي کې د ميلمنو لپاره هجرې او ديرې ايجاد شوې .

بالاخره مېلمه پالنه د پښتو او پښتونولي يو نه جلا کيدونکي جز وګرځيد .

او هر پښتون د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس ځان مجبور او مکلف بولي چې د ميلمنو پالنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه مشران او د عزت خلک په دي فخر کوي چې په خپله هجره کې خپلو ميلمنو ته په خپله چاي ، اوبه او ډوډی وړاندي کړي .

کرنل ميلسن وايي : ( پښتانه مېلمه دوسته او د فقيرانو په باب سخيان دي ) .

سيد جما الدين افغان وايي:

(پښتانه د غرباوو او مساکينو عزت او نما نځنه کوي . )

هسپانوي ډاکتر سرنهري هرآس وايي :

( . . . د پښتنو د دې طبعي او مخلصانه احتراماتو او نمانځلو نتيجه دا وي چې سړي په افغانستان يا پښتونخوا کې دا خيال کوي چې په خپل کور کې يم . )

بيله افغانستان يا پښتونخوا په بل هيڅ ځای کې د انساني وروروليۍ حس دومره زيات او عام نه ليدل کېږي .

لنډه دا چې د پښتنو په هېواد پښتونخوا کې هيڅ مسافر او بې وزلي ته د سفر په وخت کې د ځان سره دلارې د خرڅ دوړلو ضرورت نشته .

په پښتونخوا کې پښتانه پر خپل مېلمه غيرت کوي او هر څوک چې د پښتنو مېلمه ته په سپکه وګوري او يا يې د ازارولو کوښښ وکړي پښتانه د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د خپل مېلمه څخه داسې دفاع کوي ، لکه د خپل ځان څخه چې دفاع کوي .

که پښتانه پوه شي چې د دوی مېلمه او يا يو مسافر ته ددوی په سيمه کې خطر پيښيږي ، نو په دي حالت کې پښتانه د خپل ځان او مسافر دعزت د ساتلو په خاطر وسله په لاس مېلمه او مسافر د خپلې سيمې څخه په بدرګه تيروي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس مېلمه پالنه دپښتون ملت د فطرت جز او د پښتو او پښتونولي دقانون يو ډېر مهم اصل دي .

دپښتون ملت هر کس ،کورنۍ او قوم ځان مکلف ګڼي چې د ميلمنو عزت ،درناوي او پالنه وکړي .

موږ دلته د ګرانو لوستونکو د پاره د پښتنو د مېلمه پالنې څو مثالونه ذکر کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ١: د کلي مېلمه کېدل:

يو يا څو مسافر دضرورت پر اساس د پښتنو يو داسې کلي ته د شپې تيرولو د پاره ورځي چې پـه هغـه کلي کې هيڅوک هم نه پيژني .

دا مسافر د کلي داوسيدونکو بې اجازې د کلي مسجد يا حجرې ته ورځي او هلته کښيني .

د کلي خلک چې کله مسافر په خپل مسجد يا د کلي په حجره کې ووينې نو پـه ډېر احتـرام د مېلمـه پـه نوم روغبړ او ستړې مشې ورسره کوي .

کوم وخت چې دډوډۍ وخت راشي که مېلمه يو يا دوه نفره وي نو د کلي يو يا دوه نفره دا ميلمانه خپل شخصي حجرې ته بيايي او هلته د خپل وس مطابق غذا ورکوي او بيرته يې د استراحت د پاره د کلي مسجد او يا د کلي مشترکې حجرې ته راولي .

ځني وخت چې ميلمانه ډېروي نو په دې صورت کې د کلي ټولي کورنۍ د خپل توان مطابق ميلمانه خپل حجرې ته بيايي اوغذا ورکوي.

## ٢: ديوه کور ميلمانه

د پښتنو اکثره خانان او ماړه خلک تنها خپلې حجرې لري ، هر څومره ميلمانه چې دده حجرې ته راشي نودا د کلي مشر دې ټولو ميلمو ته د خپل توان مطابق عذا ورکوي ،او دا ميلمانه د کلي پر نورو اوسيدونکو نه ويشي.

د پښتنو اکثره ماړه او د عزت او غيرت خلک يو د بل سره په سيالي ستري حجري جوړوي او په ډېره ميړانه او سخاوت د خپل ميلمنو ساتنه او پالنه کوي

د پښتنو مشرانو په حجرو کې په مياشتو مياشتو ميلمانه پراته وي او د کور د ماليک د خوا هغوی ته غذا ورکول کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس کوربه هيڅکله د مېلمه څخه دا پوښتنه نه کوي چې:

نوم دي څوک دي ؟

د کومه ځايه راغلي يې ؟

کوم ځای ته ځي ؟

کله ځي ؟ او داسې نور .

د مېلمه پالني په باره کې د جايي او کو چې پښتنو دود او دستور يو دی.

کله چې ميلمانه د پښتنو حجري ته راشي که نارينه په کور کې نوي نو پښتني مېرمني هم مېلمه يا ميلمانه ورې نه پريږدي ،کوچی پښتني مستقيما مېلمه يا ميلمنو ته غذا راوړي ،او جايي مستوري پښتني د ماشومانو پلاس ميلمنو ته غذا ورليږي.

زمونږ د پيغمبر دقول مطابق يو مسلمان بايد صرف تر درو ورځو پوری د خپل توان مطابق د ميلمه عزت وکړی،پس له درو ورځو ميلمه پر کوربه د ميلمستيا حق نلری،پښتانه تقريباً تر ډير زيات وخت پوری دخپل توان مطابق د ميلمه عزت کوی.

ځني پښتانه قومونه د مېلمه پالني په باره کې خپل خاص رواج لري چې موږ دلته د څو پښتني قومونو د ميلمستيا رواج ته يو ډېره لنډه کتنه کوو.

## ۱: دمرانيو يا شيرانيو پښتنو ميلمستيا :

مرانې پښتانه د ژوب دولايت د قيصه غره يا شنه غره په لمنو کې پراته دي ،دنورو پښتنو قومونو په شان مېلمه پال او توريالي دي.

کله چې د يو مرانې کورته يو شمله ور پښتون ،يو ميړه پښتون يعني داسې پښتون چې په ورځني ژوند کې د پښتو او پښتونولي پيرو وي مېلمه شي ، نو دا مرانې که هر څومره غريب هم وي بيا هم خپل دي مېلمه ته حتما پسه حلالوي.

په مرانيو کې چې يو سړي هر څومره ډېري پيسي ولري خو چې پښتو او پښتونولي ونه لري د شملي پښتون نه بلل کېږي او که د چا مېلمه شي څوک دده دميلمستيا په خاطر پسه نه ورته حلالوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکور خاوند چې کله پسه حلال کړي نو خپل د کلي د هر کور مشر ته خبر ورکوي چې نن پلاني خان زما مېلمه دي تاسو هم دده د میلمستیا په احترام نن مازیګر حجري یا مسجد ته راشي.

دکلي د هر کور مشر مازیګر تعین شوي ځای ته راځي، کله چې د کلي ټول را دعوت شوي خلګ دمېلمه سره یو ځای شول نو د کور خاوند په یو غوري یا مجمه کې دحلال شوي پسه پوخ کړل شوي سر د مېلمه مخ ته ایږدي ، ددې خبرې معني داده چې د مېلمه په احترام بل حیوان نه ،بلکې پسه حلال شویدي.

په مرانیو کې دا دستور دي چې د یو مېلمه د لا زيات عزت او احترام په خاطر مېلمه ته پسه حلالوي، یا په بل عبارت دمرانیو په رواج کښی دمیلمه تر ټولو زيات احترام کول ومیلمه ته پسه حلالول دی.

مېلمه د پسه د پاخه شوي سر څخه یوه ګوله غوښې خوري او نور د پسه سر ناستو خلګو ته وړاندې کوي.

وروسته بیا د کور خاوند د لړمون او کولمو څخه بغیر ټول پوخ شوي پسه په مجمو کې د مېلمه مخ ته ایږدي.

مېلمه په دې وخت کې پر ناستو خلګو ږغ کوي چې ایا په دې کلي کې زما د قوم څخه یوه ښځه واده شوې ده ؟

که مېلمه په قوم کاکړ وي د سوال معني يې داده چې په دې کلي کې یوچا د کاکړي ښځې سره واده کړیدي او هغه ښځه اوس ژوندۍ ده ؟

که د مېلمه د قوم څخه یوه یا تر یوه زياتي ښځې په دې کلي کې واده وي ،نو د کلي خلک ورته وايي چې ستا د قوم څخه یوه یا تر یوه زياتي ښځې په دې کلي کې واده دي او د غه نفر يې خاوند یا زوی دي . . .

په دې وخت کې مېلمه د پسه د پخو غوښو څخه یوه اندازه جلا کوي او وایي چې دا زما د خورلڼې یا خورلڼو برخه ده.

مېلمه دا دخورلڼې برخه د خورلڼي خاوند یا زوی ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که په دې کلي کې د مېلمه د قوم څخه تر يوه زياتې ښځې واده شوي وي نو دا د خورلني برخه د هغو ښځو د خاوندانو او يا زامنو ترمنځ سره ويشل کېږي.

وروسته مېلمه د کلي پر خلګو ږغ کوي چې ستاسو د کلي مېره څوک دي ؟

د کلي خلک خپل د کلي مېره ورښيي چې پلاني زموږ د کلي مېره دي که هغه کس په خپله ناست وو خو ښه خبره ده او که په خپله حاضر نه وو ، زوی يا ورور به يې حاضروي مېلمه د پسه راسته ورون د لم د يوې برخې سره راپرې کوي او د کلي مېره ته يې وړاندې کوي.

د مرانېو په اصطلاح د کلي د مېره برخې ته (ښونګۍ) وايي ، او د مېلمه د پسه ښونګۍ د کلي د مېره برخه ده.

ورسته مېلمه د کلي د خلګو څخه پوښتنه کوي چې ستاسو د کلي سپي يا بې غيرته څوک دي ؟

د کلي خلک مېلمه ته د کلي بې غيرته ورښيي ،که هغه کس په خپله حاضر نه وو نو ورور يا زوی يې حاضروي.

مېلمه د پسه چپه لاس يا ووزې پرې کوي او د کلي سپي او يا د هغه زوی يا ورور ته يې ورکوي.

د پسه پاتې برخه غوښې مېلمه د کلي بر خلګو په مساوي ډول ويشي

په دې ډول د مېلمه ميلمستيا پای ته رسيږي د کلي خلک خپل برخې غوښې خپل کورونو ته وړي او مېلمه د کور د خاوند سره د هغه حجرې ته ځي او هلته د شپې ډوډۍ خوري.

مرانې په حقيقت کې د خپل مېلمه ډېر عزت کوي ، د کلي د خلګو په وړاندې د سر په شمول يو پوخ شوي پسه د مېلمه په وړاندې ايږدي ،مېلمه هم دا دده د ميلمستيا پسه د کلي په ټولو خلګو د هغوی د کليوالي رتبې مطابق ويشي

مرانې خپل د ميلمه پالنې په دود په حقيقت کې خپل ميلمه په ډېر عزت سره د خپل کلی ټولو خلکو ته معرفي کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلچسپه خبره خو داده چې مېلمه د پسه په دې ویش کې د خپل قوم د ښځو حق هم د خورلنې په نوم د هغې کورته لیږي ، چې دا عمل په حقیقت کې د ښځې او خورلنې مقام ته د پوره درنښت او احترام معني لري.

## ۲ : د بیټنیو پښتنو مېلمه پالنه

د پښتنو کره چې څوک مېلمه شي نو اکثره وخت د کور خاوند مېلمه ته تر مړیدو وروسته هم څو واره ست کوي چې ته څه نوره ډوډی هم درواخله ،دا ځکه چې د کور خاوند په دې فکر کې وي چې شاید مېلمه به شرمیږي او ځان به یې نه وي موړ کړي.

خو کله چې یو څوک د بیټنیو پښتنو مېلمه شي ،کله چې د دسترخوان وغوړیږي او ټول خلګ ډوډی وخوري او د موړتیا د سببه لاس ونیسي ،نو په دې وخت کې د کور خاوند پرمېلمه اسرار کوي او هغه تقربا مجبوروي چې دا لاندې ګولي نوري هم وخوري ،مثلا کوربه مېلمه ته وایي چې:

د خدایې(ج) دپاره به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري ،کله چې میلمه د خدای(ج) به خاطر یوه ګوله وکړل بیاورته وایې چې:

درسول الله په خاطر به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري.

د حضرت ابوبکر صدیق په خاطر به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري

د حضرت عمر فاروق په خاطر به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري

د حضرت عثمان(رض)په خاطر به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري

د حضرت علي (رض) په خاطر به یوه ګوله ډوډی نوره هم خوري

لنډه دا چې دبیټ نیکه په نوم لا هم یوه ګوله ډوډی په مېلمه خوري دا جبري ګولي تقریبا تر شل ډ بریږي.

څوک چې د بیټنیو پښتنو په عادت بلد وي نو تر دوی دري ګولو وروسته لاس نیسي او وروسته بیا جبري ګولي خوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک د بیټنیو په عادت بلد نه وي او ځان مور کړي ،وروسته د کوربه د خوا مجبوره شي او تقریبا شل نوري جبري ګولي هم وخوري نو ددې مېلمه دې خدای(ج) پرده وکړي چې ناجوړه نشي.

دبیټنیو دا ټینګار د مېلمه د په عذابیدو په خاطر ندي بلکې د مېلمه سره د زیاتې مینې او احترام په خاطر دي چې نه بایده مېلمه د شرمه وږي پاتې نشي.

## ۳: د سلیمانخیلو مېلمه پالنه

کله چې د سلمانخیل کره مېلمه راشي نو کوربه کوښښ کوي چې د زیات څخه زیات خواړه د مېلمه مخ ته کېږدي ترڅو مېلمه د غذا د کموالي په خاطر ژر لاس ونه نسي او وږي پاتې نشي.

که کوربه ډېر غریب وی بیا هم کوښښ کوي چې په کور کې د اولاد د پاره هیڅ خواړه پرې نږدي او ټول د مېلمه په وړاندې کېږدي ترڅو هغه په موړ شي.

د کوربه هدف داوي چې دده عیال دې وږي پاتې شي خو مېلمه دې موړشي.

که چېري مېلمه د دسترخوان ټوله ډوډی وخوړل نو په دې صورت کې کوربه نهایت زیات خوابدي کېږي او د مېلمه دا عمل چې ټول دسترخوان یې خالي کړي ،د مېلمه د خوا د کوربه ډېره زیاته بې عزتي بولي.

د پورته فرمول پر اساس یو مېلمه باید هیڅ وخت د سلیمانخیل دسترخوان مطلق خالي نکړي ځکه چې دا عمل د کوربه د سختي خوابدی او شرم سبب کېږي.

د پښتنو په منځ کې دا معمول دي چې هیڅوک د هیچا دسترخوان په مطلق ډول نه خالي کوي ، که پر دسترخوان ناست خلک وږي هم وي باید د کوربه د عزت ساتلو په خاطر بیاهم یوه اندازه غذا په دسترخوان کې پرېږدي.

## ۴: د کاکړانو مېلمه پالنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکړ پښتانه د نورو پښتنو په شان په ټوله پښتونخوا کې تیت پراته دي ،خو د کاکړانو زیاته برخه دژوب ،بوري ،مسلم باغ ،زیارت او پښین په شاوخوا کې اوسیږي چې د کاکړانو د اوسیدو دې سیمو ته ځني خلک کاکړستان هم وایي.

پښتانه په مجموع کې پر خپل قول او وعده ټینګ ولاړ خلک دي ،خو کاکړان بیا په دې باره کې خاص شهرت لري.

په پښتنو کې عام او خاص دا خبره کوي چې د کاکړ قول قسم دي

ځني وخت یو کس بل کس ته د وعدې د ښه پوخوالي په خاطر وایي چې:

زما دا یوه کاکړي ده.

ددې خبرې معنې داده چې زه د کاکړ په شان پر خپل قول او وعده ټینګ ولاړ یم.

کاکړان هم د نورو پښتنو په څیر زیات مېلمه پاله خلک دي او د نورو پښتنو په څیر د میلمنو ډېر درناوي او پالنه کوي.

تردې نږدې وختونو پورې چې په پښتنو کې د پښتو او پښتونولي او اسلام پیروي تر نن ډېره ټینګه وه ،کله چې به د کاکړانو کورته ددوی یو ډېر نږدې او عزت مند مېلمه راغلي دنور عزت او احترام سره سره به کله د کورنۍ پیغله اینجلې هم ددې مېلمه احترام ته ورتلل او د هغه میلمه سره به یې د هغه د کورنۍ د حال او حوال په باره کښې خبرې او مجلس کوي.

کاکړانو د باعزته مېلمه او د کورنۍ د پیغلي اینجلۍ ترمنځ پاکو خبرو اترو ته(وچ مجلس) ویلې.

د باعزته مېلمه او د کورنۍ د پیغلي اینجلۍ ترمنځ مجلس د کورنۍ د غړو څخه پټ نه وو بلکې ټوله کورنۍ په جریان کې وه.

د مېلمه او د کورنۍ د پیغلي اینجلۍ ترمنځ وچ مجلس سل فیصده پاک او سپیڅلي وو ،د هر ډول نا مشروع عمل پیښیدل د مېلمه او اینجلي د مرګ سبب کېدل ،همدا علت وو چې د کاکړانو وچ مجلسونه تقریبا ټول پاک او سپیڅلي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۷: میړانه ،میړنتوب یا نارینتوب په اړه:

پښتو او پښتونولي هرپښتون ته حکم کوي چې په هر وخت او هر ځای کې به د خپل دین ، سر ،ناموس ، عزت ، مال ، عدالت ، نیکۍ ،پښتوژبې ،خپلواکۍ ،ملي حاکمیت ،د هېواد د مځکنۍ بشپړتیا ، ملي ګټو ،ملي نوامیسو او داسې نورو دیني ،ملي او پښتني ارزښتونو په دفاع کې په ډېره میړانه ،میړنتوب او نارینتوب هرډول مالي او ځاني قربانۍ ته حاضر او اماده ولاړ وي.

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر رښتني پښتون په هر ځای او هر وخت کې د دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، هېواد ،پښتون ملت ،پښتوژبې ، خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، د پښتونخوا د ارضي تمامیت ، ملي ګټو ، ملي نوامیسو او داسې نورو دیني ، ملي او پښتني ارزښتونو د دفاع ننګیالي او میړني عسکر دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، وطن ، ولس ، استقلال ، حق ، عدالت ،پښتون ملت ،پښتو ژبې ، ملي حاکمیت ،دپښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا او داسې نورو دیني ، ملي او پښتني ارزښتونو څخه دفاع میړانه ، میړنتوب او نارینتوب بلل کېږي .

د ظالم او ظلم په مقابل کې درېدل میړانه او میړنتوب بلل کېږي .

د محتاج او نیازمند د ضرورت رفع کول میړانه او نارینتوب بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر هغه څوک چې میړانه ، میړنتوب او نارینتوب نه لري پښتون نه بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس بې میړاني پښتون ،پښتون نه دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پراساس کوم پښتون ته چې دده د کړنو په سبب پښتون ونه ویل شي ، په پښتني ټولنه کې د دې نه بل ستر سپکاوی د انسان لپاره نشته .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق یو رښتیني پښتون باید همیشه د خپل دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، وطن ، ولس ، حق ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، پښتوژبې ،د هېواد د مځکنۍ بشپړتیا ، ملي ګټو ، ملي نوامیسو او داسې نورو دیني ، ملي او پښتني ارزښتونو د دفاع لپاره د خپل میړاني ، میړنتوب او نارینتوب د اصل پر اساس د مال او سرقربانۍ ته حاضر او اماده ولاړ وي .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو ميړني او رښتيني پښتون بايد د ژوند په هره لحظه کې دا ميړانه ، ميړنتوب او نارينتوب ولري چې د خپل سر او مال په قرباني د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، حق ، عدالت ، مظلوم ، استقلال ، د پښتونخوا د ځمکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ، ملي ګټو ، ملي نواميسو ،پښتواوپښتونولي ،اود پښتوژبې څخه د فاع وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر هغه پښتون چې د پورته ذکر شوو عالي اسلامي ، انساني اوپښتني ارزښتونو څخه د سر او مال په قيمت په ميړانه ، ميړنتوب او نارنتوب دفاع نه کوي هغه کس پښتون نه بلل کېږي .

## 8: د ننواتي او بخښنې په اړه:

ننواتي په پښتني اصطلاح کې دبخښنې په خاطر عذراو زارۍ ته ويل کېږي .

ننواتي د پښتواو پښتونولي دلرغوني قانون يو ډېر مهم اصل دي .

پښتو او پښتونولي ملامت هڅوي چې متضرر ته ننواتي ورشي ، او متضرر پښتون هم د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس مجبور دي چې د خپل دښمن ننواتي ومني .

ننواتي کول او ننواتي منل د پښتواو پښتونولي يوزرين اصل دي .

پښتانه ډېر زيات کوښښ کوي چې خپل منځي مشکلات د جرګو او مرکو د لاري حل کړي .

کله چې د پښتنو ترمنځ داسې ستر مشکلات منځته راشي چې د جرګې د لاري نه حليږي ، په دې صورت د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د مشکل د حل په خاطر ملامت پښتون مجبور دي چې د خپل دښمن کورته په ننواتي ورشي ، کله چې يو پښتون د خپل پښتون دښمن کورته په ننواتي ورشي ،نو متضرر پښتون هم مجبوردي چې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس حتما د خپل دښمن ننواتي ومني او هغه وبخښي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننواتي مسئله هغه وخت په پښتنو کې منځته راځي چې د پښتنو ترمنځ داسې ستري دښمنۍ او لنجې منځته راشي چې د جرګو او مرکو له لارې يې د حل څخه خلک نا اميده وي ، نو داسې نه حل کېدونکي مشکل د حل لپاره پښتو او پښتونولي د ننواتي له لارې د موجود مشکل حتمي حل را ايستلی دی .

د ننواتي کولو ترتيب داسې دی چې ملامت پښتون به د قوم د قدر وړ مشرانو ، سيدانو ، ملايانو او نورو مخورو کسانو سره قران شريف په لاس د متضرر پښتون کورته په ننواتي ورځي .

يو پسه يا څو پسونه د متضرر شخص د کور مخې ته د ننواتي په نوم حلالوي .

کله کله خو ملامت پښتون پرې ، تېره چاړه او قران شريف د خپل دښمن پر وړاندې ږدي ، ملامت پښتون په خپله او يا دده سره د ورسره کسانو له جملې څخه يو نفر متضرر پښتون ته داسې مخاطب کېږي:

زه ستا مجرم يم ، ستا خوښه ده که مې حلالوي دا پړی دې زما لاس پرې راوتړه او دا چاړه ده زما غاړه پرې را پرې کړه او يا مې د دې قران شريف او د دې مشرانو د ننواتي په خاطرو بخښه .

ځينې وخت چې موضوع ډېره سخته وي د ننواتي کونکو په ډله کې د ملامت کور يوه يا تر يوې ډېرې ښځې هم شاملې وي .

دا چې د ننواتي کونکو له ډلې سره د جرم اصلي فاعل هم د رسۍ او چړې سره د خپل دښمن کورته د ننواتي په ډول ورځي معنا يې داده چې د جرم اصلي فاعل د خپل دښمن پر وړاندې د تسليمۍ سر ټيټوي ورته وايي چې په دې رسۍ مې لاس او پښې راوتړه او په دې چاړه مې د دې ولس ترمخ حلال کړه ، يعنې دا چې يو پښتون د خپل ژوند او مرګ اختيار د ولس پر وړاندې د ملامت په حيث د خپل دښمن په لاس کې ورکوي او په عين حال کې په خپل دې عمل دې په خپله او د ننواتي د ډلې پواسطه د مقابل لوري څخه د بخښنې او ترحم غوښتنه هم کوي .

د ملامت پښتون د خوا متضرر پښتون ته د ننواتي کولو په سبب په قوم او ولس کې د متضرر پښتون عزت او حيثيت دوباره برحاله کېږي ځکه چې د جرم د اصلي فاعل او د هغه د کورنۍ له خوا ننواتي دا معنا لري چې متضرر پښتون د خپل دښمن څخه خپل بدل واخستې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د ننواتي له ډلي سره د جرم فاعل پښتون د خپل ژوند او مرګ اختيار د ولس پر وړاندې د خپل دښمن په لاس کې ورکړي ، په دې وخت کې متضرر پښتون د پښتو او پښتونولي د لرغوني قانون پر اساس خپل دښمن بخښي او د دې دوو دښمنانو او د دوی د کورنيو او قومونو ترمنځ دا دښمني نه تنها د تل لپاره حل او فصل کيږي ، بلکې په اکثرو وختونو کې په پخې دوستۍ بدليږي .

د پورته دلايلو پر اساس موږ ويلای شو چې د پښتو او پښتونولي د قانون د ننواتي زرين اصل په پښتني ټولنه کې د ډېرو سختو دښمنيو د ختمېدو ډېره معقوله لاره ده .

ننواتي په پښتني ټولنه کې بدۍ او دښمنۍ ختموي او د پښتني ټولنې وګړو ته سوله ، دوستي او ارام ژوند بخښي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د خپل منځي سترو شخړو د حل او فصل په خاطر دې ملامت پښتون د متضرر پښتون کورته ننواتي وکړي او متضرر پښتون دې د ملامت پښتون ننواتي ومني .

ملامت پښتون دې پړه او ملامتيا ومني او د شخړې د حل په خاطر دې د خپل ملامتيا تاوان ورکړي ، د دې خبرې معنا داده چې پښتو او پښتونولي د پښتنو ترمنځ د دښمنۍ او عداوت اوږدوالی نه غواړي او داسې قوانين يې طرحه کړي دي چې د هغو پر اساس بايد پښتانه ژرترژره يو له بل سره روغه وکړي ځکه چې

پښتو او پښتونولي د سولې او روغې قانون دی .

## 9: د بدل يا غچ په اړه:

د پښتنو په ټولنه د عدالت او امنيت د تامين يو عمده دليل د پښتنو له خوا د خپل دښمن څخه "بدل يا غچ " اخيستل دي .

په پښتنو کې هېڅوک که هر څومره کمزوری هم وي بيا هم خپل دښمن ته خپل پور يا غچ نه پرېږدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتني ټولنه کې هغه څوک چې خپل بدل ،غچ یا پور د خپل دښمن څخه نشي اخیستلای هغه د نورو پښتنو سیال نشي بلل کېدای .

هغه پښتانه چې توانمند دي ډېر ژر خپل بدل اخلي خو هغه چې توان منند نه دی د هغوی بدل هم هېڅ وخت نه پاتېږي که څه هم زیات کلونه پرې تېرشي ، ځینې وخت خو د پلار بدل زوی حتی د نیکه پور لمسی اخلي .

د پښتنو په بدل کې که څه هم په ظاهره یو سړی قتل کېږي خو په حقیقت کې د ډېرو خلکو ژوند ساتل کېږي .

که په پښتنو کې د بدل ډار نه وای ، نو هرچا به بل څوک وژلای ، خو اوس هر پښتون پوهېږي که زه نن بل پښتون مړ کړم په حقیقت کې مې خپل ځان مړ کړی او یا مې خپل د کورنۍ بل غړی مړ کړی ځکه چې د پښتون بدل اخیستل حتمي اوضروري دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون "بدل یا غچ" په حقیقت کې د اسلام د مقدس دین د "قصاص" د اصل سره ورته دی چې وایي:

" قصاص ژوند نه اخلي ، بلکې ژوند ور کوي . "

د قصاص او بدل یا غچ په منځ کې فرق دادی چې د قصاص فیصله د قاضي له خوا کېږي ، خو د خلفای راشدین څخه راوروسته اکثره قاضیان اونور عدلي مقامات فاسد دي ، د رشوت او بډو په سبب د حق پر ځای د باطل په طرفدارۍ فیصلې کوي ، چې په دې صورت کې د قصاص اصل د حقیقت مطابق نه عملي کېږي او عدالت په رښتني ډول نه تامینېږي .

خو د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو د بدل او غچ اخیستلو په باره کې تاواني شوي پښتون په خپله قاضي دی ، په خپله د خپل دښمن په باره کې د قضاوت فیصله کوي ، هغه فیصله په خپله تطبیقوي چې په دې صورت کې د فساد هېڅ امکان نشته او عدالت سل فیصده تامینېږي .

همدا علت دی چې پښتانه ډېر زیات کوښښ کوي چې خپل منځي شخړې او دعوې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د جرګو او مرکو له لارې حل او فصل کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبدل او غچ اخيستلو قانون پښتانه نهايت محتاط کړي دي او هر پښتون ډېر زيات کوښښ کوي چې بل پښتون زخمي يا مړ نه کړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون دبدل او غچ د اصل پر اساس پښتون په نړۍ کې يوازينی ملت دی چې بدي او دښمني په تعادل او ميانه روي سره کوي ، بدل او غچ هم په حساب او عزت سره اخلي .

د مثال په ډول پښتانه دغاښ په بدل کې غاښ ، د سترګې په بدل کې سترګه ، د غوږ په بدل کې غوږ ، د يوه انسان په بدل کې يو انسان غواړي .

پښتانه که څه هم توان ولري او دښمن يې تر ده ډېر ضعيف وي بيا هم د استثنا څخه بغير هيڅ کله د غاښ په بدل کې انسان نه وژني ، د يو انسان په بدل کې دوه يا تر دوه ډېر انسانان نه وژني او هيڅ کله دخپل دښمن مړی نه بې عزته کوي ، نو په دې اساس موږ ويلای شو چې پښتانه بدي په حساب او انصاف کوي او د دښمن دمړي هم عزت کوي او هغه نه بې عزته کوي .

پښتون په نړۍ کې شايد يوازينی ملت وي چې د دښمن د مړي عزت هم کوي ، د ښمن وژني خو مړی يې نه بې عزته کوي ، ځکه چې د پښتون د مړي بې عزتي دانسان د وژلو په اندازه پور لري .

غوږ پر غوږ ، سترګه پر سترګه او غاښ پر غاښ د لرغونو زمانو راهيسې د پښتو او پښتونولي د قانون د غچ او بدل د مهم اصل برخه ده .

دا د پښتو او پښتونولي دبدل او غچ د اصل برکت دي چې همدا نن هم په ميلينونه پښتانه په پښتني قبايلو کې بغير د هيڅ ډول حکومت څخه په داسې نسبې سوله او امنيت کې ژوند کوي چې د نړۍ د ډېرو متمدينو ملتونو تر سترو ښارو يې امنيت او د جرايمو کچه کمه ده .

## 10: د پښتو په اړه:

د پښتو لغت په پښتنو کې ډېرې معناوې لري:

ځيني وخت د پښتو لغت څخه مطلب د پښتو ژبه وي ، ځيني وخت د پښتو لغت په پښتنو کې د وعدې او پر وعده باندې د وفا کولو په معنا استعماليږي ، ځيني وخت د پښتو لغت په پښتنو کې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د عدالت د کولو په معنا استعماليږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلا :

1 : زه پښتون يم ، پښتو زما ژبه ده ، زه په پښتو ږغېږم په داسې جملو کې د پښتو لغت څخه مطلب " پښتو ژبه " ده .

2 : ځينې وخت د يو سړي د بل سړي سره پر يوشي دعوه وي او مقابل لوري ته وايي ، راشه پښتو را سره وکړه ، په دې ډول جملو کې د پښتو معنا داده چې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس " عدالت " راسره وکړه .

3 : يو سړی د يوې موضوع په باره کې بل سړي ته وايي چې زما ستا سره پښتو ده ، په دې جمله کې د پښتو معنی داده چې زما ستا سره "وعده ، قسم او قول" دی .

4 : يو سړی بل ته وايي چې پښتو دې راسره ونه کړه ، په دې جمله کې د پښتو معنی داده چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دې پر وعده وفا راسره ونه کړل .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق يو پښتون چې په هر مفهوم (عدالت يا وعده) د پښتو لغت د بل چا سره استعمال کړي ، مجبور او مکلف دی چې د هغه مفهوم مطابق عمل پرې وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر پښتون چې " پښتو " نه پالي هغه پښتون ندی .

## 11: د تورې په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د تورې معنی زړورتيا ، بهادري ، ميدان ګټلو او د ميړانې کارکولو ته ويل کېږي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې هر پښتون بايد حتما ښه توريالی او ميړنی جنګيالی وي .

پښتو او پښتونولي هر پښتون ته امر کوي چې هېڅ وخت د جنګ له ميدان څخه ونه تښتي او دښمن ته شا ور ونه ګرځوي .

د توريالیتوب صفت د پښتنو په خټه کې اخښل شوی دی او د پښتنو د فطرت يعنې د پښتو او پښتونولي د قانون يو مهم اصل دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پښتون چې د توريالیتوب صفت ونه لري هغه پښتون نه بلل کېږي او وينه يې په پښتون پلار پورې نه ، بلکې په مېلمه پورې تعلق لري .

توره او توريالیتوب د پښتنو په حماسي ادبیاتو کې ډېر لوړ مقام لري چې موږ دلته د دې حماسي اشعارو څو نموني ذکرکوو .

د توري په باره کې يوه معشوقه خپل معشوق ته داسې سپارښتنه کوي .

چـــــــې تـــــــوري وخيـــــــــژي ګـــــــــډ بړه
مــــا پـــــه همزولــــــو پـــــوري ډېـــــر خنــــدلي دينــــه

بله مېرمن د خپل مين په توره داسې نازېږي:

جانــــــان پـــــــه جنــــــګ کــــــې تــــــوره وکـــــــړه
ځکــــــه همزولـــــــــې راتــــــه کوښـــــــى ســــــموينه

يوه پښتنه معشوقه د خپل مين د بې غيرتۍ نه داسې شکايت کوي .

يــــــار مـــــــې لــــــه تـــــــورو را پرشــــــا شــــــو
پــــــر بېګـــــانۍ ورکـــــړې خولـــــه پښـــــېمانه يمـــــه

يوه بله پښتنه معشوقه د خپل مين د زخمي کېدو او يا شهيد کېدو خبر ترلاسه کوي ، خودا پښـتنه د خپل مين د زخمي کېدو او يا شهيد کېدو له سببه دومره پرېشانه نده لکـه د هغـه د ټپونو پـه بـاره کې چې پرېشـانه ده ، دا مېرمن دا انديښنه لري چې د دې مين خو بـه پرشا ټپونه نوي اخيسـتي يعنې د تېښتي په حالت کې خو به نوي ټپي شوی ، د پښتنو په منځ کې پر شا ټپونه اخيستل د دې معنی لري چې سړی د جنګ څخه د تېښتې پـه حال کې ټپونـه اخيسـتي دي او د جنګ څخه تېښـتـه د پښـتـو او پښتونولي د قانون مطابق لوی پيغور دی چې د دې کورنۍ راتلونکو نسلونو ته هم پاتې کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شا د ټپونو په باره کې د يوې پښتنې مېرمنې احساس د پښتو په لنډيو کې داسې بيانېږي .

ږغ شو پرکټ يې جانان راوړ

زړه مې په پرشو چې پرشا يې نه وې ټپونه

پښتنې مېرمنې سره د هغه زياتې طبعي مينې او بې پايه محبت سره چې د خپل مينانو سره يې لري خو د تورې په وخت کې دا خوند نه ورکوي چې معشوق يې د جنګ په ميدان کې د تورو د ډارنه د ميدان څخه وتښتي او ژوندى کورته راشي .

پښتنې مېرمنې د خپل مينانو او اولادونو لپاره د جنګ په ميدان کې په مېړانه جنګيدو او شهيد کيدوته زياته ترجيح ورکوي نسبت ديته چې د جنګ د ميدانه تيښته وکړي او ژوندي کورونو ته راشي .

لکه د پښتنو مېرمنو په لنډيو کې چې وايي:

د پښتنو زلميو وار دى

پرخپل وطن به توريالي مېړونه مېرينه

که په ميوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتمه .

زلمي ولاړ توري تر ملا دي

غزا ته ځي پر خپل وطن سر ور کوينه .

جانان مي سر پر وطن کيښود

په تار د زلفو به کفن ورته ګنډمه .

دميړنيو خوندي ژاړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سپو موزيانو خوندي سترګي توروينه .

جانانه جنګ نه پر شاه نشي

چي د همزولو راته نشي پيغورونه .

توره به کړي بري به راوړي

که بري نوي ځوانان تل په تورو مرينه .

د توري او قلم قهرمان لوي خوشحال با با پښتنو ته د توري د اهميت په باره کې داسې لارښوني کوي:

چـــــــې خرګنـــــــــده ســـــــــــربازي کانــــــــــدي د تـــــــــورو
زه خوشــــــــــحال ختـــــــک ترداســـــــې هنــــــر جارشـــــــم
پښـــــــــتانه چـــــــې نـــــور خـــــه فکــــــر کـــــا نـــــابود دي
بيلــــــه تـــــــوري خلاصـــــــي نشـــــــي پــــــه بـــــل کـــــار
ورکــــــــــول ،تـــــــــــــوره وهــــــــــــل دا دواړه بويــــــــــــه
چــــــې پـــــــري چـــــار د ســــــرداری شـــــــي انصــــــرام
يـــــــــا تکيــــــــه ديـــــــوه خـــــــداي ده يـــــــا د تــــــــوري
پــــــــه جرګـــــــو مرکـــــــو نشـــــــــي کــــــــار تمـــــام
د افغــــــــــان پــــــــــه ننــــــــــګ مـــــــــــې وتړلــــــــــه تــــــــــوره
ننګيــــــــــالی د زمـــــــــــاني خوشـــــــــــحال ختــــــــــک يــــــــــم

د پښتنو د توري او توريالیتوب په باره کې مولوي عبدالحميد افغاني د تاريخ افغاغنه په اخيري فصل کې داسې وايي:

پښتانه د مرګ نه ډېر لرېداريږي ، د جنګ په ميدان کې مړه کېدو ته د عزت په نظر ګوري ، که په جنګ کې خوک مړ شي او د هغه داسې وارث (زوی يا ورور) تر شا پاتې وي چې د هغه توره پورته کړي نو پښتني ښځې پر هغه غم کول عيب بولي او وايي چې سړي د روح ورکولو لپاره پيدا شوي دي ، د خفګان موقع به هغه وخت واي چې دده (په جنګ کې د مړه شوي شخص) توره په کونج کې پا ته شوي واى .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**1: کیسه:**

د سلطان بهلول لودين د سلطنت په وخت کې يو ننګيالي پښتون د ملک فيروز په نوم د جسرت کهکر نومي هندوستاني سره بندي شو ، د فيروز زوی شاهين خان د خپل ملګرو سره يو ځای د جسرت کهکر د لښکرو سره په جنګ کې شهيد شو .

د جسرت کهکر عسکرو د شاهين خان او د هغه د ملګرو سرونه پرې کړل او د جسرت کهکر دربار ته يې راوړل .

جسرت بندي ملک فيروز راوغوښت او د دې مړو د سرونو د خاوندانو نومونه يې ځني وپوښتل ، ملک فيروز د نورو سرونو د خاوندانو نومونه و جسرت ته وويل خو د شاهين خان د سر په باره کې يې وويل چې دا سړي نه پيژنم .

په دې وخت کې د جسرت افسرانو د شاهين خان و سر ته په اشاره وجسرت ته وويل چې دا سړي ډېر دلاوره او باتور جنګيالی وو او هيڅ وخت يې د جنګ نه مخ ونه ګرځاوه . . . په دې وخت کې د فيروز خان تر سترګو اوښکي راغلي او جسرت ته يې وويل چې دا سر زما د زوی شاهين خان دي .

په دې وخت کې جسرت د ملک فيروز څخه پوښتنه وکړل چې ترمخه دې ولي نه ويل چې دا ستا زوی دي ؟

ملک فيروز ورته وويل چې ماته معلومات نه وو چې زما زوی په ميړانه مړشوي دي او که په بې غيرتی ، زه بيريدم چې د بې ننګي پيغور راته راوانه وړي .

**2: کیسه:**

د (1897-1898 ) کال د تيرا په جنګ کې چې د افريدو او انګريزانو ترمنځ وشو په ولس کې دا سې ويل کېدل .

د جنګ په جريان کې يوه ورځ ددواړو خواو د طرفه د مړو د ښخولو او د زخميانو د ليږدولو په خاطر اوربند اعلان شو ،هر لوري خپل مړي او زخميان انتقالول ،په دې وخت يو برطانوي مشر افسر ديو غونډۍ څخه د دوربين پواسطه دا د جنګ د ميدان ساحه ګوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دابرطانوي په خپل دوربين کې ويني چې يوه پښتنه ښځه چې د جنګ په وسله سنبال ده د جنګ ميدان ته راداخله شول او د دې مړو او زخميانو په منځ کې په چا پسې ګرځيدل راګرځيدل ، دې ښځې د شپږو نفرو مړي راپورته کړل د مخ پر يوه او بله خوا يې مچ کړل خو د يوبل سړي مړي يې راپورته کړي نو مچ يې نه کړي او بيرته يې پر مځکه وغورځاوه او پر مخ يې څپړې ورکړې .

برطانوي افسر چې دا حالت وليدي هيڅ په پوه نه شو او په دې واقعيت باندې د ځان د پوهولو په خاطر يې خپل يو نفر دې ښځې ته ور وليږي او د دې واقعيت پوښتنه يې ځني وکړل .

ښځې ورته وويل چې دا شپږ نفره چې ما پر مخ مچ کړل زما زامن وه او هر يو پر سينه مخامخ په ګولۍ لګيدلي وه يعنې پرشا يې تپ نه وو اخيستي او په ميړانه مړه وه نو ځکه ما پر مخ مچ کړل ، اووم سړي چې مې پرمخ مچ نه کړي هغه مې ميړه وه او تپ يې پر شا اخيستي و او په سپيتانه مړ وو نو ځکه مې پر مخ مچ نه کړي .

د پورته دلايلو ، ولسي لنډيو او کيسو څخه داسې معلوميږي چې پښتانه د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، حق ، هيواد ، استقلال ، د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ، ملي ګټو ، ملي نواميسو اوداسې نورو اسلامي ، انساني ، ملي او پښتني ارزښتونو څخه د دفاع لپاره تر خپل مال او سر تېر دی .

پښتو او پښتونولي هر پر پښتون کس هڅوي چې د توريالیتوب او غيرت عالي صفات ولري .

هر پښتون د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس مجبور او مکلف دي چې دضرورت پروخت د ځان څخه ميړانه ، توره اوغيرت وښيي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد هر وخت د خپل دين ،سر ،ناموس ، عزت ، حق ،مال ، پښتونخوا ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکميت ،ملي ګټو ، ملي نواميسو ،تولنيز عدالت ،پښتو ژبي ، پښتو او پښتونولي ، ملي بيرغ ، ملي نښان ، رښتيا ،دمظلوم او مظلوميت څخه د دفاع ، دظالم د ظلم په مقابل کې ددريدو او داسې نورو پښتني ارزښتنو څخه د دفاع په لاره کې د سر او مال د قرباني په قيمت د مبارزي ميدان ته رواوزي ،اودا عمل توره او غيرت بلل کيږي .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر پښتون چې د پورته ذکر شوو ارزښتونو د دفاع په لاره کې خپل سر او مال سپموي هغه سړي پښتو او پښتونولي (پښتني فطرت ) نه لري ، هر پښتون چې پښتو او پښتونولي (پښتني فطرت ) ونه لري هغه پښتون نه بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر پښتون مجبور او مکلف دي چې په خپل ورځني ژوند کې حتما او ضروراً د پښتو او پښتونولي پیروي وکړي ،یا په بله وینا هر پښتون مجبور دي چې د خپل فطرت پیروي وکړي .

کوم پښتون ته چې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتون ونه شوویلای یعنې هغه پښتون کس چې پښتني فطرت ونه لري ، دانسانانو تر ټولو ټیټ ، بد مرغه او کمزوري موجود بلل کېږي .

یوژوندي موجود دخپل فطرت په پیروي ژوندي پاتې کیداي شي او د نورو ژوندیو موجوداتو څخه یې فرق کیدلای شي .

مثلا زمري د ځنګله پاچا دي او ښکار کول دده فطرت دي .

که زمري د خپل فطرت خلاف د ښکار کولو څخه ډه ډه وکړي نو په وښو خوړلو خپل ژوند ته دوام نشي ورکولای .

څه موده وروسته دا زمري چې د خپل فطرت خلاف وابنه خور شوي دي ډېر ډنګر او کمزوري کېږي او بالاخره دازمري د شرمښانو او چغالانو د خوا د منځه ځي .

موږ په دې ساده مثال کې وینو چې که زمري د خپل فطرت خلاف عمل وکړي یعنې د ښکار کولو څخه ډه ډه وکړي ، د زمري دا عمل په خپله د زمري د مرګ سبب کېږي ،او هم په ځنګله کې د حیواناتو د سلطنت سیستم دمنځه ځي ،د ځنګله سلطنت د چغالانو او لیوانو پلاس ورځي کوم چې د خپل ځنګلي ملکیت دفاع د نورو ځناورانو په مقابل کې نشي کولای .

په دې ډول د ځنکله د طبعي منابعو او د هغه د اوسیدونکو ترمنځ هغه په طبعي ډول بر قراره توازن د منځه ځي او د ځنګله طبعیت او ژوي ټول په عذابیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ملت هم د پښتو او پښتونولي يعني د پښتنو د فطرتي قانون څخه په پيروي د زرګونو کلونو راهيسې په پښتونخوا کې خپل ژوند ته دوام ورکړي دي او په منطقه کې يې د قواوو توازن ساتلي او د ثبات ضمانت يې کړيدي .

اوس چې د پښتون ملت زمواره مشرانو ، کشرانو ، روشنفکرانو ، علماوو ، روحانيونو ،سرمايدارا

نو او نور د ټولنې د حساب ور کسانو يوه اندازه پښتو او پښتونولي ته شا ورګرځولي ده او د خپل هېواد او ملت د حالاتو په باره کې د بې تفاوتۍ په وژونکي مرض مبتلا شوي دي ،نو پښتانه هم د وابښه خور زمري په شان کمزوري شوي دي ، په سياسي ،اقتصادي او فرهنګي لحاظ د مرګ او ژوند سره لاس او ګريوان دي ، پر خپل قلمرو يې حاکميت د لاسه ورکړي دي ،په خپل هېواد کې د غلامانو په ډول ژوند کوي او د وابښه خور زمري د ځنګله په شان د پښتنو په هېواد کې هم بې نظمي او ګډوډي مسلطه ده ، د هېواد سياسي ، اقتصادي او ټولنيزي چارې د داسې واکمنانو پلاس کې دي چې دهېواد د وګړو د دبن ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، حق ،عدالت ، خپلواکي ،مځکنۍ بشپړتيا ، ملي ګټو ، ملي نواميسو او داسې نور ،اسلامي ،پښتني او ملي ارزښتونو څخه په مناسب ډول دفاع نشي کولاي .

اوس د دې وخت را رسيدلي دي چې ټول توريالي او ننګيالي پښتانه د غفلت د خوب څخه راويښ شي ،د خپل فطرت يعني پښتو او پښتونولي د قانون مطابق توره وکړي ،خپل ځان او خپل هېواد د دې روان بحران څخه خلاص کړي .

په عام ډول په پښتنو کې توره تنها د جنګ په ميدان کې توريالیتوب يا تورزنۍ ته نه ويل کېږي ،بلکه هر څوک چې يو ښه ، د خير او ميړاني عمل انجام کړي او يا د يو بد خطرناک عمل مخنيوي وکړي نو عام خلک ورته وايي چې افرين تا توره وکړل ،يا پلاني توره وکړل .

## 12: پر ځان د باور او ويسا په اړه:

علامه عبد الحی حبيبي د پښتون ملت پر ځان د باور او ويسا په باره کې داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د پښتنو په روح او عقليت کې پر ځان ويسا په لوړه درجه شته ، ددوی ځانوالی خورا قوي دي ، د پښتون پسيکولوژي هم دومره ټينګه او کلکه ده ، اساس او ولې يې پر " ځانوالۍ " ولاړې دي) .

د پښتنو روحيات او عقلانيت پر ځان باندې د ډېر لوړ ويسا او باور لرولو باندې ولاړ دي .

د پښتنو پر ځان باندې د باور لرلو په باره کې خوشال بابا پښتانه د زمريو سره مشابه کړي دي او داسې وايي:

دزمريــــــــو مېړنتــــــــوب پــــــــه لښــــــــکر نــــــــدی
مــــــوتی يــــــې هرکلـــــــه يـــــوازې پـــــــر خپـــــل ځـــــان وي

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد هر مرو پرځان دومره باور او ويسا ولري چې دي په هر وخت او هر ځای کې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، حق ، عدالت ، هېواد ، خپلواکۍ ، ملي حاکميت ، د پښتونخوا د مځکني بشپړتيا ، ملي ګټو ، ملي نواميسو ،پښتو ژبې او داسې نورو ديني ، پښتني او ملي ارزښتونو څخه ددفاع توان لري .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد پر ځان دا باور او ويسا ولري چې پښتون ملت د خدای(ج) ګران ملت دې نو په دې اساس پښتون ملت مسلمان ، مجاهد او عادل ملت دي .

الله پاک پښتانه په پښتونخوا کې د پاچاهۍ کولو د پاره پيدا کړي دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر رښتني پښتون بايد پر ځان دا باور او ويسا ولري چې دي(پښتون ملت) د نړۍ د نورو ملتونو سره د مثبتې سيالۍ توان لري .

پر ځان باور او ويسا د پښتو او پښتونولي د قانون يو ډېر مهم اصل دي او هر رښتني پښتون بايد حتما د ښو کارونو په انجام کې پر ځان باور او ويسا ولري او د ژوند په هر ډول سختو حالاتو کې پر ځان باور او ويسا د لاسه ورنکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 13: د پښتنۍ او ملي غرور په اړه:

کله چې انسان د خپل تکامل په اوږده تاريخ کې د کورنۍ د ژوند څخه د قبيلي ژوند ته تکامل وکړي او وروسته يې بيا د کورني او قبيلي د ژوند څخه د قوم او ملت ژوند ته تکامل وکړي ، ورسره يو ځای دده په فکر او احساس کې د کورنۍ د عزت سره يو ځای د قوم او ملت احترام او عزت هم پيدا شو .

څنګه چې يو انسان په خپل کورنۍ او قوم نازيدي په همدې ډول دا انسان د خپل تکامل په عالي مرحله کې په خپل لويه کورنۍ يعني ملت باندې هم ناز او فخر کول شروع کړل .

څرنګه چې پښتون ملت په دې منطقه کې تر هر بل ملت د مخه د کورنۍ او قوم د مرحلې څخه د ملت لوړې درجې ته تکامل وکړي ، نو په همدې اساس موږ ويلای شو چې په پښتنو کې په خپل ملت باندې د ناز او فخر احساس د منطقې تر بل هرملت لمړی پيدا شو .

دلرغونو زمانو راهيسې بيا تر نن پورې پښتانه په پښتون ملت باندې نازيږی او په خپل پښتون ملت باندې ډير فخر کوی .

د منطقې نورو ملتونو لا د کورنۍ څخه د قوم درجې ته تکامل نه وو کړی ، چې پښتنو د پيشداديانو د ګيومرتن په واسطه شاهي نظام ، شاهي تاج او تخت درلودل .

د پښتنو تاريخ دا شاهدي ورکوي چې پښتنو د ډير پخوا زمانو راهيسې د قبيلوي ژوند څخه ملي ژوند ته تکامل کړی دی ، نو په همدې اساس پښتانه هميشه په خپل پښتون ملت نازيدلي دي او افتخار يې پرې کړی دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق يو پښتون بايد په خپل پښتونوالي يا پښتون توب ونازيږي او افتخار پرې وکړي .

د يو پښتون لپاره د شرافت معيار دادی چې سړی رښتنی پښتون وي ، چې دې عمل ته " پښتني غرور " وايي .

په لنډ ډول داسی ويلای شو :

په پښتون توب باندی د پښتون ناز او فخر ته (پښتنی غرور) ويل کيږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو پښتون بايد په خپل پښتون ملت ونازېږي او افتخار پرې وکړي ، چې دې عمل ته "ملي غرور" وايي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتنی پښتون بايد هرومرو "پښتني او ملي غرور" ولري .

په لنډ ډول داسې ويلای شو :

په پښتون ملت باندې د پښتون نازاو فخرته (ملي غرور) ويل کيږي .

هر هغه پښتون کس چې په پښتونوالي ، پښتونتوب او د وياړلي پښتون ملت په غږيتوب وياړ او افتخار نه کوي ، هرهغه پښتون کس چې پښتني او ملي غرور نه لري ، د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هغه کس پښتون نه بلل کېږي .

پښتون ملت د نړۍ د هغو ملتونو له جملې څخه يو ملت دی چې د لرغونو زمانو راهيسې يې د يو داسې واحد ملت په حيث عرض اندام کړی دی چې د دې ملت د ټولو غړو په رګونو کې د يو پښتون پلار وينه جاري ده .

په نړۍ کې داسې ډېر ملتونه شته چې د وګړو وينه او ريښه يې يوه نوې ، په مختلفو نسلونو پورې تړلي قبيلې د يوه پاچا له خوا تر يوه سياسي او اقتصادي قلمرو لاندې په يوه جغرافيا کې د تورې په زور سره راټول شوي دي او د ملت سازۍ د فورمول پر اساس يا د مشترک دين ، مشترکو اقتصادي ، سياسي ، فرهنګي ، ايډيالوژيکي او داسې نورو مادي او معنوي مشترکاتو د لرلو پر اساس ملتونه ځنې جوړ شوي دي .

د داسې ملتونو خلک د وينې شراکت نه سره لري ، داسې ملتونه د وينې د شراکت پر بنياد ندي جوړشوي او کله چې د دولت قوت کم شي ، نو هره قبيله پر خپله لاره ځي او داسې ملتونه ماتېږي او د منځه ځي ، چې ژوندي مثالونه يې پخواني يوګوسلاويا ، چکسولواکيا ، پخواني شوروي اتحاد ، غربي او شرقي پاکستان او داسې نور دي .

د پورته ذکرشوي مثال پر خلاف ستر پښتون ملت د پښتون بابا د يوې کورنۍ څخه ستر پښتون ملت ته تکامل کړی دی ، يا په بله وينا د پښتون بابا پر اولاد خدای(ج) برکت کېښود او د دې کورنۍ غړي دومره ډېر شول چې ستر پښتون ملت ځنې جوړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ملت د پاکستاني ، يوګوسلاويايي ، شوروي او داسې نورو ملتونو په شان په مصنوعي ډول تازه جوړشوی ملت نه دی ، بلکې پښتون ملت د نړۍ دلرغونو ملتونو له جملې څخه يو ډېر لرغوني ملت دی چې د زرګونو کلنونو راهېسې د امو او اباسين ترمنځ په پاکه خاوره (پښتونخوا ) کې د خپلې تورې په زور په عزت او حرمت اوسېدلي دي .

پښتنو ته ملي او پښتني غرور د لرغونو زمانو راهېسې د خپل باغروره نيکونو او پلرونو څخه په ميراث ور پاتې دی او د دې سببه ملي او پښتني غرور د پښتنو د فطرت يوه برخه ګرځېدلې ده .

د پورته دلايلو پر اساس موږ ويلای شو چې پښتني او ملي غرور د هر رښتيني پښتون د فطرت نه جلا کېدونکې برخه ده .

هر رښتينی پښتون په پښتونولي يا پښتونتوب ناز او فخر کوي او په نړۍ کې بل هېڅوک هم تر ځان لوړ او بهتر نه بولي ، چې دا مثبت عمل " پښتني " غرور بلل کېږي .

هر رښتينی پښتون په خپل وياړلي " پښتون ملت " ناز او فخر کوي ، چې دا مثبت عمل "ملي غرور" بلل کېږي .

پښتو او پښتونولي هر پښتون ته امر کوي چې هېڅ وخت او هېڅ ځای د هېڅ شي او هېچا په مقابل کې داسې عمل ونکړي چې دده ملي او پښتني غرور ته تاوان ورسېږي .

دا خبره د ډېرې توجه وړ ده چې پښتني او ملي غرور د تکبر سره ډېر فرق لري ، پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې هيڅ وخت کبر ونکړي ، پښتون بايد هميشه متوازع وي او د متکبر او ظالم په مقابل کې بايد لکه غر مقاوم ولاړ وي .

پښتو او پښتونولي پښتون هڅوي چې په هر وخت کې په هر قيمت خپل ملي او پښتني غرور وساتي .

پښتو او پښتونولي پښتنی غرور ته دومره ارزښت ورکوي چې حتي پښتون بايد د خپل معشوقې پر وړاندې هم دومره ټيټ نشي چې دده پښتني غرور ته تاوان ورسېږي .

د تورې او قلم قهرمان لوی پښتون ستر خوشال بابا د خپل معشوقې سره د راز او نياز په هکله هم دخپل پښتني غرور ساتلو ته سخت متوجه دی او داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خوشـــــحال کمـــــزوری نـــــه یـــــم چـــــې بـــــه دار کـــــړم
پـــــه ښـــــکاره نـــــاري وهـــــم چـــــې خولـــــه یـــــې راکـــــړه

دمحمد ظاهر شاه په وخت کې ببرک خان ځدران د افغان دولت سره د اختلاف په اساس پاکستان ته وتښتیدی او هلته د افغان دولت د مخالف په حیث اوسیدی .

یو ځل د پاکستان دهغه وخت صدراعظم لیاقت علی خان دراولپنډی په اوسنی لیاقت پارک کې یوی غونډه رابللی وه او ودی غونډی ته ئی سید اکبر چی د ببرک خان ځدران ورور وو هم د افغان دولت د مخالف په حیث رابللی وو .

په دې غونډه کې لیاقت علی خان په افغان دولت او ملت پسی سپکی سپوری وویلی سید اکبر که څه هم عملا د افغان دولت مخالف وو بیا ئی هم پښتني او ملی غرور راوپاریدی او د پاکستان صدراعظم لیاقت علی خان ئی ځای پر ځای ووژلی او په خپله هم د پښتني اوملی غروردفاع په خاطرشهید شو ،روح دی ښاد وی .

خو د ملي یا شخصي غرورمسئله بیا په ځینو ملتونو کې فرق کوي او هغوی څه زیات ارزښت نه ورکوي د مثال په ډول یو ایرانی عاشق بیا خپلې معشوقې ته د پر ځان تیټ کړی دی حتی ځان د هغې سپې بولي لکه چې وایي:

ســـــحر امـــــدم بـــــه کویـــــت بشـــــکار رفتـــــه بـــــودي
توکـــــه ســـــگ نبـــــرده بـــــودي بـــــه چـــــې کـــــار رفتـــــه بـــــودي

یو ایراني پښتون ضد شخص چې ځانته عالم وایي دپښتنو یعنې افغانانو په باره کې داسې وایي: (هر فرد افغان اول خودش و بعد قوم افغان را بر گزیده خدا میداند ، وهیچ کس را در روی زمین برابر افغاني نمی پندارد که این فضیلت را نگارنده برای ملت ایران ارزو میکند ، وقتي یک فرد افغاني طایفه وقوم خودرا برای نگارنده مي شمرد بیاد سخن داریوش کبیر افتادم که با چه لهجه پرازمباهات نژاد خودش را مینویسد :

پارسي فرزند پارسي ایراني فرزند ایراني .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ايراني دروغجن او تقلب کار نام نهاد عالم د خپل اسلافو په شان دروغ وايي او خپل هغه دروغ بيا د تاريخ يو جبار او سفاک "داريوش" ته منسوبوي .

دداريوش په وخت کې خو د "ايران" لغت هيڅ موجود نه وو ، نو دا سوال پيدا کېږي چې سفاک داريوش د "ايراني فرزند ايراني" لفظ څنګه استعمال کړی . . . ؟

مګر د دې ايراني دروغجن نقاد بر خلاف يو بل خارجي محقق د پښتنو د ملي او پښتني غرور او ښه صفاتو په باره کې داسې وايي:

(که د يو خورا بېوزلي ، لوڅ او بربنډ پښتون څخه پوښتنه وکړئ چې څوک يې ؟ دی به په ډېر غرور او مباهات سره درته ووايي چې (پښتون يم) دده د لهجې څخه به د پښتون ملت غرور او له سيما څخه به يې د پښتونوالي علويت ښکاره کېږي او تا به په درانه غيرت ، خورا متانت او وقار سره داسې تر اثر لاندې کړي چې ته به وايي چې دی بادار او زه غلام يم . )

خو شحال بابا په خپل پښتون ملت نازېږي او داسې وايي:

د افغان په ننګ مې وتړله توره
ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم

يو بل پښتون شاعر داسې وايي:

د اسلام نه پس دا فخر راله بس دی
چې پښتون يم څه زاخېل او څه بارک

مولوي عبدالحميد افغاني په تاريخ افغانيه کې داسې ليکي:

په پښتنو کې د شرافت معيار دادی چې سړی (پښتون) وي

يو پښتون ته د غيرت راوستلو لپاره دا وينا بس ده چې ده ته وويل شي چې(ته پښتون يې او داسې ناوړه کار کوې ؟)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتنو کې تر ټولو سخت قسم دادي چې يو پښتون ووايي:

( زه به پښتون نه يم که داسې وکړم) .

سيد جمال الدين افغان په تتمه البيان کې د پښتنو په باره کې داسې وايي:

(هر پښتون که څه هم فقير وي دا خيال لري چې دی تر هر چا شريف دی ، ځکه چې پښتون دی) .

انګريزکرنيل ميلسون د افغانستان په باره کې تاريخ ليکلی دی او د خپل تاريخ د لومړي فصل په اخرکې د پښتنو په باره کې داسې وايي:

( پښتانه پر خپل هېواد مين او په خپل قوم يعني پښتونوالي مغروره دي) .

## 14: د ثبات او استقامت په اړه:

پښتو او پښتونولي يا د پښتنو ملي روح پښتنو ته امر کوي چې هميشه د عقل ، پوهې او تدبير پر اساس د خپل شخصي او ملي ژوند د برې او پر مختګ په خاطر ښې او قابل عمل پرېکړې وکړي ، کله چې مو فيصله وکړه ، بيا نو په دې لاره کې د هرراز مشکلاتو او پرابلمونو په مقابل کې خپل ثبات او استقامت له لاسه ورنکړي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښودنه کوي چې د شخصي او ملي ژوند په باره کې هميشه داسې فيصلې وکړي چې پر عقل ، پوهې او تدبير ولاړې وي ، د عملي کېدو امکان يې وي ، د دې فيصلو د عملي کېدلو په لاره کې چې بيا د هرخومره مشکلاتو سره مخامخ شي ، د هغو سره مقاومت وکړي ، خپل ثبات او استقامت د لاسه مه ورکوئ او په ډېر ټينګ عزم او متانت د هر ډول مشکلاتو په مقابل کې ثابت قدمه اوسئ او په پوره مېړانه د خپل انتخاب شوي دريځ څخه دفاع وکړئ ، پر خپله پرېکړه په پوره ثبات او استقامت ودرېږئ ، هر وخت د خپل فيصلو او انتخاب شوو لارو څخه مه اوړئ .

د ژوند په چارو کې د ځانه ثبات او استقامت ښودل د پښتو او پښتو نولي يو زرين اصل دی ، ثبات او استقامت د هر ريښتني پښتون د پېژند ګلوی ښه ثبوت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه عبدالحی حبيبي د پښتنو د ثبات او استقامت په باره کې داسې وايي:

( پښتانه د هر راز مشکلاتو په مخ کې ځان نه بايلي ، په ثابت عزم خپل کار پر مخ بيايي ، دا ثبات او استقامت د پښتو او پښتو نولي عنصر دي ، پښتانه نوي مبادي په اسانۍ نه مني ، چې ويې منل نو يې بيا کورت نه پرېږدي ) .

لوی خوشال بابا د پښتو او پښتونولي دا مهم عنصر په يو شعر کې داسې بيانوي .

کـــــه آســـــمان دې د زمـــــري پـــــه خولـــــه کـــــې ورکـــــړ
د زمـــــري پـــــه خولـــــه کـــــې مـــــه پرېـــــږده همـــــت

## 15: پر وعده د وفا کولو په اړه:

کوم وخت چې خدای(ج) انسانان پيدا کړل او هغوی د مځکې پر مخ ټولنيز ژوند پيل کړ ، ددوی ترمنځ طبعي ټولنيز روابط لکه را کړه ورکړه ، سوله ، جنګ ، قرض دوستي دښمني او داسې نور ايجاد شول .

دوی د خپل ورځنيو مشکلاتو د حل او فصل لپاره د نن ورځې په شان ليکلي قوانين او لايحې نه درلودې ، ځکه چې انسانانو تر ډېره وخته دليکلو او لوستلو سره اشنايي نه درلوده .

په داسې يوه حالت کې يوازينی شی چې د انسانانو ترمنځ يې د هغوی د مشکلاتو د حل او فصل سره مرسته کولای شول هغه ددوی ترمنځ پر ځينو شيانو وعده کول او پر خپل وعده وفا کول وه .

نن هم د پښتنو په ټولنه کې په اکثرو مواردو کې د انسانانو ترمنځ پر بعضې شيانو د ليکلي سند پر ځای صرف پر لفظي قول او وعده بسنه کېږي .

د پورته دلايلو پراساس موږ ويلای شو چې د انسانانو د ورځني ژوند د مشکلاتو په حل او فصل کې وعده کول او بيا پر خپله وعده دربدل پر مځکه د انساني ژوند د شروع څخه بيا تر نن پورې يو ډېر مهم اصل وو ، او نن هم ډېر مهم اصل دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه چې پښتون ملت هم د انساني ټولنې يوه برخه ده ، نو وعده او پر وعده وفا کول د پښتون ملت په ژوند کې هم د نورو انسانانو د ژوند په شان ډېر مهم رول لوبوي .

وعده او پر وعده وفا کول د پښتو او پښتونولي يو زرين اصل بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد پر وعده وفا وکړي .

پښتو او پښتونولي هر پښتون ته سپارښتنه کوي چې د خپل ژوند په قيمت پر خپله کړې وعده وفا وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر پښتون چې پر خپل کړي وعده وفا ونکړي هغه پښتون نه بلل کېږي .

پر وعده وفا کول د پښتنو په روحياتو او نفسياتو کې دومره ژور تاثير کړی دی چې په ورځني ژوند کې پښتانه (وعدې) ته (پښتو) وايي چې په عاميانه ډول په خبرواترو کې داسې استعمالېږي .

زما ستا سره پښتو ده = زما ستا سره وعده ده .

تا پښتو را سره وکړه = تا وعده را سره وکړه .

ايا ته پر خپل کړي پښتو پښيمانه يې ؟ = ايا ته پر خپل کړي وعده پښيمانه يې ؟

ما پښتو کړي ده دا کار حتما کوم = ما وعده کړي ده دا کارحتما کوم .

د پورته عاميانه اصطلاحاتو څخه دا معلوميږي چې وعده او پښتو سره يو شی دی .

تر کومه حده چې د پښتنو په منځ کې پر وعده وفا کول د پښتونولي رکن ګرځېدلی دی نو په دې اساس يې د پښتو شعر او شاعرۍ ته هم لاره موندلې ده .

لوی خوشال بابا د وعدې د وفا په باره کې داسې وايي:

که يې سر له تنه درومي نور به نسي .

د خوشال چې د خپل يار سره ميثاق دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حميد بابا پر وعده بانديږ د پښتون ملت د وفا په باره کې داسې وايي:

قول او بول په ژوندون نشي بدلولي* ځکه ځان پر قول وژني پښتانه .

په پښتنو کې داسې منل شوې ده چې د کاکړانو قول داسې معنی لري لکه په قران باندې چې يې قسم درسره کړی وی .

دا هم ويل کيږي چې د کاکړانو د يو مشرې کورنۍ يو سړی هند ته تللی وو او هلته د يو هندو سره ملګری شوی وؤ ، د هندوسره د ملګرتيا د سببه دې کاکړي د خپل هندو دوست سره وعده وکړه چې د هندو دين به مني او پر خپل وعده او قول ودريد او پرقول د وفا په خاطر هندو شو .

کله چې دا کاکړ بېرته پښتونخوا ته را ستون شو ، نو د هندو دين پيروي يې کوله ، دده د کورنۍ د غړو د خوا ورته ملامت وويل شول او هغه ته وويل شول چې بېرته د اسلام دين ته را ستون شه ، خو هغه خپل قريبانو ته په کاکړۍ لهجه وويل چې: "مړه ګاي مي کړګي دي يعنې د خپل هندو دوست سره مي وعده کړې ده" اوس نو د خپل ګاي (ګای = خبره = وعده يعنې وعدې )څخه نشم اوښتلای او د ژوند تر پايه هندو پاتې شو . . .

## 16: د مساوات او برابرۍ په اړه:

پښتانه د روحياتو ، نفسياتو او اخلاقو له رويه د خپل ورځني ژوند په چارو کې مخلص ، رښتني ، ايمانداره ، پاک ، ساده ، ازاد خياله او دهرډول چل ول ، فريب او تملق څخه خلاص خلک دي ، دا ځکه چې د پښتو او پښتونولي د قانون پراساس يو رښتني پښتون بايد پورته ذکر شوي او نور ښه صفات ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا علت دی چې د پښتنو سیاسي او قومي مشران هم د خپل پښتني خوی پر اساس د چپلوسی ، تملق او غوړه مالی ځخه ښه نه وړي او د نورې نړی د امیرانو په تناسب ساده او بې تکلیفه ژوند لري .

ددې خبرې یو علت دادی چې د دوی پښتون ملت د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس اماده ندي چې دوی ته چپلوسي او غوړه مالي وکړي ، که د دې با وجود بیا هم پښتانه امیران حتما چپلوسان او غوړه مالان غواړي نو مجبور دي چې یو شمېر چاپلوسان او غوړه مالان به د نورو قومونو ځخه انتصابوي او یا به په پښتنو کې د هغو پښتون نما اشخاصو په لټه کې وي چې په رګونو کې یې د رښتني پښتون پلار وینه نه ، بلکې د بل چا وینه وي چې د چپلوسی تیټه پېشه به یې زده وي .

ځوک چې په رښتیا د رښتیني پښتون پلارزوي وي هغه به د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس نه چپلوسي او غوړه مالي خوښوي او نه به یې خپل پېشه کوي .

بل علت دادی چې پښتانه امیران او مشران هم پښتانه دي ، د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون نه چپلوسي او غوړه مالي خوښوي او نه په خپله چا ته چپلوسي او غوړه مالي کوي .

سید جمال الدین افغان د تتمه البیان په(174 ) مخ کي داسې وایي :

د پښتنو امیران د شرق د نورو پاچا هانو غوندې دبدبه نه لري ، بلکې په حکومتي دربار کې د خپل حکومت له ارکانو سره یو ځای کښېني او له نورو ارکانو سره ډېر لږ تفاوت لري .

دروازه ساتونکي ځوک نه منع کوي هر سړی کولای شي چې خپل عرض د پاچا حضورته ورسوي او مخامخ ورسره په جګ اواز بې پروا خبرې وکړي ، دارنګه نور د ولایاتو حاکمان هم دي .

هو د پاچا په مخ کې ډېر مسلح عسکر ولاړ وي چې د امر د اجرا لپاره تیار اوسي .

د ژبپوهني د علم پر اساس د هر قوم په ژبه کې د هغه قوم د ضرورت پر اساس لغات ایجادېږي او د هغه قوم په ژبه کې مروج کېږي .

ځرنګه چې د پښتنو د ورځني ژوند هر څه کړه وړه د پښتو او پښتونولي د قانون له خوا تعیین شوي دي او په دې قانون کې د داسې الفاظو استعمال او داسې اعمالو کول منع دی چې د یو انسان حیثیت ته تاوان رسوي ، نو پر دې اساس د پښتنو په ژبه او ادبیاتو کې هم داسې الفاظ نشته لکه (نوکر

(c) ketabton.com: The Digital Library



،چاکر ، بادار ، مزدور ، حقير ، غلام بچه ، غلام حلقه بګووش ، نفرخدمت ، پيش خدمت ، خدمت ګار ، سګ خانه ، سګ دربار ، نمک خوار . . . ) چې د پښتون د شان سره برابر نوي .

پښتانه چې يوبل ته مخاطب کېږي په پوره وقار ، درناوي او مساوي حيثيت يوبل ته خطا ب کوي ، که د قوم مشر او حتي پاچا ته مخاطب وي بيا هم ددوی په الفاظو کې غوړه مالي او چپلوسي نوي خو په لحجه او الفاظو کې يې پوره احترام او درناوي دورايه معلومېږي .

## 17: د رښتيا په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو رښتني پښتون بايد په خپل ورځني ژوند کې هميشه با ديانته رښتني او صادق اوسي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس رښتيا ويل او په ورځني ژوند کې رښتني او سيدل ديو رښتني پښتون اصلي صفت دي .

يو رښتنی پښتون بايد ددروغو څخه نفرت ولري .

د درواغو څخه د نفرت او ليرې والي په باره کې پښتانه ډېر ښه متلونه لري چې د دې لارې خپل ولس د درواغو ويلو څخه راګرځوي او هغوی ددرواغو په تاوانو خبروي .

مثلا : د پښتو دا متل چې وايي: د درواغو منزل لنډ دی .

يا د پښتو دامتل چې وايي: کوږ بار تر منزله نه رسېږي .

يا داچی دروغجن حافظه نلری.

الله پاک په خپل مقدس کتاب قران شريف کې په وار وار خپل بند ګان ددرواغو ويلو څخه منع کړي دي او پر دروغجن يې لعنت ويلی دی

( لعنت الله علی الکاذبين ) ، په همدې ډول پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته سپارښتنه کوي چې د دروغو څخه ځان وژغوري او په خپل ورځني ژوند کې هميشه رښتيا ووايي او رښتينی واوسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 18: د ښځې د پلو د احترام په اړه:

علامه عبدالحی حبيبي په پښتني ټولنه کې د ښځو په باره کې داسې وايي:

(پښتانه ښځو ته په مخصوص نظر ګوري ،ښځې په پښتو او پښتونولي کې د احترام وړمقام لري ،ډېر ځله نارينه د وريندارګانو د ناموس د ساتنې لپاره سرونه بايلي ، پښتانه د پرديو ملتونو ښځوته هم کتې مټې په د غسې نظر ګوري .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس "د پلو روی" خورا ډېر اهميت لري .

هر رښتينی پښتون د خورلښې پلو خورا محترم ګڼي او د خورلښې

"د پلو په روی" تر ډېرو ګټو يا انتقامي اقداماتو تېرېږي .

د جنګ په جريان کې چې د مېرمنې پلو منځته راشي ، نو د جنګېدونکو خواوو ترمنځ کُلي مقاطعه او متاريکه منځته راځي .

يو رښتينی پښتون چې هر څومره په قهر وي بيا هم د پښتني خور پلو ته ګوري او کورټ يې تش نه پرېږدي . )

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس په پښتني ټولنه کې ښځه ددنيا تر بل هر قوم زيات د احترام وړ مقام لري .

څرنګه چې د پښتني ټولنې اساس پر کورنۍ ولاړ دی او پښتانه کورنۍ ته ډېر زيات احترام لري ، د همدې سببه هر رښتني پښتون فطرتاً و ښځې ته ډېر احترام کوي ځکه چې ښځه مور ، خور ، لور ، مېرمن ، خاله ، عمه ، خوابنې ، د تره ناوې ، مامي او داسې نور د احترام وړ مقامونه لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه هرې پښتنې ښځې ته په ډېر احترام ګوري که هغه ددوی د خپل کور اویا د بل نابلده کور سره تعلق ولري .

د پښتونخوا په پاکه خاوره کې ددنیا تر بل هر پر مخ تللي او شاته پاتي هېواد یوه ځوانه ښځه په ډېر امن او ډاډ د یو ماشوم یا بلي ښځې په ملګرتیا سره سفر کولای شي ،ځکه چې پښتو او پښتونولي هر پښتون ته دا سپارښتنه کوي چې په هر وخت ، هر ځای او هر ډول شرایطو کې باید د ښځې دمقام او پوره عزت،احترام او قدروشي .

که د پښتنو ترمنځ سخت جنګ روان وي خو چې ښځې د جنګ میدان ته رادا خلي شي نو دواړي جنګي خواوي د ښځې د احترام په خاطر اوربندي کوي .

که د دوو کورنیو ترمنځ سخته فتنه پیښه شویوي ، یوه لوري د بل لوري څخه مړي کړي وي خو که د ننواتي په جرګه کې ښځې د متضرر کورته ورشي نو متضرر حتما د دښمني کورنۍ د ښځو په احترام د ننواتي کونکي کورنۍ ننواتي مني .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون باید په هر حالت کې د یوي پښتني مېرمني(د پلو روي ) ومني او د مېرمني د پلو په احترام د ښځې د خوا شوي مشروع غوښتنه ومني .

دا د پښتو اوپښتونولي د قانون یو ډېر مهم اصل دي چې هررښتني پښتون باید هرو مرو د پښتني (د پلو روي )ته ډېر احترام وکړي .

پښتانه په بدیو او دښمنیو کې خپل دښمن وژني خو ښځو ته یې نه تنها بې ناموسي نه وراړوي بلکې احترام یې هم کوي .

په پښتون میشته سیمو کې داسې ډېر پیښې شوي دي چې غلو د قافلو د لوټلو په نیت قافله راګرځولي ده خو چې کله یې لیدلي دي چې په دې قافله کې ښځې هم سفر کوي نو دي غلو هم دښځې د پلو د احترام په خاطر د قافلې د لوټلو څخه لاس اخیستي دي .

<u>کیسه:</u> (زما مشر د تره زوی دعیني شاهد په حیث دا کیسه ماته وکړه ) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په (1355 هه ش) کال کې يوې ډلې غلود قندهار او ارزګان ولايتونو ترمنځ په غرونو کې يوبس موټر د لوټلو په خاطر راوګرځوي .

په دې بس موټر کې هغه مسافر سپاره وه چې په قندهار کې يې خپل غنم ،ماش ، بادام شکر پاره ، وريجې ،غوړي ،وړۍ او نورشيان خرڅ کړي وه او زياتي نقدي پيسي ورسره وي .

کله چې د بس مسافرينو وليدل چې ددوی موټر د غلو د خوا متوقف شو نو هر مسافر ډېر په عجله سره کوښښ وکړي چې خپل پيسي او قيمتي ساعتونه هغه يوي ښځې ته ورکړي چې په دې بس کې يې ددوی سره سفر کوي ، دښځې مخ په بورقه کې پټ وو خو د دې سره سره يې هم د ځينو مسافرو پيسي او نور شيان تر خپل بورقه لاندي کړل او د نورو مسافرو شيان يې لا تر بورقه نوه لاندي کړي او د بورقي پر لمن د پيسو بنډلونه او ساعتونه پراته وه چې د غلو مشر موټرته راوخوت او ويې ليدل چې د ښځې پر پلو زياتي نقدي پيسي او قيمتي ساعتونه پراته دي .

غله د مسافرود جيبو څخه هغه پيسي واخستلي چې لا يې د ښځې پلو ته نوي ورغورځولي ،مګر هغو پيسو ته يې لاس ورنه وړي چې د ښځې د بورقي پر پلو پرتي وي او دې غله د موټر مسافروته يو څو خبرى وکړى،زه دلته دهغه غله خبرى چې ما د خپل تره د زوى څخه اوريدلى وى پخپل الفاظو لوستونکوته په لاندى ډول ذکرکوم.

( اي نا ځوانه خلکو زه ښه پوهيږم چې تاسو خپل پيسي دې ښځې ته ورکړي دي اوداد ي زه يې وينم چې د دې پر پلو پرتي دي ، د دې سره سره چې زه يوغل يم خو بيا هم د يوي ښځی د پلو په احترام د دې پر پلو پرتي پيسي نه ځني اخلم او دا پيسي د دې خور پلو ته وربخښم ،خو پر تاسو دې هم ماينه (ماندينه) طلاقه وي چې زما تر تګ وروسته به بيا د دې ښځې د پلو څخه دا پيسي اخلي ،غله وويل د دې ښځې پر پلو پرتي پيسي ما د دې پلو ته وربخښلي دي ،او د دې جملې د ويلو سره سم يې يوه اندازنوري پيسي چې د خلکو څخه يې په زور راټولي کړي وي هم د ښځې پلوته وروغوځولي او د موټر څخه کوز شو . )

ددې واقعې په شان په زرګو داسې نوري واقعي هم په پښتونخوا کې پيښې شوي دي .

د پورته دلايلو څخه دا په ډاګه معلوميږي چې پښتانه د ښځو او د هغوی د پوړني او پلو ډېر احترام کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو ښځو هم د تاريخ په اوږدو کې د خپل ورونو سره يو ځای د پښتون ملت د سياسي ،اقتصادي او ټولنيز ژوند په ترتيب او تنظيم کې ترخپل وس او توان پورې د توجه وړ برخه اخيستي ده .

## 19: د مشرانو او کشرانو د رابطی په اړه:

په پښتنی ټولنه کښی د مشرانو او کشرانو ترمنځ اړيکی د پښتو او پښتونولي د قانون د مشرتوب او کشرتوب د اصولو پر اساس تنظيم شوی دی.

په پښتنی ټولنه کښی د مشرتوب او کشرتوب اصول د پښتنی کورنۍ د سطحی څخه نيولی بيا د ، ،کهول،زی،پښی،خيل او ملت تر سطحی د تطبيق وړ دی.

په پښتنی کورنيو کښی د مشرتوب مقام د يو کس د عمر او لياقت سره مستقيم تړاو لری.

لکه څنګه چی د يوی پښتنی کورنۍ غړی د خپل کور د مشر اطاعت او احترام کوی، په عين ډول د يو ، ،کهول،پښی،زی او خيل، ، غړی د خپل کهول،پښی،زی او خيل د مشرانو اطاعت او احترام کوی.

په پښتني کورنيو کې د نيکه،انا ،پلار،مور،کاکا او د کورنۍ د نورو غړو ترمنځ د مشرتوب او کشرتوب روابط د پښتو او پښتونولي د قانون د مشرتوب او کشرتوب د اصولو پر اساس فرمولبندي شوي دي.

په اکثره مواردو کې د کورنۍ د اقتصادي او ټولنيزو چارو ترتيب ،تنظيم او رهبري د کورنۍ د مشر نارينه يعنی نيکه ،پلار ، مشرورور يا مشر زوی پرغاړه وي .

د کور په دننه کې د کورنۍ د ترتيب او تنظيم چارې د کور د مشر نارينه په مشوره او هدايت د کور د مشري ښځې يعنی انا ، مور ،ناواده شوي مشري خور،مشري لور او مشري مېرمني پرغاړه وي .

د ورځنۍ ژوند په چارو کې د کورنۍ د هر غړي مقام ، حيثيت او مسئوليت مشخص او تعين شوي وي ،او د کورنۍ هر غړي خپل ور سپارل شوي وظيفه تر خپل توان پورې په ښه ډول تر سره کول غواړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د کورنۍ یوغړی په ورسپارل شوي وظیفه کې تنبلي وکړي ، نو د کور د مشر او نورو غړو له خوا تر فشار لاندې راځي او که د کورنۍ دا غړی د ورسپارل شوي وظیفې د انجام توان ونه لري په دې صورت کې بیا د کورنۍ د نورو غړو له خوا مرسته ورسره کیږي .

پښتانه د خپل کورنۍ غړو ته دا لارښونه کوي چې د خپل کورنۍ هغو غړوته چې تر دوی مشران دي احترام وکړي او د پښتني کورنۍ د اصولو پر اساس مشران هم باید پر کشرانو شفقت او مهرباني ولري .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښونه کوي چې خپل د کورنۍ غړي داسې تربیه کړي چې په خپل کورنۍ او ټولنه کې ټولو هغو کسانو ته چې تر دوی مشران او سپین ږیري وي احترام وکړي ، وهغوی ته د مخاطب کیدو په صورت کې هغوی په خپل نوم یاد نکړي او د احترام په خاطر هغوی ته د کاکا ، ماما ، دادا ، اغا ، حاجي صاحب یا ښاغلي په نوم مخاطب شي .

د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس ځوانان باید د سپین ویښته یا په بله وینا ځوانان باید د سپین ږیرو احترام وکړي .

په پښتني ټولنه کې مشران همیشه د خپلو کشرانو کړه وړه تر نظر لاندې نیسي او د ضرورت په وخت کې یې په ډیره مهرباني ور اصلاح کوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه مشران باید همیشه پر کشرانو شفقت او مهرباني وکړي .

## 20 : د پښتنو د اتفاق په اړه :

دمځکې پرمخ دانسانانو د پیدا ښت د وخت راهیسې یوې قبلې پر بلې قبیلې ، یوه قوم پر بل قوم یا یوه سلطنت پر بل سلطنت تعروضونه او حملې کولې د مغلوب قوم هر څه به د غالب قوم دخوا چور او چپاول کیدل ، نو د دې دایمي خطر څخه د نجات په خاطر دهغه وخت د پښتنو مشرانو د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، استقلال ، ملي حاکمیت ، مځکنۍ بشپړتیا ، ملي نوامیسو او ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګټو ددفاع په خاطر پښتون ملت د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دهميشني اتفاق او اتحاد لوري ته را بللي دي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته دپورته ذکر شوو ملي ارزښتونو ددفاع په خاطر سپارښتنه کوي چې هميشه په اتفاق او يو متې اوسي .

د اتفاق لفظ يو ډېر ښه لفظ دی او د ډېرو ښو صفاتو ډک لفظ دی .

د اسلام مقدس دين او نورو پر واحد خدای(ج) باور لرونکو اديانو هم په خپل وار خپل پيروانو ته دا هدايت او سپارښتنه کړې ده چې په خپلو منځو کې په اتفاق واوسي .

د يوې کورنۍ د غړو ترمنځ اتفاق د کورنۍ د ټولو غړو په ګټه دی ، کومه کورنۍ چې په اتفاق ده هغه د کور ، کلي او قوم په سطحه د احترام وړ کورنۍ بلل کېږي ، همدارنګه د يو قوم د غړو ترمنځ اتفاق د ټول قوم په ګټه دي او د يو ملت د غړو ترمنځ اتفاق د ټول ملت په ګټه دي .

هغه ملتونه چې په اتفاق دي يعنې ملي وحدت يې تامين دي هغوی په سياسي ،اقتصادي او ټولنيزو چارو کې خپلواک ، ارام ، اباد او دنورو ملتونو سره سيال ملتونه دي .

اوس دې سوال ته راګرځو چې د ملت په سطحه اود يو قوم په سطحه اتفاق او وحدت څرنګه منځ ته راتللای شي ؟

په ملي سطحه اتفاق راوستل هم ملت سازۍ ته ورته يوه پروسه ده ، د ملي اتفاق د راوستلو لپاره بايد ځني داسې مشترک سياسي ، اقتصادي ، نظامي ،تاريخي ، ديني ،ايډيالوژيک او داسې نور مشترک مادي او معنوي ارزښتونه او ګټې مطرح وي چې ديو ملت دبيل بيل هويت اونسلي ريښې لرونکي پر ګني پريو واحد مرکز راټوليدو ته را بولي ، او ملي اتفاق يا ملي وحدت منځته راولي .

د ملي اتفاق يا ملي وحدت د تامين لپاره په هر هېواد ،هر قوم او هر ملت کې بيل بيل ميتودونه او لاري چاري په بيلو بيلو تاريخي ،اقتصادي ،اجتماعي ،سياسي او داسې نور مشخصو حالاتو اوشرايطو کې په کار اچول کېږي ، تر څو خپل مشخص هدف ياني د ملي وحدت تامين ته ورسيږي .

خو که دپورته ذکرشويو مشخصو حالاتو او مشخصو ميتودونو څخه يو هم کم وي او يا پر مناسب وخت استفاده ځني ونشي نود ملي اتفاق ياني ملي وحدت د تامين پروسه سمه سر ته نه رسيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتنو د اتفاق لپاره تقريبا څو خاص نقاط چې ديو فرمول حيثيت لري وضع شوي دي .

دمثال په ډول لوي خوشحال بابا د پښتون ملت طبعي ټولنيزجوړښت په خپل يوه لنډ شعر کې داسې ځاى کړيدى او هغه داسې وايي :

چې دستار تړي هزار دي * د دستار سړي په شمار دي .

خوشال بابا په خپل دې لنډ خو معنى داره شعر کې د پښتنې ټولنې داخلي جوړښت په ډير ښه او ډير لنډ ډول تشريح کړيدى .

دخوشال بابا د شعرمطابق د پښتنو په ټولنه کې څو محدودمشران د شملي او دستار سړى بلل کيږى .

ددستار سړى څوک دى ؟

په يوه ولايت يا يوه قوم کې چې د غړو شمېر يې د لکونو په شاوخوا کې وي ، ددې لکونو پښتنو څخه هر پښتون چې د پښتو او پښتونولي د قانون عملا پيرو وي ،هغه کس دپښتنو په منځ کې د ستر شخصيت ،عزت او وقار خاوند بلل کېږي ، ولس يې خبرو ،مشورو او فيصلوته په احترام او درنښت قايل وي ،دپښتنو په منځ کې داسې کسانو ته د دستارسړي ويل کېږي .

دا په لکونو پښتانه خپل پر يو محدود شمېر مشرانو چې دستار او شملي کسان بلل کېږي پوره باور او اعتماد لري نو ځکه د هغوى د خوا شوي هري فيصلي ته د زړه د کومي په قدر او احترام ګوري .

بلـه خبره داده چې د پښتـون ستر ملت غـړي ټول يودبل سره د ويني شراکت لـري او دا ستر ،نه ماتيدونکي او دتاريخ تر سختو ازمايښتونو بريالي راوتلي ملت د ويني د شراکت پر اساس جوړشوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه يو د بل سره وړي خوابدی لري خو کله چې د پښتون ملت د ګټو خطر منځته راشي نو بيا هر رښتني پښتون د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس خپل شخصي اختلافات يو طرف ته ايږدي او ټول اوږه پر اوږه د پردي د ښمن په مقابل کې دريږي .

پښتانه د خپل منل شوو شمله ورو مشرانو داسې اطاعت کوي لکه د نړۍ په عصري نظامي فوځونو کې چې يو سرباز د يو جنرال اطاعت کوي ، دا ځکه چې هر رښتني پښتون د پيدا ښت څخه فطرتاً يو نظامي او يو سپاهي پيدا شوي دي .

د پښتون ملت د اتفاق لپاره د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د قومونو څو د دستار سرې په يوه جرګه کې سره راټوليږي او ددوی د فيصلي پر اساس د ټول پښتون ملت ملي اتفاق او ملی وحدت منځته راځي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتون ملت د کورنيو ، قومونو او ملت يوالي د نړۍ تر بل هر قوم او ملت اسانه دي ،خو شرط يې دادي چې دا د ملي اتفاق پروسه د پښتو او پښتولي د قانون يعنې د پښتنو د ملي روح او فطرت مطابق پر مخ ولاړه شي او دا پروسه موږ داسې خلاصه کوو .

الف: د پښتو او پښتونولي قانون پښتنو ته سپارښتنه کوي چې د کورنۍ د سطحي نيولي بيا د ستر پښتون ملت تر سطحي بايد په اتفاق واوسي،ځکه چې د ايوالي او اتفاق په هره سطحه د پښتنو ګټې ساتي .

ب: د پښتون ملت جوړښت د ويني پر شراکت شوي دي ، د داسې ملت د غړو ترمنځ د ملي اتفاق او ملی يوالي منځته راوستل ترهغو ملتونو ډېر اسانه دي چې د ويني پر شراکت نوي جوړشوي .

ج: د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتنو د منځه د دستار د سړو د څو جرګو په نتيجه کې د ټول پښتون ملت ملي اتفاق او يوالي منځته راتلای شي .

د پښتنو د اتفاق ،جرګو او پښتو ژبې په باره کې د پښتو د غزل پلار حمزه بابا داسې وايي:

تــــــل بــــــــه پـــــــــر لار د ميړنــــــــــو ســــــــــره ځـــــــــــم
يمــــــــــه پښــــــــــتون د پښـــــــــــتنو ســــــــــره ځـــــــــــم
وايــــــــــــــي اغيــــــــــــار چــــــــــــې د دوزخ ژبــــــــــــه ده
زه بــــــــه جنــــــــت تــــــــه د پښــــــــتو ســــــــره ځـــــــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــام کـــــــــوه زه هغـــــــــه نظـــــــــر نــــــــــه يمـــــــــه
چـــــــې بــــــــه پــــــــه دود د ســــــــپيلنو ســـــــره ځـــــــم
خـــــو چـــــې راغونـــــډ پــــــر يـــــــو مرکزيـــــې نـــــه کــــړم
هــــــــري تپـــــــــي تـــــــه د جرګـــــــــو ســـــــره ځـــــــم

که نن هم د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتون ولس يو الي منځته راشي ، نو ټول پښتون ملت به په ملي ګټه او تاوان کې د خپل حق په اندازه ځان شريک و بولي ،او د پښتنو د مشرانو د خوا د هري فيصلي اطاعت او ملاتړ به په ورين تندي وکړي ،اودا پاشلي او د پرديو د غلامۍ په کړيو کې بند غلام او مظلوم پښتون ملت به يو ځل بيا دا توان پيدا کړي چې خپل ځان او ګرانه پښتونخوا د پرديو د غلامۍ څخه ازاد کړي .

پښتانه به بيا په دې منطقه کې يو ستر پښتني دولت ايجاد کړي او خپل هغه د لاسه تللي برم ، شان اوشوقت به بيا لاسته راوړي ،پښتون ملت به بيا د همسايه ګانو او نړۍ سره سيال شي ، او د پښتنو دا د غلامۍ ، مريتوب ، ذلت ، زلالت او مظلوميت ژوند ته به د پاي ټکي کېږدي .

د پورته تشريحاتو څخه په لنډ ډول دا نتيجه اخستل کېږي چې:

د پښتون ملت ټل پاتې ملی اتفاق او ملی يو الي تنها هغه وخت نه ممکن دي چې د پښتنو دا اتفاق او ملی يو الی د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس منځته راشی.

د پښتو او پښتونوالی د قانون پر اساس د پښتنو د ستار د سرو په ملاتړ او اتفاق د ټول پښتون ملت ټل پاتی ملی وحدت تامينيدا شی.

## 21 : په پښتنو کې د نفاق په اړه:

پښتو او پښتونولي په وارو وارو پښتنو ته حکم کوي چې د نفاق او ځانځانۍ څخه په کلکه ځانونه وژغورئ چې دا عمل د پښتنو د بربادۍ او بد بختۍ سبب کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې هم د پښتنو دښمنانو موقع پیدا کړیده نو د پښتنو غلامۍ او د پښتونخوا واشغال ته یې ملا تړلې ده .

د پښتنو دښمنانو ته دا ښه معلومه ده چې د پښتنو فطرت یعنې پښتو او پښتونولي همېشه پښتانه د اتفاق او اتحاد لور ته رابولي ، که پښتانه په اتفاق وي نو د هغو د غلامۍ امکان د صفر سره برابر دي ، نو په دې اساس هغوی د ډول ډول نیرنګونو څخه کار اخلي چې لمړي پښتانه د خپل فطرت یعنې پښتو او پښتونولۍ څخه خلاص کړي ، بې فطرته پښتانه بیا ډېر په اسانه خطا ایستل کیدای او بې اتفاقه کیدای شي .

کوم وخت چې د پښتنو څخه پښتو او پښتونولي یعنې ددوی د پښتونوالي ښېلونکی جوهر او فطرت ولاړشي ، دا بې فطرته پښتانه بیا د پسونو د رمې په شان په ډېره اسانۍ هر خپل او پردی پر هره لور بیولای شي .

کله چې د پښتنو دښمنان پر دې قادر شول چې پښتانه د پښتو او پښتونولي څخه لیرې کړې ، نو په دې وخت کې د پښتنو د بې اتفاقۍ لپاره د هر شیطاني چل او نیرنګ څخه کار اخلي .

د مثال په ډول: د پښتنو دښمنان ځیني پښتنو ته وایي چې تاسو دراني یاست ،نورو ته بیا وایي چې تاسو غلجي یاست ،بل بیټني او بل کرلاڼي کړي . . .

کله بیا د پښتنو دښمنان پښتانه پر سیمو سره ویشي ،څوک د شرق پښتانه کړي ،څود غرب ،څوک د جنوب او نور بیا د شمال پښتانه بولي .

د پښتنو دښمنان د پښتنو یوه ښه دبلي ښې پر ضد استعمالوي او د جنوب پښتانه د شمال او د شرق پښتانه د غرب پر ضد استعمالوي .

کله خو د پښتنو دښمنان مستقیما په خپله دا شیطاني کارا نجاموي ،مثلا د پاکستان ،ایران او شوروي استخبارتو خو مستقیما پښتانه د دراني او غلجي په نومونو یو دبل پر ضد استعمالول .

د پښتنو دښمنان ځیني وختونه بیا د پښتنو په منځ کې د خپلو غلامانو په واسطه د پښتنو بې اتفاقۍ ته لمن وهي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو دښمنان د خپل کار د بریالیتوب په خاطر لوړېږي د پښتنو د ځینو موثرو قشرونو د منځه یو شمېر جاسوسان د ملا ، پیر ، خان ، ملک ، روشنفکر سرمایدار ، سیاستمدار او داسې نورو په نومونو استخداموي ، دا د پردیو پښتانه جاسوسان بیا د پښتنو په منځ کې د خپل بادارانو د پلان مطابق ، ددراني ،غلجي ،جنوبي وال ، مشرقیوال ، شمالیوال په نوم پښتانه یو د بل پر ضد استعمالوي .

ددې لپاره چې په پښتنو کې د پښتو او پښتونولي عالي ترین اسلامي او نساني ارزښت او جوهر کم کړي ، نو د پښتنو دښمنان کوښښ کوي چې د پښتو او پښتونولي پر ځای د دوی د بادارانو د خوا تراشل شوي استعماري نظريات د خپل جاسوسانو په واسطه په پښتنو کې معرفي او خپروي .

د پښتنو د دښمنانو جاسوسان دخپل بادارانو په امر او دستور د هغو د استخبارتي سازمانو دخوا ډیزاین او تراشل شوي استعماري نظریې (اسلامی هېوادونه په خپل منځ کې سرحدنه لري ، اسلامي یوالي ،اسلامي خلافت ، د شریعیت انفاذ ، اخوانیزم یا اخوان المسلمین ، وهابیزم ،سلفي اسلام ، کمونیزم ، دموکراسي ،ملت سازي ،اسلامي جهاد او داسې نور . . . ) د پښتنو په منځ کې تبلیغوي .

دپښتنو دښمنان غواړي چې دپښتو او پښتونولي دعالي اسلامي او انساني نظر پر ځای دا پورته استعماري نظریات د پښتنو په منځ کې رواج کړي تر څو پښتانه د خپل فطرت یعنې پښتو او پښتونولي څخه راوګرځوي .

کله چې پښتنو خپل فطرت یعني پښتو او پښتونولي داعالي ترین اسلامي او انساني جوهر پرېښود او د استعماري نظریو پر لارو روان شول ،نو پښتني اتفاق یې د منځه ځي او په بیلو بیلو نومونو پر بیلو بیلو ډلو ویشل کېږي ، ضعیفه کېږي او بالاخره د پردیو د خوا په خپل هېواد کې غلامان کېږي .

د پردیو هغه پښتانه جاسوسان چې د خپلو بادارانو په امر د پردیو استعماري نظریې په پښتنو کې خپروي د ځان لپاره یو څو پیسې اخلي او د څو پیسو په مقابل ټول پښتون ملت د پردیو غلام کوي .

موږ وینو چې په تېرو دېرشو کلنو کې د پردیو استخباراتي سازمانو له خوا تراشل شوو نظریو پیروۍ ستر پښتون ملت پارچه پارچه کړی، پر ورورووردښمنو ډلو یې سرو وویشی، کمزوی یې کړی او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نتجه کښې ستر تاريخي پښتون ملت د شوروي ، پاکستان ، ايران او داسې نور هيوادونو غلام کړل شو .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښونه کوي او هغوی دې ته متوجه کوي ، هر هغه څوک ، په هر مقام او د ټولنې په هر قشر پورې چې اړه ولري ، چې په هر نوم د پښتنو ترمنځ نفاق راولي هغه کس د پښتنو ازلي دښمن دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه دا پښتني دنده لري چې غدار ،ملت پلورونکی او هيواد پلورونکی افراد او اشخاص د خپل منځ څخه د پرديو دجاسوسانو او د پښتون ملت د دښمنانو په نوم وباسي او د خپل پښتون ملت د بې اتفاقۍ مخه ونيسي .

لوی احمد شاه بابا د پښتنو د يوالي په باره کې داسې وايي:

قافلــــــــه د عشــــــــــق راغلــــــــــې د کــــــــــوم خــــــــــواده
پـــــــر زړګـــــــي بانــــــدې مـــــــې شـــــپه کــــا ځـــــه غوغـــــاده
ټـــــــول يـــــــو دي کــــــــه غلجــــــــي کــــــــه ابـــــــدالي دي
ښـــــــــه هغــــــــه چــــــــې يـــــــــې د زړه ښيښــــــــــه صـــــــفا ده
چـــــــــې عمــــــــل يـــــــــې د نيکـــــــــۍ وي مېــــــــړه هغــــــــه
کـــــــــــه اغوســـــــــــتي يـــــــــــې ګدلـــــــــــه د خمتـــــــــــاده
پښتــــــــــــــانه دي ټولــــــــــه لاس ســــــــــره يــــــــــو کانــــــــــدي
چـــــــــې غــــــــزا مــــــــو پرهـــــــــر لــــــــوري شــــــــاوخواده
بــــــــې زحمتــــــــه راحـــــــــت چېـــــــرې مونـــــــده نشـــــــې
د احمــــــــــد ځکــــــــه پــــــــر هـــــــر لــــــــوري غـــــــزاده

مولوي عبدالحميد پښتنو ته د يوالي د نصيحت په دود داسې وايي:

بــــــس دافخــــــر راتـــــه بـــــــس دی چـــــې پښـــــتون يـــــم
فـــــــرق يــــــې نشــــــته کــــــه بــــــارک يــــــم کــــــه زاخېـــــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام دمقدس دين اودپښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا د هر رښتيني پښتون پښتني دنده ده چې د پښتنو په منځ کې د پرديو جاسوسان او پښتون ملت ته غداران په هر مقام کې چې وي کشف او د لندو سپيو په شان يې د پښتنو د منځه وباسي .

دا د هر رښتني پښتون وظيفه ده چې د پښتنو په منځ کې د پرديو جاسوسان رسوا کړي .

داد هر رښتني پښتون پښتني دنده ده چې دپرديو د جاسوسانو هغه پلانونه شنډ کړي چې غواړي پښتانه بې اتفاقه کړي او دغيري پښتنو اطاعت او غلامۍ ته يې وهڅوي .

## 22: د ديانت ، پاکي او ايمانداري په اړه:

پښتون ملت د پښتونخوا په پاکه خاوره کې داسې په پاکۍ او ستره ګۍ ژوند کوي لکه څنګه چې يې د ښکلې پښتونخوا آب او هوا پاکه او سپېڅلې ده .

د پښتو او پښتونولي قانون پښتنو ته سپارښت کوي چې په ورځني ژوند کې با ديانته ، پاک او ايمانداره واوسي ، ځکه چې د دې درو مهمو صفاتو درلودل د انسان شخصيت ته په ټولنه کې تبارز او اعتبار ورکوي .

دين داري ،پاکي او ايمانداري د پښتو او پښتونولي د قانون د ډېرو مهمو اصلونو څخه دي نو ځکه پښتانه فطرتا ديندار ه ، پاک او ايمانداره خلک دي .

مونږ په لاندې ډول د پښتو او پښتونولي دا دري زرين اصول لږ په تفصيل سره تشريح کوو .

## 23: د دينداري په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتون ملت د خپل اوسېدو د محیط په لحاظ نه ، بلکې د خپل فطرت په لحاظ دنړۍ د دین پالونکو ملتونو دجملې څخه یو ډېرزیات دین پروره ملت دی .

د پښتو او پښتونولي یو اصل دادی چې هر رښتنی پښتون باید هرومرو ښه دینداره او د خپل دین پر اصولو پابند واوسي .

مورډ دې کتاب په وړاندینو فصلونو کې ولوستل چې تر تاریخ وړاندې زمانو کې پښتنو د زردشت ایین که څه هم الهي دین نه وو منځته راوړی ، ترهغه وروسته یې بودایي دین قبول کړی او د هغه د پرمختګ لپاره یې ډېرې هلې ځلې وکړې چې ژوندی مثال یې په بامیانو کې د بودا ستړې مجسمې وې .

کله چې د اسلام دین ظهور وکړ نو د پښتنو پاچا یا مشر شنسب د یو لوی هیئت سره کوفې ته د مسلمانانو خلیفه حضرت علي (35-40هـ) ته ورغی او د اسلام د دین په باره کې یې معلومات ځنې ترلاسه کړل ،کله چې شنسب پښتونخوا ته راوګرځېد نو دا معلومات یې د پښتنو د یوې لویې جرګې سره چې د پښتنو دقومي او مذهبي مشرانو څخه جوړه شوې وه شریک کړل .

کله چې د پښتنو قومي او مذهبي مشرانو د اسلام د مقدس دین په باره کې معلومات ترلاسه کړل نو د پښتنو لویې جرګې د رایو په اتفاق د اسلام مقدس دین په دې خاطر قبول کړ چې (99٪) د پښتنو د فطرتي قانون یعنې پښتو او پښتونولي سره برابر وو .

که موږ د اسلام تاریخ ته نظر واچوو نو د دنیا ټول قومونه او ملتونه حتی د مکې قریش هم په توره مسلمانان شوي دي ، خو د پورته معلوماتو څخه دا ثابتېږي چې پښتانه ددنیا د نورو قومونو اوملتو په شان په توره ندي مسلمانان شوي بلکې د خدای(ج) په مرسته او مهربانۍ او د جرګې په فیصله مسلمانان شوي دي .

پښتنو چې کله هم کوم دین منلی دی پر هغه باندې ټینګ او پابند پاتې شوي دي ، د هغه دین د خپرېدو لپاره یې تر خپل توان او طاقت پورې زیاتې هلې ځلې کړیدي .

پښتنو چې کله د اسلام دین قبول کړ نو د خدای(ج) په نامه یې په خپل سر او مال غزا شروع کړه او د اټک څخه بیا تر بنګال پورې چې نن ورځ کوم مسلمانان وجود لري اکثره یې د پښتنو غازیانو د تورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



او تبليغ نتيجه ده چي ژوندي مثالونه يې په هند کې د پښتنو پاچاهانو يعني لوديانو ، غلجيانو او سوريانو غزاګانې او امپراطورۍ دي .

او همدارنګه په هند کې د غوري شاهانو فتوحات ، د سلطان محمود غزنوي فتوحات او بالاخره د لوی احمد شاه بابا فتوحات دي .

ددنيا تر ټولو ستر امتياز چي خدای(ج) په خپل مهربانۍ پښتون ملت ته ور په برخه کړيدي ، هغه دادي چي خدای(ج) په خپل فضل او کرم ټول پښتون ملت سل فيصده (۱۰۰٪)د اسلام په مقدس دين مشرف کړيدي .

پښتون ملت د نړۍ يوازني ملت دي چې د خداي (ج) په مرسته او مرحمت هيڅ کافر نه لري او سل فيصده مسلمان ملت دي .

ددنيا په بل هر ملت کې غيري مسلم وجود لري ، حتي د پنجشيرپه کوچني او تنګه دره او کوچني قوم کې هم دعبدالرحمان په شان کافر وجودلري .

پښتانه په خپل ټولنه کې ددبنداره انسان ډيرعزت کوی او د بې دينه انسان څخه نفرت کوي .

## 24: د پاکي او عفت په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون او پښتنه بايد په خپل ژوند کې پاک او سپېڅلی وي .

که څه هم د پښتنو په اکثرو منطقو کې ستر او مخ پټی نشته ځيني وخت ليري او نږدې مېلمانه په يوه کور او کيږدۍ کې سره کېني.

کله کله داسې هم کېږي چې د کور نارينه په کور کې نوي خوبيا هم څنی ميلمانه اومسافر کورته راشي خو پښتني مېرمني په کور کې د نارينه د نه موجوديت په صورت کې هم مېلمه د کور څخه نه رخصتوي او د مېلمنو پوره عزت او حرمت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو دا ټولې اړیکې نهایت پاکې او سپېڅلې وي ، که چېرې په کوربه یا مېلمه کې د ناپاکۍ حرکت ولیدل شي نو بیا د پښتو او پښتونولي قانون پر متخلفینو تطبیق کېږي او دواړه وژل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانو ن په پیروي هر پښتون کس د پاکۍ او عفت په چارو کې نهایت محتاط دی او د دې سببه د پښتنو ټولنه ددنیا دپاکترینوټولنودجملې څخه یو ډېره زیاته پاکه اوبا عفته ټولنه ده .

## 25: د ایمانداری په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس ایمانداره شخص هغه چاته ویل کېږي چې په ورځني ژوند کې ئی نظراوعمل پررښتیا ، رښتینولۍ ، صداقت او امانت داری ولاړ وي .

ایمانداري د پښتو او پښتونولي د قانون یو ډېر مهم اصل دي ،د پښتو او پښتونولي قانون هر پښتون ته سپارښتنه کوي چې باید په خپل ورځني ژوند کې همیشه ایمانداره واوسي .

په پښتنو کې په عام ډول هغه سړي ایمانداره سړي بلل کېږي چې دهغه خبري او عمل پر صداقت ، رښتینوالي ، امانت داری ، دحق څخه دفاع اوداسې نورو ښوارزښتونو ولاړوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو ایماندار پښتون باید هیڅ کله د خپل ځان د شخصي ګټو ،دکورنۍ ،قومانو ، عزیزانواو دوستانو دګټو ، دنفس پرستۍ ، دښمنۍ او اختلاف په سبب د ایمانداری د لاري څخه وا نه وړي .

دپښتو او پښتونولي دقانون پر اساس بو ایمانداره پښتون باید په هر وخت او هر ځای کې درښتیا او ښه ویلو ،ښه کولو او ښه اوریدلو څخه ډه ډه ونکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پښتني ټولنه کې ايمانداره سړي د ولس په منځ کې ډېر د قدر وړ مقام لري او د ټولنې اکثريت ولس دده د ايمانداري په سبب ايمانداره سړي ته دزړه د کومي احترام کوي .

## 26 : د ننګ په اړه :

علامه عبدالحی حبيبي ننګ د پښتو او پښتونولي ډېر مهم عنصر بولي او داسې وايي :

د پښتو او پښتونولی د قانون پر اساس د پښتنو د سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند اساس پر ننګ ولاړدي ، د دوستی او دښمنی په حالاتو کې د پښتنو د ننګ جذبات د پښتنو د ژوندون مدار جوړوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د خپل دين ، سر ناموس ، عزت ، مال ، خپلواکی ، ملي حاکميت ، د پښتونخوا مځکنی بشپړتيا ، د پښتو او پښتونولي دقانون ، پښتو ژبې او داسې نورو اسلامي ، پښتني او ملي ارزښتونو څخه په جرئت ، مېړانې او تدبير دفاع ته ننګ ويل کېږي .

نتواتي منل ، بخښنه ، پنا ورکول ، مېلمه پالنه ، بسپنه ، د مظلوم څخه دفاع او د ظالم په مقابل کې درېدل او د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق د نورو ښو صفات درلودل ننګ بلل کېږي .

ننګ د پښتو او پښتونولي دقانون مرکزي او د ډېرو مهمو اصولو څخه شمېرل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا د هر رښتني پښتون پښتني فرض بلل کېږي چې د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، پښتون ملت ، پښتو ژبې ، د پښتونخوا د مځکنی بشپړتيا ، استقلال ، ملي حاکميت ، ملي ګټو ، ملي نواميسو او د پښتنو دنورو ټولو ديني او ملي حقه حقوق څخه د دفاع په لاره کې ننګ وکړي .

هرهغه پښتون چې د پورته ذکر شوو ارزښتونو پر دفاع ننګ نه کوي هغه کس د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس "بې ننګه کس" بلل کېږي ، د پښتنو په ټولنه کې " بې ننګه کس " ترلانده سپي لاهم بد موجود دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو په ټولنه او د پښتنو په ترمينولوژي کې تر(بې ننګه) هيڅ بل بد لفظ او هيڅ بد صفت نشته چې و يو پښتون ته منسوب شي .

د پښتنو په ټولنه کې تربې ننګه شخص ټيټ انسان هيڅ وجود نه لري .

همدا علت دي چې پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د بې ننګۍ د ننګينو اعمالو څخه بايد حتما ځان وساتي ،او پښتانه بايد د ننګ په چارو کې يو دبل سره د سر او مال په ښندنه کې سيالي وکړي .

د پښتون ملت پلار لوي احمد شا بابا خپل بچو يعني پښتون ملت ته د ننګ او بې ننګۍ په باره کې داسې درس ورکوي:

پــــر ننــــګ مــــړ خــــو څــــه مــــړ نــــه دی د بــــې ننګــــه ژونــــد جفــــاده
لاس بــــه وانخلــــم لــــه ننګــــه چــــې پــــر ننــــګ پــــاتې دنيــــا ده

د پښتنو ستر او ننګيالی مشر ميرويس نيکه چې د پښتونو راهيسې د ننګ چارې ورته په ميراث پاتې وې او خپل خوږ ژوند يې هم ټول د ننګ چاروته وقف کړی وو ، په دې هيله يې د ژوند سره وداع وکړل چې ترمرګ وروسته هم بايد دده مزار پښتنوته دننګ کولو په باره کې الهام ورکړي .

دميرويس نيکه پرقبردا لاندې شعروليکې:

د ننــــــګ ټوټــــــه بــــــه مــــــې هــــــر هــــــډ وي
کــــه پــــس لــــه مړينــــې مــــې پــــر ګــــور راشــــې مينــــه

ميرويس نيکه په خپل دې مدبرانه فکر سره غوښتل چې د دې لارې خپل لمسو ته تر مرګ وروسته هم د ننګ او مېړانې درس ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د توري او قلم قهرمان لوی خوشال بابا د ننګ په باره کې پښتنو ته داسې د ننګ درس ورکوي :

د افغـــــان پــــــه ننـــــــګ مـــــــې وتړلــــــه تــــــوره
ننګيــــــالی د زمـــــــانې خوشـــــــال ختټـــــک يـــــم

درســـــت پښــــــتون د قنـــــدهاره تــــــر اټکـــــــه
ســـــره يــــــو د ننـــــګ پـــــر کــــار پـــــټ او اشــــکار

کله چې خوشال بابا ، ايمل خان مهمند ، دريا خان اپريدي او نورو ننګياليو پښتنو د مغلو د تاړاک او وحشت پر ضد د ملي مبارزې بيرغ اوچت ساتلی وو ، په هغه وخت کې بيا دنن په شان ځينو پښتنو د بې ننګۍ لاره اختيار کړيوه ، د مغلو څخه يې پيسې اورتبې واخستې او د مغلو د غلامۍ شرمناک پړې يې په غاړه کې اچولې وو ، ددې بې ننګه پښتنو په باره کې لوی خوشال بابا داسې وايي:

پــــــه داهســــــې وخــــــت چــــــې د نــــــام او ننــــــګ دی
دا بــــــــې ننګــــــــه پښــــــتانه کــــــا څــــــــه رفتــــــار
تنهـــــا زه پــــــه کــــــې پــــــه غــــــم د نــــــام او ننـــــګ يـــــم
يوســــــفزي پــــــه فراغــــــت پــــــه کښــــــت او کــــــار
اوس چـــــــې هســــــې بــــــې ننګــــــې بــــــې ناموســــــې کــــــا
عاقبــــــت بــــــه ور ښــــــکاره شــــــې خپلــــــه چــــــار

پښتني مېرمني د بې ننګۍ څخه خپل نفرت داسې ښکاره کوي او په دې باره کې وخپل معشوق ته داسې سپارښتنه کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټې ټوټې په تورو راشې

د بې ننګۍ احوال دې رامه شه مينه

د ميوند قهرمانه پښتنه ملالي خپل معشوق ته د بې ننګۍ څخه د ځان د ساتلو په باره کې داسې خطاب کوي:

که په ميوند کې شهيد نه شوې

خدايږو لاليه بې ننګۍ ته دې ساتمه

په پښتني ټولنه کې هغه څوک چې پر پښتني ننګ مړه دي د پښتنو دملي قهرمانانو په نوم ياديږي ، او د پښتون ملت په منځ کې د ابد لپاره ژوندي دي او د ابدي درناوي څښتنان بلل کيږي .

## 27: په غم او ښادۍ کې د شرکت په اړه:

د دې لپاره چې د پښتنو غم لږ شي او ښادۍ يې ډېرې شي نو پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا پښتني دنده سپاري چې هر پښتون بايد له بل پښتون ورور سره په غم کې ځان شريک کړي ځکه چې غم په وېشلو کمېږي او هر پښتون بايد د بل پښتون سره په ښادۍ کې ځان شريک کړي ځکه چې ښادي په وېشلو ډېرېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر رښتني پښتون بايد د بل پښتون وروړ غم او ښادي خپل غم او ښادي وبولي او په هغه کې د پښتو او پښتونولي د قانون د سپارښتونو مطابق برخه واخلي .

## 28: د خپلواکي غوښتنې په اړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي پښتنو ته د خپلواکۍ غوښتني درس ورکوي .

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته داورښيي چي پښتون الله پاک غلامۍ ته ندي پيدا کړي ، نو په دي اساس پښتو او پښتونولي پښتنو ته امرکوي چي پښتون بايد ازاد او خپلواک وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد د غلامۍ ، مريتوب ، محکوميت ،ذلت او زلالت دژوند څخه نفرت ولري ،نو په همدي اساس پښتو او پښتونولي هر رښتني پښتون هڅوي او امر ورته کوي چي د خداي(ج) څخه بغير په نړۍ کي بل هيڅ انساني قدرت ته سرټيټ نکړي او د هغه غلامي او مريتوب ونه مني .

دپښتو اوپښتونولي د قانون پر اساس کوم پښتون چي محکوميت ،مريتوب اوغلامي ته سرټيټوي ،د هغو په مقابل کي غزا او مقاومت نکوي د هغه کس وينه پښتنه ندہ او هغه کس پښتون نه بلل کيږي .

ددي خبري د تصديق لپاره د ميرويس نيکه د هغه تقرير څو جملي را اخلو چي ميرويس نيکه د ګرګين تر وژلو وروسته په قندهار کي د پښتنو ملي جرګي ته کړي وي .

د "مانجي " د جرګي د فيصلي پر اساس چي د پښتنو د سترو مشرانو ميرويس نيکه ،سيدال خان ناصر ،بابوخان بابي ،بهادرخان ،پيرمحمد مياجي هوتک ،يوسف خان هوتک ،عزيزخان نورزي ، ګل خان بابر ،نورخان برېڅ ،نصروخان الکوزي ،د ميرويس نيکه ورور يحيي خان ،دميرويس نيکه وراره محمد خان او يونس خان کاکړي په ګډون جوړه شوي وه ، د خپلواکۍ د اعلان وثيقه پکښي امضا شوي وه ، دهغي جرګي د فيصلي پر اساس څه موده وروسته پښتنو ګرګين وواژه او د قندهار ښاريي ونيوي .

ميرويس نيکه دظالم ګرګين تر قتل وروسته د خپلواکو پښتنو د ملي جرګي په وړاندي دخپلواکۍ په پلوي يو اوږد تقريروکړي ،د ميرويس نيکه د دي تاريخي تقرير څخه څو جملي موږ دلته د پښتنو د خبرتيا لپاره را نقلوو .

دا لاندي څو جملي د ميرويس نيکه دتقرير څخه را اخستل شويدي :

(...اي پښتنو که تاسوله ماسره يو شي او زما ملا وتړي نو د خپلواکۍ بيرغ به هسک وساتو ،پري به نه ږدو چي بيا د پرديو د مريتابه کړۍ زموږ په غاړه کي ولويږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کسان چې د پرديو مريتوب مني ، موږ له هغو سره هيڅ اړه او خپلوي نه لرو ، او نور دي زموږ په هېواد کې نه اوسي...)

پښتو او پښتونولي پښتنو ته د ازادۍ ،حريت او عزت درس ورکوي او په عين حال کې پښتانه د بل چا د غلامۍ کولو څخه هم منع کوي .

خوشحال بابا دازادۍ د قدر او قيمت په باره کې داسې وايي:

ازادي تـــــــــــر پاچاهيــــــــــــه لا تيـــــــــــــرى کـــــــــا
چـــــې د بـــــل تــــر حکـــــم لانــــدې شـــــي غـــــلام شــــي

پښتو او پښتونولي پښتنو ته د ازادۍ درس ورکوي او د ازادۍ په لاره کې يې و ميړاني ،غيرت او ننګ کولو ته رابولي ،په عين حال کې يې د ظلم او ظالم په مقابل کې و مقاوت او بغاوت ته رابولي .

پښتو او پښتونولي پښتانه پر مظلومانو او کمزورو باندې و ترحم او مهربانۍ ته هڅوي .

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته حکم کوي چې پښتانه بايد د جنګ په ډګر کې ښه توريالي او زړور جنګيالي وي ، خو دبري په وخت کې بايد مغروره نشي او د مغلوبينو سره دي د بخښني او ترحم څخه کار اخلي .

## 29:د پښتونخوا يا افغانستان سره د مينې په اړه:

د پښتنو لپاره د اسلام د مقدس دين پر اساس د مځکې پر مخ درې مقدس مقامونه وجود لري چې په لاندې ډول اشاره ورته کيږي .

### ۱ : کعبه شريفه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحمد الله پښتون ملت سل فیصده مسلمان ملت دي ، د مسلمان پښتون ملت د پاره کعبه شریفه د ځمکي پر مخ ترټولو مقدس ترین مقام دي ځکه چې د اسلام د مقدس دین پر اساس او د پښتنو په نظر دا مقام د خداي (ج) کور دي .

کعبه شریفه د الله پاک په امر د مکي مکرمي په خاوره کې حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل زوی حضرت اسمعل علیه السلام په ملګرتیا اباده کړیده .

## ۲ : مدینه منوره:

د پښتنو لپاره دوهم مقدس مقام مدینه منوره ده چېري چې د اسلام پیغامبر حضرت محمد مصطفي هجرت کړیوو او د هجرت په دیار کې یې په مدینه منوره کې رحلت وکړي ،په مدینه منوره کې د نبي کریم (ص) ارام ګاه ده ،او په مدینه منوره کې د اسلام لومړنیي مسجد (نبوی مسجد )اباد شوي دي .

## ۳ : بیت المقدس:

د پښتنو لپاره دریم مقدس مقام بیت المقدس یاني د مسلمانانو لومړني قبله ده .

## ۴ : پښتونخوا :

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا پاکه خاوره هم د پښتنو د پاره مقدسه خاوره ده ،ځکه چې د پښتونخوا پاکه خاوره د زرګونو کلونو راهیسي د پښتنو د باعزته او با غیرته پلرونو او نیکونو مدفن او د پښتنو د عزت مسکن دي .

د پښتونخوا په پاکه او خپلواکه مقدسه خاوره کې د پښتنو د مړو او ژوندیو قدر او عزت خوندي دي .

د پښتونخوا د پاکي او د محبته ډکي تودي غیږي څخه لیری د نړی په هر ګوټ کښې چی وی د پښتنو مړي او ژوندي بې عزته ،بې حرمته ، بې قدره ،بی وطنه او مسافردي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا مقدسه خاوره دامو او اباسين ترمنځ بيا د نړۍ د بام ياني د پاميردغرونو څخه دعربو ترسمندر پوري پرته سيمه ده .

د پښتونخوا پاکه خاوره د هر پښتون ازلي او دايمي دعزت مسکن او مدفن دي .

د پښتونخوا مقدسه مځکه د زرګونو کلونو راهيسې د پښتنو د ننګيالو ، توريالو اوباعزتونيکونو او پلرونو مسکن او مدفن دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا مقدسه خاوره د پښتون ستر ملت مور او ناموس دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا د هر رښتني پښتون او پښتني اسلامی ،ملی او پښتني فرض بلل کيږي چې د خپل ننګياليو او توريااليو نيکونو او پلرونو د مقدس مسکن او مدفن ، د خپلي ګراني مور او ناموس يعنې پاکي پښتونخوا څخه د خپل مال او سر په قيمت دفاع وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا مقدسه خاوره د پښتنو ناموس دي او د ناموس څخه د فاع د هر رښتني پښتون اسلامي ، پښتني او ملي فرض دي .

پښتنو هم د تاريخ په اوږدو کې خپل دا پښتني فرض په ډېره ايمانداری او جانبازی سره سر ته رسولې دي ،همدا علت دي چې نن د پښتونخوا پاکي خاوري ته د نړۍ د امپراتوريو هديره ويل کيږي ، يعنې دا چې پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د خپل هيواد د مځکنی پشپړتيا څخه هميشه په ډېرشجاعت ، ميړانه او سربښندنه دفاع کړيده او هر يرغلګر چې پر پښتونخوا يې يرغل کړيدي نو د پښتونخوا د توريااليو او ننګياليو بچو يعنې پښتنود توري په وړاندي پرګونډو شوي دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد د پښتونخوا پاکي خاوري ته د خپل ناموس په سترګه وګوري او دفاع يې خپل پښتني فرض و بولي .

پښتانه په يومتل کې داسې وايي: (مال تر سر جار او سر تر ناموس جار) .

پښتونخوا دپښتنو ملي ناموس دي ،دپښتو او پښتونولي دقانون پر اساس ناموس د هيچا سره په فيصدي نشي شريک کيدلای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه باید تر خپل ملي ناموس په ډېره میړانه مال او سر جار کړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا څخه دفاع د پښتنو ملي ،اسلامي او پښتني فرض بلل کېږي .

## 30: د مثبتې سیالۍ په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښونه کوي چې د کور ، کلي او قوم په کچه یو له بل سره د ښو او مثبتو اعمالو په انجام کې مثبته سیالي وکړي او په عین ډول د یو ازاد او خپلواک ملت په حیث خپل ځان د نورو ملتونو سره د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په ساحو کې سیال کړي ، لکه د پښتو یو متل چې وایي:

(سیال چې تر سیال پاتې شي غوږ یې د پرې کېدو دی . )

پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې د خپل ځان ،کورنۍ ، قوم او ملت د ودانۍ او پرمختګ ، عزت ، سیالۍ او باداری لپاره سخت زیار او زحمت وباسي ، او په دې لاره کې یو د بل سره مثبته سیالي وکړي ،او په دې مثبته سیالي کې د مال او سر د قربانۍ څخه ډډه ونکړي .

## 31 : د ځان د عزت او لوړ همتۍ په اړه:

د ځان عزت او لوړهمتي د پښتو او پښتونولي د قانون یو مهم اصل دي .

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته لارښونه کوي چې د ژوندون په سختو حالاتو کې د ځان د عزت ، لوړهمتۍ ،صبر ، تحمل ، قناعت او حوصلې څخه کار واخلي ،خپل لوړهمت دلاسه ورنکړي ،هغه شرطونه ونه منۍ چې په منلو یې ستا سو عزت ته تاوان رسیږي ،په هر ډول سختۍ کې وار خطا نشي ،سختیو ته تسلیم نشي او داسې نور .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د ژوند د هر ډول ناخوالو پر ضد په لوړ همت او متانت مبارزه او مقاومت کړي .

خوشحال بابا پښتنو ته د لوړ همتې په باره کې داسې درس ورکوي:

که فلک دې د زمري په خوله کې ورکړ
د زمري په خوله کې مه پرېږده همت خپل

پر دنیا د ننګیالي دې دا دوه کاره
یا به وخوري ککرۍ یا به کامران شي

هرهغه څوک چې د ژوند او یا ددښمن سختیو ته تسلیم شو ،هغه کس د تسلیمیدو سره یو ځای خپل لوړ همتې بايلي او په ټولنه کې دهغه ټولو مادي او معنوي امتیازاتو ، عزت او حرمت څخه محرومیږي کوم چې په ټولنه کې یولوړ همته او باعزته شخص ته ورکول کېږي .

د انسان عزت د هغه په لوړ همتۍ پورې مستقیم تړاو لري ، هر څومره چې یو انسان لوړ همته وي په هغه اندازه هغه شخص په ټولنه کې باعزته وي .

دون همته یا ټیټ همته شخص په پښتني ټولنه کې د هیڅ عزت او حرمت خاوند نوي او د ټولنې خاص اوعام نفرت ځنې کوي .

پښتو او پښتونولي هر پښتون شخص ته سپارښتنه کوي چې په خپل ورځني ژوند کې همیشه لوړ همته اوسي تر څو په ټولنه کې ولس د عزت په سترګه ورته وګوري .

پښتو او پښتونولي هر پښتون هڅوي چې په خپل ژوند کې همیشه په خپل لوړ همت خپل عزت وساتي او په باعزته ډول د ژوند کولو څخه لذت واخلي .

که د یو پښتون په ژوند کې دا دوه بنیادي ارزښتونه یا جوهره یعنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(عزت او لذت) نوي نود دي پښتون دژوند دوام هیڅ ارزښت نه لري، دمخه ذکر شول چی په پښتنی ټولنه کښی دیو پښتون عزت د هغه پښتون په لوړ همتی پوری مستقیم تړاو لری ،نو په لنډ ډول داسی ویلا یشو چی:

لوړهمته پښتون په پښتنی ټولنه کښی دلوړعزت خاوند بلل کیږی،او د لوړ عزت خاوند دژوند کولو څخه لذت اخلی.

په بل عبارت دیو پښتون دژوند عزت اولذت دواړه دهغه کس په لوړ همتی پوری مستقیم تړاو لری.

په همدې اساس پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې هر ربښتني پښتون باید د بې همتی او بې عزتی تر ژوند دعزت مرګ ته ترجع ورکړي .

په پښتني ټولنه کې لوړ همتي او عزت یو د بل سره مستقیم تړاو لري ،هر څومره چې یو پښتون د لوړ همت خاوند وي ، په هغه اندازه په پښتني ټولنه کې د لوي عزت لرونکي وي ،ددې موضوع بر خلاف هرڅومره چې یو پښتون کس ټیټ همته ،دون همته اوبې همته وي ،په پښتني ټولنه کې په هغه اندازه بې عزته اود ټولنې د خاص اوعام د خندا وړ وي .

سید جمال الدین افغان د پښتنو د عزت په باره کې داسې وایي:

(دنفس شرافت د پښتنو قاید دي ،دوی د شرافت مرګ د بې شرفي پرژوند باندې چې داجنبیانو تر لاس لاندې وي که څه هم د ډېر عیش ، ښو خوراکو او ښکلو سره وي غوره ګڼي . )

خوشال بابا د بې همتی د ژوند څخه د نفرت په باره کې داسې وایي:

مرګ دتندي په مذهب زمابهتر دي*نه ژوندون ددون همتو په اوبو .

خوشال بابا د پښتنو د نفس استغنا په یو شعر کې داسې بیانوي:

د منت دارو که مرم پکار مې نه دي
که علاج لره مې راشي مسیحا هم

حمید بابا د پښتنو د لوړهمتی ،صبر او تحمل په باره کې داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړی تړی پروت پرخپله بوریا ښه یم
نه د تخت له پاس ناست د بل چا کړه

پښتو او پښتونولي پښتون د طمع څخه منع کوي او کاظم خان شیدا د پښتو او پښتنووالي دا اصل په یو بیت کې داسې بیان کړي دي .

په صورت مې شي خولې د حیا ماتې
که ونان ته د افتاب څخه نظر کړم

پښتو او پښتونولي هر پښتون د سوال او فقر څخه منع کوي او کاظم خان شیدا د پښتو او پښتونولي دا زرین اصل په یوه شعر کې داسې بیان کړي دي .

سوال مې جوی له درافشانه نظر نه دی
صدف ورانه خپله خوله کړه په غوښتلو
دافتاب په کمند نه خېژم اسمان ته
نه ږدم بار لکه شبنم پر دوش د ګلو

## 32: د حق څخه ددفاع په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې هر رښتني پښتون باید د خپل دین ،سر ،ناموس ،عزت ،هېواد ،ملت ، خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ،ملي ګټو ، ملي نوامیسو ، مال او خپل مشروع حق څخه ددفاع په لاره کې د ایثار ، قربانۍ ، فداکارۍ ،ننګ ، غیرت ، میړاني ،تکړه توب ،غښتلتوب او ښاغلتوب ښه مثال وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون باید پر حق ودرېږي د ظالم او متجاوز په مقابل کې د خپل روا حق څخه د خپل مال او سر په قیمت دفاع وکړي .

## 33: د پښتنو د جرګې په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جرګې تعریف:

د پښتنو دجرګې په باره کې علامي عبدالحي حبیبي داسې وایي:

پښتانه په خپل ټولنیزمحیط کې ځانته د ژوند کولو ځني خاص اصول لري .

دا اصول د پښتنو لاربولي ، د پښتنو په لارکې جرګه ، ننواتي ،بسپنه او نور د پښتو او پښتونولي دودونه داسې ټینګ دي چې ټول پښتانه یې مني .

جرګه د پښتنو قانوني اوټولنیز نظام دي چې ددوی پر اصولي عقلانیت دلالت کوي او اقتصادي نظام یې د بسپنې تر قانوني کنترول لاندي راولي .

جرګه د پښتني ټولنې د طبعي مشرانو ،دشملي او د دستار د سرو هغه ټولنه ده چې دضرورت په وخت کې د کلي ، ولسوالۍ ، ولایت ، قوم او هېواد په سطحه د مختلیفو موضوعاتو د حل او فصل لپاره د یو معین وخت لپاره راټولیږي ، کله چې یې دورته سپارل شوو موضوعاتو د حل لپاره فیصلي وکړي بیا رخصتیږي .

دجرګې غړي د پښتني ټولنې طبعي مشران جوړوي چې په جرګه کې یې پرغړیتوب هیڅوک اعتراض نه لري .

د پښتني جرګې غړي هیڅ ډول مادي امتیاز او تنخوا نه لري او په جرګه کې برخه اخستل خپل پښتني دنده بولي .

جرګه د پښتو او پښتونولي د قانون یو ډېر مهم او زرین اصل دي .

جرګه د پښتنو د سیاسي ،اقتصادي ،ټولنیزو ،حقوقي او جنایي چارو د حل اوفصل هغه لرغوني دموکراتیکه پروسه ده چې د هرډول چل ول ،فریب ،ټګۍ ،برګۍ ،رشوت ، اعمال نفوذ ، واسطي ،افراط او تفریط څخه بلکل پاکه او سپېڅلي ده .

د پښتنو جرګه د بشریت تر ټولو لرغوني او رښتني دموکراسي ده ، چې تر نن ورځي پورې د پښتنو په ټولنه کې د قبول او احترام وړ ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننني دموکراتيکي نړۍ په پارلمانونو کي ټولي فيصلي د رايو په اکثريت کېږي ، د دي سره سره چي اقليت د فيصلي دکېدو او عملي کيدو مخالف وي ، خود اقليت نظر ته هيڅ ارزښت نه ورکول کېږي او د اقليت د نظر خلاف فيصله عملي کېږي .

داکثريت د فيصلي عملي کيدل داکثريت ډله پر اقليت خپل بري ګڼي او په ډېر غرور او تکبر يې عملي کوي .

لنډه دا چي په غربي دموکراسۍ کي ټولنه د پنځوس جمع يو يا اکثريت دنظر او عمل تابع ده او داقليت نظرته که څه هم هغه (49٪) وي هيڅ توجه نه کېږي ، او اقليت مجبور دي چي د خپل ارادي خلاف بې چون او چرا د اکثريت د فيصلو څخه اطاعت وکړي .

خو د پښتنو په جرګه کي ټولي فيصلي د رايو په اتفاق کېږي.

د جرګي غړي په ورځو ورځو کښېني خبري کوي او هر طرف اهسته اهسته امتيا زات ورکوي تر څو د جرګي ټولي خواوي يو متفق نظر ته ورسيږي او بيا ټوله جرګه د رايو په اتفاق د جرګي پر فيصله دوعا کوي .

د جرګي فيصلي هيڅ مخالف نه لري ځکه چي د رايو په اتفاق فيصله کېږي او د جرګي فيصلي ځکه بريالۍ دي چي ټول ولس يې تر شا ولاړ وي .

موږ ويلای شو چي د پښتنو جرګه ددنيا تر ټولو لرغوني او عملي دموکراسي وه او د پښتنو په ټولنه کي نن هم قابل عمل او د ډېر احترام وړ اصل دي .

که پښتانه د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق خپل پارلماني چاري دجرګي د اصل مطابق عياري کړي ، نو دوی به ددنيا تر ټولو ښه ، قابل عمل او باانصافه دموکراتيک نظام ولري ،دپښتنو د جرګي پر اصل ولاړ نظام کي به اقليت د اکثريت ترزور او جبر لاندي د مجبورۍ ژوند نه تيروي .

په هغه پارلمان کي چي پښتو او پښتونولي يې د پښتنو لپاره غواړي په هغه کي اقليت او اکثريت نشته بلکه په ټولنه پوري مربوطي ټولي فيصلي د رايو په اتفاق کېږي ، هيڅ فيصله هيڅ مخالف نه لري او د جرګي د هري فيصلي برياليتوب حتمي دي ځکه چي ټول ولس يې ملاتړ کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جرګه کې بايلونکي نشته دواړي خواوي ګټونکي دي ځکه چې د جرګې پر فيصله دواړي متخاصمي خواوي په خپله خوښه او رضا د قبولۍ دعا کوي او دواړي خواوي د جرګې د فيصلي په عملي کيدو ځانونه مکلف ګڼي .

## 34: د جرګې تاريخ:

څرنګه چې ددې کتاب په پورته فصلونو کې ذکر شول پښتانه د پخوانيو اريايانو د نسل څخه دي چې دامو او اباسين په منځ کي يعني پښتونخوا کې د زرګونو کلونو راهېسې ميشت شوي دي .

هغه اريايي قبايل چې نور هېوادونو ته مهاجر شول د نوي ځکې جغرافيايي اقليم او د بومي اوسيدونکو خويونو ،اخلاقو ، نفسياتو ،دژوند کولو طريقو او افکارو حتما دنوو راغليو مهاجرو پر خويونو ، اخلاقو ، نفسياتو ،دژوند کولو طريقو او عمومي افکارو هم تاثيرات درلودل .

مګر د پښتون بابا اولاد هيڅ لوري ته هجرت ونکړي ،او ټول ديوي کورنۍ په حيث د پښتونخوا په سخت طبعيته ځکه او لوړو غرونو ،درواو د ښتو کې ميشت پاتې شول .

په پښتونخوا کې د پښتنو سره بل داسې بومي او يا مهاجر قوم نه اوسيدي چې پښتانه د هغوی د افکارو ،اخلاقو ، نفسياتو اودژوند کولو دطريقو څخه متاثر شوي واي .

دپورته دلايلو پر اساس موږ ويلايشو چې جرګه سوچه د پښتنو دود دې ، او پښتنو دادود د بل قوم څخه ندي کاپي کړي ،بلکې د خپل اريايي نجيبو پلرونو او نيکونو څخه په ميراث ورته پاتې دي .

څرنګه چې جرګه د پښتو او پښتونولۍ د لرغوني قانون يو مهم اصل دي ، نو دجرګې دود په پښتنو کې دومره لرغوني دي لکه څومره چې د پښتو او پښتونولۍ قانون په پښتنو کې لرغونتوب لري .

دا ښکاره خبره ده چې د پښتونخوا د پاکي خاروي جغرافيې ، پاکي اب اوهوا ، لوړو غرونو ،شنودرو ،پراخو د ښتو او ځپانده سندو به د پښتنو پر روح او جسم پوره تاثير کړيوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا پاكي اب او هوا او سختي جغرافيي پښتانه ښايسته،قوي هيكله ،روغ ،زړور،متين،مېلمه پال،ازادي خو ښونكي،زحمت ګالونكي، زيرک او دداسې نورو ښو صفاتو لرونكي كړي دي ، هغو يې پر خپل فطرت يعني پښتو او پښتونولي لانور ټينګ كړي دي .

لكه څنګه چې موږ په وړاندي فصلونو كې وويل چې پښتو او پښتونولي د پښتنو فطرت دي ،او دامو هم ذكر كړل چې جرګه د پښتو او پښتونولي د قانون يو مهمترين اصل دي نو په دې اساس موږ ويلای شو چې د جرګې مهم دود هم په پښتنو كې د پښتو او پښتونولي د قانون په شان لرغونيتوب لري اودجرګي مهم دودهم پښتنو ته د خپل اريايي نجيبو پلرونو څخه په ميراث پاتې ده .

## 35: د جرګې د اهميت په اړه:

د پښتنو په ورځني ټولنيز ژوند كې جرګه د ډېرزيات اهميت او ارزښت وړ اصل دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس جرګه د پښتني ټولني هغه د قبول وړ قانون دي چې پښتانه په خپل ورځني ژوند كې ورپيښ سياسي ،اقتصادي او ټولنيز مشكلات ، اقتصادي او جنايي منازعات او معاملات د هغه پواسطه داسې په مناسب او عادلانه ډول حل او فصل كوي چې د ټولو پښتنو لپاره د قبول وړوي .

جرګه د پښتنو د پاره دډېر زيات ارزښت او اهميت وړ غونډه ده .

د خان جهان لودين په قلمي تاريخ (تاريخ سلطاني )كې راغلي دي:

كله چې به د هندوستان پښتون پاچا سلطان بهلول لودي د پښتنو سردارانو سره جرګه درلودل نو د جرګې د اهميت له رويه به د خپل شاهي تخت څخه راكښته شو او پر يو ه كمبله به د نورو پښتنو سردارانو سره كېناستي .

په دې جرګه كې سلطان د نورو پښتنو سردارانو څخه هيڅ ډول امتياز نه درلودي .

د هندوستان د ستر پښتون پاچا سلطان بهلول لودي د دې عمل څخه ښكاريږي چې جرګه پښتنو ته څومره ارزښت لري ،او د پښتنو جرګه عدالت او مساوات ته څومره ارزښت وركوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو په جرګه کې پاچا او فقیر د جرګې د غړو په وړاندې پر یوه تغر کښېني او د خپل حق په دفاع کې په پوره ازادي بیان کوي او د جرګې څخه عدالت او انصاف غواړي .

د پښتنو په جرګه کې اشتراک کونکي مساوي او برابر حیثیت لري ، که د پاچا او د فقیر ترمنځ دعوه وي نو دواړه به په مساوي ډول د جرګې پر تغر کښېني جرګې ته به خپل د حق په دفاع کې دلایل وایي او د خپل حق د اثبات لپاره به په موضوع پورې تړلي دلایل او حتي متلونه جرګې ته وړاندې کوي تر څو جرګه وال پردې قانع کړي چې دې پر حق دي .

په پښتني جرګه کې پوچ او بد ویل منع دي که څوک دا کار وکړي نو جرګه مخ وراړوي او ورته وایي چې ته ملامت یې .

د پښتو او پښتونولي د قانون د جرګې اصل په حقیقت کې د عدالت د تامین لپاره بهترین ، با انصاف ترین ، ارزانترین او با سرعت ترین سیستم دي ، چې د ننی نړي د متمدینو هېوادونو په عدلي سیستمونو کې هم داسې ارزانه ،با انصافه او په لږ وخت کې عدالت ولسونو ته نه رسیږي .

## 36 : جرګه د مشروعیت منبع ده :

په نننۍ عصري نړۍ کې چې کوم نظامونه وجود لري هر نظام د خپل هېواد او خپل ملت د ورځنیو چارو د حل او فصل لپاره قوانین طرحه کړي دي او د دولت او ملت ورځني مسایل د همدې قوانینو پر اساس حل او فصل کوي .

هغه مراجع چې دا قوانین تصویبوي او نافذوي هغو مراجعو ته د مشروعیت منابع وایي .

د دې هېوادونو اتباع هم د مشروعیت د منبع په واسطه جوړشوو او نافذ شوو قوانینو اطاعت کوي او د هغو قوانینو مطابق چې د دوی په باره کې کومي فیصلي کیږي هغه پر ځان مني که څه هم د دې فیصلو سره موافق نوي .

د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنی ټولنی ابدی اساسی قانون دي .

د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنی ټولنی د مشروعیت دایمی منبع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتني ټولني د قوانينو ابدي مورد پښتو او پښتونولي قانون دي .

د پښتو او پښتونولی قانون د پښتني ټولنې ابدي روح او فطرت دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون د جرګي اصل پښتنو د يو داسې فرعي قانون په حيث منلي دي چې پښتانه په خپل ورځني ژوند کې ورپيښ سياسي ، اقتصادي او ټولنيز مشکلات ، جنائيي او حقوقی منازعات او معاملات د هغه پواسطه داسې په مناسب ، عادلانه ، ارزانه ، اولږوخت کې حل او فصل کوي چې د ټولو پښتنو لپاره د قبول وړوي .

په پښتني ټولنه کې په پورته ذکر شوو مواردو کې جرګه د مشروعيت منبع ده ، او هره فيصله چې د جرګې د خوا وشي ټول پښتانه يې بيله هيڅ قيد او شرطه مني .

پښتانه د کليوالي وړو منازاتو د حل څخه نيولي بيا ترملي سطحي پورې ستري ملي فيصلي هم په پښتني جرګو فيصله کوي چې ژوندي مثالونه يې د افغانستان په معاصر تاريخ کې د (کوکران او مانجي ) تاريخي جرګې وي چې د حاجي ميرويس خان نيکه تر مشرتابه لاندي وشوي او هغو جرګو فيصله وکړل چې پښتانه دي د ايراني اشغالګرانو په مقابل کې د خپل استقلال په خاطر توره تر ملا کړي او د هيواد دازادي په غزا کې دي برخه واخلي .

د اد(کو کران او مانجي ) د سترو تاريخي پښتني جرګو برکت وو چې ټولو پښتنو زلمو توري ترملا کړي او د خپلي توري په زور يې نه تنها خپل هيواد د ايران د اشغال څخه خلاص کړي حتي د ايران د شاهنشا تاج يې هم د ځوان پښتون پاچا عليحضرت شا محمود هوتک پر سر کيښود .

د ايراني تا ړاک ګر نادرافشار ترمرګ وروسته بيا پښتانه مخور درانه مشران د قندهار د شير سرخ په زيارت کې په دې خاطر سره جرګه شول چې پښتونخوا بيا د يوه مستقل هيواد په حيث رامنځته کړي .

په دې ستري تاريخي پښتني جرګې کې د پښتنو مشرانو په نمايند ګي صابر شاه يو روحاني شخصيت د يو کشر يتيم ځوان احمد (وروسته لوي احمد شا بابا ) په لنګۍ کې د پښتنو د مشرپه حيث د غنم وږي د شاهي تاج په دود کښيښودل .

د پښتنو د جرګې د فيصلي مطابق ټول پښتون ملت د خپل ځوان پاچا تر شا ودريدي او دي ستر پښتون پاچا لوي احمد شا بابا لومړيي د خپل هيواد استقلال اعلان کړي او ديو کال په جريان کې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا ټولي برخي د ایرانیانو ، دمرکزي آسیا د ازبکانو او د هند دمغولي سلطنت د اشغال څخه خلاصي کړي .

لوي احمد شا بابا د امو او اباسین ترمنځ د پښتنو ابدي او میراثي هېواد د پردیو څخه ازاد اودافغانستان په نوي نوم یې د نړۍ په سیاسي جغرافیه کې ثبت کړي .

د شیر سرخ د ستري تاریخي پښتني جرګې د فیصلي پر اساس ټول پښتون ملت د لوي احمد شا بابا تر مشري لاندي یو نه ماتیدونکي پښتني لښکر جوړ کړي ، دي ستر پښتني لښکر نه تنها د پښتونخوا د خپلواکۍ د ساتلو ضمانت کاوه بلکې دا ستر پښتني لښکر په دې منطقه کې دثبات او عدالت د تامین یوازني باوري تکیه وه .

ټول هغه افراطي عناصر چې غوښتل یې د ایران کمزوري دولت تهدید کړي او په دې منطقه کې د قواوو انډول د منځه یوسي دلوي احمد شابابا په مشرتوب د پښتني لښکر د خواسخت و ځپل شول او د ګاونډي ایران کمزوري دولت د ړنګیدو د تهدید څخه وساتل شو ،دپښتني لښکرپه زور په منطقه کې عدالت او ثبات تامین او د قواوو انډول د پښتنو په نفع د پښتنو تر کنترول لاندي وساتل شو .

پښتني فوځ د پښتونخوا په جنوب اوشرق کې د هند مغولي دولت د افغانستان پرمستعمیرو(سند اوپنجاب)باندې دبلوسیدو څخه واچوي .

کله چې په هند کې افراطي سیکانو او مرهټانو د هند د مسلمانانو او مظلومو هندوانو ژوند د تهدید سر مخامخ کړي وو نو د هند د مسلمانانو او نورو مظلومانو په نمایندګي د ډهلي یو روحاني شخصیت شاه ولي ولله د پښتنو د ستر پاچا لوي احمد شا بابا څخه د یوه لیکلي لیک په واسطه وغوښتل چې د هند مظلومانو اوددوی هېواد ته د افراطي سیکانو او مرهټانو د ظلمونو څخه نجات ورکړي .

پښتني فوځ څو ځله د خپل باتور ، عادل او مدبر پاچا لوي احمد شا بابا په مشرۍ د خپل نړیوالو زمواریو د انجام په خاطر هندوستان ته سفرونه وکړل او په هغه هېواد کې یې افراطیان و ځپل ، مظلومان یې دهغوی د ظلم څخه خلاص کړل او په هند کې یې ثبات ،عدالت او امنیت تامین کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته لنډو تشريحاتو څخه دا معلوميږي چې پښتون ستر ملت د دې سره سره چې ډېر توريالي ، زړور ، جنګيالي او ننګيالي ملت دي خو تر جنګ ورسته خورا لويه لمن ،فيض ،بخښنه ،د مظلوم څخه دفاع او پر هغه مهرباني هم لري .

د لوي احمد شا بابا په وخت کې د پښتنو ستردولت د خپل ملي زمواريو سره سره د خپل منطقې د سياسي ثبات او د عدالت او سولې د تامين لپاره هم ځان مسئول بللي ، او په دې لاره کې د پښتنو ستر پاچا لوي احمد شا بابا شخصاً څو واره هندوستان او ايران ته د زحمتونو ډک سفرونه وکړل تر څو په منطقه کې سياسي ثبات او د قواووانډول د پښتنو په نفع بر قراره او عدالت تامين کړي.

ددې خبري څخه دا نتيجه اخستل کېږي چې پښتون ستر ملت د دې سره سره چې د خپل هېواد او ملت سره مينه لري د خپل منطقې د هېوادونو او ملتونو د سولې ،ثبات ،امنيت عدالت او ترقۍ سره هم مينه لري او په دې لاره کې يې هميشه خپل لازمه ونډه اخيستده ده .

د پورته ذکر شوي کاميابو پښتني دولتونو يعنې هوتکي او ابدالي دولتونو د مشروعيت منابع د (کوکران ،مانجي او شير سرخ )ستري پښتني جرګې وي .

ددې دولتونو د کاميابيو عمده علت داوو چې دوی ديوي مشروع منبع (د مانجي ،کوکران او شير سرخ جرګې) څخه خپل مشروعيت تر لاسه کړي وو او همدا علت وو چې ټول پښتون ملت د دې دولتونو ملاتړ کوي .

په دې ورستيو وختونو کې زموږ په هېواد کې ځنې د پردو پلاس کنبنول شوي اجنټو حاکمانو هم کوښښ وکړي او څو قلابي جرګې يې راوغوښتي ، او کوښښ يې وکړي چې دهغو څخه د خپل ځان او د خپل پروګرام لپاره مشروعيت واخلي ، خو داسې جرګو په خپله مشروعيت نه درلود ،نو نامشروع جرګو به څنګه نامشروع ګوډاګيو او د پردو اجنټ حاکمانو ته مشروعيت ورکړيوای ؟ .

د پورته دلايلو څخه دا معلوميږي چې د پښتنو لپاره د مشروعيت منبع په کل کې د پښتو او پښتونولي قانون دي او څرنګه چې جرګه په خپله د پښتو او پښتونولي د قانون يو مهم ترين اصل دي نو په دې اساس په خاصو مسايلو کې جرګې هم فيصلو ته مشروعيت ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 37: د جرګې پر فيصلو نظارت:

نن ورځ په يو يشتمه پېړۍ کې چې د دولتونو او يا شخصي کمپنيو ترمنځ قراردادونه او معاهدې امضا کېږي ، نو د دې معاهدو د موادو پر تطبيق باندې د نظارت لپاره يو دريم هېواد او يا نړيواله موسيسه د نظارت کونکي په حيث مقرره کېږي .

نړيوال نن په يو يشتمه پيړۍ کې د فيصلو پر تطبيق نظارت او ضمانت کونکي مقرروي ، خود پښتنو جرګې د زرګونو کلونو راهيسې د خپل فيصلو پر تطبيق د نظارت او ضمانت لپاره اصول او مقررات وضع کړيدي .

د مثال په ډول کله چې د پښتنو جرګې د دوو مخالفو خواوو او د جرګې د ټولو ګډون کوونکو په موافقه د مخالفو اړخونو ترمنځ د روغې او جوړې د شرطونو (د مخالفو ډلو ترمنځ د تيږې = تيګې = ډبرې اېښودلو ) اعلان وکړي ، د همدې لحظې څخه د مخالفو ډلو ترمنځ د پښتو او پښتونولې د قانون او د جرګې د حکم پر اساس (روغه او سوله ) اعلانيږي .

د روغې او جوړې د اعلان سره سم د خيرات په ډول پسونه او يا غوايي حلالېږي دواړې خواوې يو له بل سره د پخلاينې او روغې ډوډۍ خوري او يو بل د پخلاينې په دود په غېږ کې نيسي اود دواړو خوا ترمنځ دايمي (روغه او جوړه ) اعلانېږي .

او په ټولنه کې دا خبرخپرېږي چې د ذکر شوو مخالفينو ترمنځ (تيږه ) کېښودل شول او د همدې (تيږې ) پر اساس د دوی ترمنځ (روغه او جوړه ) وشول .

د پښتو او پښتونولې د قانون پر اساس د جرګې د فيصلو پر تطبيق باندې د نظارت وظيفه د جرګې د ګډون کوونکو او د دې لارې د ټول قوم پر غاړه ده ، همدا علت دی چې د جرګې هره فيصله سل فيصده قابل تطبيق ده .

ځنې داسې اشخاص شته او دا توان لري چې دا وسنۍ زماني د عصري او ښه مجهزو دولتونو د قضايي فيصلو سره ښکاره مخالفت وکړي ،دقضايي فيصلې سره د مخالفت پر اساس د قانون د نافذونکو ادارو دنفوذ د ساحې څخه پټ شي او يا فرار وکړي او د قانون د فيصلې دانفاذ څخه ځان خلاص کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د پښتنو د جرګې د فيصلو څخه څوک انکار او فرار نشي کولای ځکه چې هيڅوک دا توان نه لري چې د قوم د نفوذ د ساحي څخه ووتلای شي .

د روغه کوونکو د جملي څخه چي هر يوه د جرګې د خوا د تعين شوو شرطونو (تيرۍ) د تطبيق څخه سرغړاوي وکړي ، يا په بله وينا د روغه کوونکو د جملي څخه چي هرچا (تيره ) ماته کړل هغه د جرګې د غړو د خوا جريمه (ناغه) کېږي . که چا د (تيرۍ) څخه لږ سر غړونه کړي وي نو هغه لږ جريمه (ناغه) کېږي او که يې ډېره سر غړونه کړي وي نو ډېره جريمه (ناغه) به ورکوي .

ځني وخت خو د ناغي په جرم د (تيرۍ) ماتونکي کور هم سوځول کېږي .

که (تيره )ماتونکي د جرګې د غړو په مقابل کې بغاوت او مقاومت کوي او د هغوی فيصلو ته غاړه نه ايږدي نو بيا ټول قوم د جرګې د غړو سره يو ځای کېږي او ( تيره ) ماتونکي ته سخته جريمه (ناغه) ورکوي حتي په ځينو حالاتو کې ( تيره )ماتونکي د قوم د خوا د (تيرۍ) ماتولو په جرم د وطن څخه فرار ته مجبوره کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د (تيرۍ ) ماتول لويه ګناه ده .

په ځينو مواردو کې (تيره) موقتي سولې يا اوربند ته هم وايي .

مثلا د دوو پښتنو ترمنځ پر يوه موضوع فيتنه پېښه شول ، د دې لپاره چې دا فتنه نوره پسې لويه نشي د قوم د مشرانو د خوا يوه جرګه کېږي او د مخالفو خواوو ترمنځ د يو معين وخت لپاره اوربند (تيره) اعلانيږي تر څو په دې موده کې دواړي خواوو او د دوی خيرغوښتونکو ته وخت پلاس ورشي چې د دوی ترمنځ د يوي جرګې د لاري دايمي (تيرې ) اينښودلو پواسطه دايمي (روغه اوجوړه ) منځته راشي .

د پښتنو د جرګو په باره کې په لنډ ډول داسې ويلايشو چې:

د پښتنو جرګې د نړۍ د ټولو عصري قضايي ارګانو په تناسب ، په لږ وخت کې ،په ارزانه قيمت ،سل فيصده عادلانه او سل فيصده د تطبيق او انفاذ وړ فيصلي کوي چې متقا بلو لورو ته هم سل فيصده د قناعت او قبول وړ وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 38: ډکل:

تعریف:په حقوقی او اقتصادی منازعاتو کښی د خپل مخالف وجرګې ته د حاضرولو په خاطر اقتصادی فشارته ډکل وایی.

که چېري ددو پښتنو ترمنځ پر یو حقوقی او یا اقتصادی مسئله اختلاف منځته راشي ،او ددې مخالفو خواوو څخه یو د خپل زور ، اویا په بل هر سبب چې وي نه غواړي چې جرګې ته کښېني او د خپل مخالف پښتون سره په جرګه فیصله وکړي .

په دې صورت کې د پښتو او پښتونولي دقانون د مسالمت امیزه اقتصادي فشار اصل (ډکل) سرکښ پښتون مجبوروي چې د خپل مخالف پښتون سره د پښتنو جرګې ته کښېني او د پښتنو په جرګه فیصله ورسره وکړي .

ددو مخالفو پښتنو ترمنځ په لاندې دوه ډوله د( ډکلو ) اصل استعمالیږي .

### الف: نرم ډکل:

جرګې ته اماده پښتون خپل سرکښ مخالف ته ورځي او د شاهدانو تر مخ ورته وایي چې (د جرګې تر فیصلي پورې ما خپل مځکه ،یاباغ ،یا جایداد ،یادوکان ،یارمه او داسې نور. . . ) درسره ډکلي دي .

د هرهغه شی ډکل چی د شاهدانو په مخ کښی اعلان شو که هغه باغ وی، که رمه وی که مځکه اویا بل شی وی،نوهغه شی ډکل شوی دی نورشیان دډکلو ترقانون لاندی نه راځی.

مثلاً یو سړی راځی او خپل مخالف ته د شاهدانو په مخ کښی وایی چی ما خپل رمه ستاسره وډکل ، ددی خبری معنی داده چی ددواړو مخالفینو رمی سره ډکلی دی، ددوی نور شیان لکه ددوی باغونه، دوکانونه،پټی اونوری شتمنۍ دډکلو ترقانون لاندی نه راځی.

کله چی یو پښتون خپل پټی د خپل مخالف سره د شاهدانو په مخ کښی وډکی ددې ډکلو معني داده چې د جرګې تر فیصلي پورې به دواړې خواوي خپله مځکه توره پریږدي نه به یې کري او هیڅ ډول حاصل به نه ځني اخلي، که باغونه یی سره ډکلی وه نو هیڅ لوری به خپل باغ نه اوبه کوي او هیڅ ډول حاصل به نه ځني اخلي ، که چا خپل ټوله شتمنی یو د بل سره ډکلی وه نو دواړه خواوی به دجرګی تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیصلی پوری د خپل ټول جایداد څخه حاصل نه اخلي ، که چا خپل رمی سره ډکلی وی نو دواړی خواوی به خپل میړو ته نرمړنه ورایله کوي څو میړي یې لنګي نشي یعنې میږي یې بایډ و چې پاتې شي ، که یی دوکانونه سره ډکلی وه نو دواړه خواوی به خپل دوکانونه نه خلاصوی او د جرګی ترفیصلی پوری به یی بند ساتی او داسې نور . . .

دډکلو په صورت کې د مالونو او جایدادونو کمیت او کیفیت په نظر کې نه نیول کېږي .

مثلا ،دیو جریب مځکې ،یوې میږې ،کوچني باغ اویوې وړوکې غرفي خاوند کولای شي چې خپل یو جریب مځکه ،یوه میږه ،څووني باغ او کوچني دوکان د خپل مخالف پښتون د زرګونو جریبه مځکې ،زرګونو میږو ،ستروباغونو او سترو مارکیټونو سره وډ کي .

ددې ډکلو معنې داده چې د دواړو مخالفینو مځکې ، رمې ، باغونه او دوکانونه به تر هغه وخته پورې تور، شاړي،بې اوبو ، بې حاصله او بې ګټې پراته وي ترڅو ددې اقتصادي فشار د سببه سرکښ پښتون مجبور شي چې د خپل مخالف سره د پښتنو جرګې ته کښني او خپل مشکل د پښتنو د جرګې د لاري حل کړي .

که د ډکلو په وخت کې چا د ډکلو د قانون څخه خلاف ورزي وکړل پر متخلف ډېر زیات مالي او حتي ځاني پور اوړي .

د پښتو او پښتونولي د ډکلو اصل په حقیقت کې اقتصادي تازیرات یا بندیزونه دي چې سرکښ پښتون مجبوروي چې د خپل مخالف سره د پښتنو جرګې ته کښني او خپل منځي مشکل د جرګې د لاري حل او فصل کړي .

ب: سخت ډکل:

جرګې ته اماده پښتون خپل سرکښ مخالف ته ورځي او د شاهدانو تر مخ ورته وایي چې د جرګې تر فیصلي پورې ما خپل مال او جایداد حتي (مېرمن یا میرمنی ) درسره ډکلي ده .

دمېرمني د ډکلو معني داده چې د جرګې تر فیصلي پورې به دواړه مخالفین خپلو مېرمنو ته نه نږدې کېږي ،او هیڅ اولاد به یې نه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



که د ډکلو په وخت کې چا د ډکلو د قانون څخه خلاف ورزي وکړل ،يو يا څو اولادونه يې وشول ،دجرګې په وخت کې پر متخلف د پېدا شوو اولادو په شمېردمړو پور اوړي ، يعنې که د ډکلو څخه د خلاف ورزي په سبب ديو چا يو اولاد شوي وو نو مقابل لور ته به د يوه مړي پور ورکوي او که يې تر يو زيات اولادونه شوي وه مقابل لوري ته به د پيدا شوو اولادو د شمېر په اندازه د مړو پورورکوي .

دډکلو قانون په حقيقت کې زوراوراو سرکښ پښتانه مجبوروي چی دخپل ټول انساني او مالي قوت با وجود د خپل کمزوري مخالف سره د پښتنو جرګې ته کښني او خپل منځي مشکل د جرګې د لارې ورسره حل او فصل کړي .

## 39 : له يو بل څخه د پښتنو د دفاع په اړه:

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته دا سپارښتنه کوي چې د ننګ ، ناموس ، عزت ،مال ،حق او عدالت په چارو کې يو پښتون بايد دبل پښتون څخه دمال او سرپه قيمت دا سې دفاع وکړي لکه د خپل ننګ ،ناموس ،عزت ، مال او حق څخه چې دفاع کوي .

د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس هر پښتون مجبور او مکلف دي چې د هر پښتون کس او پښتون ملت ددين ، سر ، ناموس ، عزت ، حقوقو ، مال او نورو ديني ،ملي او پښتني ارزښتونو څخه دمال او سر په قيمت دفاع وکړي .

دپښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دپښتون ملت او پښتون کس د ننګ ،ناموس ،عزت او مال ددفاع دميړاني په مقدسه لاره کې يو پښتون بايد د بل پښتون سره سيالي وکړي او په دي نيک عمل کې يو تربل وړاندي شي چې دا عمل د پښتنو ترمنځ اتحاد ، اتفاق ، پښتني مينه ،محبت او باور ټينګوي .

## 40 : د ببوزلو سره د مرستې په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي هرپښتون کس ته دا ټولنيزه ذمه واري سپاري چې د خپلې ټولنې د کونډو ، يتمانو ، غريبانو ، معيوبينو او نورو کمزوروکسانو سره تر خپله وسه انساني مرسته وکړي .

د پښتو او پښتونولي قانون دپښتون ملت هرتوان مند کس او د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس جوړ شوي پښتني دولت ته دازمواري سپاري چې د ټولنې د بې وزلي او بيچاره قشر سره به مرسته کوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتني ټولنې هر توانا کس به دټولنې د بې وسه ،بې وزلي او مظلوم قشر سره په عدالت ، انصاف او مهربانۍ سره ښه چلن اوښه سلوک کوي .

د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس دپښتني ټولنې هر توانا غړي دا پښتني دنده لري چې تر خپل توان پورې د پښتني ټولنې دبې وزلي قشردژوند دبنيادي ضرورتونو په رفع کولو کې پوره هڅه اوهاند وکړي .

## 41: د پښتنو د زمينداری په اړه:

دا يو ثرګند حقيقت دي چې پښتانه د لرغونو اريايانو اولاد دې او د هغوی لرغوني خويونه او روحيات تر اوسه په پښتنو کې په ښکاره معلوميږي .

د لرغونو اريايانو دنورو صفاتو څخه يوهم زراعت دي چې پښتنو ته په ميراث پاتې شويدي .

د پښتنو د زمينداری ډول د نوري نړۍ د زمينداړانو څخه بيخي بدل دي ، ددوی زميندارۍ هم په يو شکل د پښتو او پښتونولي دقانون د بسپني داصل پر اساس ولاړه ده .

د پښتنو په زمينداری کې د شراکت اصل هم پښتنو ته د نورو پښتني قوانينو په څير د پلرونو او نيکونو څخه په ميراث ور پاتې شوي دي ، او تقريبا د ټولنې هر قشر په پښتني زمينداري کې په غيری مستقيم ډول يوه اندازه شريک دي .

مثلاد پښتنو په راشه کې کښتګر ،بزګر ،لوګري ، ملا ، طالب ، پښ ، نجار ،نا يې يا ډم ، پادوان ،ميراب ،پير ،دهديري ملنګ اود کلي غريبان ټول شريک دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د راشي د اخستلو په ورځ پورته ذکرشوي کسان ټول حاضر وي او هريو خپله برخه وړي او که څوک په دې ورځ غير حاضر هم نوي برخه يې ورته ساتل کېږي .

## 42: د ظلم څخه د نفرت په اړه:

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته سپارښتنه کوي چې هميشه ازاد او خپلواک واوسي ،دظلم څخه نفرت ولري ، د هيڅ ظلم ته سر ټيټ نه کړي او د هيڅ ظلم پر ځان ونه مني .

په عين حال کې پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې دوی هم بايد پر هيڅ انسان حتی حيوان ظلم ونه کړي .

د پښتو او پښتونولي قانون د ظلم او استبداد خلاف قانون دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر هغه پښتون کس چې پر بل انسان يا حيوان ظلم کوي ، يا د بل ظالم او مستبد کس يا ډلې ظلم او استبداد پرخپل ځان ، قوم او پښتون ملت مني هغه کس پښتون نه بلل کېږي .

## 43: د دين ،ملت او وطن د خدمت په اړه:

د پښتو او پښتونولي قانون پښتنو ته امر کوي چې د خپل مقدس دين ، د خپل ګران هېواد( پښتونخوا ) او د خپل پښتون ملت خدمت ستاسو ديني ، ملي او پښتني فرض بلل کېږي .

پښتو او پښتونولي وهر پښتون ته امر کوي چې هيڅ وخت د خپل دين ، وطن او پښتون ملت سره خيانت ونکړي ،څوک چې د خپل دين ، هېواد او پښتون ملت سره خيانت وکړي هغه شخص ملي خاين دي او پښتون نه بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس د ملي خاين سزا مرګ دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښونه کوي چې همیشه د خپل مقدس دین،ویاړلی پښتون ملت ،ګرانی پښتونخوا او ټولو انسانانو خدمت وکړي .

## 44: د پښتنو د ښو مشرانو د قدر او احترام په اړه:

د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنو قومي او دولتي مشرانو ته سپارښتنه کوي چې تاسو د پښتون ملت خدمتګاران یاست ، تاسو باید د پښتون ملت خدمت وکړي ، پرهغوی شفقت او مهرباني وکړي ،

ځکه چې د پښتون ولس په منځ کې د پښتنو مشرانو قدر او احترام د پښتنو مشرانو په هغه کارونو ، خدمتونو ، رښتینولۍ ، اخلاص ،وفادارۍ او داسې نورو ښو پښتني صفاتو او خدماتو پورې مستقیم تړاو لری چې پښتانه مشران یې وویاړلی پښتون ملت او پاکی پښتونخوا ته په عملی او نظری ډول انجاموی .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دولتي او قومي مشران د پښتون ملت باداران نه بلکې د پښتون ملت خدمتګاران دي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې د خپل هېواد او پښتون ملت د ملي منافعو څخه ددفاع په خاطر د پښتنو دداسې سیاسي او قومي مشرانو پر شاوخوا را ټول شي چې هغه د پښتو او پښتونولي ، پښتونخوا او پښتون ویاړلي ملت خدمتګاران وي ، خپل شخصي ګټې د پښتون ملت او پښتونخوا تر ګټو جارولای شي .

د پښتنو هغو مشرانو چې په اخلاص ئی د پښتون ملت خدمت کړي دي ،د هغوی نېک نومونه د پښتون ملت په زړونو کې د تل لپار د بلو ډیوو په شان روښانه ،ځلاند اوژوندي پاتې دي ، چې ژوندي مثالونه یې زموږ د نړدې تاریخ ملي قهرمانان او ملي مشران لکه امیر کروړ ، سلطان عیاث الدین غوري ، سلطان شهاب الدن غوري ، سلطان محمود غزنوي ، سلطان علاوالدین غلجي ، سلطان بهلول لودي ، شېرشاه سوري ، هوتک بابا ، پیر روښان ، جلاله ،ایمل خان مومند ، دریاخان اپریدي ، خوشال خان خټک ، میرویس نیکه ، شاه محمود هوتک ، شاه اشرف هوتک ، لوی احمد شاه بابا ، تیمورشاه ، غازي امان الله خان ، غازي وزیر محمداکبر خان ، عبد الله خان اڅکزي ، سردار محمد

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايوب خان ، ملا مشک عالم ، وزير محمد ګل خان مومند ، د ميوند ملالۍ ، زغونه انا ، نازوانا ، بي بي متو او داسې نور چې ترنن پورې په پښتنو کې ډېر د قدر په سترګه ورته کتل کېږي او په ډېر ښه نوم ياد ېږي .

45: دملي خاينانو ،ملي غدارانو او د پرديو د جاسوسانو د رټلو په اړه:

د پښتو او پښتونولي قانون پښتنو ته امر کوي چې هغه مشران ورتې او د خپل منځه يې وباسئ کوم چې په شعوري ډول د پښتون ملت او پښتونخوا سره خيانت کوي ، دا کسان ملي خاينان بلل کېږي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې تاسو بايد دهغو پښتنو مشرانو څخه نفرت ولرئ چې هغوی د پرديو جاسوسان ، ملي خاينين او پښتون ملت ته غداران وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه بايد د پرديو جاسوسان ،ملي خاينان پښتون ملت او پښتونخوا ته غدار مشران ورتې ،د خپل منځ څخه ئې وباسي مړي او ژوندي ورسره قطع کړي .

د پښتنو سترمشر حاجي مير ويس خان نيکه د غدار او ظالم ګرګين تر وژلو ورسته په کندهار کښې دازادو پښتنو ملی جرګی ته د بيانيې ورکولو په جريان کښی د ملی خاينانو په باره کښی داسی وويل:

(...اې پښتنو که تاسو له ماسره يو شي او زما ملا وتړې نو د خپلواکی بيرغ به هسک وساتو ،پرې به نه ږدو چې بيا د پرديو د مريتابه کړۍ زموږ په غاړه کې ولوېږي .

هغه کسان چې د پرديو مريتوب مني ، موږ له هغو سره هيڅ اړه او خپلوي نه لرو ، او نور دي زموږ په هېواد کې نه اوسي... )

د مير ويس نيکه د پورته ذکر شوی تاريخی زرين قول څخه په پيروی او د پښتو او پښتونولۍ د قانون پر اساس په لاندی کټګوريو کې ذکرشوی کسان:

الف: هرهغه پښتون چې په پښتونخوا کې د پرديو رهبري او مشرتوب مني او ياد داسی کرغيړن مقصد د پاره کار او مبارزه کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب: هرهغه پښتون چې په پښتونخوا کې د پښتنو د مخالفینو سره د پښتنو په مقابل کې سیاسي ،نظامی او اقتصادي ملاتړ او ملګرتیا کوي .

ج: هرهغه پښتون چې په پښتونخوا کې پرپښتنو د پردیو غیری پښتنو حاکمول غواړي .

د : هرهغه پښتون چې په پښتونخوا کې د خارجی هیوادو د استخباراتی سازمانود پاره جاسوسي کوي .

پورته ذکرشوی کسان پښتانه نه بلل کیږی ،هغوی د پښتنو دښمنان دي ،هغوی ملي خاینین دي ،هغوی پښتون ملت ته غداران دي ،هغوی ملت پلورونکی ،پښتون پلورونکی ،وطن پلرونکی او بی ننګه کسان بلل کیږی .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا دهر پښتون مشر او کشر ،نر او ښځې پښتني دنده او پښتني فریضه ده چې پښتون ملت ته غداران او ملي خاینان باید ورتې او دملي خاینانو ،د پښتنو او پښتونخوا د دښمنانو په نوم یې د خپل منځه وباسي ، او هرډول روابط حتي مړي او ژوندي ور سره قطع کړي .

هر هغه پښتون چې د پښتون ملت د دې غدارانو سره هرډول مرسته او ملګرتیا کوي ،ددې ملي خاینانو او ملي غدارانو ملګرتیا نه پرېږدي ، ددې ملي خاینانو او ملي غدارانو څخه نفرت نه کوي ،دې ملي خاینانو او ملي غدارانوته د مادي او معنوي امتیاز طمع کوي ،ددې ملي خاینانو او ملي غدارانو په باره کې ځان بیطرفه او بې تفاوته بولي هغوی هم د دې ملي خاینانو ، ملي غدارانو او بې ننګانو په ډله کې حسابیږي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې هغه سیاسي او قومي مشران ورتې ،نفرت ځني وکړي ،پر خبره یې غوږ مه نسی ، غم او ښادي ور قطع کړي ، د پښتون ملت د منځه یې وباسي کوم چې د پښتون باعزته ملت ګټې د ځان تر شخصي ګټو قربانوي ،د پښتو او پښتونولي او پښتون ملت سره خیانت کوي ، دا ملي خاینان ،د پردیو قومونو جاسوسان دي او پښتون ملت ته غداران نام نهاد مشران باید پښتانه د خپل منځه وباسي مړي او ژوندي ورسره پرېږدي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې ملي خاینین ورتې د خپل منځ څخه یې وباسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون په پیروي پښتون ویاړلي ملت په خپل پخوانی تاریخ کې همیشه ملي خاینین د خپل منځ څخه ایستلي دي ، هغه یې په بد نوم یاد کړي دي چې ژوندی مثالونه یې زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کې ، د میرویس نیکه وروړ عبدالعزیز ، د احمد شا بابا لمسی شا شجاع ، دامیر دوست محمد خان زوی غلام نبي خان لاردي، دامیر شیرعلي خان زوی محمد یعقوب خان اوداسی نور دی .

مګرپه ډیرافسوس سره باید ووایو چې اوسنیو پښتنو د تیردیرش کلن جنګ په جریان کې د پردیو هېوادونو د استخباراتو دجاسوسانو او ملي خاینینو په باره کې چې د شوروي اتحاد ،ایران ،پاکستان ،عربستان ، امریکا ، غرب او داسې نورو خارجي هېوادونو د ګټو لپاره یې افغانستان او ټوله پښتونخوا ورانه کړل ، د پښتنو سر ، ناموس ،عزت ،مال ، خپلواکي ، ملي حاکمیت ، ملي ګټې او ملي نوامیس یې لوټ او پامال کړل لا تر اوسه ښه ښکاره فیصله نده اعلان کړی .

د پښتو او پښتونولي قانون پښتانه هڅوی چې همیشه بیداره او هوښیار واوسي ، د خپل دولتي ، سیاسي او قومي مشرانو ټول اعمال او کړني تر دقیقي ځارني لاندي ونیسي چې د پښتون ملت په ګټه دي او که د پښتون ملت په تاوان دي ؟

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې پښتون ملت باید دغفلت په خوب بیده نشي ، د خپل هېواد او خپل ملت د ګټو په باره کې د مړو او بیدو کسانو په شان بې تفاوته ونه اوسي.

لوی احمد شاه بابا د پښتنو د را بیدارولو په باره کښې پښتنو ته داسی لارښونه کوی:

ځان به ویښ کړو ،هری خواته هری خواته رقیبان دی.

یو په بل مو سره وژنی ، وایی خپل یو غلیمان دی.

پښتو او پښتونولي پښتنو ته ډېر په سخته امر کوي چې همیشه ویښ او بیدار واوسي د خپل هېواد او پښتون ملت ګټې هیڅ وخت د نظره ونه غورځوي ، همیشه د یو بیداره او ویښ ملت په حیث دخپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد او پښتون ملت د ګټو ددفاع په خاطر د هېواد په سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو چارو کې فعال رول ولوبوي .

## 46: د اخيرت په باره کې:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته لارښونه کوي که تاسو غواړي چې دا دنيا مو سمه شي او په هغه دنيا کې مو د جنت حوري ، غلمان او نور نعمتونه په نصيب شي ، نو د خپل دين پيروي وکړي ، په سياسي ،اقتصادي او ټولنيز ژوند کې د پښتو او پښتونولي د قانون پيروي وکړي ،ځکه چې پښتو او پښتونولي پښتانه هغه لور ته رهبري کوي چې د خدای(ج) رضا ، ددنيا او اخيرت خير او ګټې په کې شته دي .

## 47: د ګاونډي په اړه:

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته امر کوي چې هر پښتون بايد د خپل همسايه د سر ، ناموس ، عزت او مال سا تنه د خپل سر ، ناموس ، عزت او مال په شان خپل پښتني فرض وبولي .

حميد مومند د بل د ناموس د ساتلو په باره کې داسې وايي:

چې د بل ننګ او ناموس ساتلای نشي
وبه نه ساتي څوک خپل ننګ او ناموس

## 48: د حقوقي او جنايي منازعاتو په اړه:

د پښتو او پښتونولي د مورقانون څخه په استفاده ځني پښتنو قومونو د خپل قوم د افرادو ترمنځ د حقوقي ، جنايي او داسې نورو منازعاتو د حل او فصل لپاره فرعی قوانين د نرخونو په نوم تعين کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ، اوددې قوم د افرادو ترمنځ حقوقي او جنايي منازعات د دې نرخونو پر اساس حل او فصل کيدل او ترنن ورځې پورې هم ددې قومونو دافرادو ترمنځ حقوقي او جنايي ستونزې ددې قوانينو يا نرخونو پر اساس حل او فصل کېږي .

ددې خبرې د اثبات لپاره مونږ دلته د احمدزو د قوم د "عيسي نرخ " څو مثاله راوړو .

## دمړي د خون بها په اړه:

داحمدزو د "عيسي جرګې "له رويه څو لسيزې وړاندې د يوغير عمدي مړي خون بها دري نيم زره کابلي روپۍ وې ، چې دا رقم که د نن ورځې په افغانيو بدل کړو شايد تردې زيات رقم ځني جوړشي .

په اکثرو مواردو کې د پښتنو جرګې چې روغې کوي نو کوښښ کوي چې د لانور قتل او قتال مخه ونيسي ، نو د دښمنو خواوو ترمنځ دوستۍ هم سره کوي چې دا دوستۍ کله کاميابه نتيجه ورکړي ، اوکله بيا د دښمنو خواوو ترمنځ دلا نور قتل او قتال مخه خو ونيسي ، مګر په بدو کې د ورکړل شوو اينجونو ژوند دومره تريخ وي چې تر مرګ زرځله بدوي .

د احمد زو د قوم د جرګې مطابق که يو "ګوتلکه " ياني پيغله اينجلۍ دمړي په پور کې ورکړي نو د مړي د خون بها نيمه برخه او د

" رونۍ "يعنې کوچنۍ اينجلي په ورکړه د مړي دريمه برخه خون بها مجرا کېږي او پاتې برخه به يې نقدي ورکوي .

د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق که يو سړي يو بل کس که نروي او که ښځه مړ کړي ، او تر مرګ وروسته دا مړ کس بې حجابه کړي ،نو بايد دوه برابره خون بها ورکړي ،ياني د دوو مړو خون بها بايد ورکړي .

<u>ددې خبري معني داده چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق مړي هم حق لري ،څوک د هغه بې عزتي نشي کولای ، که څوک د مړي بې عزتي وکړي نو د يو مړي پور لري .</u>

د پښتواو پښتونولي د قانون مطابق که يو سړي يو بل کس مړ کړي ، خو د هغه مړي وسله به د ځان سره نه وړي ، که دا غلط کار يې وکړي نو د مړي د پور ورکولو ، د وسلې د بيرته مستردولو سربيره يو اندازه جريمه به هم د "بې عزتۍ يا شرم" په نوم د مقتول لوري ته ورکوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږدلته د " عيسي نرخ " دزخمي کولو مادوته يوه ډېره لنډه اشاره کوو .

ستر ګه :

که يو چا دبل چا يوه ستر ګه ړنده کړه نو دا جرم نيم خون بلل کېږي ، او دواړي ستر ګي بيـا درست خون بلل کېږي .

پزه په کاکړي اصطلاح سونډه:

که يو چا د چا پزه پري کړه نو دا جرم نيم خون بلل کېږي .

غوږ :

د يو غوږ پري کول نيم خون او د دوه غوږونو پريکول درست خون بلل کېږي .

ژبه :

دژبې پري کول درست خون بلل کېږي .

شونډي :

د يوي او يا دوو شونډو پري کول يو خون بلل کېږي .

غاښونه :

دمخ يو ښکاره غاښ د يو خون لسمه برخه ده .

پښه :

يوه پښه چې په بند کې قطع شي نيم خون او دوی پښې درست خون بلل شوي دي .

لاس :

يو لاس چې د بنده څخه پري شي نيم خون او که دواړه لاسونه قطع شي درست خون بلل شوي کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګوتي:

که ديو لاس څلور ګوتي پري شي يو خون ، او که ددواړو لاسود هر يو څلور ګوتي قطع شي نو دوه خونه بلل کيږي .

داصرف يو ساده مثال وو چې موږ درنو لوستونکوته وړاندې کړي چې د احمدزو قوم دعيسي دنرخ مطابق خپل جنايي مسايل څنګه حل کوي .

## 49: د پښتنو ترمنځ د خواخوږۍ په اړه:

پښتو او پښتونولي وهر پښتون ته دا پښتني دنده سپاري چې د بل پښتون سره خوا خوږي ولري ، دهرپښتون سره تر خپل وس او توان پورې صله رحمي ،شفقت ،مرحمت ،مهرباني او مروت ولري اودهرپښتون سره ښيګڼه ، ښه چلن او مرسته وکړي .

## 50: د ميانه روۍ په اړه :

پښتواوپښتونولي پښتنو ته حکم کوي چې د ژوند په هره چاره کې دې ميانه روه اوسي .

څرنګه چې د پښتنو ټولي فيصلي د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د جرګو د لاري کيږي ، او جرګې کله هم داسې فيصلي نه کوي چې هغه دې د انصاف او ميانه روي څخه ليري وي .

د پښتنو دجرګو فيصلي هميشه پرواقعيت ، انصاف ، عدالت ، قناعت او ميانه روي ولاړې وي په دې اساس د منازعي دواړو خواوو ته د قبول وړ وي .

د پښتو او پښتونولي قانون پښتانه د هر ډول بنياد پرستۍ څخه منع کوي .

د پښتواوپښتونولي قانون دصبر ، زغم ، تحمل ،تعقل او ميانه روي قانون دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 51: د درواغو او بدو اعمالو په اړه :

لکه څنګه چې الله پاک پر دروغجن لعنت ويلي دي (لعنت الله علي الکا ذبين) .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون بايد ځان د درواغو ويلو څخه وژغوري .

د پښتو متل دي چې وايي: " ددرواغو منزل لنډ دي " ياني يو پښتون بايد درواغ ونه وايي چې ژر رسوا کيږي .

پښتوا و پښتونولي و پښتنو ته امر کوي چې يو رښتني پښتون بايد ددرواغو ويلو ، وعده خلافۍ ،نه امانت دارۍ ، بد خلقۍ ،بد سلوکۍ ،بد حرفۍ ، بد کارۍ ،بې شرمۍ ،بې حيايۍ ،بې غيرتۍ ،بې ننګۍ ، بې ناموسۍ ،بې قولۍ ،غلامۍ ،جوارۍ او داسې نورو هغو اعمالو د کولو څخه چې پښتانه ورته بد وايي جدا خپل ځان او خپل د کورنۍ غړي وساتي .

## 52:د خوږې وينا ،نېک عمل او ښې مشورې په اړه :

پښتوا و پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې په خپل ورځنيو چارو کې د هرچا سره هميشه په خوږه ژبه،رښتنولۍ او نيک نيتۍ خبري وکړي .

پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې په خپل ورځني ژوند کې دهر چا سره هميشه ښه ،نيک او ددرناوي او عزت نه ډک چلن وکړي .

پښتوا و پښتونولي پښتنو ته امرکوي چې دهر چا ښه او نيکه مشوره چې د پښتنود عقيدې او پښتونولۍ سره برابره وي ،واورۍ ،هغه ومني او عمل پري وکړي ،اوپه خپله هم بل چا ته ښه او نيکه مشوره ورکړي ، که څه هم مقابل لوري ستاسو مخالف وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون باید د ښه ویلو ، ښه کولو او ښه منلو او بل چا ته د ښه مشوري ورکولو صفات ولري .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون باید د بل پښتون ورور او هر انسان سره په خوږه او د احترامه ډکه ژبه خبري وکړي او هغه انسان سمي لاري ته وهڅوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون باید په ټولنه کي د ښو او نیکو اعمالو په کولو سره د خاص او عام په نظر کي یوه ښه نمونه وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون باید د هر انسان ښي او د خیر مشوري او نصیحت ته غوږ ونسي او هغه ومني او هم بل چا ته ښي مشوري او سمه لار ور وښیي .

په دي باره کي کاظم خان شیدا په یوه شعر کي داسي وایي:

---

شګفته کړه لکه لمر تندي هرچاته
چي په تله دي سیا پوش تمام جهان شي

پښتو او پښتونولي پښتنو ته د شرافت ،خیرغوښتني ،ښه ویلو ،ایمانداري ،امانت داری ،ښه کولو ، ښو اخلاقو ، ښه منلو ،ښه اوریدلو ، ښه نیت ،پاک زړه توب ، پاکوالي ، ښه سړیتوب ،رښتنولی ، صداقت او اصیلتوب سپارښتنه او درس ورکوي .

## 53: د پښتو ژبي د اهمیت په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چي پښتانه باید په خپل خوږه پښتو ژبه خبري وکړي ،د خپلی پښتنی مهربانی مور او خپل و یاړلی پښتون ملت خوږه پښتو ژبه هیره نکړي .

پښتو خوږه ژبه دو یاړلی پښتون ملت ملي پیژند ګلوي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ملت چې خپله ژبه هیره کړي کرار کرار خپل ملي هویت او ملي پېژند ګلوي هم د لاسه ورکوي ، او د نورو ملتونو په منځ کې داسې ورکېږي او ویلیږي لکه مالګه او بوره چې په اوبو کې ویلیږي .

دنورو ملتونو په منځ کې د منحل شوي ملت فرق د بوري او مالګي سره دادي ،بوره او مالګه چې کله په اوبو کې ویلي شي نو په اوبو کې خپل رنګ د لاسه ورکړي ،خو اوبو ته بیا خپل خوند ورکوي یعنې اوبه دبوري په شان خوږي یا د مالګي په شان تروي کړي .

مګر کوم ملت چې خپل ژبه هیروي او په نورو ملتونو کې منحل کېږي هغوی خپل رنګ او خوند دواړه د لاسه ورکوي ، نه تنها د نوي ټولنې خوند او رنګ ځانته نشی خپلولای بلکه یو داسې بې رنګه ، بې خونده ،بې مزي ، ناپیژانده او بې ارزښته شي ځني جوړ چې ارزښت یې د صفر سره برابر شي .

هغه ملتونه چې خپل ملي پېژند ګلوي یعنې خپله ژبه یې دلاسه ورکړي ده ،په حقیقت کې هغه ملتونه مړه او پنا شوي ملتونه بلل کېږي او د نړۍ د ژوندیو ملتونو په جمله کې نه حسابیږي .

د دنیا داکثرو ملتونو دملت او هیواد دنوم ریښه د هغه ملت د ژبې د نوم سره مستقیم تړاولري .

ددې ادعا د ثبوت د پاره دا لاندې څو ساده مثالونه وګوري:

1: عربي ژبه:

د سعودي عربستان د ولس ژبه عربي ده ، ولس ته یې عرب او هیواد ته یې عربستان ویل کېږي .

دژبې دنوم (عربي) ریښې هم د ملت په نوم(عرب) او هم ددوی د هیواد (عربستان) په نوم کې تاثیر اچولي دي .

عربي ژبه د عربو ملي پېژند ګلوي ده .

2: انګلیسي ژبه:

د انګلیستان د ولس ژبه انګلیسي ده ، ولس ته یې انګلیس او هیواد ته یې انګلیستان ویل کېږي .

دژبې دنوم (انګلیسي) ریښې هم د ملت په نوم(انګلیس) او هم ددوی د هیواد (انګلیستان) په نوم کې تاثیر اچولي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګليسي ژبه د انګليسانو ملي پېژند ګلوي ده .

3: فرانسوي ژبه :

د فرانس د ولس ژبه فرانسوي ده ، ولس ته يې فرانسويي او هېواد ته يې فرانسه ويل کېږي .

دژبې دنوم (فرانسوي ) ريښيي هم د ملت په نوم(فرانسويي ) او هم ددوی د هېواد (فرانس يا فرانسه ) په نوم کې تاثيرا چولي دي .

فرانسوي ژبه د فرانسويانو ملي پېژند ګلوي ده .

4: جرمني ژبه :

د جرمن ولس ژبه جرمني ده ، ولس ته يې جرمن او هېواد ته يې جرمني ويل کېږي .

په بله وينا د المان د ولس ژپه الماني ده ،ولس ته يې المانيي او هېواد ته يې المان ويل کېږي .

دژبې دنوم (جرمني ) ريښيي هم د ملت په نوم(جرمن ) او هم ددوی د هېواد (جرمني ) په نوم کې تاثير اچولي دي .

جرمني يا الماني ژبه د جرمنانو يا المانانو ملي پېژند ګلوي ده .

5: چينايي ژبه:

د چين د ولس ژبه چيني ده ، ولس ته يې چينايي او هېواد ته يې چين ويل کېږي .

دژبې دنوم( چينايي ) ريښيي هم د ملت په نوم( چينايي ) او هم ددوی د هېواد ( چين ) په نوم کې تاثير اچولي دي .

چينيي ژبه د چينايانو ملي پېژند ګلوي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دي اساس موږ ويلاى شو چې انګليسي ژبه د انګريزانو ،روسي ژبه د روسانو ،ترکي ژبه دترکانو ،جرمني ژبه دجرمنيانو ،فرانسوي ژبه د فرانسويانو ،هسپانوي ژبه د هسپانويانو ،ايټالوي ژبه د ايټالويانو ،هندي ژبه د هنديانو ، چيني ژبه د چينايانو ،جاپاني ژبه د جاپانيانو او پارسي ژبه د پارسيانو ملي پيژنګلوي ده .

د پورته ځو مثالونو څخه دا نتيجه اخلو چې د پښتو خوږه ژبه د وياړلي پښتون ملت ملي پېژند ګلوي ده او بايد وي .

ځينې هيوادونه اوملتونه د لويو استعماري ځواکونو د خوا د خپل مشخصو اهدافو د سرته رسولو پر اساس منځته راغلی دی لکه پاکستان ،يوګوسلاويا ،چکسولواکيا او داسی نور . . .

دا هيوادونه او ملتونه داسی ملی پيژندګلوی يا ملی ژبه نه لری چی ددی ملتونو او هيوادونو په نومونو کې ئی ريښه پيدا شی ،مثلا د پاکستان د هيواد نوم پاکستان دی ،د ملت نوم ئی پاکستانی دی ،خوملی ژبه ئی(اردو ) ده ،د(اردو) لغت د پاکستان او پاکستانی د لغتونو سره هيڅ مشترکه ريښه نه لری .

د پورته ځو مثالونو څخه معلوميږي هر ملت چې خپل ملي پېژندګلوي يعنې خپله ژبه يې ښه ساتلي ده هغه ملت په نړۍ کې د نور ملتونو سره سيال هم دي .

پر ځني ملتونو د استعمار په وخت کې د استعمار چيانو د خوا خپله ژبه په زورتحمل شوي وه او تر اوسه هم په هغو ملتونو کې د استعمار چيانو ژبې مهم رول لري چې ژوندي مثالونه يې انګليسي ژبه په برطانوي مستعمرو کې ،روسي ژبه په روسي مستعمرو کې او فرانسوي ژبه په فرانسوي مستعمرو کې اوداسې نوردی.

افغانستان که څه هم د مستقيم استعمار اوږد تاريخ نه لري او د استعمار چيانو ژبه يې نده خپله کړي خو د سوونو کلونو راهيسې د پارسي ويونکو تر کلتوري استعمارلاندي پاتې شوي دي .

د فارسي ژبې استعمار پښتنو ته دومره زيات تاوان رسولې دي چې برطانوي استعمار و هند ته ندي رسولې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګليسي ژبه که څه هم د برطانوي استعمار چېانو ژبه ده خو بيا يې هم تر برطانوي استعمار وروسته د هند په ترقي او پرمختګ کې ډېر مهم او ارزنده رول لوبولي دي ، ځکه چې انګليسي ژبه د علم ، تجارت ،صنعت ،سياست ،فرهنګ او داسې نورو ښو رشتو نړيواله ژبه ده .

مګر فارسي ژبه چې د پښتنو واکمنانو دربار ته يې لاره پيدا کړه پښتانه واکمنان يې په داسې مضمن او نا علاجه مرض مبتلا کړل چې د سوونو کلونو په لړ کې هم د دې مضمن مرض څخه روغ نه شول .

پښتنو واکمنانو د پښتون ملت ژبه يعنې پښتو هيره کړل ،همدا سبب شو چې يو شمير پښتانه واکمنان د پښتون ملت د پښتو او پښتونولي د قانون ، د پښتنو د رسم ، رواج ، عنعناتو او فرهنګ څخه ليري او ناخبره پاتي شول .

ځنې پښتانه واکمنان د پښتنو د ژبې او پښتني کلتور څخه ليري پاتي شول او د پښتنو د ازلي دښمنانو يعنې ايرانيانو د ژبې او فرهنګ خپلول يې شروع کړل ،همدا علت شو چې پښتانه او پښتو ژبه د فارسي ژبې تر کلتوري او ژبني استعمار لاندې راغلل .

د فارسي ژبې استعمار پښتانه واکمنان بې لارې او د پښتون ملت څخه بېل کړل ،دوی د پښتون ملت په ژبه نه پوهيدل او پښتون ملت د خپل واکمنانو په ژبه نه پوهيدې ،همدا علت شو چې په ټولنه کې د پرديو مداخلو ته لاره هموار شول او پښتني ټولنه هميشه د نا ارامېو په درياب کې لاهو وه او د پښتنو د هر ډول ترقي او پرمختګ مخه نيول شوي وه .

د پښتنو واکمنانو شاوخوا هميشه هغه غوړه ملانو او چپلوسانو نيولي وه چې په فارسي ژبه پوهيدل او د ايراني کلتور پيروان او د پښتنو او پښتو ژبې ازلي دښمنان وه .

فارسي ژبه د انګليسي ژبې په شان د علم ،سياست او پرمختګ ژبه نه وه او نه ده چې پښتنو واکمنانو او عامو پښتنو د هنديانو په شان د دې استعماري ژبې څخه استفاده کړې واى .

فارسي ژبې د ايراني هيژمونيزم ، جاه طلبی ، کلتوري ،فرهنګي او تاريخي غلاوو ،جعل ، تذوير ،تقلب ، درواغو ،مذهبی تعصب، ژبنی تعصب او داسې نورو بې معنې شيانو څخه بغير بله هيڅ مثبت شي نه درلودې چې پښتنو واکمنانو او پښتون ملت استفاده ځنې کړې واى .

د تاريخ په اوږدو کې " ايرانی دولتونه" او د ايرانيانو "فارسي ژبه" د پښتنو د تباهی ،بربادۍ او پس مانی سبب شوي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



" ایراني فارسي ژبه " د پښتنو لپاره د ناسور ددانې او د ساري سرطان د ناعلاجه مرض حیثیت لري چې هره ورځ د پښتون ملت هر څه تبا کوي ، هره ورځ د پښتون ملت د بدن یوه فعاله برخه فلج کوي او د پښتنو په نفع یې د فعالیت څخه اچوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا دهر رښتني پښتون پښتني دنده ده چې خپل پښتون ملت او خپله پښتو ژبه د ایراني فارسي ژبې دمرګوني تهاجم او تباکونکي ساري سرطاني میکروب څخه وساتي .

د ایراني ژبې په شان ایراني دولتونو هم د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو د ازلي او نه پخلا کیدونکي دښمنانو په حیث همیشه د پښتنو د هر دښمن سره د پښتنو پر خلاف سازش کړیدي .

ایراني په اصطلاح تاریخ پوهانو او عالمانو دهند د مغلو سره لاس یو کړیوو او پښتانه یې د "دیو " د نسل څخه بلل یعني دا چې د ایرانیانو په اند پښتانه انسانان ندي او "دیوان" دي ، مګر حقیقت دادي چې پښتون پاچا "کاوه هوسروایا " وایی چې ما د مازندران پر دیوانو حمله وکړل ، پښتونخوا او منطقه مې د هغوی دیوانو د شره څخه خلاصه کړل.

اویستا پښتنو ته د دیوانو خطاب ندی کړی خو د مازندران د هغه وخت او سیدونکی ته چې دا وسنیو ایرانیانو دځینو نیکه ګان به وی د دیوانو خطاب کړیدی.

پښتانه که د خپل استقلال ، ملي حاکمیت ،د هیواد مځکنۍ بشپړتیا ، پښتون ملت ، پښتو ژبې ، پښتني کلتور ،پښتني فرهنګ ،پښتني عنعناتو ،خپل دین ،مذهب ،پښتني تاریخ ، د پښتنو تاریخي افتخاراتو ،دپښتنو تاریخي پوهانو او قهرمانانو او دخپل هیواد او تاریخ دهر ښه شي سره مینه او محبت لري او غواړي چې دا تاریخي ملي ارزښتونه ددوی د تاریخي میراث په ډول سلامت ددوی راتلونکي نسلونو ته پاتي شي ، باید هر رښتني پښتون هرومرو ،وهر ایراني فرد او هر ایراني دولتي او غیري دولتي نهاد ته د پښتنو او پښتونخوا دازلي ، ابدي او نه پخلا کیدونکي دښمن په سترګه وګوري ،هیڅ وخت د هیڅ ایراني فرد او هیڅ ایراني نهاد په غوړو او چربو قولونو او وعدو باور ونکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بده مرغه ایران زموږ غربي ګاونډی هېواد دي ، موږ مجبور یو چې ددوی سره ډول ډول روابط او راکړه ورکړه ولرو خو په هره معامله کې چې پښتانه یې د ایرانیانو سره کوي دوی باید دومره محتاط وي لکه یو مسلمان چې د مجبوریت له رویه د شیطان سره معامله کوي .

د پښتنو ستر مشر وزیر محمد ګل خان مو مند د ژبې د اهمیت په باره کې داسې وایي:

(د یو ملت په ژبه کې هرڅومره چې د بل ملت ژبه نفوذ مینده کړي هما غومره یې په سیاست ، اقتصاد ، اجتماعیاتو ، ملي اخلاقو ، ملي ادابو ،ملي عاداتو ،ملي رسوماتو ، او عنعناتو ، ټولو ملي خصایلو او خصایصو حتي چې په ذهنیت ، افکارو ، حسیاتو او مدنیت یې نفوذ مینده کوي ،هماغومره د پردی ژبې د خاوندانو نامر یې بري او غلبه ددغي بلي ژبې پر خاوندانو تامینوي .

او که د یو ملت ژبه د بل ملت ژبې ته مغلوبه شوه ګڼه چې هغه ملت هم په دغو پاسنیو ټولو خصوصیاتو کې ورته پرشو .

علي الخصوص که اقلیتونه هم د هغې ژبې د خاوندانو په دغه ملت کې وي نو سیاست ، معارف ، مهمي او ګټوري اقتصادي چاري ، لویه برخه د ملي پانګې ، ټوله د هماغه اقلیتونو پلاس کې لویږي .

نو په هغه حال کې تمام هوساتوب او راحت ،څواک ،عزت او مرتبت د هغو لږکیو وي ،او درست مشاق او مزاحم ، ټوله نا هوسایې د همدغه خورا بې وزلي ملت وي ، ډېر لوي ملت د هماغه لږکیو د ګټې لپاره استعمالیږي ، دوی( اکثریت )به تل سوکړک خوري ، پیټې به وړي او هغه نور(اقلیت) به خوړوبې او خوږي ټیکلي نغري .

دوی(اکثریت ) به بربنډ ګرځي او هغوی(اقلیت ) به وریښمین کالي اغوندي ، ددوی به کوډی نوي ، د هغو به بنګلي ولاړي وي ،دوی به کلي نه لري ، د هغوی به ښارونه نه بسیږي ، دوی به پلي ګرځي ، هغوی به ګرندي ګاډي ځغلوي ،هغوی به پر بخملي نالیو پرلتیې وهلي د ساوو په خیر ناست او دوی به د مریې په شان ورته ولاړوي او پر وچه مځکه پر توره خاوره به هم کیناستلي نه شي . . . )

په افغانستان کې نن ورځ کټ مټ د پښتنو دغه حالت دي چې ستر پښتون وزیر محمد ګل خان مهمند پورته تشریح کړي دي او پښتانه باید دا خپل پښتني فرض وګڼي چې د دې نا مناسب حالت څخه ځان خلاص کړي ، او دا خلاصون صرف د پښتو او پښتونولي د قانون په پیروی ممکن دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر پښتون وزیر محمد ګل خان مهمند چې دژبې د اهمیت په باره کې کومي څرګندوني کړیدي دا پښتنو ته یو با ارزښته درس دي چې که پښتانه غواړي چې په پښتونخوا کې ازاد ، خپلواک ، سرلوړي او باعزته واوسي نو خپل مورنۍ خوږه پښتو ژبه دي نه هیروي ، هغې ته دي لانوره وده او انکشاف ورکړي او د نړۍ د ژوندیو ژبو په قطار کې دي یې ودروي .

پښتانه باید دا خپل پښتني دنده وبولي چې په پښتونخوا کې پښتو ژبه دتعلیم او اداري ژبه کړي .

کله چې پښتو د پښتونخوا د تعلیم او اداري ژبه شول نو هر څوک به یې په مینه زده کوي ځکه چې په پښتو ژبه به تعلیم کوي ،د پښتو ژبې د زده کړي په برکت به کار ، روزګار او حلا له نفقه ځانته پیدا کوي .

ترڅو چې پښتوژبه د علم حاصلولو ،کار پیدا کولو ،پیسو ګټلو او دولتي اداري ژبه نه شي ،ددې ژبې مناسبه وده او ترقي ناممکنه ده .

دا د ټولو پښتنو د پاره ډېر ننګ او شرم خبره ده چې نن ددوی په هېواد کې ددوی داسې حال دی چې ان په پښتو ژبه د تعلیم کولو حق نه لري ،ددوی په دولتي اداره کې پښتو اداري ژبه نه ده ،نو دوزیر محمد ګل خان مهمند د ادعا مطابق پښتانه نن په خپل تاریخي هېواد کې د اقلیتونو دغلامانو او مریانو په ډول ژوند کوي .

وزیر محمد ګل خان مهمند په خپل یو ښایسته او دمعنې ډک شعر کې د پښتو ژبې او د پښتو او پښتونولي د قانون په باره کې پښتنو ته داسې لارښودنه کړیده :

ښــــــــه خویونـــــــــه دیانـــــــــت مـــــــــوده پښـــــــــتو
ښـــــــــــه دودونـــــــــــه او اداب دپښـــــــــــتنو
پښـــــــــــتونواله پښـــــــــــتانه هوســـــــــــوي
پښـــــــــــتونواله پښـــــــــــتانه بـــــــــــه لـــــــــــوړوي
پـــــــــه پښـــــــــتوباندې وطـــــــــن ګټلـــــــــی شـــــــــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــــــــه پښـــــــتو باندې وطـــــــــن ســـــــــاتلی شــــــــوی
هـــــم بـــــــه بيـــــا وي پـــــــه پښـــــتو بانـــــدې ګټهـــــل
هـــــم بـــــــه بيـــــا وي پـــــــه پښـــــتو بانـــــدي ســـــاتل
پښــــــــتو کړمــــــــه ، پښـــــــتو وايمـــــــــه زه تـــــــل
ده لالـــــــــي څمـــــــا پښـــــــتو نـــــــه لـــــــــرم بـــــــل
ســــــراو مــــــال مـــــي دواړه جــــــار دي تـــــــر پښـــــــتو
ژونـــــــد او مړينـــــــه مـــــــي نثـــــــار دي تـــــــر پښـــــــتو
پښـــــــــتانه کـــــــــه د پښـــــــــتو پـــــــــر لاري ځـــــــــي
دا نـــــــــړی او هـــــــــا نـــــــــړی کـــــــــي دي خونـــــــــدي
پښــــــــــــــــتانه او پښــــــــــــــتونوالـه دې وي تـــــــــــل
لــــــه پخوانــــــه يــــــو پــــــه لــــــس او يــــــو پــــــه ســــــل

................................................................

د پښتنو ستر متفکر او درونـد پښتون مشر نباغلي وزير محمد ګل خان مهمند خپل پښتون ملت تـه دا لارښودنه کوي چې ستاسو ددنيا او اخرت بريالیتوب په دې کې دي چې د خپل فطرت یعنې پښتو او پښتونولي د قانون پيروي وکړي .

................................................................

## 54: د صداقت په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې هر رښتني پښتون بايد په ورځني ژوند کې صـادق واوسی .

هرپښتون بايد دبل پښتون وروراوهربل انسان سره په ورځنی ژوند کې په پوره صداقت او رښتنيولی ژوند وکړی .

پښتو او پښتونولي و پښتنو ته امر کوي چې د ژوند په هره چاره کې هميشه صادق واوسی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 55:د وفادارۍ په اړه :

پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې هر رښتني پښتون باید په ورځني ژوند کې دوفادارۍ عالي صفت ولرې .

د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق يو رښتنى پښتون بايد په ورځنى ژوند كې ټولو پښتنى اودينى ارزښتونو ته رښتنى او وفادار واوسى .

## 56: دچل او فريب په اړه :

پښتو او پښتونولي هر پښتنو ته حکم کوي چې د بل پښتون او يا بل انسان سره به چل ، فريب ، ټګي او برګي نکوي ، ځکه چې په پښتو او پښتونولي کې چل ، فريب ، ټګي او برګي نشته ،نو په دې اساس يو رښتني پښتون بايد د ژوند په چارو کې هميشه د هرډول چل او فريب نه خلاص وي ، او هر وخت د هر چا سره رښتني او صادق وي .

## 57: د سولې او صفا په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې ټولي خپل منځي شخړي ژر تر ژره د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په خپل منځ کې په جرګه او مرکه سره حل او فصل کړي ،او هميشه يو دبل سره په سوله او روغه کې ژوند وکړي .

دپښتو او پښتونولى قانون پښتنى ټولنه د سولى او صفا لور ته رهبرى كوى .

## 58:دغرور ،تكبر او لويي په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي وپښتنو ته امر کوي چې همېشه د غرور ، تکبراولويي څخه ځان وساتي ، تر نورو خلکوځان لوړ مه بولي ، تکبر ، غرور او لويې مه کوي .

دغرور ، تکبر او لويي څخه د مخنيوي په خاطر پښتانه داسې متلونه لري:

غر که هر څومره لوړ دی بیا هم لار پر سربيره ده .

ددی متل معنی داده یو پښتون که هر څومره لوړ مقام ،لوړه دولتی چوکۍ، ډير زيات مال او دولت اوداسی نورامتيازات ولری بيا هم بايدلويي اوتکبرونه کړی ځکه چی الله(ج) پرهرلوړ کس بل لوړ کس پيداکړی دی او الله(ج) بيا ترهرڅه لوړ دی تکبر د بنده سره نه بلکی دالله د بی زواله او بی نيازه ذات سره ښايي.

پښتانه دکبر په باره کښی داسی متل کوی.

د کبر کاسې تورې عاقبت پسې نسکوري .

پښتو اوپښتونولي پښتانه د غرور ، تکبر او لويي څخه راګرځوي اوپه عين وخت کې پښتانه هڅوي چې تاسو هم د بل مغروراومتکبر غرور ،تکبر او لويي ته سر مه ټيټوي .

## 59: د تواضع په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي په ورځني ژوند کې چې په سياسي ، اقتصادي ،فرهنګي اوټولنيزو چاروکې هر څومره لوړو مقامونو ته ورسيږي بيا هم هميشه د هر چاسره په تواضع او کمينۍ سره ژوند وکړي .

د تواضع په باره کې پښتانه دسې وايي:

دبار داري وني ښانګې دمځکې خواته کږي يا ځوړندي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي و پښتنو ته امر کوي چې هیڅ انسان ته په ټیټ نظر مه ګوري او تر هیچا ځان لوړ مه بولئ ، په دې باره کې د پښتو یو متل داسې وایي : ( مېږه ته مه وایه چې مېږه ګیه ) .

## 60: د ټینګ عزم او د فیصلې د قاطعیت په اړه :

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د ژوند هره فیصله په صبر ،تحمل ، حوصلې ، ساړه دماغ ، پوهې ، سالم عقل ،علم ،تدبیر او تعقل سره وکړي ، کله چې مو فیصله وکړل نو بیا پر خپل خدای (ج) توکل وکړي او په قاطع تصمیم او کلک عزم د خپل کړي فیصلې د عملي کولو تر شا ودرېږي ، په دې لاره کې د هر ډول مشکلاتو تحمل ته اماده اوتیارواوسي ، د خپل معقولي فیصلې او تصمیم څخه په هیڅ قیمت تر شا نه شي .

## 61: د ظالم او مظلوم په اړه:

د اسلام د مبارک دین په شان پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امرکوي چې هیڅ کله د ظالم د ظلم په وړاندې سر ټیټ نکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس یو رښتني پښتون باید حتما د ظالم د ظلم په مقابل کې په پوره میړانه مبارزه وکړي ، اود ظالم لاس د ظلم څخه لنډ کړي ، او خپل ځان او ملت د ظالم د ظلم څخه خلاص کړي .

لکه د اسلام مقدس دین چې امر کوي ، پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امرکوي چې تاسو باید د ظالم او مظلوم دواړو سره مرسته وکړي ، یاني مظلوم د ظلم څخه خلاص کړي او د ظالم لاس د ظلم څخه لنډ کړي ، دا عمل د دواړه سره مرسته بلل کېږي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امرکوي چې هیڅکله پر مظلوم ظلم ونکړي او هر وخت کوښښ وکړي چې د مظلوم سره مرسته وکړي او هغه د ظالم له ظلم څخه خلاص کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام مبارک دين مسلمانانو ته فرمايلي دي چې الله پاک ظالم او مظلوم دواړه نه خوښوي ، يعنې يو مسلمان بايد د ظلم کولو څخه ځان وژغوري او هم پر ځان د ظالم ظلم ته اجازه ورنکړي .

هر مسلمان چې پر ځان د ظالم ظلم روا بولي ، په حقيقت کې دا کس پر خپل ځان ظلم کوي ، په اخرت کې به د دې مظلوم شخص څخه په دې خاطر پوښتنه کېږي چې تا ولې پر خپل ځان د ظالم ظلم منلی وو ؟

د اسلام مقدس دين مسلمانان هڅوي چې د ظالم د ظلم په مقابل کې قيام وکړي او چوپه خوله پاتې نشي ، که دا سې ونه کړي نو په اخرت کې به خدای(ج) د دې مظلوم څخه پوښتنه کوي .

څوک چې د ظالم په مقابل کې قيام ونه کړي دا دنيا به يې د ظالم تر ظلم لاندې تېرېږي او په اخرت کې به بيا خدای(ج) په دې جرم سزا ورکوي چې تا ولې د ظالم په مقابل کې قيام نه کاوه .

## 62: د غلامۍ او مظلوميت په اړه:

الله پاک د هيڅ قوم حالت ته تغير نه ورکوي ، تر څو هغه قوم په خپله ونه غواړي چې خپل حالت ته تغير ورکړي .

يعنې الله پاک يو قوم د غلامۍ څخه نه خلاصوي ترڅو هغه قوم په خپله د غلامۍ څخه د خلاصون هڅه ونه کړي .

پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امر کوي چې هيڅ کله پر ځان د بل چا غلامي او مريتوب ونه مني ،او د خپل ژوند په قيمت د ازادۍ او خپلواکۍ لپاره تلاش او مبارزه وکړي .

هر پښتون چې پر ځان د پرديو غلامي او مريتوب مني هغه کس پښتون نه بلل کېږي ، او په اخيرت کې به يې الله پاک هم په دې جرم ونسي چې تا ولي پر خپل ځان د پرديو ظلم او غلامي منلي وه .

ميرويس نيکه د پښتنو دې ستر مشر هم د غلامۍ څخه د نفرت پر اساس دا زادو پښتنو هغې جرګې ته چې د ګرګين تر قتل وروسته په قندهار کې دايره شول دا سې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(... که له ماسره یو شئ او زما ملا وتړئ نو د خپلوا کۍ بیرغ به هسک وساتو او پرې به نږدو چې بیا د پردیو د مریتابه کړۍ زموږ په غاړه کې ولوېږي .

هغه کسان چې د پردیو مریتوب مني موږ د هغو سره هیڅ اړه او خپلوي نه لرو او نور دې زموږ په هېواد کې نه اوسي . . . . )

د میرویس نیکه د پورته وینا څخه په ډاګه معلومېږي چې هغه د غلامۍ څخه نفرت درلود او پښتانه یې د ازادۍ لور ته را بلل .

میرویس نیکه د هغو کسانو سره چې د پردیو غلامي یې منل د خپلوۍ هر ډول اړیکي قطع اعلان کړې او هم یې هغوی ته امر وکړ چې زموږ له هېواده (پښتونخوا )څخه ووځي .

د میرویس نیکه دا د ارزښت نه ډکه وینا او لارښودنه باید د هر رښتني پښتون د ژوند لاره ، د ژوند د لارې ډیوه اورهنما وي .

## 63 : د اقتصاد په اړه :

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د خپل اقتصادي ژوند د ښه والي لپاره په مشروع لارو سخت کار او زحمت وکاږي ، په مشروع طریقه خپل اقتصادي حالت ښه کړي ، پر لوڅه شا د غره څخه ډبرې راوړي خو د سوال او طمع لاس چاته مه اوږدوئ .

خوشال بابا د سوال ، منت او طمع په باره کې داسې وایي :

د منـــــــت داروکـــــــه مـــــــرم پـــــــه کـــــــارمې نـــــــدي
کـــــــه عـــــــلاج لـــــــره مـــــــې راشـــــــي مســـــــیحا هـــــــم

پښتو او پښتونولي پښتنو ته د یو طرفه د سخت کار او زحمت کښلو امر کوي او د بل طرفه پښتنو ته امر کوي چې هر پښتون باید ډوډۍ مار ، مېلمه پال او سخي وي تر څو د ټولني هغه افراد چې بېوزلي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناتوانه ، فقیر او مسا فروي د پښتنو پر دسترخوان ماړه شي ، د پښتنو مېلمه پالنه په نړۍ کې د بېوزلو ، ناتوانو ، فقیرانو ، مسافرو او نورو محتاجو کسانو د مرستې لپاره د ټولنیزو مرستو لوړترین مثال دی .

## 64: د امانتدارۍ او پرهېزګارۍ په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې هر پښتون او هره پښتنه باید ښه امانتداره او پرهېزګاره وي .

## 65:د استاد ،مور ،پلار او انسان د احترام په اړه:

د اسلام د مبارک دین په شان پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امر کوي چې همیشه د استادانو ، مور ، پلار ، مشرانو ، عالمانو ، فاضلانو او ښو انسانانو احترام وکړي او پرکشرانو شفقت او مهرباني وکړي .

## 66: د پښتنو د کرکټر په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته ،دخپل دین ، پښتون ملت ، پښتونخوا ، خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ،پښتو ژبې ،د پښتون ملت او ټولو انسانانو خدمت او دهغو سره مینه ، پروعده وفا کول ، په اتفاق او سېدل ، یو د بل سره په غم او ښادي کې شریک کېدل ،مثبته سیالي ،لوړهمتي ،دحق څخه دفاع ، د پښتني جرګې فیصلو ته احترام ، د بېوزلو سره مرسته ، کار او زحمت کښل ، حلال رزق پیدا کول ، صبر ، تحمل ، ثبات ، استقامت ، پرځان باور ، قناعت ، حوصله ،مساوات ته درناوي ، د ښځو د پلو احترام ، د مشرانو اطاعت او پر کشرانو مهرباني ، مېلمه پالنه ، ډوډۍ ماري ، سخاوت ، دحق د دفاع په لاره کې مېړانه ، غیرت ، توره ، قربانۍ ، ایثار ، فدا کارۍ ، د دښمن څخه بدل اخستل ،تکړه توب ،غښتل توب ، رښتنولۍ ،ښاغلتوب ،ننګ ،پښتني او ملي غرور درلودل ، دمظلوم ملاتړ او پر هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترحم ، د ظالم په مقابل کې دريدل ، د متجاوز سره مقابله ،مظلوم ته پنا ورکول ،د همسايه څخه دفاع ، پاک زړه توب ،په ښه خوږه ژبه خبري کول ، دهر چا ښه مشوره منل ، هميشه ښه کول ، دژوند په چارو کې ميانه روي ، دضرورت په وخت کې ننواتي کول او ننواتي منل اوبخښل ، د بدو څخه پرهيز ، حيا ،عفت او عصمت ساتل ، نا موس داري ، سمه او کلکه عقيده لرل ، اعتماد ، امانتداري ، ايمانداري ،پر وعده وفاکول ، ښه مسلمانی ، د استادانو ،مور ، پلار ، مشرانو ،عالمانو او فاضلانو احترام ،علم پروري ،او پر کشرانو شفقت کول ورزده کوي .

پښتو اوپښتونولي پښتنو ته د پورته ذکرشوو اسلامي او پښتني ارزښتونو سره مينه او محبت کول ورزده کوي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پراساس پښتون هغه څوک دي چې په ورځني ژوند کې پورته ذکر شوي صفات ولري ، هرهغه څوک چې د پورته صفاتو څخه محروم وي که څه هم هغه په پښتو ژبه ږغيږي او په رګونو کې يې د پښتون پلار او پښتني مور وينه جريان ولري بيا هم د پښتو او پښتونولي دقانون پراساس هغه شخص پښتون نه بلل کيږي .

پښتو اوپښتونولي پښتنو ته دخپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، پښتون ملت ، پښتونخوا ، استقلال ،دپښتونخوا د مځکنی بشپړتيا ،ملي حاکميت ، پښتو ژبي ، پښتني کلتور ، پښتني عنعناتو ، پښتني تاريخ ،ظالم ، ظلم ، غلامی ، مريتوب ،محکوميت ،زلالت ، دپرديو جاسوسی ، ملي خيانت ، د پښتون ملت سره دغدارانو اوغداری او د پښتنو دداسې نورودیني او پښتني ارزښتونو ددښمنانو څخه نفرت اوکرکه ورزده کوي .

هرهغه پښتون چې د پښتنو دپورته ذکر شوو ديني او پښتني ارزښتونو د دښمانو سره بې پايه نفرت ،کرکه او دښمني ونه لري هغه کس پښتون نه بلل کيږي .

## 67 : د پښتونولي يا پښتونتوب په اړه :

پښتو او پښتونولي پښتنو ته ورښيي چې " پښتونتوب يا پښتون والي " ستروياړ او شرافت دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونوالي پښتنو ته امرکوي چې په پښتونوالي يا پښتونتوب وویاړي ،هرپښتون باید په دې وویاړي چې " پښتون "دي ،ځکه چې پښتون ملت پر خداي(ج) ګران ملت دي ،او دالله په مرسته هرربښتني پښتون مسلمان ،مجاهد او عادل شخص دي .

## 68: د سر او مال د قربانۍ په اړه:

پښتواوپښتونولي پښتنو ته امرکوي چې خپل مال او سرد خپل دين ، ناموس ، عزت ،پښتونخوا ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکميت ،د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتيا ،ملي نواميسو اوملي ګټو څخه په ورين تندي جار کړي .

په پښتو کې متل دي چې وايي:(مال ترسرجاراو سرترناموس جار) .

## 69: د مينې ،محبت او نفرت په اړه:

د پښتواوپښتونولي دقانون پر اساس هر ربښتني پښتنو بايد هميشه د مينې ،محبت او نفرت سره ژوندوکړي ، که پښتون د مينې او نفرت څخه لاس واخستې نو پښتون بيا په يو بې خونده او بې رنګه موجودبدليږي چې دا بې خونده او بې رنګه موجود بيا هغه زموارۍ نشي انجامولاى چې يوربښتني پښتون يې بايد انجام کړي ، نتيجه به داشي چې پښتون ملت به غلام کيږي ، پښتواوپښتونولي به زوال کيږي .

د پښتون د مينې ، محبت او نفرت موضوع ته موږ په لاندې ډول يوه لنډه اشاره کوو .

## 70:پښتون بايد د نفرت سره ژوند وکړي:

د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق يو ربښتني پښتون بايد د پرديو د غلامۍ ، محکوميت ، زلالت ، بې ناموسۍ ، بې ننګۍ ، بې فطرتۍ ، بې پښتوګۍ ،دپرديو د جاسوسۍ ، ملي خيانت ، ظلم ، بې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینۍ ، جهل ،تکبر ،ظلم ، ظالم ، بې ایمانۍ ، نه امانت دارۍ ، بې پتۍ ،مظلومیت او داسې نورو بد اعمالو څخه بې پایه نفرت ولري .

دپښتو اوپښتونولی د قانو پر اساس هر پښتون چی دداسی گفتار او کردار سره مخامخ شی د کوم شخه چی د ذلت،خوارۍ، غلامۍ،محکومیت،بی ناموسۍ،بی ایمانۍ،بی پتۍ او داسی نورو بدیو بوی راځی باید دفعتاً یی د پښتونولی د غیرت وینه پر جوش راشی اودهغه کرداراوگتفارپه مقابل کښی جدی ردعمل وښیی.

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون باید د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، د پښتونخوا دمځکني بشپړتیا ، ملي گټو ، ملي نوامیسو او داسې نورو دیني،ملي او پښتني ارزښتونو د دښمنانو څخه بې پایه نفرت ولري .

هرهغه پښتون چې د پښتني ارزښتونو د ښمنانو څخه نفرت نه لري او دهغو سره دوستي او سازش کوي هغه کس پښتون نه بلکې یو بې ننگه شخص بلل کېږي .

## 71:پښتون باید د میني او محبت سره ژوند وکړي:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې دیو پښتون زړه باید همیشه ددینی او پښتني ارزښتونو سره دمیني او محبت نه ډک وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هررښتني پښتون باید تل د پښتو او پښتونولي دقانون ، دویاړلی پښتون ملت،د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتیا ، استقلال ،ملي حاکمیت ،د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ، عزت ،مال ، پښتو ژبې او داسی نورودیني ، ملي او پښتني ارزښتونو د ساتني سره دجنون تر حده مینه ولري .

پښتواو پښتونولي هر پښتون ته امر کوي چې هر رښتني پښتون باید د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق د خپل دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، خپلواکۍ ، د پښتونخواد مځکنۍ بشپړتیا ، ملي حاکمیت ، ملي اقتدار ، ملي یوالي ، ملي قوت ، ملي عظمت ، ملي شان او شوکت ،ملي نوامیسو ، سولې ،د هېواد دازادۍ دلاري د جنگ ، تولنیزي ودي ، اقتصادي ودي ، پښتني رسم ،پښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library



رواج ،پښتني عنعناتو ، پښتني کورنۍ ، پښتني فرهنګ ،پښتني کلتور ، پښتني تاريخ ،د پښتنو تاريخي قهرمانانو ،پښتني لوړ همت ، پښتني ننګ ،پښتني غيرت ،پښتني جرئت ،پښتني ارادي ، پښتني هوډ ،پښتني ثبات ، پښتني استقامت ، پښتني متانت ،پښتني نارينتوب ، پښتني ميړاني ،پښتني ايثار ،پښتني قرباني ،پښتني توريالیتوب ، پښتني ننګياليتوب ، پښتني فداکارۍ ، پښتني مېلمه پالني ، پښتني غېچ ، پښتني ننواتي ،پښتني توري ،پښتني حلم ، پښتني تدبير ،پښتني حوصلي ،پښتني صبر ، پښتني تحمل ، پښتني مرکي ،پښتني جرګې ،پښتني پاکوالي ،پښتني رښتينولۍ ، پښتو ژبي ،علم پرورۍ ،دکار ، زيار ،باعزته او تل پاتی سولې دتامين،دپرديو سره د سيالۍ ،دخپل دين او دپښتو او پښتونولي دلرغوني د قانون دټولو اوامرو سره رښتني او بې زواله مينه ولري .

## 72: دعلم او پوهې په اړه:

لکه څنګه چې د اسلام مقدس دين د زانګو څخه بيا تر قبر پورې پر هر مسلمان نر او ښځه د علم زده کړه فرض کړي ده ، په همدې ډول پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امر کوي چې ځانونه د علم په ګاڼه سمبال کړي ، دا هغه وخت کيداي شي چې دعلم سره مينه ولري او دعالمانو او فاضلانو احترام او عزت وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پيروۍ پښتانه هميشه د خپل استاد او امام ډېر احترام او قدر کوي .

پښتانه د استاد او امام د علم په خاطر ددوی د احترام په باره کې هميشه د سخاوت څخه کار اخلي .

## 73: د اولادونو د تربيې په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې د اسلام مقدس دین امر کوي ،پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امر کوي چې تاسو خپل اولادونو ته مال او دولت مه ډېروي ، بلکې هغوی ته ښه دیني او پښتني تربیه ورکړي ، هغه اولاد چې دینی او پښتني تربیه ولري هغه د مور او پلار د خوا ورته په میراث پاتي مال او دولت ته ضرورت نه لري .

که دچا اولاد ښه دیني او پښتني تربیه ونه لري نو د مور او پلار څخه ورته پاتي مال او دولت به هم ژر برباد کړي .

پښتواوپښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې خپل زامن چې د پښتني ټولنې اینده جوړوي د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق ښه تربیه کړي ، او بې ځایه ډېر ناز مه ورکوي ،ځکه چې ډېر نازد کوچنیانو د بې لارۍ سبب کیدای شي .

د پښتو یو متل داسې وایي: (نازولي زوی بایللي زوی) .

## 74: د اقلیتونو په اړه:

پښتواوپښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي هغه څوک چې د پښتنو تر واک لاندې ژوند کوي پښتانه باید د هغو سره دیو معزز انسان په ډول سلوک وکړي ، پښتانه باید تر خپل واک لاندې انسانانو سره د غلام په ډول چلن ونکړي .

د پښتواوپښتونولي دقانون پراساس هغه اقلیتونه چې په پښتونخوا کې د پښتنو تر قانون او واک لاندې ژوند کوي د هغو سر ، ناموس ، عزت او مال محفوظ دي .

پښتنود پښتواوپښتونولي د قانون مطابق په خپل هېواد کې د نوراديانو او مذاهبو پیروانو ته د هغوی د دیني او مذهبي مناسقو د پرځای کولو پوره ازادي ورکړې وه اوباید همیشه یې ورکړي .

پښتواوپښتونولي د صبر ،تحمل او زغم قانون دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 75: د تنبلۍ او کهالۍ په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د تنبلۍ څخه ځان وساتي ،کار او زحمت وکاږي خپل د کورنۍ او هېواد اقتصاد ته وده ورکړي ،خپل حلال ثروت او سرمایه زیاته کړي ، خوپه عین حال کې پښتنو ته سپارښتنه کوي چې په خپل مال او سرمایه کې خیر ،خیرات ،او سخاوت و کړي ، د خپل مال پواسطه د بیوزلو سره مرسته وکړي ، غریبانو او مسافرو ته ډوډۍ ورکړي ، ځکه چې د بیوزلو لاس نیوي ، سخاوت او ډوډۍ ماری د پښتو او پښتونولي یو مهم اصل دی .

پښتانه لټۍ او بېکارۍ ته په بد نظر ګوري او د بېکارۍ په باره کې داسې وايي: دبیکاره خدای بیزاره

## 76: د اصراف په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د هغه بې ځایه مصارفو او لګښتونو څخه ډډه وکړي کوم چې دین ، پښتو او پښتونولي او اخلاقو منع کړي دي .

## 77: د ځان د ګټې او د بل د تاوان په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته اجازه نه ورکوي چې د ځان د ګټې په خاطر بل پښتون او یا بل انسان ته تاوان ورسوي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د نورو پښتنو د ګټې په خاطر دي پښتون د ځان تاوان وکړي ، خو نور پښتانه دې د تاوان څخه خلاص کړي .

## 78: د ملي امانتدارۍ په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر پښتون کس باید امانت داره وي .

د اسلام مقدس دین مسلمانانو ته امر کوي چې امانات خپل اهل ته وسپاري ،په عین ډول پښتو او پښتونولي هم پښتنو ته امر کوي چې په ورځني ژوند کې همیشه امانتداره واوسی ، د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس په امانت کې خیانت لوي جرم بلل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس د ملت او دولت د چارو واکي يو با ارزښت ترين ملي امانت بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه بايد ددې ملي امانت د ساتلو په باره کې ډېر زيات محتاط وي ،د هېواد د چارو واکي د يو با ارزښت ترين ملي امانت په حيث داسې امانت داره دولتي مشرانو ته وسپاري چې هغوی ددې ملي امانت څخه په پوره صداقت او ايمانداری ساتنه او پالنه کولای شي .

که چېري پښتانه د هېواد د ملي امانت د ساتني په باره کې غفلت وکړي ، د خو پيسو او نورو شخصي ، قومي ، تنظيمي ، ژبني او منطقوي او داسې نورو امتيازاتو په بدل کې د هېواد چارې چې د ملت يو با ارزښت ترين ملي امانت دي نا اهل خلکو ته وسپاري دا دنيا او هغه دنيا به يې دواړه په عذاب وي ، ځکه چې نا اهل دولتي مشران او ددوی نا اهله ملګري د خپل ملت ددين ،سر ،ناموس ، عزت ،مال ،ملي ګټو ، ملي نواميسو ،خپلواکی ،ملي حاکميت ،دهېواد دمځکنی بشپړتيا او داسې نورو ديني ، ملي او پښتني ارزښتونو څخه په لازمه ډول ساتنه اودفاع نشي کولای ، د ملت هر څه برباد ېږي ، پر ملت داسې حالات راځي لکه په تيرو ديرشو کلونو کې چې پر ټول افغان نجيب ملت مخصوصا پر مظلوم پښتون ملت راغلل .

داسلام د مقدس دين د احکامو او د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس که هر هغه پښتون چې ددولتي مشرانو د ټاکلو او يا تعين کولو په باره کې دامانت داری داصل په پيروي د ډېر احتياط څخه کار وانخلي ،او ددې بارارزښت ترين ملي امانت سره په بې تفاوتی او غفلت برخورد وکړي ، اويا په دې لاره کې خيانت وکړي دا کس به په دنيا کې د خپل ملت او په اخرت کې د خپل خداي(ج) په وړاندې مسئول وي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د ملي امانت د ساتلو د مسئوليت په باره کې غفلت او خيانت دواړه ملي خيانت او ستره ګناه بلل کېږي .

## 79 : د شهادت په اړه :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا درس ورکوي چې د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، پښتون ملت ، پښتونخوا ، ملي خپلواکۍ ، ملي حاکميت ، ملي ګټو ، ملي نواميسو ، پښتو ژبې ، پښتو او پښتونوالۍ ، حق ، ننګ ، غيرت ، عزيزګلوي ، پت ، عزت او د اسې نورو ،ديني ملي او پښتني ارزښتونو ددفاع په لاره کې مرګ د هر رښتني پښتون لپاره ستر افتخار او تر ټولو ارزانه قرباني ده ، هر رښتني پښتون بايد په دې لاره کې د مرګ څخه ډار ونه لري او په دې لاره کې مرګ بايد پښتنو ته ډير خوار او حقيروي ، په دې پاکه لار کې شهادت د پښتنو لپاره ابدي افتخار دي .

## 80: د فقر په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتانه هڅوي چې سخت کار او زحمت وکاږي ، د تندي خولې توي کړي ،لاسونه تناکي کړي ،د غره څخه ډبرې پر شا را وړي خو چاته د فقرغوښتلو لاس اوږد نکړي .

د پښتو او پښتونولي قانون که د يو طرفه پښتانه د فقر کولو څخه راګرځوي ، خو په عين وخت کې پښتانه هڅوي چې د غريبانو او محتاجو کسانو لاس نيوي وکړي او د هغوی سره د خپل توان مطابق مرسته وکړي او هغوی نا اميده د خپل درګاه څخه مه ليږي .

---

## 81: د يرغلګرو په مقابل کې د دفاع په اړه:

پښتو او پښتونولي هر رښتني پښتون ته امر کوي چې د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، د پښتونخوا د مځکنۍ بشپړتيا ،خپلواکۍ ، ملي حاکميت ، ملي ګټو ، ملي نواميسو او د اسې نورو ديني ، ملي او پښتني ارزښتونو څخه د يرغلګرو په مقابل کې د خپل سر او مال په قيمت دفاع وکړي .

د پښتو او پښتونولي قانون يا د پښتنو فطرت د تاريخ په اوږدو کې پښتانه دا شوريانو ، داريوش ، سکندر ، عربو ، چنګيز ، کوډتيمور ، بابر ، دبابر د اولاد ، مرهټانو ، ايرانيانو ، انګريزانو ،روسانو او نورو يرغلګرو په مقابل کې د جګړې ميدان ته را ايستلي دي او خپل اينده نسلونو ته يې د بې شماره جانبازيو او د خپل سرونو د قربانيو په قيمت وياړلي تاريخ پريښي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي پښتنو ته دومره واک ورکړیوو چې د بري بيرغ يې د عراق څخه تر بنګال پورې پر اصفهان ، ډهلي او بخارا رپيده .

## 82: د صبر ، تحمل او زغم په اړه :

پښتو او پښتونولي پښتنو ته سپارښتنه کوي چې په ورځني ژوند کې هميشه د صبر ، تحمل او زغم څخه کارواخلي ، د خپل مخالفينو نظر او عمل تر هغه وخته په صبر او تحمل سره وزغمي ترڅو ددوی نظريات او بد اعمال ستاسو دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ،پښتونخوا ، خپلواکۍ ، ملي حاکميت ، ملي نواميسو ملي ګټو اوداسې نورو ديني ، پښتني او ملي ارزښتونو ته تاوان ونه رسوي ، همدا علت دي چې پښتانه په خپل ګاونډ کې د هغه همسايه ګانو سره چې ددوی د ژبې او مذهب سره مخالف هم وي په ورين تندي او ښه سلوک ژوند کوي ، د هغوی نظر ، عقيدي او دين ته په سپکه سترګه نه ګوري .

## 83: د سولې او جنګ په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو پښتون بايد په جنګ کې نهايت توريالي او ميړني وي ، خو د بري په وخت کې بيا بايد ډېر فياض ، بخښونکي او مهربان وي .

ددې ادعا د ثبوت د پاره ژوندي مثالونه د پاني پت په جنګ کې د لوی احمد شاه بابا دخوا د (22000) مرهټه جنګي بنديانو بخښنه او د قنوج په جنګ کې د شير شاه سوري د خوا د مغلو د يو لک مغلي تسليم شوو عسکرو او دهمايون مغل د فاميل بخښنه او ازادول وه .

## 84: د قانون د حاکميت په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتـو او پښـتونولي قـانون پښـتنو تـه امر کـوي چې د پښـتون ملت ټـول وګـړي د قـانون پـر وړانـدې مساوي حيثيت لري . قانون بايد د هېواد پر ټولو وګړو يو شان تطبيق شي .

د مثال په ډول د پښتو او پښتونولي دقانون د جرګې د اصل پر اساس پاچا او فقير دواړه مجبور دي چې په مساوي حيثيت د جرګې پر وړاندې حاضرشي او د پښتني جرګې څخه د عدالت غوښتنه وکړي .

مورږ ددې کتاب په تېرو پاڼو کې ولوستل چې د هندوستان پښتون امپراطور سلطان بهلول لودي به کله چې د پښتنو سره جرګه کوله ، نو د پښتني جرګې د احترام په خاطر به د شاهي تخت څخه راکښته شو او د پښتنو سره به په مساوي ډول پر ټغر کښيناسته .

د پښتو او پښتونولي قانون د ټولنې پر وګړو د قانون د يو شان تطبيق اصل ته ډېر ارزښت ورکوي ،ځکه چې د قانون په تطبيق سره په ټولنه کې "ټولنيز عدالت" تامينږي .

د ټولنيز عدالت د تامين په صورت کې "تل پاتې سوله" بر قراره کېږي .

د تل پاتې سولې د تامين د برکته ولس په ډاډه زړه په کار او تجارت پيل کوي چې د دې لارې د ټولنې اقتصاد وده کوي او ټولنې ته

"رفا او سوکالي" راځي .

د قانون په نه تطبق سره په ټولنه کې "ټولنيزعدالت" د منځه ځي او ځای يې "بې عدالتي" نيسي .

د تاريخ په اوږدو کې هميشه د "بې عدالتی" پرضد "بغاوتونه" راولاړشوي دي ،اودي بغاوتونو او جنګونو د انساني ټولنو ټوله سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز ،ملي اوفرهنګي ارزښتونه ، سوله ،سوکالي ، رفا ، ترقي او نوري ټولي ښېګڼې دمنځه وړي دي اوټولنه يې د زرګونو بد بختيو او کړاونو سره مخامخ کړې ده ، چې ژوندي مثال يې زمونږ د هېواد د تيرو ديرشو کلونو جنګونه دي چې زمونږ د ټولنې پورته ذکر شوي ارزښتونه يې د منځ يوو ړل .

## 85 : د ملي باور په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا هر وګړي باید په دې باور ولري چې دا هېواد دده هېواد دې او په دې هېواد کې دده اودده د کورنۍ د غړو دین ، سر ، ناموس ، عزت اومال د پښتو اوپښتونولی دقانون د خوا محفوظ دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پښتني دولت باید په هیواد کښی داسی شرایط مساعد کړی چی دهیواد هر وګړی پدی باور شی چی دهېواد د نافذو قوانینو په چوکاټ دده ټول حقوق محفوظ دی.

## 86 : د حقوقو د مساوات په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا ټول وګړی باید پدی باور وی چې ددوی هر یو د خپل پوهي ، لیاقت او استعداد پر اساس د قانون مطابق د هېواد هر سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي مقام ترلاسه کولای شی.

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د هېواد دنارینه او ښځینه غړو سیاسي ،اقتصادي او ټولنیزحقوق او وجایب د پښتنو ددین (داسلام مقدس دین) او د پښتنو دفطرتي قانون(پښتو اوپښتونولي) د خوا تشخیص اوتعین شویدي .

## 87 : د تبعیض په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دپښتنو په منځ کښی هرډول قومي ،لهجوی ، مذهبي ، منطقیوي اوجنسي برتري او تبعیض د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف عمل ،ګناه او جرم بلل کېږي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو دولت او ولس باید د هېواد د هیڅ وګړي سره دقوم،ژبی ،مذهب او په خاصه سیاسی ډله کښی د غړیتوب په نوم بد او دتبعیض نه ډک چلن ونکړی.

## 88 : د بیان او عقیدې د ازادۍ په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنو د هر مقام او هر شخص پر وړاندې د پښتني ټولنې د هر وګړي د بيان د ازادۍ تضمين کوي ، خو که څوک د بيان د ازادۍ څخه ناوړه استفاده کوي هغه کس د عامو پښتنو او د جرګې له خوا ملامت بلل کېږي .

## 89 : د دولت او ملت د رابطې په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا دولت د ملت د ازادې ارادې مظهر ، د ملت رښتني خدمتګار ،د هېواد د نافذو قوانينو تطبيق کونکي او د ټولنې د سياسي ،اقتصادي او ټولنيز ژوند پر ترتيب او تنظيم نظارت کونکي ملي ارګان دي .

د پښتونخوا دولت د ملت د ټولو سياسي ، اقتصادي او ټولنيزو ارزښتونو او حقوقو د ساتلو زمواره دي .

هر کله چې د دولت مسئولين د هېواد د نافذو قوانينو څخه سرغړونه وکړي ،بيانو د ملت د خوا ورسپارل شوي خپل ملي او نړيوال مسئوليتونه په ښه ډول نشي انجامولای ، په داسې حالاتو کښې د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق دا د پښتون ملت د هر وګړی ديني ،پښتني او ملي دنده بلل کېږي چې د جرګو ،مرکو او نورو سوله ايزو قانوني لاروپه واسطه د دولتي مسئولينو د خود سرۍ مخه ونيسي ،او د دولت د ستګاه د ملي ژوند د هو ملي ارزښت او ملي ضرورت په حيث داسې اصلاح کړي چې تر خپل ملي او نړيوالو زمواريو په ښه ډول ووتلای شي .

## 90 : د ملي نفاق د مخنيوي په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دولت بايد د داسې اعمالو د کولو څخه جدآ ډډه وکړي چې د پښتونخوا د وګړو ترمنځ ملي وحدت ته ضرر رسوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دولت باید د هېواد د وګړو ترمنځ د ملي وحدت تامین د دولتي نظام د مشروعیت ، د نظام د سیاسي ثبات ، په ټولنه کې د تلپاتې سولې د تامین ، ټولنیزې سوکالۍ او ټولنیز پرمختګ کلک ضمانت وکړي .

د ملت او دولت مشران باید د هېواد د وګړو ترمنځ د ملي وحدت تامین د سترګو د کسي په ډول وساتي ، او په دې باره کې د هر ډول عاطفي ،احساساتي ،منطقوي ،لساني ،مذهبي ،حزبي ،تبعیضي ،مصلحتي ،هڅونستي او داسې نورو منفي میلانو څخه په کلکه ځان وساتي کوم چې د هېواد دوګړو ترمنځ د ملي وحدت تامین ته تاوان رسوي .

د مثال په ډول کوم امتیازات چې دښاغلی حامد کرزي دولت پنجشیریانو او هزارګانو ته ورکړې دی چې ولسوالۍ یې ورته ولایتونه کړل ، په دولت کې یې تر بل هر قوم زیات حق دوی ته ورکړی دی ، د خوشال بابا د لېسې د لیلیې پر ځځکه یې ایت الله محسني ته اجازه ورکړه چې د شیعیه ګانو مدرسه پرې جوړه کړي...

داسې اعمال نور قومونه ددولت څخه ناراضه کوي او د ملي وحدت تامین ته سخت تاوان رسوي .

که پنجشېر او دایکنډي پنجشېریانو او هزارګانو ته ولایتونه کېږي نو شینوارو ، شینوارو، شینډنډ والو ، بکوا والو ،مهمندو ، شغنانیانو او داسې نورو ولسونو ته ولې ددوی د اوسېدو سیمې چې تر پنجشیر او دایکنډي څو برابره زیاته جغرافیه او نفوس لري نه ولایتونه کېږي ؟

حال دا چې د شینوارو او شینډنډ ولسونو هم دې دولت ته درخواستونه ورکړل چې موږ ته د ولایت تشکیل را منظور کړي .

د ښاغلی حامد کرزی په دولت کښې د پښتنو او نورو ورو اقلیتونو حقوق په ډېره بې رحمي تر پښو لاندې شوي دي او ددوی حقوق شوراي نظار ، جمعت اسلامي او حزب وحدت ته ورکول شوي دي چې دې عمل ملي وحدت ته سخت تاوان رسولې دی او پښتانه یې د نظام څخه خوابدي کړیدي ،د نظام مشروعیت، سیاسي ثبات ،د سولې او ملی وحدت تامین یې د سخت خطر سره مخامخ کړیدي .

## 91: دعدالت او انصاف په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي قانون د نړۍ د ټولو دولتونو د نافذو قوانينو په تناسب د جرګې د لاري د پښتونخوا وګړو ته په لږ وخت کې ، ارزانه او د داوړو مخالفو خواوته د قبول وړ عدالت او انصاف وړاندي کوی.

د پښتو او پښتونولي د جرګې سيستم د نړۍ د ټولو نافذو عدلي سيستمونو په تناسب عادل ،با انصافه،ارزانه او چابک سيستم دی .

د پښتو او پښتونوالي د قانون مطابق دولتي او قومي مشران دا پښتني او ملي دنده لري چي په خپل ټول توان او طاقت بايد هاند او هڅه وکړي چې د خپل هېواد ټولو وګړو ته په لږ وخت کې ، ارزانه ، عادلانه او با انصافه فيصلې ورکړي .

د هېواد د ټولو اتباعو سره بايد په ترحم او عدالت برخورد وشي که څه هم هغوی قانوناًمجرمين وي ، دمجرمينو سره بايد عدالت وشي خو ددولتي قدرت څخه په استفاده هر ډول انتقام جويي د پښتو او پښتونوالي د قانون خلاف عمل او لويه ګناه بلل کېږي .

## 92 : د ترقۍ او پرمختګ په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا دولت د ملت د خدمتګار په حيث بايد سخت تلاش او مبارزه وکړي چې هېواد په سياسي ،اقتصادي ، علمي ، فرهنګي ، نظامي او نورو ضروري ساحو کې د ګاونډيو هېوادونو سره سيال کړي حتی تر هغوی يې لانور هم مخ په وړاندي رهبري کړي .

دپښتو اوپښتونولي د قانون مطابق ملت او دولت بايد په اتفاق د خپل هېواد په ترقۍ او د خپل ولس په ارامۍ اوسوکالۍ کې برخه واخلي .

## 93: د بشري حقونو د احترام په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا د ټولو وګړو هغه حقوق محفوظ دي چې د پښتنو دين او د پښتو او پښتونولي قانون دوی ته ورکړیدي .

د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پیروی د پښتني ټولنې دولتي او قومي مشرانو ، حتی عامو خلکو د تاريخ په اوږدو کې زموږ د ګاونډيو هېوادونو په تناسب د بشر حقوقو ته جدي احترام درلود او نن يې هم لري .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په پښتونخوا کې د قتل شوي شخص عزت او حقوق لا هم محفوظ دي ،نو د ژوندی انسان حقوق خو حتما محفوظ دی .

## 94: د اداري فساد په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د ملت د خوا د دولت د چارو د پر مخ بيولو لپاره تعين شوي افراد بايد هیڅکله په ورسپارل شوی وظيفه کې چې د ملی امانت حيثيت لری خيانت ونکړي .

د پښتو او پښتونولی د قانون پر اساس ټول دولتی مامورين د ریس دولت څخه بيا تر کښته ترين مامورپوری بايد ځانونه د خپل دين ،ملت او قانون خادمان وبولی نه د ملت بادارا ن .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر هغه کس چې د دولت د مقامونو د صلاحيتونو څخه د ځان ،کورنی ،دوستانو ،ملګرو ،سياسي او مذهبي ډلي ، منطقي او داسې نورو ناروا اهدافو د پاره استفاده کوي هغه کس ملي خاين بلل کېږي او د ملي خاينانو په ډول بايد محاکمه شي .

## 95:د جرايمو د مخنيوي او شخصی امنيت په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دولت د هېواد د ټولو وګړو د معنوي او مادي ارزښتونو او فزيکي امنيت د ساتلو ذمه وار دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر هغه څوک چې په پښتونخوا کې عامه نظم ګډوډوي ، د ملت سوله ، ارامي او سوکالي د منځه وړي دا کس باید د ملت سره د دښمنۍ په جرم محاکمه شي او سخته جزاوويني .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دولتي او قومي مشران ديني او پښتني دنده لري چې باید په خپل ټول توان تلاش وکړي ترڅو د پښتونخوا په پاکه خاوره کې د جرایمو سطحه صفر ته راکښته کړي ،ترڅو د پښتونخوا او سيدونکي د هرډول امنيتي ډار نه پرته په سوله او امنيت کې ژوند ته دوام ورکړي .

د پښتو او پښتونولی د قانون پر اساس پښتنی دولت باید داسی فضا ایجاد کړی چی د دولت ډاراو هیبت د سببه مجریمین د جرم د کولو جرئت ونشی کړای ،اوعام ولس پرخپل دولت باندی د باورلرلو د برکته دخپل ورځنی ژوند چاری په ډیر ډاد او باور سره پر مخ یوسی .

د پښتو اوپښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا دولتي او قومي مشران مجبوراو مکلف دي چې د پښتونخوا اوسېدونکو ته د هغوی د دین ،سر ،ناموس ،عزت او مال د امنیت ډاډ ورکړي .

## 96: د ملي امنيت په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دولت مکلف دی چې داسې موثر اقدامات وکړي چې د پښتونخوا اوسېدونکي د یو ملت په حیث د امنیت احساس وکړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا دولتي او قومي مشران مجبوراو مکلف دي چې پښتون ملت ته داډاډ ورکړی چی په سیاسي ،اقتصادی ،ټولنیزاو نظامی لیحاظ پښتون ملت محفوظ دی او د هیواد او ملت ملي امنیت ته هیڅ خطرنشته .

## 97: د کورنۍ د امنيت په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتني ټولنې د ټولنيز ژوند اساس پر کورنۍ ولاړ دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کورنيو څخه کهولونه ، د کهولونو څخه پښې او د پښو څخه زي يا خېل او د خېلونو او زيو څخه ستر پښتون ملت جوړېږي .

پښتني ټولنه شايد په نړۍ کې يوازنۍ ټولنه وي چې دانسان قدر او احترام په کورنۍ او ټولنه کې دهغه د سن د زياتوالي په تناسب زياتيږي .

يا په بله وينا په پښتني ټولنه کې چې څومره د چا عمر ډېريږي په هغه اندازه يې په خپل کورنۍ کې قدر او احترام هم زياتيږي .

په پښتني ټولنه کې سپين ږيري بهترين او معقول ترين مشاورين او جرګه کونکي دي .

د پښتنو ټولنه د خپل مشرانو او سپين ږيرو د ژوند دعملي تجريبو څخه ددوی د ژوند تراخيري لحظي پوري استفاده کوي ، حال دا چې په پرمخ تللي غربي نړۍ کې چې څوک زاړه شي نو دا زاړه افراد ددوی د اولادو دخوا دزړو د ساتني ليليو ته ليږل کيږي .

د ټولني دا حقداره زاړه کسان د خپل ژوند دضعيفۍ او ناتوانۍ عمر د خپل کورنۍ دتودي او د محبته ډکي غيږي څخه ليري د تنهايي او يوازيتوب په بې پايه سمندر کې د نا اوميدۍ او ناهيلۍ په حالت کې تيروي .

خو د پښتو او پښتونولي قانون د بشريت دا سترټولنيز مشکل ډېر په ښه ډول حل کړيدي .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه خپل زاړه شوي مشران نه تنها دزړو د ساتني ليليو ته نه ليږي ، بلکې هغوی د ژوند تراخيري لحظي پورې د خپل ګراني کورنۍ د ميني او محبت نه ډکي غيږ کې په عزت او حرمت د کورنۍ د مشرانو په حيث ژوند کوي .

د پښتني کورنيو دا عزتمند مشران کسان د ژوند په اخيرو لحظو کې په داسې حال کې د خپل کورنۍ د غړو څخه د ابد لپاره رخصت اخلي او د خپل بخښونکي خدای(ج) حضور ته روانيږي چې د کورنۍ د ټولو غړو سترګي د جدايي د اوښکو څخه ډکي او پر زړو يې د جدا يې د سوځونکي اور لمبې بلې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس يو رښتني پښتون هيڅ کله هم خپل دکور مشران په هيڅ بهانه هيڅ ځای نه ليږي او د هغوی د ژوند تر اخيري لحظي پورې يې په خپل کور کې ساتي او د خپل توان په اندازه د هغوی خدمت او عزت کوي .

پښتانه د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پيروی دنړۍ يو ميانه روه ملت دی ، خو ددې ټولې ميانه روۍ سره سره د هغو نوو تغيراتو د قبلولو په باره کې دنړۍ تر بل هر ملت محافظه کاره دي کوم چې دپښتنو د کورنۍ د ژوند اساس د منځه وړي .

دنړۍ په ځينې ملتونو کې د عصري توب او ترقي تر نوم لاندې دکورنۍ مفهوم او ارزښت د منځه تللي دي ، هغه ټولنې او د هغو ټولنو افراد اوس په ډېرو سختو ټولنيزو پرابلمونو اخته دي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د ټولنيز ژوند دکورنۍ اصل ته ډېر د قدر په سترګه وګورئ او هغه د پښتني ټولنې د تعمير د بنيادي او اساسي خښتې په حيث د سترګو د کسي په ډول وساتۍ .

کورنۍ د پښتني ټولنې بنياد او اساس دي ،که دپښتنو کورني سالمي ، ابادي ،تعليم يافته ،په اتفاق ، نيکمرغه او په امن کې وي ،نو ټوله پښتني ټولنه به سالمه ، اباده ،تعليم يافته ،په اتفاق ، نېکمرغه او په امن کې وي .

دپښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتانه بايد نه تنها د خپل کورني د غړو فزيکي امنيت ته متوجه شي ، تردې لا زيات بايد دپښتنو د کورنۍ د اصل د ساتلو د امنيت په باره کې فکروکړي ،کوم چې د پښتني ټولنې اصلي اساس او بنياد جوړوي .

## 98: د شخصي ملکيت په اړه:

دپښتو او پښتونولي د قانون پراساس د پښتونو خوا د اوسېدونکو شخصی ملکيت دقانون په حکم محفوظ دي ،دپښتنی جرګی اويامحکمی د حکم څخه بغيرهيڅوک که دولت وی اوکه اشخاص دچا شخصی ملکيت نشی ځنی اخستلای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه د پښتنو د فطرت يعنې د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پيروی د خپل شخصي ملکيت ساتني او حفاظت ته ډېر د قدر په سترګه ګوري او په دفاع کې ئی د سره تيردی .

په پښتنو کې دا دستور دی چې يو زوی د پلار څخه په ميراث وړپاتې جايداد بايد وساتي .

هرڅوک چې د پلار او نيکه څخه وړپاتې ملکيت وبايلي نو په پښتنو کې دې کس ته په ډېره سپکه سترګه کتل کېږي .

اکثره کليوال پښتانه خو لا د پلار او نيکه څخه وړپاتې جايداد ته د ناموس په سترګه ګوري او د ناموس په شان يې د ساتنې په لاره کې د سر قربانۍ ته حاضر دی .

## 99: د ملي ملکيت په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتونخوا پاکه خاوره د پښتون ملت ناموس بلل کېږي .

ټول رښتني او با غيرته پښتانه خپل هېواد ته د مور او ناموس خطاب کوي ، د مور او ناموس په سترګه ورته ګوري ، د مور او ناموس ساتنه او په مور او ناموس پورې متعلق د ټولو مادي او معنوي ارزښتونو ساتنه خپله ديني ، پښتني او ملي دنده بولي .

پښتانه ملي شتمنۍ ته لکه،معادن،دريابونه ،سمندرونه ،رودونه ،غرونه ،دښتونه،هوا ،فضا ، بيت المال ،تاريخي اومعنوی ارزښتونو ،ملي او تاريخي افتخاراتو ،فرهنګي ميراثونو ملي نوامسو ،ملي ګټو او داسی نورو ته د ملي ملکيت يا هغه ملکيت په سترګه ګوري چې په ټول ملت پورې اړه لري .

د پښتو او پښتونولی د قانون پر اساس په ملی شتمنيو کې د پښتونخوا ټول اوسيدونکي د فقير څخه تر پاچا پورې په مساوي ډول شريک دي ،د ملی شتمنۍ ساتنه د پښتونخوا د ټولو اوسيدونکو د مشترک مال د ساتني معني لري .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق هر پښتون مکلف دي چې د ملی شتمنيو څخه د مال او سر په قيمت ساتنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپښتو او پښتونولي دقانون پر اساس پښتانه مجبور او مکلف دي چې د ملي ملکيت څخه د شخصي ملکيت په څېر ساتنه او دفاع وکړي .

## 100: د نظام د اصلاح او عصري کولو په اړه:

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو سياسي او قومي مشران بايد ملت ته د لا ښه خدمت کولو او ددولت ددستگاه د لا ښه ګټور کېدو په خاطر د دولت په دستگاه کې د زماني د ضرورت او ولس د تقاضا مطابق په مسلسل ډول اصلاحات راولي .

## 101:د پښتو او پښتونولي د معنوي ارزښت په اړه:

پښتو او پښتونولي پښتنو ته داورښيي چې ستاسو دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، خپلواکي ، د پښتونخوا مځکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ، ملي اقتدار ، ملي يوالي ، ملي قوت ، ملي عظمت ، ملي شان او شوکت ،ملي نواميس ،ملي ګټې ، سوله او جنګ ، تولنيزه وده ، اقتصادي وده ، پښتني رسم ،رواج ، کلتور ، عنعنات او فرهنګ ، پښتو ژبه ،دعلم زده کړه ،دګاونډيانو او نړيوالو سره ځان سيال کول او داسې نور ديني ، پښتني او ملي ارزښتونه ، په پښتني لوړ همت ، پښتني ننګ ،پښتني غيرت ،پښتني جرئت ،پښتني ارادي ، پښتني هوډ ،پښتني ثبات ، پښتني استقامت ، پښتني متانت ،پښتني نارينتوب ، پښتني ميړاني ،پښتني ايثار ،پښتني قربانۍ ،پښتني توريالیتوب ، پښتني ننګيالي توب ، پښتني فدا کارۍ ،پښتني حلم ، پښتني تدبير ،پښتني حوصلي ،پښتني صبر ، پښتني تحمل ، پښتني مرکي ،پښتني جرګې ،پښتني پاکوالي ،پښتني رښتينولۍ ، پښتني توره او د پښتو او پښتونولي دلرغوني وياړلي قانون څخه په پيروۍ ساتل کېږي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا ورښيي چې پښتون په پښتو او پښتونولي ساتلي دي يعني دا چې د پښتو او پښتونولي قانون د پښتنو د ساتني لپاره د يو محکمې کلا حيثت لري ، که پښتانه د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پښتونولي د قانون پیروي وکړي نو پښتانه به دومره قوي او غښتلي ملت شي چې د نړۍ هیڅ بل ملت به دا توان پیدا نکړي چې پښتانه غلامان او تر خپل کنترول لاندي راولي ، پښتانه به د نړۍ د خپلواکو او سرلوړو قومونو په قطار کې سرلوړي ولاړ وي .

خو که پښتنو پښتو او پښتونولي پرې ښودل او د خارجي وارداتي ایډیالوژیو او نظریو پیروي یې شروع کړل ، نو د نن په شان به یې هرڅه بایللي وي او په خپل هېواد کې به دبل چا غلامان وي او د ذلت او مریتوب ژوند به تیروي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا درس ورکوي چې تاسو د ژوند د هرډول مشکلاتو او پرابلمونو څخه صرف هغه وخت ځان خلاصولی شي چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق خپل دژوند چارې عیاري کړي .

پښتو او پښتونولي هغه رڼاده چې پښتانه د ژوند په پېچلو او تیارو لارو کې د همدې رڼا پواسطه سمه او بې خطره لار پیدا کولی شي او ځانونه د خطرونو څخه بچ کولی شي،او انشا الله چې اخرت به یې هم په خیر وی.

## 102: د پښتو او پښتونولي ارزښت په لنډو ټکو کې:

پښتو او پښتونولي د پښتنو لپاره هغه بې زواله ارزښت او معنوي وسله ده چې پښتون ملت د دې معنوي وسلې په لرلو سره خپل ټول افتخارات ساتلای شي ، د دې معنوي وسلې په واسطه د دښمن د هر نظامي ، سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي یرغل په مقابل کې مقابله کولای شي .

پښتو او پښتونولي د ستر پښتون ملت د ننګ شمله ده .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت پښتني غرور او استغنا ده .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت د بقا ضامن ده .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت روح دی ، بې روحه موجود مړ شمېرل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي د پښتون ملت د یوالي سرېښ دي ، بغیر له پښتو او پښتونولي پښتون ملت پر بل هیڅ نظر نشي سره راټولېدلای او یو موټی کېدلای .

پښتو او پښتونولي د پښتون ملت فطرت دی ، که پښتون ملت د پښتو او پښتونولي اطاعت پرېږدي یعنې خپل فطرت یې پرې ښودی ، بې فطرته موجود هیڅ قدر او ارزښت نه لري .

پښتو او پښتونولي د پښتني مېرمنې ګاڼه ، د پښتني مېرمنې ښکلا ، د پښتني مېرمنې د سر پوړنی او د پښتني مېرمنې پښتني حیاده .

پښتو او پښتونولي د هر رښتني پښتون د عزت شمله ده .

پښتو او پښتونولي د پښتنو لپاره بې پایه تاریخي افتخار دی .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته وایی چې پښتو ژبه ستاسو ملی پېژند ګلوی ده ، د پښتنو د پاره په پښتو خبرې کول افتخار دی .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې په خپل ذات یعنې پښتونتوب افتخار وکړي ، پښتونتوب یا پښتونوالی د پښتنو لپاره لوی ویاړ او د شرافت معیار دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هر رښتني پښتون باید په خپل لرغوني قانون یعنې ( پښتو او پښتونولي ) ، په خپل ذات یعنې

( پښتونتوب یا پښتونوالی ) ، په خپله مورنۍ خوږې ژبې یعنې

( پښتو ) ونه شرمېږي ، بلکې افتخار پرې وکړي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې هر رښتني پښتون باید په هرځای او هر وخت کې په افتخار سره ووایي چې :

**زه مسلمان یم.**

**زه پښتون یم .**

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه پښتو مې مورنۍ ژبه ده .

پښتو او پښتونولي مې قانون دی .

پښتونخوا مې وطن او د پلار نیکه مدفن دی.

يورښتنی پښتون داسی تعریفولایشو:

د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق رښتني پښتون هغه چا ته ویل کیږی چی د هغه نظر او عمل د اسلام، پښتون، پښتو او پښتونخوا په خدمت کښی وی.

پښتو او پښتونولي د ښېګڼي او بريالیتوب پر لورد پښتون ملت رهنما ده ، بېله پښتو او پښتونولي پښتانه خپل لاره ورکوي او تل به نا کامه او سرګردانه ګرځي او د ذلت او غلامۍ ژوند به تېروي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا يادونه کوي چې که پښتنو په خپل ورځني ژوند کې د خپل دين او د پښتو او پښتونولي پيروي کول نو په دنيا او اخيرت کې به سرلوړي او بريالي وي ، خو که پښتنو پښتو او پښتونولي ته شا ور وګرځول نو په دنيا کې به بې پته ، بې عزته ، بې وقاره ، خوار زار ، بې اتفاقه ، بې واکه ، بې لاري ، غلامان ، ذليل ، شرمېدلي ، مظلوم او رټلی وی او په اخرت کې به په دې جرم دوزخ ته درومي چې په دې دنيا کې يې پر ځان د ظالمانو ظلم منلی دی .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته يادونه کوي چې که پښتنو پښتو او پښتونولي وبايلل نو هر څه به بايلي او هيڅ داسې شي به ورته پاتې نشي چې په ونازيږي ، او د هغه لپاره ژوندي پاتې شي ، يعنې دا چې پښتون پښتو او پښتونولي (د پښتنو فطرت ) ونه لري نو هيڅ شي نه لري .

هرپښتون چی پښتو او پښتونولي ونه لری بې فطرته کس بلل کيږی ،ځوک چې فطرت ونه لري نو هيڅ شي نه لري او يو بې ارزښته موجود دې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتو او پښتونولي د پښتنو عزت ،ابرو ،شرف ،ناموس ، وجدان ،ایمان ،سمه عقیده ،حیثیت ،میړانه ، غیرت ، قول ، وفا ، ننګ ، توره ، ثبات ، استقامت ، مېلمه پالنه رښتینولي ،دظلم په مقابل کې مقاومت ، د مظلوم څخه ددفاع حس او داسې نور ښه صفات دي .

هر پښتون چې پښتو او پښتونولي ونه لري په حقیقت کې پورته ذکر شوي صفات نه لري ، کوم پښتون چې پورته ذکر شوي صفات ونه لري دداسې انسان څخه بد ژوي هیڅ وجود نه لري .

د پښتو او پښتونولي دقانون پر اساس دهر رښتني پښتون د ژوند یو ازني هدف د پښتو او پښتونولي دقانون څخه د سر او مال په قیمت دفاع او په ورځني ژوند کې د پښتو او پښتونولي د قانون پیروي ده چې په لاندې ډول خلاصه کېږي .

د یو رښتني پښتون دژوند اساسي ترین اهداف باید دخپل دین ، سر ،ناموس ، عزت ، مال ، د پښتونخوا مځکنۍ بشپړتیا ، خپلواکۍ ،ملي حاکمیت ،ملي ګټو ، ملي نوامیسو ، د پښتنو خدمت او داسې نورو دیني او پښتني ارزښتونو څخه دفاع وي .

پښتو او پښتونولي پښتنو ته دا حقیقت ورزده کوي چې د پښتون وګړي حیثیت د پښتون ملت د حیثیت سره مستقیم تړاو لري ، که پښتون ملت په عزت وو ، د دې خبرې معني داده چې د پښتون ملت هرفرد په عزت دي ، خو که پښتون ملت بې عزته وو نو د پښتون ملت د جملې څخه چې څو د ګوتو په شمېر مشران که هر څومره په ناز او نعمت کې ډوب ژوند کوي بیا هم لوڅ لپړ دي او یوه زره حیثیت ، ابرو او عزت نه لري ، د دې خبرې معني داده چې یو رښتني پښتون باید د پښتون ملت خد متګاروي او خپل د ځان عزت د خپل پښتون ملت په عزت کې ووینې .

د پښتو او پښتونولي قانون د پورته ذکر شوو څو ډېرو لنډو یادونو مجموعه نه ده ،بلکې پښتو او پښتونولي د پښتنو د فطرت او روح په حیث دداسې لرغوني قوانینو مجموعه ده چې د لیکلي تاریخ څخه د وړاندې زمانو راهیسې د پښتنو د فطرتي قانون په حیث دوی د خپل ټولنې د سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیزو او نظامي چارو د قانونمند کیدو لپاره د قانون په حیث منلي ده ،او ترنن تاریخ پورې یې هم هر رښتني پښتون د قبول وړ قانون په حیث مني .

پښتو او پښتونولي دومره پراخه قانون دي چې د پښتني ټولنې د ژوند هر اړخ او د پښتني ټولنې د افرادو هر ډول کړه وړه هم په کې تشریح شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیله ده چی پښتانه عالمان او څیړونکی به پدی اړه لانوری څیړنی او تحقیقات وکړی او د پښتو او پښتونولی د لرغونی قانون زیاته برخه به په کتابونو کښی نویشته او پښتنو او نړۍ ته به یی وړاندی کړی.

پښتو او پښتونولي يو ډېر فراخ او هر ارخيز قانون دي ، انساني ټولنه او تمدن چې هر څومره پر مخ ځي د مثبتو ارزښتونو د پاره يې د پښتو او پښتونولي په قانون کې د منلو ځای شته .

پښتو او پښتونولي د پښتنو دفطرت او روح په حيث د اسې قانون دي چې د هر رښتني پښتون په وينه ګډ شوي دي او د هر پښتون د مغز ، احساس او عاتفي يوه برخه ګرځيدلي ده .

هرپښتون چې په رګونو کې يې په رښتيا پښتني ويني جريان لري د خپل وجدان پر اساس ځان مجبور او مکلف بولي چې بايد د پښتو او پښتونولي د قانون اطاعت وکړي .

پښتو او پښتونولي هغه ابدي قانون دي تر څو پښتون ملت د مځکي پر مخ ژوند کوي دا د پښتنو فطرت ،داد پښتنو روح او دا د پښتنو قانون به ددوی سره ملګري وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## د مغولو او ایرانیانو د اشغال پر ضد د پښتنو (544) کلنو ډغرې او مقاومت.

کله چې د شرق پر مځکه د خدای(ج) قهر د چنګېز او د هغه د اولاد په شکل کې نازل شو او د شرق د ټولو قومونو هرڅه یې تبا او برباد کړل ، د پښتونخوا پاکه خاوره او پښتون ملت هم د دې ناولي ، ویجاړونکي او وژونکي طوفان څخه په امان کې پاتې نشو .

د(616 هـ) په شاوخوا کې د چنګیز د وحشي فوځونو د خوا پر پښتونخوا ویجاړونکي حملې او ناتارونه شروع شول ، په میلیونونه انسانان یې قتل عام کړل ، د پښتونخوا ټول اباد ښارونه یې وران او په کنډوالو بدل کړل ،زراعت او صنعت یې د نابودۍ تر حده ورساوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دترحم سره نا اشنا او د تمدن ستر دښمن چنگيز مغل

چنگيز د پښتونخوا ټول ښارونه مخصوصا د غزني ښار چې په هغه وخت کې د نړۍ د ښارنو ناوي او په آسيا کې دتهذيب ، تمدن ، ثقافت او د علومو ستر مرکز بلل کيدي ديوه سره تباه او برباد کړي .

شاهي ماڼۍ ، ښکلي تعميرونه ،مدرسي ، کاروان سرايونه ، ښايسته باغونه ، دزراعت سيستمونه اوداسې نوري ابادۍ يې ټولي د خاورو په انبارونو تبدلي کړي .

درحم اوتمدن د لفظ سره نا اشنا چنگيز ،د هغه اولادونه اودهغو فوځ د پښتنو اوپښتونخوا لپاره د خداى(ج )دقهريوه نمونه وو .

پښتنود پښتو اوپښتونولي د قانون په پيروي چې د هر ظالم ، ستمگر او اشغالگر په مقابل کې به مقاومت کوي او هغه به د خپلي پاکي خاوري څخه باسي د چنگيز او دده ترمرگ وروسته د هغه د اولاد پرضد په پښتونخوا کې د مغلو د ټول وحشت او دهشت باوجود د مغلو د سلطي پرضد د ازادۍ غوښتونکو ملي مبارزو بيرغ تل رپانده وساتي ، هم دا علت دي چې مغلو پښتنوخوا د پښتنو د تقريبا پنځه نيم سوه کلن ازادي غوښتونوکو ملي مبارزو په جرم څوځله د خاورو سره برابره کړل .

<u>مغلو په خپل ټول مغولي وحشت او بربريت د پښتنو دازادۍ شمعه خاموشه نشوه کړاي .</u>

موږ دلته د مغلو پرضد د پښتنو د ملي ازادي غوښتونکو مبارزو او مبارزينود اوږد لست څخه صرف څو محدودي پيښي او ملي مبارزين ولوستونکو ته په ډېر لنډ ډول معرفي کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اول:د مغلو خلاف د کرت کورنۍ مبارزي:

د مغلو د وحشت او دهشت با وجود چې مغلو په ټول شرق کې شروع کړيوو ، د غورپښتني شاهي کورنۍ ته منسوب " شمس الدين کرت " په هرات کې د مغلو د تسلط څخه ازاد د پښتنو د سلطنت د يوي نوي سلسلي بنياد کيښود .

د پښتنو دي سلطنت د (1245 ع ) بيا تر (1383 ع) پوري دوام وکړي .

د پښتنو د کرت کورنۍ شاهانو د مغلو د چور ، چپاول ، لوټمار ، ناتارونو او ورانيو پر خرابو نوي او منظم نظام جوړ کړي .

د پښتنو د سلطنت دي نوي دوري بيا په هېواد کې د علم ، فرهنګ ، تجارت ، صنعت او د ژوند په نورو ساحو کې د پرمختګ او ترقي مناسب شرايط برابر کړل او هېواد يې د ترقي او پرمختګ پر لور رهبري کړي .

د پښتنو د سلطنت دا سلسله بيا په ( 1383 ع) کې د مغلو د يو بل سفاک ګوډ تيمور د يرغل په واسطه د منځه ولاړل .

ګوډ تيمور په (1380 ع )کې د امو تر سند را پوروتې اندخوي ، سرخس او فوشنج يې ونيول ، د هرات اخيري پښتون پاچا ملک غياث الدين ته يې استازي وليږي چې بې قيد او شرطه د هرات واکمني تيمور ته تسليم کړي خو پښتون غياث الدين د تيمورغوښتنه ونه منل د جنګ په نتيجه کې ملک غياث الدين او دده زامن د تيمورد خوا ګرفتار او په شهادت ورسيدل .

تيمور سيستان ، فراه ، شين ډنډ ،بست ، قندهار او د پښتنو نوري سيمي د اسې وراني کړي چې کنډوالي يې تر اوسه ليدل کيږي .

د دې سيمو اکثره وګړي يې قتل عام کړل او د هغو د سرونو څخه يې منارونه جوړ کړل .

ګوډ تيمور هم د خپل ويني چښونکو پلرونو او نيکو نو په شان د پښتنو هرڅه لوټ ،تالان او برباد کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د کرت د شاهي کورنۍ د (138 ) کاله سلطنت په دوران کې چې څه ابادۍ په پښتونخوا کې شوي وې د ګوډ تیمور د وحشت اوبربریت د طوفانو په واسطه بیا د خارو سره برابري شوي .



د چنګېز لمسی د تمدن دښمن مغل ګوډ تیمور

## دووهم:د مغلو پرضد دهوتک بابا مبارزي:

د مغلو د تاړاکونو پر ضد دپښتنو د ملي مبارزو په لست کې د هوتک بابا مبارزې هم دنورو پښتنو مبارزینو په شان ډیرد قدر وړ دي .

په سورغر کې هوتک بابا د مغلو سره په ډېره مېړانه جګړه وکړل او د خپل هېواد د ازادۍ په لاره کې د وحشي مغلو په مقابل کې خپله مېړانه ښکاره کړل .

د پټې خزانې په حواله هوتک بابا د بارو زوی ، د تولر لمسی او د غلجي بابا کړوسی دی او په (661 هه) کې زېږدلی دی .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پټې خزانې په روایت هوتک بابا چې لوی شو نو په "اتغر"(اوس د زابل ولایت یوه ولسوالي ده ) کې د قوم مشر شو .

په هغه وخت کې به مغلو د ارغنداو( دزابل ارغنداب ) پر غاړه لوټ کاوه ، اتغر ،اولان او قلات به یې تالا کول .

د مغلو دا تاختونه هوتک بابا برداشت نه کړای شول نو خپل قبایل یې راغونډ کړل او په سورغر یې د مغلو سره جنګ وکړ ، په جنګ کې پښتانه کامیاب او ډېر مغول ووژل شول ، ددې جنګ نه علاوه د مغلو او پښتنو ترمنځ نور جنګونه هم د هوتک بابا په مشرۍ کې شویدي .

دا جنګونه د هوتک بابا نه پس د هغه زوی ملک یار بابا ته په میراث کې پاتې شول ، او ترهغه ورسته هم پښتنو د مغلو برضد مبارزی جاری ساتلی وی او دا مبارزی د هوتک باب د کورنۍ او نورو پښتنو مشرانو د خوا رهبری کیدی .

هوتک بابا په (740 هه ) کې د (79 ) کالو په عمر وفات شو .

د سورغر په جنګ کې به هوتک بابا دا سندره ویل او خپل شازلمي به یې جنګ ته پارول .

## د هوتک بابا سندره:

پـــــــه ســــــــور غـــــــــر بـــــــــل راتـــــــــه نـــــــــن اوردی
وګړیــــــــــه جــــــــــوړ راتــــــــــه پیغــــــــــوردی
پــــــه کلــــــــي کــــــــور بانــــــــدي مغــــــــل راغــــــــی
هــــــم پــــــه غزنــــــي هــــــم پــــــه کابــــــل راغــــــی
غښتـــــــــلیو ننــــــــــک کـــــــــــړئ دا مــــــــــــو واردی
مغــــــــــل راغلــــــــــی پــــــــــه تلــــــــــــواردی
پــــــــه پښــــــــتونخواکي یــــــــــي ناتــــــــــاردی
پـــــــر کلــــــــي کــــــــور بانــــــــدي مغــــــــل راغــــــــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای د مرغۍ غښتلو راشئ
په ننګ د واړه پښتونخوا شئ
توري تېري غشي تر ملا شئ
پر کلي کور باندي مغل راغی

ځلمو په غشو کړئ وارونه
د تېرو تورو ګوزارونه
وروړاندئ کړئ خپل ټټرونه
پر کلي کور باندي مغل راغی

زما د ځلمو وینې بهېږي
مزکه او غرونه پري سره کېږي
میرثي زغلي او ترهېږي
په کلي کور باندي مغل راغی

پښتنو هلئ په غوره جنګ دی
سورغر په وینو ددوی رنګ دی
مهال د توري دی د ننګ دی
پر کلي کور باندي مغل راغی

ځلمو په ننګ ځانونه مړه کړئ
دښمن په غشو موپیله کړئ
د پښتونخوا مزکي ساته کړئ
پر کلي کور باندي مغل راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته تاريخي پېښو څخه دا معلومېږي چې که څه هم يرغلګرو مغلو په پښتونخوا کې د پښتنو د يو منظم دولت د جوړېدو مخه ونيول خو مغل هم د خپل پنځه نيم سوه کلن حضور په دوران کې چې په دې منطقه کې يې درلود پر دې ونه توانيدل چې پښتانه په مکمل ډول خپل تابع کړي .

د مغلو په مقابل کې ملي مبارزي د پلار څخه وزوی ، لمسي او کړيوسي ته پاتي کيدي ، لکه د هوتک بابا د مغلو ضد مبارزي چې دده زوی ملک يار بابا ته په ميراث پاتې شوي او په همدې ډول ميرويس نيکه په اتم پښت کې هوتک بابا ته رسيږي .

## درييم:پښتانه او سفاک بابر مغول:

دګوډ تيمور تر ظلمونو او تاړاکونو وروسته د هغه يو سفاک لمسي ظهرالدين محمد بابر او د هغه اولادونو هم په سوونو کلونو دپښتنو او پښتونخوا سره د خپل ظالمانو پلرونو او نيکو په شان ظلمونه وکړل .

پرپښتونخوا باندې د مغلو د يرغلونو او تاړاکونو په ټوله پنځه نيم سوه کلنه دوره کې پښتو اوپښتونولي پښتانه په ډېره ميړانه د خپل ازادۍ ، ملي ګټو او ملي نواميسو څخه ددفاع په خاطر سرو نه پلاس ديرغلګرو مغلو سره د مبارزي ميدان ته را ايستلي وه .

د مغلو پر ضد د پښتنو په ازادي غوښتونکوغزا ګانو کې په ميلونو پښتانه شهيدان شول ،د پښتونخوا د پاکي خاوري هره ابادي د خاورو سره برابره شول ، اودپښتونخوا د پاکې خاورې هره لويشت د پښتنو غازيانو او مظلومو شهيدانو په پاکو وينو سره شوه .

بابر مغول د يو فاتح په څيرنه بلکه دپسو ، بزو ،غويو ،ګا وميښو ، اسانو ، جوارو ،اوربشو ، غنمو ، کرتو ، کورتوبو ، غوړو ، کراستو او کمبلو ، کاسو ،قاچقو او ديګو د غله په څير د پښتنو پر کليو او کورونو حملي کولي او د هغو د کورنو څخه يې پورته ذکرشوي حيوانات ،غلجات اوشيان چوراو غلا کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابر مغول کړه وړه و يو سلطان يا فاتح ته ورته نه وه ، د هغه ټول خواص او عادات د حيواناتو ، مرغانو او غلو دانو د غله او يو بې بندوباره ،سپک ،لوچک اوبد اخلاقه بد معاش خواصو او عاداتو ته ورته وه .

دمغلو دټولو ظلمونو با وجود د مغلود واکمنۍ په ټوله پنځه نيم سوه کلنه دوره کې پښتنو د هغو سلطه پر ځان ونه منل او د مغلو په مقابل کې يې خپل ملي ازادي بخښونکو مبارزوته دوام ورکړي .

موږ نه شو کولای چې په پښتونخوا کې د مغلو پر ضد د پښتنو د ازادي غوښتونکو ملي مبارزو ټول جريان په دې کتاب کې په تفصيل سره وليکو ځکه چې دا کتاب د تاريخ کتاب ندی بلکه په ځينو مواردو کښې د ضرورت له مخې ځينو رښتينو تاريخی پيښو ته ډيری لنډی اشاری شويدی.

موږ دلته په پښتونخوا کې د بابر او دهغه د اولاد د ظلمونو په مقابل کې د پښتنو د ملي مبارزو د جملي څخه صرف دنموني په ډول څو پيښو ته ډېره لنډه اشاره کوو .

بابر د چنګيز او ګوډ تيمور د اولاده څخه وو او د خپل اسلافو څخه يې ورانې ، خونخوارې ، وژل ، په غلامۍ نيول ، چور او چپاول په ميراث وړي وه .

بابر د خپل تره الغ بيګ ميزا تر مرګ وروسته (1504 ع) کې د کابل حاکم شو او د (22) کلونو لپاره د کابل حاکم پاتې شو .

په کابل کې د بابر(22)کلن اقتدار د پښتونخوا د بې دفاع پښتنو په وژنه ، دهغو د سرونو څخه د منارونو په جوړونه ، او د پښتنو د سر ،ناموس ، عزت اومال په چور او چپاول تېر شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





دګود تيمور لمسی د پښتنو د سر ،مال او عزت دښمن بابر مغول

## 1 : پر بنګښو د بابر حمله:

بابر چې کله د خپل ظالم تره الغ بیک تر مړینې وروسته په کابل کې د مغلو د نظامي چونۍ پاچا شو ، دده لومړی کار دا وو چې د خپل مغولي منظمو فوځونو سره د بې دفاع او بې ګناه پښتنو د چور او چپاول په نیت د بنګښو پر سیمه حمله وکړي .

بابر د مغولي عادت مطابق ډېر زیات بې دفاع مظلوم بنګښ شهیدان کړل، دمظلومو پښتنو شهیدانو د سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل .

بابر او د هغه وحشي فوځونو د مظلومو بنګښو سر ، ناموس ، عزت او مال لوټ کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: پر هنګو د بابر حمله :

تر بنګښو وروسته بیا بابر د خپل منظم مغولي فوځ په واسطه دهنګو د مظلومو او بې دفاع پښتنو په چور او چپاول لاس پوري کړي .

ظالم او قاتل بابر د هنګو د مظلوم او بې دفاع پښتنو څخه دومره کسان شهیدان کړل څومره چې پلاس ورغلل ، او د پښتنو د دې پاکو او مظلومو شهیدانو د سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل .

بابر مغول دبې همته غله په شان د هنګو د مظلومو پښتنو سر , ناموس ، عزت او مال لوټ کړي .

## 3: پر بنو د بابر حمله:

تر هنګو وروسته وحشي بابر په خپل منظم مغولي فوځ سره د "بنو " پربې دفاع اومظلومو پښتنو حمله وکړل،اودومره مظلوم"بنوڅي " یې شهیدان کړل چې د بابر وحشي فوځونو کولای شول ، او د دې مظلو شهیدانو د سرونو څخه یې منارونه جوړکړل .

بابر د نورو پښتنو په شان د " بنو " د پښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال لوټ کړي .

## 4: پر غلجو د بابر حمله:

په (1507 ع) جابر بابر د خپل وحشي مغولي فوځ په واسطه د غزني په شاوخوا کې د غلجي پښتنو پر کیږدیو حمله وکړل .

بابر د خپل توان په اندازه بې دفاع مظلوم غلجي پښتانه شهیدان کړل ، او د دې مظلومو شهیدانو سرونه یې د تنه پري کړل او منارونه یې ځني جوړ کړل .

بابر د دې بې دفاع او مظلومو غلجي پښتنو ، سر ، ناموس ، عزت او مال چور کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابر وايي چې د غلجي پښتنو تر وژلو وروسته مو پړد غزني دولاړو او بو پر غاړه دمه وکړل ، شراب مو وڅښل او معجون مو وخوړل . . .

بابر وايي چې د دې محیط اب او هوا ډېره خوش ګواره او زړه راکښونکي وه .

جابر او وحشي بابر مغول او دده ملګري په داسې حال کې شراب څښي ، معجون خوري د عیش او نوش ، ساز او سرود محفل جوړوي چې د مظلومو غلجي پښتنو پاتي ښځې او ماشومان د شهیدانو د سرونو په منارونو کې د خپل شهیدو پلرونو او وروڼو سرونه او تني لټوي چې سر یو ځای یې کړي او خاورو ته یې وسپاري .

په کوم وخت کې چې د مظلومو غلجي پښتنو د ویر ساندي او ناري چې د خپل عزیزانو د شهادت او ورکیدو په مناسبت یې کولي و اسامانو ته رسیدي ، په عین وخت کې د دې مقام څخه لړلیري وحشي او خونخوار بابر مغل او دده ملګري د شرابو په نشه کې مست و ساز او سرود ته رخصیدل .

## 5: پر مهمندو د بابر حمله:

په(1508 ع) بابر او دده وحشي فوځ د مهمندو مظلوم او بې دفاع ولس ولوټلي ، دهغوی هرڅه یې څني ولجه او غلا کړل ، اویوزیات شمیر مظلوم او بې دفاع مهمند یې شهیدان کړل او د دې شهیدانو د سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل .

## 6: پر یو سفزو د بابر حمله:

تر مهمندو وروسته بابر پر یو سفزو حمله وکړل د هغو فصلونه او مالونه یې چور او تلا کړل د انسانانو د سرونو څخه یې منارونه جوړ کړل ، خو د یوسفزو مقاوت یې ورمات نه کړای شو .

د خپل واکمنۍ په وروستي وخت کې وحشي بابر ته د هندوستان د نیولو فکر پیدا شو چېري چې پښتون سلطان محمد ابراهیم لودي سلطنت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بابر ته دا معلومه وه چې دده وحشي مغولي فوج دا توان لري چې د پښتنو پر یوه یوه بې دفاع قبیله حمله وکړي ، هغوی شهیدان او مالونه یې چور کړي،خو د هند د پښتون سلطان سره د مقابلي توان نه لري .

نو په دې اساس وحشي بابر د بل شیطاني چل څخه کار واخستي ، د پښتنو ترمنځ څخه یې ځني بې ننګه او پښتون ملت ته غدار قومي ، مذهبې مشران او پیران په خو پیسو او نام نهاده مقامو رانیول ، او هغوی ته یې وظیفه ورکړل چې په پښتنو کې دا تبلیغ وکړي چې بابر مسلمان پاچا دي ،د اسلام د دین مطابق یو مسلمان مجبور دي چې اول د خداي (ج) اطاعت وکړي ، دوهم د خداي (ج) د رسول اطاعت وکړي او وروسته بیا د پاچا اطاعت وکړي .

دي ملت فروشو ،غدارو او ټیټ صفته قومي او مذهبې مشرانو او پیرانو د پښتنو قاتل ،د پښتنو د سر ، ناموس ، عزت او مال غل ، ظالم ، خونخوار او جبار بابر بې سیواد او ساده پښتنو ته د مسلمانانو د پاچا په نوم معرفي کړي او پښتانه یې د اسلام د دین د نظره د ظالم او قاتل بابر په اطاعت مکلف وبلل .

د پښتون دین او ملت ته غدارو مذهبې او قومي مشرانو او پیرانو ساده او بې سیواده پښتانه تشویق کړل چې د خپل پلار او نیکه د قاتل او د پښتون ملت د ازلي او ابدي دښمن بابر مغل سره د "اسلام" په نوم ملګري شي او دهغه سره هند ته د پښتون پاچا سلطان ابراهیم لودي پر خلاف د "جهاد" کولو په نوم ولاړ شي.

ایا د پښتون پاچا سلطان محمد ابراهیم لودی پر ضد د ظالم وحشی او غله بابر جنګ ته جهاد ویل کیږی؟

هیڅکله نه،په حقیقت کښی دا عمل د یو مشروع مسلمان پښتون

پاچا پرضد دمغلو دغلو د ډلګی دبغاوت ،غلا او لوټ عمل وو ،

خو بی ایمانه ملت فروشو او دین فروشو خانانو ،ملکانو ،پیرانو او ملایانو ساده پښتنو ته د جهاد په نوم معرفی کړیوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو دمخالفت او نفرت دمنځه وړلو په خاطر بابر مغل د يو سفزو د يو مشر "ملک منصور " لور " مبارکه " ځانته وغوښتل اود دې لاري يې د پښتنو د ځينو غدارو قومي او مذهبي مشرانو په واسطه د اسلام په نوم د پښتنو څخه فوځ جوړ کړي .

بابر د دې پښتني فوځ په واسطه په هند کې د پښتون سلطان ابراهيم لودي سلطنت دمنځه يوړي .

پښتنو په هندوستان کې د لودي پښتنو سلطنت ړنګ کړي او د هند سلطنت يې د پښتون ملت د سر ،ناموس ،عزت او مال ازلي دښمن بابر مغل ته ونيوي .

خوشال بابا په دې باره کې داسې وايي:

بيا د پاسه دډهلي پاچا بابر شه * چې يې کارد پښتانه په برکت وو .

دبابرسره ملګرو پښتنو په خپل دي ننګين ،غيري پښتني ، غيرشعوري ،غيري انساني او غيري شرعي عمل د (221) کلنو لپاره نور دخپل پلرونو او نيکو قاتل ، د پښتون ملت د سر ،ناموس ، عزت اومال لوټمار وحشي ،جبار او قاتل بابراو دده وحشي او قاتله کورني پر پښتنو حاکمان کړل .

دبابرسره ملګرو پښتنو په خپل دي ننګين ،غيري پښتني ،غيري شرعي او غيري انساني عمل دهند پراخه دولت او زرايع دپښتنو د سر ، ناموس ، عزت او مال د ازلي دښمن بابرمغل پلاس ورکړل .

دبابرسره ملګرو پښتنو په خپل دي تاريخي غلطۍ د (221) کلنو لپاره نور هم دخپل سر ،ناموس ، عزت او مال د لوټولو حق په خپل لاس او خپله توره مغلوته ورکړي ، او جابرو مغلو هم د خپل خونخوارو او قاتلو پلرونو او نيکونو دعادت په شان د (221) نورو کلنو لپاره د پښتنو شهيدانو د سرونو څخه منارونه جوړکړل ،او دپښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال يې په مغلي بې رحمۍ لوټ کړي .

بابر يو بد اخلاقه لواطت کار،غل ،قاتل او د انسانيت مخصوصا د پښتنو ستر دښمن او قاتل وو .

هغه د خپل حرم د ښځو سره لږ جنسي تعلقات ساتل دده په قول کله به په لس ، شل او حتي څلويښت ورځو کې حرم ته دده مور په زور بيولي .

د بابرجنسي تعلقات د هلکانو سره وه ، دده مشهور هلک (بابري) نوميدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بابرمينه د (بابري) سره د ليونتوب تر حده رسيدلې وه ، بابر په خپله وايي چې زه به د "بابري" په عشق کې لوڅ سر او لوڅې پښې دباندې وصحراته ووتلم په دې باره کې به مې د خپل حيثيت او د خپلو ملګرو وحيثيت ته کومه توجه نه وه ،او په دې باره کې يو شعر داسې وايي :

شوم شرمينده هرګاه يار خود را درنظر بينم .

رفيقان سوي من بينند ومن سوي ديګر بينم .

دبابر په باره کې داسې ويل کېږي چې هغه د ښځې په شان شرميدونکې وو ، يو علت هم داوو چې هغه و ښځو ته زيات ميلان نه درلودې ، دا هم معلومه نده چې هغه د جنسي تعلقاتو په وخت چې د ځوانو هلکانو سره يې ساتل د فاعل رول بازي کاوه او که دروم د يوه سيزار په شان مفعول وو .

بابر په يو وخت کې د يو سفزو مشر ملک احمد خپل خلوت ته دعوت کړي وو هلته چې کله بابر نشه شوي وو نو په رقص يې شروع کړي وه او درقص په دوران کې دري ځله ملک احمد ته راغلي ووا و د رقاصو مفعولو هلکانو په شان يې د ملک احمد څخه پيسې غوښتې وې او هر ځل ملک احمد يو سفزي بابر ته يوه يوه اشرفي ورکړې وه .

د پښتنو لپاره يوه ډېره د شرم خبره خو داده کله چې په پښتونخوا کې د پښتنو خپلواک دولتونه منځه ته راغلل بيا هم د پښتنو د سر ،ناموس ،عزت او مال د لوټمار او د زرګونو پښتنو دبې رحمه قاتل بابر قبر د کابل په يوه باغ کې چې د بابر د باغ په نوم ياديږي موجود دې .

ښه به داوې چې په دې ښکلي باغ کې دهغو مظلومو پښتنو شهيدانو په نوم يو ياد ګاري څلې جوړ شوي واې چې د قاتل او خونخوار بابر د خوا په ډېر مظلومانه ډول په شهادت رسيدلي دي .

د پښتونخوا په خاوره کې دا ښکلي باغ بايد د پښتنو د هغو نوم ورکو شهيدانو په نوم ياد شي چې دوحشي مغلو د خوا په ډېره بې رحمۍ او مظلوميت د پښتونخوا د پاکې خاورې او پښتون ملت د سر ، ناموس ، عزت او مال د دفاع په خاطر يې جابر ،سفاک ،قاتل ،غله او بد اخلاقه بابر او نورو وحشي او ظالمو مغلو د سرونو څخه منارونه جوړ کړي وه .

زموږ داعمل به وخپل مظلوا و شهيدو پلرونو او نيکونه ته د حد اقل احترام د پر ځاې کولو معنې ولري ،اوهم به د دې باغ تماشا چيان د پښتون ملت دا ورک نومي شهيدان په دعا يادوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن خود بابر د باغ پښتانه تماشاچيان هره ورځ د خپل پلرونو او نيکو قاتل بابر مغل ته د دعا لاس پورته کوي .

## ځلرم: د وحشي مغلو پر ضد د روښانيانو د قهرمانيو ډکې مبارزې

## (940_ 1047هه ) .

د مغلو د اشغال او وحشت پر ضد د پښتنو يوه پر مهم ازادي غوښتونکې جنبش " روښاني جنبش " دی .

پيرروښان ،دده نوميالې کورنۍ او ددوی ننګياليو پښتنو ملګرو(107 ) کاله پر خونخوارو او اشغالګرو مغلو په پښتونخوا او هند کې خوراک ،څښاک او خوب حرام کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیر روښان د مغلو د وحشت او دهشت په واسطه د سوونو کلونو ځپل شوي پښتانه په یو مذهبي ډوله جنبش کې سره را ټول کړل ، هغوی ته یې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو د بیا ازادۍ او واکمنۍ درسونه ورکړل ، د هغوی څخه یې د ازادۍ غوښتونکو یو عظیم لښکر جوړ کړي او د اشغال ګرو مغلو په مقابل کې یې ودرول .

بایزید مشهور په پیر روښان سره د دې چې یو فرهیزګار او روحاني عالم وو په ځوانۍ کې یې د اسانو تجارت کوي ، د دې سببه یې د پښتونخوا د هېواد زیاتي برخي لیدلي وي او د پښتونخوا په هر ګوټ کې یې پر مظلو پښتنو د ظالمو مغلو ظلمونه لیدل ،دی ظلمونو پیر روښان ته دا انګیزه ورکړل چې باید پښتانه د مغلو پر ضد سره راټول کړي او د ازادۍ پر لور یې رهبري کړي .



ستر پښتون او ملي مبارز پیر روښان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیر روښان په دې عقیده وو چې ظلم ، بربریت او ناروا تل په خپل مقابل کې اتلان زېږوي او ننګیالي مېړونه د خلاصون ملي مبارزې ته را پاروي .

پیر روښان د مغلو د ظلمونو څخه د نمونې په ډول یوه واقعه داسې بیانوي .

( دیوه ظالم مغل په نظر یوې پښتنې ښځې کومه غلطي کړې وه ، دې ظالم مغل د دې پښتنې ښځې د سر وېښتیان د ژرندې په پل پورې وتړل کله چې د ژرندې پل څرخېده نو دا مظلومه ښځه هم مجبوره وه چې د ژرندې د پل د سرعت سره برابر وڅرخي عذر ، بغارې او نارې یې وهلې . . . ) .

خو جابرو مغلو د دې پښتنې ښځې د نارو ، عذر او زاریو څخه خوند اخیسته او خوشحالي او خندا یې ورته کوله .

پیر روښان په ډېر تدبیر او مهارت د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په استفاده مظلوم ، ځورېدلي او لوټلي پښتانه سره راټول کړل او په ډېره میړانه په تش لاس خو په عالي اسلامي او پښتني جرئت او متانت د متجاوزو ، خونخوارو او ظالمو مغلو سره وجنګېده .

پیر روښان د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتونخوا د ازادۍ په لاره کې په (988 هـ) کې د ننګرهار د شینوارو د " تور راغه " پر مقام په داسې حال کې چې د مغلو سره یې په جنګ کې د پښتنو د لښکر رهبري کول د شهادت جام نوش کړې ،خو دده پلاس د پښتون ملت د ازادي د لارې بله شوې شمع تر ډېره وخته دده اولاد او ملګرو روښانه او بله وساتل .

د پیر روښان تر مردانه وار شهادت وروسته بیا هم پښتانه د پیر روښان پر کورنۍ را ټول وو او د مغلو څخه د پښتنو د ازادۍ لپاره یې خپل ملي مبارزو ته دوام ورکړې .

په دې دوران کې د پښتنو ازادي غوښتونکي فوځ د پیر روښان نومیالي زوی جلال الدین ، د پیر بل زوی شیخ عمر ، د پیر لمسي احداد او د احداد زوی عبدالقادر رهبري کوي .

پښتنو د روښاني تحریک تر نوم لاندې پوره یو سل او اووه (107) کاله اشغالګرو مغلوته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې .

د پیر روښان زوی جلال الدین دا د پښتونخوا زمری د ډهلي د مغل پاچا اکبر ته د سر په کاسه کې اوبه ورکړې .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ پوهانو په وینا د ډهلي دمغلو پاچا اکبر ځلوېښت پنځوس زره فوځ د زین خان ، راجا بیربل ، فیضي او سعد خان چې د ډهلي ددربار تر ټولو پوه ، مجرب او لوړه پوړي چاروا کي وه د جلال الدین مقابلي ته ورولیږل .

خو توریالیو پښتنو چې اکثرو یې وسلي نه لرلي او صرف تیره نلان یې د ځان سره لرل پر مغلو حملي وکړي او د مغلو ستر فوځ یې ټول تبا او برباد کړي .

دډهلي ددربار تاریخ پوهان په دې باره کې داسې وایي:

له اکبري ځلوېښت یا پنځوس زریز سپاره لښکر څخه د زړه ورو پښتنو د لاسه یو هم ژوندي پاتي نشو ، او ان د اکبر د شهنشاهي د ټولو چارو چلونکي او دا کبري دربار غوره غړي راجه بیربل هم په دې لیاره کې سر بایلو ، "زین خان کوکه" له نورو امیرانو سره د اټک خواته وتښتیدي او نور نو د هغي جګړي څخه یو تن هم نجات و نه موند .

د متجاوزو مغلو پر ضد د ازادۍ په دې ملي مبارزو کې جلال الدین د پښتونخوا ټولي غرنۍ سیمي د خیبره تر تیرا پورې او د کابل جنوب برخي تر غزني پورې د مغلو څخه ازادي کړي او پښتنو د جلال الدین تر مشرۍ لاندي ازاد ژوند په کې کوي .

دې سترنومیالي او توریالي پښتون په (1009 هه) کې د غزني د ښار ددفاع لپاره د مغلو سره اووه ورځي جګړه و کړل او د جګړي په اومه ورځ د " شاد مان " نومي سړي د خوا ټپي شو او وروسته بیا د رباط په غره کې په ټپي حال کې د مغلو د یو مزدور مرادبیګ د خوا په شهادت ورسیدي .

ددې اوږدي ملي مبارزي په جریان کې په زرګونو پښتنو شازلمو او ددوی باتورو مشرانو لکه پیر روښان ، دده زوی جلال الدین او د پیرروښان لمسي ا حداد دمغلو د اسارت څخه د پښتونخوا د ازادۍ په لاره کې د شهادت جامونه نوش کړل .

دجلال الدین تر شهادت وروسته نامردو مغلو دجلا الدین او احداد د پښتنو او پښتونخوا د ازادۍ د شوره ډک سرونه هم په ډېره نامردۍ پري کړل او په ډهلي کې یې د مغلو سفاکو پاچاهانو ته ولیږل .

دا خبره هم د پښتنو لپاره د ډېر غور او دقت خبره ده په کوم وخت کې چې روښاني تحریک د پښتنو د ازادۍ لپاره په نظري او عملي ډول په مبارزه مصروف وو ، په هغه وخت کې مغلو ددو جبهو څخه د پښتنو مبارزینو پر ضد فعالیت کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه نظامي جبهه وه چې مسلح فوځونه يې د پښتنو مبارزينو پر ضد استعمالول ، او بله جبهه هم د ځينو بې ننګه او غدارو قومي او مذهبي مشرانو او روحاني پيرانو جبهه وه چې مغلو د پښتنو د ملي مبارزينو پر ضد او د پښتنو د بې اتفاقه کولو لپاره استعمالول .

ددې روحاني ، مذهبي او بې ننګه قومي مشرانو د جبهې مشرتوب د ګوډ تيمور او بابر د يو رشته دار سيد علي ترمذي پر غاړه وو .

دا سيد علي ترمذي د تيموري کورنۍ يعنې د تيمور او بابر قريب وو او مغلي دربار د پښتنو سيمو ته د پير په نامه رالېږلي وو او د

"بونير" د پاچا په کلي کې اوسېده .

دا دمغلو د استخباراتو اجنټ او جعلي پير سيد علي ترمذي په پښتنو کې د "پير بابا" په نامه مشهور وو .

دا د مغلو رشته دار او دمغلو د دبار جاسوس پيربابا د پښتنو په اکثرو سيمو کې د پير په نوم د زيات احترام وړ او بې تاجه پاچا بلل کيدي .

دمغلو ددربار دې جاسوس سيدعلي ترمذي اودده ترک نژاده شاګرد "اخوند درويزه" د پيري تر پوښښ لاندې د پښتنو د قاتلانو مغلو ګټې ساتلي .

دا سيدعلي ترمذي دسيد قنبرعلي زوی او د سيد احمد نور لمسي او دسيد يوسف نور کړوسي او د محمد نور کوسي وو .

د محمد يوه ماندينه د ګوډ تيمور خور وه ، د محمد يو زوی د ګوډ تيمور د خور زوی و ، په حقيقت کې دا پير بابا د ډهلي د ظالمو مغلو شاهانو خوريی وو .

د ډهلي د مغلودربار چې د پښتنو څخه وهم درلودې نو په دې اساس يې خپل د کورنۍ يو با اعتباره او د اعتماد وړ شخص د پير د نامه تر پوښښ لاندې د پښتنو علاقې ته راولېږي .

دې مغولي جاسوس دپيرۍ تر پردې لاندې د ډهلي دمغلي دربار هر ډول ملاتړ هم درلود .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې مغولي پیر وظیفه داوه چې پښتانه د ملي مبارزو او د مغلو څخه د نفرت لرلو څخه راوګرځوي او د تصوف ، ګوښه نشنۍ او ترک دنیا خواته یې رهبري کړي ، تر څو د پښتو او پښتونولي د قانون پر ځای د مغلو ددربار دخوا معرفي شوي جعلي پیري او مردي رواج شي ، پښتانه د ملي ازادۍ لپاره د مبارزې د میدان څخه ووزي او ستمګر مغل په ارامي خپل سلطنت ته دوام ورکړي .

کله چې روښاني تحریک د پښتنو دازادۍ لپاره منځته راغلي همدا ټګمار پیربابا د پښتنو د ساده توب او بې سوادۍ څخه استفاده وکړل او یو شمېر ساده پښتانه یې د پیر روښان پر ضد ودرول او د ملي مبارزینو د قطار څخه یې بېل کړل .

د مغلو دې مزدور او ټګمار پیربابا به "پیر روښان" ته

" پیر تاریک " ویل او پښتانه به یې دده خلاف راپارول .

د ډهلي د مغلو د دې مزدور ټګمار پیر بابا تر مرګ وروسته دده ترک نژاده شاګرد "اخوند درویزه " د روښاني تحریک پر ضد د مغلو د مزدور پیر بابا وظیفه پر غاړه واخستل .

پر ټولو هغه هېوادونو چې د مغلو د وحشت او دحشت باد تیر شو ، ابادۍ یې په کنډوالو بدلې شوې ، د انسانانو د سرونو څخه منارونه جوړشول ، د ځمکې د مخ څخه د انسانانو د وینو بوي راتلې ،چا چې به هر میدان ته کتل نود ظالمو مغلانو د تورو په واسطه به د مظلومانو او ازادي غوښتونکو د غاړو د پرې کېدو ویرونکې منظرې د انسانانو سترګو ته مجسم کېدې . . .

دمغلو وحشت د محکومو هېوادونو د ولسونو دزړونو څخه د خوښۍ ، ښه ژوند کولو ، ابادۍ او پرمختګ احساس لیرې کړي ، د مغلو د توري څخه پاتې انسانانو د ژوند څخه نا امیده شول ، اکثره یې د مغلو په دربارونو پورې تړولو پیرانو په واسطه وګوښه نشیني ، ترک دنیا ،خانقاوو او په زیارتونو کې وپنا اخستلو ته تشویق شول ،د پیرانو او خانقاوو بازار تود شو .

په هغه وخت کښې دمغلو اجنټو پیرانو به ولسونو ته د مغلو د ظلم او ستم په باره کې ویل چې دا دمغلو ظلم ندې دا ستاسو خپل عمل دی چې خدای(ج) پر تاسو نازل کړی دی ، تاسو خپل عمل اصلاح کړئ مغل به په خپله پر تاسو مهربانه شي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغلو د میراث خور پاکستان د استخباراتو د سازمان اجنټان همدا نن هم د تبلیغي جماعت د سازمان دلارې د پښتنو په منځ کې دا تبلیغ کوي چې ستاسو عمل پر تاسو حاکم دی او پښتانه د پنجاب د غلامۍ او نورو ظلمونو پر ضد د ملي مبارزې څخه راګرځوي .

پیر روښان په داسې حساس تاریخي وخت کې دنیا ته راغلي چې د پښتون ملت مطلق اکثریت د مغلو د جعلي پیرانو د پیرۍ په جال کې راګیر شوي وو .

پیرروښان دیو مجرب سیاست مدار په حیث خپل محیط ښه مطالعه کړي او مجبورا د پیرۍ او مریدۍ د لارې د سیاست میدان ته دا خل شو ، ځکه چې دده په قوم کې د مغولو د خوا ترویج شوي پیرۍ او مردۍ دومره پر مخ تګ کړیوو چې د هر پښتون کورته یې ځان رسولې وو .

دا ځیرک پښتون سیاست مدار په دې ښه پوهیدی چې دده قوم هم د نورو محکومو قومونو په شان د مغلو د ظلمونو په اساس ترک دنیا شوي او په فکري لحاظ یې د جعلي پیرانو لمنې ته پناوړې ده ، او د مغلو د ځیره خوارو ټګانو پیرانو په جال کې بند دې ، ددې د پاره چې دده قوم دده خبرې ته غوږ ونیسي نو دې باید د پیر په جامه کې د ملت منځ ته ورشي ، هغوی د پیر په حیث پر ځان راټول کړي ، وروسته یې په پښتو او پښتونولي مجهز او د مغلو په مقابل کې د پښتنو ازادي غوښتونکي فوځ ځني جوړ کړي .

پیر روښان یو ښه معتقد مسلمان او د پیر په حیث یې و خپل مریدانو ته په تصوف او طریقت کې اته مرحلې تعیني کړې وې .

1: شریعت .

2: طریقت .

3: حقیقت .

4: معرفت .

5: قربت .

6: وصلت .

(c) ketabton.com: The Digital Library



7: وحدت .

8: سکونت .

پیر روښان د پیری په جامه کې لاندې سیاسي اهداف تعقیبول .

لومړی:

پښتونخوا باید د مغلو او ایرانیانو څخه په بشپړ ډول ازاده شي ، د پښتنو د بشپړې ازادی او خپلواکی په خاطر پیرروښان پرلاندې ستراتیژیکو اهدافو کارکوی .

الف: د دې لپاره چې پښتنو ته دازادی پیغام په سم او اسانه ډول ورسول شي ، پښتانه باید پر یو سیاسي مرکز سره راټول شي .

ب : پښتنو ته باید د پښتو او پښتونولي درس ورکول شي ، ترڅو ددی لیاری په پښتنو کې د پردیو دظلمونو او غلامی په مقابل کې نفرت او کرکه را پیدا شي .

ج: پښتانه باید په دې پوه شی او قناعت ورکول شی چی د مغلو د ظالمي اداري د چارواکو سره هرډول تعلقات او همکاري باید قطع شی ځکه چی دا عمل بی ننګی ده .

د : پښتانه باید د خپلواکی په خاطر د سر او مال قربانی او هرډول جګړي او سر ښندني ته اماده شي .

دوهم:

پیرروښان په دې عقیده ووچی په پښتونخوا کې باید داسې پښتني دولت ایجاد شي چې لاندی ملی وظایف په ښه ډول سره انجام کړایشی:

الف : پښتنی باکیفایته دولت باید خپل ولس ته لازم خدمات وړاندي کړاي شي .

ب: پښتني دولت باید د مالي لحاظه پر خپل ځان متقي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ج: پښتني دولت بايد داسې دفاعي قوت ايجاد کړي چې د خپل هېواد او ولس څخه د پرديو يرغلګرو په مقابل کې د دفاع توان ولري .

دريم :

پښتانه بايد وهڅول شي چې په هند کې د پښتنو شهنشاهيو لکه د غوريانو ، لوديانو ،غلجيانو او سوريانو وياړونه بيا تازه او را ژوندي کړي .

## پنځم:د مغلو پرضد د توخيانو د وياړه ډکې مبارزې :(960 – 1200 هه ) :

د مغلو د اشغال په مقابل کې د پښتنو د ملي مبارزو په سلسه کې يوه هم د "توخيانو" مبارزې وې چې د خپل هېواد او ولس د ازادۍ لپاره يې کړې دي .

توخيانو د نورو پښتنو قومونو په شان د خپل هېواد د استقلال په خاطر د هند د مغولي امپراطورۍ او د ايران د شعيه امپراطورۍ په مقابل کې د ازادۍ مبارزې جاري ساتلي وې ، او د همدې ازادي غوښتونکو مبارزو په نتيجه کې يې پردی اشغال ګر مجبور کړل چې د دوی استقلال او خپلواکي په رسميت وپيژني .

د ډهلي د مغلو او د ايران د صفوي امپراطوريو په منځ کې د توخيانو دازاد دولت ايجاد داسې معنې درلودل لکه د غنم يوه دانه چې د ژرندې د دوو پلنو ترمنځ مقاومت کوي .

د توخيانو ازاد دولت که څه هم د مغلو او ايرانيانو د امپراطوريو په مقابل کې دومره کوچني وو لکه د غنم دانه چې د ژرندې د پلونو په مقابل کې کوچنۍ ده ، خو د توخيانو د دولت مقاومت د غنم د دانې په شان نه بلکه د الماس د دانې په شان کلک او مقاوم وو ، ځکه دې دواړو پښتون دښمنه امپراطوريو په خپل ټول توان ونه شوه کړای چې د پښتو او پښتونولي پر اصل ولاړ د الماس په شان کلک او مقاوم د پښتنو دا کوچنۍ خپلواک هېواد د منځه يوسي .

د توخيانو د دولت مشرتوب شامحمد کلاتي او ترده وروسته سلطان ملخي کاوه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسلطان ملخي دولت د هند د مغولي امپراطورۍ د خوا د هغه فرمان په واسطه په رسميت وپېژندل شو چې په (1093 هه) کې ددريمي خور پر نهم (9) تاريخ د مغولي هند دامپراطورعالم ګيرددربارڅخه رسما صادرشو .

په دې فرمان کې د پښتنو دازاد دولت مشر ملخي ته د

" سلطان ملخي " په لقب خطاب شوي دي .

د سلطان ملخي د واکمنۍ په وخت کې د پښتنو او ايراني صفويانو ترمنځ سخت جنګونه وشول خو پښتنو د خپل هېواد ازادي د ميرخمنو اودښمنانو په مقابل کې وساتل .

## شپږم:دمغلوپرضد دابداليانو دوياړه ډکی مبارزی:

د اشغال ګرانو په مقابل کې د پښتنو دازادي غوښتونکي مبارزو په لړ کې ابدالي پښتنو هم خپل مهم رول لوبولي دي .

موږ دلته دابدالي پښتنو د ازادي غوښتونکو ملي مبارزو ته ډېره لنډه اشاره کوو .

دولت خان د سرمست خان زوی د(1115 هه) په شاوخوا کې د ابداليانو مشر وو او په قندهار کې يې د ايران د صفوي اشغال ګرانو سره د پښتونخوا د استقلال په خاطرسختي جګړې وکړې ، او د پښتنو د خپلواکۍ بيرغ يې تر غزني او د سليمان غره ترلمنو رېوب او بوري پورې ورساوه .

دولت خان د پښتنو په دې سيمه کې پنځوس کاله خپل استقلال وساتۍ او د ايراني اشغال ګرانو واک يې صرف ددوی تر نظامي چونۍ پورې محدود ساتلي وو ، تر څو په (1115 هه) کې د ايران د اشغالګر دولت ظالم حاکم ګرګين د شپي د خوا د خپل ويني چښونکو فوځونو سره په ښار صفا کې ددولت خان پر کور ناڅاپي حمله وکړل پښتون مشر دولت خان او د هغه زوی نظرمحمد خان يې تر سختي جګړې وروسته دواړه په شهادت ورسول .

تر دې وروسته ابدالي مشرانو په کلونو د عبدالله خان ، زمانخان ، الله يار خان ، ذوالفقارخان او نورو نوميالیو په رهبرۍ په هرات کې خپلواک پښتني دولتونه جوړ ،رهبري او د ايراني اشغال ګرانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تيري څخه د توري په زور وساتل ، تر څو په پاي کې د ابدالي پښتنو دا دازادي غوښتونکي مبارزي جنبش د مشهور ايراني سفاک يرغلګرنادر افشار د خوا وځپل شو .

## اووم:د مغلو پرضد دخوشال خان ، ايمل خان او دريا خان ډغرى:

کله چې په قندهار کې ، توخيان ،ابداليان او هوتکيان د ايراني اشغال ګرانو سره په ملي مبارزو بوخت وو ، په عين ډول د پښتنونخوا په شرق کې بيا خوشحال خان ختک ،ايمل خان مهمند او دريا خان اپريدى د ډهلي د مغلو پر ضد په سخت مقاومت او د ازادى لپاره په ملي مبارزو مصروف وه ، موږ دلته د سل ګونو پيښو دجملي څخه صرف څومهمو پيښوته په ډير لنډ ډول د لوستونکو توجه راګرځوو .

### 1: د خيبر جګړه (1672 ع)

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس پښتون په ورين تندي مرګ مني خو سپکاوي نه مني .

په عين ډول پښتانه وايي چې" مال ترسرجاراو سرترناموس جار".

د کابل او پيښور د والي محمد امين يو نظامي مامور حسين بيګ د پښتنو مشرانو ته د "سپو " خطاب کړيوو او په عين حال کې د مغلو د دې وفادار مغروره نوکرعسکرو د ساپي قوم يوي اينجلي ته بې عزتي وراړولي وه اودصاپيو ځوانانو دا ټول مغولي عسکر ووژل .

د مغلو والي محمد امين د پښتنو په لاس د خپل متجاوزو قتل شوو سپاهيانو د بدل په غرض د (40000 ) څلويښت زره مغولي فوځ سره د خيبر دري پر لور راروان شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د مغلو فوځ د لنډي کوتل څخه راتیرشو او د لنډي خاني سیمي ته راورسیدي نو په دې ځای کې د پښتنو ازادي غوښتونکو ځلمو او مغلي فوځ ترمنځ جګړه شروع شول ، په دې جګړه کې پښتنو صرف توري ، غشي ،لندۍ او لرګي درلودل ، خو متجاوزو مغلو فوځ ځلویښت زره فوځ مست جنګي فیلان ،توپونه او هر ډول عصري وسلي او مهمات درلودل .

متجاوز مغل فوځ په خپل ټول قوت پر بې وسلي پښتني لښکر حمله وکړل ، خو پښتنو زلمیانو په پښتني غیرت او میړانه پر متجاوزو مغولو د غشو او کاڼو باران وکړي او په خپل پښتني غیرت او مقاومت یې د مغلو منظم فوځ داسې وارخطا کړي چې د قوماندي سیستم یې خراب شو افسرانو او سپاهیانو ټولو پر هر لور په منډو شروع وکړل ،ځوک د اسانو تر پښولاندي مړه شول ، ځوک د اوښانو تر پښو لاندي مړه شول او ځوک بیا د فیلانو تر پښو لاندي مړه شول ،ځوک تر ګړنګونو او پاڼونو ولویدل . . .

مغل فوځ د تیښتي په حال کې د ملا ګورو د "تهتري" د غره لمني ته پنا یوړول ، دلته هم پښتنو زلمیانو بیا یو زوروره حمله پر وکړل او زیات شمېر مغل متجاوزین یې په قتل ورسول .

والي محمد امین په تش لاس پر پښو په تیښته پیښور ته ولاړي .

د خیبر په نښته کې په زرګونو متجاوز مغل فوځیان په قتل ورسیدل .

په دې جګړه کې مغلو د شرم نه ډکه ماته وخوړل ځلویښت زره فوځ یې د ازادي غوښتونکو پښتنو د لاسه تباشو ، د والي محمد امین لور ، ماندینه ، خور اومور او دنورو مغلو افسرانو ښځې او کوچنیان د پښتنو پلاس کې بندیان شول .

پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون د ناموس داري د اصل مطابق د مغلو ښځي او ماشومان بیرته مغلو ته وسپارل ، خود والي محمد امین ماندیني دوباره و خپل میړه ته د تللو څخه په دې سبب انکار وکړي چې د دې میړه د ځلویښت زره فوځ سره ځنګه د شرم نه ډکه ماته خوړلي وه ،هغه ښځه تر مرګه د پښتنو په وطن کې پاتي شول او خپل پاتي ژوند یې خدای (ج) عبادت ته وقف کړي .

د خیبر په نښته کې د میړنیو پښتنو دخوا پر مغلو هغسي ناورین راغي کوم چې پخوا د جلالدین په مشرۍ پښتنو د یوسفزو په سیمه کې د بیربل او زین خان په مشرۍ د اکبر مغلول پر فوځونو راوستلي وو. د خیبر د نښتي په ویاړ خوشال خان بابا داسې وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په ډېرو نه په لږ د خدای په کړو ده
لږ لښکر په ډېر لښکر مومي ظفر

څه شینواري څه مهمند څه افریدي وو
چې یې مات کړي د صوبې واړه لښکر

دا طوفان چې پر مغلو باندې ساز شو
په کشتن په اولجو هیڅ مکړه نظر

که اسان وو که فیلان که آسابونه
په انبار انبار سپین زر وو که سره زر

هغه ښې پېرۍ پیکرې د پالکیو
همګې پېرې پورې لعل دراو ګوهر

بندیوانې شوې په لاس د پښتنو کې
دا بخه څوک کا د مغل د زړه بهر

## 2 : د نوښار د کوټ جګړه:

د خیبر د نښتې وروسته د خوشال خان په مشرۍ ختټکو او افریدو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



“ نو ښار پر کوټ ” حمله وکړل د مغلو فوځي قوت یې ټوله تار په تار کړي او د هغو هر څه د پښتنو



ازادي غوښتونکو پلاس ورغلل .


د توري او قلم قهرمان لوی خوشال بابا

## 3: د کړپې جګړه:

د خیبر او نوښار تر ښتو وروسته د ډهلي مغل پاچا د پښتنو د ځپلو لپاره نور قوي فوځونه د شجاعت خان په مشری راولېږل .

(c) ketabton.com: The Digital Library






کلـه چـې دا مغلـي فـوځ د ګنـدا او سـره نږدې د " کړپې " په دره کې تیریدی نو په دې وخت پښتنو ازادي غوښتونکو جنګیالیو د ایمل خان مهمند په مشرۍ د شپې په تیاره کې پر مغلو نابره یو سخته حمله وکړل ، زیات مغل سپاهیان ځای پر ځای مړه شول او نور د شپې په تیاره کې یوي او بلي خواته تښتیدل .

سهار بیا پښتنو غازیانو پر پاتي مغل فوځ حمله وکړل ، د مغل فوځ مشر شجاعت خان یې ووژلی او ټول مغل فوځ یې تار په تار کړي .

د کړپې د جنګ په باره کې خوشال خان دا لاندي شعر ویلي دي:

چې په خوانه په خاطر هسي عیان شي

ځني څه چاري پیدا په دي جهان شي .

په لچې او په چوتره او ګرځیدلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس مې ګښت د افريديو په ميدان شي .

لکه باز پريو غر ګرځي بل ته ګوري.

بيا نظر زما د سوات پر کوهستان شي .

دا نا د ره عقيده لکه زما ده.

لا عجب که بل پيدا داسې افغان شي .

ومغل وته به هسي کار ښکاره کړم.

چې راضي راځخه روح د فريد خان شي .

که مې چيري ننګيالي پلاس کې کېوزي.

پري ليري به زما دزړه ارمان شي .

په جهان د ننګ يالي دي دا دوه کاره.

يا به وخوري ککري يا به کامران شي .

دبازانو د زاغانو مصاف وينم.

تر دامنځ به يې د وينو رود روان شي .

عاقبت به خداي ظفر کا د بازانو.

تارپه تار به اواره وا ړه کارغان شي .

چه وکارته يې حيران دي دا خولږدي.

د برعالم به وخوشحال وته حيران شي .

دمزريو ميړنتوب په لښکر ندي.

موتي يې هر کله يوا ځي په خپل ځان شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازادي تر پاچاهي لا تيري کا .

چې د بل تر حکم لاندي شي زندان شي .

## 4: د خاپښ جګړه:

د مغلو شاهي فوځو په مسلسل ډول په "خيبر"، "نو ښار" او "کړپه " کې د پښتنو غازيانو د لاسه سختي ماتي وخوړلي ، نو د دې سببه دهلي د مغلو پاچا اورنګ زيب د خپل دولتي فوځونو د مورال د لوړولو په خاطر لاهور ته راغلي او د هند ددولت د بايللي حيثيت د بيا ګټلو لپاره يې دهند ددولت ټولي مالي ،استخباراتی او نظامي زرايع د ځان سره راوړي او په کار يې واچولي .

اورنګزيب د کړپي د ماتي د تلافي په غرض يو لوي هندي فوځ د مکرم خان او شمشيرخان په مشري د پښتنو ازادي خواهانو د مقابلي لپاره را وليږي .

په دې جنګ کې د پښتنو غازيانو مشري ايمل خان مهمند او درياخان افريدي کول .

د هند دمغلي فوځ او پښتنو غازيانو ترمنځ د " خاپش" پر سيمه چې د "ګنداو " څخه وشمال لور ته پروت دي سخته نښته وشوه چې په نتيجه کې د هند مغلي فوځ ماته وخوړل او د مغلو سر لښکر مکرم خان هم په زخمي حالت کې پيښور ته وتښتيدي .

د مغلو او پښتنو د روانو جنګونو اوپه هغه وخت کې د مغولو د استخباراتو د خوا د پښتنو د بې ننګه او غدارو قومي او مذهبي مشرانو او د مغلي دربار د جاسوسو پيرانو په واسطه د پښتنو د نفاق او اتفاق او نورو ټولنيزو رقابتونو په باره کې خو شحال بابا دا لاندي شعر ويلي دي .

دخوشال بابا د دې شعر څخه معلوميږي چې شاعر د هغو پښتنو څخه خوابدي دي چې د څو پيسو او يا نام نهاده مقامو او لقبو په سبب د پرديو لپاره کار کوي ،غواړي چې پښتون ملت د پرديو غلام شي او غواړي چې پښتانه په خپل هېواد کې د اسلام په نوم دمغلو غلامان شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشال بابا پښتانه د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو د ازادۍ ،ننګ او ملي نواميسو ددفاع په خاطر و اتفاق او يو الي ته رابولي .

بيا له کومه راپيدا شو دا بهار
چې په هر لوري يې ملک کړلو ګلزار
ارغوان دي ضميران سوسن ريحان دي
ياسمين دي نسترن نرګس ګلنار
د سپرلي ګلونه ډېر په هر رنګ شته
ولې سره لاله په کې دي لا او ثار
جونه موتي ګل ږدي په ګرېوان کې
د ځوانانو ګلدستې دي په دستار
مغني په چغانه ته لیندۍ کېږده
په نغمو په پردو وغواړه هر تار
ساقي راشه ډک کې پيالې را کړه
چې د ميو په مستۍ کې شم سرشار
پښتنو ځلميو بيا لاسونه سره کړل
لکه باز منګولي سره کړي په خپل ښکار
سپيني توري يې ګل ګوني کړې په وينو
په اهار کې شګفته شو لاله زار
ايمل خان دريا خان دواړه مرګ يې نوي
هيڅ تقصير دواړو ونکړي وار په وار
د "خيبر" دره يې سره کړله په وينو
په "کړپه" يې هم روان کړو دندو کار
تر "کړپې" تر باجوړه سمه غرونه
په لړزه په زلزله شو له باربار
په هغه لوري چې کېږي پنځم کال دی
هره ورځ د سپينو تورو خرپهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې په دا لوري زه راغلم خبطه شوم
زه مردار یم که دا خلک دي مردار
په لښکر لښکر نارو شوم ورته ستړی
دا کاڼه راته مهیبرک وا یې نه څار
چې احوال د یوسفزو راته معلوم شو
لواغر وماته ښه وه نه دمغار
د خټک سو سپي بهتر تر یوسفزیو
که خټک هم دي په خوی ترسپي بېکار
درست پښتون د قندهاره تر اټکه
سره یو دننګ په کار پټ او اشکار
ګوره څو جنګونه وشول په دا لوري
ولې هیڅ د یوسفزیو نشته عار
اول جنګ د لوړې شا د تهتریوو
چې خلوېښت زره مغول شول تار په تار
خوینـدې لوڼه یې بندي د پښتنو شوې
آس ، هاتیان او ښان اولجه قطارقطار
دویم جنګ میر حسیني په دوابه کې
چې یې سره وتکېده لکه د مار
بیا له پسه د نوښار د کوټ جنګ وو
چې مې و ښکو له مغلو خپل خمار
بیا له پسه جسنت سنګهه شجاعت خان وو
چې ایمل یې په ګنداب ویوست دمار
شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دواړه
چې ایمل کړل په خاپښ کې تار په تار
چې زما په یاد دي لوی جنګونه دادي
د هلکو په هر لوري نشته شمار
همیشه فتحه نصرت دی لا تر اوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس له دې ده بیا تکیه په کرد ګار
اورنګزیب راته یو کال او شو چې پروت دی
په صورت حیران پریشان په زړه انګار
کال په کال امرایان دي چې پرېوزي
چې طوفان شولي لښکري کوم يې شمار
خزانې د هندوستان دي راخوري شوي
سره مهران دي تنو ځي په کوهسار
بله هیخ لیدلي نشي په دامنځکي
یا مغول له منځه ورک یا پښتون خوار
په داهسي وخت چې وخت د نام او ننګ دی
دا بې ننګه پښتانه کا خه رفتار
پښتانه په تورو ښه دي تر مغلو
که په پوهه پښتانه وي خه هو ښیار
اولسونه چې سند یو بله یو کاه
پادشاهان ورته سجود کاندي اختيار
که نفاق، که اتفاق که جهل پوهه
د هر یو په خپل خپل لاس ده هر چار
افریدي مهمند شینواري ګوره خه کا
د مغلو لښکر پروت په ننګرهار
زه تنها په کې په غم د نام او ننګ یم
یوسفزي په فراغت په کښت و کار
اوس چې هسي بې ننګي بې ناموسي کا
عاقبت به ورښکاره شي خپله چار
مرګ زما په پوهه ښه تر دې ژوندون دی
د عزت سره چې نوي زیست روزګار
همیشه به په جهان کې ژوندون نه وي
د خوشحال ختک به پاتې شي یادګار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددريمـــــــــــــــي خـــــــــــــور اول كـــــــــــال د غفـــــــــــــو 1086 هـــــــــــــه ما چې ووې په برمول کې دا اشعار

په پورته کرښو کې دمغلو او ایرانیانو دوحشیانه اشغال پر ضد د پښتنو د پنځه نیم سوه کلن جهاد او مقاومت د ستر دریا ب څخه مو ږ صرف څو نمونی په ډیر لنډ ډول د لوستونکو د معلوماتو د پاره وړاندی کړی .

ددی کتاب په پاتې برخه کې په هند کې د پښتنو امپراطوارانو ذکرهم په ډیر مختصرډول درنو لوستونکو ته وړاندی کوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم فصل

## پښتانه پاچاهان په هندوستان کښې:

کله چې د چنګېزي فوځونو وحشت او دهشت د شرق ټول هېوادونه او ددوی تمدن وران او ويجاړ کړي ، دا مدنيت خوړونکي طوفانونه پر پښتنو او پښتونخوا هم راغلل .

د مغولي وحشي يرغلګرو سره پښتنو تر بل هر شرقي ملت زيات مقاومت وکړي ،او د مغلو د اشغال ګرو فوځونو پر ضد يې خپل ملي ازادي غوښتونکو مبارزو ته په سوونو کلونو دوام ورکړي .

کله چې په پښتونخوا کې د پښتنو منظم دولت د مغولي وحشي فوځونو د خوا ړنګ شو نو پښتنو خپل د قدرت مرکز و هند ته نقل کړي او په هند کې يې ستر سلطنتونه جوړ کړل ،چيرې چې لودی پښتنو پخوالا په ملتان کښې د پښتني سلطنت اساس ايښی وو.

په هند کښې د پښتنو سلطنتونه هم لړاوږيرد مغولو سره په جنګ او مبارزو مصروف وه .

موږ دلته په هند کې د پښتنو پاچاهانو سلسلې ته ډېر مختصر نظر اچوو .

## 1: د شيخ حميد لودي سلطنت په ملتان کښې:

د پښتنو يو مشهور ټبرلوديانو د شيخ حميد لودي په مشرۍ په ملتان کې حکومت جوړ کړي .

تر شيخ حميد لودي وروسته د هغه زوی نصر د ملتان حاکم شو .

د نصر تر مرګ وروسته دده زوی ابوالفتح داود د ملتان واکمن شو .

په 396 هه کې سلطان محمود غزنوي پر ملتان حمله وکړل او د ابولفتح داود سره يې سوله وکړل .

په (402 هه ) کې سلطان محمود غزنوي بيا پر ملتان حمله وکړل ، ملتان يې اشغال کړي او ابولفتح داود يې ګرفتار کړي او دغزني يوي بندي خاني ته يې واچوي تر څو په بنديخانه کې مړ شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 2: د بختيار غلجي سلطنت په بهار او شمالي بنګال کښي (۱۲۰۲-۱۲۲۴ع):

د شيخ حميد لودي د کورنۍ د ملتان تر سلطنت وروسته د هندوستان د بهار په ايالت کې د پښتنو د لومړني حکومت باني او موسس اختيارالدين نوميدي چې په بختيار مشهوروو .

دا ستر پښتون په غزني کې د محمد غوري په حکومت کې يو نظامي افسروو ، دا وظيفه يې ترک کړه او هند ته ولاړي او د بهار ايالت په

" اوده " سيمه کې يې يو کوچني جاګير پلاس راوړي .

دي نوميالي پښتون ډېر ژر ډېر زيات پښتانه پر ځان راټول کړل او د هغوی څخه يې يو کوچني فوځ جوړ کړي .

بختيار غلجي د دې واړه پښتني فوځ په زور په ډېر متانت او ميړانه د هند د بهار ايالت د قبضي کولو لپاره ملا وتړل او د هند د بهار ايالت يې ونيوي .

د بهار تر فتحي وروسته بخيار غلجي د اتلس توريالیو او جنګياليو پښتنو په مرسته د شمالي بنګال پر پايتخت حمله وکړل او د شمالي بنګال پلازمينه يې په اتلس کسانو ونيول چې د نړۍ په جنګونو کې داسې بل مثال نشته چې د يو پردي هېواد څخه دې اتلس کسان راشي او د يو ستر هېواد پر پلازمينه دې نظامي حمله وکړي ، د هغه هېواد پاچا دې تيښتې ته مجبور کړي او پلازمينه دې په اتلس کسانو اشغال کړي .

بلي دا تاريخي جنګياليان هغه اتلس پښتانه وه چې د ستر پښتون بختيار غلجي سره يې د شمالي بنګال پر پلازمينه نظامي حمله وکړل د هغه هېواد راجا (پاچا ) يې و تيښتې ته مجبور کړي او د شمالي بنګال پلازمينه يې ونيول .

بختيار غلجي په (1202 ع ) کې په شمالي بنګال او بهار کې د پښتنو د ازاد سلطنت خښته کېښودل .

د هند د بهار ايالت په خاوره کې د بختيار غلجي سلطنت د پښتنو لومړي مستقل سلطنت دي چې څلورويشت(24 ) کاله يې دوام وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3: پر هندوستان کښې د جلال الدين غلجي سلطنت:

په (1290 ع) کې د جلال الدين غلجي په نوم يو نوميالي پښتون د هند د ترک نژاده پاچاهانو څخه د توري په زور د هند پاچاهي ونيول ، او جلال الدين په اوياکلنۍ کې د فيروز شاه په نوم د هند پاچا شو .

## 4: پر هندوستان د علاو الدين غلجي سلطنت:

د جلال الدين څخه وروسته د هغه وراره او زوم علاو الدين غلجي د هندوستان پاچا شو .

علاوالدين بيسواد سړي وو ، خود بيسوادۍ باوجود دومره مدبر اوډکلکي ارادي خاوند پاچا وو چې ټول هندوستان يې تر خپل کنترول لاندي راوستي .

دا خبره د ډېر اهميت وړ ده چې تر علاوالدين غلجي وړاندي او وروسته بل کوم سلطان د هند پر دومره وسيع مځکه حکومت ندي کړي .

علاوالدين غلجي ته د خپل سلطنت په اوج کې دوه عجيبه خيالونه پيدا شول .

1 : دعلاوالدين غلجي سره دا فکر پيدا شو چې د مقدوني سنکدر په شان د ټول جهان و نيولو ته اقدام وکړي .

2 : علاوالدين غلجي غوښتل چې يو نوي مذهب منځته راوړي او دده رعيت بايد ټول دده په مذهب شي .

دا ښکاره خبره ده چې دا دواړه نا معقول فکرونه و سلطان علاوالدين غلجي ته د هغه ددربار چاپلوسانو او غوړه مالانو ترويج کړي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو علاوالدین غلجي د دې سره چې بیسواده او یو مقتدر او مطلق العنان سلطان وو بیا یې هم دا ښه صفت درلودي چې د پوهانو او عالمانو خبرو ته یې غوږ نیوي او د دې پوهانو او عالمانو خبرو او مشورو پاچا د چاپلوسانو او غوړه مالانو دغلطو مشورو د شر څخه خلاصوي .

همدا سبب شو چې د هغه دیو مخلص او نیک دوست کوتوال علاوالملک په مشوره یې پورته ذکر شوي دواړه نامعقول خیالونه د سره وایستل .




سلطان علاوالدین غلجي

## 5:پر هندوستان د سلطان بهلول لودي سلطنت:

په (1451 ع ) یا (855 هـ) کې د لومړیي خور په اوولسم تاریخ لوي او پیاوړي پښتون "بهلول" د سلطان بهلول په نوم دډهلي پر تخت کېناستی ،خطبه یې په نوم وویل شوه او سکه یې په نوم جاري شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان بهلول لودي د هند په تاريخ کې يو ستر او د وياړه ډک سلطان وو .

سلطان بهلول لودي ډېر پښتانه و هند ته ور وبلل هغوی ته يې ښه جايدادونه ورکړل او هغوی يې په هند کې د پښتنو د سلطنت استحکام ته وهڅول .

د سلطان بهلول لودي په سلطنت کې ځوداسې پيښې شوي دي چې زه يې دلته ددې لپاره ذکرکوم چې پښتانه ددې واقعاتو څخه پند واخلي.

## الف: د بې بې متو ابتکار :

د سلطان بهلول د پاچاهۍ په لومړيو وختونو کې هغه د خپل فوځ د زياتي برخي سره د ملتان او پنجاب د چارو د سمبالتيا په خاطر هلته تللي وو او په ډهلي کې يې ډېر لږ فوځ پريښي وو .

په دې وخت کې د هند د پخواني شاهي کورنۍ د يو غړي محمود شاه په مشرۍ يو ستر فوځ چې تنها زر جنګي فيلان په کې وه د ډهلي ښار محاصره کړي .

په ډهلي کې د پښتنو ډېر لږ فوځ موجود وو خو په دې وخت کې يوې پښتني مېرمنې د " بې بې متو " په نامه د ډهلي د ښار د پښتنو مدافعينو د مورال د لوړولو په خاطر يو ابتکار وکړي .

بې بې متو د پښتنو فوځيانو سره خبرې وکړې ،هغو فوځيانو ته يې ښه مورال ورکړي ، پښتنو ښځو ته يې د نارينه جامې ورواغوستلې ، وسلې يې ورکړې او د ډهلي د کلا د ديوالونو پر سر يې د عسکرو په څير ودرولي تر څو د ښمن ته دا معلومه کړي چې د ډهلي په قلع کې د دفاع لپاره پوره فوځيان وجود لري .

## ب: د دريا خان لودي مېړانه:

دريا خان لودي د سلطان بهلول لودي څخه پر څه خبره ناراض شوي وو او د ډهلي په محاصره کې يې د دښمن د فوځونو رهبري کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دډهلي په قلع کې د محصورو پښتنو د ټول مقاومت او جرئت سره سره هم د دښمن شمېر ډېر زيات وو او د قلع مدافعين مجبور شول چې د ډهلي قلع و مهاجمينو ته تسليم کړي .

په دې وخت کې يوه سيد د ډهلي د قلع کيلۍ د محمودشاه د فوځ قومانداندرياخان لودي ته ورووړي .

دې هوښيار او مخور سيد دمخه تردې چې د ښار کيلۍ و درياخان لودي ته تسليم کړي د درياخان څخه پوښتنه وکړل چې:

سيد : محمود شاه ستا څه کېږي ؟

درياخان: زما هيڅ نه کېږي ، زه د هغه نوکر يم او د نوکرۍ حق اداکوم . . .

سيد : بهلول ستا څه کېږي ؟

درياخان : بهلول مې عزيز دی ، هغه هم يو پښتون دی او زه هم يو پښتون يم .

ددې خبرې تر اوريدو وروسته سيد د ډهلي د قلع کيلۍ و دريا خان ته کېښودې او ورته و يې ويل:

بس اوس د ډهلي په قلع کې د محاصره پښتنو ميندو او خوندو پرده ، ننګ ،ناموس او شرم ستا پرغاړه دي . . .

د سيد د دې خبرې په ځواب کې درياخان لودي وويل چې زما په سترګو کې هم دغه د پښتنو د شرم ، ننګ او ناموس خبره ګرځي که نوي د قلع فتحه کول خو څه مشکل کار ندي .

درياخان سيد ته وويل چې بهلول هم وځنډۍ خير ته بيرته دښار ددروازو کيلۍ درسره يوسه ګورو به چې دپښتنو د ننګ او ناموس د ساتلو د پاره زه څه کولا يشم .

په دې وخت کې دريا خان محمود شا شرقي ته وويل چې بهلول د يو لوي فوځ سره دډهلي پر لور راروان دی ښه به داوي چې اول د بهلول چاره وکړو وروسته بيا دډهلي د قلع نيول ډېر اسان کاردی ، محمود شاه شرقي هم د درياخان لودي خبره ومنل او د دېرش زره فوځ او څلويښت جنګي فيلانو سره د سلطان بهلول مخې ته چې څوارلس زره تنه پښتني فوځ يې لرلي ورووتی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د "نريلي " پر مقام دواړه فوځونه سره مخامخ شول ، په دې وخت کې د قطب خان په نوم يو پښتون يو جنګي فيل په زهري غشي وويشتي او د پښو يې واچوي ، او په عين وخت کې يې پر درياخان لودي ناري کړل چې :

"ستا خويندي او مندي دډهلي په قلع کې د دښمن د لاسه محاصره دي او ته د پرديو په نفع د خپلو پښتنو ورونو پر خلاف توري وهي . . . "

دريا خان د قطب خان په ځواب کې وويل :

که تاسو په ماپسي تعقيب نه کوي نوزه به بې جنګه د ميدانه ولاړشم .

قطب خان هم مثبت ځواب ورکړي او دريا خان د خپل ملګروسره د جنګ د ميدانه ووتی .

کله چې درياخان د جنګ د ميدانه ووتی د محمود شاه شرقي فوځ هم ماته وخوړل او سلطان بهلول لودي بريالي وډهلي ته ورننوتی .

د پورته خبري څخه دامعلومه شول چې کله هم پښتنو د پښتو او پښتونولي د قانون پيروي کړيده او يو د بل ملاتړ شوي دي نو پښتنو په هر ميدان کې برۍ مونډلي دي چې ژوندي مثال يې د سلطان بهلول لودي او درياخان لودي ترمنځ يوالي دي چې د جنګ په ميدان کې يې پښتانه بريالي کړل .

سلطان بهلول لودي (38 )اته ديرش کاله د هندوستان پاچاوو او په (1489 ع) يا (894 هه) کې د اتيا کالو په عمر وفات شو .

سلطان بهلول لودي يو ستر پښتون ،عادل ، سخي ،غريب دوست ،متوازيع ، مهربان ،پښتون دوست ، حتي دښمنانو ته به يې هم زيات صبر او تحمل کاوه .

سلطان بهلول لودي د پښتنو په وړاندي پر تخت نه کيناستی ، تر هيڅ پښتون يې ځان لوړ نه بللي او د پښتنو سره به پر فرش ناست وو ، د پښتنو سره به يې د پښتو او پښتونولي د عزيزګلوي او قاموليۍ د اصل پر اساس سلوک کوي .

که به يو پښتون مشر د هغه څخه خفه شو نو سلطان بهلول به د هغه کورته ورغلي او د هغه سره به يې د پښتني وروری او عزيزولي پر اساس خبري وکړي هغه ته به يې وويل که ته ما د دې کار يعني سلطنت لايق نه بولي مهرباني وکړه ماته بل کار را وسپاره او ته راشه زما پر ځای پاچا شه . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان بهلول لودي د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پیروي پر دي قادرشو چي ټول پښتانه خپل ملګري او دوستان کړي .

تر ده وروسته دده زوی نظام خان د سلطان سکندر په نوم ( 28 ) کاله د هندوستان پاچاوو او تر سکندر وروسته يې زوی سلطان ابراهيم د هندوستان پاچا شو .

کله چي سلطان ابراهيم د هندوستان د سلطنت پر تخت کېناستی نو د خپل بې ظرفيتی او د غوړه مالو او چپلوسو ملګرو د مشورود سببه يې د پښتو او پښتونولي سپيڅلي لاره کومه چي دده نيکه سلطان بهلول لودي اختيار کړي وه بيخي پرېښودل .

ظلم او تکبر يې اختيارکړي ، تر خپل پښتنو ورونو يې ځان لوړ بللي او د هغو بې عزتي او ازارول يې شروع کړل .

پښتانه مشران چې د هند د لودي سلطنت د پايښت او استحکام مظبوتي ستني وي د سلطان څخه خوابدي شول او د دې سببه په هند کې د سلطان بهلول لودي د خوا قايم شوي مظبوط پښتني سلطنت د قدرت ستني کمزوري او په لړزه شوي .

سلطان ابراهيم لودي به ويل :

( پاچاهان ورونه ، عزيزان ،خپلوان او قوم نه لري، د پاچا خپل او پردي ټول د پاچا نوکران دي ، د دې ټولو ذکر شوو افرادو سره دي داسې برخورد وشي لکه د يو نوکر سره چې کېږي .

سلطان ابراهيم امروکړي چي ټول اميران بايد د سلطان د تخت په وړاندي لاس پر نامه ولاړوي . . . )

د سلطان ابراهيم دي مغرورانه عمل ټول با وقاره پښتانه اميران ناراضه کړل او هر پښتون امير په دې فکر کې شو چي خپل حيثيت ،ابرو او ګټي څنګه وساتي .

د پاچا اود هغه د اميرانو ترمنځ داعتماد ،باور او وفاداری فضا د منځه ولاړل او يو د بل پر ضد يې د سازشونو او توطيو سلسله شروع کړل .

پاچا لوي پښتانه اميران ډهلي ته رابلل د هغوی ملکيتونه يې ضبطول او هغوی يې په ډېره بې دردی او عذاب په زندان کي وژل . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلطان ابراهیم لودي د غیري پښتني اعمالو دسببه په هند کې د پښتنو (75) کلن سلطنت د بابر مغل پلاس ختم شو .

موږ دلته د سلطان ابراهیم لودي د غلطو اعمالو او د هغو په مقابل کې د پښتنو مشرانو د ردعملونو د جملې څخه صرف یوه واقعه د دې لپاره ذکر کوو چې پښتانه پاچاهان ،امیران او مشران د هغې څخه پند واخلي .

## ج:د دولت خان لودي او سلطان ابراهیم لودي شخړه:

دولت خان لودي د هغه مشهور دریاخان لودي زوی وو چې د سلطان بهلول لودي په دوره کې یې دډهلي د قلعې دمحاصرې اود "نریلي" په جګړه کې ذکر وشو .

دولت خان لودي په دې وخت کې د پنجاب دصوبې والي او د لودي قوم یو مشهور مشر وو .

سلطان ابراهیم لودي دولت خان لودي ډهلي ته ور وغوښتلی ، په دې وخت کې ټولو پښتنو مشرانو ته دا معلومه وه چې د سلطان د خوا وډهلي ته ورغوښتل څه معني لري ، نو د همدې ډاره دولت خان لودي و ډهلي ته نه ولاړي او پر خپل ځای یې خپل زوی دلاورخان لودی د سلطان ابراهیم لودي دربار ته ورولیږي .

کله چې ابراهیم لودي ولیدل چې دولت خان لودي په خپله ډهلي ته رانغلي او پر ځای یې خپل زوی د پاچا دربار ته رالیږلي دي ، نو پاچا امر وکړي چې دلاورخان ته دډهلي زندان ورښکاره کړي چې هلته د پښتنو بندي مشرانو حالت وګوري ،ترڅو د دې لاري دلاورخان وبیریږي او هم خپل پلار وبیروي .

دلاورخان دډهلي په زندان کې ولیدل چې پښتانه مشران په دیوالونو پورې ځړېدل ، پر بدن یې غوښې نوي او تنها هډوکي پاتې وه ...

کله چې دلاورخان د پښتنو مشرانو دا حالت ولید نو دا ورته معلومه شوه چې دده د پلاراوکورنۍ دغږو سرنوشت به هم په دې ډول وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې وروسته دلاورخان د ډهلي څخه وتښتيد او پلار ته يې د ډهلي په زندان کې د خپل د سترګو ليدلی حال ووايه .

دولت خان دډهلي په زندان کې د پښتنو مشرانو حالت ډېروبيروي او د خپل وهم څخه مجبورشو چې د سلطان په مقابل کې بغاوت وکړي .

دولت خان د دې بغاوت لپاره د سلطان ابراهيم تره علاوالدين عالم شا را وړاندی کړ او دې دواړو د سلطان ابراهيم لودي له ډاره په کابل کې د پښتنو د قاتل مغول بابر څخه مرسته وغوښتله او هغه يې په هند کې د پښتنو ددولت پر ضد و حملې ته دعوت کړي .

قاتل بابر چې لس ګونه کلونه په دې طمع ناست وو چې څنګه پرهند حمله وکړي او هغه د خپل سلطنت برخه کړي ددولت خان او علاوالدين دعوت د ځان لپاره يو طلايي چانس وبللي او پر هند يې حمله وکړل .

بابر اول دولت خان بې عزته کړي ، علاوالدين يې ګيروګان د ځان سره وساتې او سلطان ابراهيم يې د(1526 ع ) د اپريل پر شلم تاريخ د پاني پت په ميدان کې په جنګ کې شهيد کړي .

سلطان ابراهيم لودي چې کله د خپل پلار سلطان سکندر لودي تر مرګ وروسته د هند د سلطنت پر تخت کېناستې ،په داسې کارونو يې شروع وکړل چې د پښتو او پښتونولي سره مطلق مخالف وه .

د سلطان ابراهيم لودي د پښتو او پښتونولي خلاف اعمال نه تنها د بابر مغل د لاسه دده په شهادت تمام شول ، بلکې په هند کې يې دزرګونو پښتنو په وينو جوړشوي د پښتنو دلودي کورنۍ (75) کلن سلطنت هم پاي ته ورسوي ،او هند د بابر مغول پلاس ورغلي .

دا خبره د ذکر وړ ده چې په دې جنګ کې دبابر مغل د فوځ اکثره برخه د پښتونخوا د پښتنو څخه جوړه وه چې دا خبره د خوشال بابا د شعر د دې لاندې بيت څخه د ورايه ښکاري .

بيا د پاس دډهلي پاچا بابر شه* چې يې کارد پښتانه په برکت وو .

دا چې ولې پښتانه د خپل ازلي دښمن بابر مغل سره د پښتون سلطان ابراهيم لودي په مقابل کې ودريدل ، هغه يې شهيد او د هند سلطنت يې د پښتنو دلاسه وايستي او د پښتنو د سر ، ناموس

(c) ketabton.com: The Digital Library



،عزت او مال ازلي دښمن بابر مغول ته يې تسليم کړي ، په دې باره کې د دې کتاب په تيرو فصلونو کې بحث شوی دی .

دلودی خاندان دپاچاهانو مخصوصاً د سلطان ابراهيم لودي د غلطيو د جملی څخه يوه ستره غلطی داوه چې ده او دده کورنۍ په هندوستان کې په عيش او ارام پاچاهي کول او د پښتونخوا د پښتنو د مظلوميت په باره کې يې هيڅ اقدام نکوی ، د کومو د سرونو څخه چې بابر مغول د خپل خوشالۍ لپاره منارونه جوړول .

ښه به داوي چې د هند پښتنو پاچاهانو د هند د پراخه ثروتونو او امکاناتو په واسطه د پښتونخوا د غريبو پښتنو د سر ، ناموس ،عزت او مال څخه د مغولو او نورو يرغلګرو په مقابل کې دفاع کړي واي .

ښه به داوي چې په هند کې پښتنو پاچاهانو د هند د پراخه امکاناتو په واسطه په پښتونخوا کې پښتانه دومره قوي کړي واي چې د هند دغرب يعني پښتونخوا د لاري چاپر هند دحملي کولو خيال هم نواي کړي ، او که دننه په هند کې د منطقوي قوتونو د خوا په هند کې د پښتنو سلطنت ته خطر پيښيداي نو د پښتونخوا د پښتنو په نظامي مرسته يې هغه هم دمنځه وړلای شواي .

په هند کې د اکثره پښتنو پاچاهانو د ابراهيم او سکندر لودي په شمول ستري غلطۍ داوي کله چې دوی د پښتنو د توري په زور د هندوستان سلطنت ونيوي نو ډېره توجه به يې په هند کې د خپل سلطنت و استحکام ته وکړل او خپل پلرنۍ هېواد پښتونخوا او پښتانه به يې هيرکړل چې ژوندي مثال يې د لودي کورنۍ پاچاهان دي که دوی په هند کې د پښتني سلطنت د استحکام سره سره يوه اندازه توجه پښتونخوا ته کړی وای نو بابر مغل به يې د امو دسيند څخه پورې ايستلی وای او يا به يې وژلی وای ، خو دوی داسې ونه کړل پښتونخوا او پښتنو د بابر مغل تر ظلم لاندې شپې او ورځې تېرولې دوی په هند کې په عيش او نوش پاچاهي کوله .

## 6:پر هندوستان د شيرشاه سوری سلطنت

**(1539-1555 ع)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هند کې د مسلمانانو د حکومت بنياد ايښودونکی سلطان معزالدين محمد غوري سوري دی او د پښتنو له لاسه تللی د هند سلطنت بيا هم د سوري قبيلي يوبل پياوړي مشر شېرشاه سوري لاسته راوړی .

کله چې سلطان ابراهيم لودي په هند کې د لس ګونو زرو پښتنو د وينو په قيمت جوړ شوی سلطنت سره په بې پروايي او خود خواهۍ برخورد شروع کړي ، نتيجه يې دا شول چې په هند کې د لودي پښتنو(75 ) کلن سلطنت د بابر مغل د پښتني لښکرو پلاس د منځه ولاړ شي .

که څه هم پښتنو په هند کې سلطنت د لاسه ورکړي خو د ځينو با غيرته پښتنو په زړه کې لا د مغلو څخه د انتقام او په هند کې د پښتنو د سلطنت د بيا برحاله کولو جذبه موجوده وه .

دا توريالي او مدبر پښتون فريد خان د حسن خانو سوري زوی وو چې د مغلو څخه يې د يارلس کاله ورسته بياد هندوستان سلطنت ونيوي او په (1539 ع) کې دډهلي پرتخت د شير شاه سوري په نوم کېناستی .

دمخه ترديچې د شيرشاه سوري د سلطنت په باره کې ګرانو لوستونکو ته لنډ معلومات ورکړو ښه به داوي چې د دې توريالي او ننګيالي پښتون په باره کې څه لنډ معلومات وړاندې کړو .

د شېرشاه اصلي نوم فريد خان دی ، د پلارنوم يې حسن خان او د نيکه نوم يې ابراهيم خان دی .

فريد خان د هند په بهار ايالت کې د هغه ايالت د حاکم سلطان محمد شاه خان ملازم وو چې يو وخت يې د ښکار په جريان کې زمري په توره وواژه ،دهمدې قهرمانۍ په سبب محمد شاه خان فريد خان ته د شيرخان لقب ورکړي او د خپل زوی جلال خان مرستيال يې مقرر کړي .

د ځينو کورنيو نا مناسبو حالاتو په سبب شيرخان د چنديري په جګړه کې د "ميرزا جنيد برلاس" سره ملګري شو او تر جنګ وروسته شيرخان د ميرزا جنيد د خوا وبابر مغول ته چې تازه يې هندوستان د سلطان ابراهيم لودي څخه نيولي وو ور معرفي شو او په يوه ميلمستيا کې يې برخه ورسره واخستل .

د ډوډۍ خوړلو په جريان کې د شير خان مخ ته په يو قاب کې ماهي پروت وو خو د ماهي د پري کولو لپاره پر دسترخوان چاړه موجوده نه وه ، په دې وخت کې شيرخان د خپل جيب څخه چاړه راوايستل ماهي يې په ټوټه کړي او ښه په مزه يې وخوړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیرخان دي عمل ته بابر متوجه وو ، بابر د شیر خان دي کار ته حیران شو او دا یې یقین شو چې داسې دلاور پښتون حتما مغلو ته خطر پیښولای شي او سمد ستي یې په ترکي ژبه خپل وزیر خلیفه ته وویل چې دا سړي نظر بند کړي ، که څه هم د میزا جیند د خوا بابر ته د شیرخان ډېره صفايي وشول خو شیر خان د خبرو په نزاکت پوه شو او کله چې د بابر نظر بل لور ته واوښتی نو شیر خان سمد ستي محفل ترک او بیرته بهار ته ولاړي او محمد شاه خان بیرته پر خپل پخواني دنده تعین کړي .

شیرخان د مغلو سره زیات جنګونه وکړل ترڅو د هغو څخه د هند سلطنت بیرته پښتنو ته راستون کړي .

د شیر خان او مغلو تر ټولو مهمه جګړه د " قنوج " فیصله کونکي جګړه وه .

د قنوج په جګړه کې د شېر خان پنځوس زره پښتني فوځ د همایون مغل سل زره مغولي فوځ ته داسې ماتې ورکړه چې همایون مغل خپل هر څه پرېښودل او پر یو شاه توري آس سپور شو او د جنګ د میدان څخه وتښتیدي او د مغلو شاهي حرم او خزاني ټولي د شیر خان پلاس ورغلي .

په دي ډول شیر خان مغل د هندوستان څخه وشړل او د پښتنو د لاسه وتلي د هند سلطنت یې بیا پښتنو ته راستون کړي او شیر خان په (1539 ع ) کې د شیرشاه سوري په نوم د هندوستان پاچا شو .

شېرشاه د هندوستان د تاریخ یو ستر پاچاوو که څه هم هغه پنځه کاله د هندوستان پاچاوو او په (1545 ع یا 952 هه) کې د لومړي خور پر دوولسمه د اورلګیدني په یوه حادثه کې وفات شو خو د هغه پوهه ، تدبیر ، حوصله ، شجاعت ، پښتونولي اونورې ښې کارنامې د هند او پښتنو په تاریخ کې د ابد لپاره ژوندی پاتې دی .

د شېرشاه تر وفات وروسته د هغه په کورنۍ او یا په نورو پښتنو سردارانو کې د شېرشاه سوري او د سلطان بهلول لودي په شان هوښیار ، مدبر ، شجاع او پر پښتو او پښتونولي ولاړ مشران پیدا نه شول چې د هند ټول پښتانه یې پر یوه مرکز سره راټول کړي واي او په هند کې یې د پښتنو واکمني ساتلی وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library





شیرشاہ سوری شہنشاہ افغان (۹۴۶ھ۔ق)

*Cher Chah Souri Empereur Afghan (1539)*

د شېر شاه تر وفات وروسته يو ځل بيا پښتانه په خپل منځ کې سره بې اتفاقه شول او نتيجه دا شول چې د سفاک بابر زوی د شېرشاه ځخه تښتيدلی همايون دايران د پښتون دښمنه شيعيه دولت په مرسته د هندوستان سلطنت د پښتنو ځخه د ابد لپاره ونيوي .

د بابراولاد د خپل مغولي عادت مطابق نه تنها په هند کې داوسيدونکو پښتنو سر ، ناموس ،عزت او مال لوټ کړي ،بلکې د پښتونخوا د پښتنو د سر ، ناموس ، عزت او مال لوټلو ته يې هم د پخوا په شان دوام ورکړي .

## د پښتونخوا سره د هند د پښتنو پاچاهانو رابطه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هند کې د پښتنو په لاس د تاريخ په بېلو بېلو وختونو کې د سلطنتونو ايجاد د پښتنو په تاريخي افتخاراتو کې حسابېږي او ټول پښتانه يې د خپل ستر ملت د تاريخي برياليتوبونو څخه شمېري .

په هند کې د پښتنو د سترو سلطنتونو ايجاد په داسې وخت کې شوي دي چې پښتانه او پښتونخوا د مغلو تر تاړاکونو او چپاول لاندې وه .

د بده مرغه کوم پښتون چې به د هند سلطان شو نو هغه به دي ته ترجع ورکول چې ځان د هند پاچا وبولي او هند د مغلو د حملو څخه وساتي .

د هندوستان هيڅ پښتون سلطان د هند د پراخه او ماړه سلطنت بې حسابه زرايع د خپل پلرني هېواد ګراني پښتونخوا او په پښتونخوا کې د مغلو تر لاس لاندي مظلومو پښتنو د نجات لپاره استعمال نکړل .

مغلو په پښتونخوا کې چور، چپاول او فتنه خپره کړي وه خو د هند د پښتنو پاچاهانو فوځونه کله هم د اباسين څخه د پښتنو د ملاتړ او د مغلو په تعقيب کې را پورې نه وتل .

لنډه دا چې د هند د پښتنو پاچاهانو او د پښتونخوا د پښتنو رابطي صرف د هند د سلطانو دربار ته د پښتونخوا د پښتنو د ځينو جرګو ورتلل وه او د هند د پښتنو پاچاهانو د خوا ودوی ته د مېلمستيا او څه تحفو ورکولو باندې منحصرې وي .

د پښتونخوا سره د هند د پښتنو پاچاهانو قطع رابطه د شيرشاه سوري د دې بيان څخه معلومېږي .

په کومو ورځو کې چې بابر پر چنديري حمله کړي وه ، شيرشاه هم د ځينو پښتنو سره د بابر په فوځ کې شامل شوي وو .

عباس خان سرواني د شېرشاهي تاريخ مصنف د خپل تره شيخ محمد ( چې د شيرشاه سره د چنديري په لښکر کې شامل وو ) د خولې نقل قول کوي او داسې وايي :

" زه يوه ورځ د ابراهيم سرواني په ملګرتيا کې د شير خان خيمې ته ولاړم ، په خبرو خبرو کې ابراهيم دا وويل چې اوس د پښتنو لپاره د مغلو نه د هندوستان سلطنت بيا را ګرځول ډېر ګران کار دي .

ددې په ځواب کې شير خان وويل چې اې شيخ محمده ته زما او دده په منځ کې پر دې خبره ګوا اوسه که چېرې بخت زما ياري او پښتنو زما سره مرسته وکړه نو زه به يو ځل بيا مغل دا ټک نه پورې باسم "

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیر شاه د دې خبرې نه دا معلومېږي چې هغه د مغلو سره د هندوستان پر سلطنت مخالفت درلودي ، هغه مغل د هندوستان څخه بیا وپښتونخواته شړل غوښتل . . .

که شیر شاه داویلي واي چې هغه به مغل د امو سین څخه مرکزي آسیا ته وشړي نو به موږ داویلي واي چې د شیرشاه سره د پښتنو او پښتونخواغم هم وو ،هغه ځان پښتون او پښتونخوا یې خپل هېواد بللي .

په ډېر افسوس سره باید ووایو چې د شیرشاه په شان هوښیار او مدبر پښتون پاچا هم د پښتونخوا پرځای هندوستان خپل هېواد بللي او د هغه د سلطنت دعوا ګیر وو .

دا چې شیرشاه د خوشاب پر مقام د پښتنو مشرانو د جرګو سره کتلي وه ، د هغو سره یې په پښتو ژبه خبري کړي وي او یایې په ارمانونو کې داوه چې پښتانه د پښتونخوا د غرونو څخه راکوز کړي او د پنجاب په میدانونو کې یې اباد کړي تر څو هندوستان د مغلو د حملو څخه وساتي . . . ،

دلته هم شیرشاه د پښتنو د توري څخه د هندوستان د سلطنت د حفاظت لپاره کار اخلي .

کله چې پر سلطان بهلول لودي د محمود شاه شرقي د خوا فشار راغی ، د ډهلي قلع یې ځنې محاصره کړه په دې وخت کې د هغه د پښتونخوا پښتانه را په یاد شول او د هغو څخه یې مرسته وغوښتل او د پښتونخوا پښتنو هم د بهلول لودي غوښتني ته د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس مثبت ځواب ورکړ او دولس زره پښتانه د هغه په فوځ کې شامل شول او د دې فوځ په مرسته سلطان بهلول لودي محمود شاه شرقي ته ماتې ورکړه او دهندوستان سلطنت یې خپل کړ .

خو له بده مرغه په هند کې د لودي کورنۍ په (75) کلنه دوره کې یو ځل هم د لودي سلطنت فوځونه و پښتونخواته په دې نیت تر اټک راپورې نه وتل چې پښتونخوا او پښتانه د مغلو د ظلمونو او تاړاکونو څخه خلاص کړي .

کله چې بابر د سلطان ابراهیم پر فوځونو حمله کول نو په هغه وخت کې د پښتونخوا دپښتنو شمېر د سلطان ابراهیم تر فوځ د بابر مغل په فوځ کې زیات وه ، همدا علت وو چې د سلطان ابراهیم لودي فوځونو د بابر مغل د فوځ څخه ماتې وخوړل او د هندوستان پښتني سلطنت د مغلو لاسته ورغلي .

د پښتونخوا او په پښتونخوا کې د میشه پښتنو په باره کې د هند د پښتنو پاچاهانو غلطي پالیسۍ د دې سبب شوي چې د پښتونخوا پښتنو د هند پښتني سلطنتونه خپل سلطنتونه نه بلل ،ځکه چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتونخوا پښتنو ته يې هيڅ فايده نه رسيدل او دي پاچاهانو هم د پښتونخوا د پښتنو په درد او غم کې ځانونه شريک نه بلل ، او د پښتونخوا د پښتنو په باره کې ئی خپل پښتني مسئوليت ادا نکړي .

د هند پښتني پاچان په هند کې په عيش اونوش بوخت وه خو په پښتونخوا کې د بابر مغول او دده په شان نورو مغلو د پښتنو د سرونو څخه منارونه جوړول .

په هند کې د پښتنو پاچاهانو د عيش او عشرت صرف څو نمونی په لاندې ډول ذکر کوم:

1: د علاوالدين غلجي د حکومت ستره غلطي داوه چې هغه پر لوړو دولتي چوکيو کم اصل ، غوړه مال او چاپلوس نفر مقرر کړل .

علاوالدين غلجي د خپل دولت ټول واک د ګجرات په جنګ کې په زور مسلمان شوي "ملک کافور" خواجه سراي ته وسپاري .

دا نوي مسلمان شوي ښکلي هلک "ملک کافور" د سلطان علاوالدين غلجي پر روح او فکر داسې مسلط وو چې څه ملک کافور غوښتل علاوالدين هغه منل او عملي کول .

دلته په پښتونخوا کې پښتانه د مغلو تر بې پايه ظلم او جبر لاندې وه ، خو په هندوستان کې پښتون سلطان علاوالدين غلجي د پښتو او پښتونولي لاره يعني پښتني تقوا او فرهيزګاري پريښې وه ، پر پښتنو يې اعتبار کم شويوو ، او د هند د پښتني دولت ټولي چاري يې د خپل عيش او عشرت د ملګري ملک کافور خواجه سرا پلاس کې ورکړي وي ،او خپله د عيش او عشرت په بې پايه درياب کې لاهو وو .

2: د سلطان علاوالدين غلجي تر مرګ وروسته د هغه زوی مبارک شا د قطب الدين مبارک شاه په نوم د هندوستان پاچا شو .

مبارک شاه هم د پښتونخوا د پښتنو د مظلوميت او پر هغوی د مغلو د ناکردو او ظلمونو په باره کې د فکر کولو وخت نه درلود ، ځکه چې د هندوستان دا پښتون پاچا هم د خپل پلار په مرض يعني په عيش او عشرت مبتلا شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک شاه به کله کله د شرابو په نشه کې په داسې حال کې چې د ښځو کالي به يې اغوستي وه و دربار ته راووتې .

دده په دربار کې د پښتنو مشرانو په نسبت د يوې فاحشې قدر زيات وو ،شاهي دربار به د بازار دفاحشو ډک وو .

مبارک شاه د خپل پلار په شان خپل زړه د ګجرات پر يو ښکلي هندو هلک بايللي وو ، دا هندو بچه د ګجرات د "پروار" د قام يو ښکلي هلک وو ، تر مسلمان کيدو وروسته د هغه نوم " حسن پروار" شو .

مبارک شاه حسن پروار ته د "خسروخان" لقب ورکړ او د خپل دولت ، دربار او زړه ټول واک يې هم دې نوي مسلمان شوي هندو بچه حسن پروار ته تسليم کړ .

حسن پروار د خپل صلاحيت څخه په استفاده د خپل قوم زيات شمېر خلک د دولت پر مهمو چوکيو مقرر کړل او د دولت ټول واک يې په خپل لاس کې واخيست .

پښتنو اميرانو مبارک شاه ته د خسرو خان د بدو ارادو څخه خبر ورکړي ، خود خسرو خان سره د مبارک شاه عشقي ميني ، محبت ،شهوت پرستۍ او د خسرو خان ناز ،نزاکت او ښکلا د مبارک شاه سترګې ړندي ،ژبه ګونګه او غوږونه ور کاڼه کړي وه ، او د خسرو خان په باره کې يې د هيچا شکايت نه منلې .

بالاخره په(320 ع) کې د مبارک شاه هلک حسن پروار(خسروخان ) په يو نظامي پاڅون سره د دولت ټول واک پلاس کې واخستي ،مبارک شاه يې مړکړي او د سلطان علاوالدين د کورنۍ نور ټول غړي يې هم مړه کړل .

حسن پروارد پښتنو د شاهي کورنۍ ښځې پر خپل تربورانو او قوم وويشلې ، حسن پروار د مبارک شاه مليکه خپل ځانته ماندينه کړه .

د لوی هند د يو داسې نا اهله پښتون سلطان لکه مبارک شاه څخه به د پښتونخوا د پښتنو څه د خير او ملاتړ اميد وای ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



3: د محمود غلجي تر مرګ وروسته د هغه زوی د سلطان غیاث الدین په نوم د مالوي پاچا شو .

غیاث الدین د خپل سلطنت چاري خپل زوی ناصرالدین ته وسپارلي او خپله په عیش او عشرت کې مصروف شو .

داسي ویل کېږي چي د سلطان غیاث الدین په حرم کي پنځلس زره ښکلي مینځي موجودي وي ، او د دي سلطان کار صرف د دي مینځو سره وو .

4: کله چي د مالوي پاچا اسمعل خان مشهور په شجاعت خان کرلاڼي وفات شو نو د هغه پر ځای د هغه زوی باز بهادرخان د مالوي پاچا شو .

ویل کېږي چي باز بهادر په موسیقي کي د عادل شاه سوري شاګرد اود موسیقي یو بې مثاله ماهر وو ، په رقص او سرود کي یې مثال نه درلودي .

د هندي ژبې د عاشقانه غزلو نامي مصنف وو .

د باز بهادر په دربار کي نهه سوه ښکلي سندرغاړي او نڅاکونکي موجودي وي .

د باز بهادر په دربارکي دده یوه مشهوره معشوقه د "روپ متي" په نوم موجوده وه ، دا روپ متي د خپل ښکلا ،حسن ، رقص ، سرود ، او شاعرۍ په میدان کي د هندوستان په سطحه لوړ شهرت درلودي .

باز بهادر خپل ژوند صرف د یې مخو سره په رقص ، شعر ، موسیقي او عیاشي کي تیروي .

په هند کي د پښتني سلطنتونو د زوال د زیاتو علتونو د جملي څخه یو علت هم ددوی د اصلي وطن یعني پښتونخوا سره ددوی د رابطي قطع کول وه .

پښتنو پاچاهانو غوښتل چي د هند پر سترهېواد پاچاهي وکړي ، خودوی په هغه پراخ هېواد کي هیڅ قومي ریښه نه درلودل ، او د خپل اصلي هېواد یعني پښتونخوا سره یې هم رابطه قطع کړي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم فصل

## معاصر افغانستان په څو لنډو جملو کې

### 1: هوتکيان ( 1120 – 1150 هـ ):

ددې کتاب په تېرو فصلونو کې موږ يادونه وکړه ، چې په (616 هـ) د چنګېز وحشي فوځونو پر پښتونخوا او پښتنو خپل وحشي يرغلونه پيل کړل .

مغلو د نورو آسيا يي هېوادونو په شان د پښتنو هېواد ګرانه پښتونخوا هم د خاورو سره برابره کړل .

مغلو د پښتونخوا اباد ښارونه په کنډوالو بدل کړل ،ښکلي کلي او باغونه يې په وچو ډاګو بدل کړل .

د پښتونخوا بچيانو د مغلو پر ضد تقريبا پنځه نيم سوه کاله خپل ازادي غوښتونکي ملي مبارزه جاري وساتلي .

که څه هم په سونو ځله مغولو د پښتنو ازادي غوښتونکو جنګيالو د ازادۍ له شوره د ډکو سرونو څخه منارونه جوړ کړل خو ويې نشوه کړای چې د پښتنو د ازادۍ غوښتونکي اور لمبې خاموشه کړي .

د مغلو په مقابل کې د پښتنو د سل ګونو کلونو مقاومت به کله کله موقتي ګټې پښتنو ته راوړي ،خو د مغلو د سفاکو دولتونو او د ايران د شيعه ګي دولت ترمنځ د پښتنو پر خلاف سازشونو او نظامي فشارونو به د پښتنو لاسته راوړني بيا د هغو د لاسه وايستلې .

د مغلو پر ضد د هوتک بابا او دده د کورنۍ ، د يوسفزو ، د روښانيانو د تحريک ، د توخيانو ، ابداليانو ، د خوشال خان ، ايمل خان ، درياخان او په سل ګونو نورو ګم نامو پښتنو غازيانو او ګم نا مه مظلومو شهيدانو د پاکو وينو سرې غوټۍ په قندهار کې د ايران د شيطاني قوت پر ضد د قندهاري پښتنو په پاڅون سره د سروګلابو د ګلونو په شان وغوړېدې او د پښتونخوا پاکه خاوره يې ښکلې او د پښتونخوا فضا يې معطره کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران د شیطاني امپراطورۍ پر خلاف د قندهار د هوتکیانو د مبارزي بریالیتوب د پورته ذکر شوو ملي مبارزینو د اوږدو مبارزو او بې مثاله ځاني او مالي قربانیو نتیجه وه .

دایران د شیطاني امپراطورۍ پر ضد د قندهاري پښتنو د ازادۍ غوښتونکو مبارزو مشري ستر پښتون میرویس خان هوتک کول .

میرویس خان هوتک په قندهار کې د ایران د شیطاني دولت پر ضد د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتنو رهبري دومره په پوهي ، عقل ، مهارت ، تعقل او تدبیر وکړل چې پښتانه یې د ایران د ظالم او شیطاني قدرت د اشغال څخه ازاد او خپلواک کړل .

پښتنو میرویس خان هوتک ته د هغه سترو او نه هیریدونکو خدمتونو په بدل کې چې هغه پښتون ملت ته وکړل هغه ته د ستر پښتون ملت د " نیکه " دافتخاره ډک لقب ورکړي .

پښتنو د میرویس خان د کورنۍ په مشرتوب نه تنها د پښتونخوا یوه برخه د ایرانیانو څخه ازاده کړل اویو ځل بیا د پښتونخوا په یوه برخه کې د پښتنو ازاد او مستقل دولت ایجاد کړي بلکې د ایران د شیطاني دولت د شیطانت ځاله یعنې د ایران د شیطاني دولت پلازمینه د اصفهان ښار د پښتنو توریالو پلاس ورغلي .

میروس نیکه د پښتنو د ازادۍ قهرمان ، او د پښتنو د خپلواک دولت موسس په (1715 ع) کې وفات شو او د قندهار په کوکران کې خاورو ته وسپارل شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library





ستر پښتون میرویس نیکه

میرویس نیکه د خپل قبرخخه هم پښتنو ته د ازادۍ ،ننګ او میړاني درس ورکوي او دهغه د قبر پرډبره دا بیت نویشته دي:

د ننګ تورته به مي هرهلوي*که پس له مړیني مي پرګورراشي مینه .

(روح دي ښادوی . )

د میرویس نیکه د کورنۍ په مشرۍ پښتنو نه تنها د ایران د شیطاني دولت څخه خپل استقلال واخستي ،بلکې د ایران پښتون دښمنه شیطان صفته شهنشاهي یې هم دابد دپاره دتاریخ کندي ته وسپارل .

د پښتني لښکرو د تورې په زور بالاخره د ایران متکبر شهنشاه صفوي شاه حسین مجبور شو چې د ایران د سلطنت څخه د میرویس نیکه د زوی پښتون پاچا شاه محمود هوتک په نفع استعفا وکړي ، او دا استعفا نامه خپله امضا کړي او دخپل دولت په امیرانو یې هم امضا کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ وروسته متکبر شاحسين او د هغه ددولت لوړ پوړي اميران پر هغو اسانو سپاره د شاه محمود هوتک حضورته حاضر شول ، کوم چې شاه محمود هو تک دوی ته ورليږلي وه .

شاه محمود هوتک په خپل دربار کې پر غالي ناست او يو وريښمين بالښت ته يې ډډه وهلې وه چې صفوي شاه حسين دده دربار ته ورداخل شو ، کله چې ظالم خو ماتې خوړلي ايراني پاچا د او طاق نيمايي ته ورسيد ، نو پښتون پاچا شاه محمود هوتک هم د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د خپل ځايه ولاړ شو او ماتې خوړلي ظالم پاچا يې په ډېر احترام په غېږ کې ونيو او د ځان سره يې پرخپل ځنګ کښېنوي ، په دې وخت کې د ايران مات شوي ظالم شهنشاه په خپل لاس د ايران د سلطنت تاج د خپل سر څخه راواخيست او د ځوان پښتون پاچا شاه محمود هوتک پر سر يې کښېښود او د ايران د شهنشاهي مبارکي يې ورکړ .

په دې وخت کې د ايران فاتح شاه محمود هوتک داسې وويل چې:

" دا د بنيادم د لوی والي حقيقت دی ، د خدای(ج) چې چاته خوښه وي هغه ته پاچاهي ورکوي ، د يوه قام نه يې اخلي او بل ته يې سپاري ، ولې زه دا وعده کوم چې ستا سره به د خپل پلار په شان ښه سلوک کوم ،او ستا په مشوره به عمل کوم . . . "

د شاه محمود د دې لنډ بيان او حرکت څخه په صفا ډول د پښتو او پښتونولي د قانون پيروي ښکاري ، پښتون پاچا په جنګ کې توريالي وو ، خو د فتحې په وخت کې ډېر فياض او مهربان وو او د پښتون ملت د ازلي دښمن ، د پښتنو د خاورې د اشغالګر ، ظالم ، مستبد او متکبر شاه حسين صفوي په مقابل کې يې هم احترامانه سلوک وکړي.

په دې سبا پښتون فاتح پاچا شاه محمود هوتک د ايران د شهنشاه په حيث د ايران پلازميني اصفهان ته داخل شو ،او لومړی کار يې دا وو چې د ايران معضول شهنشاه صفوي شاحسين ته يو ښه د اوسېدو محل پيدا کړي او يوه ښه اندازه معاش يې ورته مقرر کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library






د ایران فاتح اعلیحضرت شاه محمود هوتک

## 2: سدوزیان: (1160 -1258 هه ) :

کله چې ایراني یرغلګر نادرشاه افشار د ایران د شیعه امیرانو له خوا په (۱۱۲۰ هه ) کال په قتل ورسېد ، نو په دې وخت کې پښتنو ته یو ځل بیا دا موقع برابره شو چې د پښتونخوا ازادي چې د ایراني یرغلګر نادر افشار له خوا غصب شوې وه بیا په لاس راوړي .

ددې مقدس هدف د په لاس راوړلو په خاطر پښتانه مشران لکه جمال خان بارکزی، محبت خان پوپلزی، موسی خان اسحق زی، نورمحمد خان علیزی، نصرالله خان نورزی او داسی نور پښتانه مشران د قندهار د شېر سرخ په زیارت کې سره راټول شول تر څو د پښتنو د منځه یو ملی لارښود وټاکی.

دا جرګه په اته ورځو کښې د ملی مشر د ټاکلو په خاطر پریو کس موافقی ته ونه رسیدل، ددې جرګې په نهمه ورځ پښتنو مشرانو یو پښتون ځوان چې احمد نومېده د خپل پاچا په حیث ومني .

احمد په (1747 ع یا 1160 هه ) د رجب یا جولای په میاشت کې

د "ا حمد شاه " په نوم د پښتنو پاچا شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library






دقندهار د شیر سرخ په جرګې کې صابر شاه کابلي
داحمدشاه بابا په لونګۍ کې د غنم وږی ټومبي .

د قندهار د اوسني ښار تهداب احمد شاه بابا ایښی دی او دې ښار ته د احمد شاهي ښار نوم هم احمد شاه بابا ورکړی دی ، عام ولس نن هم د قندهار ښار ته احمد شاهي ښار وايي .

د احمدشاه بابا ددولت رسمي نښان ( دوه څوکې توره ، د غنم وږي او ستوري وو ) .



(c) ketabton.com: The Digital Library





# د احمد شاه باباه د سلطنت اهداف

دلوی احمد شاه باب د سلطنت اهداف په لنډ ډول داسی ذکر کوو .

1: د پښتونخوا بیا ازادول:

داحمد شاه بابالمړنی هدف داوو چی دپښتونخوا پاکه خاوره د غلیمانو د لاسه خلاصه کړی او یو ازاد او خپلواک هیواد دافغانستان په نوم بیا د نړی په سیاسی جغرافیه کښی ثبت کړی.

لوی احمد شاه بابا دپښتنو د بیداری او اتفاق د پاره داسی ویل.

ځان به ویښ کړو هری خواته هری خواته رقیبان دی.


یو په بل مو سره و ژنی وایی خپل یو غلمان دی.

لوی احمد شاه بابا د خپل سلطنت په لمړی کال دالله(ج) په مرسته اود پښتون ویاړلی ملت په مرسته دغزني ، کابل ، پېښور او د پښتونخوا د نورو برخو څخه د ډهلي د اشغالګرو مغلو سلطه ختم کړل .

په تېرو پنځه نیم سوه کالو کې دا لومړی ځل وو چې د پښتنو د لوی پاچا ستر احمد شاه بابا په عالمانه او مدبرانه رهبری پښتنو د توري په زور د ټولې پښتنونخوا پاکه خاوره د مغولو او ایرانیانو د چټل وجود څخه د تل لپاره پاکه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library






لوی احمد شاه بابا په ډېر کم وخت کې د امو او اباسین ترمنځ بیا د عربو تر بحیري پوري پرته تاریخي پښتونخوا د افغانستان په نوم د یو مستقل او خپلواک هیواد په حیث د نړی په سیاسی جغرافیه کې بیا د یو ځلاند ستوري په څیر راښکاره او ثبت کړي .

د لوي احمد شاه بابا په شهنشاهي کې د شمال د خوا د امو دریاب او مروه ، د غرب د خوا مشهد ، نیشاپور، خراسان او چابهار ، دجنوب د خوا سند او کراچې د عربو تر بحیري پوري ،او د شرق د خوا سرهند ،کشمیر ،ملتان او پنجاب شامل وو .

په طبعي پښتونخوا یعنی دلوی احمد شاه بابا په افغانستان کښی د چاه بهار ،ګوادر او کراچی بحری بندرونه شامل وه.

په پورته نقشه کې د لوي احمد شاه بابا په وخت کې د پښتنو د امپراطورۍ نقشه تر سیم شوي ده .

لوی احمد شاه بابا د پښتون ملت د ارزو مطابق د پښتونخوا سپیڅلی خاوره د ایرانیانو او مغلو د پنځه نیم سوه کلن ظالمانه اشغال څخه ازاده کړه او په دې منطقه کې ئی یوه ستره امپراطوری جوړه کړه ،چی دده په پښتنی امپراطوري کې ټوله تاریخي پښتونخوا ، د شرق پر لوري پنجاب ،سرهند ، کشمیر او ملتان ،دجنوب د خوا سند او د کراچی بندر ، دغرب پر لوري جام ، باخرز ، خاف ، تربت ، نیشاپور،چاه بهار او شیراز او د شمال د خوا مروه او د امو دریاب شامل وه .

## 2: د پښتونخواد ملي امنیت ساتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی احمد شاه بابا د پښتونخوا د ملي امنیت د ساتلو په خاطر په متوسط ډول سل زره تنخوا دار فوجیان ساتل ، خو د لښکر کښیو په وخت کښی دضرورت مطابق تردی شمیرهم ډیریدل.

لوی احمد شاه بابا د خپل فوځ دوسلی او لوجستیک ټول ضروریات پخپله په خپل هیواد کښی برابرول.

## 3: پښتونخوا د پښتني امپراطورۍ مرکز ټاکل.

د لوي احمد شاه بابا امپراطورۍ په هند کې د غلجي ، لودي او سوري پښتنو د امپراطوریو څخه دا لاندي ښکاره ممتاز خواص درلودل .

1: د احمد شاهي امپراطورۍ پلازمینه په پښتونخوا کې د قندهار تاریخي ښار وو .

2: لکه څنګه چې د تاریخ د سترو امپراطوري لکه دیونانیانو ، ایتالویانو او انګریزانو د امپراطوریو د قدرت مرکزونه د دوی خپل ذاتي هېوادونه یعني یونان ،ایتالیا او انګلستان وو ، په همدې ډول د احمد شاه بابا د پښتني امپراطورۍ د قدرت مرکز هم د پښتنو هېواد ښکلي پښتونخوا وه .

3: احمد شاه بابا خپل هېواد او خپل ولس ، پښتانه او پښتونخوا خپل د قدرت مرکز ټاکلي وو او د دې ځای څخه یې د خپل هېواد په شاوخوا کې په دې مقصد لښکر کښۍ کولي تر څو په منطقه کې ثبات تامین او د بې امنۍ مخه ونیسي .

4: د احمد شاه بابا د سلطنت برتري په هند کې د پښتني شاهانو پر سلطنتونو داوه چې په هند کې پښتني شاهان د هندوستان په ساتنه مصروف وه ، خپل پښتون ولس او خپل پلرني هېواد پښتونخوا یې د سفاکو مغلو تر نهایت ظلم ، بربریت او اشغال لاندي پرېښي وه .

لودیانو ،غلجیانو او سوریانو پر لوي هندوستان په عیش او عشرت کې پاچاهي کول ، خو سفاکو او ظالمو مغلو لکه میرزا الغبیګ، بابر او نورو په پښتونخوا کې د پښتنو د سرونو څخه منارونه جوړول

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هند کې پښتنو شاهانو د هندوستان د زياتو مالي او نظامي زرايعو څخه د مغلو د ظلمونو څخه د پښتنو او پښتونخوا د خلاصون لپاره هېڅ استفاده ونکړل چې دا ډېره د افسوس خبره ده .

په هند کې پښتني شاهانو هندوستان خپل هېواد بللی او د هغه د ساتنې لپاره يې ځان مسئول بللی . . .

خوستر پښتون لوی احمد شاه بابا خپل د ښکلې پښتونخوا شينکي باغونه او د جګو غرو سرونه د ډهلي پر تخت نه ورکول ، همدا علت دی چې احمد شاه بابا د ستر پښتون ملت په زړه کې دابدلپار د "بابا "ويارلی او د قدرور لقب او مقام ګټلی .

لوی احمد شاه بابا د پښتونخوا سره خپل بې پايه مينه دده په دې ښکلي حماسي شعر کې بيان کړې ده :

ســــــــتا د عشــــــــق د ويـنـــــــــواک شـــــــــول ځيګرونـــــــــه
ســـــــتا پـــــــه لاره کـــــــې بـــــــايلي ځلمـــــــي ســـــــرونه
تاتـــــــــه راشـــــــــمه زړ ګـــــــــی زمـــــــا فـــــــارغ شـــــــي
بيلـــــــــه تـــــــا مـــــــي انديښــــــــني دزړه مارونـــــــــه
دډهلــــــــي تخـــــــت هيرومـــــــه چـــــــې رايـــــــاد کـــــــړم
زمـــــــــــا د ښـــــــــــکلي پښـــــــــــتونخوا د غروســـــــــــــرونه
کـــــه هـــــر څـــــو مـــــي ددنيـــــا ملکونـــــه ډيـــــر شـــــي
زمـــــا بـــــه هيـــــر نشـــــي دا ســـــتا ښـــــکلي باغونـــــه
د رقيـــــب د ژونـــــد متـــــاع بـــــه تـــــار پـــــه تـــــارکړم
چـــــــې پـــــــه تـــــــورو پښـــــــتانه کـــــــړي ګذارونـــــــه
د فريــــــــــــد او د حميــــــــــــد دور بــــــــــــه بياشــــــــــــي
چـــــــــې زه و کانــــــــدم پرهرلــــــــوري تاختونــــــــه
کـــه تمامـــه دنيـــا يـــو خـــوا تـــه بـــل خـــوا يـــې
زمـــا خـــو ښ دي ســـتا خـــالي تـــش ډ ګرونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد شــــــاه بـــــــه دغــــــه ســـــــتا قـــــــدر هيــــــر نکـــــا
کـــــــــه ونيســـــــــــي د تمـــــــــام جهـــــــــان ملکونـــــــــه

## 4: د پښتنو د دولت د نړيوالو ذمه واريو انجامول:

احمدشـاه بابـا د پښـتنو د امپراطـورۍ د پراخـوالي ، د پښـتني امپراطـورۍ د سـاتنې ، د پښـتنو او پښتونخوا د حفاظت او د پښتني امپراطورۍ د نړيوالو ذمه واريو د انجام په خاطر ديارلس (13 ) ځله لښکر کښۍ وکړې .

د خدای پاک په مرسته او د ستر پښتون ملت په ملاتړ په ټولو ديارلس جنګونو کې بريالی شو .

کله چې د هېواد په غرب کې شيعه تروريستانو او بنياد ګرايانو د ايران په هېواد کې اشوب جوړوي او امنيت يې خرابوي نو احمدشاه بابا د پښتونخوا د غربي سرحداتو د امنيت د تامين او په ايران کې د شيعه بنياد ګرايانو د تهديد د مخنوي په خاطر ايران ته څو جنګي سفرونه وکړل او هرځل يې د پښتني امپراطورۍ د نړيوالو زمواريو د انجام په خاطر شعيه بنياد پرستان وځپل ، په ايران کې يې امنيت او عدالت تامين کړ .

پـه عـين ډول احمدشـاه بابـا څـو ځلـه هندوسـتان تـه جنګـي سـفرونه وکـړل او پـه هندوسـتان کـې يـې د سيکانو ، مرهټانو او نورو اشـوب ګرانـو د شـر او فسـاد مخـه ونيـول او د هنـد مظلومـان يـې د اشـوب ګرانو د ظلـم او سـتم څخـه خـلاص کـړل ، پـه هنـد کـې يـې عـدالت او امنيـت تـامين کـړې ،ځکـه چـې د پښتونخوا په شرق او جنوب کې د سيکانو او مرهټانو اشوب ګريـو د پښـتونخوا او منطقـي و امنيـت ته مستقيم خطر درلود .

د هند د تاريخ په جنګونو کې تر ټولو مشهور جنګ چې احمـد شـاه بابـا وګټـې هغـه د مرهټـانو سـره د پاني پت جنګ وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library






د احمدشاهي عسکرو لباس او وسلې

د احمد شاه بابا د پاني پت جنګ د هند په تاریخ کې د مها بهارت تر جنګ وروسته تر ټولو لوی جنګ وو چې د احمد شاه بابا په تدبیر او د پښتنو په نهایت جرئت او میړانه د پښتنو په ګټه تمام شو .

موږ د لته د پښتنو د دوستانو د معلوماتو په خاطر د پاني پت د جنګ لنډ ذکر کوو .

## د پاني پت جګړه:

کله چې مغلو په هند کې خپل رقیبان یعنې پښتانه د هند د سیاسي ، اقتصادي او نظامي واکمنۍ څخه لیري کړل او پر هند یې مغولي واکمني قایمه کړل ، مغول شاهان هم د دوی د همیشني عادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مطابق په عيش او عشرت کې ډوب شول او د هېواد چارې د څو غوړه مالانو او چپلوسانو پلاس ورغلې.

کله چې لوی احمد شاه بابا دمغولی امپراطوری لښکری د پښتونخوا څخه وشړلی،او څو ځله يې د هند په خاوره کښې مغلو ته د شرمه ډکی ماتی ورکړی نو په دې وخت کې د هند په ستر هېواد کې پرهرلورنا ارامی شروع شوي وي .

په دې نا ارامیو کې د پنجاب سيکانو او د هند مرهټه قوم ډېره برخه اخيستي وه .

په هند کې د سيکانو او مرهټانو د چور او چپاول په وجه د هند ټول مظلومان او مخصوصا مسلمانان ډېر په عذاب شول ، د هيچا سر ، مال او عزت محفوظ نه وو . . .

په دې وخت کې د هند ستر ملت د خپل سر ،ناموس ،عزت او مال د ساتلو په خاطر د اوميد سترګې د پښتونخوا پلازميني قندهار او د پښتنو ستر او عادل پاچا احمد شا بابا ته وراوښتې .

د هند زياتو مشرانو مخصوصا مسلمانانو او د هند لوي امام شاه ولي والله و احمد شا بابا ته ليکونه او پيغامونه راوليږل او د هغه څخه يې هيله وکړه چې د هند ملت ته د غلو او چپاول ګرانو څخه نجات ورکړي .

احمد شاه بابا هم د پښتنو د امپراطورۍ د نړيوالو زمواريو د سرته رسولو په خاطر په ډېره چابکۍ د يو واړه ديرش زره نفری لښکر سره د هند پر لور روان شو ، دده سره پر لاره بلوڅ او د هند د پښتنو مشران هم د خپل فوځونو سره ملګري شول چې په دې ډول د احمد شا بابا تر امر لاندي فوځ شمېر شپيتو زرو سپرو او پياده عسکروته رسيدي .

احمد شا بابا لومړي سيکانو ته ماتي ورکړي او بيا يې پر (1174 هـ) د پاني پت پر ميدان د مرهټانو سره ستره تاريخي جګړه وکړل .

احمد شاه بابا د پاني پت پر ميدان تر دوه نيم لکه اضافه هندو او مرهټه عسکرو سره په داسې حال کې د جنګ په ميدان کې مخامخ شو چې دده سره شپيته زره سپاره او پياده سپاهيان ورسره وه .

احمد شا بابا په خپل نظامي نبوغ ، لوړ همت او تدبير په شپيته زره فوځيانو هندو ، سيک او مرهټه فوځيانو ته داسې ماته ورکړل چې د هند او نړۍ په تاريخ کې بل داسې مثال نه ليدل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې جنګ کې د دښمن ډېر زيات فوځيان تر تيغ تير شول ،په دې جنګ کې پښتني فوځ ته پنځوس زره اسان ، دوه سوه زره غوايي ، پنځه سوه پيلان او څو زره اوښان د دښمن څخه د مال غنمت په ډول پلاس ورغلل .

پښتنو په دې جنګ کې د دښمن دوه ويشت زره (۲۲۰۰۰) فوځيان د جنګي بنديانو په ډول ونيول .

احمد شاه بابا د پښتو او پښتونولي د دې اصل پر اساس چې يو پښتون بايد په جنګ کې ډېر زيات توريالي وي خو د بري په وخت کې بيا بايد فياض او بخښونکي وي ،ټول مرهټه بنديان وبخښل او ازاد يې کړل .

احمد شاه بابا د دکن يو پښتون محمد ابراهيم ګاردي چې د څلويښت زره فوج سره د مرهټيانو ملګري وو ،او د پښتنو پر ضد جنګيدي و احمد شاهي جرګې ته معرفي کړي .

احمد شاه بابا ابراهيم نومي بندي ځکه ونه بخښي چې هغه يو پښتون وو او په دکن کې يې ژوند کوي ، کله چې مرهټانو د پښتنو پر خلاف د جنګ لښکري راروانولي نو دا پښتون هم د پښتنو پر خلاف د پښتنو د دښمنانو مرهټانو سره ملګري شو او تر هغه وخته يې د مرهټانو په نفع او د پښتنو پر خلاف جنګ وکړي ترڅو د پښتنو دخوا په جنګ کې ونيول شو .

احمد شاه بابا دا نامرد پښتون چې د پښتنو د دښمنانو په قطار کې د پښتنو پر خلاف جنګيدي د پښتنو جرګې ته وړاندي کړي او د هغه د سرنويشت په باره کې يې د پښتنو د جرګې رايه وغوښتل .

دا طبعي خبره ده چې احمد شاهي جرګې دا ملی خاين پښتون د پښتو او پښتونولی د قانون له مخی چې وايی.

"هر هغه پښتون چې د پښتنو د دښمنانو په قطار کې د خپلو پښتنو ورونو په مقابل کې جنګيږي ، د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا کس يو بې ننګه او ملي خاين دي ،د پښتو او پښتونوالي د قانون پر اساس د ملي خاين سزا مرګ دي . "


د احمد شاهي جرګې د فيصلي پر اساس دا ابراهيم ګاردی نومي پښتون اعدام شو .

د احمد شاهي جرګې دا فيصله بايد تر هغه وخته په پښتنو کې د عمل وړ وي تر څو چې پښتون ملت په پښتونخوا کې ژوندي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد شا بابا د پاني پت جنګ د هند په تاريخ کې د( مها بهارت ) تر جنګ وروسته تر ټولو ستر جنګ بلل کېږي .




## 5: د پښتنو ترمنځ د اتفاق او يو والي تامين:

کله چې د قندهار د شير سرخ په جرګه کې پښتنو احمد شاه د خپل پاچا په صفت وټاکي په دي وخت کې د پښتونخوا يوه برخه ترغزني پورې د هند دمغولي دولت ، بله برخه يې دازبکو د باشاني کورنۍ او بله برخه يې د ايران ددولت تر کنترول لاندي وه ،داحمد شاه بابا دولت نه منظم فوځ درلودي ، نه يې په خزانه کې پيسي درلودي او نه ټول پښتون ملت ازاد او پر يو مرکز راټول وو . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دا سې حساس تاريخي او ډېر نازک وخت کې احمد شاه بابا د خپل نبوغ ته نږدې سياسي درک ، پوهې او تدبير څخه کار واخستی چې د احمد شاه سياسي ، ټولنيز او نظامي نوښتونو ته په لاندې ډول ډېره لنډه اشاره کوو .

1: د دې لپاره چې د پښتنو د ټولو قومونو ملاتړ پلاس راوړي او ټول پښتانه قومونه د پښتني دولت ددفاع لپاره اماده کړي ،احمد شاه بابا د پښتنو هر قوم ته داخلي خود مختاري ورکړل او هغوی ته يې حق ورکړي چې د خپل قوم مشر په خپله خوښه وټاکي او د قوم په دننه کې ټولي چاري د پښتو او پښتونولي دقانون مطابق د قومي جرګې او د قوم د مشررانو په صلاح او مشوره حل او فصل کړي .

په دې ډول احمد شاه بابا وکړاي شول چې ټول پښتانه قبايل په پښتني نظام کې شامل کړي ، او په عين حال کې يې پر هر قوم باندې يو معين شمېر مسلح نفر مقرره کړل چې د جنګ په وخت کې به د شاهي فوځونو سره جنګ ته ځي او د دې قومي فوځونو تنخوا به د شاهي خزانې څخه ورکول کېږي .

2: د ملت او پښتني دولت چاري خپله پاچا پلاس کې واخستي او په دې چارو کې يې د نهه پښتنو سردارانو يوه جرګه جوړه کړيوه او د هغو سره به يې مشوري کولي .

3: دسترو مسئلو او فوځي تحرکاتو په باره کې به يې د پښتني قومونو د مشرانو ستري جرګې راغوښتي او د هغو تر صلاح او مشوري وروسته به يې د ټول پښتون قوم د ملاتړ په زور هغه کار ته اقدام کوي .

د مثال په ډول کله چې احمد شاه بابا د خپل نظام ابتدا يې نظم برابر کړي نو د ټولو پښتنو قومونو يوه لويه جرګه يې راوغوښتل او د هغو سره يې د پښتونخوا د هغو مځکو د ازادولو مشوري وکړي کومي چې لا د هند د مغولي دولت او ايران ددولت تر اشغال لاندې وي . . .

د پښتنو جرګې د پښتونخوا د پاکي خاوري د ازادۍ مشوره ورکړل او د دې ملي عمل د اجرا لپاره يې خپل فوځونه ورکړل ، د يو کال په جريان کې يې د امو او اباسين ترمنځ د پښتونخوا پاکه خاوره د غليمانو د چنګل وجود څخه پاکه کړل او تر پنځه نيم سوه کاله وروسته يو ځل بيا پر ټوله پښتونخوا د پښتنو حاکميت قايم شو .

4: کله چې احمد شاه بابا پاچا شو نو هغه په ډېر مهارت داکوښښ شروع کړي چې پښتون ستر ملت د مغولو تر پنځه نيم سوه کلن تاړاک وروسته يو ځل بيا پر يوه مرکز سره راټول کړي تر څو د يو عظيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملت په شان یو ځل بیا په دې منطقه کې وځلیږي ، د دې ستر ملي هدف د انجام لپاره احمد شاه بابا د پښتنو مشرانو او کشرانو سره لاندي کړني خپل نظر او عمل وګرځولي .

1: د دې لپاره چې د مغلو پنځه نیم سوه کلن تاړاک وهلي تیت او پاشل شوي پښتانه بیا پر یوه ملي مرکز سره راټول کړي نو احمد شاه بابا به پښتنو مشرانو او کشرانو ته همیشه په دې الفاظو خواست کوي:

(اې پښتنو د خداي لپاره ننګ وکړي ، د خپل ننګ او ناموس د دفاع په خاطر یو سره موټي شي)

2: احمد شاه بابا د اسلام د مقدس دین ، پښتو او پښتونولي د قانون په پیروي د ډېرو پاکو او سپیڅلو اخلاقو او صفاتو خاوند وو .

3: احمد شاه بابا د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پر وعده ډېر ټینګ او همیشه یې پر خپل وعده وفا کول .

4: د یو پښتون په صفت د پښتو او پښتونولي مطابق د احمد شا بابا د ژوند هدف او مقصد د ستر پښتون ملت خپلواک کول ، د هغه خپلواکي او ملي حاکمیت ساتل او د پښتونخوا د محځکنۍ بشپړتیا څخه دفاع کول او د اسې نوروه چې په دې مقد سو اهدافو کې هغه بریالي شو.

5: د احمد شاه بابا یو ستر صفت داوو چې هغه د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق ټول پښتانه د قوم ګلوي او عزیز ګلوي په نه شلیدونکي تار سره وتړل ، او د تیت او پرک پښتنو قومونو څخه یې یو ځل بیا د اسې نه تجزیه کیدونکي او سپنیز ملت جوړ کړي چې ټوله منطقه یې تر خپل کنترول لاندي راوستل ، او د دې منطقي پر آسمان تنها د ستر پښتون ملت د بریا ستوري ځلیدل .

6: احمد شاه بابا د یو اصیل پښتون په حیث ډېر ساده او بې تشریفاتو ژوند کولي ، د احمد شاه بابا دې ساده او بې تشریفاتو ژوند د پښتنو په منځ کې د هغه قدر او عزت لا نورډېر کړیوو ،او هر پښتون د زړه د کومي هغه ته احترام کوي.

د پښتون ملت په منځ کښې د احمد شاه بابا د زیات درنښت له کبله دی چې الفنستن انګریز د اسې لیکې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



، ،که په رښتیا په اسیا کښی یو پاچا دخپل ملت درښتونی درناوی وړ وی نو پرته له احمد شاه بل ثوک نشته، ،(الفنستن افغانان-۳۸۱ مخ)

7: د نوري دنيا د شاهانو خلاف احمد شاه بابا ته هر عارض ډېر په اسانه ځان رسولې شو او هغه ته يې خپل عرض وړاندي كولي شو .

8: د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق احمد شاه بابا ډېر عادل پاچا وو ، هغه د عدالت په وخت کې د خپل او پردي فرق نه کوي ، او د طرفينو ترمنځ يې دومره په عدالت فيصلي کولي چې هيچا هم د هغه د فيصلي خلاف شكايت نه كوي .

10: كله چې احمد شاه بابا پاچا شو بيا هم هغه د پښتنو سره خپل تعلقات قطع نه كړل او د يو عادي پښتون په صفت به يې د پښتنو د خپل منځي شخړو د حل او فصل په جرګو کې برخه اخستل .

11: احمد شاه بابا د پښتنو قومونو څخه د مرستي په خاطر هغوی ته د هغوی د پاچا په حيث حكم نه كولي ، بلكه احمد شاه بابا به هميشه د پښتنو څخه د قوم ولی او عزيز ولی په نوم د مرستي خواست كوي او پښتنو به هم هميشه د احمد شاه بابا خواست ته په ورين تندي مثبت جواب وركوي .

12: د احمد شاه بابا ژبه پښتو وه او د خپل پښتون ملت سره په پښتو ږغيدي ، همدا علت دي چې پښتنو هغه خپل پاچا بللي .

13: احمد شاه بابا به هميشه و پښتنو ته د قوم او عزيز په نوم خطاب كوي ، د قوم ولی او عزيز ولی د ميني او محبت نه ډک الفاظ د احمد شاه بابا د خبرو او خطابو ياد ګار دي چې ترنن پوري هم په پښتنو کې استعماليږي .

14: احمد شاه بابا ټولو پښتنو ته په يوه سترګه كتل ، هغوی د پښتنو د دښمنانو هغه پلانونه شنډ كړل چې د پښتنو قومونه يې يو د بل پر ضد استعمالول ، كله به يې دغلجي او دراني په نوم ، ، كله به يې دناصر او سليمان خيل په نوم ، كله به يې د نورزي او اڅكزي په نوم او كله به د بنګښ او توري په نوم سره جنګول .

احمد شاه بابا د پښتنو د برابری په باره کې داسې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



قافلـــــــــه دعشـــــــــق راغلـــــــــي دکــــــــوم خـــــــواده
پرزړګــــــي بانـــــدې مـــــي شـــــپه کـــــا څـــــه غوغـــــاده
ټــــــول يــــــــودي کــــــه غلجـــــــي کـــــــه اودالـــــــي دي
ښـــــــه هغـــــــه چـــــــې ئـــــــې دزړه ښيښـــــــه صـــــباده
چـــــــې عمـــــــل يـــــــې د نيکـــــــۍ وي مېـــــــړه هغـــــــه
کـــــــه اغوســـــــتي يـــــــې ګدلـــــــه د خمتـــــــاده
پښـــــــتانه دي ټولـــــــه لاس ســـــــره يـــــــو کانـــــــدي
چـــــــې غـــــــزا مـــــــو پـــــــر لـــــــوري شـــــــاوخواده
بـــــــې زحمتـــــــه راحـــــــت چېـــــــري مونـــــــده نشـــــــي
د احمـــــــد څکـــــــه پـــــــر هـــــــر لـــــــوري غـــــــزاده

15 : احمد شاه بابا د خپل پاکۍ ، ښو اخلاقو ، عدالت ، قاطعيت ،تدبير ، پوهي او ښه تنظيم په خاطر د ډېري ستري دبدبې خاوند پاچا وو ، همدا سبب وو چې د احمد شاه بابا په زمانه کې وحشي او ظالم شرمښ او بې ګناه او مظلوم د پسه وري به پر يوه ځای اوبه ښنبلي .

16 : احمد شاه بابا يو علم دوسته پاچا وو او په خپله هم د پښتو ژبې ښه شاعر وو .

لنډه دا چې احمد شاه بابا د پښتو او پښتونولي د قانون څخه په پيروي د مغلو تر پنځه نيم سوه کلن تاړاک وروسته پښتانه پر يوه ملي مرکز سره راټول کړل ، د پښتونخوا پاکه او سپيڅلي خاوره يې بيا خپلواکه او متحده کړل .

احمد شاه بابا داسې ستره پښتني امپراطوري ايجاد کړل چې برکت يې نه تنها پښتنو ته رسيدي بلکه ټوله منطقه يې د فيضه برخورداره وه .

احمد شاه بابا خپل نظام د پښتو او پښتونولۍ د قانون مطابق چلوي څکه نو هميشه بريالي وو .

17 : و تيمورشاه او راتلونکو پښتنو پاچاهانو ته احمد شاه بابا دا لاندي ټکي د نصحت په ډول ويلي دي .

<u>1 : په خپل ژوند کې چپلوسان او غوړه مالان ځان ته نږدې مه پريږده .</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



2: ناکسو ،چپلوسانو او غوړه مالانو ته د دولت چاري مه سپاره .

3: د خپل رعیت سره په محبت او عدالت برخورد کوه .

4: هره فیصله په پوره پوهه ، تدبیر ، سلا او مشوره کوه ، تر فیصلي وروسته په خپل تصمیم کي قاطع اوسه .

## 3:په پښتونخوا کښی پښتنی دولتونو ته متوجه خطرونه.

پارسیان یا نني ایرانیان د تاریخ په اوږدو کي د پښتنو ازلي او نه پخلاکیدونکي دښمنان پاتي شویدي .

د تاریخ په اوږدو کي کله چي هم دوی توان پیدا کړیدی نو پر پښتونخوا یي په خپله حملي کړیدي او د پښتنو تمدن یي د منځه وړي دي .

کله چي ایرانیانو په خپله د پښتنو د دولت دماتولو توان نه درلودي نو د هند د خاوري د حاکمانو سره یي لاس یو کړیدي او په ګډه یي په پښتونخوا کی د پښتنو دولت د منځه وړي دي .

څرنګه چي د تاریخ د شروع څخه بیا تر معاصر تاریخ پوري همیشه ایرانیان د پښتنو د ښمنان پاتي شوي دي ،نو د خپل دایمي عادت مطابق د افغانستان د معاصري امپراطوری پر ضد هم ایرانیانو د هند د برطانویانو سره لاس یو کړي او د پښتنو امپراطوري یي د منځه یوړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورږ د لته د پښتنو او پښتونخوا دواکمنيو پرضد د هخامنشانو څخه رانيولي بيا ترنني اخوندي ايران پورې د ايرانيانو توطيو ته يو ډېره مختصره اشاره کوو ، تر څو ګران لوستونکي په دې باره کې لږ او ډېر خبرشي .

## الف: هخامنشان :

هخامنشان څوک وه ؟

کوم وخت چې ايرين قبايلو و عمومي مهاجرت ته ملا وتړل ، د دې مهاجرت په جريان کې هغه ارين قبايل چې د اوسني ايران و سيمو ته يې مهاجرت وکړې د " پارسوا " په نوم ياديدل .

د اوسني ايران سيمو ته تر رسيدو وروسته دا "پارسوا " قبايل پر دوو برخو وويشل شول يوه برخه يې د ايران په شمال او غرب کې ميشته شول چې د " ماد" په نامه مشهور شول او ددوی د اوسيدو ځای ته يې "مادا " ويل .

د " پارسوا " قبايلو بله برخه په خپل نوم د ايران په جنوب کې ميشته شول او د ايران پخوانی نوم " پارس" د همدې قبيلو د نوم څخه اخستل شوي دي .

د ي "پارسوا " قبايلو د "ماد "د سلطنت ترامرلاندي ژوند کوي .

د مشهور يوناني تاريخ نويس هيرو ډوتيس په قول په جنوبي ايران کې ميشته د "پارسوا " قبايلو شمېر لس وو چې شپږ يې ميشه او څلور يې پونده ژوند تيروي .

د "پارسوا " په دې لس قبيلو کې تر ټولو مهمه د "پارسا ګاد " په نوم ياديدل .

د "پارساګاد " ديوي ځانګي سردار "هخامنش " نوميدي نو

د " پارسا ګاد " قبيلي د دې ځانګي نوم په "هخامنشي " مشهور شو .

د "ماد " د شاهي کورنۍ اخيري پاچا "ستاګس " خپله لور

"ماندان" د هخامنشي قبيلي مشر " کمبوجيه" ته ورکړل او د دې ښځې څخه د "سايرس يا کوروش " په نوم زوی پيدا شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کوروش" چې لوی شونو تر هر څه لومړی یې د خپل مورني نیکه

"ستاګس" څخه په ( 550 ق . م ) کې د "مادا " سلطنت ونیوی .

کوروش د غرب پر خوا د خپل پاچاهي حدود پراخه کړل او تر هغه وروسته یې د شرق پر خوا مخه وکړل او په پښتونخوا کې یې

د " پکوساتي " پاچاهي د منځه یووړل .

پښتنو د یرغلګر کوروش په مقابل کې شپړ کاله د خپل هېواد څخه په میړانه دفاع کول ، یرغلګر کوروش د پښتنو د مقاومت په نتیجه کې په قهرشو او د " کاپیسا " ښایسته ښاریې چې د پښتونخوا پایخت وو د بیخه وران او د منځه یو ړی .

د هخامنشي دوري اخیري سردمدار دریم داریوش " کدمان " هغه ظالم یرغلګر وو چې د پښتونخوا پرپلازمینه بلخ یې حمله وکړل ، بلخ یې وران کړي او د بلخ د "ورهران" د ، ،واري ، ، څخه یې د پښتنو دیني ، تاریخي ، اقتصادي او فرهنګي کتاب " اویستا " لوټ او په خپل شاهي ماڼۍ " تخت جمشید یا پریس پولیس " کې یې پټ کړي .

کله چې دا ایراني پاچا دریم داریوش د یونان د مقدوني سکندر څخه تر شرمناکي ماتي وروسته د پښتونخوا لوري ته راوتښتیدي ، پښتنو هغه دده او دده د کورنۍ د هغو ظلمونو په جرم چې د پښتنو او پښتونخوا سره یې کړي وه ووژلي او په دې ډول د ایران د هخامنشي یرغلګري سلسلي اخیري یرغلګر په پښتونخوا کې د پښتنو د خوا د خپل ناوړه اعمالو په سزا ورسیدي او د ایراني ظالمانو دا سلسله د تل لپاره د منځه ولاړل .

## ب : ساسانیان :

په(226 م ) کې د هخامنشیانو په شان په پارس کې یو بله پښتون دښمنه او یرغلګره کورنۍ د ساسانیانو په نوم قدرت ته ورسیدل .

ددې یرغلګري کورنۍ یو پاچا د لومړیي شاپور په نوم پر پښتونخوا حملې وکړې ، د پښتونخوا ابادۍ او د هغه وخت د پښتنو نظام یې وران او ټوله پښتونخوا یې د ایران د ساساني دولت تر کنټرول لاندې راوستل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ساساني دورې د تاريخ څخه معلوميږي چې د دې کورنۍ شاهانو په غرب کې د روم د امپراطورۍ او په شرق کې د پښتنو سره په هميشګۍ ډول په جنګ مصروف وه .

د ساساني کورنۍ اخيري يرغلګر دريم يزد ګرد په (16-20 هه) کې د "جولا" او "نهاوند" په جګړو کې د عربو څخه ماته وخوړل او ددريم داريوش په شان پښتونخواته راوتښتيدي .

په دې وخت کې د پښتنو مشر " ماهوي سوري " وو .

"ماهوي سوري "دريم يزدګرد د هغو جناياتو او جرمونو په جرم چې ساساني کورنۍ او په خپله دريم يزدګرد د پښتنو او پښتونخوا سره کړي وه ځکه د يو ژرند ګړي پلاس وواژه چې هيڅ پښتون دا راتښتيدلي ايراني ظالم پاچا خپل سيال نه بللي ،او په دې ډول يې د خپل پښتون ملت بدل ځني واخستې .

## ج:د پښتنو پر ضد د ايرانيانو او مغلو توطيې:

بابر مغول په هند کې د پښتنو سردارانو د بې اتفاقۍ څخه استفاده وکړل او د هند سلطنت يې د پښتنو په مرسته د پښتنو څخه غصب کړي .

د پښتنو څخه د هند د سلطنت ترغصب وروسته ډېر ژر بابر مغول مړ شو او د هند سلطنت د هغه زوی همايون مغل ته په ميراث ورسيدی . په دې وخت کې په پښتنو کې يو ډېر نباغلي ، توريالي او ننګيالي پښتون (فريد )د شيرخان په نوم راپيدا شو .

شير خان په هند کې د پښتنو تيت او پرک قوتونه بيا سره راټول کړل او د هند زياتي برخي يې يو په بل پسي د مغلو څخه خلاصي کړي .

همايون مغول د اګري څخه د يو سل زره فوځ سره د شيرخان مقابلي ته ووتي او شيرخان هم پنځوس زره پښتني فوځ په پښتني روحيه مجهز د همايون مقابلي ته د "قنوج" پر مقام حاضرکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې سره سره چې د مغول د فوځ تعداد د پښتنو په نسبت دوه چنده وو خو کله چې جنګ شروع شو نو مغول فوج د پښتنو د توري نه تیښته وکړل .

دمغلو پاچا همایون دومره وار خطا شو چې خپل ټول فوځ ،خزانې ،د حرم ښځې او ماشومان يې پر ځاى پريښودل او پر يو شاتوري آس سپور شو او د جنګ د ميدان څخه وتښتيدي .

د همايون مغول فوج ، خزانې او د حرم ښځې ټول د شيرشا ه سوري پلاس ورغلل .

شيرشاه سوري د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د همايون مغل ښځې او ماشومان په ډېر عزت سره لومړي د "رهتاس" قلع ته وليږل او وروسته يې په ډېر عزت همايون ته ور واستول .

همايون د هند د سلطنت تر بايللو وروسته د ايران پښتون ضد دولت ته ايران ته پنا يووړل .

د ايران پښتون ضد پاچا طهماسپ چې د دې واقعې څخه خبر شو چې پښتنو بيا هند د مغلو څخه ونيوي ، نو د پارس پښتون ضد پاچا د پښتنو سره د پارسانو د ازلي دښمنۍ پر اساس تښتيدلي مغول پاچا همايون ته پنا ورکړه.

ايراني طهماسب او همايون مغل د پښتنو دى ازلى دښمنانو په خپل منځ کښى د پښتنو پر ضد داسى توافق وکړى.

۱: ايران به د همايون مرسته کوي چې بيرته د هند سلطنت د پښتنو څخه ونيسي .

۲: کله چې مغول بيا د هند واکداران شول ،نو د هند د مغولي دولت او د ايران د شعيه دولت د امنيت د ساتلو په خاطر به پښتونخوا او پښتانه پر دوو برخو ويشي چې يوه برخه به د هند د مغولي دولت تر کنترول لاندى راځى ،او بله برخه به د ايران د شعيه دولت برخه جوړيږي .

د ايران او مغلو مشرانو په دې عقيده وه چې که ټوله پښتونخوا د ايران برخه شي نو هرومرو به پښتانه د ايران سلطنت د پارسانو څخه ونيسي ، او که ټوله پښتونخوا د هند سره وتړل شي نو پښتانه به د هند سلطنت بيا د مغلو څخه ونيسي ، که د ايران او مغلي هند په منځ کې ازاد پښتني هېواد جوړ شي نو د دې خطر شته چې پښتانه هند يا ايران ونسي او حتي د دې خطر هم شته چې پښتانه هند او ايران دواړه ونيسي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې دپاره چې مغل په هند او ايرانيان په ايران کې ارام او په عيش اونوش کې خپل پاچاهيو ته دوام ورکړي ،نو د ايران او مغلو مشرانودا پښتون ضد فيصله وکړل چې دوی بايد پښتونخوا پردوو برخو سره وويشي ، او دواړه دولتونه په خپل ټول توان او طاقت د پښتنو خلاف هرډول غيري انساني او غيري اسلامي ظلمونه او توطيي جاري وساتي ، تر څو پښتانه بيا دا توان پيدا نکړي چې سره يو ځای شي ، خپل ځان او هېواد د مغلو او ايرانيانو د غيري انساني او غيري اسلامي ظلمونو او غلامۍ څخه خلاص کړي .

همداسې هم وشول د بده مرغه شيرشاه سوري په يو حادثه کې شهيد شو ، د شيرشا ه سوري تر شهادت وروسته په پښتنو کې بل داسې قوي پښتون پيدا نه شو چې د شيرشاه د خوا ګټل شوي د هند پښتني سلطنت وساتي او بالاخره د هند سلطنت د بابر مغل زوی همايون مغول د ايرانيانو په مرسته بيا د پښتنو څخه ونيوي .

د ايران او مغلو دولتونو ددوی د قرارداد مطابق پښتونخوا په خپل منځ کې سره وويشل او پښتانه يې د اصفهان او ډهلي تر دايمي غيري انساني او غيراسلامي ظلم ، ستم ، تبعيض او فشار لاندي ونيول .

موږ دلته د مظلومو پښتنو سره د ايراني دولت او د هند دمغولي دولت د دښمنانه او ظالمانه برخورد يو څو نمونې بيانوو .

کله چې د پښتونخوا يوه برخه د ايران د شيعه دولت تر کنترول لاندې راغلل نو ايراني شيعه دولت د هر ډول ظلم او ستم څخه استفاده وکړل چې پښتانه او نور غيري شيعه خلک په زور د خپل مذاهبو څخه منکر او شيعه مذهب ورباندې قبول کړي .

په دې لړ کې د ايران د شيعه دولت په قلمرو کې هر هغه څوک ، ډله ، قوم او مذهبي ډلې چې شيعه مذهب يې نه منلي د هر ډول عذاب او اذيت سره مخامخ وي ، حتي په ډله ايز ډول وژل کيدل ، مالونه يې ضبطيدل او ډول ډول نوري غيري قابل برداشت او ظالمانه سزاوې ورکول کيدې .

يو ايراني پوهه ډاکتر شجاع الدين شفا وايي چې:

د صفويانو په دور کې هرډول انساني او اخلاقي معيارونه تر پښولاندې شوي وه ، صفوي دور په وينو لړلي وو ، صفوي دور د سخت زړه توب ، وروروژني ،فساد او ځان غوښتني دوروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږدلته ګرانو لوستونکو ته دصفوی شاهی کورنۍ د ظلم او وحشت څو لنډ مثالونه ذکر کوو.

۱: د ایران صفوي پاچا شاه اسمعل زنده خوران چې په "قورچې" هم مشهور وو د سني شکیب خان مړي په خپل غاښو ټوټې ټوټې کړي او دهغه غوښې یې او مې وخوړلي ،د شکیب خان د سرکاسه یې د سروزرو په چوکاټ کې ونیول او خپل د شرابو پیاله یې ځني جوړه کړل .

۲: دشاه اسمعل زنده خوران لمسي دوهم شاه اسمعل خپل شپږ وروڼه چې کوچني یې لا شیدي رودلي ووژل او په یوه ورځ یې د پنځه سوه صوفیانو سرونه پرې کړل .

۳: لومړیي شاه عباس صفوي خپل پلار د مرګ تر وخته په زندان کې وساتلي ، د خپل مشر زوی سر یې پرې کړي او ددوهم زوی سترګې یې ړندې کړې .

۴: د شاه عباس صفوي ځای ناستي صفي شاه خپله مور ، مېرمن شیرخور زوی او ړوند اکا ووژل ، او دخپل کورنۍ په لس ګونو نور غړي یې ړانده کړل .

صفوي شاه هانو دومره شراب څښل چې څلورشاهان یې په شرابو مړه شول .

د یو ملک پاچهان چې داسې بدعمله ، بد کرداره ، ظالم ، خدای ناترسه او فاسد خلک وي چې د خپل کورنۍ او ولس سره داسې دانسانیت او اسلامیت ضد جنایات کوي ( مشت نمونه ای خروار است) نودي خدای ناترسه ، وحشي ظالمانو به د محکومو او مظلومو سني مذهبو پښتنو سره څه کول ، دا حقیقت صرف خدای(ج) ته معلوم دي

د پښتونخوا هغه بله برخه چې ددوی د بل ازلي او خدای ناترسه دښمن مغول تر لاس لاندي شول دهغو حال هم ډیر بد وو .

په پښتونخوا کې د مغولو ټوله دوره د مغولو د وحشت او دهشت د اور په لمبو کې تیره شول .

بابر مغول او د هغه خونخواري کورنۍ خپلي بریاوي د پښتنو د سرونو په پرې کولو ، دپښتنو د سرونو څخه د منارونو په جوړولو ، د پښتنو د سر ، مال ، او عزت په لوټولو نمانځلي .

مغولو د پښتنو د وژلو او دهغو دسرونو څخه د منارونو په جوړولو او د پښتونخوا په نیولو صبر نه کوي ، بلکې هغوی پښتانه په معنوي او اقتصادي ډول هم په مسلسل ډول تر فشار لاندي نیولي وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



مغلو به پښتني ښځې د سر په ويښتانو د ژرندي په پله پوري وتړلي ،وروسته به يې پر ژرنده اوبه را خوشي کړي چې کله به د ژرندي پل ځرخيدي نو دا مظلومه پښتنه ښځه به هم ورسره ځرخيدل ،فرياد او زارۍ به کولي ، خو وحشي او ظالمو مغلو به د پښتنو ښځو د دې مظلوميت ،عذر ، زاريو ، فريادونو او نارو څخه خوند اخستلي ، د پښتنو وژل ، وهل ، ترټل او ځورول د مغلو خوشحالي او ساعت تيري وه .

په اقتصادي او اجتماعي ساحو کې هم مغولو دپښتنو په باره کې د خاص تبعيض څخه کار اخستې .

د مثال په ډول کله چې ددوهم ځل لپاره همايون مغل د ايرانيانو په مرسته هند د پښتنو څخه ونيوي ،نو همايون يو فرمان صادر کړي او

د دې فرمان په اساس يې په هند کې د ټولو پښتنو جاګيرونه ،شخصي جايدادونه او شتمنۍ ضبط کړې ، او په دې پښتون ضد عمل يې د هند ټول پښتانه مجبور کړل چې په يوه ګوله ډوډۍ پسې وګرځي او د سياست څخه ليري پاتي شي .

همايون مغول پښتانه د هند ددولت د ملکي او نظامي چوکيو څخه ليري کړل .

دمثال په ډول د هند د مغولو د ستر پاچا اکبر په درو کې د هغه د ټولو لوړ رتبه نظامي افسرانو د جملې څخه تنها (9) تنه پښتانه افسران موجود وه ، او په دې نهو تنو پښتنو افسرانو کې دوو نفرو د دوه زري منصب درلودي ، څلور کسو د يو زري منصبونه درلودل او نورو درو نفرو تر پنځه سوي کښته منصبونه لرل .

ايرانيانو او مغولو په خپل شيطاني چلونو پښتانه او پښتونخوا پر دوو برخو وويشل چې يوه برخه يې د ډهلي د وحشي مغولو ترظلم او ستم لاندي وه اوبله برخه يې بيا د ايران د متعصب شيعه دولت تر ظلم او ستم لاندي شپې او ورځې سباکولي .

ايرانيان او مغول په دې سبب د پښتنو نه پخلا کيدونکي ، ابدي او ازلي دښمنان وه چې د دې دواړو امپراطوريو مشران په دې پوهيدل چې يوه ورځ به دا پښتانه د پخوا په شان ددوی امپراطورۍ نړوي او يو خپلواک پښتني دولت به په پښتونخوا کې رامنځته کوي .

سره د دې چې پښتنو په هند کې واکمني دلاسه ورکړې وه ، شخصي جايدادونه ، جاګيرونه او شتمنۍ يې د مغلو د پښتون ضد دولت دخوا ضبط شوي وي ، پښتانه د هرډول ملکي او نظامي

(c) ketabton.com: The Digital Library



منصبونو ځخه لیري شوي وه ، دهند پروني پاچاهان نن خوار اوزار د عیال په یوه ګوله ډوډۍ پسي حیران یوي او بلي خواته سرګردان ګرځیدل.

سره د دې چې مغلو په خپل ظلمونو د پښتنو ځخه هر ډول مادي امتیازات واخستل ، مګر د دې باوجود د هند د ولسونو په زړونو کې د پښتنو قدر او عزت موجود وو ، ځکه چې د هند ولسونه په دې باور وه چې پښتانه د نوح (ع) ددرو زامنو ځخه د "سام" د اولاده ځخه دي .

دهند او نوري نړۍ ولسونه په دې باور دي چې د نوح (ع) تر طوفان وروسته او سني انسانان ټول د نوح پیغمبر ددریو زامنو (سام ،حام او یافث ) اولاد دې .

پښتانه او ځني نورقومونه او ملتونه د "سام" اولاد دې .

د هند دقاري ولسونه د "حام " اولاد دې .

مغل ،چینایان ،جاپانیان اوددی نژاد نورنورولسونه د "یافث " اولاد دې .

د هندي ولسونو په نظر د "سام " اولاد یاني پښتانه د انسانانو په منځ کې د احترام وړ ، نیک ، عادل ، فیاض او د سلطنت لپاره پیدا شوي انسانان دي ، په همدې اساس هندیانو د سیاسي قدرت نه د لویدلو مظلومو پښتنو زیات قدر او حترام کوي .

مظلومو او محکومو پښتنو ته د هند د ولسونو دي زیات قدر او احترام مغل حاکمان په ډار کې واچول چې نبایده یوه ورځ بیا هندیان پر پښتنو راټول شي ،او پښتانه بیا د هند ددولت واکې د مغلو د لاسه وباسي .

دهندي ولسونو د خوا د پښتنو قدر او احترام مغل حسود او ډارن حاکمان وهڅول چې د پښتنو پر ضد یوه نوي توطیه په کار واچوي تر څو دهند دولسونو په منځ کې د پښتنو قدر او احترام کم شي .

ددې شیطاني توطیې د عملي کولو لپاره د ایران دشیطاني امپراطورۍ او د مغلو د وحشي امپراطورۍ مشرانو په ګډه خپل تاریخ نویسانو او چاپلوسانو ته وظیفه وسپارل چې د پښتون ویاړلي ملت پر ضد داسې ناوړه تبلیغات وکړي چې د منطقې د ولسونو په منځ کې د پښتون ملت قدر او احترام بیخي کم شي او د دې منطقې ولسونه پښتنو ته په ډېره کم نظر وګوري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایرانیانو او مغلو د دې شیطاني توطیې پر اساس د هند د مغل امپراطور جهانګیر په دربار کې یو لوی مجلس جوړ شو ، د ټولنې د بیلو بیلو قشرونو نماینده ګان په کې راټول شوي وه چې د ایران دپاچا شاه عباس صفوی سفیر دا نظر وړاندې کړې :

"په یو معتبر کتاب کې لیکل شوي دي چې پښتانه انسانان ندي ، پښتانه د انسان د نسل څخه ندي ، پښتانه د "دیو" د ذات یا نسل څخه دي .

ایراني سفیر زیاته کړل چې زه هم په دې عقیده یم چې پښتانه د

"دیو" اولاد دي او انسانان ندي . . .

د ایران د سفیر د دې احمقانه بیان د تاید په خاطر د مغول په دربار کې د ناستو غوړمالانو او چپلوسانو د خوا د امنا ، صدقنا ناري د تاید په ډول راپورته شوي .

دا د ایرانیانو او مغلو د امپراطورانو په امر ددوی د استخباراتي او مذهبي اجنټانو د خوا ترتیب شوي شیطاني توطیه وه چې پښتون ملت د دې منطقې دولسونو په نظر ذلیل او د هغو د نظره واچوي .

د پښتنو دذات په باره کې د ایرن دشیطاني دولت او د مغلو وحشي دولت دواړو خپلي خاصي موخي تعقیبولي چې عبارت وی له:

## دوحشی مغلو موخه:

د پښتنو پر ضد د مغلودخواددی دروغجنی او خنداوری توطیی هدف داوو چی په هندي ټولنه کې د پښتنو قدراواحترام کم شي .

## دشیطان صفته ایرانیانو موخه:

د پښتنوپرضد دایران د شیطان صفته مشرانو اونظریه ورکونکو هدف داوو چی ایرانیانوغوښتل د خپل ځان څخه د "دیو" هغه نوم لیري کړي کوم پښتون پاچا "کاوه هوسروایا "دوی ته ورکړي وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د " کياني " سلسلي مشهور پښتون پاچا "کاوه هوسروايا " وايي چې ما د مازندران پر" ديوانو " حمله وکړل هغوى مي رعيت او يا دمازندران څخه فرار کړل . . .

دپښتون پاچا کاوه هوسروايا د بيان مطابق داوسني ايران زيات ولس شايد د مازندران د هغو " ديوانو يا ديبانو " د نسل څخه وی چی پښتون پاچا " کاوه هوسروايا " حمله پرکړي وه .

د ايرانيانو او مغلو د شيطاني توطيو سره سره خداي(ج) پښتنو ته دا توان ورکړي چې د مغلو او ايرانيانو پر ظلم او وحشت ولاړي دواړي امپراطورۍ د پښتنو پلاس د منځه يوسي .

عليحضرت شاه محمود هوتک د شيعه ايران د خرافات پرست صفوي شاه حسين شيطاني امپراطوري دمنځه يووړه ، اصفهان يې فتح کړي او صفوي شاه حسين د ايران د سلطنت تاج په خپل لاس د ځوان پښتون پاچا شاه محمود هوتک پر سر کيښود او هغه ته يې د ايران د پاچاهي مبارکي وويل .

همدارنګه څو کاله وروسته بل پښتون پاچا لوي احمد شاه بابا د مغلو ظالمانه او شيطاني امپراطوري ورانه کړه او په منطقه کې يې يوه داسې ستره پښتني امپراطوري جوړه کړل چې د منطقه د قواوو توازن د پښتنو د امپراطورۍ پلاس کې وو .

## 4:د احمد شاهي امپراطورۍ دزوال عوامل:

الف: داخلي عوامل :

دتيمورشاه داولادو نفاق او په هيواد کې دسياسي بې ثباتۍ اغاز .

کله چې لوي احمد شاه بابا وفات شو نو د پښتنو ستره امپراطوري چې د احمد شاه بابه او پښتون ملت دشهادتونو ، زحمتونو ،قربانيو او مبارزو په نتيجه کې منځته راغلي وه و شهزاده تيمور شاه ته پاتې شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهزاده تیمورشاه که څه هم د خپل پلار امپراطورۍ ته وسعت ورنکړي خود خپل پلار څخه په میراث ورپاتې د پښتنو ستره امپراطوري یې سالمه وساتل .

د تیمورشاه تر مرګ وروسته دهغه زامنو د قدرت پر سر په خپلو کې بې اتفاقه شول او د پښتنو قدرت د دې پر ځای چې د امپراطورۍ د وسعت او استحکام لپاره استعمال شي ، یو د بل پر ضد یې په داخلي جنګونو کې استعمال کړي .

شاه زمان د ابراهیم لودي په شان د پښتو او پښتونولي د اصل خلاف حکومت کول شروع کړل ، د چپلوسانو او غوړه مالانو په حلقه کې ګیر شو اود قدرت واګې یې خپل لوي وزیر رحمت الله خان سدوزي ته چې د وفادار خان په نامه مشهوروو وروسپارلي .

دا وفادار خان یو نهایت چپلوس په خوله پوست غوړه مال او دذلیلو صفاتو خاوند شخص وو .

د همدې چپلوس وفادار خان په مشوره شاه زمان د پښتنو سردارانو واک ورکم کړي یوازي هغه اشخاص و پاچا ته نږدې کیداي شول او ددولت پر لوړو چوکیو مقرر کیداي شول چې د وفادار خان چپلوس سره یې ورته چپلوسي ، غوړه مالي او روابط درلودل .

شاه زمان د خپل دې اعمالو په نتیجه کې د پښتنو مشران د ځانه خوابدي کړل ،خپل ورور همایون یې چې دده په مقابل کې یاغي شوي وو د مغلو د دود مطابق ړوند کړي ، او په خپله شاه زمان هم څه وخت وروسته د بل ورور شاه محمود څخه ماته وخوړل او د هغه د خوا ړوند ، د قدرت څخه برطرف او د کابل په بالا حصار کې بندي کړل شو .

<u>شاه محمود د فتح خان بارکزي ،اکرم خان علي زي ، احمد خان نورزي او نورو پښتنو مشرانو په مرسته د کابل پر تخت کېنستی .</u>

<u>په شاه محمود کې د پښتو او پښتونولي هیڅ اثر نه وو او د هغه لومړي کار داوو چې د پښتنو څخه یې ځان لیري کړي ، د خپل ځان څخه یې د قزلباشو فوځ را تاوکړي ، خپل شخصي امنیت او د هېواد پلازمیني کابل امنیت یې قزلباشو سر بازانو ته وسپارۍ او په خپله شاه محمود د قزلباشو سردارانو او افسرانو سره په عیش او نوش کې ډوب شو .</u>

د شاه محمود په حمایت په دولتي ارګانونو کې د قزلباشو اثر ، رسوخ او قدرت دومره زیات شو چې د کابل ټول غیر شیعه وګړي ځني تنګ شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شاه محمود شیعه قزلباش افسران به د پاچا په زور د شپې او ورځې په شرابو کې مست او نشه وه ، دنشې په حال کې به یې دهېواد د نورو اتباعو پر مال ،عزت او ناموس هم صرفه نه کول . . .

خو کله چې به عام ولس د قزلباشو د ظلم څخه و شاه محمود ته عریضې وکړې بیا به هم شاه محمود د ولس پر عریضو او شکایتونو غوږ نه نیوی او د قزلباشانو پر ظلمونو به یې سترګې پټولې .

د شاه محمود عیاشۍ او د هغه په زور پر پښتنو د قزلباشانو حاکمیت داسې حالات برابر کړل چې د شاه محمود بې کیفایته سلطنت د پښتنو د خوا چپه شو او پرځای یې دده بل ورور شاه شجاع دهېواد پاچا شو .

د تیمورشاه د زامنو د غیر زمواوارانه اعمالو په نتیجه کې د پښتنو قوت په داخلي جنګونو کې مصرفیدي او دي ته موقع مساعده شول چې برطانویان پر هند باندې د خپل دایمي قبضې د ټینګیدو په خاطر د ایران د شیعه دولت سره سازش وکړي او د سدوزو او محمد زو سردارانو په منځ کې د نفاق پر بل شوي اور لانور تیل واچوي او پښتانه لانور په داخلي جګړو کې مصرف کړي .

## ب: خارجی عوامل:

## د پښتنو پرضد دانګریزانو او ایرانیانو توطیې .

د تاریخ په اوږدو کې پښتون قوم د امو او اباسین په منځ کې د پښتو د لرغوني قانون په پیروي د یو متحد ، قوي ، نظامي او منظم قوت په حیث د هند په دروازه کې پروت وو او د هند ثبات او بې ثباتي اکثره وخت په دوی پورې تړلې وه .

کله کله به پښتنو په خپله پر هند حکومت کوي او کله به د هند د دولتونو سره په جنګ وه چې ددوی د هېواد د لیارې یې مرکزي آسیا ته تلل غوښتل .

د تاریخ هر فاتح چې غوښتل چې د افغانستان د لارې هند ته تیرشي او هغه فتحه کړي نو لومړي شخړه یې د پښتنو سره شوې ده ، هر فاتح چې د پښتنو ملاتړ تر لاسه کړي دي نو د پښتنو په ملاتړ یې ډېر په اسانۍ هند نیولي دي چې مثالونه یې سکندر ، تیمور ، بابر او نادر افشار دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هغه فاتحان چې د پښتنو سره موافقي ته ندي رسيلي هغوی په پښتونخوا کې د پښتنو د لاسه تردي حده د مشکلاتو سره مخامخ شوي دي چې و خپل هدف ته تر رسيدو د مخه يې منطقه ترک وهلي ده او په تيښته د پښتونخوا څخه تښتيدلي دي .

کله چې برطانيانوي قواوي د شرقي بنګال د لاري هند ته راغلي او هند يې قبضه کړي ورسره يو ځای په دي پوه شول چې هند هغه وخت ددوی په سلطه کې د ډېر وخت لپاره پاتي کيدلای شي چې په افغانستان کې د پښتنو حکومت کمزوري کړي ، ځکه چې په اسيا کې يوازني قوت چې پر هند يې د حاکميت دعوه درلودل او څو ځله يې هند تر خپل حاکميت لاندي راوستلي وو ،هغه په پښتونخوا کې د پښتنو عظيم سلطنت وو چې په هند کې يې د برطانيا سلطي ته جدي تهديد پيښولای شو .

همدا علت شو چې برطانويانو پر هند د خپل سلطي د ساتلو په خاطر د ايران د شعيه دولت سره سازش وکړي او د دې سازش پر بنياد ايرانيانو اوانګريزانو د افغانستان دبی اتفاقه شهزاده ګانو د بی اتفاقۍ او په هيواد کې د رواني سياسي بی ثباتۍ څخه استفاده وکړل اود افغانی شهزاده ګانو ترمنځ دنفاق پربل شوی اورئی لانورپطرول وشندل .

د پښتنو شهزاد ګانو ترمنځ د قدرت پر سر جګړو او د هيواد داخلی سياسي بی ثباتۍ افغان دولت دومره کمزوری کړی جی د خپل امپراطورۍ په شاوخوا کې ئی خپل نفوذ د لاسه ورکړی .

دداخلی شخړو اوبی ثباتۍ په وجه پښتني امپراطوری دومره کمزوری شول چې هندوستان د يو اروپايي قوت پلاس کې مستعمره شو .

د انګريزانو او ايرانيانو د مشترکو سازشونو اود افغان شهزاده ګانو تر منځ د قدرت پرسرجنګونو د پښتنو دولت دومره ضعيف کړچی نه تنها د پښتني امپراطوری لير برخی ئی دکنترول څخه ووتلی حتی د پښتونخوا يو لويه برخه يعنی خراسان هم شاه محمود ايران ته ورکړی .

د ټولی پښتونخوا د نيولو په خاطر د پښتنو او انګريزانو ترمنځ هم دوه سترجنګونه وشول چی انګريزانو په دواړو جنګونو کې د افغانانو څخه ماته وخوړل .

بالاخره د پاينده خان او تيمورشاه د اولادونو ترمنځ د بی اتفاقيو په نتيجه کې د پښتنو د امپراطورۍ توان د منځه ولاړی اود پښتونخوا هيواد نيمه برخه يې هم انګريزانو قبضه کړل ،او يو لنډي بوری په وچه پوري محدود نيمه مستعميره افغانستان چې د روسيې د تزاري امپراطورۍ او برطانوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امپراطورۍ ترمنځ يې د حايل حيثيت درلودي په نيمه مستعميره ډول و امير عبدالرحمن خان ته تسليم شو .

## 5:په هيواد کښي د(۹۳ ) کلن سياسي ثبات اغاز:

په دوهم افغان انګليس جنګ کې دانګريزانو تر ماتي ورسته انګريزانو پاتې لنډۍ بوري په وچه محدود افغانستان په نيمه مستعميره ډول امير عبدالرحمن خان ته تسليم کړی .

دسدوزواوبارکزودنوروضعيف النفسه اوځان غوښتونکوواکمنانو شاه محمودابدالی ،امير محمدعظم خان ،سلطان محمد طلايی ،اميردوست محمد خان ،اميرمحمدافضل خان ،اميرشيرعليخان او امير محمد يعقوب خان په شا ن دامير عبدالرحمن خان د امارت په دروه کې هم دګران افغانستان زياتی برخی تزاری روسيی او برطانوی هند په زوه ونيولی او دلنډی بوری افغانستان سرحدات يی دافغان نجيب ملت دارادی خلاف په زوره په اميرعبدالرحمن خان ومنل.

خو اميرعبدالرحمن خان په دې نيم شوي او نيمه مستعميره افغانستان کې په ډېر زحمت او تلاش سوله او سياسي ثبات بر قراره کړي او د يو عصري نظام دضروري ادارو اساسات يې کيښودل او وده يې ورکړل .

برطانوی امپراطورۍ داميرعبدالرحمن خان د نيم شوي او نيمه مستعميره افغانستان سرحدات دبرطانوی هند د نفوذ دساحی او دتزاری روس د امپراطورۍ اودايران سره دافغانانو د موافقی پرته په خپله خوښه تعين کړل .

انګريزانو او ايرانيانو د پښتون ملت ددښمنانو په حيث دنظامی زور په واسطه د پښتون ملت دارادی خلاف د پښتونخوا هغه سيمی چی د سمندرسره تړلی وی د افغانستان څخه جلاکړی او په برطانوی هند او ايران پوری يی وتړلی او ننني افغانستان يی د سمندرڅخه بی برخی کړی.

هرهغه هيواد چی وسمندرته لاره ونلری دتجارت او پرمختګ په ساحو کښی دسترو ستونزو سره مخامخ کيږی لکه نن چی زمونږ هيواد ورسره مخامخ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغانستان کومی برخی چی تزاری روس او ایران غوښتی انګریزانو هغه سیمی په ډیر سخاوت مندانه ډول هغوی ته ورکړی او دافغانستان کومی برخی چی انګریزانو د برطانوی هند د امنیت د پاره ضروری ګڼلی هغه ئی دبرطانوی هند ترنفوذ لاندی راوستلی .

دافغانستان د مځکو دویش په باره کې افغان نجیب ملت په مطلق ډول مخالف وو خو انګریزانو خپل دخوښی فیصله په وچ زور په امیرعبدالرحمن خان ومنل .

دامیرعبدالرحمن خان لمسي علیحضرت امان الله خان په(1919 ع ) تاریخ د افغان نجیب ملت په ملاتړبیا د برطانویانو څخه دتوری په زوردهیواد بشپړ استقلال واخستي او په نړۍ کې لومړني هېواد وو  چې د برطانیا د استعمار کړۍ یې ماتي کړل .

که څه هم برطانیا په ظاهره د افغانستان بشپړ استقلال په رسمیت وپېژندي ، خو د افغانانو د خوا د ری ځله برطانیا  ته ماته ورکول ،او د افغانانو د خوا دبرطانیا څخه د توري په زور استقلال اخستل برطانویانو د خپل ستري امپراطورۍ د نړیوال حیثیت او وقار لپاره ستره نظامي او سیاسي بې حیثیتي بلل ، نو په دې اساس یې د اماني ځوان دولت پرضد خپل استخباراتي فعالیتونو ته دوام ورکړي .

پر افغانستان د انګریزانو د لومړي تجاوز(1839/4/20ع)څخه بیا د (1919ع) افغان او انګلیس تر دریم جنګ پورې پوره اتیا(80 )کاله د افغانانو او انګریزانو ترمنځ دښمنۍ دوام کړي وو ، په دې اتیاکاله وخت کې د هر افغان کورنۍ ته په یوه شکل د انګریزانو د خوا مستقیم او یا غیري مستقیم ډول ځاني او مالي تاوان رسیدلي وو ، نو د دې سببه تقریبا ټول افغانان د انګریزانو سره سخت مخالف وه او نفرت یې ځني کاوه .

په همدې سبب د انګریزانو لپاره دا ډېره سخته وه چې په افغانانو کې داسې جاسوسان پیدا کړي چې هغوی په افغاني ټولنه کې دڅه ناڅه اعتبار خاوند وي او انګریزان هغوی داسې ننګین او ضد ملي عمل ته اماده کړي چې دعلیحضرت امان الله خان او افغان نجیب ملت په مقابل کې یې ودروي ، او دانګریزانو دا جاسوس د انګریزانو په خوښه افغان نجیب ملت ته دانګریزانو څخه د استقلال اخستلو په جرم سختي سزا ګاني ورکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخپل دي نا مقدس هدف ته د رسیدو په خاطر انګریزانو د خپل استخباراتي سازمانونو په واسطه په افغاني ټولنه کې مخصوصا د پښتني ټولنې د روحیي مطابق ځني ملایان ، پیران او نور کسان په خپل استخباراتي سازمانو کې تنظیم کړل ، او خپل د دې استخباراتي جال څخه په استفاده یې د افغانستان د مستقل دولت او د ازادي د قهرمان علیحضرت امان الله خان پر ضد تبلیغات او د سبوتاژ عملیات تنظیم کړل .

بالاخره انګریزانو د مجبوري څخه یو بې هویته غل چې د کابل د شمال د کوهدامن او سیدونکي او په قوم تاجک وو پیدا کړي د دې سړي نوم حبیب الله وو چې د( سقاو زوی ) په نوم مشهور وو ، د سقاو زوی یو متکرر مجرم وو او د افغانستان څخه د عدلي تعقیب د ویري تښتیدلي وو او د پېښور د قصه خوانی په بازار کښی لمړی د محمد صادق بوټ فروش او بیا د یوسما وارچی د شاګرد په حیث یې ژوند کاوه .

د انګریزانو استخباراتي سازمانو د مجبوری په سبب د سقاو زوی حبیب الله سره ارتباط ونیوي هغه یې اماده کړي چې د افغانستان پر خلاف د انګریزانو هر امر ته د غلام په څیر غاړه کېږدي .

انګریزانو غوښتل چې خپل په دې عمل سره د افغانستان سیاسي او دولتي رهبري د ټولنې د اکثریت یعنې پښتنو څخه د ټولنې یو محدودي قومي ډلي یعنې تاجکانو ته نقل کړي ،او ددی لیاری دا ځل د پښتنو شهزادګانو پرځای تاجکان د پښتون ملت سره په جنګ واچوي .

د انګریزانو دا پلان وو چې پښتانه په تاجک اقلیت پوری تړلی یو غله او دده د ملګرو په واسطه د قدرت څخه لیري کړي پدی ډول په د تاجکو او پښتنو تر منځ د دښمنی اغاز وشی.

انګریزان پدی هم ښه پوهیدل چې د تاجک تباره غله حبیب الله تابع کول بیا دوی ته ډېر اسانه کار وو .

انګریزانو غوښتل چې د افغان نجیب ملت ملی وحدت مات کړی د پښتنو په مقابل د تاجکانو ملا تړ وکړي او د هغو په واسطه د تل لپاره پښتانه د هېواد د سیاسي حاکمیت څخه وباسي او د سقاو او سقاویانو په واسطه د پښتنو څخه د هغو درو جنګونو انتقام واخلي په کومو کې چې انګریزانو د پښتنو څخه سختي ماتي خوړلي وي .

انګریزانو وخپل اهدافو ته د رسیدو په خاطر د سقاوزوی د پېښور څخه د کابل شمال ته راولیږي دلته یې د انګریزانو په هراړخیزه مرسته او مشوره د دولت او ملت پر ضد چور او چپاول شروع کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سقاوزوی دانګریزانو د استخباراتي سازمانو په ملاتړ په (1307 هه . ش ) د جدي پر اتویشتم تاریخ د مازیګر پر پنځه بجي د کابل دارګ د ګلخاني ماڼۍ ته کامیابه داخل شو او علیحضرت امان الله خان د افغانستان څخه وشړل شو .

یو خارجي د افغانستان په باره کې یو کتاب لیکلي دي ، د دې کتاب نوم (د کابل تباهي ) دي ، د دې کتاب په دوه ویشتم فصل کې داسې لیکل شوي دي .

(د سقاو زوی د کابل په ارګ کې داخل شو ، خپل وحشي فوځیانو ته یې د کابل دښار د چور فرمان ورکړي ،سقاوي فوځیان د ښار په څلورو خواوو کې پراګنده شول او ښاریې تر هر بل غارت ګرزیات غارت کړي .

لوي او واړه دوکانونه یې چورکړل ، دکار دځایونو او کارخانو څخه یې هر څه چورکړل ، دوکاندارانو ورته کتل خو سقاویانو یې هست او بود ځني اخستل او پر خپل لار تلل خو ولس په پوره صبر او تحمل خپل د بربادۍ تماشاکول ، وایي چې د مال د سوځیدلو تماشا هم لوي غم دي .

په شروع کې چې کله سقاوي غلو په چور شروع وکړل نو یو شمېر دلاوره خلکو د خپل مال ددفاع په خاطر مقاومت وکړي خو سقاوي غلو هغوی په مرمیو وویشتل او شهیدان یې کړل ، نور نو خلکو جرئت د لاسه ورکړي ،محکوم شول او وبیریدل ، دوکانونه یې ایله کړل او لیري ودریدل .

سقاوي فوځیانو هر څه یو په بل پسې لوټ کړل او تنها پردي لوټ یې هم صبر ونکړي بلکه یو تعداد دوکانونه ، او ډول ډول تعمیرونو ته یې اور هم واچوي او د خاورو سره یې برابر کړل .

کله چې سقاوي فوځیانو ښار چورکړي د خلکو و کورونو ته یې مخه کړل ،ځینو خلکو د خپل کورونو دروازي تړلي وي او د خپل اولادونو سره په خونو کې ناست وه چې سقاوي وحشیانو د روازي ماتي کړي او په زور د خلکو کورونو ته داخل شول ، د کورونو هر څه یې لوټ کړل ، د ښځو طلا ، زر او نور زیورات یې په زور ځني اخستل او د ښکلو پیغلو عزت به یې هم لوټلي ،د والدینو په مخ کې به یې د هغو ځوانو لوڼو ته لاس اچوي ، نجونو به د دې وحشي سقاویانو د ترس څخه د پلار او مور په غیږ کې پنا اخستل مګر دې وحشي سقاویانو به د ا نجوني د مور او پلار د غیږي څخه په زور راکشولي او عزت به یې ورلوټلي ، که کوم پلار او مور به د خپل اولاد د ناموس د ساتلو او دفاع کوښښ کوي نو وحشي سقاویانو به هغه ځای پرځای وژلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي وحشيانو د ډېرو پلرونو او ميندو د سترګو په وړاندي د هغوی د اولادونو سره نا مشرع اعمال وکړل ، که کومي نجلۍ د سقاوي وحشيانو د غوښتني څخه سرغړولي واي د هغي سزا بې ښه او بده مرګ وو .

دا انسان نما وحشي سقاويان د کابل په ښار کې خپاره وه په هره کوڅه او سړک باندې يې غلاوي کولي او پر ولس يې ظلمونه کول ، ځني هغه خلکو چې سپين ږيري او غريبان وه د دې وحشيانو په مقابل کې يې په ډېر تکليف خپل عزت او ابرو ساتلای شول ،ځکه چې دې وحشيانو به هغوی ته ويل چې تاسو ولي مال او دولت نه لري او هغوی به يې په ډېر ظلم د کورونو څخه دباندې را ايستل او په شلاقو به يې وهل.(سقاوی دوهم-۲۸ مخ ) .

غلام محمد غبارد سقاو د زوی په باره کې داسې وايي:

( . . . اينهاهر جا سر مي يافتند درصدد بريدن ان ميشدند ،تا در يک عرصه در شده هيچ سري باقي نماند وانها به تنها يې سر افراز اند ، پس به شمشير وزنجير و اعدام تکيه مي کردند .

با حاکميت بچه سقاو در تمام افغانستان يک بې ثباتي عمومي (انارشي ) په دېد امد ، ترقي تازه راه افتاده به عقب زده شد وعزت وحياوسر ومال مردم در خطر افتاده ،دروازه هاي دانش وترقي ،فرهنګ وپيشرفت بسته شده ، که حتي نخستين کاري که بچه سقاو کرده در کابينه اش به وزارتهاي معارف و عدليه جاي نداده . . . )

د پورته نويشتو څخه دا معلوميږي چې انګريزانو وکړای شول چې د سقاو د زوی غوندې بې شخصيته غله په واسطه ټول افغان نجيب ملت او د هغوی د استقلال قهرمان پاچا ته داسې سزا وي ورکړي چې د دې هېواد په تاريخ کې يې لږ مثالونه ليدل کېږي .

که څه هم برطانويانو د خپل استخباراتي فعاليتونو په نتيجه کې خپل دښمن عليحضرت امان الله خان دافغانستان د سلطنت څخه ليري کړي او ټول افغان نجيب ملت ته يې سخته سزا ورکړل ،خود سقاويانو دنهايت بدو اعمالو دسببه ددوی په باره کې د ټولو افغانانو مخصوصا د پښتنو کرکه ورځ په ورځ زياتېدل ، تر څو نهه مياشتي وروسته محمد نادرخان دانګريزانو په ضمني توافق او د پښتنو په هراړخيزملاتړد سقاو د زوی رژيم ړنګ او د سقاويانو وحشيانه او جاهلانه حاکميت يې پاي ته ورسوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد نادرشاه کورنۍ هم د اميرعبدالرحمن خان د کورنۍ په شان په جدي تلاش او زحمت د نيمې پيړۍ لپاره په افغانستان کې سياسي ثبات او سوله تامين کړل .

## 6:ډيورند لاين ،محکوم او ازاد سرحدونه:

دلوي احمد شاه بابا په بې پايه زحمتونو او د ستر پښتون ملت د پاکو وينو او تيرو تورو په قيمت ګټل شوې د پښتنو ستره امپراطوري د پوپل زو او بارګزو دځينو نا اهله واکمنانو دبې کفايتۍ او ځان غوښتنې په سبب اهسته اهسته تجزيه شول.

د تيمورشاه ترمرګ ورسته دده دزامنو تر منځ د قدرت پرسر جنګونه شروع شول او ددې جنګونو په نتجه کښې افغان دولت کمزورې شو او د افغانستان ځنې برخې ايران اود پنجاب د سيګانو دولتونو د افغانستان ځخه بيلې کړې.

کله چې د شازمان پرضد د سردار پاينده خان بارګزې په مشرتوب توطيه رسوا شول او د پا چا دخواد پاينده خان په شمول نور توطييه ګران ووژل شول نود پاينده خان (۲۱) زامن د سردار فتيح خان په مشرې د شازمان د مخالف ورور شامحمود ابدالې ملګرې شول او د شاه زمان دولت يې ړنګ کړې او شاه محمود ابدالې يې پر تخت کښينوې.

کله چې وزير فتح خان بيا د شاه محمود ابدالې د خوا لمړې ړوند او بيا د غزنې پر مقام په ډيره بې رحمۍ ووژل شو ،نو د فتح خان ورونړو د شاه محمود دولت ړنګ کړې او افغانستان يې تر خپل منځ سره وويشې.

دفتح خان ورونړو نه تنها د خپل حريف شامحمود نظام رنګ کړې بلکې هغوې افغان مرکزې دولت د منځه يوړې ،لمړې يې لويه افغان امپراطورې په خپل منځونو کښې سره وويشل او بيا د ګور د چنجيانو په شان يو د بل سره د قدرت پرسر په جګړو اخته شول.

دپاينده خان د زامنو د بې کفايتۍ او بې اتفاقې په سبب د افغان امپراطورۍ زياتې برخې سيکانو ،انګريزانو او ايرانيانو ونيولې اوځنې نورو بيا ځانونه د افغان دولت د تسلط ځخه ازاد کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو د احمد شاهي امپراطورۍ هغه برخې چې د افغان شهزادګانو د بې کفايتۍ په وجه د پردیو تر مستقیم کنټرول لاندې را غلي وې محکومې سیمې بللي او د دې محکومو سیمو سره سرحد یې ،، د محکومو سیمو سره سرحد ،، یا محکوم سرحد بللی.

په ( ۱۸۳۸ ع ) کال کښې چې کله انګریزانو د افغانستان د نیولو فیصله وکړل نو په لاهور کښې یې یو تړون امضا کړې چې دا تړون ،، **د لاهور د مثلث** ،، په نوم یادیږي.

## دلاهور مثلث ګډون کونکي څوک وه:

۱: د افغانستان پخواني پاچا شاه شجاع چې د دیرشو کلنو راهیسې د افغانستان څخه تښتیدلی وو او په ښکاپور او لودیانه کښې یې دجلاوطنۍ ژوند تیراوه .

دنړۍ د هیڅ قانون پر اساس د دیرشو کلنو راهیسې تښتیدلي او مخلوع پاچا شاه شجاع دا حق نه درلودې چې د افغانستان په باره کښې یې کومه فیصله کړیوای ،اوکه یې کومه فیصله کړې هم وای نو دده فیصلې هیڅ ډول قانوني مشروعیت نه درلودې.

خو انګریزانو زوردرلودی نو د زوراوراوبه خو مخ پر لوړه ځي.

۲: د پنجاب د سیکانو مشر رنجیت سینګ چې عملاً د پنجاب حاکم وو.

۳:د برطانوي هند حکومت چې عملاً یې پر هندوستان حکومت کوي.

دلاهورد تړون په اساس انګریزانو د افغانستان څخه د دیرشو کلنو راهیسي تښتیدلی شاه شجاع څخه د افغانستان د پاچا په نوم دا سې اقرار واخست:

(...هغه مځکې چې د افغان دولت څخه په زور جلاشوی دی دلاهور د قرارداد په اساس نورد ا مځکې دبرطانوي هند د قلمرو برخه بلل کیږي... )

دلاهور د قرارداد په اساس په(۱۸۳۸ ع ) انګریزانو پر افغانستان حمله وکړل ،افغانستان یې اشغال کړې او شاشجاع یې د انګریزانو د ګوډاګي په حیث د کابل پر تخت کښینوی اودانګریزانو پدې عمل سره د افغان او انګلیس لمړی جنګ اغاز شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان و یارلی ملت ګوډ اکی شاه شجاع مړکړی او انګریزی فوج یې تباه کړی او د لاهورمثلث هم باطل وبلل شو.

د افغان او انګلیس تر لمړی جنګ ورسته هم افغان دولت مردان پردی قادر نه شوه چې یو داسی قوی دولت په افغانستان کښی ایجاد کړی چې خپل د لاسه وتلی مځکی بیرته د اشغالګرانو څخه ونیسی، او د افغانستان دښمنانو د پخوا په شان د افغانستان د مځکو د لاندی کولو خاینانه هلی ځلی جاری وساتلی.

دبرطانوی هند دولت د امیرشیرعلی خان ، امیرمحمد یعقوب خان او امیر عبدالرحمن خان په درو کښی هم د افغانستان لا نوری مځکی لاندی کړی.

انګریزانو امیر عبدارحمن خان مجبور کړی چې د ،ډیورند ،بدنامه کرښه ومنی.

پدی وخت کښی چې دډیورند کرښه منځته راتلل د پښتنو خوا حالت په لاندی ډول وو:

۱:کله چې په افغانستان کښی د محمد زایی ورونړو بی اتفاقۍ ،بی کفایتۍ او قدرت طلبۍ په نتجه کښی د کابل دولت کمزوری شو نو د تیرا څخه ترسمندر پوری د سند درود پرغاړه د افغانستان مځکی د کابل دولت د کنترول څخه ووتلی.

انګریزانو دپورته ذکر شوو افغانی مځکو د اشغالولو په غرض چې د تیرا څخه بیا د عربو تر سمند پوری د سند درود پر دواړو غاړو پرتی وی د مقامی پښتنو سره تر سل کلنو زیات وخت کښی تربیاً تر سل زیات سخت جنګونو وکړل.

انګرزانو ددی سل کلنو جنګ په جریان تر زیاتو وینو تویلو ورسته صرف د پیښور، دیره اسمعل خان، دیره غازی خان، پښین ،دوکۍ، سیبیۍ او برطانوی بلوچیستان تر خپل مستقیم اشغال لاندی راوستل چې دی سیمو ته پښتنو محکومی سیمی او سرحد ته یې محکوم سرحدات ویل.

نوری ټولی سیمی د انګریزانو د تسلط څخه ازادی او خپلواکی وی چې دی ازادو او خپلواکو سیموته پښتنو ازادی سیمی او ددوی سرحداتو ته یې ازاد سرحدات ویل.

د اسیمی د کابل د دولت څخه یاغی نوی بلکی د کابل دولت دومره بی کفایته او کمزوری وو چې پر دوی یې حکومت نشو کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغان دولت د ضعف څخه انګریزانو استفاده وکړل او په افغان نام نهاده مشرانو لکه مخلوع شاه شجاع ،اسیر امیر محمد یعقوب خان او امیر عبدالرحمن خان ئی په زوراو جبر ،دلاهور مثلث،د ګندمک ،اود ،ډیورند ، بد نامی معاهدی د افغان نجیب ملت د ارادی خلاف امضا کړی کومی چی د افغان نجیب ملت د عملی مقاومت په واسطه باطلی اعلان شوی.

ددی بد نامو معاهدو په اساس انګریزانود پښتونخوا پر زیاته برخه د تیرا څخه نیولی بیا تر سمندر پوری د برطانوی هند د حاکمیت دعوه وکړل ،خوددی سیمو با غیرته پښتنو په تش لاس اضافه تر سل کاله د برطانوی استعمار سره جګړی وکړی او همیشه یی خپل داخلی استقلال د توری په زور د برطانویانو او بیا د مغلو او انګریزانو د میراث خور پاکستان څخه وساتی.

په ډیر افسوس سره باید ووایو چی د پښتنو او انګرزیانو تر سلو کلنو زیات جنګ په دوران کښی دکابل واکمنان تقریباً همیشه د خپل تاج اوتخت د ساتلو په فکر کښی وه،او دازادو پښتنو سره ئی دومره مرسته نه کول چی دهغی مرستی په واسطه ازاد پښتانه دانګریزانو اوبیاد پاکستانیانو سره په جګړه کښی بریالی شوی وای.

هرهغه پښتون چی د هغه په رګونو کښی د پښتون بابا وینی جریان لری،او هغه د پښتنی مور شیدی رودلی وی نو د امو او اباسیند تر منځ پاکه پښتونخوا به خپل مور او ملی ناموس ګنی او د هغی دفاع به خپل ملی ، پښتنی او اسلامی فرض بولی.

هرهغه پښتون په هر ټولنیز مقام کښی چی قرار لری چی پورته ذکرشوی باطلی او نامشروع معاهدی منی هغه کس پښتون نه دی او د پښتو او پښتونولی د قانون په اساس ملی خاین بلل کیږی.

زه دلته د ګرانو لو ستونکو توجه د لوی احمد شاه بابا د امپراطورۍ د تجزیې شکل ته د یو جدول په ډول راګرځوم.

که په تاریخ او د زمامدار په نوم کې څه غلطي وي ګران لوستونکي دي ما ته بخښنه وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | دجلاشوي ایالت ،منطقي او ښارنوم | دجلا کېدو کال | جلاکونکي | دهغه زمامدارنوم چې د ده په وخت کې د جلا کیدو حادثه واقع شوي ده . |
|---|---|---|---|---|
| 1 | دخراسان ایالت | 1803 | ایران | شاه محمود ابدالي |
| 2 | داباسند پرغاړه د اټک نظامي قلع | 1812 | رنجت سنګ | شاه محمود ابدالي |
| 3 | دملتان ایالت | 1818 | رنجت سنګ | شاه محمود ابدالي |
| 4 | د کشمیر ایا لت | 1819 | رنجت سنګ | امیر محمد عظم خان او ورونه |
| 5 | د دیره غازي خان ایالت | 1821 | رنجت سنګ | امیر محمد عظم خان او ورونه |
| 6 | د دیره اسماعیل خان ایالت | 1821 | رنجت سنګ | امیرمحمد عظم خان او ورونه |
| 7 | د پېنور ایالت | 1833 | رنجت سنګ | سلطان محمد خان طلايي |
| 8 | د سند ایا لت | 1825-1843 | انګلیس | امیر دوست محمد خان |
| 9 | دبلوچستان ایالت | 1854-1876 | انګلیس | امیردوست محمد ، امیرشیرعلي، محمد افضل |
| 10 | د سیستان ایالت | 1872 | ایران | امیر شیرعلیخان |
| 11 | دخیبر دره ،کرم ،بولان ،کوژک او پیوار | 1878 | انګلیس | امیر محمد یعقوب خان |
| 12 | لنډي کوتل | 1878 | انګلیس | امیر محمد یعقوب خان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| 13 | شال، فوشنج او کوژک | 1878 | انګلیس | امیر محمد یعقوب خان |
| 14 | کوئټه، سیبي او پښین، ارناوي | 1878 | انګلیس | امیر محمد یعقوب خان |
| 15 | سوات | 1893 | انګلیس | امیر عبدالرحمن خان |
| 16 | باجوړ | 1893 | انګلیس | امیر عبدالرحمن خان |
| 17 | چترال | 1893 | انګلیس | امیر عبدالرحمن خان |
| 18 | وزیرستان، داوړ او چاګي | 1893 | انګلیس | امیر عبدالرحمن خان |
| 19 | چمن | 1893 | انګلیس | امیر عبدالرحمن خان |
| 20 | مرو | 1884 | تزاری روس | امیر عبدالرحمن خان |
| 21 | پنجده، آقچه، چمن بید او چشمه سلیم | 1885 | روس تزاری | امیر عبدالرحمن خان |
| 22 | دامو دریا هغه خوا د پامیر سیمي | 1895 | تزاری روس | امیر عبدالرحمن خان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 7:په هیواد کې د نوي بې ثباتۍ اغاز:

د امیرعبدالرحمن خان د وخت څخه بیا د محمد ظاهر شاه د سلطنت تر پایه پورې د (93 ) کالو د پاره سوله او سیاسي ثبات په افغانستان کې بر قراره شو ،خودا سوله او سیاسي ثبات د سردار محمد داود خان د کودتا پو اسطه چې د سلطنت پر خلاف یې (1352/4/26 ) وکړل د منځه ولاړي .

سردار محمد داود خان یو ډیر وطندوست او پاک افغان وو ، خو د دې ښو صفاتو سره سره نهایت ضدي او خود خوا انسان وو .

سردارمحمد داود خان خپل د تره د زوی سردارعبدالولي خان سره د شخصي تضاد او په شاهي کورنۍ کې د شخصي اختلافاتو او رقابتو پر اساس د محمد ظاهر شاه د سلطنت پر خلاف پر(1352/4/26هه . ش) تاریخ نظامي کودتا وکړل ، سلطنت یې ړنګ کړي او خپل رقیب د تره زوی سردار عبد لولي چې د کابل د مرکزي قواوو قوماندان وو بندي کړي .

سردار محمد داود خپل په دې عمل سره خپل شخصي ضد خو تر سره کړي ، مګرهېواد او ټول افغان نجیب ملت یې د بې پایه سیاسي بې ثباتۍ پر لور ټیل وهي .

د سردار محمد داود خان دا عمل د پښتو او پښتونولي د قانون خلاف عمل وو ،ځکه چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق یو پښتون باید خپل سراومال د پښتون ملت تر ګټو قربان کړي نه دا چې د خپل شخصي دښمنۍ د انجام په خاطر پښتون ملت د بربادۍ کندې ته ور ټیل وهي .

د سلطنت په او اخرو کې په اصطلاح ددموکراسۍ په لسیزه کې د نسبي سیاسي ازادیو څخه په استفاده په نیمه علني ډول څو سیاسي جریانو نه د بیلو بیلو پردیو سیاسي عقایدو په درلودلو سره ایجاد شوي وه .

ددې نوو سیاسي سازمانو عمده ډلو په نظریاتي لحاظ د خارج څخه د وارد شوو سیاسي نظریو پیروي کول ، د مثال په ډول حزب دموکراتیک خلق (د خلق او پرچم ښاخو ) د شوروي ډوله کمونیزم ، دشعله جاوید سازمان د چیني ډوله کمونیزم ،حزب اسلامي او جمعت اسلامي د نړیوال اخوان المسلمین د پردیو واریدي شوو نظریو پیروي کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سردار محمد داود خان تر کودتا وروسته سمدستي افغاني سياسي سازمانونو د دې لپاره جدي کاراو مبارزه شروع کړل چې د شاهي کورنۍ اخرين واکمن يعنې جمهور ريس سردار محمد داود خان بايد د زور د لاري د قدرت څخه ليري کړي او ددوی سازمان دهېواد سياسي قدرت د سردار محمد داود خان په شان د نظامي زورپواسطه پلاس کې واخلي .

<u>دا خبره د ذکر وړده چې سردار محمد داود خان د سلطنت پر ضد په خپل کودتا سره نورو اشخاصو او سياسي سازمانو ته هم د نظامي کودتاکولو طريقه ورزده کړل .</u>

په نظامي زور د سياسي قدرت نيولو په دې مسابقه کې حزب دموکراتيک خلق د نورو سازمانو څخه پيش قدمه شو او د (1357 ) کال د ثور پر اووم تاريخ يې د يوي خونړي نظامي کودتا پواسطه د سردار محمد داود خان رژيم د منځه يوړي او پر ځای يې د خپلي خوښي رژيم د(دافغانستان دموکراتيک جمهوريت )په نوم ايجاد کړي .

که څه هم د حزب دموکراتيک خلق عمده مشران او کدرونه کليوال تعليم يافته پښتانه وه ، خو د بده مرغه په دوی کې د پښتو او پښتونولي عنصر د سوسيالستي نظريي په تناسب ډېر زيات کمزوري وو .

د پخواني شوروي اتحاد د جاسوسۍ د سازمان يعنې کي جي بې دافشا شوو اسنادو پر اساس دخلقيانو او پرچميانو يوشمير عمده مشران د کي جي بې تنخواداره جاسوسان وه .

که مونږ( کی . جی . بی په افغانستان کې )کتاب چې د کی . جی . بی دپخوانی کارمند واسيلی ميتروخين د خوا ليکل شويدی مطالعه کړو نود خلق اوپرچم دګوندونو د يو شمير مشرانو نومونه به د شوروی اتحاد د استخباراتی سازمان کی . جی . بی د غړو په حيث پکښې پيدا کړو ،داچې ددی کتاب منځپانګه څومره پر حقيقت ولاړه دا خدا (ج) ته پته ده .

کله چې د ايران ،پاکستان ،هند ،سعودی ،انګلستان ،امريکا ،جرمنی ،فرانسی اوداسی نورودافغانستان په چارو کښې ښکيلوهيوادونو د استخباراتو ارشيفونه ښکاره شی شايد د يو زيات شمير افغانانو نومونه به ددوی د جاسوسانو په حيث پکښې ښکاره شی ،خوکوم افغان چې د پرديو استخباراتی سازمانو غړی وی هغه کس دنړۍ د ټولو منل شوو قوانينو پر اساس ملی خاين بلل کيږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شورويانو د امر ،هدايت او مشورې پر اساس خلقي او پرچمي مشرانو هغه څه کول چې شورويانو به ورته ويل ،خلقيانو او پرچميانو د شوروي د کي جي بي په امر او د ستور په ظاهره په ډېره عجله سره غوښتل چې په افغانستان کې د شوروي اتحاد په شان سوسيالستي دولت ايجاد کړي چې دا عمل د افغانستان د کمزورې سياسي او اقتصادي زير بنا پر اساس او په افغاني مذهبي او سنتي ټولنه کې ناممکن کار وو .

د خلقيانو او پرچميانو مشران د خپل پښتون ملت د خصوصياتو ، قومي جوړښت ، په پښتنو کې د پښتو او پښتونولي د قانون د تاثيراتو ، په پښتنو کې د اسلام د مقدس دين د بې پايه نفوذ او تاثيراتو ، په پښتنو کې د پښتنی رسم ، رواج او عنعناتو او د اسې نورو ملي ارزښتونو د تاثيراتو څخه ناخبره وه .

د پرچميانو او خلقيانو د مشرانو او کشرانو د دولت دارۍ تجربه د صفر سره برابره وه ،د منطقي او نړۍ د سياست سره مطلق نابلده وه.

خلقي او پرچمي مشران د سوسيالستي او کمونستي نظريو سره د اسلام د مقدس دين او د پښتو او پښتونولی د قانو ن د سخت مخالفت څخه ناخبره وه .

خلقي او پرچمي مشرانو په ډېر نامناسب ډول د افغان دولت په خارجي سياست کې د شوروي اتحاد په طرفداري تغير راوستي او د افغانستان د بې طرفۍ سياست ته يې خاتمه ورکړل چې دي عمل د غربي نړۍ مخصوصا د امريکا د ښمني د خلقي دولت سره راوپارول .

خلقي او پرچمي مشرانو د دولت په زور د خپل سوسيالستي نظريو د تطبيق لپاره په ډېره عجله کار شروع کړ د ټولنې د مطلق اکثريت وګړو د مخالفت سره مخامخ شول او د دولت او ملت ترمنځ عملي جنګ شروع شو .

د خلقي دولت او افغان نجيب ملت مخصوصا پښتنو ترمنځ د مخالفت او جنجال څخه ليري او نږدي ګاونډيو هېوادونو او د نړۍ سترو طاقتونو شوروي اتحاد او د امريکا متحده ايالاتو استفاده وکړل او د افغانستان په کورنيو چارو کې يې مداخلي شروع کړي .

د خلقي دولت د غيري عملي او د پښتو او پښتونولي ضد اعمالو او پاليسيو د تطبيق نتيجه دا شول چې د (1358 هـ . ش) کال د جدي پر شپږم تاريخ شوروي اتحاد د نړۍ د ټولو منل شوو نورمونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوانينو خلاف پر افغانستان مستقيم نظامي يرغل وکړي او افغانستان يې په نظامي ډول اشغال کړي

.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم فصل

## اشغال شوی افغانستان او د پردیو په لاس کښېنول شوی واکمنان.

## الف:د روسانو له خوا د افغانستان اشغال او د هغوی د پښتنو ضد پالیسی.

روسان د پتر کبیر د وخت څخه په دې تلاش کې وه چې څنګه خپل ځانونه تودو اوبو ته ورسوي ، او تودو اوبو ته د رسیدلو لپاره تر ټولو لنډه لار افغانستان وو ، خو په دې لاره کې لوي خنډ په هند کې د برطانیا وجود وو ، همدا علت وو چې په اتلسمه پیړۍ کې روسانو او برطانویانو پردې موافقه وکړل چې افغانستان دې د روسي او برطانوي امپراطوریو ترمنځ د حایل دولت په حیث پاتې شي .

په (1919 هه ش ) کې افغانستان د برطانیا څخه خپل بشپړ استقلال تر لاسه کړي او په (1947 هه . ش) کې برطانیا د هند څخه ووتل او هند پر دوو برخو وویشل شو چې د هند او پاکستان هېوادونه منځ ته راغلل .

د برطانویانو په تللو سره شوروي اتحاد بیا په دې تلاش کې شو چې د افغانستان او پاکستان له لارې ځان تودو اوبو ته ورسوي ، همدې هدف ته د رسېدو لپاره د شوروي اتحاد استخباراتي سازمان د منطقې په هېوادونو کې د شوروي پلوه حزبونو بنیاد کېښود .

شوروي استخباراتو د دې شوروي پلوه احزابو څخه د شوروي اتحاد په ګټه د استخباراتي حلقو په حیث هم استفاده کول .

د نړۍ استعمارچیان همیشه په دی تلاش کې وه او دی چې د نړۍ د نورو خپلواکو خو کمزورو هیوادونو په کورنیو چارو کې مداخلې وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



استعمارګران د نورو هیوادونو په چارو کې د خپل مداخلو په جریان کې اکثراً د مشابه فرمول مطابق عمل کوی .

استعمارګران د کمزورو هیوادونو د اشغال په خاطر اکثراً د هغو ملتونو د منځ څخه ټیټ همته او بی غیرته خلک مخصوصاً په اقلیتونو پوري تړلي خوپس فطرته جاسوسان استخداموي ، او تر اشغال وروسته همدا د پردیو جاسوسان پر اشغال شوی ملت د ګوډاګیو واکمنانو په حیث مقرروی .

استعمارګران د اشغال شوی ملت د لابنه سرکوب په خاطر خپل ګوډاګیان د لیونیو سپو په شان وخپل ملت ته ورشکاري او د اشغال شوی مظلوم ملت اکثره وګړی د داخلي ملی خاینانو د کړونو څخه دومره په تنګ شي ترڅو د داخلي جاسوسانو په تناسب د خارجي یرغلګرو پر اطاعت شکر وباسي .

شوروي استعمار هم د استعمارچیانو د منل شوي نړیوال فرمول مطابق او د انګریزانو په پیروي ( چې د سقاو زوی یې استخدام کړی و ) په افغانستان کې ببرک کارمل او ځینې نورپښتون ملت ته غدار پښتانه استخدام کړل او ددوی تر رهبرۍ لاندې یې په نامه سیاسي خو په حقیقت کې د کی جي بي د استخباراتي سازمان یوه د جاسوسۍ کړۍ جوړه کړل .

شورویانو د خلقي او پرچمي مشرانو د بې کفایتۍ څخه په استفاده د (1358 هه . ش) د جدي پر شپږمه نېټه یې د نړۍ د ټولو منل شویو نورمونو او قوانینو پر خلاف پر افغانستان نظامي تجاوز وکړ ، افغانستان یې مستقیما اشغال کړ او خپل معلوم الحال جاسوس ببرک کارمل یې چې په شوروي اتحاد کې پټ وو د افغانستان د ګوډاګی واکمن په نوم پر افغانستان مقرر کړ .

روسان خپل د دې بد نام جاسوس ببرک کارمل په باره کې په خپله داسې وایي:

1 : جنرال الکساندرلیا خوفسکي ، جنرال جنګیده در افغانستان در کتاب بنام (تراژدی و قهرماني افغانستان) چنین مینویسد :

((ببرک کارمل شخص کی جي بي بود ، در اخر حکومت و حاکمیت خود درنوشیدن شراب افراط میکرد ، حتی مسئول وریس کی جي بي یوري اندریفوف که پشتبان و حامي کارمل بود درین مورد به او بار بار نصیحت ها کرد اما فایده یی نداشت ، روز به روز و هر چه بیشتر معلوم میشد که کارمل توان رفتن در راه راست را ندارد اما باز هم کسی در مورد کنار ګذاشتن ویا بر طرفي او فیصله یی وتصمیمي نمي ګرفت چرا که در پشت او کی جي بي ایستاده بود .))

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړي جنرال د همدي کتاب په بل ځای کې د کارمل وقدرت ته د رسېدو په باره کې داسې وايي:

((با انکه تاريخ فرستادن قوا وی منظم شوروي (25) دسمبر(4) جدي تعين شده بود اما قبلا گروپ های ضربتي به خاطر کشتن امين در سفارت اتحاد شوروي جابجا شده بود ، در روز 25 دسمبر در ميدان هوايي خواجه رواش کابل جلسه يی پنهاني از تمام مشاوران شوروي در قواي مسلح افغانستان داير گرديد ، همينجا بود که تصميم گرفته شده ودستور صادر گرديد که قواي مسلح افغانستان خنثی گرديده وتوان جنگيدن در برابر قواي شوروي ازانها سلب گردد .

در تپه تاج بيگ عمليات به خاطر گرفتن اقامتگا امين با مستعار يا شفر (شتورم 333) ياد شد ، و قومانده ان به دوش افسر کی جي بي

(با يا رينوف) بود ، وبه همين مقصد تشکيل و جابجا يي قطعه يی از مسلمانان شوروي با قومانده جگړن خال بايوف از ميدان هوايي بگرام در مسير دارالامان صورت گرفت .

شروع عمليات ساعت 10 شب ششم جدي تعين شده بود اما بعد ها به ساعت نه 9 شب وسپس به ساعت هفت ونيم شام تغير يافت ، به عقيده نويسنده علت تغير ان بود که امين به اساس نقشه وطرح کي جي بي توسط زهر نمرده بود و ضرورت مي افتاد که بدون درنگ به وسيله نظاميان جبرا از ميان برداشته شود .

عساکر افغاني سخت مقاومت ميکرد و با انکه سلاح ثقيله شانرا مشاوران شوروي غير فعال ساخته بود تا پايان جان برضد شورويها جنگيدند .

حفيظ الله امين همراي دو فرزند کود کش و ديگر اعضاي خانواده ونزديکان يکجا کشته شدند و جسد هاي شان درنزديک تپه تاج بيگ زير خاک گرديد . ))

يو بل شوروي افسر تورن جنرال لوکين وايي:

((به تاريخ ششم جدي با ريس عمومي کي جي بي اندروپوف نشسته بوديم که از کابل مسئول کي جي بي از عمليات موفقانه و کشته شدن حفيظ الله امين اطلاع داد ، اندروپوف احساساتي شده و گفت که کارمل بزودي پيدا شود ومتن بيانيه اش را اماده سازد .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بعد تر از راديو تاشکند خبر کشته شدن حفيظ الله امين با يک صداي اشنا اعلان گرديد و اين اعلان همرا با يک بيانيه مفصل بار بار از راديوي تاشکند تکرار شد ،به غلطي خود پي بردند راديو کابل را قطع ونشرات خود را به نام راديوي کابل کردند .

همين که کارمل از کشته شدن امين يقين حاصل کرد همرا باديگران همراهان فراري اش از مهمان خانه کی جي بي بيرون شد دوباره به کابل اورده وبر تخت نصب شد ، برژنيف وديگر سران روسي طي تلگرامي به اواز موفقيتش تبريک گفتند . ))

د تاريخ په اوږدو کې دا د نړۍ دا شغالگرانو منل شوی فرمول دی کله چې غواړي بل هېواد اشغال کړي او تر خپل مستقيمې اداري لاندې يې راولي ، نو تر اشغال وروسته دا شغال شوی هيواد قدرت اقليتونو ته سپاري او په اقليتونو کې هم پر وطندوستو اود ملي نظر لرونکو اشخاصو باورنکوي .

استعمارگران د هېوادونو تر اشغال وروسته په ټول ملت کښې مخصوصاًپه اقليتونو کې هغه پليت ، پس فطرته ، رزيل ، تيټ صفته وطنفروش او بې ارزښته اشخاص د خپل زرخريده غلامانو او جاسوسانو په صفت استخداموي چې د خپل هېواد او هېوادوالو ، ملي خپلواکۍ ، ملي او شخصي نواميسو ، دين او هر ډول ملي او ديني ارزښتونو هېڅ پروا نه لري .

استعماګران وخپل اهدافو ته درسيدو په خاطراوداشغال شوی ملت د لا ښه سرکوب په خاطرداشغال شوی ملت څخه واستخدام شوو جاسوسانو ته چې په حقيقت کې ملی خاينان بلل کيږی خاص وظايف سپاری چې مونږئی دلته ځينو وظايفوته ډيره لنډه اشاره کوو :

1: دا ملی خاينان بايد دخپل خارجي بادرانو په ګټه په خپل ټولنه کې دخپل ملت د ملي خپلواکۍ ،ملی حاکميت ،مځکنۍ بشپړتيا ،ملی ګټواو ملي نواميسو برخلاف عمل وکړي .

2: د ا ملی خاينان بايد دخارجيانو د خوا ددوی دهېواد د اشغال نا مشروع عمل ته مشروع عمل وواېي .

3: داملی خاينان بايد دخارجي بادرانو په نفع د خپل ملت په مقابل کې ودريږي .

4: د املی خاينان بايد داشغال ګرانو په امراوهر اړخيز حمايت داشغال شوی ملت د اکثريت سره دښمني وکړی ، د هېواد په اکثريت پوری تړلی اشخاص بايد د سياسي ، اقتصادي او فرهنګي ساحو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه لیری کړی،هغوی مړه ،بندی ، تهدید ،فراراو تطمع کړی تر څو د اشغال شوی ملت دبیا یو متې کیدو مخه ونیسي چې د اشغال ګرانو په مقابل کې راونه پاڅیږي .

5: دا ملی خاینان باید د خپل هېواد ټول هغه ملی،دینی،مذهبی، فرهنګي او تاریخي ارزښتونه تحریف او تخریب کړی چې د اشغال شوي هېواد دوګړو تاریخي ،ملي،دینی،فرهنګی او داسی نور افتخارات بلل کېږي ،او د دې اشغال شوي ملت دمشترکو ملي ارزښتونو په حیث د اشغال شوی ملت وګړي پرراټولیدلای شي .

کله چې شوروي اتحاد افغانستان اشغال کړي د دې اشغال په باره کې یو روسي نویسنده " ډولسانوفسکي " داسې وویل:

(موږ په دې خاطر پر افغانستان لښکر کشي و کړل چې د اکثریت یعنی " پښتنو " دیکتاتوري پای ته ورسوو او دولتي قدرت و اقلیتونو ته وسپارو ) .

په ټوله نړی کې د متمدنو انسانانو د خوا دا منل شوی اصل دی چې د یو هېواد مشری اورهبری دهغه کس یا ډلی حق دی چې د هغه هېواد دوګړو د اکثریت ملاتړ ورسره وي .

د مشرتوب او رهبری لپاره د اکثریت ملاتړ نظام او رهبریت ته مشروعیت اوسیاسي ثبات ورکوي ، همدا علت دي چې په ټوله نړی کښې د ملتونو رهبری د هغو قومونو او هغو مشرانو پلاس کې وي چې د ټولنو په اکثریت پورې اړه او تعلق لري ، او که په استثنایي ډول د ملت رهبر لکه" بارک اوباما " چې د امریکایي ټولنې په اقلیت پورې تعلق لري خو بیا هم د ټولنې د اکثریت په ملاتړ د قدرت او رهبری مقام ته رسیدلی دی .

خو شوروي اشغالګرانو پر افغانستان خپل غیری قانوني او ظالمانه تجاوز ته په دې بې اساسه او بې شرمانه منطق مشروعیت ورکاوه چې په افغانستان کې یې د اکثریت "پښتنو " حاکمیت د منځه یوسي او پرځای یې د اقلیت د حاکمیت په نوم خپل زرخریده جاسوسان د هېواد او ملت د حاکمانو په نوم پر افغان نجیب ملت وتپل او د افغانانو ګران هېواد افغانستان یې اشغال کړ .

د شورویانو د خوا د افغانستان تر اشغال سمدستي وروسته روسانو و خپل افغاني جاسوسانو ته کوم چې اکثره یې دهېواد په اقلیتونو پورې تړلي وه او شورویانو پر لوړو دولتي او حزبي چوکیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقرر کړي وه وظیفه وسپارل چې د افغان نجیب ملت ملي وحدت چې د افغان نجیب ملت او افغانستان د بقا ډاډ من ضامن وو مات کړي .

شورویانو د افغان نجیب ملت د ملي وحدت د ماتولو لپاره منظم پلان طرحه کړی چې د عملي کولو وظیفه یې په افغانستان کې د "کی جي بي" د مسئولینو ، د "خاد" د مسئولینو او د پرچمیانو او خلقیانو د هغه اړخ پرغاړه وه چې د "کی جي بي" زرخریده جاسوسان وه .

دافغان نجیب ملت د دښمنانو د دې خیرن او کرغیړن پلان د حمایت ، تطبیق او نظارت مسئولیت د شورویانو ګوډاګیانو ببرک کارمل ، ډاکترنجیب الله د خاد عمومي ریس ، نوراحمد نور ، نجم الدین کاویاني ، فرید احمدمزدک ، محمود بریالي ، اناهیتا راتبزاد ، جلال الدین صدیقي ،نبي عظیمي ، پروفیسر جاوید ،صالح محمد زیری، حبیب الله حبیب ، داود کاویان ، عبدالله شادان ،جلال رزمنده ،نورالله تالقاني ، جنرال مومن دستګیرپنجشیري اود شورویانو دداسې نورو جاسوسانو پرغاړه وه .

دشوروی داشغال سره سم پورته ذکرشوو جاسوسانو دخپل بادارانو په امرد افغانستان پر ملي افتخاراتو یرغلونه شروع کړل چې څو لنډ مثالونه یې دلته بیانوو :

1: د شوریانو پورته ذکر شوو جاسوسانو به کوښښ او تبلیغ کوی چې:

لوی احمد شاه بابا او چنګیز خان یو شان ظالم ، ویني څښونکي او ویرونکي امپراطوران وو . . .

2: غازي وزیر اکبرخان د انګریزانو نماینده وو . . .

3: پښتانه قبایلي خلک دي او قبایل ننګ او ناموس نه لري . . .

4: دافغانستان نوم باید په خراسان بدل شي

5: دشوروي دې غلامانو غوښتل چې د افغانانو ملي هویت "افغان" په "خراساني" بدل کړي .

6: دشوریانو دې حلقه بګوش غلامانو غوښتل چې دافغانستان په هره برخه کې چې پښتنو ژوند کوي د هغو په کلیو کې د جنګونو اوربل کړي او د هېواد د شمال څخه پښتانه په زوره د جنوب یا پاکستان خواته په مهاجرت کولو مجبور کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



7:د شوروی دی حلقه بګوش غلامانو د خپل بادرانو په امر او د هغه عقدی او تعصب له رویه چی د پښتنو سره ئی لرل د پښتون ویاړلی ملت پر سر ،ناموس،عزت،مال،تاریخ، فرهنګ او د اسی نورو ملی ،پښتنی او تاریخی ارزښتونو یرغلونه شروع کړل.

د مثال په ډول پښتون عالم او محقق استاد روهی وایی چی: (من درحضور چند نفر دیگر به یک پرچمی کلان گفتم: شما چگونه اجازه میدهید که در دانشگاه کابل چنین کتاب تدریس شود که هیچ ارزشی علمی ندارد وفقط بدین خاطر تدریس میشود که در ان تمسخری به پشتونها روا داشته شده ،به گونه نمونه پروفیسر جلالالدین صدیقی مینویسد که ، ،پشتونها مردم قبیلوی هستند و قبایل ننگ و ناموس را نمی شناسند ، ، همینگونه این مطلب را چی کسی خواهد پذیرفت که در میان پشتونها کدام حاکم شریف وجود نداشته واگر امیر امان الله خان صفتهایی نسبتاً خوب داشته علتش ان بود که تاجکهای اصیل اورا تربیه کرده بودند. ایا این موضوع بنیاد علمی دارد که در میان یک قوم هیچ انسان بد ودرقوم دیگر هیچ انسان خوب وجود نداشته باشد ؟

او به پاسخ من گفت: من پرو فیسر جلا الدین صدیق را به این خاطر احترام میکنم که تا حال به پشتونها چیزی گفتن تابو یعنی ممنوع شمرده میشد ولی او برای باری نخست پشتونهارا از حریم مقدس شان بیرون کرده وغرور شان را شکست ).(سقاوی دوم ۳۷ مخ)

8:د شورویانو دی حلقه بګوش غلامانو به د شوروی اشغالګرانو او ددوی داور قوت ټول د پښتنو پر کلیو او بانډو استعمالوی ، د مثال په ډول د هرو ۱۰۰ سکات راکټونو څخه ۹۹ د پښتنو پر کلیو اوریدل.

9: د شوروی دی غلامانو به ویل چی په پښتنو کښی هیڅ ښه سړی وجود نلری ،امان الله خان چی نسبتاًځنی ښه خویونه درلودل هغه هم د اصیلو تاجکانو د خوا تربیه شوی وو...

10: د پښتنو مورني او دهېواد ملي او رسمي ژبه " پښتو " د دفتر ، تعليم او مطبوعاتو څخه وباسي ،که څه هم د پښتنو ژبی سره نا خود اګاه دښمنی خو لا د ایرانی ژبی تر تاثیرلاندی شاهانو د لوری ډېر پخوا څخه لا راشروع شوی وه .

11: د شوروی دی جاسوسانو او ددوی بادارانو دهېواد هغه سيمي چې اکثريت پښتانه په کې اوسي تر نظامي ، سياسي ، اقتصادي او فرهنګي سختو فشارونو لاندي راوستلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



12: د هېواد په سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي ، ساحو کې د پښتنو مسلم حقوق او وظایف د هغوی څخه غصب او د هېواد واقلیتونو ته ورکړل شول .

13: په اشغال شوی افغانستان کې د شورویانو ګوډاګي دولت ټول مادي ،معنوي او سیاسي امکانات په افغان اقلیتونو پورې تړلو هغو اشخاصو او افرادو ته په اختیار کې ورکړل چې د پښتون ستر ملت ازلي دښمنان او مخالفین بلل کیدل ، هغوی ددولت په امکاناتو اول پښتني ضد ټولني جوړي کړي او ډول ډول افغاني ضد نشرات به یې کول چې مو ړ دلته د "غرجستان" د مجلي او د " هزاره ملت د انسجام د مرکز" څخه د مثال په ډول یادونه کوو ، چې د عبدالواحد سرابي ، شاه علي اکبر شهرستاني ،اسماعیل قاسمیار ، حسین نایل ،عبدالحسین توفیق ،عوض نبیزاده ، عبدالله کشتمند ،او داسې نورو دخوا جوړې شوي او رهبري کیدي .

د شورویانو د خوا د افغانستان د اشغال په مقابل کې پښتون ستر ملت ملي غزا پیل کړل ، د کرملین مشران اود کابل دارګ په ګلخانه کې د هغوی ګوډاګیان یې یو په بل پسي ناکامه او زاره چاودی کړل .

د پښتون ستر ملت د توري ، میړاني او بې مثاله قربانیو په زور تاریخ یو ځل بیا تکرارشو ، د پښتونخوا پاکه او سپیڅلي خاوره یو ځل بیا د

د نړې دیوی بلې ستره امپراطوري ،د شوروي اتحاد دوحشت او بربریت دستری امپراطوري په هدیره بدله شول .

کله چې شوروی اشغالګران په دې پوه شول چې د پښتنو هیواد د اشغالیدو ندی او پښتون ملت غلام کید لای نشی ،نو په دې تلاش کې شول چې څنګه د پښتنو د لاسه دداسې ذلیلي ماتي څخه ځان وژغوري لکه پښتنو چې دانګریزانو امپراطورۍ ته په دری جنګو نو کې ورکړې وي .

شورویانو هم دهربل اشغالګر په څیرد پښتنو ازلي او ابدي دښمن ایران ته مراجعه وکړل ترڅو د پښتنو څخه یې خلاص کړي .

ایران ته دروسانو دا رجوع تصادفي نه وه ،روسانو ته د منطقې د تاریخ د مطالعي څخه دا معلومه وه چې د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو ازلي دښمن ایران همیشه د پښتنو خلاف هر ذلیل سازش ته اماده وو چې ژوندي او تازه مثالونه یې په هند کې د مغلو د واکمنۍ په وخت کې د اصفحان او ډهلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو ضد اتحاد وو ، او په دې وروستیو کې د ایران او برطانوي هند ترمنځ د پښتنو د امپراطورۍ برخلاف ذلیل سازشونه یې بله نمونه وه .

کله چې شورویان پردې متیقین شول چې دوی په افغانستان کې د پښتنو او نورو غازیانو د ماته نه خوړونکې مقاومت په سبب د حتمي ماتې سره مخامخ دي ، نو د زړې ګیډ ړې په شان یې د یو بل نیرنګ ښکار واختېږ .

د شوروي او ایران استخباراتي سازمانونو یو مشترک استخباراتي پلان جوړکړي .

د روسیې او ایران د پښتون ضد پلان مطابق د کابل د شوروي پلوه دولت زیاته برخه،او د مجاهدینو په منځ کې چې دروس او ایران استخباراتي سازمانوکوم پښتون ضد ، افغان ضد او افغانستان ضد حلقې ، عناصر ، افراد ، اشخاص ، ریزرفونه ، امکانات،اجنټان او پلویان درلودل هغو ټولو ته یې امروکړې او پر یو مشترک مرکزیې سره راټول کړل .

دشوروي او ایران استخباراتو د امریکا ،پاکستان او سعودی استخباراتی سازمانونه غافلګیره کړل او په ډېره بې شرمۍ سره یې کوښښ و کړې چې د پښتنو او ټولې نړۍ په سترګوکې خاورې ورواچوي او د یو استخباراتي پلان مطابق یې خپل پخواني په کمونستي نظر مشهوراودملت په منځ کې بد نام اجنټان یعني د ببرک کارمل او ډاکتر نجیب الله دملی خیانت په تور تورنی ،خیرني ، منفورې او رټلې ښېرې د منځه ویستلې او پر ځای یې خپل نوي پلویان افغانانو او نړۍ ته معرفي کړل .

روس او ایران دانتر ناسیونالیست مارکسیست ، لنینیست ببرک کارمل او ډاکترنجیب الله پرځای دانترناسیونالست اخوانی برهان الدین رباني په مشرۍ احمد شاه مسعود ،عبدالرشید دوستم،عبدالعلی مزاری اوداسی نورافغانی ټولنی او نړۍ ته دافغانی مشرانو په حیث معرفی کړل ،یعنی د کارمل اونجیب پرځای دروس او ایران په ملا تړ د افغانستان چاری برهان الدین ربانی ،احمد شاه مسعود ،رشید دوستم،عبدالعلی مزاری او ددوی ملګرو ته وسپارل شوی .

دروس او ایران دې نوو پلویانو د کمونیزم پر ځای د اخوانیزم شعارونه ورکول .

د روس او ایران له خوا جوړ شوي دې نوي ایتلاف هم د انګریزانو د جاسوس د سقاو زوی حبیب الله د پروژې مطابق کار شروع کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د روس او ایران پلویانو دیو سازش په نتجه کې د افغانستان د پایتخت کابل او ځینو نورو ولایانو چارې پلاس کې واخستی ،نود پاکستان استخباراتو هم خپل وفادارترین نماینده ګلبدین حکمتیار او دده حزب اسلامی ته په ټول هیواد کې د روس او ایران پلوه اتحاد پرضد د جنګ کولو امر وکړی او په ټول هیواد مخصوصاً د کابل په ښار کې د روس ، ایران او پاکستان د پلویانو تر منځ سخت جنګونه شروع شول .

دروس ، ایران او پاکستان پلوه ډلود خپل واکمنۍ په دوران کې ډیر زیات د اسلام ضد ، پښتون ضد ، افغان ضد او انسان ضد اعمال سرته ورسول ، د اسلام او جهاد په نوم یې دزیاتو افغانانو مخصوصا د کابل او د هیواد د نورو ښارنو او بانډو د اوسیدونکو سر ، مال ،عزت او ناموس لوټ کړ .

دروس ، ایران او پاکستان دې پلوی ډلو د افغان دولت او افغان نجیب ملت ټولې دولتي او شخصي شتمنۍ لوټ کړې .

د روس ،ایران او پاکستان دې طرفدارانو د خپل خارجي ملاتړو په امر د هیواد ملکي ،نظامي ،اداري او اقتصادی زیربناوی د اساس څخه د منځه یوورې .

دروس ،ایران او پاکستان دې پلویانو د خپل بادارنو په امر د افغان نجیب ملت ترمنځ د جنګ ، نفاق اونفرت اوربل کړاو د افغان نجیب ملت ملي وحدت یې عملا له منځه یوور .

د روس ،ایران او پاکستان د دې پلویانو د ناوړه اعمالو په وجه د هیواد د ولسوالیو ارتباط د ولایاتو سره او د ولایاتو ارتباط د هیواد د مرکز کابل سره قطع شو ، حتی د کابل ښار لاهم پر څو برخو وویشل شو چې په هره برخه کې یې بیل بیل زورواکان د ولس د سر ، ناموس ، عزت او مال په لوټلو مصروف وو .

دروس ،ایران او پاکستان د دې انډیوالانو په اجازه په زرګونو خارجي تروریستان هیواد ته راغلل ، د رباني او مسعود دډلی له خوا دی نړیوالو تروریستانو ته افغاني تابعیت ورکول شوا وهغوی د افغانستان څخه ټولې نړۍ ته د تروریزم د صادرولو په کار مصروف شول چې یو ژوندی مثال یې د القاعده د سازمان له خوا پر نیویارک او واشنګټن باندې د(11/9) تروریستي حملې دي چې پلان او رهبري یې د افغانستان څخه کیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څنګه چې انګریزانو د پښتنو او نور افغانانو څخه د خپل درېڅ واره ذلیلو ماتو انتقام په کابل کې د سقاو د زوی حبیب الله په واکمن کیدو واخستی ، په همدې ډول روسانو او ایرانیانو یو ځل بیا وټول افغان نجیب ملت مخصوصاً پښتنو ته وشورویانو ته د ماتي ورکولو په جرم پرهېواد د شمالي ټلوالي د مسلط کیدو په سبب داسې سزا ورکړل چې پښتنو او ټول افغان ملت د سقاو د زوی حبیب الله ظلمونه په سترګو پورې رانجه کړل .

د روس او ایران پلویانو چې کله کابل اشغال کړ نو د افغان نجیب ملت د سر ، مال ،عزت او ناموس په لوټلو یې زړه سوړ نه شو ، او د خپل بادرانو په امر یې د پښتنو پر تاریخ او فرهنګ د کارمل او نجیب د ادارو په شان تعرضونه شروع کړل ، چې څو لنډ مثالونه یې دلته راوړو .

1: کله چې د ایران او روس د پلان مطابق د کارمل او نجیب پر ځای د کابل واک و مسعود او رباني ته تسلیم شو په دې وخت کې د کابل ښار د وخت ښاروال د ښاروالي د جنجالي او مصروفي دندي سره سره د کابل پوهنتون د حقوقو په پوهنځي کې د افغانستان د معاصر تاریخ درس ورکول هم پر غاړه واخستل .

ده د خپل تدریس زیات وخت د احمد شاه بابا ، غازي امان الله خان او امیر عبد الرحمن خان په تخریب تیروي .

دې ښاغلي د لوي احمد شاه بابا سره دومره تعصب درلودې لکه څني متعصب هندوان چې یې لري ، دې ښاغلي به د خپل بادارانو په هدایت د احمد شاه بابا په باره کې داسې ویل :

(او حقوق دیګر میلتهاي این سرزمین را درنظر نه ګرفتند ، نام این خطه را افغانستان نهادند ،علاوتاً بعضي زمین هاي زراعتي مردم سمت شمال را به اعضاي قبیله خویش توزیع کردند . . . )

(سقاوی دوم -۱۲۲ مخ)

دروس او ایران د غلامانو د جملي څخه یو بل استاد د کابل پوهنتون د اینجینرۍ او نورو پوهنځیو د محصلینو څخه په امتحان کې داسې سوالونه مطرح کړل:

(چرا احمد شاه از تا جکها باج مي ګرفتند و از پښتو نهاي نه ؟

درمورد جنایات احمد شاه معلومات ارایه دهید ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



درمورد فقر فرهنګي ، عقب ګرايي و خصلت قبيله يي دوران حاکميت احمد شاه معلومات ارائه نماييد ؟

لښکر کشي ها و تهاجمات احمد شاه عليه کشور همسايه ، بر کشورما چقدر زيان اور بود ؟

(سقاوی دوم ۱۲۳-۱۲۴ مخ)

دروس او ايران دی زرخريد غلامانو به ددی سوالونو په شان داسی نور جاهلانه سوالونه مطرح کول

دروس او ايران دي غلامانو به د غازي امان الله خان په باره کې داسې ويل:

(او يک شخص عياش وبزدل بود ودربسيارموارد با انګليسها در تماس بودند ،مملکت مارا به سوي عياشي کشانيد ، نظام تک ملتي درين زمان دوام پيدا کرد ، بالاخره مردم شمال به رهبري حبيب الله خادم دين رسول الله عليه او قيام کرد ، و او را از پا دراوردند وهسته يک نظام ملي و اسلامي را در افغانستان به ميان اورد . )

(سقاوی دوم -۱۲۳ مخ)

دروس او ايران د دې غلامانو پښتون ضد او افغان ضد خيالونه د دې څخه معلوميږي چې غازي امان الله خان ته عياش ، بزدل او داسې نور بد الفظ استعمالوي او په مقابل کې د سقا و زوی غل حبيب الله خادم دين رسول لله بولي .

دعليحضرت امان الله خان د خوا ايجاد شوي ملي او مترقي نظام ته د عياشي نظام او د سقاو د زوی د غلامۍ ،غلا او چپاول نظام ته ملي او اسلامي نظام وايي .

ددوی د نظره دا خبره رښتياوه څکه چې د سقاو زوی حبيب الله هم د انګريزانو په امر و افغانانو ته د سزا ورکولو د پاره ګمارل شوي وو او د خادم دين رسول الله په نوم يې د افغانانو سر ،مال ،عزت او ناموس لوټ کړي ، شمالي ټلوالی هم د روس او ايران په ملاتړ خپل سياسي او نظامی ژوند ته دوام ورکاوه اوددوی د ملاتړو يعنی روس او ايران د خوا وافغانانو مخصوصا پښتنو ته د سزا ورکولو لپاره تشويق کيدل ،اودوی هم د اسلام او جهاد په نوم د افغان دولت شتمنی اود افغان نجيب ملت سر ،عزت او مال په داسې بې رحمۍ سره ولوټل چې افغانانو د سقاو د زوی پر چور او چپاول شکر وايستي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې د پرديو استخباراتو د پلوی ډلو ترمنځ دقدرت پر سرجنګونو او د دې ډلو د افرادو د خوا دافغان ملت او دولت د شتمنيو د چوراوچپاول څخه ولس ډېر په عذاب شو ،او دا جنګونه هم په ټپه ولاړ حالت ته ورسيدل ، بالاخره د پاکستان د استخباراتو په ابتکار د طالبان په نوم يوبله جنګي ډله رامنځ ته شول .

د اي ايس اي د خوا دي نوي رامنځته شوي ډلي ياني طالبانو وجنګ وهلي پښتنو ته "دمحمدي غرا شريعت د انفاذ " شعارړاندي کړي ،کوم شعارچی دپاکستان استخباراتی سازمان ای ایس ای لا پخوا د پښتونستان د پښتنو په منځ کې په بریالیتوب امتحان کړیوو .

طالبانو د نفاذ شريعت دشعارپه واسطه د پښتنو ملاتړ حاصل کړي .

طالبانو د پښتنو په نظامي ملاتړ ، داي ايس اي او عربې هېوادو په مالي او لوژيستيکي ملاتړ د روس ،ايران او هند پلوی پخواني ټولي جنګي ډلي ماتي کړي ، او د هغوی څخه يې د افغانستان (95٪) خاوره لاندي کړل .

شمالي ټلوالي صرف په پنجشير اوبدخشان کې د روس ، هند او ايران په مرسته د طالبان په مقابل کې مقاومت ته دوام ورکړي .

طالبانو هم د پاکستاني استخباراتو په امر د شريعت په نوم د پښتنو سره سخت ظلمونه شروع کړل .

طالبانود ای ايس ای په امراومشوره د پښتنو په بې عزته کولو شروع وکړل ،هغوی يې هرځای بې عزته کول ، ميرړه به يې د ماندينې ترمخ وهي اوټکوی ،ماندينه به يې د ميرړه ترمخ وهل او ټکول چې د طالبانو دا عمل د اسلام د مقدس دين او د پښتو او پښتونولي د قانون سخت مخالف وو .

دمغلو اوانګريزانو ميراث خورپاکستان دطالبانو د ساده توب څخه په استفاده او دطالبانو په واسطه دشرعيت د پاک نوم څخه په ګټه اخستنه غوښتل چې د پښتنو ملی او پښتني غرورمات کړي اوهغوی ذليل او بې عزته کړي .

طالبانو د اي ايس اي په مشوره د پښتنو څخه د تعليم حق سلب کړي ، ځکه چې پر تعليم يافته پښتنو بيا د اي ايس اي د جاسوسانو حکومت کول سخت کار وو ، خوبې تعليمه پښتانه بيا د اسلام اوشريعت په نوم د خپل هر ډول حقوقو څخه په اسانه ډول بې برخي کيداي شول ، او هم د دې بيسواده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو څخه د اسلام او شريعت په نوم د اي ايس اي د تروريستي پلانونو د پلي کولو لپاره په هند او ټولي نړۍ کې ښه استفاده کيدای شول .

طالبانو د اي ايس اي په مشوره د پښتنو څخه د کار ،تعليم ، ډاکتر ته دتللو ، موسيقي اوريدلو ،ږيري خريلو ، د ازادو مطبوعاتو د لرلو او داسې نور انساني حقه حقوق غصب کړل او هېواد يې په يو زندان ورته بدل کړي .

پرپښتنو او افغان نجيب ملت ټول پورته ذکر شوی مشکلات او زحمتونه هغه وخت راغلل چې د پښتنو مشرانو خپل شخصی ګټې ترملی ګټو مقدمی وبللی ،او د خپل شخصی ګټو او شخصی قدرت په خاطريو د بل سره په جنګ شول،اويا ځنی افغانان د پرديو هيوادونو د استخباراتی سازمانودخوا جذب شول او دی ملی خاينانو دخپل بادرانو د امر مطابق په افغانستان کښی د خپل خارجی بادارانو د شومو اهدافو د پلی کولو د پاره کار او مبارزی شروع کړی.

دافغانستان ځنيونااهله او ځان غوښتونکومشرانود خپل وروررسره دشروع شوی جنګ د بری په خاطر د افغان نجيب ملت اوګرانی پښتونخوا د تاريخی او ازلی دښمنانويعنی ايران ،بريتانيا ،ننني پاکستان او روسيی څخه مالی او نظامی مرستی وغوښتلی .

دافغانی مشرانو د خوا وخپل وروررته د ماتی ورکولواو خپل شخصی اهدافو ته درسيدلو په خاطر د پرديوهيوادونو څخه د مالی او نظامی مرستو د غوښتلو په اساس هغوی ته زمونږ د هيواد په کورنيو چارو کې د مداخلی موقع مساعده شول ،دپرديو هيوادونو د مداخلوپه سبب په معاصر تاريخ کې دلوی احمد شاه بابا د خوا تاسيس شوی دپښتنو لويه امپراطوری دمنځه ولاړه اوټوټه ټوټه شو .

په پښتونخوا کې داحمدشاهی امپراطورۍ دزوال د غمجن اغازڅخه بيا ترنن پوری د هېواد د تاريخي ويرلړلوحوادثو د مطالعي څخه موږ په ځولنډ وټکو کې دا لاندي نتيجي اخستلای شو .

## 1: دپښتنو لويه امپراطوری دمنځه ولاړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اتلسمه پیړۍ کې د پښتونخوا شهزادګانو د پښتو او پښتونولي د قانون برخلاف د اتفاق پر ځای د نفاق لاره غوره کړل ، یو د بل سره د قدرت پر سر په جګړو اخته شول او د دې جګړو د تمویل لپاره یې د پښتونخوا او پښتنو دازلي او دایمي دښمن ایران څخه مرسته وغوښتل .

د پښتونخوا د شهزادګانو د قدرت پر سر د بې ثمره جنګونو او بې اتفاقیو په سبب پښتنی امپراطوری چی د منطقې تر ټولو ستر نظامي ځواک او د منطقې د ثبات لپاره عمده ترین قوت وو دومره ضعیفه شول چې دمنطقی دسوپرطاقت رول ئی وبایللی او پر منطقه ئی خپل کنترول د لاسه ورکړی .

دپښتنو د امپراطورۍ د ضعف د سببه انګریزانو ته دا موقع مساعده شول چې د پښتنی امپراطورۍ د نفوذ په ساحه یعنی هند کې مداخله وکړی ،بالاخره هندوستان ترخپل حاکمیت لاندی راولی او د پښتنی امپراطورۍ د نفوذ دساحی ټولی منطقي ته جدي خطر پېښ کړي .

د پښتنو شهزاده ګانو د ځان غوښتني او بې مسئولیتۍ په سبب په اتلسمه پیړۍ کې د پښتنودولت دداخلي شخړو په اساس دومره ضعیف شو چې لومړي یې د سند او پنجاب سیمي دلاسه ورکړي .

د پښتنو شهزاده ګانو او پښتنو مشرانو د بې مسئولیتۍ اوبې اتفاقۍ په سبب پښتنو نه تنها خپل امپراطوري د لاسه ورکړل ،بلکه د خپل ګران هېواد(پاکي پښتونخوا ) نیمه برخه یعني پېښور ، دیره اسمعل خان ، دیره غازي خان ، بلوچستان ،کشمیر او داسی نور سیمی یی هم د لا سه ولاړل .

## 2: دافغانستان استقلال د منځه تلل .

دشلمي پیړۍ په اخیرو دروو لسیزو کښي خارجي استخباراتو د خپل شوم پلان مطابق بیاافغانان دخپلو اجنټانو په واسطه په خپل منځ کې د قدرت پرسر په داخلي جنګونو کې سره اخته کړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد د افغانانو د بې اتفاقۍ څخه استفاده وکړل او په (1979/12/27 ع) یا (1358/10/6 ه . ش) تاریخ یې د نظامي قوت په زور افغانستان اشغال کړي او خپل یو معلومالحال جاسوس ببرک کارمل یې د دوهم شاه شجاع په شان پر افغانانو دتش په نوم واکمن په حیث مقرر کړي .

د پردیو استخباراتو د خوا پر افغانانو د تپل شوو داخلي جنګونو په نتیجه کې افغانانو دا ځل بیاخپل سیاسي استقلال او نورټول ملي ارزښونه وبایلل .

## ب: د پښتنو د جهاد ګټې چاته ورسیدې ؟:

دشوروی تراشغال ورسته د اسلام د مقدس دین دارزښتنو او دپښتو او پښتونولی د قانون مطابق پښتنو په ټول هیواد کې د شوروی اشغالګرانو پر ضد مقدسه غزا پیل کړل .

دشوروی اشغالګرانو پرضد دپښتنو د ازادۍ غوښتلو غزا دمیلینونو پښتنو دشهادت ،معیوبیت ،دښارونو ،کلیو ،بانډو ،زراعت او مالدارۍ دبربادۍ لنډه داچې داغزادپښتنو دسراومال د بربادۍ په قیمت پښتنو ته تمامه شول .

دروس پرضد د پښتنو د جهاد په دوران کې دپښتنو د بی مثاله ځانی او مالی قربانۍ په برکت شوروي امپراطورۍ د پښتنو څخه د شرم نه ډکه ماتې وخوړل ، او شورویان په ځوړ سر د افغانستان څخه وشړل شول .

دا خبره هم د ذکر وړ ده چې دشورویانو د خوا د افغانستان د نظامي اشغال سره سم افغانستان د نړۍ د سترو ځواکونو یاني شرق او غرب ترمنځ د ساړه جنګ په مهم ترین میدان بدل شو ،د یو طرفه د شوروي او شرقي بلاک نظامي قواوې چې ترغاښونو پورې مسلح وې په افغانستان کې ځای پرځای شوي .

د بله طرفه امریکا ،غربي او اسلامي نړۍ د پاکستان د استخباراتو د اجنټانو په واسطه مجبور پښتانه په نا چېزه وسله سنبال او د شوروی دسره فوځ سره یې په نا انډوله جنګ کې واچول .

موږ به په ډیر لنډ ډول دی موضوع ته اشاره وکړو چې د میلنونو پښتنو دشهادت او معیوبیت په قیمت د ګټل شوی جهاد ګټې چا ته وسیدی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1: امريکا ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د ميلينو پښتنو د سر او مال د بې مثاله قرباني په قيمت امريکا خپل د ساړه جنګ حريف شوروي اتحاد مات کړي .

د ميلينونو پښتنو د سر او مال د قربانيو او جهاد په برکت امريکا شوروي امپراطوري ړنګه کړل ، خپل د ويتنام د ماتي بدل يې ځني واخستي ،او امريکا د نړي يوازني سوپر طاقت شو ،هغه په ميلياردونو ډالره چې امريکا او دده غربي ملګرو د ساړه جنګ په جريان کې مجبوراً د شوروی اتحاد پر ضد مصرفولی هغه پيسی په جيب کې ورپاتې شوی . . .

## 2: پاکستان ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په برکت پاکستان د شوروي د راتلونکي حتمي حملي څخه نجات پيدا کړي ، د پښتنو د جهادي مصارفو څخه د غلا شوو امکاناتو په واسطه پاکستان په اټومي طاقت بدل شو .

د پښتنو د جهاد د سببه پاکستان خپل د هغه کرغيړن پلان بريا ليتوب ته چې پر اساس ئی افغانستان د پاکستان ستراتيژيک عمق جوړيږی ډيرنږدی شو .

د پاکستان د خيرن پلان مطابق په اول قدم کې به پاکستان په افغانستان کې خپل ګوډاګی دولت جوړوی او په دوهم قدم کې به پاکستان افغانستان مستقيما د اسلام اباد ترکنترولاندی راولی او د خپل هيواد پنځمه صوبه به ځنی جوړوی .

کيسه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتونخوا نشنل عوامی ګوند مشر محمود خان اڅکزی ماته(عبدالحکیم نورزی)وویل چی یو پنجابی شیعه مذهبه سیاست مدارمشاهد حسین (شاید چی نوم می ئی نوی غلط کړی) راته وویل چی یو ځل زه د سنا د نماینده په صفت دپاکستان د کلنی بودیجی د وړاندی کولو په خاطر د بودیجوی ټیم سره دپاکستان د جمهور ریس غلام اسحق خان دفتر ته ورغلم .

مشاهد حسین وایی چی بودیجوی ټیم جمهور ریس غلام اسحق خان ته د پاکستان د فدرالی حکومت ،نظامی ،استخباراتی او څلورو صوبو(پنجاب ،سند ،صوبه سرحد اوبلوچستان)بودیجه وړاندی کړل .

مشاهد حسین وایی چی جمهور ریس غلام اسحق خان زموږ څخه سوال وکړی چی د افغانستان بودیجه کومه ده ؟

موږ د جمهور ریس سوال متعجب کړو اوهغه ته مو وویل چی ستاسو په سوال پوه نه شو .

جمهور ریس غلام اسحق خان راته وویل چی ما د افغانستان د بودیجی په باره کې سوال درڅخه وکړی ،افغانستان د پاکستان پنځمه صوبه ده او ترنن ورسته د پاکستان د پنځمی صوبی په حیث بودیجه ورته ځانګړی کوی .

پاکستان د افغانستان د نیولو کرغیړن پلان هغه وخت جوړکړی چی په یو نظامی جنګ کې هند شرقی پاکستان یعنی اوسنی بنګلدیش دپاکستان څخه بیل کړی .

د شرقی پاکستان تر بایللو سمدستی ورسته دمغلواوانګریزانو میراث خورد پنجاب نظامی اواستخباراتی مشران دی نتجی ته ورسیدل چی دا لنډی بوری پاکستان هم د هند تر تهدید لاندی دی .

ددی د پاره چی د هند داحتمالی حملی په مقابل کې مقابله وکړایشوباید پاکستان ته یو ستراتیژیک عمق پیدا کړو یعنی پاکستان پراخه کړو .

پنجابی مشران په دې پوهیدل چی د هند ، چین او ایران پر طرف د پاکستان د پراخیدو امکان نشته ،نو یوازنی هیواد چی دپاکستان په ګاونډ کې قرار لری او کمزوری دولت لری هغه افغانستان دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهمدی سببه پنجابی مشرانو دا فیصله وکړل چی دوی باید افغانستان اشغال او د پاکستان یوه صوبه ځنی جوړه کړی ،نو په همدی اساس تورمخو پنجابیانو په (۱۹۷۲ع) کال کې د پښتنو د مور ،د پښتنو د ناموس ،د احمد شاه بابا او میرویس نیکه د ټاټوبی ګران افغانستان د نیولو د پاره خپل کرغیړن پلان جوړ کړی .

پاکستان خپل ددی ناولی پلان د اجرا د پاره ځنی ټیټ همته ،ملت او هیواد ته غدار ،وطنفروش او ملی خاینان پښتانه او غیری پښتانه افغانان د جاسوسانو په نوم استخدام کړل ،دهمدی ملی خاینانو دکړونو د سببه نن پاکستان د افغانستان په چارو کې تر بل هیواد بر لاس لری او تور پنجابیان د خپل کرغیړن پلان یعنی د ګران افغانستان د نیولو د پاره په ډیره بیشرمۍ په ډیر سرعت کارکوی .

## 3: ایران ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په واسطه پښتانه دومره ضعیف شول چې د خپل هیواد پر دولت یې خپل کنترول د لاسه ورکړې .

نن د افغان دولت زیاته برخه د ایران پلوه اقلیتونو د مشرانو او د ایران د نوروا جنټانو په واسطه اداره کېږي .

د ایران دولت نن د افغانستان په دولت کې د پوره نفوذ خاوند او ایران د افغانستان د سرنویشت د ټاکلو په باره کې مهم رول لوبوي .

## 4: افغان اقلیتونو ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په برکت افغان اقلیتونو ته د شوروي اتحاد او د پښتنو د نورو دښمنانو بې حسابه او هراړخیزي مرستي ورسیدي چې د دې مرستو په زور افغان اقلیتونه نن د پښتنو پر ځای په سیاسي ،اقتصادي او ټولنیز لحاظ د افغانستان واکمنان دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5: مرکزي اسیا ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په برکت شوروي امپراطوري ړنګه شول ، د مرکزي اسیا او بالتیک هېوادونه د شوروي د استعماري جوغ څخه ازاد شول .

## 6: شرقي اروپا ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په برکت د شرقي اروپا هېوادونه د شوروي د امپراطورۍ د استعماري جوغ څخه ازادشول .

## 7: جرمني ته د پښتنو د جهاد ګټې:

د پښتنو د جهاد په برکت شرقي جرمني دشوروي د امپراطورۍ د ظلم څخه ازاد شو ،دبرلین دیوال ړنګ او د جرمني هېواد بیا متحد شو .

## 8: پښتنو ته ددوی د جهاد ګټې:

که څه هم پښتنو د خپل ، سر ، ناموس ،عزت او مال په بې مثاله قربانۍ د شوروي ظالمي او وحشي امپراطورۍ ته ماتي ورکړل ،خودشوروی ترماتی ورسته د هېواد د چارو واګي د پښتون ملت د نمایندګانو لاس ته ورنغلي ، ځکه چې د دې جهاد په دوران کې د پښتنو سیاسي مشرتوب د پردیو استخباراتو د ملګروپلاس کې وو .

پښتنو ددې جهاد په نتیجه کې دخپل هېواد خپلواکي دلاسه ورکړل .

د پښتنو هري کورنۍ د دې جهاد په سبب ځاني او مالي قرباني ورکړل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهیواد سیاسي چاروته د پښتنو د نه توجه او بی تفاوتۍ په سبب چې د پښتنو د جهاد په نتیجه کې کوم ګوډاګي دولت منځته راغلي ، دې دولت یو زیات شمیر پښتانه دهیواد د سیاسي ،اقتصادي او ټولنیزو ساحو څخه وایستل .

که څه هم پښتنو د میلینونو شهیدانو او معیوبینو په قربانۍ پر حیرتان شورویان د خپل هېواد څخه وشړل ، خود پردی پلوه ا فغاني جهادي تنظیمونو مشرانو د خپل ملاتړ په خاطر د تورخم ، سپین بولدک ،اسلام قلع او حیرتان د لاري پاکستانیان ، ایرانیان ، اوعربان د ټولي نړۍ دتروریستانو په شمول بیرته هېواد ته را داخل کړل .

## 9: دنړي تروریستانو ته د پښتنو د جهاد ګټې:

کله چې پښتنو د خپل سر او مال په بې مثاله قربانۍ شورویان د خپل هېواد څخه وایستل او د خپل هیواد چاري ئی په اصطلاح جهادی مشرانو ته وسپارلی ،همدی افغانی جهادي سیاسي مشرانو افغانستان د نړۍ تروریستانو ته په یو محفوظ مکان بدل کړي ، او دټولي نړۍ تروریستان یې د پښتنو په سیمو کې میشته کړل او د اوسیدو لازم اسناد یې ورته برابر کړل .

د پښتنو د جهاد په برکت د نړۍ تروریستان د یو هېواد یعني افغانستان خاوندان شول ، او د دې ځایه یې ټول جهان ته د تروریزیم په صادرولو شروع وکړل .

په هېواد کې د یو منظم زمواره دولت د نه لرلو په سبب د شورویانو تر ماتي وروسته د ایران ،روسیي ، پاکستان او سعودي عربستان د استخباراتي مداخلو په سبب د ټولي نړۍ تروریستان د پښتنو په خاوره کې ځای پرځای شول ، او دي تروریستانو د افغانستان د خاوري څخه پر امریکا (2001/11/9 ع) تروریستي حمله وکړل او دا موقع یې مساعده کړل چې د امریکا او د هغه د متحدینو نږدي یو سل او پنځوس زره نظامي قواوي افغانستان ته راشي ،او د تیرو لسو کلنو راهیسې د پښتنو کلي او بانډي د نړیوالو تروریستانو او امریکایانو د جنګ میدان ګرځیدلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم فصل

## 1: دافغانستان په اړه دامریکا د پالیسۍ ستړې غلطۍ .

کله چې افغان نجیب ملت په ( 1919 ع ) کې د غازي علیحضرت امان الله خان په مشرۍ د برطانیا څخه خپل استقلال واخستی نو د یو ازاد هېواد په حیث یې د نړۍ د زیاتو هېوادو سره د هغو په جمله کې دامریکا د متحده ایالاتو سره هم د ښه سیاسي او دیپلوماتیکو روابطو جوړول وغوښتل ، خو امریکا د افغانستان سره د برطانیا په خوله چلن کولي کوم چې په هغه وخت کې دافغانستان لومړي درجه دښمن بلل کېده .

د هند د قاري څخه د برطانوي استعمار تر تړلیدلو وروسته هند پر دوو برخو وویشل شو چې یوه برخه یې هند او بله برخه یې پاکستان وبلل شو .

دپاکستان زیاته برخه پر هغه جغرافیه جوړه شول چې برطانیا د څو جګړو په جریان کې د افغانستان څخه جلا کړې وي او په برطانوي هند پورې یې تړلي وي .

امریکا د برطانیا په خوله همیشه د افغانستان پر خلاف د پاکستان د هېواد ملاتړ کوي .

که څه هم په ډېرو مواقعو کې د افغانستان واکمنانو ډېر زیات کوښښ وکړي چې د امریکا سره ښه دوستانه روابط وساتي ، خوبرطانیا همیشه وکړاي شول چې د افغانستان او امریکا روابط دوستانه نه شي دمثال په ډول:

د امریکا د وخت د خارجه چارو د وزارت معین جورج میګی په خپل کتاب کې لیکی چی(په ۱۹۵۱ع کال کې سردار محمد نعیم خان ماته وویل چی زه نن ددی د پاره ستا دفتر ته راغلی یم چی د نظامی مرستو په ارتباط ستا سره خبری وکړم ،چی که امریکا د افغانستان د پاره نظامی مرستو ته حاصر نشي ،افغانستان مجبور دی چی د نظامی مرستو له پاره د شورویانو سره خبری وکړی .

جورج میګی اضافه کوی چی ما سمدلاسه خپل سکرتر ته وویل چی دشوروی اتحاد د سفارت د تلفون نمبر پیداکړی او ماته یې راکړی ،ده دا کار وکړ ، او ما دشوروی د سفارت نمبر پر کاغذ ولیکی او هغه می سردار محمد نعیم خان ته ورکړی )

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خبرې معنی دا چې امریکا یان ځومره متکبر عمل د سردار محمد نعیم خان سره کړیدی او هغه کس هم د افغانستان د پاچا د کاکازوی ،دپاچا د خور خاوند او دصدراعظم سرادر محمد داود خان ورور وو .

په (۱۹۵۴ع) کې د امریکا د جمهور ریس مرستیال ریچرد نیکسن افغانستان ته سفر وکړی او دافغانستان سره یې د نظامی مرستو مخالفت اعلان کړی .

په (۱۹۵۸ع) کې صدراعظم محمد داود خان امریکا ته رسمی سفر وکړی تر څو دامریکا نظامی مرستی افغانستان ته را جلب کړی خو امریکا دده غوښتنه ونه منل .

همدا علت شو چې د افغانستان دوخت دولتونه مجبور شول چې د شوروي امپراطورۍ په غیږ کې ولویږي .

د پورته دلایلو څخه دا په ښکاره معلومیږي چې د شوروي په غیږ کې د افغان دولتونو د وراچولو مسئولیت د امریکا د وخت ددولتونو پرغاړه دي .

په (1358/10/6 هه . ش ) کال چې شوروي اتحاد پر افغانستان نظامي یرغل و کړي او افغان نجیب ملت د شورویانو د اشغال پر ضد په تش لاس ملي قیام شروع کړي نو امریکا ته دا موقع پلاس ورغلل چې په ویتنام کې د خپل ماتي غچ د شوروي اتحاد څخه په افغانستان کې واخلي .

همدا علت شو چې امریکا د افغان مجاهدینو سره هرراز مالي ، لوژیستیکي ،معنوي او سیاسي مرستي شروع کړي او د همدې ځای څخه د افغانستان په باره کې د امریکا نوري غلطۍ هم شروع شوي چې موږ یې په لنډ ډول ذکر کوو .

لومړۍ غلطي:

دامریکا لومړۍ غلطي داوه چې دوی د افغانانو سره د شوروي اتحاد خلاف مرستي د پاکستان د استخباراتي سازمان اي . ایس . اي په واسطه کولي ، او د افغانستان چاري یې د پښتنو او افغانستان د ازلي دښمن پاکستان پلاس ورکړي وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي . ايس . اي د امريکا او غرب مرستي د ملي او وطندوسته افغانانو پر ځای د خپل اداري د خوا تربيه شوو اجنټ سازمانو سره کولي د دې خبري معني دا شول چې امريکا د افغانستان چاري د پاکستان تر رهبرۍ لاندي پر مخ بيولي ، چې دا سې عمل د امريکا يوه ستره غلطي وه ، ځکه چې پاکستان د افغانستان ازلي او ابدي دښمن وو ، ازلي او ابدي دښمن دي او تر هغه وخته به د ازلي دښمن په حيث پاتي شي تر څو چي پاکستان هغه مځکی بيرته افغانستان ته ورنکړی چی انګريزانو د افغانستان څخه جلا کړيوی او فعلاً د پاکستان تر اشغال لاندی دی.

دامريکا لپاره دا مناسبه نه وه چې د يو ازاد او تاريخي هېواد سره د هغه د مجبورۍ په وخت کې د هغه د ازلي دښمن د نظر مطابق برخورد وکړي .

## دوهمه غلطي:

د امريکا دوهمه غلطي داوه چې د امريکا او پاکستان استخباراتو د ملي افغانانو د ملاتړ پرځای اخواني او اسلامي بنياد پرسته سازمانونه ايجاد او تقويه کړل چې ددوی دي عمل په منطقه کې اسلامي بنياد پرستي ته زياته وده او نمو ورکړل .

د سي ايي اي او اي ايس اي د غلطۍ په سبب نه تنها په افغانستان او پاکستان کې بنياد پرسته اسلاميزم وده وکړل بلکې په ټوله اسلامي نړۍ کې يو نړيوال اسلامي بنياد پرست جنبش منځته راغلي چې واسلامي او غيري اسلامي نړۍ ته يې د تروريزم او بې امنيتۍ ستر خطر ايجاد کړي .

د کمونيزم تر ماتي وروسته د سي اي اي او اي ايس اي پلاس ايجاد شوي او پرورش شوي اسلامي بنياد پرستي او د هغي پيروان د امريکا او غرب لپاره تر ټولو د ستر خطر په حيث را څرګند ه شوه .

پښتانه يو متل لري چې وايي : "څه چې کري هغه به ريبې "

حقيقت دادي چې په دې منطقه کې بنياد پرسته ايډيالوژي او بنياد پرستان د امريکا او پاکستان استخباراتو ايجاد او تقويه کړل .

هغه اسلامي بنياد پرستان چې امريکا د کمونيزم سره د جنګ لپاره تربيه او تقويه کړل بالاخره د امريکا او دهغي د دوستو هېوادونو په سرسختو دښمنانو بدل شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سي اي اي او اي ايس اي پلاس پرورش شوي اسامه بن لادن د القاعده بنياد پرست سازمان ايجاد کړي او امريکا يې د اسلامي نړۍ دلومړي نمبر دښمن په حيث تعين کړي ،او د هغي د تباهي لپاره يې ملا وتړل او د همدې دښمنۍ پر اساس يې پر11 سپتامبر د يو تروررستي حملي په ترځ کې د امريکا په طيارو د نيويارک جملي اسمان خراشان او پنتاګون وويشتل او په زرګونو انسانان يې ووژل او د بشريت په تاريخ کې يې د تروريستي حملو تر ټولو ستر وژونکي ريکارډ قايم کړي .

دا خبره ترمخه ذکر شوي ده چې د شوروي تر ماتي وروسته مجاهدينو د افغانستان ددولت قدرت پلاس کې واخستي .

درباني او مسعود دولت د ټولي نړۍ څخه د القاعده غړي ، دالقاعده مشر اسامه بن لادن او د نړۍ د نورو برخو اسلامي بنياد پرستان وافغانستان ته راوستل ، او ددوی تروا کمنۍ وروسته دا راوستل شوي اسلامي بنياد پرستان د طالبانو رژيم ته د ميلمنو په حيث پاتي شول ، اوطالبانو هم په ډېر درنښت ددې نړيوالو تروريستانو مېلمه پالني ته دوام ورکړي .

په افغانستان کې د شوروي اتحاد ترماتي تقريبا لس کاله وروسته د 11 سيپتامبر تر پيښي وروسته دا ځل امريکايې او غربې عسکرو په افغانستان کې د القاعده پر کوربه هيواد د بنياد پرستو طالبانو پر رژيم نظامي حمله وکړل او دهغو نظام يې ړنګ کړي .

## دريېمه غلطي:

کله چې تر (11 ) سپتامبر وروسته امريکا د يو نظامي اقدام په نتيجه کې د بنياد پرستو طالبانو رژيم ړنګ کړي نو ښه به داواي چې د افغانستان دچارو واګي يې و ملي وطندوسته افغانانو ته سپارلي واي ،خو په ډېر افسوس سره بايد ووايو چې امريکا د طالبانو تر ماتي وروسته د افغان دولت دچارو واګي تر زياته حده تر طالبانو خطرناکه اخوانيانو يعني جمعت اسلامي ،حزب اسلامى ، شوراي نظار ، حزب وحدت او جنبش اسلامي ته چې د شمالي جبهي په نوم ياديدل وسپارلي .

شمالي جبهه د خپلي تيري واکمنۍ په سبب د افغا نانو په منځ کې د سخت نفرت او کرکي وړ ډله وه ،ځکه چې د دې جبهي غړو د خپلي تيري واکمنۍ په وخت کې د افغان نجيب ملت او دولت هرڅه لوټ کړي وه ،او ددوی د وحشت او دهشت په وجه ملت د طالبانو سر ددوی پر خلاف ملاتړ وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا د طالبانو تر ماتي وروسته د افغان دولت په راس کې دروم د جریان یو غړي حامد کرزي د شپږو میاشتو لپاره د موقت ریس دولت په حیث را وستی، خو د دولت نور ټول واک یې د شمال جبهي ته وسپاري .

په دې نظام کې پښتنو ته چي دا فغانستان د نفوس مطلق اکثریت جوړوي مناسبه برخه ورنه کول شول ، د پښتنو جرم دا وبلل شو چي د طالبانو اکثریت هم پښتانه وه نو د ټول پښتون ملت سره د طالبانو په ډول چلن وشو .

حقیقت دا دي چې د طالبانو تحریک د افغانستان د ټولو قومونو څخه جوړ شوي وو او هر قوم په خپل تناسب غړي په کې درلودل ، خو سزا یې تنها و پښتنو ته ورکول شول .

د طالبانو د رژیم تر ماتي وروسته امریکا او غرب د افغان نوي نظام د ملاتړ او په منطقه کې د تروریزم د جرړو د ایستلو په نوم خپل عسکر په افغانستان کې ځای پرځای کړل .

د شمالي جبهي د نبه بخته لومړي ځل د روس او ایران په مرسته د کابل واک د دوی پلاس ورغلي وو او دا ځل بیا د امریکا په زور دوی د کابل واکمنان شول . که څه هم چي حامد کرزي د موقتي اداري ریس شو خو د دولت اصلي ټول قدرت د شمالي جبهي پلاس کې متمرکز شو .

## 2: دامریکا د غلطیو څخه د ایران استفاده:

که څه هم د ایران شیعه مذهبي رژیم په افغانستان کې د تند لارو او پاکستان پلوه سني طالبانو د حکومت په نړیدو او پر ځای یې د دوی د پلوي شمالي ټلوالي په واکمن کیدو خوشحاله شو ، خو ډېر ژر خپل غلطۍ ته متوجه شو هغه دا چې د سني طالبانو پر ځای دا ځل دایران ضد امریکایي او غربي قواوي په افغانستان کې ځای پرځای او تعداد یې ورځ په ورځ مخ پر زیا تیدو شو . . . .

په افغانستان کې د امریکایي قواوو شتون او زیاتوالي ایران خپل ملي امنیت او ملي ګټو ته جدي خطر وباله نو په همدې اساس په دې فکر کې شو چي په افغانستان کې داسې حالات منځته راولي تر څو امریکا او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري يې مجبور شي چې افغانستان ترک او د کابل د چارو واګې د دوی د پلوي شمالي جبهې پلاس کې د تل د پاره پاتې شي .

د ايران دې هدف ته د رسيدو لپاره د هغه سره نه نړيوال ديپلوماتيک ملاتړموجود وو چې په ديپلوماتيک ډول پر امريکا فشار واچوي تر څو هغه افغانستان ترک کړي ځکه چې امريکايان د روسانو د اشغال برخلاف د ملل متحد د قانوني قرارداد پراساس افغانستان ته راغلي وه ،او نه هم افغانانو په افغانستان کې د امريکا د عسکرو پر ضد داسې ملي قيام شروع کړي کوم چې يې په اتيا يمه لسيزه کې د روس د اشغال پر ضد شروع کړي وو ، د پورته ذکر شوو شرايطو په موجوديت کې ايران مجبور شو چې پر دې سوال فکر وکړي چې:

څنګه وکړای شي چې په افغانستان کې د امريکا پر ضد په افغانانو کې سياسي او نظامي مقاومت ايجاد کړي ؟

وخپل دې هدف ته درسيدو په خاطر ايران دوه مخيزه پاليسی اختيار کړل .

لومړی پاليسي :

ايران په ظاهره د افغانستان په بيارغاونه کې د امريکا سره اوږه پر اوږه برخه واخستل او په سل ګونو ميلونه ډالره يې د افغانستان د بيارغاوني په نوم د افغان دولت سره دمرستی ژمنه وکړل .

د ايران د مرستو مقصد داوه چې د يوه طرفه نړی ته وښايې چې ايران د يو زمواره دولت په حيث د تروريزم ضد دې او د بله طرفه د کابل د نوي دولت ملاتړ وکړي په کوم کې چې ٪95 قدرت د ايران پلوه شمالي جبهې پلاس کې وو .

په حقيقت کې ايران په خپل دې سياست سره هم نړی ته بازي ورکړل او هم يې په کابل کې خپل پلويان په قدرت کې وساتل .

دوهمه پاليسي :

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دي لپاره چي ایران په افغانستان کې د امریکا پرضد یو ولسي مقاومت را پیدا کړي مجبور شو چي د پاکستان سره په همږغۍ د امریکا ضد "شیطاني مثلث" ایجاد کړي . (د شیطانی مثلث اهداف به په تفصیل سره پرخپل ځای تشریح شی . )

د شیطاني مثلث وظیفه به داوی چی پرداسي لارو چارو فکر وکړي چي څنګه پښتانه چې د افغانستان د نفوس تر ٪75 زیات جوړوي د امریکا پرضد نظامي مقاومت ته اماده کړي ،ځکه چی د تاریخ په اوږدو کې د اشغالګرو پرضد مقاومت کول تنها د پښتنو د توان خبره وه ،او په دې تاریخی وخت کې هم په افغانستان کې د پښتنو پرته په

؛؟ونتا تورو اقلیتونو کې دا توان نشته چی د خارجیانو په مقابل کې مقاومت وکړایشی .

د همدې کار د انجام د پار د ایران او پاکستان استخباراتو د شیطاني مثلث د پالیسۍ مطابق په افغان دولت او ملت کې خپل پلویانو ته وظیفه ورکړل چې د دولت په دا خل کې په سبو تاژلاس پورې کړي او د پښتنو سره هرډول بد سلوک وکړي تر څو هغوی د دولت څخه ناراض او د نظام په مقابل کې را پورته شي .

کله چي پښتانه د کابل د دولت په مقابل کې را پورته شي نو په حقیقت کې د امریکا په مقابل کې را پورته شول ځکه چې د کابل د دولت دفاع خو د امریکا پر غاړه ده ،په دې ډول به د پښتنو او امریکا ترمنځ جنګ جوړ شي او ایران به خپل هدف یعنې په افغانستان کې امریکا ته په ولسي مقاومت ایجادولو کې بریالي شي .

د شیطاني مثلث د اهدافو مطابق په افغان حکومت کې د شیطاني مثلث اجنټانو په ټول افغانستان کې پر پښتنو باندې هر ډول ظلم او نارواح شروع کړل ، د دوی په قانون کې هر پښتون طالب وبلل شو او د طالب سرچپ او مال یې لیلام بلل کیدي . . . په لس ګونو زره پښتانه ګرفتار شول څوک مړه شول ،دچا شته په زور او یا رشوت کې ځني واخستل شول ،څوک بندیان شول او څوک امریکاېانو ته د طالب او تروریست په نوم ورکول شول چې د کلونو راهیسې په بګرام او ګوانتنامو کې بندیان شول .

ددې ظلم په سبب اکثره پښتانه د حکومت څخه ناراضه شول او یو شمېرپښتانه طالبان او غیری طالب پښتانه غروته وختل او یا ایران او

ګکبلیپاکستان ته وتښیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 3: د امریکا د غلطیو څخه د پاکستان استفاده:

دشوروي ترماتي او د نجیب ددولت تر سکوت وروسته پاکستان غوښتل چې خپل وفادار تنظیم یعنې حزب اسلامي و قدرت ته ورسوي خو په دې مسابقه کې د روس او ایران استخبارات ترا ي . ایس . اي وړاندي شول او هغو تر پاکستان د مخه خپل وفاداران یعنې شمالي جبهه په کابل کې د قدرت پرګدی کېنول .

ددې سره یوځای په کابل او ټول افغانستان کې د روس او ایران پلویان د پاکستان د پلویانو سره د قدرت پر سر په جګړو اخته شول .

د افغانستان کورني جنګ چې د روس ،ایران او پاکستان د استخباراتو دطرحه شوی پروژو پراساس شروع او په کلونو یې دافغانانو ترمنځ دوام وکړي په نتیجه کې یې د کابل ښکلي ښار وران او په لکونو افغانان په کې مړه او زخمیان شول .

د طالبانو د تحریک په را وړاندي کیدو بالاخره پاکستان وتوانیدي چې په کابل او ٪95 افغانستان کې د خپل خوښي حکومت منځته راولي .

د (١١) سیپتامبر تر پیښي وروسته پاکستان د یو ډېري سختي فیصلي سره مخامخ شو چې یا به پاکستان ساتي او د امریکا سره به د طالبانو پر ضد ملګري کېږي او یا به د طالبانو څخه ددفاع په خاطر د امریکا سره د جنګ میدان ته وردانګي .

پاکستان هم په دې سختو حالاتو کې د ایران په څیر د دومخي پالسۍ څخه کار واخستی .

لومړۍ پالیسي:

پاکستان د خپل ملي ګټو د دفاع په خاطر په دې جنګ کې د امریکا پر طرف شو او هغوی ته یې د طالبانو پر ضد جنګ کې هرډول اسانتیاوي برابري کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاکستان دولت په خپل دي عمل خپل هېواد د امریکا د جنګ څخه وساتي ، ځکه چې د امریکا جمهور رییس جورج ډبلیو بوش د پاکستان نظامي مشر پرویز مشرف ته اخطار ورلیږلي وو چې خپل دریځ معلوم کړي چې په دې جنګ کې د القاعده او طالبانو سره درېږي او که د امریکا سره .

په دې اخطار کې دا واضیح شوي وو چې که د امریکا پر ضد ودریږي نو دومره به یې بمبار کړي چې د ډبرو د عصر سره به یې برابر کړي .

پاکستاني نظامي مشرتابه د امریکا د نظامي حملي د ډاره دا فیصله وکړل چې د طالبانو ، القاعده او امریکا په جنګ کې د امریکا پر طرف ودریدل .

د پاکستان نظامي مشرتابه د چالاکي ګیدړي په شان داسې چالاکي د ځانه وښودل چې هم یې خپل هېواد د امریکا د نظامي حملو څخه وساتي او هم یې خپل پرورده طالبان او القاعده وساتل .

دوهمه پالیسي:

پاکستان په ظاهره په دې جنګ کې د امریکا په طرفداري د طالبان او القاعده په مقابل کې ودریدي .

پاکستان په خپل دي دوه مخیزه پالیسي هم خپل هېواد د امریکا د بربادونکي جنګ څخه وساتی ،اوهم یې خپل ملګرو طالبانو او القاعده ته تر ماتي وروسته پنا ورکړل .

د پاکستان اي ایس اي د طالبا نو او القاعدي ټوله رهبری او افراد په پښتونستان کې ځای پرځای کړل او د مناسبې موقع او مناسب وخت په انتظار یې ټراین او مسلح کړل .

په حقیقت کې پاکستان هم د ایران په شان په افغانستان د امریکایي عسکرو د وجود سخت مخالف وو ځکه چې د پاکستان په نظر د امریکا تر نظامي او اقتصادي حمایت لاندي افغانستان نور هیڅ وخت د پاکستان ګوډاګي او یا د پاکستان ستراتیژیک عمق یا د پاکستان پنځمه صوبه نشي جوړیدلای .

پاکستان د دې څخه هم سخت ډار درلودي چې که امریکا د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې پاتي شي شاید افغانستان د غرب او امریکا په اقتصادي مرسته د جنوبي کوریا او غربي جرمني په څیر ډېر ژر په اقتصادي او نظامي لحاظ یو غښتلي هېواد شي چې په دې حالت کې د شرقي او غربي جرمني په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان د پښتونستان پښتانه او بلوڅ به هم د افغانستان سره يوځای کيدل وغواړي او د امو او اباسين ترمنځ به بيالوي تاريخي افغانستان يا پښتونخوا جوړه او د پاکستان ماتيدل به حتمي وي چې دا عمل د پاکستان لپاره د قبول وړ نه وو .

په افغانستان کې د امريکا نظامي وجود د پرون سيالان يعنې ايران او پاکستان مجبور کړل چې د شيطاني مثلث د غړو په حيث د نن ورځي متحدين شي .

د ايران په شان پاکستان هم کوم فوتنسيال چې د افغان دولت په داخل کې درلودل هغوی ته يې دستور ورکړي چې په سبوتاژ لاس پورې کړي او کوښښ وکړي چې پښتانه د دولت څخه نا راضه او هغوی مجبور کړي چې د کابل د دولت په مقابل کې نظامي مخالفت ته لاس واچوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لسم فصل

## دامریکا د خوا د افغانستان اشغال

دمخه تر دی چې د امریکا او پښتنو ترمنځ دامریکا د خوا د افغانستان داشغال پرمسئلی دجنجالو تفصیل ته ولاړ شو ، ښه به داوی چې په منطقه کې د پښتنو د تاریخی رول په باره کې لوستونکو ته لنډ معلومات وړاندی کړو .

## 1: په منطقه کې د پښتنو تاریخي رول:

پښتانه د پښتونخوا اصلی او سیدونکی دی او تقریبا 80 میلونه نفوس لري چې د امو او اباسین ترمنځ پراته دی .

پښتو او پښتونولی د پښتون ملت فطرت او ملی روح ده .

د پښتون ملت ژبه پښتو ده او تقریبا سل فیصده سني مسلمانان دي .

پښتون په نړۍ کې یو ازینی ملت دی چې سل فیصده مسلمان دي .

موږ و یلای شو چې هر پښتون مسلمان دی خو هر مسلمان پښتون نه دی .

په دې منطقه کې پښتنو د تاریخ په اوږدو کې ستري امپراطوری جوړې کړې دي .

پښتنو د تاریخ په اوږدو کې د خپل سیاسي ، اقتصادي ، فرهنګي او ټولنیز ژوند رهبري په خپله کړې ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه پر دین او استقلال مین معتدل مسلمانان دي ، دورځنی ژوند د لانجو د حل او فصل لپاره د پښتو او پښتونولي د قانون پیروي کوي .

پښتانه په خپل فیصلو کې ډېر محتاط دي ، خو پر شوو فیصلو بیا خورا ټینګ ولاړ وي .

پښتانه په روزمره ژوند کې د اسلامي اصولو سره یوځای د پښتو او پښتنولی تر اصولو لاندې ژوند کوي .

پښتو او پښتونولي د پښتنو هغه لرغوني قانون دي چه د پښتون ملت د تاریخ د اوږدوالي سره یې موازي تر نن پورې دوام کړی دي .

د پښتون ملت ټاټوبې د امو او اباسین ترمنځ ،د عربو د بحري څخه بیا د پامیر ترغرو او د چین تر سرحد پورې رسیږي او دا پا که تاریخی خاوره د " پښتونخوا " په تاریخي نوم یادیږي .

پښتونخوا د هند د نیمي وچې او مرکزي اسیا ترمنځ د یو " پل " حیثیت لري .

د تاریخ په اوږدو کې چې کله هم یو فاتح (د انګریزانو او عربو بغیر) غوښتل چې هند ونیسي نو مجبور وو چې د پښتنو د خاوري څخه تیر شي او که د هند یو فاتح غوښتل چې مرکزي اسیا ونیسي نو به مجبورا د پښتنو له خاوري څخه تیرېدې .

ددې خبري معنی داده چې د تاریخ په اوږدو کې پښتون ملت د خپل جیو پولیټیک او جیو ستراتیژیک موقعیت په اساس مجبوروو چې د نړۍ د هر فاتح سره جګړه وکړي ځکه چې هغه فاتح به د پښتون پر خاوره تیرېدې چې هند ته رسېدلي وای او یا برعکس .

د تاریخ په اوږدو کې هر فاتح چې د پښتنو سره په جنګ کې لویدلي دي او د پښتنو سره یې جوړه نده کړي هغه یا د پښتنو په خاروه کې ماتي خوړلي ده او یا د پښتنو په خاوره کې د ډېرزیات عذاب او مشکلاتو سره مخامخ شویدي لکه چنګیزخان ،انګریزاو داسې نور...

او هر فاتح چې د پښتنو سره جوړه کړیده هغه فاتح د پښتنو په ملاتړ ډېر په اساني سره هند نیولي دي لکه د یونان لوي سکندر ،بابر ، نادر افشار او داسې نور . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو ذاتي جوهر او د هغوی د ټاټوبي جغرافيايي موقعيت هغوی ښه زړه ور او جنګيالي تربيه کړي دي ، د کوم فاتح سره چې ملګري شويدي هغه ډېر په اسانه د هندوستان خاوند شويدي او د کوم فاتح برخلاف چې پښتنو توره او چته کړي ده د هغې امپراطورۍ ماتي د افغانستان څخه شروع شويده .

پښتانه د اسيا په زړه کې پراته دي لکه څنګه چې د زړه څخه بغير د يو ژوندي موجود ژوند ناممکن دي ، په همدې ډول د پښتنو د تاريخ څخه بغير د دې منطقي تاريخ نيمګړي او نا مکمل دي .

په اسيا کې د پښتنو د تاريخ او دايمي ارزښت په باره کې اقبال لاهوري داسې وايي:

اسـيا يـک پيکـراب وګـل اسـت
دريـن پيکر ملـت افغـان( پښـتون ) دل اسـت
از کشـاد او کشـاد اسـيا اسـت
از فسـاد او فسـاد اسـيا اسـت

پښتنو د تاريخ په اوږدو کې په پښتونخوا او منطقه کې ډېرستر تاريخي رول لوبولي دي ،يعنې که پښتانه په سوله کې وه نو په پښتونخوا او منطقه کې سوله بر قراره وه ،که پښتانه نا قراره وه نو په پښتونخوا او منطقه کې نا امني خپره وه .

داسې هم ويلاي شو هر يرغلګر چې د پښتنو سره جوړه کړيده نو د پښتونخوا څخه په ارام تيرشوي دي ، خود هر يرغلګر په مقابل کې چې پښتنو توره او چته کړيده نو هغه خارجي قوت په پښتونخوا کې د ماتي سره مخامخ شوي او شرميدلي د پښتونخوا څخه وتلي دي .

نن هم د پښتنو دا تاريخي ارزښت د پخوا په شان پر خپل ځای پاتي دي او پښتون ملت په پښتونخوا کې د سولې او جنګ د کټلو يو ازني ضامن دي

د افغان نجيب ملت ستون فقرات نن هم " پښتون ملت " تشکيلوي ،تنها پښتون ملت په هيواد کښې د نظام د مشروعيت ، د سياسي نظام د ثبات او د ملي وحدت د تامين ضمانت کولای شي ځکه چې د افغان نجيب ملت مطلق اکثريت پښتون ملت تشکيلوي ،د همدی سببه عام افغانان ترنن پوری افغان ملت د پښتون ملت په نوم يادوی اوددوی په نظر افغان ملت د پښتون ملت معني لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان نجیب ملت نوري اجزاوي نور واړه قومونه لکه هزاره ، ازبک ، ترکمن ،نورستاني ، ایماق ، تاجک ، عرب ، بلوچ ، پامیري ، هندو ، سیک او داسې نور تشکیلوي .

که پښتون ملت د نظام تر شاه ولاړوي دا معني لري چې د افغان نجیب ملت مطلق اکثریت د نظام تر شا ولاړ دي او سیاسي نظام

"مشروعیت" تر لاسه کوي .

په عین ډول که پښتون ملت د نظام ملاتړ وکړي نو نظام "سیاسي ثبات" ترلاسه کوي ، د پښتنو د ملاتړ نه بغیر په افغانستان کښي دبا ثباته سیاسي نظام منځته را تلل نا ممکن کار دي .

دا یو نړیوال منل شوي اصل دی چې د یو سیاسي نظام د پایښت لپاره دلاندې درې مهمترینو اصولو موجودیت نهایت ضروري دی:

## 1: د یو نظام د پایښت لپاره د "نظام مشروعیت" ضروري شرط دی .

## 2: د یو نظام د پایښت لپاره د "نظام سیاسي ثبات" ضروري شرط دی .

## 3: دیو نظام د پایښت لپاره د ملت د اجزاوو ترمنځ "د ملي وحدت تامین" ضروري شرط دی .

## د پورته ذکر شوو درې ضروري شرطونو د تامین ضمانت په افغانستان کې تنها "پښتون ملت" کولای شي او بس .

د افغانستان نور شریف او نجیب قومونه لکه تاجک ، هزاره ، ازبک ، ترکمن ، پامیري ، نورستاني ، عرب ، بلوڅ ، ایماق ، ګوجر او داسې نور د افغان نجیب ملت نه بیلیدونکي اجزا جوړوي او د افغان نجیب ملت مکمل کونکي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې قومونو هر فرد په ډېر افتخار ځان افغان بولي ( بغیرځو د ګوتو په شمېر د پردو جاسوسان ) ، دې قومونو د افغان نجیب ملت د تاریخ په اوږدو کې د هېواد په اقتصادي ، سیاسي او فرهنګي برخو کې ډېر ارزښتناکه رول لوبولي دي .

د افغان نجیب ملت یوه لویه خوشبختي داده چې په هیڅ یوه قوم کې یې دهېواد څخه د جلاوالي خیال هم په سر کې نه راځي ټول ځانونه افغانان بولي او افغانستان خپل هېواد او خپله مورګڼي . . .

دافغانستان دښمنانو چې کله هم افغانستان ته بد نیت درلودلي دي نولومړي یې دا کوښښ کړیدي چې د افغانانو ملي وحدت متضرر کړي وروسته بیا پښتانه په خپلو کې بې اتفاقه کړي او دخپل یو اجنټ په واسطه یې په هېواد کې د خپل ګوډاګي رژیم د استقرار کوښښ کړیدي .

موږ په لاندي کرښو کې د ګران هېواد په معاصر تاریخ کې د پردیو دګوډاګیو حاکمانو نومونه په لنډ ډول ذکرکوو .

انګریزانو چې کله دافغانستان د نیولو هڅه وکړل ،نو دهېواد تبنتیدلي پاچا شاه شجاع یې د خپل اجنټ په حیث د انګریزي عسکرو په زور دکابل پر تخت کښنوي خو دافغان نجیب ملت د خوا قبول نه شو او دانګریزانو داپروژه ناکامه شول .

په تیرو دریو لسیزو کې نورمحمد تره کي او حفظ‌الله امین د شورویانو په مالي او لوژیستیکي ملاتړ پر افغانستان تقریبا شل میاشتې واک وچلوي خو دافغان نجیب ملت دمقاومت سره مخامخ شول .

ببرک کارمل او ډاکتر نجیب الله مستقیما دروس د سرو لښکروپه زور په کابل کې د واکمنۍ تمثیل کاوه ،خوافغان نجیب ملت دشورویانو او ددوی د ګوډاګیانو پرضد ملي قیام وکړي چې په نتیجه کې د شوروي ظالمه امپراطوري رنګه شوه .

دشوروی د ښکاره ګوډاګیانو تر ماتی ورسته بیابرهان الدین رباني او احمد شاه مسعود د ایران ، روس اوهند په زور د کابل ښار پر یوه برخه دشرمه ډکه واکمني چلول چی دافغان نجیب ملت د سخت نفرت و رو ګر ځیدل .

ګلبدین حکمتیار د پاکستان د اي ایس اي وفادار ترین شخص دای ایس ای په مالی ، نظامی او لوژیستیکی مرستو غوښتل چی په افغانستان کې د پاکستان لا بوڅی دولت ایجاد کړی خوتر زیاتو وینوتویولو ورسته په خپل دی شوم نیت کې ناکامه شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملا محمد عمر او دده طالبان هم د پاکستان داي ايس اي ،دعربی اماراتو او سعودی عربستان په مالي ، لوژيستيکي او نظامي مرستو په افغانستان کې واک ته ورسيدل خوددوی په مقابل کې هم د روس ،ايران او هند د پلويانو مقاومت دوام درلودی ،اودطالبان نظام د افغان نجيب ملت د پاره د قبول وړنه وو .

داپورته ذکرشوي ټول نظامونه زموږ د تاريخ بد نام ترين ،بي ثباته ،نامشروع نا معقول د پښتنو او حتی ټولونورو اقليتونو ضد نظا مونه وه .

## 2: د پښتنو او امريکا د جنګ په خاطر د شيطاني مثلث ايجاد

د روس ،ايران او پاکستان استخباراتو نه غوښتل اونه غواړي چې د امريکا او غرب نظامي قواوي په افغانستان کې پاتي شي ځکه چې د ذکر شوو قواوو موجوديت په افغانستان کې روس ،ايران او پاکستان خپل ملي امنيت ته خطر ګڼي .

دبله طرفه که د امريکا او غرب قواوي په افغانستان کې موجودي وي نو افغانستان د تل لپاره د ايران او پاکستان د نفوذ د ساحي څخه خارجيږي ،همدا علت دي چې د ايران او پاکستان د استخباراتو د خوا يوه "شيطاني مثلث" ايجاد شو .

د شيطاني مثلث يوه ضلعه ايران بله ضلعه يې پاکستان اودريمه ضلعه يې په افغان دولت او ملت کې د ذکر شوو هېوادونو د استخباراتو اجنټان دي .

اوس داسوال دهر افغان سره پيدا کيږی چی ايران ،پاکستان اونورو هيوادونو دافغانانو په منځ کې دومره زيات جاسوسان څنګه پيدا کړل ؟

د شوروي اتحاد پر خلاف د جهاد په وخت کې افغانان مجبور شول چې ايران او پاکستان ته هجرت وکړي او مجاهدينو ددي هېوادونو د استخباراتو د لاري نظامي او مالي مرستي تر لاسه کولي او د دې مرستو په واسطه يې په هېواد کې د شوروي اتحاد پر ضد جهاد جاري وساتي .

د جهاد او داخلي جنګونو د کلنو په جريان کې د افغان شوروي په جنګ کې د خپلو ټولو هېوادونو مخصوصا د شوروي ،ايران او پاکستان و استخباراتي سازمانونو ته ډېره ښه موقع مساعده شول تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو د افغانانو د مجبورې څخه استفاده وکړي او د افغانانو د منځه د خپل ضرورت وړ افغانان د جاسوسانو په ډول استخدام کړي .

د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانو د خپل هېواد دستراتیژیکو اهدافو د پلاس راوړلو لپاره د دې استخدام شوو جاسوسوافغانانو څخه استفاده کول او نن یې هم کوي .

## 3:د ملي خاین تعریف :

د نړۍ د ټولو منل شوو قوانینو پر اساس هرهغه شخص چې د پردي هېواد داستخباراتو جاسوس کېږي ،هغه شخص خپل هیواد او خپل ملت ته ملي خاین بلل کېږي ،هغه شخص د خپل ملت په وړاندې دټولو بدو صفاتو خاوند اوتر ټولو ټیټ انسان بلل کېږي ، ځکه چې دی د خپل ملت ،هېواد ، ملي منافعو ، ملي نوامیسو او ملي ارزښتونو پر خلاف پردي هېواد ته جاسوسي کوي .

په افغانستان کې د شیطاني مثلث او نورو هېوادو جاسوسان د افغان نجیب ملت په منځ کې د هیڅ قوم یا ټول ملت نمایندګي نشي کولای ، هغوی صرف د پردیو جاسوسان ، د افغان نجیب ملت دښمنان او ملي خاینین دي .

دابه ډېره ظالمانه وي چې دا د پردیو جاسوسان موږ د افغان نجیب ملت د منځه یو قوم اویا ټول ملت ته منسوب وبولو ، او یا یو قوم ته په دې سبب په سپکه سترګه وګورو چې په هغه قوم کې د پردیو جاسوسان ډېر دي . . .

دې نوي ایجاد شوي شیطاني مثلث وظیفه واخستل چې په افغانستان کې د امریکا قواوو ته نظامي مزاحمت او مشکلات پیدا کوي .

د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانونه د افغانستان د تاریخ په حواله په دې عقیده وه او دي چې په افغانستان کې د امریکا او غرب په مقابل کې هغه وخت قوي نظامي مزاحمت ایجادیدلای شي چې د افغانانو مطلق اکثریت یعني پښتانه د خارجیانو په مقابل کې را پورته کړل شي .

ذکر شویو استخباراتي موسیسو په افغانستان کې خپلو اجنټانو ته وظیفه ورکړل چې پښتانه باید د امریکا او غرب په مقابل کې نظامي مقاومت ته اماده شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې خاينانه وظيفې عمده رول هغو اجنټانو ته وسپارل شو چې د ايران او پاکستان استخباراتو په جمعت اسلامي ، حزب اسلامي ،شوراي نظار او نور افغاني سازمانو او ډلو کې درلودل ،ځکه چې دافغان دولت مهمي چوکۍ هم د دې احزابو په لاس کې وي ،او د بله طرفه د جمعت اسلامي او دنظار شورا اکثريت غړو خولا د پښتنو سره بې پايه دښمني او نفرت هم درلودي .

## 4: د شيطاني مثلث د ظلم په مقابل کې د پښتنو صبر او تحمل .

کله چې د امريکا او طالبانو ترمنځ په(2001 ) کې جنګ شروع شو او امريکا تر يوي مياشتي زيات د هوايي بمباريو او راکټونو پواسطه د طالبانو مورچلي د منځه يوړي او هغوی يې ماتي ته مجبور کړل ،دقوماندی سيستم يې دمنځه ولاړی ،په تيت او پراګنده ډول د ملکی او نظامی مرکزونو څخه د خپل کورونو پرخوا ولاړل .

دطالبانو تر فرار ورسته دهېواد شمالي برخي د کابل په شمول شمالي جبهي دامريکايې قواوو په مرسته تر خپل کنترول لاندي راوستي ، مګر دهېواد د جنوب پښتني ولايتونه عام ولس بې له جنګ او جګړي د طالبانو څخه تسليم کړل او کله چې حامد کرزي د بن د قرار داد په اساس د کابل پر تخت کېناستي د هغه اداري ته يې تسليم اووسپارل .

امريکا دروسانو او ايرانيانو په شان د طالبانو تر ماتي وروسته د افغان دولت عمده وزارتونه او نوری اداری شمالي جبهي ته وسپارلي .

د شمالي جبهي هغو غړو چې د شيطاني مثلث عضويت يې درلود ، دشيطاني مثلث د ستراتيژي مطابق په موقته او انتقالي دورو کې دهېواد پر پښتنو نهايت ظلم او تيري وکړي .

د شيطاني مثلث غړو د پښتنو پر سر ،عزت ،مال او نورو پښتني ارزښتونو بې حسابه تيري وکړل ، خو بيا هم پښتنو دا ټول تيري په ډېر صبر او حوصله تحمل کړل او د حامد کرزي د حکومت موقته او انتقالي اداري په ارامۍ سره تيري شوي او ټول هېواد د مرکزي دولت تر اداري لاندي وواو د امريکايي اشغال په مقابل کې د نظامي مزاحمت هيڅ نښې نه معلوميدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موقته او انتقالي دورو کې به د پښتنو ولایاتو څخه ډله ډله خلک جمهور رییس حامد کرزي ته را تلل او د خپل حاکمانو څخه به یې شکایت ورته کوي او دا به یې ورته ویل چې امریکا یې عسکر موږ ته را واستوي چې د حکومتي مامورینو او منطقوي جنګ سالارانو د ظلم څخه موږ خلاص کړي . . .

غریب او بیچاره پښتانه په دې نه پوهیدل چې په حقیقت کې هغه حکومتي مامورین او منطقوي جنګسالاران چې پردوی ظلمونه کوي د شیطاني مثلث غړي دي او د شیطاني مثلث د پلان مطابق یې پرپښتنو ظلمونه شورع کړي وه .

د افغانستان د ملي امنیت اداري چې کنترول یې تنها د پښتون ضد شوراي نظار پلاس کې دي په لس هاو زره پښتانه بندیان کړل ، ویې وهل ، بې عزته یې کړل ، مالونه یې ورچورکړل او د امریکا یېانو پلاس یې ورکړل چې د بګرام او ګوانتنامو زندانونو ته یې ولیږل .

د شیطاني مثلث د توطیو نتیجه دا شوه چې نن ده یورند د خیرني لیکي پر دواړو خواوو د پښتنو په کورکې غم جوړ شو .

پر پښتنو چې به په حکومت کې د شیطاني مثلث د غړو د لوري هر خومره ظلم کیدي هغوی به صبر کوي او په دې هیله به وه چې موقته اداره ده ،که انتقالي او انتخابې اداري منځته راشي نو دیو قانوني نظام په راتللو به نظام د قانون مطابق ددوی د سر ، ناموس ،عزت او مال ساتونکي وي ،دا ظالم حاکمان به لیري شي او دوی به پر ارام شي .

پښتنو د انتخابې دوري په هیله په انتخاباتو کې ښه په میړانه برخه واخستل او حامد کرزي یې د لومړي منتخب جمهوریس په حیث انتخاب کړي .

حامد کرزي چې د پښتنو په رایو قدرت ته ورسیدي بیا یې هم ددولت چاري د پخوا په شان د شوراي نظار ، جمعت اسلامي ، حزب اسلامي اونورو پښتنو ضد اشخاصو ته وسپارلي .

په انتخابې دوره کې هم د شیطاني مثلث د غړو د خوا پر پښتنو د پخوا په شان ظلم جاري وساتل شو ځکه چې دا خو د ایران او پاکستان د استخباراتو پروژه وه چې پر پښتنو باید ظلم وشي ترڅو هغوی ددولت څخه خفه او ددولت په مقابل کې قیام وکړي چې ددولت په مقابل کې قیام په حقیقت کې د امریکا په مقابل کې قیام دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتنو په لومړيو کلنو کې د خارجيانو پر ضد قيام ونه کړي او په دې هيله منتظر وو چې نن يا سبا به يو ښه حکومت منځته راشي چې پر پښتنو به په عدالت حکومت وکړي او ملت ته به لازم خدمات وړاندي کړي .

د پښتنو روشنفکران ، قومي مشران او حتي عام وګړي په دې اوميد وه چې د امريکا په نظامي او اقتصادي مرستو به افغانستان پر خپل پښو ودريږي او د همسايه هېوادونو د تسلط څخه به ځان خلاص کړي ، خو د پښتنو او نورو عامو افغانانو دا نيکي هيلي د شيطاني مثلث د خوا د بل شوي اور په لمبو کې وسوځول شوي .

په ډېر افسوس سره بايد ووايو چې د ايران او پاکستان د استخباراتو پروژي په ډېر ښه ډول کاميابه شوي او پښتانه د دولت څخه خفه شول ،حال دا چې د پښتون ملت ٪99 خلکو امريکايي پلوه حامد کرزي ته په لومړيو انتخاباتو کې په دې خاطر راي ورکړي چې حامد کرزي او دده نړيوال دوستان يعني امريکايان به د پښتنو مظلوميت او د شيطاني مثلث د پښتنو ضد توطيو ته متوجه شي ، او مظلوم پښتانه به د شيطاني مثلث د اجنټانو د ظلم او ستم څخه خلاص کړي . . .

خو په ډېر افسوس سره بايد ووايو چې حامد کرزي او دده مغروره امريکايي دوستان د پښتنو مظلوميت ته متوجه نه شول .

په نتيجه کې د پښتون ملت اکثريت د حامد کرزي او امريکا څخه خفه او نا اوميده شوه ،د پښتنو د مظلوميت او رنجونو په مقابل کې د حامد کرزي او امريکا بې تفاوتۍ په غيري شعوري ډول د ايران او پاکستان د ا ستخباراتو د پلانو وعملي کيدو ته ښه موقع مساعده کړل .

حامد کرزي او دده امريکايي دوستانو د پښتنو د مظلوميت په باره کې د بې تفاوتۍ په سبب په افغانستان او منطقه کې د سولې د تامين لپاره يو تاريخي او طلايي چانس د لاسه ورکړي .

د افغانستان په تاريخ کې دا لومړي ځل وو چې پښتنو په خپل خاوره کې د خارجيانو حضور په ورين تندي منلي وو .

ددې حقيقت څخه دا سې ښکاري چې دا ځل پښتنو خارجي عسکر د اشغالګرو په حيث نه بلکې د ازادي بخښونکو په حيث پيژندل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل ثبوت دادي چې که افغانانو امريکايان اشغالګر بللای نو ولي غيري پښتانه قومونه لکه تاجک ،ازبک او هزاره دامريکا ضد په دې جهاد کې د پښتنو سره يو ځای برخه نه اخلي ؟

د تاريخ په اوږدو کې خو به داسې وو چې په افغانستان کې ميشت ټولو وړو قومونو به د پښتنو په ملاتړ په يوه اتفاق د اشغالګر قوت پر ضد په جهاد کې برخه اخستل ، خو دا ځل صرف پښتانه د دولت او خارجيانو پر ضد جنګيږي او نور افغان واړه قومونه د خارجيانو او دولت څخه د خپل ولاياتو لپاره د بيارغاوني پروژې اخلي .

حقيقت دادی چې د شيطاني مثلث دغړو د خوا پښتانه مجبور کړل شول چې دافغان دولت څخه ناراضه شي او يو څو فيصده يې مجبورا د شيطاني مثلث د توطيو پر اساس د امريکا سره په جنګ کې اخته کړل شول .

کله چې د پښتنو د عدالت خواهي اميدونه د دولت او نړيوالي ټولني څخه قطع شول او د دولت سره يې خپل همکاري ترک کړل نو د همدې موقع څخه په استفاده د دولت او امريکا مخالفينو د دولت او خارجيانو پر ضد جنګ شروع کړي او د پر شاتګ په وخت کې بيرته دولس په منځکې پتيږي .

د طالبانو په تړاين او تجهيز کې د ايران او پاکستان دواړو هيوادونو استخباراتي سازمانو برخه اخستې ده .

## 5: د پښتنو او امريکا د جنګ اغاز:

د شيطاني مثلث د غړو د شيطاني ستراتيژۍ مطابق د شورای نظار ، جمعيت اسلامي او په افغانستان د شيطاني مثلث نورو اجنټانو ته وظيفه وسپارل شوه چې د دولت د امکاناتو او نورو لارو چارو څخه په استفاده پر پښتنو ظلم او ستم شروع کړي تر څو پښتانه د نظام په مقابل کې ياغي شي ، چې د نظام په مقابل کې ياغي کيدل په خپله د امريکا په مقابل کې ياغي کيدل دي .

د شورای نظار ، جمعيت اسلامي او د شيطاني مثلث نورو اجنټانو د شيطاني مثلث د ستراتيژۍ مطابق او د هغه بې پايه تعصب او کرکې پر اساس چې د پښتنو سره يې درلودل پر پښتنو داسې ظلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ستم شروع کړ چې د افغانستان په ليکلي تاريخ کې پخوا کله هم يو اشغالګر پر پښتون ملت دومره ظلم نه وو کړی .

د پښتنو د ودونو پر خوشحاليو يې په امريکايانو بمباري وکړې .

د پښتنو پر جنازو يې د امريکايانو په واسطه بمباری وکړي .

د پښتنو دخيرات پرمراسيمو يې د امريکايانو پواسطه بمباري وکړي .

د پښتنو مړي يې په امريکايي سپيو بې عزته کړل .

د پښتنو قومي مشران يې په امريکايي سپيو بې عزته کړل .

د پښتنو ښځې يې په امريکايي سپيو بې عزته کړې .

د پښتنو د مشرانو په سر يې د قوم په مخ کې توري کڅوړې ورواغوستې .

د پښتنو دکلتور او عنعناتو پرخلاف يې د پښتنو په کورونو خارجيان ننويستل .

پښتانه يې مړه کړل ،پښتانه يې بنديان کړل ، د پښتنو مالونه يې څني واخستل ، پښتانه يې دوظيفو څخه ليري کړل .لنډه دا چې دشيطاني مثلث افغاني اړخ د خپل بادارانو په امر په خپل استخباراتي او اوپراتيفي لوبو د پښتون ملت په سر ، ناموس ، عزت او مال داسې لوبې وکړې چې په تاريخ کې يې بل مثال نشته .

د شيطاني ملث افغاني اړخ د شيطاني مثلث د ستراتيژي مطابق پر پښتنو دومره ظلم شروع کړي چې خپل هېواد يې پښتنو ته سور تنور وګرځاوه ،او يو شمېرپښتانه مجبور شول چې ايران او پاکستان ته مهاجر شي .

کله چې پښتانه د شيطاني مثلث د افغاني اړخ د ناکردو په سبب ددولت څخه ناراضه شول او يو شمېر يې د هېواد څخه و ايران او پاکستان ته وتښيتدل نو د شيطاني مثلث د غرو شيطاني ارمان يعنې د پښتنو او امريکا ترمنځ د جنګ د شروع کيدو مقصد پوره شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغه وخته پورې چې پښتانه د افغان دولت څخه سخت ناراضه شوي نه وه او د دولت پر ضد عملي مبارزې ته اماده شوي نوه ، د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانو نشوه کولای چې ددوی په خاوره کې میشت نړیوال تروریستان په افغانستان کې د ناټو د قواوو پر ضد جنګ ته راولیږي .

خو کله چې د شیطاني مثلث د افغاني اړخ د ظلم او سبوتاژ د سببه پښتانه د خپل سر ، ناموس ، عزت او مال د دفاع په خاطر مجبور شول چې د افغان دولت او ناټو په مقابل کې عملي اقدام ته اماده شي ، نو د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانو ددوی هیوادونو ته ورتښتیدلي ناراضه پښتانه مسلح کړل او دوباره یې د طالبانو ، القاعده ،چچن ، لښکر طیبه ، داي . ایس . اي د ملیشو ،د سپا پاسداران د غړو او نورو تروریستانو سره یو ځای وافغانستان ته د امریکا پر ضد وجنګ کولو ته راولیږل .

د شیطاني مثلث د پالیسۍ مطابق و ایران او پاکستان ته د ورتښتیدلیو پښتنو د جملې څخه هر پښتون چې په افغانستان کې د ناټو د قواوو پر ضد د جنګ کولو څخه انکار کوي هغه د ایران او پاکستان د استخباراتي سازمانو د خوا مړ کیږي او یا نیول کیږي ، امریکایانو ته د خطرناک طالب او د القاعده د غړي په حیث معرفي او حواله کیږي تر څو په کلونو د " بګرام " او " ګوانتنامو بې " په زندانو کې بندي پاتې شي . . .

لنډه دا چې د شیطاني مثلث غړو پر پښتنو داسې حالت راوست چې هغوی مجبور او مکلف دي چې د لاندې دریو نهایت بدو انتخابو څخه به حتما یو انتخابوی .

الف : که پښتانه خوشحاله دي او خوابدي په یوه نا چیزه وسله به د امریکا د ستر ،عصري او تر غاښو مسلح فوځ سره جنګ کوي ، چې داسې جنګ د انتهار یا ځان وژنې څخه پرته بل شی ندي .

ب: که پښتانه د ناټو پر ضد په افغانستان کې جنګ نه کوي نو دا به مني چې د شیطاني مثلث د استخباراتي سازمانو د خوا په قتل ورسیږي .

د : که پښتانه په افغانستان کې د ناټو پر ضد جنګ نه کوي نو دا به مني چې د شیطاني مثلث د استخباراتي سازمانو د خوا ګرفتار او وامریکایانو ته به د خطرناک طالب او القاعده په نوم ورتسلیمیږي تر څو د ژوند پاتې برخه د ګوانتنامو په زندان کې د هیواده لیرې په ډېره بې عزتۍ کې ژوند تیره کړي .



LARAWBAR

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکثره پښتنو د ډېري مجبورۍ نه دا خوښه کړل چې په يو کلاشنکوف د امريکا د فوځ سره د داسې جنګ ميدان ته راووزي چې ددوی مرګ په کې حتمي دي . . .

په دې ډول د شيطاني مثلث غړي په خپل شيطاني اپراتيفي لوبو وتوانيدل چې پښتانه او امريکايان په يو خطرناک او نا انډوله جنګ کې سره واچوي .

## 6: د پښتنو او امريکا جنګ به څومره وخت دوام کوي ؟

د شيطاني مثلث د غړو د منظم پلان په اساس د پښتنو او امريکا جنګ دومره شدت پيدا کړيدي چې نن يې د ناټو او ايساف د يو لک او پنځوس زره ، او افغاني دري سوه پنځوس زره څخه زياتو عسکرو د موجوديت سره سره د نظام مشروعيت او سياسي ثبات دواړه د خطر سره مخا مخ کړيدي .

په افغانستان کې به د پښتنو او امريکا دا جنګ او ويني تويول تر هغه وخت پورې دوام وکړي تر څو پښتانه او امريکا دواړه په دې پوه شي چې د تاريخ په دې مقطع ، په دې شرايطو او په دې جعرافيه کې دوی دواړه يو د بل طبعي ملګري او دوستان دي او د شيطاني مثلث غړي ددوی مشترک دښمنان دي .

امريکا بايد د پښتنو په تاريخ ځان پوهه کړي .

امريکا بايد په دې ځان پوهه کړي چې د تاريخ په اوږدو کې د دې منطقي په سوله ،ثبات او بې ثباتۍ کې پښتنو څومره رول لوبولي دي او نن هم د عين اهميت خاوندان دي .

امريکا بايد د پښتنو سره د غلام ملت په حيث برخورد ونکړي او د افغانستان د مطلق اکثريت نفوس په حيث دهېواد سياسي ،اقتصادي او ټولنيز حاکميت بايد ددوی د مشروع حق په حيث دوباره دوی ته وسپاري .

پښتانه مشران او کشران هم بايد په دې پوه شي چې په ننني شرايطو کې چې دوی په اقتصادي ،سياسي او نظامي لحاظ نهايت کمزوري دي ،او ددوی بدو همسايه ګانو ايران او پاکستان د پښتنو دهېواد د اشغال بدنيت کړيدي ، دوی د امريکا او غرب د مرستو بغير د شيطاني مثلث د غړو څخه خپل استقلال ، ملي حاکميت او مځکنۍ بشپړتيا نشي ساتلای .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سالم عقل او زمان تقاضا داده چې پښتانه د خپل استقلال ، ملي حاکميت د خپل هېواد د مځکنۍ بشپړتيا ، د خپل ملي ګټو او ملي نواميسو د ساتلو په خاطر د نړۍ په دې ستراتيژيکه جغرافيه کې د امريکا او غرب مشروع ګټې وساتي او په مقابل کې د امريکا او غرب په مرسته د خپل هېواد استقلال ،مځکنۍ بشپړتيا ، ملي حاکميت ،ملي ګټې او ملي نواميس د خپل حريڅو او بدو همسايه ګانو څخه وساتي .

که پښتانه پر پورته ذکرشوي فرمول عمل ونکړي او د شيطاني مثلث د غړو د ارزو مطابق د ايران او پاکستان د اتم بمب د دفاع په خاطر د امريکا او غرب په مقابل کې جنګ ته دوام ورکړي ،شايد د پښتنو د سر او مال په ډېره زياته قرباني امريکا او غرب په دې جنګ کې ماته وخوري او د افغانستان څخه ولاړشي ، خو دا سوال پيدا کېږي چې افغانستان به افغانانو ته پاتي شي او که به يې ايران او پاکستان په خپل منځ کې سره وويشي ، او پښتانه او ټول افغانان به د امريکا پر ځای د ايران او پاکستان غلامان شي کوم هېوادونه چې د افغانستان د مځکي ، تاريخ او کلتور غله او دعوي ګيران دي .

په اوسني شرايطو کې پښتنو او ټولو افغانانو ته صرف لاندې دوه انتخابه په مخ کې پراته دي دريم انتخاب وجود نه لري ،دوی مجبور او مکلف دي چې د دې دوه انتخابو څخه به يو حتما انتخابوي .

## لومړيي انتخاب :

پښتانه بايد د بو څه وخت د پاره د امريکا او غرب سره مدارا وکړي تر څو ددوی په اقتصادي او نظامي مرستو د دې جوګه شي چې د غربي جرمني ، جاپان او جنوبي کوريا د هېوادونو په شان د يوا ازاد او خپلواک هېواد په حيث تبارز وکړي .

پښتانه بايد په دې پوه شي چې امريکا او غرب زموږ مځکه په خپل هېواد نشي ګډولای ، او نه زموږ دين ،رسم رواج او کلتور را څخه اخستلای شي .

## دويم انتخاب:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د پاره دوهم انتخاب د پاکستان او ایران غلامي ده چې شاید د تل لپاره او یا د سونو کلنو لپاره د دوی تر اسارت لاندي په نهایت ذلت او حقارت کې ژوند وکړي .

ایران او پاکستان د افغانانو د مځکي ، تاریخ ، کلتور حتي دین غله او دعوي ګیران دي .

## 7: د پښتنو او امریکا ترمنځ د جنګ ګټه چاته رسیږي ؟

ددې فصل په پنځم عنوان کې مو ولوستل چې ایران ، پاکستان او په افغانستان کې د هغوی اجنټانو د دې لپاره یو شیطاني مثلث جوړ کړي چې په افغانستان کې د امریکا ته د پښتنو په واسطه نظامي مزاحمت ایجاد کړي ، او دا نظامي مزاحمت ته تر هغه وخته دوام ورکړي تر څو د شورویانو په شان امریکایان هم په افغانستان کې ماته وخوري ، امریکایان هم د شورویانو په شان په شرمیدلي ډول د افغانستان څخه وباسي ، وروسته بیا افغانستان د ډهلی د مغلو او ایرانی صفویانو په شان دا ځل ایران او پاکستان په خپل منځ کې سره وویشي .

دا هم ذکر شول چې شیطاني مثلث د امریکا په مقابل د جنګیدو لپاره پښتون ملت انتخاب کړي ځکه چې دوی په دې باور وه چې د افغانستان د اصلي اوسیدونکو په حیث تنها په پښتنو کې دا توان شته چې د امریکا سره نظامي مقاومت وکړاي شي .

په تیرو پاڼو کې د دې خبري ذکر هم وشو چې شیطاني مثلث ددوی د شیطاني ستراتیژي پر اساس پښتون ملت مجبور کړي چې په تش لاس د امریکا سره په جنګ کې داخل شي .

د شیطاني مثلث غړو په خپل شیطاني چلونو پښتانه مجبور کړل چې د خپل ملي ګټو پر خلاف د خپل ازلي او دایمي دښمنانو یعنې ایران او پاکستان د ملي منافعو ددفاع په خاطر د امریکا سره وجنګیږي .

د ایران او پاکستان د استخباراتي سازمانونو د خوا ډیزاین شوي د پښتنو او امریکایانو ترمنځ دا روان جنګ د شیطاني مثلث غړوته دا لاندي ګټی لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 1: د پاکستان ګټه:

پاکستان په دې مقصد پښتانه تراين ، مسلح او د امريکا ضد جنګ ته راليږي ،دای ايس ای په نظر که په دې جنګ کې پښتون مړ شي نو د پښتونستان يو دعوي ګير مړشو ، خو که امريکايې مړشو نو د پاکستان د اټوم بمب يو مخالف مړشو .

دپاکستان استخبارات هر ربښتني پښتون د پښتونستان دعوي ګيربولي.

پاکستاني استخبارات به ددوی د ملي ګټو د ساتلو په خاطر ددوی په اصطلاح افغان جهاد ته ترهغه وخته د پښتنو پلاس دوام ورکوي تر څو ټول پښتون ملت تبا او د پښتونخوا پاکه خاوره د امو څخه تر اباسين پورې د تورو پنجابيانو تر کنترول لاندي راشي .

د اي . ايس . اي د پلان مطابق د پاکستان لپاره د ستراتيژيک عمق د پيدا کولو د سياست پر اساس تر څو پورې چي ټوله پښتونخوا د پنجاب تر قبضه لاندي نوي راغلي او ټول پښتون ملت د پنجاب غلام شوي نوي ، پښتانه به د اي . ايس . اي په خوله په پښتونخوا کې يو بل د جهاد په نوم سره وژني .

## 2: د ايران ګټه:

ايران هم په دې مقصد پښتانه ترااين ، مسلح او د امريکا ضد جنګ ته راليږي چې که په دې جنګ کې پښتون مړ شي نو د ايرن يو ازلي دښمن مړشو ، خو که امريکايې مړشو نو د لوي شيطان يو ګوته ماته شوه . . .

## 3:دشوراي نظار ،جمعت اسلامي او حزب وحدت ګټه:

دپښتنو او امريکا جنګ د جمعت اسلامي ،شوراي نظار ،حزب وحدت او نورو حلقود هغوغړو د پاره چې دپښتنو څخه نفرت لري ،پښتانه د خپل دښمنانو په حيث پيژني او د پښتنو سره دښمني ددوی د ژوند هدف دی دا لاندي فايدي لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف : دشوراي نظار او جمعت اسلامي د پورته ذکرشوو کټګورۍ غړو په نظر دوی دافغان دولت او امریکا په زور دخپل دښمنانو یعنې پښتنو څخه مستقیما غچ اخلي ، حال دا چې پښتانه شوراي نظار ، جمعت اسلامي ،حزب وحدت او نورخپل وطنداران او ورونه بولي او دهغوی سره د دښمنۍ هیڅ خیال نه لري .

ب: دافغان دولت ،جمعت اسلامی ،شورای نظار ،حزب وحدت او نورو حلقو هغه غړی چی دشیطانی مثلث غړیتوب لری په دی خاطرد خپل بادارانو داوپراتیفي پروژو په عملي کولو کې زیاته فعاله برخه واخستل چی که د پښتنو او امریکا په تبا کونکی جنګ کې پښتانه د امریکا د خوا برباد او تبا شی نو افغانستان به د تل لپاره د شیطانی مثلث دافغانی ضلع په لاس کې پاتي شي . . .

خود شیطانی مثلث دا غړی که دافغانستان په پښتنو پوری اړه لری او که دافغان نجیب ملت په اقلیتونو پوری اړه لری په دې نه پوهیږي او یا ځان نه پوهوي چې افغانستان د پښتنو څخه بغیر دوی یوه ورځ هم نشي ساتلای .

دافغانستان د اقلیتونو دملی فکر لرونکی مشران او کشران ټول په دې حقیقت پوهیږی چی د پښتنو څخه بغیر افغانستان دنړۍ په سیاسي جغرافیه کې وجود نشی درلودلای ،دوی په دې باور او عقیده دی چی پښتون عظیم ملت د افغانستان دخپلواکۍ ، ملی حاکمیت ،مځکنۍ بشپړتیا دډاډمنی دفاع ،دمشروع او با ثباته سیاسي نظام دمنځته راوړلو ،په هیواد کې دټولنیزعدالت ،تل پاتې سولی او ملی وحدت د تامین ډاډمن ضامن دی .

دافغانستان د اقلیتونو مشران دی په دې حقیقت ښه ځان پوه کړی ، ایران ، پاکستان او بل هر خارجی هیواد چی ځان دپښتنو دښمن او دغیر پښتون اقلیتونو دوست بولی ، هغوی صرف داستعماردی زاړه فرمول څخه یو ځل بیا استفاده کوی چی (تفرقه واچوه او حکومت پروکړه ) .

دافغانستان د اقلیتونو هغه مشران او کشران چی د پردیو په استخباراتی سازمانو پوری ندی تړلی په دې حقیقت دی ښه ځان پوه کړی ، پاکستان ،ایران او بل هر خارجی هیواد چی د پښتنو تبا کول غواړی نو دپښتنو تر تباهۍ وروسته به حتما دهیواد اقلیتونه هم په ډیره اسانۍ یو په بل پسي تبا او خپل غلامان کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو او امريکا د جنګ څخه د شيطاني مثلث غړي ډېر زيات لذت اخلي ځکه هر پښتون چې مړ کيږي نو ددوی په نظرددوی ازلي دښمن مړ کيږي ، ددوی په نظر هر پښتون دشيطانی مثلث دغړو ازلي دښمن دي ،خودوی بيا خپل دا ازلی دښمن يعنی پښتون نړۍ ته دنړۍ د دښمن يعنې دطالب او القاعده په نوم هم معرفي کوی .

دپښتنو او امريکا په جنګ کې چې هر امريکايي يا د ناټو فوځي مړ کېږي نو د شيطاني مثلث د غړو ازلي دښمن مړ کېږي ، همدا علت دي چې نن ايران خپل پروني دښمن طالب ته اسلحه او نظامي تربيه ورکوي چې دا ايران دامريکايي دښمن سره په افغانستان کې جګړه وکړي د طالب او امريکايي څخه چې هر يو مړ کېږي دا ايران يو دښمن کميږي .

د شيطاني مثلث د غړو لپاره د پښتنو او امريکا جنګ يو طلائي او ډېر ګټور جنګ دي .

خو د پښتنو په تاريخ کې دا د دوی تر ټولو خيرن او کرغيړن جنګ دي چې پر دوی تپل شويدي ځکه چې دوی د خپل ملي ګټو بر خلاف دخپل هېواد او ولس د ازلي د ښمنانو د ګټو لپاره جنګيږي .

په دې خيرن جنګ کې چې څومره د شيطاني مثلث غړي په مظلوم پښتون ملت ملامت دي ،په هغه اندازه جمهورريس حامد کرزي ، امريکا او د پښتنو بې تفاوته سياسي ، مذهبي او قومي مشران هم په پښتنو ملامت دي چې د شيطاني مثلث د شيطاني چلونو مخه يې نده نيولي ،او په لوي لاس يې پښتون مظلوم ملت د شيطاني مثلث غيړي ته پوري وهلي او د هغه پلاس کې ګروګان ورکړيدي .

دشيطاني مثلث غړو په خپل اوپراتيفي لوبو پر پښتنو داسې جنګ تحمل کړيدي چې بايد مجبورا د خپل ملي ګټو برخلاف او د خپل دښمنانو په ګټه و جنګيږي ، ځکه چې په اوسنيو شرايطو او وخت کې د پښتنو ملي ګټې د امريکا او غرب سره په دوستۍ کې نغښتي دي ،او په نن شرايطو کې پښتنا نه دالله پاک دمرستی اوملی وحدت څخه بغيرتنها د امريکا اوغرب په مرسته د خپل بدو او حريصو ګاونډيو ايران او پاکستان څخه خپل هېواد او خپلواکي ساتلای شي .

د پښتنو او امريکا ترمنځ دجنګ ګټه تنها د شيطاني مثلث غړو ته رسيږي .

د پښتنو او امريکا ترمنځ دا روان جنګ په حقيقت کې دشيطاني مثلث د اوپراتيفي لوبو جال دي چې پښتانه او امريکا دواړه په کې را ګيرشوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو او امریکا ترمنځ د دې روان جنګ اصلي ګټونکي د دې جنګ ایجادونکي یعنې د شیطاني مثلث غړي دي ، او د دې خیرن جنګ اصلي قربانیان او بایلونکي پښتانه او امریکایان دي .

خو که پښتانه په سیاسي لیحظ منظم شي ،ځان د شیطاني مثلث د شیطاني جال څخه خلاص کړي ، د اسلامي او پښتني پوهي او درایت په برکت د امریکا او غرب سره داسی ستراتیژیک ملګرتوب ایجاد کړي چی د هغه پر اساس د افغانستان ملی خپلواکی ، ملی حاکمیت ،مځکنی بشپړتیا ،ملی ګټی او ملی نوامیس خوندی وی نو د دې روان خیرن جنګ زیاتي ګټې به پښتنو ته ورسیږي ، پښتانه به په خپل پښتني همت او د خپل ستراتیژیکو انډیوالانو په مرسته بیا لویه تاریخي پښتونخوا ایجاد کړي او د سل ګونو کلنو د پاره به د دې منطقي ستراقتصادي او نظامي ځواک بلل کېږي .

## 8: د پښتنو او امریکا ترمنځ جنګ به څوک ګټي ؟

دا چې د طالبانو تر ماتي وروسته ولې د امریکا پر ضد پښتنو جنګ شروع کړي ؟

د دې جنګ ترشا د ایران او پاکستان د استخباراتو او په افغانستان کې د دوی د اجنټانو رول څه دي ؟

په دې هکله په تیر فصل کې په تفصیل سره بحث وشو .

اوس پر دې موضوع رغیږو چې د پښتنو او امریکا ترمنځ دا روان جنګ به څوک ګټي ؟

د مخه تر دې چې د دې جنګ د ګټونکي په باره کې څه وو وایو ښه به دا وي چې څو کاله وړاندي د افغان شوروي جنګ ته یو لنډه اشاره وکړي او بیا هغه جنګ د پښتنو او امریکا د جنګ سره مقایسه کړو ، وروسته بیا د ځینو عیني واقیتونو پر اساس په ډېر ښه ډول ویلای شو چې د پښتنو او امریکا د روان جنګ ګټونکي به څوک وي .

## د افغان شوروي جنګ ته یو لنډه کتنه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په دنیا کې منل شوي قانون دي ، جنګ هغه څوک ګټي چې لږ ځاني او مالي تلفات ورکوي ،یا په بله وینا د هر جنګ ګټونکي هغه خوا ده چې لږ ځاني او مالي تلفات ورکوي ،او دهرجنګ بایلونکي هغه خوا ده چې ډېر ځاني او مالي تلفات ورکوي .

دافغانانو او روس د جنګ په جریان کې د امریکا جمهور ریس رونالد ریګن ویلي وه چې: ( موږ به تر هغه وخته افغانانو ته اسلحه ورکړو چې دشوروي پرضد وجنګېږي ترڅو اخیري افغان ژوندي وي )

ښاغلي ریګن دا خبري هغه وخت کولي چې امریکا لا د ویتنام د جنګ د ماتي څخه خپل سیاسي او نظامي حیثت دوباره نه وو برحاله کړي .

د ویتنام په جنګ کې شورویانو د ویتنامیانو سره په کلونو مالي او لوژیستیکي مرستي کولي تر څو بالاخره یې امریکا ته ماته ورکړل .

په ویتنام کې د امریکا د ماتي لا څو کاله نوه تیر شوي چې روس په (1979/12/27 ) تاریخ پرافغانستان نظامي یرغل وکړي ، امریکا دا موقع د ځان لپاره غنمت وبلل او دا یې وپتیل چې افغانستان به دشوروي په ویتنام بدلوي او دشورویانو څخه به د ویتنام د جنګ بدل په افغانستان کې اخلي .

دروس او افغانانو په جنګ کې د متقابلو خواوو ترمنځ د قواوو هیڅ انډول وجود نه درلود ،د جنګ یو طرف ته باغیرته مجبور افغانان په تش لاس د جنګ په ډګرکې د خپل دین ،سر ، ناموس ، عزت ، مال ، استقلال ، ملي حاکمیت ، د هېواد د مځکنۍ بشپړتیا ، ملي ګټواو ملي نوامیسو دد فاع په خاطر جنګیدل ، او بل طرف د شوروي اتحاد د ستري امپراطورۍ سري لښکري چې ترغاښو مسلح وي د افغانستان د اشغال او د دي لاري و تودو اوبو ته د رسیدو په خاطرجنګیدي .

امریکا او غرب ته دا ډېره ښه موقع پلاس ورغلل چې د مجبوروافغانانو څخه د مفتو عسکرو په حیث استفاده وکړي هغوی په نا چېزه وسلو مسلح اودروسي سوپر طاقت په مقابل یې ودروي .

د افغان ـ شوروي په جنګ کې لاندی دري عمده خواوته د جنګ تاوانونه متوجه وه :

**1 : شوروي اشغالګران :**

شوروي اتحاد ته په افغانستان کې د جنګ د ماشین د چلولو په خاطرستر اقتصادي تاوانونه ،نظامي تاوانونه او یوه اندازه انساني تلفات هم رسیدل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



**2: پښتانه:**

پښتنو ته په دې جنګ کې تر هر چا زيات انساني تلفات رسيدل ،کوم لږ او ډېر مالي امکانات چې يې درلودل هغه هم په دې جنګ کې د منځه تلل .

**3 : امريکا :**

امريکا او ملګرو ته په دې جنګ کې صرف محدود مالي تاوان رسيدي خو دا مالي تاوان د هغوی د قوي اقتصاد په پر تله د هيڅ سره برابر وه .

امريکا او غرب ته دافغانانو او شوروي په جنګ کې هيڅ ډول انساني تلفات نه رسيدل .

د امريکا او پاکستان نظامي او استخباراتي ماهيرينو د افغان -شوروي د جنګ پلان او ستراتيژي داسې طرحه کړي وه چې دا فغان- شوروي جنګ د زيات څخه زيات وخت دوام وکړي او شوروي قواوي د ډېر وخت لپاره په افغانستان کې په جنګ کې مصروفي وساتي .

ددې لپاره چې د جنګ ماشين په افغانستان کې فعال وساتل شي شورويان مجبور وه چې په هر کال کې په ميليا ردونو ډالره پردي جنګ مصرف وکړي ، او په زرګونو روسان مړه او زخميان شي ، خو په مقابل کې امريکا ته نا چېزه مالي تاوان رسيدي .

تر تقريبا لس کاله سخت جنګ وروسته شورويانو په افغانستان کې ماته وخوړل او پر (1389/11/15) د افغانستان څخه وشړل شول او دومره مالي تاوانونه وررسيدل چې د هغو د سببه د روسي د تزار او کمونيزم په واسطه جوړه شوي امپراطوري د تل لپاره د منځه ولاړل .

دافغان ـ شوروي د جنګ څخه په استفاده امريکا وکړاي شول چې د مظلومو افغانانو مخصوصا د مظلومو پښتنو د سر او مال دبې حسابه قربانيو په قيمت د شورويانو څخه په ويتنام کې د خپل نظامي ماتي بدل په افغانستان کې واخلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دافغان ـ شوروي د جنګ څخه په استفاده امریکا وکړای شول چې ، سوړ جنګ د ځان په نفع ختم کړي او امریکا د نړي د یوازني سوپر طاقت په حیث را څرګنده شول .

د افغان –شوروي په جنګ کې لکه پورته چې ذکر شول شورویانو او افغانانو ته ستر نظامي ، مالي او انساني تلفات رسیدل ،خو امریکا او غرب ته محدود او غیري قابل لمس مالي تاوانونه رسیدل .

دهمدې ستراتیژي پر اساس امریکا غوښتل چې دا جنګ څومره زیات وخت چې ممکن وي دوام وکړي .

امریکا ته د افغان شوروي جنګ په دې خاطر ډیر خوند ورکاوه چې د مظلومو پښتنو د مفتو وینو په قیمت یې د خپل دښمن شوروي اتحاد څخه په ویتنام کې د خپل نظامي ماتي بدل اخستي ، د غریب ،بې تنخوا ، مظلوم او مجبور پښتون پر اوږه امریکایې توپک پروت وو ، پر روسي اشغالګر سرباز یې فیرونه کول ، هغه یې وژلي او یا یې زخمي کولي ، روسي ټانک یې سوځوي . . .

په مقابل کې د شوروي اتحاد دبې رحمه فوځ د اور قوت په خپل ټول توان او نهایت بې رحمي د مظلومو او مجبورو پښتنو سر او مال بربادول او د منځه وړل .

امریکایانو په ډیر مهارت سره افغانستان دشوریوانو په ویتنام بدل کړي ،شوروي امپراطورۍ ته یې دافغانانو مخصوصا د مظلومو پښتنو د بې مثاله ځاني قربانیو په زور په افغانستان کې نه تنها په نظامي ډګر کې ماته ورکړل بلکې شوروي امپراطوري ، دشوروي امپراطورۍ نړیوال حیثیت ،شوروي نظام ، شوروي اقتصادي سیستم ،شوروي نظریاتي سیستم ، او شوروي سوپر طاقت یې هم دړې وړې کړې او د تل لپاره یې د منځه یووړې .

د افغان ـ شوروي د جنګ د لنډې مطالعې څخه په استفاده

اوس د پښتنو ـ امریکا په جنګ کې د امریکا د ماتي ځنې ښکاره دلایل په لانديډول ذکر کوو .

1 : د افغان شوروي د جنګ د تجریبو څخه په استفاده د ایران او پاکستان د استخباراتي او نظامي چارو ماهیرینو دالقاعده سره په مشوره د پښتنو او امریکا د جنګ پلان داسې طرحه کړیدي چې د یو اوږد جنګ ددوام لپاره ضروري عناصر په منطقه کې په ډیر ارزانه قیمت پیدا کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې جنګ ددوام لپاره دومره لږ بوديجې ته ضرورت دې چې د عربو يو عـادي شيـخ يـې د ډېرو کلونـو لپاره تمويلولای شي .

په لاندې کرښو کې د دې جنګ ددوام لپاره و ضروري عناصرو ته ډېره لنډه اشاره کوو :

## الف : دامريکا پر خلاف د پښتنو د جنګ د دوام لپاره انساني قوت:

د هرجنګ ددوام لپاره تر ټولو مهم عنصر و جنګ ته د اماده انساني قوت پيدا کول دي .

دډيورنډ د خط پر دواړو خوا وو د اتيا ميلونو پر شا وخوا کې پښتانه د نهايت بد بختی په حالت کې ژوند کوي ، د ژوند تيرولو لپاره تقريبا هيڅ ډول اسانتياوې نه لري ،ټول با عقيده او پر اسلام مين مسلمانان دي خودبده مرغه مطلق اکثريت يې بيسواده دي او داسلا م دمقدس دين په باره کې ئی معلومات محدود دی .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتني ټولنې جوړښت داسې دي چې دوی هميشه د سياسي ، اقتصادي او ټولنيز ژوند په ساحو کې ددوی د قومي مشرانو د خوا رهبري کېږي ،او دوی هم د خپل قومي مشرانو مشوري مني .

ددې لپاره چې د شيطاني مثلث شيطاني پلانونه په اسانه ډول عملي شي ، د شيطاني مثلث غړود خپـل شيطاني ستراتيژي مطابق لـومړي د دې پښتنو قـومي مشـران ، د ملـي خيـال لرونکـي علمـا ،معليمان او نور منور مشران ځني ووژل او دا لړي لا نن هم روانه ده ، تر څو پښتون مظلوم او مجبور ملت بې سرپرسته او بې رهنما کړي .

وروسته يې بيا د فشار ، تطميع او تبليغ د لاري پښتانه مجبوره کړل چې د امريکا پر خلاف په جنګ کې برخه واخلي .

هر هغه پښتون چې د شيطاني مثلث د اجنټانو د امر مطابق د امريکا پر خلاف ددوی په اصطلاح جهاد کې برخه نه اخلي هغه شخص کافر،ملحد ، د خداي(ج ) د ښمن ،د محمد (ص) دښمن ، د اسلام دمقدس دين دښمن ، دامريکا جاسوس ، مباح الدم او واجب القتل دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د بې سرپرستۍ ، مظلومیت ، مجبورۍ ،بیسوادۍ ، اقتصادي او تعلیمي شاته والي ،فشار ،تطمع ، او پر اسلام باندې د هغوی د ټینګې عقیدې لرلو څخه په استفاده د شیطاني مثلث بنیاد پرست اجنټ ملایان دا توان لري چې د ډېرو کلونو لپاره د پښتنو ځوانانو څخه مفته سر بازګیري وکړي ، هغوی د امریکا پرخلاف جنګ کې د ځان مرګي او نورو تروریستي بریدونو لپاره اماده کړي .

د پورته دلایلو پر اساس موږ ویلای شو چې د شیطاني مثلث غړو ته د امریکا پرخلاف د جنګ د دوام لپاره تر ټولو مهم عنصر(جنګ ته اماده انسانان) د زیات وخت لپاره مفت پلاس ورغلي دي .

په بله وینا د شیطاني مثلث غړي د افغانانو او شورویانو د جنګ د تجریبو څخه په استفاده کولای شي چې د ډېرو کلونو لپاره په مظلوم او مجبور پښتون انتهاري و اسکټ واغوندي او د امریکا پر خلاف یې د جنګ میدان ته راوباسي .

په ډېر افسوس سره باید ووایو چې د مجبور او مظلوم پښتون ملت مطلق اکثریت نهایت غریب او بیسواده ساتل شوي دي ،د ژوند تیرولو لپاره تقریبا هیڅ داسې اسانتیاوي لکه ښه کور ، ښه مانۍ ، ښه ارام ژوند ،د خارج سیلونه ، ښکلي مېرمنې ،ښکلي معشوقې ، ښه خوراک او څښاک ، ښه لباسونه او داسې نوري نه لري چې هغه د پښتنو ځوانانو مینه د ژوند کولو سره پیدا کړي .

مظلوم او مجبور پښتانه د دې د نیا دوزخي ژوند ،بې پایه خوارۍ او رنجونه صرف په اخیرت کې د وعده شوي جنت د ښایسته مانیو ، ښکلو حورو ، غلمانو ،عسلو ، شیدو ، شرابونو ، ښو میوا ونورو نعمتونو په امید تیروي .

د شیطاني مثلث غړي او د دوی اجنټان د پښتنو د مظلومیت څخه په استفاده په ډېر اسانه کولای شي چې مظلوم او مجبور پښتانه لا نور مجبور او تشویق کړي او په ډېره اسانۍ قناعت ورکړي چې د دې نابودي او دوزخي دنیا د عذابونو څخه د خلاصون او په یوه لحظه کې و ابدي وعده شوي جنت ته د داخلید لو په خاطر ځانمرګي بریدونه او نورتروریستي اعمال انجام کړي .

ب : دجنګ د دوام لپاره دایډیالوژۍ اړتیا :

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسانان د استثني څخه بغير په داسې جنګ کې برخه نه اخلي چې دده مرګ په کې حتمي (ځان وژنه) وي ترڅو په ذهني لحاظ يې پر روا يښت باور ونلري .

په بله وينا انسان په داسې جنګ کې برخه نه اخلي چې دي په دې متيقين وي چې دي په خپله حتما په کې مړ کېږي ترڅو په ذهني او ايډيالوژيک لحاظ يې پر روا يښت قناعت ونه لري .

د شيطاني مثلث غړي او د دوی اجنټان د اسلام مقدس دين د جنګ د ايډيالوژي په حيث استعمالوي
.

د شيطاني مثلث غړي بې سواد ، مظلوم او مجبور شوي پښتانه هم مجبوروي او هم د دېني بيانيو په شکل کې ورته وايي چې د اسلام دين تاسو ته حکم کوي چې د پلاني نظام يا پلانۍ ډلي پر ضد د خداي (ج) په امر في سبيل الله مقدس جهاد پيل کړي .

بنياد پرستان مظلومو ،مجبور کړل شوو ، بيچاره او بيسواده پښتنو ته ورفهموي چې ستاسو خالق تاسو ته امر کوي او دا يې پر تاسو فرض کړيده چې د ملا د خوا درښودل شوي جهاد کې برخه واخلي ، د جهاد کول د خداي (ج ) امر او فرض عين دي ، او د فرض عين څخه انکار انسان کافر کوي او د کافر ځای د ابد لپاره دوزخ دي . . .

مظلوم ،مجبور کړل شوي بيچاره او بيسواده پښتانه چې د دې دنيا دوزخي ژوند د اخيرت د وعدي شوي جنت په اميد تيروي مجبورا د ملا خبره مني او د دې دنيا د مشکلاتو څخه د خلاصون او د ابدي جنت په هيله په جهاد کې برخه اخلي .

د پاکستان او ايرن استخباراتي سازمانونو يو زيات شمېر بنياد پرست ملايان تربيه کړيدي ، هغوی يې د لويو مساجدو ،ديني مدرسو او بنياد پرسته مذهبي سازمانونو په راس کې مقرر کړيدي ،او د دې بنياد پرستو اسلام نما استخباراتي اجنټانو پواسطه يې د اسلام د مقدس دين څخه په خپل نفع د جنګ ايديډلوژي جوړه کړيده چې د شيطاني مثلث د غړو دا عمل په مطلق ډول د اسلام د مقدس دين خلاف دي .

د شيطاني مثلث غړو د ظلم ، تطميع او د دوی د خوا د ډيزاين شوي ايډيالوژۍ په زور بيسواده ، مظلوم او مجبور کړل شوي پښتانه د دې دنيا د دوزخي ژوند د خواريو څخه د خلاصون په اميد او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دنيا کې په وعده شوي جنتونو کې دابدي ژوند د وعدو په هيله د امريکا سره د جنګ ميدانه ته را ايستلي دي .

## ج : د پښتنو او امريکا ترمنځ د جنګ مصارف څومره دي ؟

لکه چې پورته ذکر شول د پښتنو او امريکا ترمنځ د جنګ ددوام لپاره د ايران ، پاکستان او القاعده استخباراتي او نظامي ماهيرينو د افغان شوروي د تير جنګ د تجربيو ،په منطقه کې د سولې ، ثبات او نا ارامۍ په باره کې د پښتون ملت د تاريخي رول څخه په استفاده داسې پلان او ستراتيژي طرحه کړل چې د هغې ستراتيژي پر بنياد يې د اسلام د مقدس دين څخه د جنګ ايايډلوژي او د مظلومو پښتنو څخه يې د جنګ مفت سر بازان جوړ کړل .

شيطاني مثلث د پښتنو او امريکا د جنګ پلان داسې طرحه کړيدي چې ددوی په ډېرلږ مالي مصرف پښتنو او امريکا ته چې دوی يې د خپل ازلي دښمنانو په صفت پيژني دزيات څخه زيات مالي او ځاني تلفات رسوي .

د شيطاني مثلث غړي چې په هر بيسواده ، مظلوم او مجبور کړل شوي پښتون د سل ډالرو د منفجره موادو و اسکټ واغوندي پر امريکايي قواوو باندې ځانمرګي حمله په اجرا کړي ، د دې حملې په نتيجه کې افغاني او نړيوالو خواوو ته په تقريبي لحاظ لاندې تاوانونه رسيږي:

1 : په ٪90 مواردو کې لږ تر لږه د يو څخه تر پنځه پورې نړيوال او افغان سربازان وژني ، د پنځو څخه تر لس پورې ټپي کوي او يا يې په روحي مرض مبتلا کوي .

دلسو څخه زيات ملکي افغانان وژني او دوه چنده رقم هم زخمي کوي.

2 : د دوو څخه تر څلورو نظامي وسايط تخريبوي او يا تاوان ور رسوي ، او همدارنګه په ولس پورې مربوط وسايط ، کورونه او نوري شتمنۍ د منځه وړي او په لکونو افغانۍ تاوان ور رسوي .

3 : هره انتحاري حمله د افغانستان ،غرب او نړۍ په مطبوعاتو کې دومره انعکاس پيدا کوي چې که څوک ميلونونه ډالره مصرف کړي بيا به هم د ځان په نفع دومره تبليغات ونشي کړاي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



4 : هره انتحاري او يا بله تروريستي حمله په افغانستان او نړۍ کښې راي عامه ته د ګريلايانو د وجود او ځواک دامريکا ، افغان دولت او نړيوالي ټولنې د ناتوانۍ پيغام ورکوي . . .

5: هغه پښتني کورنۍ هم د غم پر ټغر کښني چې د کورنۍ غړي يې د شيطاني مثلث د شيطاني پروژې د عملي کول په خاطرځان مرګي بريد اجرا کړيدي .

6: کله کله د شيطاني مثلث د غړو په امر يوګروپ پښتانه ځوانان مجبورکړل شي چې په خپل نا چېزه ساده وسلو د ناټو پر کاروانو وسلوالي حملي وکړي چې په نتيجه کې دا ټول ګروپ د ناټو د قواوو دخوا د منځه يوورل شي ،دشا او خواکلي او بانډي هم د ناټو د قواوو د خوا بمباري اوتلاشي شي چې په نتيجه کې يو زيات شمېر بې ګناه پښتانه شهيدان او زخميان شي ، نور بې ګناه پښتانه د ناټو د قواوو دخوا بنديان شي ، کورونه او مالونه يې د جنګ په سبب وران شي.

په همدې ډول يو زيات شمېر پښتني کورنۍ د غم پر ټغر کښني او د ناټو سره نفرت لا زيات شي .

کـه دا پورتـه ذکـر شـوي مـادي او معنـوي تاوانـه ځـوک محاسـبه کـړي نـو ارزښـت يـې د لـس ګونـو ميلونو ډالرو سره برابر دي .

د پورته ساده مثال ځخه موږ دي نتجي ته رسيږو چې د شيطاني مثلث غړي د سل ډالرو په مصرف سره د يوه انتحاري عمل په اجرا ، يا د سړک د غاړي دريموت کنترول ماين په چاودنه ، يا پر دولتي تاسيساتو او د ناټوپرکاروانو د حملي په نتيجه کې خپل امريکا يي او افغاني دښمنانو ته دلس ګونو ميلونو ډالرو په ارزښت مادي او معنوي تاوان رسوي .

د ايران او پاکستان استخبارات دي جنګ ته په لس ګونو کلونو دوام ورکولای شي ځکه چې د دي جنګ مصارف دومره لږ دي چې يو عادي قاچاقبرهم د څه وخت لپاره دا جنګ تمويلولای شي ، ددولتونو استخباراتي سازمانو ته خو داد هيڅ سره برابره بوديجه ده .

په مقابل کې امريکا د دې لپاره چې په افغانستان کې د جنګ ماشين او افغان دولت فعال وساتي هر کال په سل ګونو ميلياردو ډالرو ته ضرورت لري .

هرڅومره چې دا جنګ اوږديږي په هغه اندازه پر امريکا او نړيوالي ټولني د دې جنګ مصارف درنديږي او په پاي کې هرو مرو امريکا او نړيواله ټولنه د مظلومو او په ګروګان نيول شوو پښتنو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې پايه ځاني او مالي تلفاتو د شيطاني مثلث په مقابل کې ماته خوري چې ژوندي مثالونه يې موږ د امريکا ماته په ويتنام کې او د شوروي اتحاد ماته په افغانستان کې وينو .

د ايران او پاکستان اسخباراتي ماهرينو د دې جنګ پلان داسې طرحه کړيدي چې لومړي بايد د خپلو اجنټانو پواسطه ددولت په چوکاټ کې داسې اعمال انجام کړي چې د هغو د سببه ولس ددولت څخه خوابدي شي او بيا د ناراضه ولس د منځه ددولت پر ضد اهسته اهسته د کليو او بانډو څخه ددولت پر ضد ګريلا جنګ شروع شي ،اول پر نرمو اهداف حملي وکړي لکه مکتب ،معلم ؛ متعلم ، ډاکتر ، روغتون او داسې نور چې ديوه طرفه په ولس کې وهم واچوي او د بله طرفه په ميډيا کې ځان مطرح کړي .

وروسته بيا جنګ کرار کرار شدت پيدا کړي ، مخالفين دولسواليو او ښارنو ترمنځ د لارو کنترول پلاس کې واخلي او کرار کرار لوي ښارونه محاصره کړي او هرڅومره چې دا جنګ اوږديدلای شي په هغه اندازه د ګريلاوو په ګټه دي او ددوی برياليتوب حتمي کيږي .

د پورته دلايلو څخه دا نتجه اخلو چې که امريکا د پښتنو په باره کې خپل ستراتيژي بدله نکړي ،پښتانه د شيطاني مثلث د منګلو څخه راونه باسي ،په دې منطقه کې په سوله او جنګ کې د پښتنو د تاريخي اهميت په درک سره د پښتنو سره د يو سيال ملت په حيث جوړه ونکړي ، پښتنو ته د افغانستان سياسي ، اقتصادي او ټولنيز حاکميت چې د پښتنو تاريخي مشروع حق دي دوباره ورنکړي ، نو په دې جنګ کې به امريکا د پښتنو په ځاني تلفاتو د شيطاني مثلث په وړاندې ماته خوري ،شيطاني مثلث به د دې جنګ ګټونکي وي ،امريکا او پښتانه به دواړه د دې جنګ بايلونکي وي .

په ظاهر خو به پښتانه په دې جنګ کې په خپل بې حسابه ځاني او مالي قربانيو امريکا ته ماته ورکړي ،خو د دې جنګ اصلي فاتحين به پښتانه نوي ،ددې جنګ اصلي فاتحين به د شيطاني مثلث غړي ايران او پاکستان وي ، ځکه چې د دې جنګ ګټې به ايران او پاکستان ته ورسيږي او تاوانونه به يې امريکا او پښتنو ته ورسيږي .

امريکا به د جنګ د بايللو سره يو ځای د شوروي اتحاد په شان د نړۍ د سوپر طاقت په حيث خپل نړيوال حيثيت وبايلي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه به د جنګ د پای ته رسېدو سره سم د تل لپاره د ایران او پاکستان غلامان شي .

## 9. د پښتنو - امریکا او افغان - شوروي د جنګونو مقایسه:

د افغان- شوروي او پښتنو او امریکا جنګونه یو له بل څخه څه بنیادي تفاوتونه لري ؟

د افغان- شوروي په جنګ کې په مجردي چې شورویانو پر افغانستان یرغل وکړي هغه یې اشغال کړي سمدستي ټولو افغانانو مخصوصا پښتنو د شوروي اشغالګرانو پر ضد ملي قیام شروع کړي .

نړیوالې ټولنې د هغه په راس کې د امریکا متحده ایالاتو ، غربي نړۍ او اسلامي نړۍ د افغان مجاهدینو هر ډول سیاسي ، مالي او لوژیستیکي ملاتړ وکړ .

د شوروي د اشغال پر ضد د افغان نجیب ملت مخصوصا د باتورو پښتنو د بې مثاله ځاني او مالي قربانیو په ورکولو او د شوروي ضد نړۍ د مالي ، لوژیستیکي او سیاسي مرستو په نتیجه کې شوروي امپراطورۍ د افغانانو په مقابل کې په اقتصادي ، سیاسي او نظامي ساحو کې ډېره سخته او د شرمه ډکه ماته وخوړه او په نتیجه کې شوروي امپراطورۍ دړې وړې شول .

د افغان شوروي د جنګ په نتیجه کې د شرق او غرب ترمنځ روان سوړ جنګ د امریکا په نفع تمام شو ، د "وارسا تړون" او د هغه سیاسي ، اقتصادي او نظامي پایګا یعنې شوروي امپراطوري دړې وړې شول .

د پښتنو په بې مثاله مالي او ځاني قربانیو سره نړۍ د شوروي د ظالم زبرځواک د شره خلاصه شول ، امریکا او غرب ته هغه په تریلینو ډالره چې د شوروي امپراطورۍ سره یې هرکال د ساړه جنګ په جریان کې مصرفول په جیبونو کې پاتې شول .

د باغیرتو پښتنو په بې مثاله مالي او ځاني قربانیو شوروي امپراطوري د یو سوپر طاقت په صفت د منځه ولاړل او د امریکا متحده ایالات د نړۍ د یوازني سوپر طاقت په حیث پاتې شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د پښتنو او امریکا جنګ د ملي قیام نتیجه نده بلکې د شیطاني مثلث د غړو د شیطاني ستراتیژي د عملي کیدو په سبب یو شمېر پښتانه مجبوره کړل شول چې د نهایت ظلم په سبب د امریکا په مقابل کې ګریلا جنګ شروع کړي .

د شیطاني مثلث د غړو ستراتیژي داوه او نن هم ده چې پښتانه د امریکا پر ضد ملي قیام ته اماده کړي .

د شیطاني مثلث غړو د خپل شیطاني ستراتیژۍ پر اساس پښتانه د دولت څخه خوابدي کړل او د پښتنو د دې خفه والي څخه په استفاده د ایران او پاکستان استخباراتو استفاده وکړل او د نړۍ تروریستان یې د پښتنو په کلیو او بانډو کې ځای پر ځای کړل .

د شیطاني مثلث غړو دې تروریستانو ته امر وکړي چې لومړي د پښتنو قومي مشران په ډول ډول بهانو ترور کړي ترڅو پښتانه بې سر پرسته او بې رهنما شي چې ژوندي مثالونه یې په قندهار ولایت کې د (735) او په شمالي وزیرستان کې د (787) قومي مشرانو او ملی فکر لرونکو علماوو په شهادت رسول دي .

د دې ظالمانه کار تر انجام وروسته د شیطاني مثلث غړو د نړۍ تروریستانو او خپل اجنټانو ته امر وکړي چې د پښتنو د کورونو څخه د امریکاپانو پر ضد انسرجنسي (ګریلا ) عملیات وکړي ، ترڅو په دې خاینانه عمل امریکایان مجبور شي چې په جواب کې د پښتنو پر کورونو بمباري شروع کړي او دا عمل به پښتانه مجبور کړي چې د امریکا پر خلاف جنګ شروع کړي .

د شیطاني مثلث د ستراتیژۍ مطابق امریکاپانو د ګریلا حملو په جواب کې د پښتنو پر کلیو او بانډو بمباری وکړي او یو زیات شمېر بې ګناه مظلوم پښتانه یې مړه زخمي او یا زندانیان کړل ، د پښتنو په کورونو ننوتل د پښتنو ښځې ، نارینه ، مشران او کشران یې د پښتني کلتور خلاف بې عزته کړل ، چې دې لړۍ تر ډېرو کلونو دوام وکړي او تر اوسه هم دوام لري .

د ګریلا حملو او د امریکا د خوا د هغو د جوابیه حملو نتیجه دا شول چې د پښتنو ولایاتو زیاتي برخي د امریکا د مخالفینو د فعالیت لپاره مناسب ځایونه وګرځیدل .

که جنګ په همدې ډول دوام وکړي نو د شیطاني مثلث د زړه ارمان به پوره شي او ټول پښتانه به مجبور کړل شي چې د شوروي په شان د امریکا په مقابل کې هم ملي قیام وکړي .

څرنګه چې پښتانه په ټول هېواد کې پراته دي نو د ملي قیام څپې به هم ټول هېواد ته سرایت وکړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیطاني مثلث غړي به وکړاي شي چې د پښتنو او امریکا جنګ ته د ډېرو کلنو لپاره دوام ورکړي ،د ډېرو کلنو لپاره د پښتنو د منځه سرباز ګیري وکړي او د امریکا پر ضد یې وجنګوي چې دا عمل د پښتنو او امریکا سخت په تاوان دي او د شیطاني مثلث ډېر په ګټه دي .

دمخه تردي چې دافغان- شوروي او د پښتنو او امریکا ترمنځ جنګونه سره مقایسه کړو او یا د پښتنو سره د شوروي اشغال ګرانو او امریکایانو برخورد سره مقایسه کړو ښه به داوي چې په څو لنډو جملو کې د پښتنو تاریخ ته یو ډېره لنډه اشاره وکړیو .

## د پښتنو تاریخ ته په څو جملو کې لنډه کتنه:

پښتونخوا هغه هېواد دې چې د خپل جیو پولتیکي او جیوستراتیژیک موقعیت په لحاظ د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ تر بل هر هېواد ډېرخارجي یرغلونه پرشویدي .

دمثال په ډول مورږ دلته په لنډ ډول څو تاریخي یرغلونه ته ډېره مختصره اشاره کوو .

1: په (1100 ق . م) کې د اشوري پاچاهانو د خوا د پښتنو پر هېواد یرغلونه وشول خو پښتنو هغه ټول یرغلونه پر شا وتمبول او هېواد یې ازاد کړي ،ددې خبري ثبوت د اشوري شاهانو د زماني څخه د پلاس راغلو میخي خطونو دنسخو د ترجمې څخه معلومېږي .

2: په (327-329 ق . م) کې د یونان لوي سکندر د هندوستان د نیولو په نیت د پښتنو پر هېواد یرغل وکړي ، خو دا نړیوال فاتح د پښتنو په هېواد کې د دریو کلنو لپاره د پښتنو د سخت مقاومت سره مخامخ شو او ډېر سربازان یې د لاسه ورکړل او په خپله هم د صوات په لته کې زخمي شو .

دا نړیوال فاتح چې نیمه نړۍ یې نیولي وه د پښتنو په هېواد کې د سختو چلنجونو سره تر هغه وخته مخامخ وو ترڅو چې یې د پښتنو سره جوړه و کړل او د پښتنو په مرسته یې بیا هندوستان ډېر په اسانه ډول ونیوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



3: مغول امپراطور چنګيزخان او د هغه اولادي چې د قتل او قتال ، وحشت او دهشت ، ظلم ،بربريت او جهالت شهزاده بلل کېږي په خپل ټول توان او بربريت پښتانه غلامان نشوه کړاي .

4: د هند د مغولي دولت موسس ظهرالدين بابر هم د پښتنو سره تر زياتو جنګونو وروسته جوړه او دوستي وکړل او د پښتنو په توره يې هندوستان ونيوي .

5: ايراني بد ماش نادر افشار هم د پښتنو سره ترسختو جنګونو وروسته روغه وکړ او د پښتنو څخه يې(40000 ) نفر په خپل فوج کې استخدام کړل او د دې پښتني لښکر په مرسته يې هندوستان ونيو .

6: کله چې انګرېزانو هندوستان ونيو ، نو درې ځله يې پر افغانستان نظامي يرغلونه وکړل او دوی په دې تلاش کې وو چې پښتانه هم د هنديانو او د نړۍ د نورو ملتونو په څېرغلامان کړي ، خو هرځل يې د پښتنو څخه سخته ماتې وخوړله او په لسګونو زره عسکر يې په افغانستان کې له لاسه ورکړل .

7: په 27/12/1979 شورويانو پر افغانستان يرغل وکړ ، پښتانه يې د هېواد د سياسي ، اقتصادي او فرهنګي ساحو څخه په زور وايستل او د افغانستان سياسي واکي يې د هېواد لږکيو او خپلو اجنټانو ته وسپارل .

شورويانو غوښتل چې د نورو ملتونو په شان افغانان مخصوصا پښتانه هم غلامان کړي او د پښتونخوا له لارې ځان تودو اوبو ته ورسوي .

خو د لس کاله سخت جنګ وروسته د پښتنو له خوا د سختې ماتې سره مخامخ شول او په دې جنګ کې د ورسېدلو تاوانو له سببه روسي کمونستي امپراطوري پارچه پارچه شوه .

8: پرنيويارک او واشنګټن د 2001/9/11 د القاعده تر بريدونو وروسته امريکا او ناټو په افغانستان کې د طالبانو پر رژيم حمله وکړه هغه يې ړنګ او پر ځای يې تر خپل نظامي ، سياسي او اقتصادي حمايت لاندې د خپلې خوښې نظام قايم کړ .

امريکايانو هم د شورويانو په شان دولتي قدرت د دې هېواد اقليتونو لکه تاجک ، ازبک ، هزاره او څو بې اعتباره پشتنو تکنوکراتانو ته وسپاره .

د پورته تاريخي يرغلونو ، جنګونو ، پښتني مقاومتونو ، فاتحانو د کړو وړو د ژورې او دقيقې مطالعې او انالېز څخه په څو لنډو جملو کې دا نتيجه اخلو چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



1: د تاريخ په اوږدو کې چې هرفاتح د پښتنو سره جوړه کړې ده ، د پښتنو ملاتړ يې ترلاسه کړی دی هغه فاتح د پښتنو په مرسته په دې منطقه کې خپل هدف ته په بریالیتوب سره رسېدلی دی .

2: هر فاتح یا یرغلګر چې د غرور او تکبر څخه کار اخیستی دی او کوښښ یې کړی دی چې د نظامي زور ، خشونت او بربریت د استعمال څخه په استفاده پښتانه غلامان یا مات کړي ، هغه یرغلګر په دې هېواد کې ډېره د شرمه ډکه او ننګینه ماتې خوړلې ده .

د پورته تاریخي انکار نه منونکو شواهدو په استناد موږ ویلای شو چې :

په افغانستان کې د سولې د تامین او هر جنګ د بریالیتوب او ماتې کیلي د پښتنو په لاس کې ده .

د پښتنو په ملاتړ په افغانستان کې هر جنګ ګټل شوی دی او دا روان جنګ به هم د پښتنو په ملاتړ وګټل شي .

د پښتنو د مخالفت له سببه هر فاتح په دې هېواد کې جنګ بایللی دی ،امریکا به هم دا روان جنګ د شیطاني مثلث په مقابل کې د پښتنو په مالي او ځاني تلفاتو وبایلي .

ددې روان جنګ تلفات به پښتنو او امریکا ته رسېږي او فایده به یې د شیطاني ملث غړو ته ورسېږي .

که پښتانه او امریکا دواړه خپل روانه ستراتیژي بدله نکړي او ځانونه د شیطاني مثلث په شیطاني موخو خبر نکړي ، ځانونه د هغوی د شیطاني او اوپراتیفي جال څخه را خلاص نکړي ، نو پښتانه او امریکا به دواړه د دې جنګ بایلونکي وي او د شیطاني مثلث غړي به د دې جنګ ګټونکي وي .

موږ په لاندې جدول کې پر افغانستان د شورویانو د یرغل ، د هغو د ماتې عوامل او اشتباهات ، پر افغانستان د امریکا او ناټو د یرغل ، د مشکلاتو عوامل او اشتباهات سره مقایسه کوو .

| شماره | دشوروي یرغل | شماره | دامریکا یرغل |
|---|---|---|---|
| ۱ | شورویانو په 1979/12/27 تاریخ پر افغانستان نظامي یرغل وکړي . | ۱ | امریکا او ناټو په 2001 کې پر افغانستان نظامي یرغل وکړي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲ | شورویانو پر افغانستان د یرغل لپاره د ملل متحد موافقه نه درلودل . | ۲ | امریکا پر افغانستان د یرغل لپاره د ملل متحد موافقه لري |
| ۳ | پر افغانستان د شورویانو د یرغل او اشغال سره په لومړي ورځ ټولي ازادي نړۍ مخالفت وکړي او دافغانستان اشغال یې دنړیوالو منل شوو قوانینو خلاف ښکاره تجاوز وبللي . | ۳ | پر افغانستان د امریکا د یرغل سره هیڅ هیواد حتی د شیطاني مثلث غړو ایران او پاکستان هم مخالفت ونکړي ، اود امریکا را تګ یې افغانستان ته تجاوز ونه بللي . |
| ۴ | دشورویانو د یرغل سره د شوروي د ګوډا ګیانو بغیر په لومړۍ ورځ ټولو افغانانو عملي مخالفت شروع کړي اود شورویانو دا عمل یې د خپل هیواد اشغال وبللي . | ۴ | دامریکا دیرغل سره په لومړي سر کې تقریبا ټول افغانان حتي پښتانه هم موافق وه ،او د امریکا دا عمل یې د افغانانو او افغانستان ازادي وبلل .<br><br>د افغانستان په لیکلي تاریخ کې دا لومړي ځل دي چې پښتنو په خپل هیواد کې خارجي عسکر په ورین تندي ومنل . |
| ۵ | دشورویانو د نظامي یرغل او اشغال په مقابل کې د لومړۍ ورځې څخه د شورویانو پر ضد د افغانانو مخصوصا د پښتنو د خوا عملا نظامي جنګ شروع شو . | ۵ | د امریکا د یرغل په مقابل کې پښتنو نه تنها نظامي عملیات شروع نه کړل ،بر عکس د ولایاتو څخه په ډله ډله قومي مشران ریس دولت ته راتلل او د هغه څخه به یې غوښتل چې ددوی ولایاتو او ولسوالیو ته نظامي امریکایان ورولیږي ترڅو ددوی د منطقوي جنګسالارانو د ظلم څخه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | خلاص کړي ،کوم چې د امریکا د یرغل سره سم په ولسوالیو ،ولایاتو او کابل کې پر دولتي چوکیو مقرر شوي وه ، او اکثرو یې د شیطاني مثلث د شیطاني ستراتیژۍ مطابق ددولتي زور څخه په استفاده د پښتنو د سر ،عزت او مال د لوټولو لپاره ملا تړلې وه . |
| ٢ | شورویانو د افغانستان تر اشغال وروسته پرخپل چیچې ګوډاګي حزب تکیه وکړل ، کوم چې په ولس کې نهایت منفور وو ، د افغاني ټولنې د اقلیتونو نمایند ګي یې کول ، او د ټولنې د مطلق اکثریت یعنې پښتنو ډېر زیات ضد وو . روسانو د پښتنو دغلام کولو په خاطر د پښتنو پرکلیو او کورونو نهایت زیاتي بمبارۍ او نور نظامي عملیات وکړل چې د لکونو پښتنو د مرګ او ژوبلې سبب شول . شورویانو غوښتل چې د بربریت او نهایت ظلم پواسطه پښتانه غلامان کړي خو په دې کار کې بریالي نه شول او د پښتنو دلاسه یې تاریخي او دشرمه ډکه ماتي خوړل . | ٢ | امریکایانو د افغانستان تر اشغال وروسته دشورویانو په شان د اقلیتونو پر راستي مذهبي ډلو تکیه وکړل ، او دافغان دولت عمده چاري یې په هر لحاظ بې کفایته ، بې تجربې او د پښتنو ضد په اقلیتونو پورې تړلو افرادوته وسپارلې ،کوم چې په افغاني ټولنه کې ددوی د تیرو ناوړه اعمالو د سببه تر روسي پلوه چپیانو لاډېر بدنام او د ولس د سخت تنفر وړ وه .<br><br>په اقلیتونو پورې تړلیو متعصبیو راستي ډلو او د شیطاني مثلث نورو اجنټانو د شیطاني مثلث د ستراتیژي مطابق د پښتنو سره بې پایه تعصب او دښمني شروع کړل ،او د دې دښمنۍ په سبب یې پښتانه صرف د دې سببه چې پښتانه وه ددولتي قدرت په زور د هېواد د سیاسي او اقتصادي چارو څخه وشړل . د |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | طالب او القاعده په نوم يې په لس ګونو زره بې ګناه پښتانه مړه او بنديان کړل ،مالونه يې ور لوټ کړل ، د غلطو اطلاعاتو په سبب يې امريکايي عسکر په کورونو ورننه ايستل ،دودونو او خيراتونو پر مراسمو ئی بمباری وروکړی . . اوپه ډول ډول بهانو او ډولو ئی پښتانه بې عزته کړل . . . |
| ۷ | د شورويانو ګوډاګيان که څه هم په ټولنه کې منفور وه خو په دولتي چارو کې يې څه نا څه کفايت درلودي او په رشوت ، فساد او اختلاص کې يې ډېر کم لاس درلودي . | ۷ | د امريکا پلاس د افغان دولت د قدرت پر ګدی کېنول شوي کسانو اکثريت په مطلق ډول د دولتي اداري درهبری کفايت نه لري ،د دولت تقريبا سل فيصده اراکين په رشوت ،فساد او اختلاص کې سخت مصروف دي . لنډه دا چې د امريکا د خوا پر قدرت کېنول شوي دولتي اراکين اکثره د پښتنو په نظر د پښتنو د سر ، ناموس ،عزت ،اومال غله او د دولت او ملت د ملکيتونو لوټماران دي . |
| ۸ | د شورويانو د اشغال په مقابل کې د افغان نجيب ملت اقليتونو د دې سره سره چي شورويانو د دولت واګي د دوی پلاس ورکړي بيا هم د اقليتونو ځينو کسانو د پښتنو په څنګ کې د شوروي اشغال په مقابل کې مقاومت کوي . | ۸ | د امريکا ديرغل په مقابل کې د افغان نجيب ملت اقليتونو هيڅ عکس العمل ندي ښودلي ځکه چې د دولت واګي دوی ته سپارل شوي دي . که څه هم پښتانه د شورويانو په شان د امريکايانو د خوا د سياسي او اقتصادي قدرت څخه بې برخي شوي دي بيا هم د پښتنو د خوا |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | د شوروي د اشغال په مقابل کې خود پښتنو د خوا عملا ملي قيام شروع شو ، چې د دې غيري قابل کنترول ملي قيام په نتيجه کې شوروي ماتي وخوړه . | | د امريکا په مقابل کې ملي قيام ندي شروع شوي . د شيطاني مثلث د ستراتيژي پر اساس يو کم شمير پښتانه مجبوره شوي دي چې د امريکا پر ضد په انسرجنسي اعمالو کې برخه واخلي ، چې دا جنګ په ډېر اسانه ډول قابل کنترول دي . |
| ۹ | دشورويانو څخه ټول افغان ملت مخصوصا پښتانه په دي خوابدي شول او د روس په نه پخلا کيدونکي دښمنانو بدل شوه چې هغوی د دوی هېواد اشغال کړي وو .<br><br>د همدې سببه پښتنو د شورويانو پر ضد ملي قيام شروع کړي او د دي ملي قيام په نتيجه کې شورويانو ماتي وخوړل او د کمونيزم روسي امپراطوري د تل لپاره د منځه ولاړل . | ۹ | دامريکا څخه د پښتنو د خوابدی خو لنډ و دلايلو ته اشاره کوو .<br><br>1: امريکا د افغانستان تر اشغال وروسته پښتانه د هېواد د سياسي ، اقتصادي او نظامی ساحي څخه بې برخي کړل .<br><br>2: امريکا د افغانستان تر اشغال ورسته دهيواد دچارو واکي دافغانی ټولنی داسی افرادو او ډلو ته وسپارلی چې اکثره يی په افغانی ټولني کښی تر ټولو فاسد و ، بې کفايته او د پښتنو سر سخته دښمنو ډلو ته وسپارلي .<br><br>3: د امريکايي پلوه دولت ځيني فاسد اراکين چې په عين حال کې د شيطاني مثلث غړي دي او د شيطاني مثلث د ستراتيژي مطابق د پښتنو سره په سخته دښمنی مصروف دي بيا هم د امريکا سياسي ،اقتصادي او |

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پورته مقايسوي جدول څخه دا معلوميږي چې امريکا نا خود اګاه پر هغه لار روانه ده چې د خپل ځان لپاره لا نور مشکلات پيدا کوي او شيطاني مثلث ته ګټه رسوي .

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | نظامي ملاتړ څخه برخه من دي<br><br>4: امريکا د شيطاني مثلث د غړو د ښمنيو ډکو اطلاعاتو پر بنياد د پښتنو د کلتور ،رسم ،رواج او عنعناتو پر خلاف د پښتنو د مشرانو ، کشرانو ، نراو ښځو ،وړو او زړو ، کور ، مسجد ، واده او فاتحي بې عزتي کړيده .<br><br>ددې تولو ناکردو سره سره بيا هم پښتنو د امريکا پر ضد ملي قيام ندي شروع کړي .<br><br>د پښتنو د ناراضيتوب څخه په استفاده د شيطاني مثلث غړي وتوانيدل چې يو شمير پښتانه مجبور کړي چې د امريکا پر ضد انسرجنسي عمليات شروع کړي . |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# يولسم فصل

## په پښتونخواکې د پښتنو او سنی امنیتی ،اقتصادی او سیاسي حالت.

1: د پښتونخوا او سنی امنیتی حالت:

د افغانستان په دې څه د پاس د برش کلن بحران کې ټولو افغانانو ته سخت تاوانونه ورسېدل مخصوصا پښتنو په سیاسي ، اقتصادي او فرهنګي لحاظ خپل هر څه له لاسه ورکړل .

د محمد ظاهر شاه د سلطنت په اخیرو وختونو کې ځینو پښتنو د پښتو او پښتونولي د لرغوني قانون پرځای د ملت د نجات په خاطر خارجي وارد شویو ایډیالوژیو ته مخه وکړه .

چپ نظره سیاست مدارانو په لمړی سر کې د ملت د خوشبختی په شعار د مسکو او چین څخه سوسیالستي ایډیالوژي هېواد ته وارده کړل.

چپ نظره سیاست والو به ویل چې خپل ملت ته د دې لارې خدمت کول غواړی .

دی چپی سیاست مدارانو به ویل چی دوی مظلوم افغان ملت ته کور ،کالی او ډوډی برابروی ، خو کله چی دا چپی سیاست وال د خپل خارجی بادارانو په ملاتړ پر مظلوم افغان ملت حاکمان شول نو ددوی اعمال ټول افغان ملت ولیدل ،او ددوی د اعمالو څخه معلومه شول چی ددوی د خوا وارده شوی ایډیا لوژی د روسی استعمار یو کرغیړنه د غلامۍ حلقه وه چی د افغان نجیب ملت په غاړه کې ولویدل او ددی پردۍ ایډیالوژی واردونکی اکثره د شوروی د خونخواری امپراطورۍ ملګری او پلویان را ووتل .

د راست نظر سیاست مدارانو هم په لمړی سر کې د ملت د خوشبختۍ په شعار د ایران ،مصر ، سعودي عربستان او پاکستان څخه د اخوانیزم او وهابیزم ایډیالوژي هېواد ته واردې کړی .

راست نظره سیاست والو به ویل چې خپل ملت ته د دې لارې خدمت کول غواړی ،ددوی شعار دا وو چی ددوی لار د دین او دنیا د ښیګڼی لار ده . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې دا راست سیاست مداران د خپل خارجي بادارانو په مرسته پر مظلوم افغان ملت وا کمنان شول اعمال یې ټولو افغانانو ولیدل .اوددوی د اعمالو څخه معلومه شول چې دا واردی شوی ایډیا لوژی د ایرانی ،روسی او پاکستانی استعمارکرغیړنی د غلامۍ حلقی وی چې دافغان نجیب ملت په غاړه کې ولویدلی اوددی پردۍ ایډیالوژی واردونکی اکثره د روس ،ایران ،سعودی او پاکستان دخونخوارو استخباراتی سازمانو ملګری اوپلویان را ووتل .

د خارجي ایډیالوژیو پیروي او پر ملت باندې په زور د هغوی تطبیق ددولت او ملت ترمنځ جنګ منځته راوړي .

د ملت او دولت ترمنځ جنګ د افغانانو په کورنیو چارو کې د خارجي استخباراتو د مداخلې کولو موقع مساعده کړه .

د افغانستان په کورنیو چارو کې د خارجي استخباراتو د مداخلو په وجه پر افغانانو داخلي جنګونه تحمیل شول .

د افغانانو ترمنځ دداخلي جنګونو په سبب خارجیانو ته دا موقع مساعده شول چې مستقیما افغانستان اشغال کړي او خپل پلویان د ګوډاګیانو په حیث تش په نامه د افغانستان د واکمنانو په نوم د واک پر ګدۍ کېنوي .

پر افغانستان د خارجي یرغلونو نتیجه دا شوه چې پښتانه په خپل هېواد کې په پردیو پورې تړلیو ګوډاګیانو غلامان شول .

پښتانه د افغانستان د اصلي خاوندانو او د افغان ملت د مطلق اکثریت په حیث نن په خپل هېواد کې د یو محکوم ، مظلوم او غلام ملت په حیث په ډیرذلت ،خوارۍ ،محرومیت او درپدرۍ کې ژوند کوي .

کله چې د (11) سپتامبر تر پیښې وروسته امریکا او غرب د طالبانو رژیم مات کړي او د افغانستان چاري یې د روس او ایران پلویانو یعني د شمال ټلوالي ته وسپارلي او د ناټو قواوي په افغانستان کې میشته شوي د دې سره یو ځای د ناټو او منطقوي قواوو د ګټو ټکر منځته راغلي .

منطقوي قواوو د خپل ملي منافعو د ساتلو د پار دغرب په مقابل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



" شيطاني مثلث " ايجاد کړي .

د شيطاني مثلث غړي د خپل ګټو د دفاع په خاطر دي نتجي ته ورسيدل چې بايد په افغانستان کې د ناټو په مقابل کې مسلح مزاحمت ايجاد کړي .

د شيطاني مثلث غړي د افغانستان د تاريخ او عيني واقعيتونو د مطالعي وروسته دي نتجي ته ور رسيدل چې د ناټو په مقابل کې د مسلح مزاحمت توان تنها پښتون ملت لري ، همدا علت شو چې دوی د ناټو په مقابل کې د پښتون ملت د ياغي کولو پلان طرحه او عملي کړي .

د پښتنو ضد شيطاني مثلث غړو د امريکا پر ضد د پښتنو د ياغي کولو د استخباراتي پروژي عمده برخه د مثلث داخلي ضلعي يعنې په شوراي نظار ، جمعت اسلامي او نورو حلقو کې د دوی اجنټانو ته وسپارل .

هغه پښتانه چې د حکومت ترکنترول لاندي سيمو کې ژوند کوي د هغو مشران د طالب او القاعده په نوم د شيطاني مثلث د داخلي ضلعي يعنې په شوراي نظار ، جمعت اسلامي او نورو حلقو کښې د شيطانی مثلث د اجنټانو د خوا بندي شول ،بې عزته شول او حتي ووژل شول ، جايدادونه يې په زوره ونيول شول ،د کورونو څخه وفرار ته مجبور شول . . .

د شيطاني مثلث د توطيو پر اساس نن ورځ چېري چې پښتون او سېږي پر کورونو يې بمباري کېږي ، د واده پر مراسمو يې بمباري کېږي ، د خيرات پر غونډو يې بمباري کېږي ، سپين ږيري ، ځوانان ، ښځي او ماشومان يې وژل کېږي . . .

يوزيات شمير پښتانه مجبورشول چې په شورای نظار ،جمعيت اسلامي او نورو حلقو کې د شيطانی مثلث د اجنټانو د ظلم څخه د حکومت ترکنټرول لاندې ساحې څخه هغې ساحې ته فرارو کړي چې د کابل حکومت د کنترول د ساحې څخه د باندې ده .

د شيطاني مثلث د پلان مطابق د دې لپاره چې پښتني ټولنه بې سرپرسته او بې مشره کړي ، دوی تروريستانو ته امرکړی دی چې د پښتون ملت د قوم مشران ، دملی فکر لرونکی ملايان ، روشنفکران او د پښتنو د شملې سړي د امريکا د جاسوسانو په نوم په ډېرې بې رحمۍ سره وژني ترڅو ملت بې سر پرسته شي ، د وهم او ډار د سببه د تروريستانو په مقابل کې راپورته نشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيطاني مثلث اجنټو تروررستانو د خپل بادارانو په امر د پښتنو مشرانو ، کشرانو ، ملايانو ، روحانيونو ، روڼ اندو اونورو د شملې د خلکو د وژنې لړۍ ته په ډېره بې رحمۍ تر نن پورې هم دوام ورکړی دی .

نن ورځ د امو او باسين ترمنځ چېري چې پښتون اوسيږي پر کورونه يې بمبارېږي ، د واده پر مراسمو يې بمباري کېږي ، دخيرات پر غونډو يې بمباري کېږي ،دقوم مشران ،سپين ږيري ،روڼ اندي ،ځوانان ،ښځې او ماشومان يې ديو منظم پلان مطابق وژل کېږي .

لنډه دا چې د دې مظلوم ملت دښمنان غواړي چې مظلوم پښتون ملت دخدای(ج) د مځکې د مخ څخه د تل لپاره ورک کړي ،يا په بله وينا دشيطاني مثلث د غړو د خوا د مظلوم پښتون ملت عملي نسل وژنه او قتل عام روان دي .

د پنجاب او تهران جاسوسان د ملا او عالم په شکل کې د يو منظم پلان مطابق د پښتنو د بچيانو ښونځي سوځوي تر څو پښتانه د تعليم او علم د رڼا څخه محروم کړي .

دا خبره ډېره د توجه وړ ده چې پاکستاني ملا د پنجاب د اينجونو او هلکانو ښونځي نه سوځوي ، د پنجاب او تهران اينجونو او هلکانو ته د عصري تعليم اجازه شته ،خو د دوی اجنټان په ټوله پښتونخوا کې لکه دير ، صوات کنړ ، ملاکنډ ، پيښور ، ننګرهار ،لغمان ، قندهار ،کويټه ، هلمند ،ژوب ، کوټه ، پکتيا ، خوست ، وزيرستان ،بلخ ،فارياب ،تخار ،هرات ،کابل ،کندز اودپښتونخوا په نورو ځايونو کې د پښتنو د بچيانو ښونځي سوځوي .

د پنجاب او تهران اجنټان د ملا او طالب په شکل کې د يو منظم پلان مطابق په ټوله پښتونخوا کې د پښتنو قومي مشران په شهادت رسوي ترڅو پښتون ملت بې سرپرسته شي او ددوی غلامۍ ته سر ټيټ کړي .

د پښتنو ضد شيطاني مثلث غړي د پښتنو پر سيستماتيک قتل عام هم صبرنکوي ،هغوی د يوه طرفه د مظلوم پښتون ملت نسل وژني ته په ډېره بې رحمي دوام ورکړيدي او د بله طرفه په مسلسل ډول نړيوالو ته د استخباراتي ، ډپلوماتيکو او ميډيا د چينلو د لارې پيغامونه ورلېږي چې ټول پښتانه طالبان دي او طالبان بيا ټول د القاعده تروريستان دي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتيا خبره داده چې د بنياد پرستۍ ايجاد ، تشويق ، تربيه ، تړاين او مسلح کول د شيطاني مثلث د غړو خپله پروژه ده ، د نړۍ د تروريستانو مشر اسامه بن لادن ، دده انډيوالان او د نورې نړۍ تروريستان د برهان الدين رباني او احمد شاه مسعود په حکمرانۍ کې د ايران او پاکستان د استخباراتو په مرسته د سوډان او ټولې نړۍ څخه افغانستان مخصوصا د پښتنو د استوګنې سيمو ته راوستل شول او په دې هېواد کې د استوګنې اسناد ورته برابر شول .

پس موږ ويلای شو چې د نړۍ تروريستان د شيطاني مثلث د پروژو پر اساس د پښتنو په کليو او بانډو کې د پښتنو د ارادې پرخلاف په زوره مېشت شوي دي .

د پورته حقايقو پر بنياد موږ ويلای شو چې د مظلوم پښتون ملت پر ضد د دوی د ازلي دښمن يعنې شيطاني مثلث له خوا داسې ظالمانه اعمال او توطيې انجام شوي او لا رواني دي چې د دوی د شيطاني توطيو په سبب نن عملا د پښتون مظلوم ملت نسل وژنه روانه ده او ټول پښتون مظلوم ملت د نړيوالو په نظر طالب او القاعده دي .

د پښتون مظلوم ملت ازلي دښمن شيطاني مثلث ټول پښتانه نړيوالو ته دطالب او القاعده په نوم معرفي کړيدي همدا علت دی چې نړيوال نن د هرپښتون په قتل خوشحالېږي ځکه چې د نړيوالو په نظر هر پښتون طالب او القاعده دی .

د مظلوم پښتون ملت دښمنان غواړي پښتانه د خدای(ج) د مځکې د مخ څخه د تل لپاره ورک کړي .

نن په افغانستان کې د پښتنو دين ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، دهېواد مځکنۍ بشپړتيا ، ملي خپلواکي ، ملي ګټې او ملي نواميس او داسې نور اسلامي ، ملي او پښتني ارزښتونه په جدي خطر کې دي ، ټول پښتون ملت په مرګ محکوم دی او د پښتون مظلوم ملت ټول وژنه دوام لري ، نو په دې اساس دا د هر رښتني پښتون اسلامي او پښتني فرض بلل کېږي چې د مظلوم پښتون ملت د پورته ذکر شويو ارزښتونو پر دفاع د سر او مال په قيمت ننګ وکړي .

د پښتنو لپاره نن د ننګ وخت دی ، څوک چې پرخپل دين ، سر ، ناموس ، عزت او مال ننګ نه کوي د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس هغه شخص بې ننګه دی .

کله چې مغلو د نن په شان د پښتنو سر ،ناموس ،عزت او مال لوټولې نو خوشال بابا پښتانه د ننګ خواته رابلل او د بې ننګۍ څخه يې منع کول او داسې يې فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله هیڅ لیدلی نشي په دامنځ کې
یا مغول له ملکه ورک یا پښتون خوار
په دا هسې وخت چې وخت د نام او ننګ دی
دا بې ننګه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه په توره ښه دي تر مغلو
که په پوهه پښتانه وي څه هو ښیار
اولسونه چې سند یو بله یو کاه
پادشاهان ورته سجود کاندي اختیار
که نفاق، که اتفاق که جهل پوهه
د هر یو په خپل خپل لاس ده هره چار
افریدي مهمند شینواري ګوره څه کا
د مغلو لښکر پروت پر ننګرهار
زه تنها په کې په غم د نام او ننګ یم
یوسفزي په فراغت په کښت و کار
اوس چې هسې بې ننګي بې ناموسي کا
عاقبت به ور ښکاره شي خپله چار
مرګ زما په پوهه ښه تر دي ژوندون دی
د عزت سره چې نوي زیست روزګار

د پورته عیني واقعاتو او دلایلو پر اساس موږ ویلای شو چې :

ګرانه پښتونخوا ، دا د پښتون ملت د ګراني مورد محبته د که غیر نن د مظلوم پښتون ملت د پاره بلا تشبه سوردوزخ ګرځیدلی دی ، او هره لحظه مظلوم پښتانه پکښې سوځیږي .

## 2: د پښتنو دا روانه غمیزه چا او څنګه اغاز کړه ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر افغانستان د شوروي او امریکا یرغلونو ،د پاکستان ،ایران ،عربو او داسې نورو لیرو او نږدې همسایه هېوادونو مداخلو او د پښتنو روشنفکرانو ،قومي مشرانو او ملی فکره ملایانو بې تفاوتۍ پښتانه په نني حالت مبتلا کړل .

دا په نړیواله سطحه منل شوی فرمول دی چې استعمارګران او اشغالګران د یو هیواد د غلام کولو په خاطر په اکثره مواردو کې دا کوښښ کوی چې د دوی د خوا په اشغال شوی هیواد کې د خپل استخباراتو اجنټان ،ټیټ همته غلام پیشه ګان او ګوډاګیان حاکمان کړی او یا اقلیت پر اکثریت حاکم کړي .

د دې فرمول په اساس د اقلیت نماینده ګان کله هم د خپل خارجي بادار په مقابل کې بغاوت نشي کولای ځکه چې پر اکثریت د حکومت کولو لپاره دې د خپل خارجي بادار مرستې ته اشد ضرورت لري او دا مرسته همیشه د غلامۍ په قیمت وي .

په اشغال شوی هېواد کې د پردیو د ګوډاګي رژیم وظیفه همیشه داوي چې د خپل بادار ګټې به ساتي او د هېواد د اکثریت بر خلاف به سازشونه کوي تر څو هغه په اتفاق نشي او خپل د هېواد استقلال بیا د غاصبانو څخه ونه ګټي .

زموږ د ګران هېواد په معاصر تاریخ کې هم څو داسې ناوړه پېښې منځته راغلي دي ، شاه شجاع انګریزانو د خپل اجنټ په حیث د کابل پر تخت کېنوي ،د سقاو زوی حبیب الله د انګریزانو په مالی استخباراتی او سیاسي ملاتړ کلخانی ته ننوتۍ ،د تیرو دریو لسیزو راهیسی ،شورویانو ، ایرانیانو ، پاکسانیانو او امریکا یانو خپل پلویان د وسلو او پیسو په زور پر مظلوم افغان ملت د ګوډاګی واکمنانو په حیث وتپل .

د معمول مطابق د پردیو ددی ګوډاګیانو واکمنۍ او نظامونه زموږ د تاریخ بدنام ترین ،بې ثباته ،نامشروع نا معقول د پښتنو او حتي نورو اقلیتونو ضد واکمنۍ او نظامونه شمیرل کیږی .

په ډېر افسوس سره باید ووایو کله چې امریکایانو د طالبانو رژیم ته ماتي ورکړل دوی هم د روسي د اشغال ګرانو او ایران پر پله روان شول او د افغانستان چاري یې د دوهم ځل لپاره د شوراي نظار ، جمعت اسلامي ، حزب اسلامی ،حزب وحدت او جنبش ملي ماتي خوړلو او بدنامو ډلو ته و سپارلي کومو چې ځانونه د هېواد د اقلیتونو نمایند ګان بلل .

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمالي ټلواله په کل کې هغه ناکامه او بدنامه ډله وه چې په نوییمه لسیزه کې د روس او ایران د خوا جوړشوي ایتلاف په واسطه پر کابل او نور افغانستان مسلطه شوه او د خپل ځو کلني واکمنۍ په وخت کې یې د افغان نجیب ملت او دولت هر څه لوټ کړل .

دا ټلواله د افغان نجیب ملت په وړاندي تر بل هر چا بدنامه او د ملت د خوا رټل شوي ډله وه .

د طالبانو تر ماتي وروسته امریکا د افغان نجیب ملت سرنویشت یو ځل بیا دي بدنامي او ماتي خوړلي ډلي ته وسپاري .

امریکا په خپل دي غیرعادلانه او نادرست عمل هم د افغان نجیب ملت د رنجونو لړۍ اوږده کړل او هم یې خپل پر خلاف د یو نوي جنګ د اغاز لپاره ښه موقع مساعده کړل .

شمالي جبهه په راس کې شوراي نظار او جمعت اسلامي چې دا ځل د امریکا په مرسته په کابل کې پښې ټینګې کړي نوا هسته اهسته یې د امریکا په زور د هېواد ولایتونه هم ترخپل کنترول لاندي راوستل .

په شوراي نظار ،جمعت اسلامي او نورو حلقو کې د شیطانی مثلث متعصبو استخباراتي اجنټانو په ټول هېواد کې د شیطاني مثلث د پلان مطابق د دولتی قدرت څخه په استفاده د پښتنو څخه د غچ اخستلو کاراوبارشروع کړي .

په لس ګونو زره پښتانه یې د طالب او القاعده په نوم بندیان کړل ، مالونه یې ځني غصب کړل ،یو شمېریې مړه کړل او څه یې د پیسو په بدل کې نن ازاد خو سبا یې بیا بندیان کړل ، چا چې به د رشوت ورکولو لپاره پیسي نه درلودي هغه به یې امریکایانو ته د خطرناک طالب او القاعده په نوم تسلیم کړي او هغوی لا تر اوسه په بګرام او ګوانتنامو کې د کلنو راهیسی بندي ساتلي شویدی .

امریکایانو د شورای نظار او جمعیت اسلامي خبرې ځکه منلي چې د طالبانو پر ضد په جنګ کې د هغوی ملګري وو او هم یې د حکومت ټولي امنیتي چارې په لاس کې وې .

په شورای نظار ، جمعیت اسلامي او نورو حلقو کې د شیطانی مثلث د اجنټانو له خوا د پښتنو دا د بند او بندي ګیری ، توهین او ځورونې لړۍ جاري وه او پای یې نه درلوده او دا لړۍ نن هم جریان لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په شورای نظار ، جمعیت اسلامي ، حزب اسلامي او نورو حلقو کې د شیطانی مثلث د اجنټانو له خوا د پښتنو توهین او ځورونه د ایران او پاکستان د استخباراتو د یو منظم پلان له مخې انجامېږی ځکه چې د ایران او پاکستان استخباراتو نه غوښتل او نه غواړي چې د امریکا او غرب نظامي قواوې په افغانستان کې پاتې شي ځکه چې د ذکر شوو قواوو موجودیت په افغانستان کې ایران او پاکستان خپل ملي امنیت ته خطر ګڼي ،او دبله طرفه په افغانستان کې د غربی قواوو موجودیت ،دا هیواد د ایران او پاکستان دنفوذ د ساحی څخه باسی .

که د امریکا او غرب قواوې په افغانستان کې موجودې وي نو افغانستان د تل لپاره د ایران او پاکستان د نفوذ د ساحې څخه خارجېږي .

د پورته دلایلو پراساس د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانو د خپل هیوادونو د ملی ګټو ددفاع په خاطر یو ضد پښتون او ضد امریکا "شیطاني مثلث" ایجاد کړی، چې د دې شیطاني مثلث یوه ضلع ایران بله ضلع یې پاکستان او دریمه ضلع یې په افغان دولت او ملت کې د ذکر شوو هېوادونو د استخباراتو اجنټان دي .

دې نوي ایجاد شوي شیطاني مثلث وظیفه واخیستل چې په افغانستان کې د غرب قواوو ته نظامي مزاحمت او مشکلات پیدا کړي.

د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانونه د افغانستان د تاریخ په حواله په دې عقیده وه او دي چې په افغانستان کې د امریکا او غرب په مقابل کې هغه وخت قوي نظامي مزاحمت ایجادیدا یشي چې پښتانه د خارجیانو په مقابل کې را پورته کړل شي .

ذکر شویو استخباراتي موسسو په افغانستان کې خپلو اجنټانو ته وظیفه ورکړل چې پښتانه باید د امریکا او غرب په مقابل کې را پورته کړل شي چې د دې خاینانه وظیفي عمده رول په جمعت اسلامي ، شوراي نظار ،حزب اسلامي او داسی نورو حلقو کې د هغو کسانو پر غاړه ورکول شول چې د شیطانی مثلث اجنټان وه، ځکه چې د یوه طرفه د دولت مهمي چوکۍ د دې احزابو په لاس کې وي او د بله طرفه د جمعت اسلامي او دنظار شورا غړو د پښتنو سره بې پایه دښمني او نفرت درلودي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوراي نظار او جمعيت اسلامي ډلو هم د هغه بې پايه تعصب او کرکې پر اساس چې د پښتنو سره يې لري پر پښتنو داسې ظلم او ستم شروع کړی چې د افغانستان په ليکلي تاريخ کې کله هم يو اشغال ګر پر پښتون قوم دومره ظلم نه وو کړي .

دشيطاني مثلث افغاني اجنټانو د پښتنو د ودونو پر خوشحاليو په امريکايانو بمبارۍ وکړي ، د پښتنو پر جنازو يې د امريکايانو پواسطه بمباري وکړي ، دپښتنو مړي او ژوندي ، نر او ښځې يې په امريکا يې سپيو بې عزته کړل ، د پښتنو مشرانو په سر يې د قوم په مخ کې توري کڅوړې ور واغوستې ، د پښتنو په کورونو يې خارجيا ن ننه ايستل لنډه دا چې د شيطاني مثلث اجنټانو په خپل استخباراتي او وپراتيفي لوبو د پښتون ملت په سر ،ناموس ،عزت او مال داسې لوبې وکړي چې په تاريخ کې يې بل مثال نشته .

په دې ډول دشيطاني مثلث غړو د خپل طرحه شوي پلان مطابق وکړای شول چې په خپل او پراتيفي لوبو لومړي پښتانه ددولت څخه نارض او وروسته بيا پښتانه او امريکايان په يو خطرناک او د پښتنو لپاره تباکونکي جنګ کې سره واچوي .

پر پښتنو دا اوسني د غلامۍ ، ذلالت او مريتوب حالت د شيطاني مثلث د خوا راوستل شوي دي .

د شيطاني مثلث د غړو لپاره د پښتنو او امريکا ترمنځ جنګ يو طلايي او ډېر ګټور جنګ دي .

خو د پښتنو په تاريخ کې دا د دوی تر ټولو خيرن او کرغېړن جنګ دی چې پر دوی تپل شوی دی ځکه چې دوی د خپل ملي ګټو پر خلاف د خپل هېواد او ولس د ازلي دښمنانو يعنی ايران او پاکستان د ګټو لپاره جنګېږي .

دشيطاني مثلث غړو پر پښتنو داسې جنګ تحمل کړی دی چې دوی بايد مجبورا د خپل ملي ګټو پرخلاف او د خپل ازلی دښمنانو يعنی ايران او پاکستان په ګټه وجنګېږي .

دادشيطاني مثلث داوپراتيفي لوبو جال دي چې پښتانه او امريکا دواړه په کې راګير شوي دي .

په افغانستان کې به دا جنګ او ويني تو يول تر هغه وخت پورې جاري وي ترڅو پښتانه او امريکايان دواړه په دې پوه شي چې په دې وخت ، شرايطو او جعرافيه کې دوی دواړه يو د بل طبعي ملګري او دوستان دي او د دواړو مشترک دښمنان د شيطاني مثلث غړي دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا باید پښتانه درک کړي او د افغان ملت د مطلق اکثریت په حیث د هېواد سیاسي ،اقتصادي او ټولنیزي چاري باید د دوی د مسلم حق په حیث دوباره دوی ته وسپاري او پښتانه هم باید په دي پوه شي چي په نني شرایطو کي دوی د امریکا او غرب د مرستو بغیر د شیطاني مثلث د غرو څخه خپل استقلال ، ملي حاکمیت او مځکنی بشپړتیا نشي ساتلای . . .

د عقل او وخت تقاضا داده چي پښتانه د نړۍ په دي ستراتیژیکه جغرافیه کي د امریکا او غرب د طبعي ملګرو او دوستانو په حیث د دوی مشروع ګټي وساتي او د غرب په مرسته د خپل هېواد استقلال ، مځکنی بشپړتیا ، ملي حاکمیت ، تل پاتي سوله ، ملي ګټي او ملي نوامیس د خپل حریثو همسایه ګانو څخه وساتي .

نتیجه داده چي پر پښتون مظلوم ملت دا روان ناورین د پښتنو او پښتونخوا ازلي دښمنانو یعني د پورته ذکر شوي شیطاني مثلث غړو راوستلي دي ،په لنډ ډول داسی ویلایشو چی:

د شیطانی مثلث غړو پښتنو ته د دوی د ګرانی مور پښتونخوا د محبته ډکه غیږ په دوزخ بدله کړیده .

## 3: پښتون نړۍ ته چا د طالب او القاعده په نوم معرفي کړی؟

کله چي د پښتون ضد شیطاني مثلث غړي پردي بریالي شول چي د پلان مطابق یو شمیر پښتانه مجبور کړي چي نا خود اګاه د خپل ملي ګټو پر خلاف او د خپل ازلي دښمنانو د ګټو د تامین په خاطر په افغانستان کي د خارجي قواوو پر ضد یو ډیر نا انډوله جنګ شروع کړي نو د دي جنګ مشرتوب او رهبري خارجي استخباراتو د طالبانو په نوم د ای ایس ای او ایراني استخباراتو تربیه شوو اجنټانو ته پلاس کي ورکړل ، او دا ډله یي وګمارل چي انسانان د نیلون په تار حلال کړي ،د انسانانو سرونه غوڅ کړي او پرنس یي ورکړېدي ،انسانان په ژوندني د ډېر عذاب په خاطر د نیلون په تار پرنس دوی ټوټي کړ ، متعلم ، معلم ، ملا ، د قوم مشر ، مامور ، ډاکتر او نرس ووژني ،ښونځیو او روغتونون ته اور واچوي چي په اکثره مواردو کي قران مجید هم په کي سوځول کېږي ،د لویو لارو پلونه منفجر کړي ،د خلکو د ګڼي ګوڼي په ساحو حتی په مساجدو او جنازو کي انتحاري چاودني وکړي چي یو زیات شمېر بې ګناه ملکي انسانان په کي شهیدان کېږي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه دا چې د خارجي استخباراتو د خوا تربيه شوي او ګمارل شوي طالب نما اجنتان د پورته ذکر شوو بدو اعمالو په کولو نړۍ ته د پښتنو په نوم داسې پيغام استوي چې د ډېر وحشت نه د انسان د صورت ويښتيان شخ درېږي . . .

د پښتنو ضد شيطاني مثلث غړي ددوی ميډيا او د نړۍ سره ددوی د ارتباط ټول رسمي چنلونه نړۍ ته دا پيغام ورکوي چې پښتانه ټول طالبان دي او طالبان د القاعده د تروريستي سازمان يوه فعاله اونه بيليدونکې برخه ده . . .

د پښتنو ضد شيطاني ملت د زهرا ګينو تبليغاتو نتيجه مورډ ريچرډ هولبروک( د افغانستان لپاره دامريکا خاص نماينده ) په بيان کې مشاهده کړل چې هغه وويل ( د پښتنو په هر کورکې يو طالب شته . . . ) د ښاغلي هولبروک د دې خبرو څخه دا په ډاګه معلوميږي چې د شيطاني مثلث د پښتنو ضد زهرا ګينو تبليغاتو د نړۍ د مشرانو پر اذهانو څومره منفي تاثير کړيدي .

دا چې د پښتنو ضد شيطاني مثلث د پروپاګند ماشين و نړۍ ته پښتانه د طالبانو ، القاعده او تروريستانو په نوم معرفي کوي ، ددوی داعمل د پښتنو پرضد د نه بخښني وړ عمل او د پښتنو دبدنامۍ لپاره يوه ستره منطقوي توطيه ده ،ځکه چې په يويشتمه پيړۍ کې د نړۍ متمدن قومونه دداسې وحشي ډلې يا ملت وجود چې پورته ذکر شوي ظالمانه اعمال سرته رسوي د مځکې پر مخ زغملای نشي ، همدا علت دي چې د تيرو لسو کلنو راهيسې په ټوله پښتونخوا کې د مظلوم پښتون ملت واړه ،زاړه ، ښځې او نر په ډېره بې رحمۍ ددوی د دښمنانو د خوا په قتل رسول کېږي او عملا د دې مظلوم ملت پر ضد نسل وژنه روانه ده ، خوبيا د نړۍ هيڅ يوه سازمان د دې مظلوم ملت دبشري حقوقو ددفاع خبره پر خوله نده راوړې ځکه چې نړيوالو ته خو د شيطاني مثلث د غړو د خوا ټول پښتانه طالبان ، القاعده ، تروريستان او د انسانيت او مدنيت دښمنان معرفي شوي دي ، د تروريستانو پر مرګ او قتل نړيوال خوشحاله کېږي او د هغوی وژنه يو برېا ګڼي .

همدا علت دي چې د تيرو لسو کلنو راهيسې هره ورځ په لس ګونو پښتانه د نړۍ د تروريستانو او خارجي قواوو د حملو په نتيجه کې وژل کېږي او عملا د مظلوم پښتون ملت نسل وژنه روانه ده ،خونړۍ دمظلوم پښتون ملت دا نسل وژنه قتل عام نه بولي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کله چې طالبانو د یکاولنګ په ولسوالۍ کې خپل یو شمیر هزاره مخالفین ووژل ،نړۍ دطالبانو دا عمل د هزارګانو د قتل عام په نوم ومنلی او ټولې غربی نړۍ هزاره وګړوته دسیاسي پناهندګی دروازې خلاصې کړې ځکه چې ددوی په نظر د هزاره وګړو ژوند ته خطر متوجه وو .

دجنرال مالیک او طالبانو په معامله کې او د امریکا د خوا دطالبانو د سقوط په پیښو کې تقریبا ځلوېښت زره پښتانه د شمالي ټلوالی پلاس کې جنګی اسیران شول .

دنړیوالو قوانینو پراساس دجنګی اسیرانو ژوند محفوظ دی ،خو شمالي ټلوالی دا تقریبا ځلوېښت زره جنګی اسیران تقریبا ټول ووژل ،مګرنړیوالی ټولنی او افغان دولت ددی جنګی اسیرانو وژنه قتل عام ونه بللی .

دطالبانودرژیم تر سقوط ورسته دهیواد په شمال کې د لکونو پښتنو پرسر ،ناموس ،عزت اومال دشمالی ټلوالی د خوا تجاوز وشو ،اودا پښتانه مجبور شول چی خپل کورونه او جایدادونه پریږدی او فعلاپه هیواد کې مخصوصاً د کندهار په ژړی ،دهرات په شیدایی او د مسلخ په کمپونو کې د مهاجرو په حیث ژوند کوی ،خوپر مظلومو پښتنوددی ظلم په باره کې افغان دولت او ټوله نړۍ چپه خوله پاتې ده.

## 4: د پښتنو اقتصادی حالت:

دتیرو دیرشو کلنو جنګ او نا ارامۍ لکه څنګه چې د پښتنوسیاسي ،اوټولنیز ژوند برباد او تبا کړی په همدی ډول ئی د پښتنود اقتصادی ژوند زیربنا دهرڅه سره تبا اوبرباد کړل .

نن ورځ د ټولی پښتونخوا پښتانه په اقتصادی لیحاظ د منطقی تر بل هرملت خوار اوغریب دی .

دپښتنو خوار او ضعیف اقتصاد دتیردیرش کلن جنګ د اور په لمبو کې وسوځول شو .

نن د پښتون ولس مطلق اکثریت د فقر تر سطحی لاندی ژوند کوی .

دپښتنو ځوانانو اکثریت په پټه بیکاری مصروف دی .

دپښتنو ځوا نان په ښار کې جواری ،دنیشکر اوبه ،ایسکریم ،پوکانی،دست فروشی،پروړیا بوس ،سکاره ،لرګی اوداسی نور ارزانه شیان خرڅوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بې نقشې کورونو او خيمو کې پښتانه اوسيږي .

جوالي ګيري ،جوی کنی ،دخښتو جوړول ،روزمزدوری ،پيره داری ،پياده توب ،چپراستی توب ،موټروانی ،موټران خالی کوی اودی ته ورته نوری مزدوری د پښتنو حق ګرځيدلی دی .

زيات شميرد پښتنو بچيان د ښونځی پر ځای د ډيرانونو څخه زاړه پلاستيکان ،کاغذان او نور شيان ټولوی ،د خلکو بوټونه رنګوی ،موټران مينځی اوداسی نور شاکه کارونه کوی .

په دولتی ادارو کې هغه پښتو ژبوته چی د جمعت اسلامی او شورای نظارغړی دی او يا هغه چپلوسانو او غوړه مالانوته دولتی لوړی چوکۍ ورکول کيږی کوم چی تنها د ځان د جيب ډکولو په غم کې دی او د پښتنو د غم اودرد سره هيڅ تعلق نه لری .

<u>لنډه دا چی د پښتون ملت مطلق اکثريت نن د فقر ترسطحی لاندی ژوند کوی ،چی روغتيايی او تعليمی چاری يی هم ددوی د اقتصادی حالت سره برابری دی .</u>

## <u>5 : د پښتون ملت ننني سياسي حالت:</u>

د پښتنو او پښتونخوا د ليکلي تاريخ څخه دا په ډاګه ښکاري چې د پښتونخوا سياسي حاکميت هميشه د پښتون ملت پلاس کې وو .

که څوک د دې منطقي تاريخ مطالعه کړي دا په ډاګه تری معلوميږي چې د دې منطقي تاريخ د پښتنو د تاريخ څخه بغير نامکمل دي .

د امو او اباسين ترمنځ پروت پښتون ملت د تاريخ په اوږدو کې د دې منطقې د پارد ثبات او توازن مهمترين عنصربلل شوي دي .

ددې منطقي بې ثباتي د پښتون ملت د بې ثباتۍ سره تړلي ده او د دې منطقي ثبات او امنيت د پښتون ملت د ثبات او امنيت سره تړلي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشريت د تاريخ د مطالعي څخه دا معلوميږي چې د ملتونو تاريخ فراز او نشيب لري ،د پښتون ملت تاريخ هم د دې امر څخه مستثني ندي کله دوی په خپل خاوره کې حاکمان وه ، کله يې بيا د خپل هېواد د سرحداتو څخه دباندې د نورو قومونو مخکې تر خپل واکمنۍ لاندي راوستلي دي .

کله کله بيا داسې هم شوي دي چې د پښتنو هېواد د پردو تر يرغلونو لاندي راغلي دي او د کلنو لپاره پښتانه د خپل هېواد دخپلواکۍ په خاطر په ملي ازادي غوښتونکو مبارزو مصروف پاتي شوي دي .

د افغانستان د دې نږدې معاصر تاريخ د شروع يعني د لوي احمد شاه بابا د سلطنت راپه دېخوا پښتانه هميشه د افغانستان حاکمان وه .

که موږ دلته په ډېر لنډ ډول د محمد ظاهر شاه د سلطنت د وروستيو کلنو راپه دې خوا د افغانستان او پښتنو حالات سرسري مطالعه کړو نو دا حقيقت څني معلوميږي چې د افغانستان اقتدار هم د پښتنو په پلاس کې وو او د اقتدار اپوزيسيون هم د پښتنو پلاس کې وو ، يعني د هيواد حزب اقتدار او حزب اختلاف دواړه هميشه د پښتنو پلاس کې وه .

په بله وينا د سلطنت په وجود کې پښتانه د افغانستان حاکمان وه ، خود سلطنت پر خلاف راست او چپ راديکال سياسي سازمانونه ، اشخاص او دنظام څخه ناراضي روڼ اند ی هم پښتانه وه چې دسلطنت پر ضد يې مبارزه کول .

دا حالت موږ داسې هم تبصير کولای شو چې د افغانستان د معاصر تاريخ په دوران کې د هېواد حزب اقتدار او حزب اختلاف دواړه هميشه د پښتنو پلاس کې وه .

د محمد نادرخان د کورنۍ د حاکميت د پاي ته رسيدو سره سم په هېواد کې کورني جنګونه ،دخارجيانو مداخلي او دخارجيانو دخوادهيواد اشغالونه شروع شول .

که تر ديرش کاله جنګ وروسته نن ورځ دهېواد حالاتو او په ټولنه کې د پښتون ملت سياسي ، اقتصادي او ټولنيز حالت ته نظر واچول شي نو لاندي نتيجه لاس ته راځي .

الف: دعليحضرت محمد نادرشاه دکورنۍ دواکمنۍ پای:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محمد نادرشاه د کورنۍ حاکمیت د پښتنو د رادیکال اپوزوسیون یعنی دخلک دیموکراتیک ګوند دنظامی کودتا په واسطه د منځه ولاړي .

دخلک دموکراتیک ګوند تهداب د شوروی اتحاد داستخباراتو په اشاره او ملاتړد شوروی د واردی شوی سوسیالستی ایډیالوژی په پیروی په افغانستان کې اینبودل شوی وو .

دخلک دموکراتیک ګوند دواکمنۍ سره یو ځای په هیواد کې دخارجیانو مداخلی ، کورني جنګ او روانه غمیزه اغاز شول .

ب: پښتانه دحزب اقتدار او حزب اختلاف څخه ایستل شوی دی .

په دي تیرو څلور لسیزو کې د پښتنو په منځ کې دخارجی واریداتی ایډیالوژیو پیرودري راست او چپ انقلابي ( دخلق دموکراتیک ګوند ، اسلامي حزب او د طالبان اسلامي تحریک ) سازمانونه دخارجي استخباراتو په ملاتړقدرت ته ورسیدل او بالاخره د خپل نړیوالو دوستانو د سازشونو او مستقیمو مداخلو ،په سیاسي او اداري چارو کې ددوی د بې تجربه ګۍ او په ټولنه کې ددوی د واردو شویوو انقلابي نظریو د نه قبولیت پواسطه د سختو ماتو سره مخامخ شول .

ددولتی قدرت د رهبرۍ او اداری په چارو کې دپورته ذکرشوو سازمانو د بی تجریبګی ،او دهیواد درهبرۍ په چارو کې ددوی دخارجی بادارانو د مداخلی په سبب ددوی داستقلال نه درلودل ،ددی سبب شول چی دری سره سازمانونه ناکامه شی ،او ددوی د ناکامه پالیسیو په سبب پښتون ملت ته هم نه جبران کیدونکی تاوانونه ورسیدل .

نن پښتون ملت عملا ددولتي اقتدار او حتي داپوزیسیون د موقف څخه هم ایستل شوي دي او په دولتي اقتدارکې صرف سمبولیک نقش لري ،دولتي اقتدار عملا د هېواد داقلیتونو مخصوصا د تاجکو او هزارو پلاس کې دي .

د هېواد د اقلیتونو یوه ډله دولتي اقتدار سمبالوي او خپل یو شمېر ملګروته یې په نمایشي ډول ددولت د اپوزیسون رول ور په غاړه کړیدي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل په دې چالاکانه عمل دهېواد د اقلیتونو مشران د خپل خارجي دوستانو او مشاورینو په مرسته وتوانیدل چې په ډېره هوښیارۍ او مهارت پښتانه دهېواد د قانوني حزب اقتدار او حزب اختلاف دواړو څخه محروم کړي .

## ج: پښتون ملت نن هیڅ سیاسي نمایندګی نه لري .

نن ورځ پښتون ملت یو داسې سیاسي سازمان نه لري چې دولس دخوا د قبول وړ وي او دا سازمان په ملي او نړیواله سطحه د ټول پښتون ملت د ګټو څخه دفاع وکړي او د ټولنې په دې بحراني حالت کې د پښتنو نمایندګي وکړای شي .

د حزب دموکراتیک خلق سازمان په مطلق ډول متلاشي شو او تشکیلات یې د منځه ولاړل .

د ګلبدین حکمتیار اسلامي حزب تقریبا متلاشي شوي دي او یو څو محدود افراد یې د ایران او پاکستان د استخباراتو د اجیرانو په حیث ، دهغوی په لوژیستیکي او مالي ملاتړ او لارښوونه محدود سیاسي او نظامي تحرکات لري . . .

د (11/9) تر پیښې وروسته امریکا په افغانستان کښې دطالبانو رژیم د منځه یوړی او په ډېر غیر عادلانه ډول یې دافغانستان ددولت واک د ایران د استخباراتو ملاتړي یعنې د نظار شورا او اسلامي جمعت ، حزب وحدت او جنبش ملي ته وسپاري .

د طالبانو د رژیم تر ماتې وروسته د طالبان لومړي درجه مشران پاکستان ته وتښتیدل او نور یې پر خپل کورونو کېناستل .

## د : پښتانه نن د پردیو د ګټو د پاره جنګیږی .

دا یو ښکاره حقیقت دی چې په نړۍ کې اکثره جنګونه همیشه د ګټو پر سر کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تیرو څلورو لسیزو کې چې زموږ په هیواد کې کوم جنګونه منځته راغلل دا هم د ګټو پر سررا منځته شول .

د شرق ،غرب ،منطقی او همسایه هیوادونه د خپل ګټو په خاطر زموږ په هیواد کې یو دبل سره په جنګ مصروف دی .

په بله وینا پردی هیوادونه زموږ په غولی کې دګټو پرسریو د بل سره په جنګ اخته دی ، خو په دې پردی جنګ کې تر بل هر چا زموږ بچی ډیر مړه کیږی ،هیواد مو ورانیږی ،ولس مو ځوریږی او هر څه مو تبا او بربادیږی . . .

داطبعی خبره ده چی په دې جنګ کې ښکیل هیوادونه هریو دخپلو ګټو د ساتلو په خاطرمسلح انسانی قوی ته ضرورت لری .

نن ورځ پاکستان یو شمیر پښتانه مجبوراً استخدام او مسلح کړیدی او په دې روان جنګ کې د پاکستان د ګټو ددفاع د پاره جنګیږی .

په عین ډول یو شمیر پښتانه د ایران د خوا استخدام او ټوپک پلاس په افغانستان کې د ایران د ګټو ددفاع د پاره جنګیږی .

امریکا ،روس او هند هم د پښتنو پر اوږه ټوپک ورکړیدی او ددی هیوادونو د ګټو د پاره جنګیږی . .
.

لنډه دا چی په دې روان جنګ کې د پښتون ملت یو زیات شمیر افراد مجبورا د پردیو هیوادو د ګټو مخصوصاً د پښتنو د ازلی دښمنانو یعنی ایران او پاکستان د ګټو د پاره جنګیږی .

خو په ډیر افسوس سره با ید دا تریخ حقیقت قبول کړو چی نن ورځ د پښتنو په منځ کې هیڅ یو نظامی اویا سیاسي ډله وجود نه لری چی د مظلوم پښتون ملت د ګټو ددفاع په خاطر نظامی یا سیاسي دلمس وړ فعالیت ولری .

که پښتانه د اسلام او پښتو او پښتونولی د اصولو پر اساس سره متحد شی او یو ملی قوت د ځان څخه جوړ کړی ، نو دا توان مونډلایشی چی دا پردی جنګ د خپل کورد غولی څخه لیری کړی ،خو که دا توان پیدا نکړی چی دا پردی جنګ د خپل کورد غولی څخه لیری کړی نو بیا به ددی جنګ د ګټو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر ټولو غوښنه برخه د پښتنو په برخه کیږی ځکه چی د دی جنګ ګټلو بنیادی قوت به پښتون ملت وی
.

ز: پښتانه نن د ایران او پاکستان د اټومی قوت د دفاع د پاره جنګیږی.

د ایران او پاکستان استخباراتی سازمانو په افغان جنګ کې د خپل هیوادونو د ګټو د دفاع په خاطر یو شمیر پښتانه مجبور کړیدی او یو شمیر نور یی بیا په پیسو رانیولیدی چی د ایران او پاکستان د ګټو د دفاع په خاطر و جنګیږی .

د طالبانو تر ماتی ورسته د شیطاني مثلث د پروژو مطابق هغه پر کورونو ناست طالبان هم لکه نور پښتانه مجبور کړل شول چې ایران او پاکستان ته وتښتي .

د ایران او پاکستان استخباراتي سازمانو دا طالبان او نور ورتښتیدلي ناراضه پښتانه مجبور کړل چې وسله واخلي افغانستان ته راشي او دلته د خارجي قواوو پر ضد په وسلواله جګړه کې برخه واخلي ، هر هغه طالب او مهاجر پښتون چې د وسلي اخستلو او په افغانستان کې د جګړي کولو څخه انکار کړیدي هغه د ذکر شوو هېوادونو د استخباراتي سازمانو د خوابندي شوي او امریکایانو ته د خطرناک طالب په حیث معرفي شوي دي .

نن د طالبانو اسلامي تحریک او د حکمتیار حزب اسلامي او داسی نوری اجیری حلقی د پاکستان او ایران دیو اجیر قوت په حیث د شیطاني مثلث د غړو د پلان مطابق د پښتنو د ګټو خلاف مجبورا د ایران او پاکستان د داټومی قوت او نورو ګټو د ساتلو په خاطر د نړۍ د سوپر طاقت سره په یو نا انډوله جنګ کې مصروف دي .

س: پښتانه نن د نړیوالو په نظر مباح الدم او واجب القتل دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته ذکر شول چې ایران ،پاکستان اونورو په افغان روان جنګ کې ښکیلو خواوو د پښتنو د مجبوریتونو څخه په استفاده یو شمیر پښتانه د خپلو ګټو د دفاع په خاطر استخدام کړیدی او په دې روان جنګ کې د سونګ دارزانه موادو په حیث استفاده ځنی کوی .

په دی روان پردی جنګ کې د پردیو د ګټو د ساتلو په خاطر دیو شمیرمجبوره اویو شمیر پلورل شوو پښتنو استخدام پښتون ملت ته په نړیواله سطحه ستره بد نامی وراړولی دی .

یو شمیرمجبوراً استخدام شوو پښتنو د طالبانو او حزب اسلامی په نوم د ایران او پاکستان د استخباراتي سازمانو په امر د پاکستان او ایران د ګټو د دفاع په خاطر د ناټو پرخلاف نظامی فعالیتونه شروع کړل .

خو د طالبانو او حزب اسلامی د فعالیتونو تر پوشش لاندی د ایران او پاکستان د استخباراتو جاسوسان بیا د افغانانو د بچیانو مکتبونه سوځوی ،بی ګناه افغانان په تار حلالوی ،معلم ،متعلم ډاکتر ،عالم دین او د قوم مشرپه ډیره بی رحمی شهیدانوی او داسی نور بد اعمال انجاموی.

د پاکستان او ایران د استخباراتی سازمانو په امر او مشوره د طالبانو ،حزب اسلامی او نورو استخدام شوو حلقو نظامي فعالیتونه نه تنها د پښتنو په ګټه ندي بلکې د دې فعالیتو په سبب د شیطاني مثلث غړو ټول پښتون ملت د طالب ،القاعده ،تروریست او د مخدره موادو د قاچاق وړونکی په نوم ټولی نړی ته معرفي کړیدي .

د شیطاني مثلث غړي د یو طرف پښتانه مجبوروي هغوی تراین او مسلح کوي او د ناټو پرخلاف یې جنګ ته رالیږي ، د بله طرفه یې د خپل ټولو چنلونو او امکاناتو د لاري نړی ته د تروریستانو او د القاعده د ملاتړو په نوم معرفي کوي .

همدا علت دي چې د تیرو لسو کلنو راهیسې هره ورځ په لس ګونو پښتانه د نړی د تروریستانو او خارجي قواوو د حملو په نتیجه کې وژل کیږي او عملا د مظلوم پښتون ملت نسل وژنه روانه ده ،خو نړی د مظلوم پښتون ملت دا نسل وژنه قتل عام نه بولی .

خو کله چې طالبانو د یکاولنګ په ولسوالی کې خپل یو شمیر هزاره مخالفین ووژل ،نړی د طالبانو دا عمل د هزارګانو د قتل عام په نوم ومنلی او ټولی غربی نړی هزاره وګړو ته د سیاسي پناهندګی دروازی خلاصی کړی ځکه چې د دوی په نظر د هزاره وګړو ژوند ته خطر متوجه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجنرال مالیک او طالبانو په معامله کې او د امریکا د خوا دطالبانو د سقوط په پیښو کې تقریبا ځلویښت زره پښتانه د شمالی ټلوالی پلاس کې جنګی اسیران شول .

دنړیوالو قوانینو پر اساس دجنګی اسیرانو ژوند محفوظ دی ،خو شمالی ټلوالی دا تقریبا ځلویښت زره جنګی اسیران تقریبا ټول ووژل ،مګرنړیوالی ټولنی او افغان دولت ددی جنګی اسیرانو وژنه قتل عام ونه بللی .

دطالبانودرژیم تر سقوط ورسته دهیواد په شمال کې د لکونو پښتنوپرسر ،ناموس ،عزت او مال دشمالی ټلوالی د خوا تجاوز وشو ،اودا پښتانه مجبور شول چی خپل کورونه او جایدادونه پریږدی او فعلاپه هیواد کې مخصوصاً د کندهار په ژړی ،دهرات په شیدایی او د مسلخ په کمپونو کې د مهاجرو په حیث ژوند کوی ،خوپر مظلومو پښتنو ددی ظلم په باره کې افغان دولت او ټوله نړی چپه خوله پاتې ده.

د شیطانی مثلث غړی د یو طرفه پښتانه مجبوروی چی د ناټو خلاف جنګ ته دوام ورکړی او بله طرفه دخپل استخباراتی ، دیپلواتیکوچینلونو او میډیا دخوا پښتانه نړی ته د طالب ،القاعده او تروریست په نوم معرفی کوی .

همدا علت دی چی نن په نړی کې د بشر د حقو د ساتنی ټولی اداری دمظلوم پښتون ملت دبشري حقوقو پرپایمالیدو چپه خوله پاتې دی ،او دا نه وایی چی د بشر په حیث ولي د مظلوم پښتون ملت پربشري حقوقو تیري روان دي .

دطالبانو د خوا د بامیانو په یکاولنګ کې پرهزاره وګړو د ظلم اواز خو ټولي نړۍ پورته کړي ، خو د مظلوم پښتون ملت پر روانه نسل وژنه ټوله متمدنه نړی چپه خوله پاتي ده . . .

د مظلوم پښتون ملت پر قتل عام ټوله نړی ځکه چپه خوله پاتي ده چې د شیطاني مثلث غړو ټول پښتون ملت و نړیوالو ته د طالب ، القاعده او ترویست په نوم معرفي کړیدي ، د نړۍ د منل شوو قوانینو پر اساس طالبان ، القاعده او تروریستان د بشریت اونړیوالي سولې دښمنان دي ، دنړي د منل شوو قوانینو پر اساس دبشریت او نړیوالي سولې د دښمنانو پر قتل عام څوک نه غمجن کېږي بلکې د زړه د کومي خوشحاله کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شيطاني مثلث دغړو توطيو د پښتون ملت موجوديت د نابودۍ سره مخامخ کړيدي ځکه چې پښتون قوم يې مجبور کړيدي چې د ژوندي پاتي کيدو په خاطر د ايران او پاکستان د ګټو د دفاع لپاره د ټول جهان سره وجنګيږي ، د ټول جهان سره د يو وړوکي ملت جنګ د هغه ملت دايمي بربادي ده بل شي ندي .

نن ورځ دافغانستان په دولتی ادارو کې پښتنو ته دتابعيت تذکره نه ورکوی او د پاکستانی خطاب ورته کوی .

د پورته څو لنډو مثالونو څخه دا روښانه معلوميږي چې نن ورځ مظلوم پښتون ملت هيڅ داسې سياسي ادرس ، سياسي حزب يا سياسي جبهه نه لري چې په ملي او نړيواله سطحه د پښتون ملت سياسي نمايندګي وکړاي شي ، اونه داسې سياسي مشرتوب لري چې د نړيوالو سره دا موضوع سپينه کړي چې پښتون ملت ددوی دعالي پښتني خويونو ،دپښتني اخلاقو ، پښتني نفسياتو او دپښتني فطرت يعنې د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس بنياد پرست او تروريست ندي ، دپښتنو په خاوره کې د القاعده او تروريستانو ځای پرځای کول د پښتون ضد شيطاني مثلث د غړو استخباراتي پروژه ده .

داسې سياسي سازمان چې نړيوالو ته ووايي چې پښتون ملت په خپل هيواد ،منطقه او نړۍ کې د سولې طرفدار او دهرډول بنيادپرستۍ او تروريزم ضد ملت دي .

داسې سياسي سازمان چې د پښتون ملت مشران ، کشران ، عام ولس حتي طالبان د شيطاني مثلث د نظامي او نظرياتي ګروګان ګيرۍ څخه خلاص کړي .

لنډه دا چې:

نن پښتون ملت د پخوا پر خلاف په خپل هيواد کې د يو مظلوم او محکوم ملت په حيث د غلام په ډول ژوند کوي .

لکه نړۍ چې د پښتون مظلوم ملت د مظلوميت په باره کې ړنده ،کڼه او ګنګۍ ده ،په همدۍ ډول پښتون ملت هم د مناسب ملی سياسي تشکل د نه لرولو په سبب د خپل مظلوميت په باره کې ړوند ،کوڼ او ګونګی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن پښتون ملت د هېواد د سیاسي اقتصادي او ټولنيز اقتدار څخه په زور ايستل شوي دي او هېواد په سياسي اقتصادي او ټولنيزه ساحه کې بې برخي شوي دي .

نن د پښتون ملت د دین ، سر ، ناموس ،عزت او مال ساتنه په جدي خطر کې ده .

نن پښتون ملت د پخوا پر خلاف نه په اقتدار کې برخه لري او نه د اپوزيسيون رهبري دده پر غاړه ده .

نن پښتون ملت په پښتونخوا کې د يو غلام او مظلوم ملت په حيث ژوند کوي .

نن په ملی سطحه د پښتنو ديو نماينده سياسي تشکل د نه لرلو د سببه يو شمير بی ضميره ،وطنفروش ،ملی خاينان او غدار پښتانه د خو ډالرود پلاس راوړلو په خاطر دهغو ملی خاينانو په دروازو کې پراته دی چا چی ددوی ناموس او مور يعنی ګران افغانستان پرپرديو هيوادونو پلورلی دی او دهغه په بدل کې يې خو ډالر راوړی دی او دلته يې پر دی بی ضميره وطنفروشانو او غدارانو ويشلی او ځان ددوی رهبر اورهنما بولی .

نن مظلوم پښتون ملت په سیاسي لحاظ سرپرست یا نماینده نه لري .

نن مظلوم پښتون ملت سیاسي ژبه او سیاسي اواز نه لري چې د هغي په واسطه د نړۍ سره وږغيږي .

نن مظلوم پښتون ملت سیاسي ادرس او نمایندګي نه لري چې د دې ادرس څخه دوی د نړۍ سره خپل مشکلات مطرح کړي او یا نړۍ ددوی ادرس ته مراجعه وکړي او خپل مشکلات ورسره مطرح کړي .

د مظلوم پښتون ملت د دې رواني غمیزي د پاي ته رسیدو په خاطر دا نهایت عاجل ضرورت دي چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتون ملت رښتني بچیان د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د خپل مقدس دين او لرغونی ايين يعنی د **اسلام او پښتو** پر معقول او منل شوي نظر سره راټول شي او مظلوم پښتون ملت ته د نجات په خاطر د پښتنو سیاسي ژبه ، سیاسي نمایندګي ، سیاسي مشرتوب او سیاسي ادرس پیدا کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوولسم فصل

## د شیطانی مثلث غړی د پښتنو د دایمی غلامۍ دپاره تلاش کوی .

کله چې پر(1352/4/26 هه . ش) سردار محمد داود خان د یو نظامي کودتا په نتیجه کې د افغانانو یو نسبتا با ثباته او د هېواد پر حالاتو مسلط شاهي نظام له منځه یووړو ، ورسره یو ځای د هېواد د بې ثباتۍ اغاز وشو .

ددې بې ثباتۍ په نتیجه کې پر(1357/2/7 هه . ش) د خلق ددموکراتیک ګوند د خوا دثور نظامي بدلون منځته راغلي چې د دې بې تجربه سیاست مدارانو د غلطو پالیسیو په نتیجه کې ګاونډیو هېوادونو ته دا موقع مساعده شول چې ددوی په استخباراتو پورې تړلي عناصر مسلح کړي او افغان دولت پر ضد یې نظامي جنګ شروع کړي .

ددې داخلي جنګ څخه شورویانو استفاده وکړل او پر(1358/10/6 هه . ش) یې د ټولو نړیوالو منل شوو نورمونو خلاف افغانستان اشغال کړي .

په کومه ورځ چې شورویانو افغانستان اشغال کړي په هغه ورځ د پښتنو ستره بد مرغي هم ورسره شروع شول ، افغانستان د شرق او غرب ترمنځ د ساړه جنګ په میدان بدل شو .

پښتون عظیم ملت د اسلام د مقدس دین او د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق د خپل باغیرتو نیکوا و پلرونو په شان په تش لاس ددنیا تر ټولو ستری او تر ټولو وحشی امپراطوری د سرو لښکرو د مقابلې دپاره د جنګ میدان ته ووتې .

پښتون عظیم ملت د الله (ج) په مرسته او د خپل سر او مال په بې مثاله قربانۍ د نړۍ د یو بلې وحشي امپراطورۍ قبرهم د پښتونخوا په پا که خاوره کې اضافه کړی یعنی پښتنو د خپل با تورو نیکونو په شان په ډېره میړانه د شوروی اتحاد امپراطورۍ ته د شرم نه ډکه ماته ورکړل او د بشریت ددی وحشي امپراطورۍ ناولی ټغر ئی د تل د پاره د مځکی د مخ څخه ټول کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



و شوروی وحشی امپراطوری ته د شرمناکی ماتی ورکولو په اساس پښتون ملت یو ځل بیا د نړۍ پرآسمان دیو قهرمان او فاتح ملت په څیر وځلیدی .

ددی د پاره چی افغان نجیب ملت مخصوصا پښتانه د نړی خونخوار ترینی وحشی امپراطوری یعنی شورووی اتحاد ته ترشرمناکی ماتی ورکولو ورسته په منطقه او نړی کې د یو فاتح ملت په حیث تبارزونکړی .

ددی د پاره چی د نړۍ دا تاریخی فاتح ملت بیا دلویی پښتونخوا دجوړولو په فکر کې نشی .

ددی د پاره چی د نړۍ دا فاتح ملت په منطقه او نړۍ کې دیو فاتح ملت په حیث بیا دیولوړقدراو اعتبار خاوند نشی .

ددی د پاره چی د نړۍ دا فاتح ملت د نړی د محکومو ملتنو د پاره دیو نجات بخښونکی قوت د سمبول په حیث معرفی نشی .

نو د پښتون فاتح ملت د خاوری ،تاریخ او فرهنگ دښمنان یعنی ایران ،پاکستان اوروسان د افغان جهاد د اغاز څخه په کمین کې ناست وه او پردی پروژوئی کارکوی چی که پښتانه شورویانو ته د جنگ په میدان کې ماته ورکړی دوی به بیا څنگه په خپل شیطانی چلونو دا فاتح ملت د خپل تاریخی فتحی د جشنونو د نمانځلو څخه راګرځوی او ددی فاتح ملت فتحه به څنګه په ناکامۍ وربدلوی .

ددی ناولی هدف د پاره د پښتون ملت دښمنو استخباراتی سازمانو د پښتون ملت په منځ کې ډول ډول تولنیزامراض ترویج کړل ترڅو فاتح پښتون ملت په ډول ډول ټولنیزو ناروغیو مبتلا شی او بالاخره دا فاتح ملت د تل د پاره د ګاونډوی ملتونو غلام شی .

دګاونډیو هیوادونو استخباراتی سازمانو د پښتنو د دایمی غلامۍ په خاطر د پښتنو د بی اتفاقه کولو ،دملی مسایلو په باره کې د پښتنو د بی تفاوته کولو ،دملی سیاست څخه د پښتنو د خواتوری کولو په خاطر د پښتنو په منځ کې ډول ډول منفی تبلیغات شروع کړل ،ترڅو دا فاتح ملت په خپل منځ کې سره بی اتفاقه او د تل د پاره دایرانیانو او پنجابیانو غلام پاتې شی .

په ډیر افسوس سره باید ووایو چی د پښتنو ازلی دښمنان په خپل پورته ذکر شوی شیطانی پلانونو کې بریالی هم شول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانانو خو په بې مثاله ځانی او مالی قربانیو شورویان د خپل هیواد څخه په شرمیدلی ډول وشړل ،خو په ډیر افسوس سره باید ووایو چې د افغانانو مخصوصاً د پښتنو ددې ټولو قربانیو سره سره افغانستان خپلواکی پلاس رانه وړل او هیواد بیاعملا د ایران ،روس او پاکستان غلام شو .

ګرانو لوستونکو ته د لاښه وضاخت په خاطر موږ په لاندې ډول د پښتنو په منځ کې ددښمن د منفی تبلیغاتو منفی اثراتو ته ډیره لنډه اشاره کوو .

## 1:په پښتنو کښې د بې تفاوتی د فرهنګ ترویج:

په ډیر افسوس سره باید وایو کله چې د څه د پاس تیرو دیرشو کلنو راهیسی زموږ هیواد د خارجی هیوادونو تر مستقیم او غیری مستقیم تهاجم لاندی راغلی ،دی یرغلونو پښتون ملت ته بی شماره ځانی ، مالی او معنوی تاوانونه ورسول .

دیرش کلن جنګ او دخارجی استخباراتو مسلسل فزیکی ،روحی او تبلیغاتی فشاراو په پردیو استخباراتی سازمانو پوری تړلو ګوډاکی احزابو او واکمنیو ټول افغان نجیب ملت مخصوصاً د پښتون مظلوم ملت ننګیالی مشران او کشران د بی اعتمادۍ او بلا خره د بی تفاونۍ لورته سوق کړل .

د شورویانو ،پاکستانیانو او ایرانیانو خواد پښتنو پرملی مشرانو د ځو کالو ظلمونو ،ډول ډول اقتصادی ،روحی او فزیکی فشارونو ، خواریو او مشکلاتو د پښتنو د ملی فکرلرونکی سیاسي او قومي مشران دومره مایوسه ،بی اعتماده او د بې تفاوتۍ په مرض مبتلا کړل چې د شورویانو ، مجاهدینو او طالبانو تر ماتي وروسته هم پښتنو ملي روڼ اندو او قومي مشرانو د خپل هېواد د ایندي په باره کي هیڅ فکر ونکړي او په ډېره بې تفاوتۍ يې د هېواد او ملت سرنويشت د اي . ايس . اي ، ايران او نورو هېوادونو د استخباراتو د خوا تربيه شوو حلقو ته پريښود .

د پښتونخوا او پښتون ملت ددین ،سر ،ناموس ،عزت ، مال ،ملی خپلواکۍ ، ملی حاکمیت ،مځکنۍ بشپړتیا او ملی ګټو په هکله د ننګیالیو پښتنو مشرانو او کشرانو د خوا د بی تفاوتۍ پرلاره تلل په حقیقت کې د پښتونخوا او پښتون ملت د بربادۍ او تباهۍ پر لاره تلل دی .

د هیواد په سیاسي ،اقتصادي او ټولنیزژوند کې د پښتنو د ننګیالیو مشرانو او کشرانو بی تفاوتی داسی معنی لری لکه یو انسان چی د خپل عیال او مال سره په یو موټر کې سپوروی او دده دښمنان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددوی دا موټر د ابدی تباهۍ د کندی پر لور په پوره سرعت او قوت سره ټیل وهی او دوی ورته په بی تفاوته ډول ګوری او د خپل ځان ، عیال او مال د تباهۍ تماشاه کوی .

داسی کسان په حقیقت کې دژوندیو مړو حیثیت لری چی په ظاهره خو ژوندی معلومیږی مګردده په شا وخوا محیط کې د پیښدونکو حوادثو په باره کې د یوه مړه انسان په ډول هیڅ عکس العمل نشی ښودلای .

کله چی د خاریجی استخباراتو د شیطانی پروژو د تطبیق په سبب د پښتون ملت ننګیالی مشران او کشران د خپل هیواداو ملت په سیاسي ، اقتصادی ،ټولنیزو چارو کې دبی تفاوتۍ پر لار روان شی ، نو میدان څو بی ننګو ،وطنفروشو ، ملت او هیواد ته غدارو کسانو ته پاتې کیږی .

دا غداران او وطنفروش اشخاص یا په خپله د پردیو هیوادونو د استخباراتی سازمانو جاسوسان کیږی ،او یا په هیواد کې د پردیو هیوادنو د اجنټانو پیرواوغلامان کیږی او هیواداو ملت دبربادۍ او تباهی پرلورټیل وهی .

د شیطانی مثلث د پښتنو ضد پروژی د تطبیق په سبب په پښتنو کې د بی تفاوتۍ فرهنګ دومره وده کړیده چی د دموکراسۍ په دې تیرو لسوکلنو کې هم د پښتنو سیاسي او قومي مشران د پښتون ملت ددین ، سر ، ناموس ،عزت او مال بربادي د سر په سترګو ویني ،خو د بده مرغه پښتانه مشران ، کشران او روڼ اندي د بې تفاوته او بې احساسه تماشا چیانو په حیث د خپل قوم د بربادۍ ننداره کوي .

هره ورځ پښتني مندي بوري کېږي ،پښتني خوندي سرتوري کېږي ،دپښتنو بچیان یتمان کېږي د پښتنو پر ودونو بمبارۍ کېږي ، د پښتنو پر خیرات او د واده پرمراسیمو بمبارۍ کېږي ،دپښتنو پرجنازو ځانمرګی بریدونه کیږی ،دپښتنو مساجد شهیدان کیږی ، د پښتنو د بچو ښونځي سوځول کېږي او یا بندیږي ، معلم ، متعلم ، ډاکتر ،نرس ،دقوم مشر او ملا یې وژل کېږي ،د حضرت محمد سنت دپښتون مشر دعزت لونګۍ او د پښتنی میرمنی د حیا پوړني او بورقه بدنامیږي . لنډه دا چې دپښتون ملت هر څه بربادیږي خو بیا هم پښتانه ځوانان ، مشران ، ورونه او خوندي د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دخپل دین ، سر ، ناموس ، عزت او مال ددفاع په خاطر "ننګ" نه کوي اود بې تفاوتۍ په بی علاجه مرض مبتلا ارام اوبی تفاوته ناست دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښتانه مشران او کشران نن ورځ د خپل مظلوم پښتون ملت د دین ، سر ،ناموس ، عزت او مال بربادۍ او تباهۍ ته په رڼو سترګو ګوري او دمړواوبې حسه انسانانو په څیربې حرکته ،ساکت او

"بې تفاوته" پراته دي او وايي چې: "**زما يې په څه**"

## 2: د قومي شوراګانو او فرهنګي ټولنو د جوړېدو فرهنګ:

د پښتنو دښمنانو د دې لپاره چې پښتانه د تل لپاره د دوی غلامان پاتي شي ، د خپل استخباراتي سازمانو د لارې د پښتنو په منځ کې ډول ډول زهرا ګين تبلغات پر لار واچول او د دې تبليغاتو په واسطه يې د پښتني ټولنې اکثره او موثره برخه مسموم کړل .

د پښتنو دښمنو استخباراتي سازمانو دا فيصله کړيده چې پښتني ټولنه بايد په سياسي لحاظ فلج کړي ،په پښتنو کې يې د خپل اجنټانو په واسطه داسې تبلغات وکړل چې پښتانه د سياست څخه خواتوري شي او په سياسي فعاليتونو کې برخه وانخلي .

د پرديو استخباراتو اجنټانو په پښتنو کې دا تبليغات شروع کړل چې په سياسي احزابو کې فعاليت کول ښه کار ندي ،ځکه چې سياسي احزابو افغانستان خراب کړي ، د افغانستان دا اوسنۍ بربادي د سياسي احزابو د سياسي فعاليتونو نتيجه ده او داسې نور . . .

د پښتون دښمنه خارجي استخباراتو دا پروپاګند مطلق غلط دی ځکه چې:

افغانستان په حقيت کې هغو تش په نامه سياسي احزابو خراب کړي چې د خارجي استخباراتو سره يې تړاو درلودي او رهبران يې د خارجي استخباراتو جاسوسان وه .

افغانستان هغو تش په نامه سياسي احزابو خراب کړي چې د پښتو او پښتونولي پر خلاف دخارجي واريداتي ايډيالوژيو پيروي يې کول .

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان هغو سياسي احزابو خراب کړي چې د خارجي استخباراتو د خوا تمويليدل او د خارجي استخباراتو په امر د هغوی پر پله تلل .

افغانستان هغو قوم پلورونکو او ملت ته غدار کسانو خراب کړي چې ښه پوهيدل چې پلاني حزب او پلاني رهبر د پرديو جاسوس دي خو د ځو پيسو په خاطر يې د هغه حزب او هغه جاسوس رهبر ملاتړ کوی او نن ئی هم کوي .

دا د پرديو پلاس جوړشوي احزاب په حقيقت کې ملي سياسي احزاب نه وه بلکې د خارجي استخباراتو د جاسوسۍ شبکي وي چې د خپل خارجي بادارانو په امر يې په افغانستان کې د سياسي احزابو په نوم سياسي ، نظامي او استخباراتي فعاليتونه کول .

د کوم ملت ، قوم يا ډلي خلک چې د سياسي قدرت د پلاس راوړلو په خاطر سياسي فعاليتونه ونه لري هغوی هيڅکله سياسي قدرت ته نشي رسيدلای .

سياسي قدرت ته تنها هغه ملت ، قوم يا ډله رسيدلای شي چې هغوی سياسي قدرت ته د رسيدلو لپاره سياسي فعاليتونه ولري .

پښتنو چې د زرګونو کلونو راهيسې په پښتونخوا کې سياسي قدرت پلاس کې درلودي ، دوی د سياسي قدرت د پلاس راوړلو او د هغه د ساتلو په خاطر سياسي فعاليتونه درلودل .

د پښتنو دښمنانو ته دا معلومه وه او معلومه ده چې پښتون ملت پردوو عمده ستنو ولاړدي او دوی غواړي چې دا دواړي عمده ستني د سياسي کار او فعاليت څخه ليري وساتي .

لومړي ستون :د پښتون ملت قومي مشران او با تجربه سپين ږيري :

د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د پښتون ملت با تجربه قومي مشران او د دستارسړي د پښتني ټولنې يو عمده ترين ستون او پايه بلل کيږي .

د پښتنو ټولي ملي فيصلي د باتجربه او مخورو سپين ږيرو او مشرانو د جرګې په واسطه کيدی او نن هم بايد وشي .

د پښتنو د ملي مشرانو او سپين ږيرو جرګې و پښتون ملت ته وړپيښ ټول مسايل په هر اړخيز ډول څيړي ، هغو ته د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د حل لار پيدا کوي او ملت ته يې اعلانوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پښتون ملت هرغړي بايد د خپل توان او طاقت مطابق د ملي جرګې د فيصلو د عملي کولو لپاره ملاوتړي .

ددې لپاره چې پښتانه او پښتونخوا د پښتنو د دښمنانو پلاس کې د تل لپاره محکوم او غلام پاتې شي ، نو د پښتنو دښمنانو د پښتون ملت د فلج کولو فيصله وکړل .

د پښتنو د دښمنانو په نظر پښتون ملت هغه وخت فلج بلل کېږي چې د هغو با تجربه او په ټولنه کې د قدر وړ ننګيالی مشران دخپل هېواد د سياسي ،اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په باره کې بې تفاوته پاتې شي او د هېواد دسياسي چارو څخه لاس پرسر شي .

په ډير افسوس سره بايد ووايو چی د پښتنود دښمنانو شيطانی پروژي دپښتنو پرننګياليو او باعزته مشرانو تاثيرهم کړيدی دپښتنو ننګياليو مشرانو مطلق اکثريت دهيواد د سياسي ميدان څخه ځان ايستلی دی ،او دهيواد د سياست مهم ميدان هغو کسانو ته پاتې شوی دی چی اکثره يی دخارجی استخباراتو سره دجاسوسی تعلقات لری .

په همدی ډول دهيواددا قليتونو ځنی سياسي مشران هم دهيواد په سياسي ميدان کې د پرديو استخباراتی سازمانو پلانونه تعقيبوی .

دپښتون ملت ددښمنانو دکرغيړنو پروژو مطابق دپښتون ملت ددستارننګياليو مشرانو په غيری شعوری ډول نن خپل ځانونه دهيواد سياست د ميدان څخه کوم چی د پښتو او پښتونولی دقانون پراساس د زرګونو کلونو راهيسی ددوی ملی او پښتنی دنده بلل کيده ايستلی دی ،او دپښتنو هرقوم د ځان د پاره يو غيری سياسي قومی شوراجوړه کړيده

دپښتنو ددښمنانو دپښتون ضد شيطانی پروژی تطبيق پرپښتنو لاندی منفی تاثيرات کړيدی .

## الف:

دپښتنو ددښمنانو د شيطانی پروژی پر اساس که پښتانه صرف په غيری سياسي قومی شوراګانو کې برخه واخلی ، د خپل هېواد په ملي سياست او ملي مسايلو کې برخه وانخلي او د خپل هېواد او ملت د سياسي ژوند او مسايلو څخه ځان ګوښه کړي او د بې تفاوتی او زما يې په څه د لاري پيروان شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،نو دا طبعي خبره ده چې د هېواد د سياست ميدان به يوازي د پښتنو د ښمنانو او د پرديو جاسوسانو ته پاتي شي .

نن د پښتنو حالت ددوی ددښمنانو د شيطانی پروژی مطابق روان دی ،دننګياليو پښتنو مطلق اکثريت د ځان څخه خوابدی ،دهيواد په سياسي چارو کې بی تفاوته او په غيری سياسي قومی شوراګانو کې تنظيم شويدی ،دهيواد د سيا ست ميدان ئی واقليتونو اويا هغو اشخاصو او حلقوته پريښی دی چی اکثره يی په پرديو استخباراتو پوری تړلی دی .

ب :

د قومي او سمتي شوراګانو جوړول د پرديو استخباراتو هغه نا مرئيی پروژه ده چې ستر پښتون ملت ئی پر بيلو بيلو قومي او سمتي شوراګانو سره ويشلي دی او هره قومي او سمتي شورا تنها د خپل قوم او سمت د خلکو د غم او ښادی په فکر کې ده او د ټول پښتون ملت غم ځني هيردي .

په لنډ ډول ويلايشو چی په غيری سياسي قومی شوراګانو کې د پښتنو مشرانو را ټوليدل ستر پښتون ملت پر قومونو تجزيه کوی او د پښتون ملت د کمزوری سبب ګرځی .

ج :

قومي او سمتي شوراګاني يو هم سياسي موخي نه لري ، همدا علت دي چې پردي استخبارات د دې لاري وتوانيدل چې د پښتون ملت يو زيات شمېر مشران ، کشران او روڼ اندي د سياست د ميدان څخه وباسي .

هر څومره چې د پښتون ملت مشران ، کشران او روڼ اندي تيت او پرک ،سره پاشلي ، د هېواد او ملت د سياسي مسايلو په باره کې بې تفاوته او مايوسه وي په هغه اندازه د پښتنو دښمنان په خپل شيطاني پروژو کې بريالي او پر پښتنو باندې د خپل جاسوسانو په واسطه مسلط کېدا يشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو د دښمنانو د دی شیطانی پروژي پر اساس پښتنو قومي او مذهبي مشرانو د ملي سیاست پر ځای د قومي شوراګانو په جوړولو شروع وکړل چې په دې کار یې پښتون ملت پر قومونو او پښو سره وویشي ، کومي چې هیڅ سیاسي موخي نه لري صرف اجتماعي موخي تعقیبوي .

دمثال په ډول د ناصرانو قومي شورا صرف د ناصرانو د غم او ښادی مراسمو ته ځان رسوي .

دنورزو قومی شورا د نورزو ،داحمدزو قومی شورا داحمدزو او دتوخیانوقومی شورا د توخو غم او ښادي ته ځان رسوي ، د نورو پښتنو په باره کې هیڅ مسئولت نه احساسوي .

د پښتنو دښمنانو دخپل شیطانی پروژی دتطبیق په سبب په پښتنو کې د قومي شوراګانو د جوړیدو د فرهنګ په معرفي کولو او عملي کولو عملا پښتون یو موټي ملت پر سل ګونو قومونو او پښو سره تجزیه کړي .

د پښتون ملت ددښمنانو دشیطانی پروژی پر اساس دپښتون ملت هغه متفکر او با تجربه مغز چې د زرګونو کلنو راهیسې یې پښتانه رهبري کول ، په پښتونخوا کې یې سیاسي قدرت پلاس کې وو ، نن یې دپښتون ملت هر اړخیزي ګټې اودګراني پښتونخوا ملي حاکمیت هیرکړیدي ،صرف د خپل قوم او پښې دغم په مراسمو کې په دعا کولو اود ښادی په مراسمو کې دغوړو ډوډیو په خوړلو مصروف دي .

د پښتون ملت دا متفکر او با تجربه نسل یاني قومي مشران ، د دستار سړي او روشنفکران نن د پښتون ملت د دې خوار ، ذلیل او د غلامی د حالت په باره کې د بې حسه ژوندیو په څیر بې تفاوته پراته دي ، تنها د خپل قوم او پښې دغم او ښادی په مراسمو مصروف دي .

## دوهم ستون: د پښتون ملت د زور او جوشه ډک ځوانان:

د پښتون ملت ځوان نسل د پښتون ملت د انرژي څخه ډک بازو او فولادي توره ده .

د تاریخ په اوږدو کې د پښتنو د جرګود فیصلو پلي کول د پښتنو ځوانانو پر غاړه وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاريخ په اوږدو کې دپښتنو ځوانانو قوت هغه فولادي سوک وو چې د پښتون ملت ددين ،سر ،ناموس ،عزت ،مال ،خپلواکۍ ،ملي حاکميت ،دهيوادد مځکنۍ بشپړتيا ،ملي ګټو ،ملي نواميسو او داسې نورو ديني ،ملي او پښتني ارزښتونو د دښمنانو کړي خولي په سميدي .

پښتانه ځوانان د پښتون ملت هغه نه ماتيدونکي قوت وو چې د پښتون ملت پورته ذکر شوي ارزښتونه د دوی په قوي بازو او فولادي توره ساتلي وه .

د پښتنو دښمنانو د خپل شيطاني پروژې پر اساس د پښتون ملت دا ځوان او د انرژي ډک نسل هم د دوی د مشرانو په شان د سياست د ميدان څخه متنفر کړي ، او د ځوانانو د ټولنو جوړيدو ته يې تشويق کړي .

نن په هيواد کې په سل ګونو د ځوانانو ټولنې وجود لري چې د دې ټولو فعاليتونو محصول د جلال اباد د نارنج ګل ،دپکتيا د نښتر ،د ميدان ښار د منې ګل ، د قلات د بادام ګل ، د قندهار د انار ګل ، او د فراه د عناب ګل او داسې نوری مشاعري دي .

اوس موږ د پښتون ملت د سپين ږيرو او ځوانانو څخه دا لاندې څو سوالونه کوو :

لمړي سوال:

نن موږ په هيواد کې په سل ګونو قومي شوراګاني او د ځوانانو ټولنې لرو ،دې قومي شوراګانو او د ځوانانو ټولنو د مظلوم پښتون ملت کوم درد دوا کړيدي ؟

که په قومي شوراګانو او دځوانانو په ټولنو د پښتنو او پښتونخوا درد دوا کيدلای ، نو اوس به دپښتون ملت پر سر دا بې پايه غمونه کوټ نه واي .

پښتون ملت به په خپل هيواد کې د غلامۍ او مريتوب ژوند نه تيرولای .

د پښتون ملت دين ، سر ، ناموس ،عزت ، مال ،خپلواکي ،ملي حاکميت ،دهيواد مځکنۍ بشپړتيا ،ملي ګټې ،ملي نوامس او داسې نور ملي ،اسلامي او پښتني ارزښتونه به په جدي خطر کې نه واي .

دوهم سوال:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پښتانه مشران او ځوانان د خپل هېواد په سياست کې برخه نه اخلي ،مشران يې خپل توان او طاقت تنها د خپل قوم دغم او ښادي چارو ته ،او ځوانان يې خپل توان او طاقت شعراو شاعري او نورو فرهنګي چارو ته وقف کوي ،نو د پښتون ملت د سياسي چارو د پر مخ بيولو د پاره به خداي (ج) ملايکي رااليږي ؟

او که به د هېواد سياسي رهبري په هېواد کې د پرديو استخباراتو جاسوسان او ياد هېواد اقليتونه کوي ؟

بالاخره دي نتيجي ته رسيږو چې پښتانه مشران او ځوانان که خوشاله دي او که خوابدي دا د دوی ملي ،اسلامی او پښتنی مسئوليت دي چې د خپل هېواد د سياسي چارو مسئوليت به پر خپل غاړه اخلي .

د مظلوم پښتون ملت د بې پايه غمونو او ربړونو دوا تنها داده چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پښتانه سپين ږيري او ځوانان و پښتني ملي سياست ته مخه وکړي ، يو ستر ملي سياسي سازمان جوړکړي ، د دې سياسي سازمان په واسطه د عدم تشدد او قانوني لاري خپل سياسي فعاليتونه تنظيم کړي ،د خپل هېواد سياسي ، اقتصادي او ټولنيز قدرت د خپل پلرونو او نيکو په شان دوباره په خپل لاس کې واخلي او په خپل پلارني هېواد کې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق په عدالت سره حکومت وکړي .

نن د پښتون ملت دين ، سر ،ناموس ،عزت ،مال ، خپلواکي ،ملي حاکميت ،دهېواد مځکنۍ بشپړتيا ،ملي ګټې ، ملي نواميس ، اوداسې نور ملي او پښتني ارزښتونه په جدي خطر کې دي ، د پښتنو د دې بنيادي حقوقو پلاس راوړل هغه وخت ممکن دي چې د پښتون ملت ننګيالي مشران ، ځوانان او روڼ اندي د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د پورته ذکرشووارزښتونو پردفاع ننګ وکړي ، دقومي شوراګانو او کلتوري ټولنو پر ځای په ميړانه د ستر پښتون ملت د بنيادي حقوقو ددفاع په خاطر د سياست ميدان ته راووزي ، د سوله ايېزي سياسي مبارزي د لاري د پښتون مظلوم ملت د دين ، سر ، ناموس ،عزت او مال څخه د فاع وکړي او د خپل ميړنيو پلرونو او نيکونو په شان د پښتونخوا سياسي ، اقتصادي او ټوليزه واکمني بيا په خپل لاس کې واخلي .

څرنګه چې د پښتون ملت ملاتړ په افغانستان کې د نظام د مشروعيت ، د نظام د سياسي ثبات او د ملي وحدت د تامين يوازني ضامن دي ،نو د نظام څخه د پښتون ملت د ناراضيتوب په سبب نن د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظام مشروعيت او سياسي ثبات د ډېر سخت چلنج سره مخامخ دي ، ملي وحدت عملا د منځه تللي دي او هېواد د سخت سياسي بحران پر لور روان دي .

كه په هيواد كې دا بې ثباتي او جنګ نورهم په دې ډول دوام وكړي او پښتانه مشران او ځوانان په همدې ډول د خپل هيواد او خپل ملت د راتلونكې په باره كې خپل بې تفاوتې ته دوام وركړي نو دا يقيني خبره ده چې ګران افغانستان به لكه څنګه چې پخوا د هند مغلي او د ايران شيعيه دولتونو په خپل منځ كې سره ويشلې وو ،دا ځل به ئې د مغلو ميراث خور پنجاب او اخندي ايران بيا په خپلو كې سره تقسيم كړي او ددې خطرهم ډيرزيات دي چې دا هېواد د تل لپاره د مځكې د مخ د سياسي نقشي څخه ورک كړي .

د روانو بې ثباته سياسي حالاتو څخه دا خطر موجود دي چې خداي (ج) مكړه افغانستان د تل لپاره د مځكې دمخ د سياسي نقشي څخه حذف شي ، افغانستان او پښتنو ته د دوی په معاصر تاريخ كې كله هم تردي وړاندي دومره ستر خطر نوو پيښ شوي .

د دې ستر ملي خطر د مخ نيوي په خاطر دا دهر افغان مخصوصا د هر پښتون ملي ،اسلامي او پښتني دنده ده چې نور نو د بې تفاوتې او بې مسئوليتې د حالت څخه راووزي او د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس د افغان نجيب ملت مخصوصا د مظلوم پښتون ملت د دين ،سر ، ناموس ،عزت او مال د دفاع په خاطر ننګ وكړي او د خپل دين ، سر ، ناموس ، عزت ،هېواد ،استقلال ، ملي حاكميت ،ملي ګټو ، ملي نواميسو ،ملي وحدت ، تل پاتي سولې او دا سی نورملی ،اسلامی او پښتنی ارزښتونود دفاع په خاطريو د بل سره د اتحاد او اتفاق لاسونه وركړي او خپل هېواد او ولس د دې روان ناورين څخه خلاص كړي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق پښتانه بايد د خپل باتورو پلرونو او نيكونو په ډول نړۍ ته دا ثابته كړي چې پښتانه د پښتونخوا د اصلي او سيدونكو او خاوندانو په صفت د دې توان لري چې خپل ګران هېواد ته د هرډول خطر او د پردو او دهغو د اجنټانو د توطيو څخه نجات وركولای شي .

خو په ډېر افسوس سره بايد ووايو په داسې بحراني حالاتو كې چې د پښتون ملت هر څه د سخت خطر سره مخامخ دي بيا هم تر اوسه پښتنو مشرانو ، كشرانو ، پوهانو او عالمانو د پښتون ملت د نسل وژني او بربادۍ ، د روان ملي بحران څخه د نجات په خاطر يو داسې سياسي سازمان يا سياسي ادرس ايجاد نكړاي شو چې پښتانه پر هغه مركز سره راټول شي او په يوه اتفاق د نړۍ سره په تماس كې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دنیا ته ووايي چې پښتانه تروریستان ندي ، پښتانه په دې منطقه کې یو مهذب او میانه روه قوم دي ، د دې منطقې تاریخ ، تمدن ، افتخارات او فرهنګ د پښتنو بې ونډې نامکمله او ناقص دي .

د پښتنو مشرانو باید د یو ملي سیاسي قوت په حیث نړۍ ته ویلي واي چې په دې منطقه کې چې څه تیریږي د دې مسئول مظلوم پښتون ملت ندي بلکې دا هر څه د شیطاني مثلث د غړو د استخباراتي سازمانونو پروژه ده چې مظلوم پښتون ملت او غربي نړۍ دواړه په کې راګیر دي .

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د ا د پښتنو مشرانو ، منورينو او کشرانو پښتني فريضه ده چې پښتانه پر یو سیاسي مرکز راغونډ کړي او د اسیاسي سازمان بیا د ټول مظلوم پښتون ملت په نمایندګي جهان ته دا ووايي او ورته ثابته يې کړي چې دامو او اباسين ترمنځ ټول پښتون ملت ته د شیطاني مثلث د غړو د استخباراتي سازمانو د خوا توطیي جوړي دي او د دې توطیيو پر اساس يې نن پښتانه د غربي نړۍ سره په جنګ اچولي دي .

که پښتانه مشران ، کشران او روڼ اندي د غفلت ، بې تفاوتۍ ، بې اتفاقۍ او بې حسۍ د دې جاري خوب څخه راویښ نشي نو دا تر لمر ښکاره خبره ده چې ستر پښتون ملت به د تل لپاره تباه ، برباد او د پردیو غلام کېږي ، ګرانه پښتونخوا د زمونږ د پلرونو میراث او مقدس مدفن ،زمونږ او زمونږ د اولادونو مسکن به د ایران او پاکستان د ستراتیژیکو اهدافو او سراتیژیک عمق په خاطر د دوی د خاورې جزجوړېږي .

## 3: د جاسوسۍ او بې ننګۍ د فرهنګ ترویج:

د مخه مو ذکر کړل چې د پښتنو دښمنانو د خپل زهرا ګینو تبلیغاتو په واسطه د پښتنو مشران او ځوانان د سول اېز سیاست کولو څخه خواتوري کړيدي او هغوی ئې په غیري ضروري شیانو لکه قومي شوراګاني او د ځوانانو د ټولنو په جوړیدو مصروف کړيدي .

د پښتنو دښمنانو د پښتنو په منځ کې یو بل خیرن کلتور هم معرفي کړيدي او پښتانه مشران او ځوانان يې په دې باور کړيدي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په افغانستان کې هیڅوک سیاسي قدرت ته نشي رسیدلای ترڅو چې د یو خارجي هیواد ملاتړ ورسره نوي .

ددې خبرې اصلي معني داده چې په افغانستان کې هیڅوک سیاسي قدرت ته نشي رسیدلای تر څو دیو خارجي هیواد جاسوس نوي .

هر افغان چې غواړي په افغانستان کې سیاسي قدرت ته ورسیږي باید حتما د یو خارجي هیواد داستخباراتو جاسوس شي .

پخوا په پښتنو کې د پردي هیواد دجاسوسۍ کلمه ستر شرم ، عار او لویه بې ننګي بلل کیدل ، یو رښتني پښتون مرګ منلي خو د پردي هیواد د جاسوسۍ تور یې پرځان نه منلي .

عامو پښتنو هم د پردي هیواد دجاسوسانو څخه ډېر زیات نفرت کوي .

خو نن په افغاني ټولنه کې یو زیات شمېر افغانان د پردیو په جاسوسي فخر کوي او په هر مجلس کې یې په ویاړ یادوی .

نن ورځ چې د پښتون ملت د بې پایه مشکلاتو د حل په خاطر پښتنانه سوله ایز سیاست ته راوبولي نو اکثره پښتنانه دا دوه خاینانه او د بې ننګۍ نه ډک سوالونه د سړی څخه کوی .

اول سوال :

څوپیسي راکوی ، او فعلا می پرکوم دولتی مقام مقررکوی ،ځکه چی دلوړ دولتی مقام څخه د حزب د پاره ښه جلب او جذب کیږی ؟

دوهم سوال :

د کوم خارجي هیواد ملاتړ در سره شته ؟

دا یو نړیوال منل شوي اصل او منل شوی تعریف دي هر سیاسي او غیري سیاسي کس چی د هر پردي هیواد جاسوس کیږی هغه کس خپل هیواد او ملت ته ملي خاین بلل کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټول جهان په قوانینو کې دملی خیانت تعریف یو شان دی او د ملي خاین سزا مرګ یا ابدی زندان تعین شویدی .

خود بده مرغه نن ورځ افغانستان نه تنها د نړۍدتروریستانو ،دمواد مخدر د قاچاقبرانو ،دجنګی جنایت کارانو ،داختلاصګرانو او د رشوت خورانو د پاره یو محفوظ هیواد دی ،بلکه د نړۍ د تر ټولو سترو مجرمانو یعنی ملی خاینانو د پاره هم محفوظ هیواد بلل کیږی .

د نړۍ په ټولو هیوادونو کې هغه کسان چی د خپل هیواد جاسوسی بل هیواد ته کوی د ملی خیانت په جرم په اعدام محکوم دی او یا دابد د پاره په زندانونو کې پراته دی ،خو په افغانستان کې خلګ دځینو ملی خاینانو لاسونه مچوی ،کله کله ځنی ملی خاینان پر لوړو دولتی چوکیو مقرروی ،او ځنی نورو ملی خاینان بیا د سیاسي ډلو مشرتوب او رهبری کول او حتی ځنی ئی نن هم کوی .

دیو ملی دولت د نه موجودیت د سببه او د دولت د خوا د مجازاتو د نشته والی په سبب نن په افغانستان کې یو شمیر کسان افتخار کوي چی د پردیو هېواد جاسوسان دي ،دپردیو هیوادونو د استخباراتو ځنی ملا تړی په دې هیواد کې سیاسي او روحانی رهبران دي ، عزت یی کیږی او په ولس کې بی ننګو ،بي ایمانه ،ځان فروشو ، وطن فروشو او نادانو خلکو ته پیسي او رتبي ویشي او هغه بی ننګه انسانان هم د خردجال د پیروانو په شان په ډیره بی شرمی او بی حیایی په دې ملی خاینانو پسی منډی وهی او په برملا ډول هغوی خپل مشران او رهبران بولی .

د اسلام د مقدس دین او د پښتو او پښتونولی د قانون مطابق هرپښتو ن چی د خپل هېواد او ولس د ګټو پر خلاف د پردیو جاسو س کیږی هغه کس پښتو ن ندي ، ملي خاین او ملي غدار بلل کیږی او سزا یی مرګ دي .

دپښتو او پښتونولی د قانون مطابق هر پښتون چی د هر مادی او معنوی امتیاز په خاطر دملی خاین او غدار شخص مشرتوب منی هغه شخص په خپله هم ملی خاین او پښتون ملت ته غدار بلل کیږی .

د پښتو او پښتو نولی د قانون مطابق دا د هرښتنی پښتون دینی او پښتنی دنده ده چی پښتو ن ملت ته غدار او خاین کسان باید ورتبی او د خپل منځه یی وباسي او مړی او ژوندی ورسره قطع کړی.

داسلام د مقدس دین ،دپښتو او پښتونولی دقانون او د نړۍ د ټولو قبول شوو قوانینو مطابق هر هغه ځوک چی د خپل ملت او هیواد د ګټو پر خلاف د پردی هیواد جاسوس وی هغه کس ملی خاین بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیږی او د ملی خاین سزا مرګ یا ابدی زندان دی ، او هر هغه ځوک چی ددی ملی خاینانو مشرتوب اورهبری د پیسو ،وسلو ، چوکیو ، رتبو اوداسی نورو امتیازاتو په خاطر منی هغه کس هم ملی خاین ،بی ننګه ،ملت ته غدار او دعین سزا مستحق بلل کیږی .

د څو دیرش کلنی غمجنی تجریبی ورسته پښتانه او ټول افغانان باید پردې موضوع جدی او د قیق غورو کړی چی دتیرو دیرشو کلنو په جریان کې ډیر کسان د پردیو هیوادونو په مادی ،مالی ، لوژیستیکی ، نظامی او سیاسي مرستوزموږ په هیواد کې د قدرت پر ګدۍ کښنا ستل ، او دهر یوه سره دخارجي هېواد ونو هر ډول سیاسي ، نظامي او مالي ملاتړ ورسره وو ،خو دپردیو ددی ګوډاګیانو د یوه رژیم هم هېواد او هېوادوالو ته خوشبختي نده راوړي ،بلکی هېواد

ا وهېواد وال ورځ په ورځ بد بخت شوی دي .

زموږ ګران پیغمبر موږ ته لارښونه کوی چی:

یو مسلمان باید دوه ځله د یوه غار څخه ونه چیچیل شي .

ښه به داوی چی نورنو پښتانه په دینی لیحاظ د خپل پیغمبردلار ښودنی پیروی وکړی ،او په ملی لیحاظ د خپل ملی مشرانو میرویس نیکه او لوی احمد شاه بابا پر لاره ولاړشي.

زمونږ پیغامبر د خپل مبارزی په وخت کښنی نه د ایران او نه هم د روم د امپراطوری څخه مرسته اخیستی وه ،په عین ډول زمونږ ملی مشرانو میرویس نیکه او لوی احمد شاه بابا هم د خپل مبارزو په وخت کښنی د ایران او د ډهلی د مغلو څخه هیڅ ډول مرسته نوه اخیستی.

مونږ پښتانه هم باید د خپل پیغمبر د امر مطابق اود خپل ملی مشرانو دلاری په تعقیب دهیڅ هیواد د استخباراتی سازمان مرسته قبوله نکړو ،او نه هم د هغه چا مشرتوب او رهبری ومنو چی هغه کس د خارجی هیواد جاسوس وی.

پښتانه باید دا ځل دپردیو هیوادونو داستخباراتی سازمانو دملا تړ په عوض صرف پر الله پاک تو کل و کړی اود نړۍ د نورو ازادو ملتونو په شان په پښتونخوا کې دپښتنو په معنوی ،جسمی اومالی قوت اوملا تړد پښتو او پښتونولی دقانون مطابق سیاسي ،اقتصادی او ټولنیزنظام جوړ کړی او بیا د یو خپلواک او متمدن ملت په حیث د نړۍ د نورو هیوادونو سره دپښتونخوا د ملی خپلواکۍ ،ملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاکمیت او مځکنۍ بشپړتیا د ساتلو او متقابلو ګټو د احترام پر اساس سیاسي ، فرهنګی او اقتصادی روابط وساتی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم فصل

# د پښتنو د نجات لار

## پښتون ملت باید د ملي قوت په حیث ځان او هیواد ته د دی روان بحران څخه نجات ورکړی.

**1**: پښتون ملت څه وخت په یو نجات بخښونکی ملی قوت بدلیدایشی؟

د څه د پاس دیرشو کلنو راهیسې د مظلوم پښتون ملت سر ، ناموس ، عزت او مال بربادیږي ،هره ورځ پښتنې منديې بوري کیږي ،پښتنې خوندې سرتوري کیږي ،د پښتنو بچیان یتمان کیږي د پښتنو پر ودونو بمبارۍ کیږي ، د پښتنو پر خیرات او د واده پرورا بمبارۍ کیږي ، د پښتنو د بچو ښوونځي سوځول کیږي او یا بندیږي ، معلم ، متعلم ، ډاکتر ،نرس ،دقوم مشر او ملا یې وژل کیږي لنډه دا چې هر څه یې بربادیږي خو بیا هم پښتانه ځوانان ، مشران ، ورونه او خوندې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق دخپل ملت د سر ، ناموس ، عزت او مال د دفاع په خاطر " ننګ " نه کوي .

پښتانه مشران او کشران په بې مثاله بې تفاوتۍ د خپل دین ، سر ،ناموس ،عزت ،مال ،ملی خپلواکۍ ،ملی حاکمیت ،دهیواد دمځکنۍ بشپړتیا ،ملي ګټو ، ملي نوامیسو ،دپښتنو دویاړلی تاریخ او د مظلوم پښتون ملت دعام وژنې او بربادۍ ننداره کوي .

<u>که موږ تاریخ ته نظر واچو نو د تاریخ په اوږدو کې پښتون ملت نه تنها په پښتونخواکې د هر ډول مثبت او منفي تغیر اصلي محرکه قوه وه ، بلکې پښتون ملت په منطقه کې هم د سترو تغیراتو د منځته راوړلو یو عمده او د حساب وړ قوت شمېرل کیدي .</u>

(c) ketabton.com: The Digital Library



نن ورځ چې په پښتونخواکې د شيطاني مثلث د توطيو په اساس کوم بحران ايجاد شوي دي او پښتون ملت يې د غم پر تغرکښنولي دي.

ددې بدمرغه ناورين څخه د پښتون ملت د خلاصون لپاره خداي (ج ) د اسمانو څخه فرشتي نه راليږي .

د نړۍ نور ملتونه هم د روان ناورين څخه د پښتون ملت د خلاصون زمواري او مسئوليت نه لري .

د پښتون ملت ازلي دښمنان يعنې د شيطاني مثلث غړي هم دا ترحم نه لري چې ګواکي يو وخت به دوی د مظلوم پښتون ملت د سر ، ناموس ، عزت او مال پر لوټلو رحم وکړي .

هغه يوازني ملي قوت چې مظلوم پښتون ملت او ټول افغان نجيب ملت د دې روان مظلوميت اوناورين څخه خلاصولای شي ،هغه يوازني محرک او ازادي بخښونکي قوت چې په پښتونخوا او منطقه کې د تل پاتي سولې د تامين سره مرسته کولي شي ،هغه نجات بخښونکی قوت د الله (ج) مرسته او د پښتون ملت د ننګياليو مشرانو او کشرانو اتفاق ،يوالی او پښتنی همت دی .

د تاريخ په شهادت په پښتونخواکې د سولې د تامين ،د جنګ د ګټلو ، د سياسي ثبات ، د نظام د مشروعيت ، په هېواد کې د ملي وحدت او تل پاتي سولې د تامين يوازني قوت پښتون عظيم ملت وواونن هم بايد وی .

پښتانه هغه وخت په يو عظيم او تغير را وړونکي او د پښتون ملت د خلاصون په قوت تبديليداي شي چې د پښتنو زمواره مشران ، کشران ،علماو ، روحانيون ،روڼ اندي او د شملي خلک د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق ځان د بې اتفاقۍ اوبې تفاوتۍ د حالت څخه راوباسي خپل تاريخي ،اسلامي ، ملي او پښتني مسئوليت درک کړي او پر يو ملي سياسي مرکزسره راټول شي او ځان د پښتون ملت په نجات ورکونکي قوت بدل کړي .

دا پښتني سياسي قوت بايد د خپل مظلوم پښتون ملت د نجات لپاره داسې اقدامات وکړي ترڅو پښتون مظلوم ملت ،پښتني مظلومي خوندي مندي ،پښتانه مظلوم ماشومان او پښتانه درانه سپين ږيري د دې روان ظلم او مظلوميت څخه خلاص کړي او نړۍ ته دا وښيي چې پښتون ملت بنياد پرست او ظالم ندي ، د تعليم ، ترقۍ او دموکراسۍ ضد ندي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



داپښتني قوت باید نړیوالو ته دا ثابته کړي چې ترهګري او بنیاد پرستي د شیطاني مثلث استخباراتي پروژه ده چې د پښتنو په وطن کې د پښتنو د ارادي پر خلاف عملي کېږي . . .

داکار هغه وخت ممکن دي چې پښتانه زمواره مشران ، کشران او روڼ اندي په یو داسې سیاسي سازمان کې سره راټول شي چې د ټول پښتون ملت نمایندګي وکړاي شي .

د خلقیانو ،حزب اسلامي او طالبانو د سیاسي جریانو د سیاسي نظریو څخه په تجربه دانوي سیاسي سازمان باید دداسې "سیاسي نظر" پیروي وکړي چې د ټول پښتون ملت لپاره د قبول وړ وي ،دپښتون ملت ننګیالي مشران ، کشران او روڼ اندي باید د دې قابل قبول سیاسي نظر څخه په استفاده یو سیاسي مرکز ایجاد او پر هغه سیاسي مرکز سره راټول او یو ستر ملي قوت د ځان څخه جوړ کړي .

د پښتنو دا ستر ملي سیاسي قوت باید پښتونخوا ،مظلوم پښتون ملت او د پښتونخوا ټولو نجیبو او سیدونکوته د دې روان بحران څخه نجات ورکړي .

## 2: د پښتنو د پاره د قبول وړ سیاسي نظر کوم دي؟

د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق د لرغونو زمانو راهیسې د پښتون ملت روح اود پښتون ملت دیوالي سرینښ "پښتو او پښتونولي "ده .

د خلقیانو ، حزب اسلامي او طالبانو د سیاسي جریانو او د وارد شوو انقلابي سیاسي نظریو څخه په تجربه د پښتنو دا نوي ملی سیاسي سازمان باید د داسې سیاسي ، اقتصادي او ټولنیزي نظریې پیروي وکړي چې د پښتنو د روحیاتو ، اخلاقو ،رسم اورواج سره برابره ،میانه روه ،اود ټول پښتون ملت لپاره د قبول وړ وي ، ترڅو د پښتون ملت اکثریت پر هغه نظریې سره را ټول او د پښتنو په استازیتوب یو قوي قانوني سیاسي سازمان ایجاد او د عدم تشدد د مسالمت امیزه قانوني مبارزي د لاري پښتونخوا ،مظلوم پښتون ملت او ټول افغان نجیب ملت د دې روان بحران څخه خلاص کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



" پښتو او پښتونولي " د لرغونو زمانو راهیسې د پښتون ملت د فطرت په حیث د پښتنو د سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیزو ،عقیدوی ،حقوقي ، نفسیاتي ، فرهنګي او نظامي ارزښتونو مجموعه ده چې د هر رښتني پښتون لپاره په مطلق ډول د قبول وړ ده .

پښتو او پښتونولی د پښتون ملت د یوالی او وحدت سرېښ بلل کیږی.

د " پښتو او پښتونولي " څخه دفاع د هرپښتون پښتني فرض دي ،او هر پښتون د پښتو او پښتونولي یعنې د پښتنو د فطرتي قانون له رویه مجبور دي چې د پښتنو د ګټو څخه دفاع وکړي ،ځکه چې " پښتو او پښتونولي " د پښتون ملت لرغوني او منل شوي فطرتي قانون دي .

د اسلام مقدس دین د پښتنو دین دی او ټول پښتون ملت د الله (ج) په فضل او مهربانی سل فصده مسلمان دی.

د پورته دلایلو پر اساس موږ ویلای شو چې:

اسلام او " پښتو او پښتونولي " د پښتون ملت لپاره تربلي هري واردي شوي سیاسي نظري بهتره او د منلو وړ سیاسي نظریه ده ، پښتانه باید پر اسلام او " پښتو او پښتونولي " سره را ټول شي ،اسلام او پښتو او پښتونولي د خپل سیاسي ،اقتصادی او ټولنیز ژوند د ترتیب او تنظیم د نظریي په حیث قبول کړي ،او یو داسی ستر نجات بخښونکی ملی قوت د ځانه څخه جوړ کړی چی خپل ځان او خپل هیواد ددی روان بحران څخه خلاص کړی.

پښتانه باید د اسلام او " پښتو او پښتونولي " د نظریي پر اساس یو داسې ستر سیاسي سازمان منځته راوړي چې د پښتنو د اکثریت ملاتړ ورسره وي .

## 3:د پښتنو ملی سیاسی سازمان باید څه وکړی؟

د اسلام او " پښتو او پښتونولي " پر نظر ایجاد شوي سیاسي سازمان باید د سوله ییز سیاسي مبارزو د لاري افغانستان ، مظلوم پښتون ملت او ورسره ټول افغان نجیب ملت د دې روان بحران څخه خلاص کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اسلام او "پښتو او پښتونولي" پر سياسي نظر ايجاد شوي سياسي سازمان بايد د سوله ايزي قانوني سياسي مبارزي د لاري د هېواد سياسي قدرت پلاس کې واخلي او په هېواد کې د ملي وحدت د تامين د لاري يو داسې بامسئوليته ، باثباته او مشروع سياسي نظام بر قراره کړي چې تر خپل ملي او نړيوالو زمواريو په ښه ډول ووتلای شي .

ددې لپاره چې زمونږ ګران هېواد هميشه ديو داسې سياسي نظام خاوند وي چې د ملت او نړيوالو په وړاندي "مشروعيت" ولري .

ددې لپاره چې زمونږ ګران هېواد هميشه ديو "باثباته سياسي نظام" خاوند وي .

ددې لپاره چې زمونږ ګران هېواد داسې سياسي نظام ولري چې د تل پاره د افغان نجيب ملت ترمنځ " ملي وحدت" تامين کړي .

ددې لپاره چې زمونږ سياسي نظام په هېواد کې د "تل پاتي سولې" د تامين توان ولري .

ددې لپاره چې د هېواد سياسي نظام د تل لپاره دا توان ولري چې د هېواد "دمځکنى بشپړتيا ، ملي حاکميت او ملی استقلال څخه دفاع" وکړايشي .

ددې لپاره چې د هېواد سياسي نظام د تل لپاره په هېواد کې

"ټولنيز عدالت" تامين کړايشي .

ددې لپاره چې د هېواد سياسي نظام د دوامدار " ټولنيز پرمختګ" لپاره مساعده موقع برابره کړي .

ددې لپاره چې د هېواد سياسي نظام د تل لپاره دا توان ولري چې د

"ملي ګټو او ملي نواميسو " څخه ډاډ منه دفاع وکړاي شي .

د پورته ذکر شوو ملي ارزښتونو د ډاډمني ساتني او دفاع په خاطر د هېواد د استقلال ، ملي حاکميت ، مځکنى بشپړتيا ، د ملي وحدت د تامين ، دنظام د مشروعيت ، د نظام د سياسي ثبات ، د تل پاتي سولې د تامين ، د ټولنيز عدالت د تامين ، ټولنيزي ترقۍ ، د ملي ګټو او ملي نواميسو د ډاډمني او باوري دفاع په خاطر د هېواد سياسي ، اقتصادي ، ټولنيز او فرهنګي قدرت بايد د افغان نجيب ملت د با ارزښترين ملي امانت په حيث د تل لپاره د پورته ذکر شوی اسلامی او پښتني سياسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان پلاس کې پاتې شي او ددې ملی سیاسی سازمان غړی باید دهغه ملي مسئولیت پر اساس چې د خپل هېواد او ملت په وړاندې يې لري د افغان نجيب ملت دا با ارزښترين ملي امانت د سر او مال په قیمت وساتي .

دا خبره هم د ذکر وړ ده چې د پښتون ملت هرغړی دهیواد دنورو کوچنیو قومونو داعضاوو په تناسب د پښتونخوا او افغان نجیب ملت دهراړخیزو ګټو ددفاع په باره کې تربل هرچا زیات مسئولت لري .

پښتانه مشران او کشران د پښتو او پښتونولی د قانون پر اساس نه تنها د خپل ځان د سر ،ناموس ،عزت او مال د ساتلو په باره مسئولیت لری بلکه پښتانه مشران او کشران دهیواد د وړو قومونو دهرفرد د سر ،ناموس ،عزت او مال د ساتلو په باره کې دومره مسئولت لری کوم چې د خپل ځان د سر،ناموس،عزت او مال په باره کې لری .

حمید بابا د پښتنو پورته ذکر شوی پښتنی مسئولت د خپل شعر په ژبه داسی بیان کړی دی .

چې د بل ننګ او ناموس ساتلای نشي .

وبه نه ساتی ځوک خپل ننګ او ناموس .

## 4:وسیاسی قدرت ته د رسیدو قانونی لاری:

په افغانستان کښی وسیاسي واکمنۍ ته د رسیدو دوی سوله ایزی قانونی لاری وجود لری .

یوه د پښتنو دعنعنوی لوی جرګی لاره ده چې دا لاره د بشریت تر ټولو دموکراتیکو لارو دموکراتیک ترینه لار ده چې میرویس نیکه او لوی احمد شاه بابا ته ددې لاری سیاسي قدرت او مشرتوب سپارل شوی وو ، او تر دې وړاندی د تاریخ په اوږدو کښی پښتنو دداسی عنعنوی جرګو د لاری خپل ملی مسایل حل او فصل کول.

بله لاره د غربی دموکراسۍ لاره ده چې نن ورځ دنړۍ په زیاتو هیوادونو کې وسیاسي قدرت ته د رسیدو دپاره استفاده ځنی کیږی.

زمونږ د هیواد په اوسنی نافذ قانون اساسی کښی وسیاسی قدرت ته د رسیدو د پاره دا دغربی دموکراسۍ لاره تسجیل شوی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د بده مرغه دغربي دموکراسۍ دنوم څخه په استفاده په ورسته پاتې هيوادونو کې د زراوزورخاوندان په چل ،فريب ،تقلب ،تګۍ ،زور ،ددولتي قدرت څخه ناوړه استفاده او داسي نوروغيري قانوني لارو ځان سياسي قدرت ته رسوي.

دبده مرغه زمونږ په هيواد کښي هم په تيرو انتخاباتوکې موږ دپورته ذکرشووغيري قانوني کړنو شاهد ان وو .

ددي د پاره چي زموږ هيواد ديو مشروع او باثباته سياسي نظام خاوند شي پښتانه مشران او کشران بايد دټولوسوله ايزو قانوني لاروا و فشارونو څخه استفاده وکړي تر څو په هيواد کې زمونږد اساسي قانون اونړيوالو نورمونو مطابق ازاد ،عادلانه او شفاف انتخابات وشي ،ددموکراسۍ ددي نړيوال شعار مطابق چي وا يي( اکثريت حکومت کوي ) هر هغه کس يا ډلي چي په ازادو ،عادلانه او شفافو انتخاباتو کې اکثريت وګټلي هغه کس او دده ډله دي تر خپل قانوني وخت پوري د هيواد درهبرۍ چاري پرغاړه واخلي .

په کومه طريق چي جمهورريس حامد کرزی دخپل واکمنۍ د شروع څخه بيا ترنن پوري حکومت کوی ،دا نه دغربي دموکراسۍ ،نه د عنعنوي لوی جرګی ،نه دنظامي ديکتاتورۍ اونه هم ديوحزبي ديکتاتورۍ طريقه ده .

دښاغلی حامد کرزی په دولت کې د قدرت دويش طريقه د لبنان په دولت کې د سياسي قدرت د ويش طريقي ته ورته ده په کوم کې چي ددولت درييس چوکۍ يو قوم ته ،دصدراعظم چوکۍ بل قوم ته او ددولت نوري چوکۍ نوروقومونوته ورويشل شوی دی .

جمهورريس ښاغلی حامد کرزی دخپل حاکميت په دوره کښي ددولت سياسي قدرت عملاً دهيواد دبيلو بيلو قومونو پرجنګ سالارانو ويشلی دی.

دښاغلی حامد کرزی د ويش مطابق ددولت درييس چوکۍ پښتنوته ،ددولت درييس دلمړی مرستيال چوکۍ وتاجکانوته ،ددولت درييس ددوهم مرستيال چوکۍ وهزارګانو ته ورجلاشوی دی.

داطريقه دافغان نجيب ملت تر منځ ملي وحدت ته سخت ضرررسوی اودنظام سياسي ثبات ته جدی خطرپيښوی ،همدا علت دی چي نن دافغانانوترمنځ ملي وحدت ترپخوا کمزوری شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بله وينا ددولت د مقامونو په پورتني ډول ويشل په افغاني ټولنه کې ملي نفاق منځته راوړي ملي وحدت کمزوری کوی ځکه چې دنظام خاصی چوکۍ د خاص قوم په انحصار کښې راولی چې داعمل دهيواد دزياتو وګړو دخوابدۍ سبب کيږي او سياسي ثبات ته تاوان رسوی .

په تيرو څلويښتو کلنو کښې مونږ څو ځله د نظام د تغيراو سياسی قدرت ته د رسيدو دبيلو بيلو لاروشاهدان وو ،چې دی اعمالو په هيواد کښې ډيره زياته سياسی بی ثباتی او په ملی سطحه د نظام پر ثبات او شکل بی باوری منځته واوستل.

ددی د پاره چې په هيواد کښی سياسی نظام ثبات پيدا کړی او په افغانی ټولنه کې دتل د پاره ملی وحدت تامين وی ،مونږ د يو ښه مشروع او با ثباته نظام خاوند ان شو ، نو ښه به داوی چې افغان نجيب ملت د يوی عنعنوی لوی جرګی يا يو سرتاسری ټول پوښتنی په واسطه دهيواد سياسي قدرت ته درسيدلو د پاره دعنعنوی لوی جرګی او يا دغربی دموکراسۍ دازادو ،عادلانه او شفافو ټولټاکنو دلاروڅخه يوه انتخاب کړی .

په دې ډول به دافغانستان په سياسي ، اقتصادي او ټولنيزحاکميت کې د پښتنو ترڅنګ دافغان نجيب ملت ټول نور وروڼه قومونه د هر ډول ژبني ، مذهبي ، قومي ، جنسي او منطقوي تبعيض نه پرته دعنعنوی لوی جرګی او يا دموکراسۍ داصولو مطابق وسياسی قدرت ته درسيدو په پروسه کښی عملی برخه واخستلايشی .

دهيواد هروګړی دهرډول تبعيض نه پرته بايد داحق ولری چې د هيواد هرسياسی مقام ته ځان کانديد کړی، او ددموکراسۍ د شعار مطابق چې ،، **اکثريت حکومت کوی**،، که يې په ازادو ،عادلانه او شفافو ټولټاکنو کښی اکثريت وګټی نو حکو مت دی وکړی.

دهيواد هيڅ دولتی مشر بايد قطعا په هيڅ ډول شرايطو کې هيڅ کس ،هيڅ قوم ،هيڅ سياسي ،مذهبی ،ژبني او داسی نورو ډلو ته دقوم او ډلی په نوم هيڅ ډول غيری مشروع امتيازورنکړی ،ځکه چې يوی خاصی ډلی ته يو غيری قانونی اونا مشروع امتيازورکول دافغان نجيب ملت ملی وحدت د منځه وړی ،دهيواد دسياسي نظام مشروعيت او سياسي ثبات ته نه جبرا کيدونکی تاوانونه رسوی .

دهيواد ټولی چاری بايد دهيواد د منل شوو اونافذو قوانينو د عادلانه او شفاف تطبيق پر اساس سرته ورسيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## 5.ايا د پښتنو د يوالي تلاش يو فاشيستي عمل دی؟

خدای(ج) خپل بندګان مخصوصا مسلمانان په خپل منځونو کې اتفاق او يو والي ته را بللي دي .

ددنيا په هر ملت کې که عرب دي او که عجم د هغوی په منځ کې يو څو فيصده غيري مسلم اشخاص شته .

خو په نړۍ کې پښتون ملت يو ازنې بې مثاله ملت دي چې ټول وګړی يې مسلمان دي او هيڅ غيري مسلم فرد ددوی په منځ کې نشته يعنی هر پښتون مسلمان دی.

نو په دې اساس پښتون ملت تر بل هر ملت زياته زمواري لري چې د خپل مقدس دين د احکامو مطابق په خپلو کې په اتفاق او اتحاد واوسي .

هر هغه څوک چې د پښتون ملت د يوالي او اتفاق د پاره هلي ځلي کوي دا عمل نه تنها يو فاشيستي عمل ندي ، بلکې دا عمل په حقيقت کې يو رښتني اسلامي او پښتني عمل بلل کېږي .

هر هغه څوک چې د پښتون ملت د يوالي او اتفاق لپاره مبارزه کوي دا اشخاص فاشيستان نه بلکې د خدای(ج)دلاري رښتني مجاهدين دي .

که څوک په افغانستان کې يو مشروع او با ثباته نظام غواړي نو تر هرڅه لومړي بايد د پښتون ملت د يوالي او اتفاق د پاره جدي تلاش او مبارزه وکړي .

هر افغان چې د پښتون ملت د يوالي په دې برحقه ملي مبارزه کې برخه اخلي او غواړي چې افغانان مخصوصا مظلوم پښتانه د اسلام او د " پښتو او پښتونولي " د قانون مطابق پر يو ملي مرکز سره راټولوي او د سوله ايزي مبارزي د لاري افغانان او افغانستان د دې روان بحران څخه خلاصول غواړي دهېواد په تاريخ کې به د افغانستان او افغانانو د نجات د لاري ملي مبارزين،ملي قهرمانان او ملي مجاهدين وبلل شي .

که څوک په افغانستان کې د دې لپاره تلاش کوي چې پښتانه د " پښتو او پښتونولي " د لرغوني قانون پر اساس پر يو سياسي مرکز سره را ټول کړي دا عمل يو فاشيستي عمل نه بلکې يو معقول ، ملي ، پښتني ،اسلامي او انساني عمل بلل کېږي ،ځکه چې " پښتو او پښتونولي "پښتنو ته اجازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ورکوي چې د ځان د ګټې په خاطر بل پښتون ، بل مسلمان او یا بل انسان ته تاوان ورسوي ، د دې برخلاف پښتو او پښتونولي پښتنو ته امر کوي چې د نوورو پښتنو ، مسلمانانو او انسانانو د ګټې په خاطر دې پښتون د ځان تاوان وکړي خو نور انسانان دې د تاوان څخه خلاص کړي .

" پښتو او پښتونولي " وپښتنو ته داسې د قرباني درس ورکوي چې د خپل دین ، ملت ، هېواد ،خپلواکۍ ، ملي حاکمیت ، سر ، ناموس ،عزت ،مال ، حق ، ننګ ،غیرت ، پښتو ژبې ،عزیزګلوي ،قومولۍ ،پت او عزت د دفاع په لاره کې مرګ د هرپښتون لپاره ستر افتخار او تر ټولو ارزانه قرباني ده ، هرپښتون باید په دې لار کې د مرګ څخه ډار ونه لري او په دې لاره کې مرګ باید پښتنو ته ډېر خوار او حقیروي ، او په دې پاکه لار کې شهادت د پښتنو لپاره ابدي افتخار دي .

" پښتو او پښتونولي " پښتنو ته داورښیي چې ستاسو دین ، سر ، ناموس ، عزت ،مال ، خپلواکي ،هېواد ، ملي اقتدار ، ملي یوالي ، ملي قوت ، ملي عظمت ، ملي شان او شوکت ، دملي نوامیسو ساتنه ، سوله او جنګ ، ټولنیزه او اقتصادي وده ، پښتني رسم ،پښتني رواج ،پښتني کلتور ،پښتني اخلاق ،پښتني عنعنات او پښتني فرهنګ په پښتني لوړ همت ، پښتني ننګ ،پښتني غیرت ،پښتني جرئت ،پښتني ارادي ، پښتني هوډ ،پښتني ثبات ، پښتني استقامت ، پښتني متانت ،پښتني نارینتوب ، پښتني میړاني ،پښتني ایثار ،پښتني قربانۍ ،پښتني توریالیتوب ، پښتني ننګیالي توب ، پښتني فداکارۍ ،پښتني حلم ، پښتني تدبیر ،پښتني حوصلي ،پښتني صبر ، پښتني تحمل ، پښتني مرکي ،پښتني جرګې ،پښتني پاکوالي ،پښتني رښتینولۍ ، پښتني توره او د اسلام دمقدس دین او پښتو او پښتونولي دلرغوني ویاړلي قانون څخه په پیروۍ ساتل کېږي .

لکه یو شاعر چې وایي:

په پښتو او پښتونوالي ګټل کېږي * پخواني شان او شوکت د پښتنو.

وزیرمحمد ګل خان مهمند وایي:

پښتانه که د پښتو پرلاره ځي* دانړۍ او ها نړۍ بې وی خوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پښتنو یوالي د هر افغان په ګټه دي ،خوځني د پردیو بد بخت جاسوسان او د پښتنو ازلی دښمنان د پښتنو د یوالي او اتفاق څخه بیریږي ،نو پدی اساس هغو ملی مبارزو پښتنو ته چی د اسلام او پښتو مطابق د پښتنو د یوالی او وحدت د پاره مبارزه کوی هغوی ته بد رد او فاشیستان وایی.

هر هغه څوک چې د پښتنو د یوالي څخه ډاریږي او د هغه مخالفت کوی داډلي او اشخاص د پښتون مظلوم ملت قسم خوړلي دښمنان، د پریو جاسوسان، د الله(ج) او د الله(ج) د رسول دښمنان دی،ځکه چی د پښتنو مسلمانانو د اتفاق مخالفت کوی.

هر څوک چې د پښتون ملت د یوالي او اتفاق د دې برحقه ملي تلاش او مبارزي په مقابل کې دریږي ، دي ملي مبارزینو ته فاشیستان او یانور بدرد وایي دا کسان او سازمانونه بیله شکه د خدای(ج) د ښمنان ،د ستر پښتون ملت دښمنان ،د افغان نجیب ملت دښمنان ،د ګران افغانستان دښمنان ،د پردو جاسوسان او ملي خاینین دي .

هر هغه پښتون چې د خدای(ج) د دښمنانو ،د پښتون ملت د دښمنانو ، د افغانستان د دښمنانو ،د پردیو د جاسوسانو او ملي خاینانو د دې پروپاګند څخه بیریږي چې نبایده هغوی دي د فاشست په نوم یاد نکړي ، د پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس داسې شخص پښتون ندي او یو بې همته او بې ننګه کس بلل کیږي .

هرهغه څوک چې د پښتون ملت د یوالي د لاري مجاهدینو ته فاشیستان وایي هغوی په رښتیا سره د خدای(ج)دښمنان او د شیطان سکني ورونه دي .

## 6:د پښتنو رول د نظام د سیاسی ثبات په اړه.

څرنګه چې د شیطاني مثلث د توطیو په سبب موجوده نظام د پښتنو سره نهایت زیاته بې عدالتي کوي نو د همدې بې عدالتۍ پر اساس پښتانه نن د موجوده نظام څخه خوابدي دي .

د نظام څخه د پښتنو خفه والي وګاونډیو هېوادونو ته د افغانستان په چارو کې د مداخلي ښه موقع برابره کړیده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نظام څخه د پښتنو ليريوالي او دهغه په مقابل کې مقاومت نن د هېواد سياسي نظام د يولک او پنځوس زرو خارجي عسکرو با وجود د بې ثباتۍ سره مخامخ کړيدي ، نو په دې اساس موږ ويلای شو چې:

پښتانه هغه ملي قوت دي چې ملاتړيې په افغانستان کې د سياسي نظام د ثبات او مشروعيت ضمانت کوي .

د افغانستان د سياسي نظام څخه د پښتنو نه ملاتړ او مخالفت په افغانستان کې هر سياسي نظام بې ثباته او نامشروع کوي .

دا چې نن افغانان او د افغانستان سياسي نظام په بې ثباته سياسي حالت کې شپې او ورځې سبا کوي په داسې بحراني شرايطو کې دا د هر وطنپال افغان (که پښتون ، تاجک ، هزاره ، ازبک ،ترکمن ، نورستاني ، بلوچ ، ايماق ،عرب ، سيک ، هندو او داسې نور وي) ملي دنده بلل کېږي چې په افغانستان کې د سولې د تامين او د يو باثباته او مشروع نظام د بر قرارۍ لپاره تلاش او مبارزه وکړي .

هر افغان په هر قوم چې وي که غواړي چې په سوله ايز او با ثباته افغانستان کې ژوند وکړي دا يې ملي او اسلامي دنده بلل کېږي چې تر خپل وسه د ناراضه پښتنو ورونو د پخلاينې لپاره جدي تلاش وکړي ، ترڅو د پښتنو په زور او قوت لومړي د ځان او بيا د خپل نورو وطنوالو لپاره يو باثباته او سوله ايز افغانستان جوړکړي .

هغه افغانان چې دا تلاش کوي چې پښتانه د افغانستان د سياسي ،اقتصادي او فرهنګي ساحو څخه وباسي او د هغو پر حقه حقوقو خيټه اچوي ، دا عناصر يا زيات جاهلان دي چې نه د ځان او نه د خپل هېواد په ګټو پوهيږي ،اويا په شعوري ډول د افغانستان او ټولو افغانانو دښمنان ،ملي خاينان او د پردو جاسوسان دي .

دا عناصر د افغانستان د بې ثباتۍ او ناقرارۍ اصلي عاملين دي .

که دهېواد تير تاريخ ته يو لنډ نظر واچوو دا حقيقت نور هم روښانه کېږي چې:

دهر نظام سره چې پښتنو خپل ملاتړ اعلان کړيدي هغه نظام د ملت په وړاندې مشروعيت حاصل کړيدي ، هغه نظام سياسي ثبات پيدا کړيدي او د ملت ترمنځ ملي وحدت تامين شوي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر نظام ته چې پښتنو شا ورکړئولي ده او یا نظام پښتانه د ځان څخه لیري کړيدي ، هغه نظام د ملت په وړاندي مشروعیت د لاسه ورکړيدي ، هغه نظام سیاسي ثبات د لاسه ورکړيدي ، د ملت ترمنځ ملي وحدت د منځه تللي دي او په نتیجه کې هغه سیاسي نظام د منځه تللي دي .

د پورته دلایلو پر اساس موږ ویلای شو چې:

د پښتنو ملاتړ په افغانستان کې و سیاسي نظام ته "مشروعیت" وربخښي .

د پښتنو ملاتړ په افغانستان کې د سیاسي نظام د "ثبات"ضمانت کوي .

پښتانه په هېواد کې د "ملي وحدت" د تامین یوازني محور او ضامنان دي .

## 7:دیو مشروع او با ثباته سیاسي نظام او د افغان نجیب ملت د ملي وحدت د تامین په اړه د پښتنو رول.

افغانان کله یو مشروع او با ثباته سیاسي نظام او ملي وحدت لرلای شي ؟

د پورته سوال ځواب موږ باید د تاریخ په پاڼو کې ولټوو .

د تاریخ په اوږدو کې نړیوالو تجریبو دا ثابته کړیده او نن ورځ د ټولي نړۍ لپاره د ا یو منل شوي اصل دي چې یو سیاسي نظام هغه وخت پایښت کولایشي چې لاندې دري عمده او ضروري شرطونه یې پوره او تامین وي .

د دې درو اساسي شرطونو پرځای کول او تامینول او په ښه طریقه د هغوی عملي کول د یو سیاسي نظام د پایښت اساس جوړوي .

د نظام د بري او پایښت لپاره په نړیواله سطحه منل شوي دري بنیادي او ضروري شرطونه ،اصول او ارزښتونه عبارت دي له:

1 : د ملت د وګړو ترمنځ د ملي وحدت تامین .

2 : د سیاسي نظام مشروعیت :

(c) ketabton.com: The Digital Library



3 : د سياسي نظام ثبات:

## 1: پښتون ملت د ملي وحدت د تامين ضامن دی:

په يوهېواد کې د سياسي نظام ددوام ، تحکيم ، دداخلي بحرانو څخه دنجات ، د خارجي تحميل شوو بحرانو او خارجي مداخلو د مخنيوي او په ملي سطحه دداسې نورو مسايلو د حل لپاره يو بنيادي او اساسي شرط دادي چې د هغه هېواد د وګړو ترمنځ ملي وحدت تامين وي .

د يوهېواد دوګړو ترمنځ د ملي وحدت تامين د هغه هېواد خلکو ته داسې نه ماتيدونکي ملي قوت وربخښي چې د هغه په زور دوی د داخلي او خارجي بحرانو د حل مناسب توان مومي .

نن چې افغانستان په سياسي ،اقتصادي او ټولنيزو ساحو کې د سختو بحرانو سره مخامخ دي عمده علت يې دادي چې د افغان نجيب ملت ترمنځ ملي وحدت عملاً د منځه تللي دي .

د تيرو ديرشو کلنو په جريان کې ددو سوپر طاقتونو اود ليري او نږدې ګاونډيو هېوادونو ښکاره او پټو يرغلونو او د شيطاني مثلث د غړو شيطاني توطيو په سبب دافغان نجيب ملت ترمنځ ملي وحدت ته ډيرزيات تاوانونه ورسيدل .

د تيرو ديرشو کلنونو په جريان کې زموږ دهېواد دښمنانو د افغان نجيب ملت ترمنځ د ملي وحدت د نه موجويت څخه په استفاده هميشه داکوښښ کړيدي چې د افغانانو د منځه څخه خپل اجنټان انتصاب ،هغوی په زورپر افغان نجيب ملت د دوی د حاکمانو په حيث مقرر کړي .

خارجيانو هميشه خپل دي غلامانو ته امر کړيدي چې د افغان نجيب ملت مطلق اکثريت ،د افغان نجيب ملت ستون فقرات او د افغان نجيب ملت د ملي وحدت محور او دافغانستان د بقا يوازني ضامن يعني پښتون ملت وځپي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



خارجیانو خپل غلامانو ته دا امر کړیدي چې د پښتنو رښتنی مشران د هېواد د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز ژوند د ساحو څخه بې برخي کړي تر څو د هېواد د رهبرۍ واګي د دوی د اجنټانو په نوم د خارجیانو پلاس کې پاتي شي .

نن ورځ که وطن پال افغانان غواړي چې د دوی ملت او هېواد د روانو سیاسي اقتصادي او ټولنیزو بحرانو څخه خلاص شي ، نو د دوی دا ملی دنده ده چی د افغان د هر قشر مشران ، کشران او روڼ اندي وهڅوی چی د افغان نجیب ملت ترمنځ د ملي وحدت د تامین لپاره نه ستړي کیدونکي تلاش او مبارزه وکړي ، او په دې لار کې د هیڅ ډول تلاش او قربانۍ څخه ځان ونه سپموي .

د افغان نجیب ملت ترمنځ هغه وخت رښتني ملي وحدت منځته راتلای شي چې پښتانه د ملي وحدت د محور حیثیت غوره کړي ، یا په بله وینا پښتنو ته باید د افغان نجیب ملت د ملي وحدت د تامین په پروسه کې محوري او مخکښ رول ورکول شي ، ځکه چې پښتون ملت دا توان او ظرفیت لري چې د پښتو او پښتونولي د قانون مطابق نور واړه قومونه د ورونو په شان پر خپل پراخه او د سخاوت نه ډکه لمن سره راټول کړي او د افغان نجیب ملت ملي وحدت تامین کړي .

پښتانه د خپل علي پښتني او ملي خصوصیاتو د لرولو په سبب او د افغان ملت د مطلق اکثریت په حیث دا توان لري چې د افغان نجیب ملت نور واړه قومونه ځانته را جلب کړي .

په ډیر افسوس سره باید ووایو چې په تیرو دیرشو کلنو کې د خارجیانو د مستقیمو مداخلو په سبب د افغان نجیب ملت ملي وحدت سخت زیانمن شو ، خارجیانو د افغانستان او افغان نجیب ملت د رهبرۍ چاري هغه افغانانو ته وسپارلي چې د دوی په استخباراتي سازمانو پوري تړلي وه .

که مونږ د بشري ټولني تاریخ ته توجه وکړو ، همیشه قوي هېوادونو د ضعیفه هېوادونو په کورنیو چارو کې مداخلي کړي حتي هغوی یې خپل غلامان کړیدي .

د قوي هېوادونو دا مداخلي د ضعیفو هېوادونو په کورنیو چارو کې تر نن پوري هم جاري دي .

که اوسنۍ نړۍ ته نظر واچو نن هم استعماري قوتونه همیشه د اقلیتونو د حقوقو د دفاع په نوم په نورو هېوادونو کې د مداخلي حق ځانته ورکړیدي ، او د اقلیتونو د حقوقو د دفاع په بهانه یې په نورو هېوادونو کې مداخلي کړیدي او د هغه هېواد دولتي چاري یې په اقلیتونو پوري تړلیو اجنټانو ته سپارلي دي . . .

(c) ketabton.com: The Digital Library



پەنني نړۍ کې د اقلیتونو د حقوقو ددفاع تر شعار لاندې قوي هېواد ونه ضعیفه هېوادونه په غیري مستقیم اشغالوي .

د ټولنپوهنې د علم پر اساس د اقلیتونو د منځه په خارجي استخباراتو پورې تړلو اجنټانو پر اوږو ولاړ ټول نظامونه همیشه نامشروع ، په سیاسي لحاظ بې ثباته او لړزان وي .

په افغانستان کې هم د تیرو دیرشو کلنو په دوران کې د پردیو پلاس جوړشوي او تپل شوي نظامونو مشروعیت ترسوال لاندی ووه نو ددی سببه دا ټول نظامونه په سیاسي لیحاظ ډیر بی ثباته وه .

په هېواد کې د پردیو په مرسته جوړ شوو نظامونو د خپل بادارانو په امر او دستور د افغانانو ترمنځ د کورنیو جنګونو اور ته لمن ووهل ، او د افغانانو ترمنځ یې کورنیو جنګونو ته دوام ورکړي او په دې ډول یې د افغان نجیب ملت ترمنځ ملي وحدت عملاً د منځه یووړو .

نن ورځ د ملي وحدت د نشته والي په سبب ټول افغان نجیب ملت مخصوصا مظلوم پښتون ملت په سختو رنجونو او کړاونو اخته دي ، نو په دې اساس د افغان نجیب ملت ترمنځ د ملي وحدت بیا تامینول یو اشد ضرورت دي .

د افغان نجیب ملت د ملي وحدت د تامین په پروسه کې پښتون ملت یو اساسي ، محوري او نهایت ضروري عنصر دي ، ځکه چې د پښتنو د مشرتوب څخه بغیر د افغانانو ترمنځ د ملي وحدت تامین نا ممکن کار دي ، علت یې دا دي چې په افغانستان کې د اوسیدونکو وړو قومونو مشران یو د بل د مشرتوب منلو ته تیار ندي چې ژوندي مثالونه یې د نجیب الله د دولت تر سقوط وروسته د تاجکو او ازبکو ، د تاجکو او هزارو ترمنځ د کابل په کوڅو کې خپل منځي جنګونه دي .

افغان اقلیتونو د خپل مشرانو په امر او قوماندە د کورني جنګونو په جریان کې یو د بل پر ضد د داسې وحشت او بربریت څخه کار واخستی چې زموږ په تاریخ کې یې بل مثال نه لیدل کېږي .

د اقلیتونو ملیشو د خپل مشرانو په امر د خپل مخالفینو د ښځوبی عزتی وکړي ، د انسانانو په سرونو کې یې میخونه ټک وهل ، د مړي د رقص په نامه یې د یو بې مثاله انسانیت ضد وحشت ، جنایت او بربریت ننداري وکړي ، ښځې یې مجبوره کړي چې د نارینو په وړاندې ولادت وکړي ، د ډېرو زیاتو انسانانو پر پت ، عزت او مال یې تیري وکړي ، انسانان یې ژوندي په کانتینرونو کې وسوځول ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندي انسانان يې د باغ وحش ودرنده حيواناتو ته واچول ، د کابل د ښاريانو اودهيواد د نورو ښرخودوګړو شخصي او دولتي شتمنۍ يې چوراو تالان کړي . . .

لنډه دا چې د اقليتونو مليشو د خپل مشرانو په امر داسې دبشر ضد جنايات او خشن اعمال يو دبل پر ضد حتی د پښتنو پرضد انجام کړل چې داسې وحشت د افغانستان په تاريخ کې پخوا کله هم د چا د خوا نه وو انجام شوي .

دافغانانو لپاره دا د ډېري خوښۍ خبره ده چې په اقليتونو پورې تړلي عام ولس ټول ډېر وطندوسته ، د افغان نجيب ملت د ملي وحدت طرفدار او ټول يې په يوه خوله د پښتون قوم مشرتوب په ډېرافتخار او ورين تندي سره مني .

د پورته ذکر شوو حوادثو او تاريخي تجريبو پر اساس موږ ويلای شو چې پښتون ملت په افغانستان کې د افغان نجيب ملت ترمنځ د ملي وحدت د تامين د پروسې اساسي ، ضروري او محوري عنصر جوړوي .

د افغان نجيب ملت ترمنځ د ملي وحدت د تامين ومقدس ملي ارمان ته د رسيدو په خاطر تر بل هر چا لومړي بايد د پښتنو مشران ،کشران او روڼ اندي داسلام د مقدس دين اود پښتو او پښتونولي د قانون په پيروي د مبارزي ميدان ته راودانګي او په دې ملي لاره کې د هيڅ ډول قربانۍ څخه دريغ ونکړي .

د افغان نجيب ملت ترمنځ د ملي وحدت د تامين په خاطر بايد لومړي په خپله ټول باعزته پښتانه مشران ، پښتانه زلميان ،پښتني خوندي او ورونه د اسلام د مقدس دين اود پښتو او پښتونولي د لرغوني قانون مطابق د خپل هېواد او ولس د نجات په خاطر سره را ټول شي او د پښتنو څخه د پښتو او پښتونولي مطابق يو ستر پښتني قوت جوړکړي او بيا د ا ستر پښتني ملي قوت د افغان نجيب ملت د ملي وحدت د تامين لپاره نه ستړي کيدونکي تلاش او مبارزه وکړي .

## 2 :د پښتنو ملاتړ د نظام د مشروعيت ضامن دی:

د هر سياسي نظام ددوام او بريالیتوب لپاره يو عمده او ضروري شرط د " نظام مشروعيت "دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنړۍ د منل شوو قوانینو پر اساس د کوم نظام څخه چې د خپل ملت اکثریت ملاتړ وکړي نو هغه نظام ته په ټوله نړۍ کې مشروع نظام ویل کېږي .

په افغانستان کې دنظام څخه د پښتنو ملاتړسیا سي نظام ته

" مشروعیت " ور بخښي ،ځکه چې د نظام څخه د پښتنو ملاتړ د نظام څخه د افغان نجیب ملت د مطلق اکثریت د ملاتړ معني لري ، ځکه چې پښتانه د افغان نجیب ملت مطلق اکثریت جو ړوي .

ترڅو چې پښتانه په افغانستان کې د سیاسي نظام ملاتړ ونکړي نظام په هیڅ ډول په ملي او نړیواله سطحه د مشروعیت څخه نشي برخمن کیدلای ، یا په بله وینا کوم نظام چې په افغانستان کې د پښتنو ملاتړ د ځان سره ونه لري هغه نظام د پښتنو او ټولو افغانانو لپاره

" مشروع نظام " ندي او په هیڅ ډول به خپل سیاسي ژوند ته دوام ورنکړایشي چې ژوندي مثالونه یې د شاه شجاع ، د سقاو زوی حبیب الله او په تیروکلنو کې د پردیو پلاس کېنول شوی ګوډاګی نامشروع ،بې ثبا ته او په پردو پورې تړلي نظامونه دي چې دافغانستان په تاریخ کې دبدنام ترینو نظامونو په نوم ثبت شوي دي .

په ډېر افسوس سره باید ووایو چې د حامد کرزي نظام هم که اصلاح نشي پر داسې لاررروان دي چې د پښتنو ملاتړدلاسه ورکوي او په یو نا مشروع او بې ثباته نظام بدلیږي .

## 3 :پښتانه نظام ته سیاسي ثبات بخښي:

د یودولتي نظام د ملي او نړیوال اعتبار او پایښت لپاره سیاسي ثبات نهایت مهم او حیاتي ارزښت لري.

د نړۍ دولتونه او اقتصادي موسیسات د نظام پر شکل (راست دي او که چپ ) دومره حساب نکوي لکه د نظام پر سیاسي ثبات چې حساب کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مثال په ډول هند يو با ثباته دموکراتيک هېواد دي او چين او ويتنام د باثباته کمونيست نظامونو لرونکي هېوادونه دي خو د نړۍ ټول هېوادونه ښه اړيکي ور سره لري او د جهان اقتصادي موسسي سرمايګذاري په کې کوي .

افغانستان او پاکستان د قوانينو پر اساس دموکراتيک هېوادونه دي خو سياسي ثبات نه لري ځکه نو نړيوالي اقتصادي موسسي سرمايګذاري نه په کې کوي .

نو په دې اساس موږ ويلای شو چې د افغان سياست مدارانو مخصوصا د پښتنو سياست مدارانو او ټول افغان نجيب ملت لومړنۍ ملي دنده داده چې بايد کوښښ وکړي او په هېواد کې يوه دوامداره باثباته سياسي نظام منځته راولي .

افغان سياست مداران او د افغاني ټولنې په هر قشر پورې تړلي بانفوذه اشخاص بايد کوښښ وکړي او د يو افغان په صفت دا خپل ملي دنده وګڼي چې د هري هغه نظر او کړني څخه ځان وژغوري چې په هېواد کې د نظام د بې ثباتۍ سبب کېږي ، او د دې پرخلاف دا مشران بايد داسې هلې ځلې وکړي چې د نظام د پايښت او سياسي ثبات سبب کېږي .

پښتانه د افغان نجيب ملت ستون فقرات جوړوي د پښتنو څخه بغير د افغان په نوم ملت وجود نشي درلودلای نو د پورته د ليل او عيني واقعيت پر اساس موږ ويلای شو چې په افغانستان کې د ميشتو ورونړو قومونو په منځ کې د هېواد او نظام د ساتلو په باره کې د پښتنو مسئوليت تر بل هر قوم زيات اودروند دې ، پښتانه بايد خپل دې دروند ملي مسئوليت ته ډېر زيات متوجه اوسي او په دې بايد پوه وي چې که دوی خپل ملي دنده په ښه ډول انجام نکړي نو نه تنها دوی بلکه ټول ملت د مشکلاتو او ربړونو سره مخامخ کېږي .

که پښتانه خپل ملي مسئو ليت چې د ګران هېواد او افغان نجيب ملت په وړاندې يې لري په پوره ايمانداری سره انجام نکړي په دنيا او اخرت کې به د خدای(ج) او افغان نجيب ملت په وړاندې مسئول وي ، ځکه چې د پښتنو ملاتړ په افغانستان کې نظام ته سياسي ثبات وربخښي او په يو باثباته نظام کې ټول ملت ارام او سوکاله وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا یو انکار نه منونکي عیني واقعیت دي چي په افغانستان کې د پښتنو ملاتړد افغان نجیب ملت د ملي وحدت د تا مین ، د هېواد د سیاسي نظام د مشروعیت ، په هېواد کې د باثباته سیاسي نظام د جوړښت او په هېواد کې د تل پاتي سولې د برقرارۍ یوازني ضامن دي .

پښتون ملت د افغان نجیب ملت د مطلق اکثریت په حیث باید د نورو ورونو قومونو په ملاتړ د افغانستان د سیاسي ، اقتصادي ، ټولنیزو او فرهنګي چارو واګي په خپل لاس کې واخلي او په عدالت سره د دولت چاري پرمخ رهبري کړي .

دا ښکاره خبره ده چي په تیرو دیرشو کلنو کي زموږ د ملت دښمنانو او د هغو داخلي اجنټانو پر ټول افغان ملت مخصوصا پر پښتنو ډېر ظلم کړیدي او دوی یې د افغانستان د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز ژوند د ساحو څخه ایستلي دي او هېواد یې د خارجي هېوادونو مخصوصا ګاونډیو هېوادونو په مستعمره بدل کړیدي .

زموږ د ګران هېواد او افغان نجیب ملت خارجي دښمنانو او د هغو داخلي اجنټانو د پښتنو پر ضد دا ظالمانه اعمال ځکه انجام کړیدي چي هغوی پوهیږي چي د پښتنو د بربادۍ څخه بغیر دوی دافغانستان پاکه خاوره تر خپل کنترولاندي نشي راوستلای .

دا یو تجربه شوي او عیني واقعیت دي او د افغان نجیب ملت دوستان او دښمنان هم ټول په دې ښه پوهیږي چې:

1 : تنها " پښتون ملت " دا توان لري چې نور ورونه قومونه پر ځان راټول کړي او د افغان نجیب ملت " ملي وحدت " تامین کړي .

2 : تنها " پښتون ملت " دا توان لري چې په هېواد کې یو خپلواک نظام ایجاد او هغه ته " مشروعیت " ورکړي .

3 : تنها " پښتون ملت " دا توان لري چي په افغانستان کې یو

" باثباته سیاسي نظام " ایجاد او د هغه څخه دفاع وکړي .

4: تنها " پښتون ملت" دا توان لري چي په افغانستان کې

" تل پاتي سوله " تامین کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



5: تنها " پښتون ملت" دا توان لري چې د نورو ورونو قومونو په مرسته د هېواد د "ملي استقلال ، ملي حاکمیت ،مځکنۍ بشپړتیا ،ملی ګټو او ملی نوامیسو " څخه دفاع وکړي .

پښتون ملت د زرګونو کلونو راهیسې بیا تر نن پورې د پښتونخوا په پاکه خاوره کې د پښتو او پښتونولي د قانون په پیروي خپل ټولنیز جوړښت ساتلي دي چې پښتنانه اتفاق ، یوالي ، ازادۍ غوښتلو ، د همسایه ګانو او نړیوالو سره په سوله کې د ګډ ژوند کولو ته رابولي ،او همدا د پښتو او پښتونولي د لرغوني قانون پیروي ده چې پښتون ملت ته د هغه د بقا او د خپل هېواد څخه د دفاع توان وربخښي .

پر عیني واقعیتونو او تاریخي دلایلو ولاړ دا پورته ذکر شوي حقایق د دې سبب شوي دي چې نن پښتانه د افغانستان د دښمنانو او دهغوی د داخلي جاسوسانو د خوا هدف ګرځیدلي دي اودهېواد د سیاسي ، اقتصادي او ټولنیز ژوند څخه په ظلم او زور ایستل شوي دي .

د شیطاني مثلث د غړو دخوا ټول پښتون ملت د دوی د دښمنانو دخوا ونړیوالو ته د طالب او القاعده د تروریستانو په نوم ورپېژندل کېږي ، پر کورونو ، ودونو ، خیراتو نو اود واده پر مراسمو یې بمباری کېږي او د نړۍ او افغانستان زندانونه یې په پښتنو ډک کړیدي .

په داسې سختو او نامناسبو شرایطو کې چې د ستر پښتون ملت دین ، سر ، ناموس ، عزت ، مال ، ازادي او د پښتونخوا مځکنۍ بشپړتیا ، ملي ګټې او ملي نوامیس د سخت جدي خطر سره مخامخ دي ، د اسلام د مقدس دین اود پښتو او پښتونولي د قانون پر اساس دا د هر رښتني پښتون اسلامی او پښتني فرض دي چې د پورته ذکر شوو پښتني او انساني ارزښتونو پردفاع "ننګ " وکړي ، دا د پښتنو لپاره د "ننګ "وخت دي چې د پښتو او پښتونولي دا مقدسه وظیفه او ملي وجیبه په سم ډول انجام کړي او د پښتون ملت دغمونو او خواریو دي بې پایه لړۍ ته د پای ټکي کېږدي ،او هم ټول افغان نجیب ملت د دې روان بحران څخه خلاص کړي او د خپل هېواد او افغان نجیب ملت د دښمنانو شوم پلانونه ورشنډ کړي .

ومن الله التوفیق .

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخذ لیکونه:

1: لنډکی پښتو: دسترپښتو ن وزیرمحمد گل خان مومند لیکنه .

2: دستار نامه : د ستر پښتو ن خوشال خان خټک لیکنه .

3: پښتانه دافغانستان په افسانوي اوداستاني تاریخ کې:

دغوث خیبري لیکنه .

4: پښتانه دکلتوري ښکیلاک په ځنځیرونو کې: دغوث خیبري لیکنه .

5: پښتونولي: د قیام الدین خادم لیکنه .

6: دافغانستان لنډ تاریخ : د عبدالحي حبیبي لیکنه .

7: پښتانه دتاریخ په رڼا کې: دسید بهادرشاه ظفرکاکاخیل لیکنه .

8: افغانستان در مسیر تاریخ: د میرغلام محمد غبار لیکنه .

9: دافغان ملت پلار احمد شاه بابا : دعظم سیستاني لنډه لیکنه .

10: دافغانستان تاریخي اتلس : دعتیق پاثون لیکنه.

11: دکابل سلطنت بیان: دمونټ ستیوارډ الفنستین لیکنه .

12: کی.جی.بی په افغانستان کې: دواسیلی میتروخین لیکنه .

13: افغانستان دډیموکراسۍ اوجمهوریت په کلونو کې .

دعبدالغفار فراهی لیکنه .

14: سقاوی دوم : دسمسور افغان لیکنه .

15: د پښتو اوپښتونولي د قانون په باره کې ما شخصاً د پښتنو د ځینو قومونو د سپین ږیرو اومشرانو سره لکه دمراڼیو یا شیرانیو ، مندوخیلو ، کاکړانو ،سلیمانخیلو ، موسي خیلو ، هریپالو ، خروټو ، توخو ، احمد زو ، نورزو ، اچکزو ،پوپلزو ، مسعودو ، وزیرو ،بیټنیانو ، تڼیو ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځدرانو ، بنگښو ،یوسفزو اوداسې نورو قومونو د سپین ږیرو سره خبري کړيدي ، د پښتو او پښتونولي په باره کې چې مې څه دوی څخه اورېدلي دي هغه مې په دې کتاب کې ليکلي دي .

د پښتنو قومونو او د بلغارد باد په باره کې مي د علامه عبدالشکوررشاد څخه چې څه اوريدلي دي هغه مي دلته ليکلي دي ، د احمد زو د موسی اوعیسی دجرگې په بارکې چې مې څه لوستلي او اورېدلي وه هغه مې دلته ليکلي دي .

په درنښت

عبدالحکیم(نورزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د لراوبر برېښنايي کتابتون

**قدرمنو لوستونکو !**

تاسو کولای سئ د لراوبر ویبپاڼې په برېښنايي کتابتون کي زيات شمېر ارزښتناک او په زړه پوري آثار په خپل تفريحي وخت کي مطالعه کړئ .

د لراوبر انلاين کتابتون ستاسو لپاره د لاندينيو موضوعګانو اړوند آثار پر ليکه کوي :

- **اسلام او مذهب**
- **ساينس او تخنيك**
- **سپورټ او روغتيا**
- **تاريخ او سياست**
- **هنر او ادبيات**
- **دماشومانو لپاره**
- **بېلابېل آثار**




**www.Larawbar.net/library**

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library